# نبوي سیرت

## (سیرت النبي)

(دویم ټوک)

څېړنه:
اجرالدین اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم

((لَّقَدْ كانَ لَكُمْ فى رَسولِ اللَّهِ أُسوَةٌ حَسنَةٌ لِّمَن كانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَ الْيَوْمَ الاَخِرَ وَ ذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً (الاحزاب/۲۱)= په يقين د الله د استازي په ژوند كې مو هغو خلكو ته غوره بېلگه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))

# نبوي سيرت

## (سيرت النبي)

(دويم ټوک)

ځېړنه:
اجرالدين اقبال

مخخوړ:
د کتاب نوم: غوره بېلګه (سيرت النبي) – دویم ټوک
څېړنه: اجرالدين اقبال
کمپيوټري چارې: انديال خپرندويه او علمي ټولنه www. andyal. com
د چاپ کال او وار: لومړی - مصر
د چاپ کال او وار: دويم
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکونه

# خپلې خبرې

سپېڅلی څښتن مو وايي: ((لَّقَدْ كانَ لَكُمْ فى رَسولِ اللَّهِ أُسوَةٌ حَسنَةٌ لِّمَن كانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَ الْيَوْمَ الاَخِرَ وَ ذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً (الاحزاب/۲۱)= په يقين د الله د استازي په ژوند کې مو هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله ډېر يادوي.))

ستاينه يوازې د نړۍ پالونکي څښتن ته ده، سلام او درود دې زموږ پر ښاغلي او لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم، پر سپېڅلې کورنۍ او د هغه پر عزتمنو اصحابو دې وي.

((په رښتيا، د رسول الله (ص) ژوند غوره بېلګه ده))

د رسول الله (ص) سيرت انسانانو ته غوره بېلګه ده.

د رسول الله (ص) سيرت عبرتناک او د انسان د ودې لامل دی.

د رسول الله (ص) پر سيرت ټول انسانان پوهېدای او عملي کولای شي.

د رسول الله (ص) سيرت د ارواييزو او جسمي رنځونو درملنه ده.

د رسول الله (ص) سيرت د انسان ټولنيز پوهاوی زياتوي.

د رسول الله (ص) سيرت د انسان کړنې مانيزوي.

د رسول الله (ص) سيرت تل؛ نوی او تازه دی.

د رسول الله (ص) سيرت يو اخلاقي، عبادي، عرفاني او ټولنيز کړندود دی.

د رسول الله (ص) سيرت انسان بيمه کوي.

د رسول الله (ص) سيرت انسان ته وګړه او مقام ورکوي.

په دې کتاب کې د قرآن له نظره د نبي کريم خويونه تشريح شوي او د يوه روايت له مخې، چې "د حضرت محمد (ص) ګرد سره خويونه قرآن و" نوددې کتاب په لوستو به ددې روايت پر هر اړخيزه مانا هم پوه شو. د کتاب لوستنه ځوان کهول ته اړينه ده، چې خپلې ناستې ولاړې او راشه درشه د کتاب د منځپانګې له مخې تر سره کړي، د هغې پېر په تمه، چې راتلونکی کهول مو نړيوالو ته د بشپړ محمدي اخلاقو بېلګه وي.

رسول الله ښه خويونو ته مبعوث شوی و. رسول الله ښه خوی درلود. رسول الله په لورنه کې بې ساری و. رسول الله همېشه معطر و. د رسول الله سيرت دا و، چې يې څوک له ځان نه نهيلول. رسول الله خورا مېړنی او سخي و. رسول الله د نورو په پرتله ډېر لږ غوسه کېده او که غوسه کېده هم نو غوسه يې په حقه وه او تر ټولو ژر پخلا کېده. رسول الله د بېسدۍ تر بريده

د الله له ډاره ژړل او چې له کومې غونډې به پاڅېده؛ نو ۲۵ ځل يې استغفار وايه. نشتمن يې د نشتمنۍ او رنځور يې د رنځ له لامله نه راټه نه د کوم پاچا له زورځواکۍ او ځواکه ډارېده. په هر چار کې يې زغم کاوه. اړين يې همداسې نه پرېښود، که څه به ورسره وو، ورکول يې که به نه وو، ويل يې: الله دې يې درکړي" رسول الله تر ويدېدو وړاندې قرآن لوسته.

رسول الله وويل: "زموږ د اهلبيتو ځوانمردي په دې کې ده، چې که چا راباندې تېرى کړى وي، ترې تېرېږو او سره له دې، که چا بې برخې کړو؛ نو ورکړه ترې نه سپموو"

اوس که وغواړو سم ژوند دود زده کړه، بايد د رسول الله (ص) په سيرت پسې ولاړ شو.

انسان که د ځان او د خپل چاپېريال اندونو او کړنو ته ووينې نو نه يوازې يې انساني موخو ته رسولای نشي؛ بلکې شونې ده، بې لارې يې هم کړي. الله دې هغه ورځ را نه ولي، چې زموږ د نوي کهول بېلگې پردۍ او غير اسلامي وي. موږ د افغان مسلمان ولس په توگه د الله اوامرو ته غاړه ږدو او الله په قرآن کې رسول الله (ص) غوره بېلگه راښوولې ده؛ نوځکه لازم دي، چې ځان پر نبوي؛ خويونو پوه او عمل پرې وکړو.

پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم موږ ته بېلگه دی. آنحضرت (ص) د **۲۳** کلونو په اوږدو کې وکړای شول، "امت" جوړ کړي او نړيوالو ته يې وروښووله، چې د بشري ستونزو د هواري لار؛ يعنې "مدينة النبي".

موږ، چې د آنحضرت (ص) لارويان يو او هغه راته بېلگه دی بايد ځان وپوهو، چې آنحضرت له کومو طريقو کار واخست، چې دا بريا ور پر برخه شوه. په دې کتاب کې د آنحضرت اسلوب او چاردود خورا ښه شنل شوی او په دې حالاتو کې راښيي، چې څنگه د ټولنې د شرايطوپه پامنيوي ټولنيزې او سياسي هڅې وکړو، چې په هېواد کې د "مدينة النبي" په لاروۍ ټولنه جوړه کړو او پردې سربېره، ځوان کهول د کتاب تر مطالعې روسته په خپلمنځي خبرو اترو او وينو کې له پياوړي استدلاله برخمنولای شي.

او پخپله حضرت رسول الله (ص) حضرت علي کرم الله وجهه ته په وصيتونو کې ويلي، چې: ((شپږم وصيت مې دادی، چې په لمانځه، روژې او صدقې کې به راپسې راځې او سنت به مې عملي کوې.)) حضرت علي (ک) وويل: "چې څوک ځان پر الهي آدابو وپسولي، الله به يې د همېشنۍ ژغورنې پر لور ښيون کړي."

امام صادق رحمة الله عليه وويل: "دا مې ښه ايسي، چې مسلمان هله ومري، چې د نبي کريم گرد سره سنتونه که څه د يو ځل لپاره وي؛ خو عملي کړې يې وي."

ښېشکه کمال او آريزې موخې ته وررسېدل هله شونې دي، چې انسان په ټولو کړنو، راشه درشه او چلن کې د رسول الله لاروي وکړي او ځان د آنحضرت په ظاهري او باطني آدابو وپسولي، چې په دې ښه کې د دنيا او آخرت له ښېگڼې برخمنېږي.

د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد (صلی الله عليه و آله) انسانانو ته ښېلگه دی، چې يې تر پېژندو روسته بايد لاروي وشي، زموږ ديني ټولنې، چې د تاريخ په بهير کې د يرغلگرو پر وړاندې بې سارې سرښندنې کړي او نيت يې هم د "محمد رسول الله" (ص) په مشرۍ د ديني غونډال - نظام ټينگول وو خو په خواشينۍ، چې د ټولنې د هڅوبيزې، سياسي، علمي، وټيزې او اډانيزې- تشکيلاتي ودې د نشتوالي له لامله، دې موخې ته رسېدلې نه ده؛ خو اوس چې د لوی الله په فضل، ټولو هېوادوالو ته لار پرانستل شوې، چې په دين ځان پوه کړي او پلي کولو ته يې راودانگي، چې گرد هېوادوال مو د اسلام له پيغمبر(صلی الله عليه و آله) نه د سمې پوهېدنې په رڼا کې يو بل ته د رورۍ لاسونه ورکړي او په هېواد کې د(مدينة النبي) په لارۍ ارماني ټولنه جوړه کړي.

اسلام په خپلو گروهيزو آرونو (توحيد+نبوت+معاد) کې له بله تقليد او په پټو سترگو تگ روا نه گڼي؛ يعنې څو مو پخپله په دې آرونو سر نه وي خلاص شوی نو د نورو د استدلال پر بنسټ په دې آرونو گروهې درځنې نه منل کيږي او بايد ددې آرونو د منلو لپاره د خپل عقل او پوهې هومره دلايل ولرې، چې زړه دې يې هم تصديق کړي وي، چې يو له دې گروهيزو آرونو ځنې نبوت دی؛ نو موږ په دې کتاب کې د "سيرة النبي" په کښلو کې پر يو نوښت لاس پورې کړ او هغه داچې کتاب نېغ په نېغ پخپله د رسول الله (ص) په سيرت پيل نه کړو؛ بلکې لومړی پر نبوت بيا د پيغمبرانو په ځانگړنو او ورپسې "د غوره ښېلگې" پر ځانگړنو، خويونو، دودونو، کړلارو او ويناوو رڼا واچوو.

دا کتاب د ښوونځيو او پوهنتون زدکړيالانو ته د نبوي؛ خويونو غورچاڼ دی، چې د تنکۍ ځوانۍ په منگ کې ځان پرې پوه او عملي يې کړي او په دغسې عمر کې د يو څه زده کړه او عملي کول يې د کاڼې کرښه وي؛ نو هيله ده، چې همدا اوس ددې کتاب په لوستو د ځان جوړونې په بهير لاس پورې کړو.

دا کتاب د بشريت د ستر لارښود حضرت "محمد" صلی الله عليه و آله وسلم څېړنيز-شننيز سيرت دی، چې پکې په نوي انداز اړوند چارې څېړل شوي او له لوستو يې پوهېدای شو، چې پر "افغان ولس" د راټپل شويو خوځښتونو پر وړاندې د نوي کهول انديز، سياسي او تشکيلاتي اډانه غښتلې کوي.

ددې سيرت لوستل؛ نوي کهول ته مخه خلاصوي، چې څنگه مشرۍ ته ورسي، څنگه ټولنه جوړه کړای شي، څنگه پر خپل ولس ډډه وکړي او څنگه له ولسه په قانوني توگه مشر راوټوکيږي.

پردي د خپلو ارزښتونو له مخې راته خپل لوبځي تبليغوي او نوی کهول، چې د مشرۍ او انسان جوړونې په باب سمې ديني او ملي پوهېدنې و نه لري؛ نو هرومرو به د تبليغاتو ښکار شي؛؛ نوځکه ددې سيرت لوستل، ددې ډول هڅوبيز - فرهنگي يرغل پر وړاندې پياوړی ډال او يرغليز خوځښت دی.

هيله ده، چې د هېواد په ((اسلامي)) نظام کې گرد سياسي گوندونه، ټولنيز سازمانونه او مدني ټولنې په خپلو تشکيلاتي کړيو کې ددغسې سيرتونو په تدريس لاس پورې کړي، چې د نظام ستنې ټينگې او ټولنه جوړه شي.

رور مو

اجرالدين اقبال

# د قرآن حکیم په آیتونو کې نبوي سیرت

## په قرآن کریم کې د رسول الله انځور

د اسلام پیغمبر په قرآن کې ډول ډول لقبونه اوځانګړنې لري؛ لکه:

**احمد:**

((وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَابَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُصَدِّقاً لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّراً بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هذَا سِحْرٌ مُبِينٌ[1]= او (در یاد کړه) چې کله عیسی د مریمې زوی وویل: ((بني اسراییلو (= د یعقوب اولادې)! په واقع کې زه درته د الله استازی یم [حال دا] تورات چې تر ما مخکې راغلی، رښتینی یې ګڼم او د هغه استازي زېری درکوم، چې تر ما روسته راځي [او] نوم یې "احمد" دی)) نو چې کله هغه [= احمد] ورته له معجزو او روښانه دلایلو سره راغی (نو) و یې ویل: ((دا خو ښکاره کوډې دي.))

**اُمّي:**

((الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُوْلئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[2]= هغوی چې (د الله د استازي، " اُمي " پیغمبر لاروي وکړي، چې د هغه (نوم او ځانګړنې) په خپل تورات او انجیل کې لیکلي مومي (هماغه پیغمبر چې) دوی ته د غوره چارو (پر ترسره کولو) امر کوي او له ناوړه چارو یې منع کوي، دوی ته پاك څیزونه حلا لوي او ناپاکه ورته حراموي او د دوی (له اوږو او غاړو) درانه پېټي او ځنځیرونه لرې کوي؛ نو هغوی چې پرې ایمان راوړي او درناوی او مرسته یې وکړي او په هغې رڼا پسې ولاړ شي، چې له ده سره نازله شوې ده (نو) همدوی بریالي دي.))

---

[1] (صف /٦)

[2] (اعراف/١٥٧)

((وَمَا كُنتَ تَتْلُوا مِن قَبْلِهِ مِن كِتَابٍ وَلاَ تَخُطَّهُ بِيَمِينِكَ إِذاً لاَرْتَابَ الْمُبْطِلُونَ [1]= او تا هېڅکله تردې له مخه، نه کوم کتاب لوسته او نه دې په خپل ښي لاس څه ليکل(حال دا که لوستل او ليکل دې کولای شول؛ نو) باطل فکري (د قرآن په اړه) شکمنېدل. ))

((هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ اياتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلاَلٍ مُبِينٍ = (الله) هغه دی، چې په نالوستو کې يې استازی پخپله د هغوی يو تن (د استازي په توگه) راپاڅاوه، چې د الله آيتونه ورته ولولي او پاك يې کړي او کتاب (قرآن) او حکمت ور وښيي او که څه تردې له مخه په ښکاره بې لارۍ کې ول[2].))

**خاتم النبيين:**

((مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِن رِّجَالِكُمْ وَلكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيماً[3]= محمد(ص) ستاسې د هېڅ يوه سړي پلار نه دی؛ خو رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم او د پېغمبرانو(د لړۍ) پای ته رسوونکی دی او الله پر هر څه ښه پوه دی.))

**روف رحيم:**

((لَقَدْ جاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَاعَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ[4]= په رښتيا پخپله له همدا تاسې يو استازی درغلی، چې ځورونې مو پرې سختې پرېوځي (او) پر لارښوونې مو ټينگارکوي، پر مؤمنانو خواخوږی (او) زړه سواندی دی.))

**رحمة اللعالمين:**

((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ[5] = او ته مو يوازې نړيوالو ته يو رحمت لېږلی يې.))

---

[1] (عنکبوت/۴۸)
[2] (جمعه/۲)
[3] (احزاب /٤٠)
[4] (توبه/۱۲۸)
[5] (انبياء / ۱۰۷)

**سراج منیر:**

((يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِداً وَمُبَشِّراً وَنَذِيراً. وَدَاعِياً إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجاً مُّنِيراً[1]=پېغمبره!په حقيقت کې موږ ته شاهد او زېری ورکوونکی او وېرونکی لېږلی يې او(ته) مو د هغه په حکم د الله لوري ته بلونکی او روښانه څراغ لېږلی يې.))

**عبدالله:**

((وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَداً[2]=او داچې د الله بنده [=محمد عبادت ته] راپورته شو، چې و يې بلي (نو) څه نه وو پاتې، چې يوه ډله پرې راولوېږي.))

**محمد:**

((وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئاً وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ[3]=محمد(ص) يوازې د الله پېغمبر دی او ترې مخکې نور پېغمبران هم تېر شوي ول؛ نو که ومري يا ووژل شي، تاسې پرشا گرځئ؟ (او اسلام پرېږدئ، جاهليت او کفر ته ورستنېږئ ؟!) او څوك چې پر شا واوړي نوهېڅکله به الله ته زيان و نه رسوي او الله به ډېر ژر شکر ايستونکيو (او د زغم خاوندانو) ته بدله ورکړي.))

((مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً[4]= محمد(ص) د الله استازی دی او هغه کسان، چې ورسره دي، پر کافرانو ډېر سخت (او) پخپلو کې خوا خوږي او ډېر لوراند دي، ته به يې تل رکوع او سجده کوونکي وينې (او په دې عبادت) د الله فضل او خوښي غواړي. پر وچوليو يې د سجدو نښې ښکاره دي. هغوی په تورات او انجيل کې په همدې ځانگړنو ياد شوي دي، دوی هغه کښت ته ورته دي، چې لومړی (تنکي او کمزوري) تېغونه راباسي، بيا خپله ملا ټينگه کړي، بيا کلك شي، بيا (د ښې ودې له لامله) پر خپلو ډډونو

---

[1] (احزاب/ ۴۵، ۴۶)

[2] (جن /۱۹)

[3] (آل عمران/۱۴۴)

[4] (فتح/۲۹)

درېږي، چې بزګران ورته حيرانېږي. (همدغسې د محمد(ص) ياران له کمزورۍ ځواک ته رسي) چې کافران پر بيا وړتيا يې له غوسې وسوځي! هغوی چې ايمان راوړی او ښه (کارونه) يې کړي دي (نو) الله د ښښنې او لوی اجر ژمنه ورکړې ده.))
((وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَى مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ[1]= او هغوی چې ايمان يې راوړی دی او ښه (کارونه) يې کړي دي او پر هغه حق يې ايمان راوړی، چې د پالونکي له لوري يې پر محمد نازل شوی دی، الله يې ګناهونه رژولي او د هغوی حال يې ښه کړی دی.))
((مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيماً[2]= محمد(ص) ستاسې د هېڅ يوه سړي پلار نه دی؛ خو رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم او د پېغمبرانو (د لړۍ)پای ته رسوونکی دی او الله پر هر څه ښه پوه دی.))

## په قرآنکريم کې د رسول الله (ص) ځانګړنې

سيره ليکونکيو د تاريخ او روايتونو په رڼا کې د رسول الله (ص) سيره ليکلې ده. نن هم په کامپيوټر کړای شو په قرآن کې د "کان رسول الله (ص)"عبارت وپلټو او د رسول الله (ص) د سيرت پر ځينو اړخونو ځان پوه کړو؛ خو الله لار راښوولې، چې د قرآن د آيتونو په رڼا کې د رسول الله سيرت ته ځان ورسوو، د قرآن په رڼا کې پوهېدای شو، چې رسول الله (ص) څه ځانګړنې درلودې او سيرت يې څه و؟

په يتيمۍ کې الله "ماوا" ورکړه:
((أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيماً فَآوَى[3]=يا ته يې يتيم نه وې موندلی نو(ځای او) پناه يې درکړه.))
د هغه تحير او هېښنه- حېرت يې لرې کړ:
((وَوَجَدَكَ ضَالاًّ فَهَدَى[4]= ((او ته يې ورک شوی موندلی وې؛ نو لار يې دروښووله.))
بېوزلي يې ترې لرې کړه:

[1] (محمد/۲)
[2] (احزاب/۴۰)
[3] (الضحی/٦)
[4] (الضحی/۷)

((وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى[1] = ((او تنګلاسی یې موندلی وې؛ نو شتمن یې کړې))
ارواییز دباو یې ترې لرې کړ:
((أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ[2]= ((ایا سینه یې درپراخه نه کړه))
ملا ماتوونکي ټولنیز دباوونه یې هم ترې لرې کړل:
((وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ [3] = ((او دروند پېټی مو درنه واخست ؟!))
((الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ[4]=[ (هماغه پېټی) چې ستا ملا یې درنه کړې وه.))
که یوه ورځ هجرت ته اړ شو او خپل ټاټوبی یې پرېښود؛ نو یوه ورځ یې پر عزت مکه سوبه کړه او خپل ټاټوبي ته راستون شو.
که یوه ورځ یې چا خبرې ته غوږ نه نیوه؛ نو بله ورځ ډلې ډلې خلک راغلل او اسلام یې راووړ.
((وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجاً [5]= ((او خلک وینې، چې ډلې ډلې د الله دین ته ننوځي))
بشریت ته د رسول الله (ص) شتون یو منت او احسان و: ((مَنَّ اللّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ[6]))
هستۍ ته رحمت و. (رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ[7])
بشر ته تل بېلګه و: (فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ)[8].
پر ټولو انبیاوو علیه السلام لووی و، (وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هؤُلاَءِ شَهِيداً) [9].
الله خپلې ځینې ځانګړنې رسول الله (ص) ته هم راوړې دي: (رَؤُوفٌ رَحِيمٌ) [10].
الله؛ ځکه پر مکه قسم خوري، چې رسول الله (ص) هلته دی:

---

[1] (الضحی /۸)
[2] (الشرح /۱)
[3] (الشرح /۲)
[4] (الشرح /۳)
[5] (نصر/۲)
[6] (آل عمران / ۱٦٤)
[7] (انبیاء / ۱۰۷)
[8] (احزاب / ۲۱)
[9] (نساء/ ٤۱)
[10] (توبه/۱۲۸)

((لاَ أُقْسِمُ بِهذَا الْبَلَدِ [1]= په دې ښار (= مکه) قسم خورم!))
((وَأَنتَ حِلٌّ بِهذَا الْبَلَدِ [2]= ((او حال دا ته په دې ښار کې اوسې))
که موږ يوې شېبې ته پر رسول الله (ص) درود وايو نو د هستۍ پنځوونکی او پرښتې پرې تل درود وايي:
((إِنَّ اللَّهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً [3]= [ په حقيقت کې الله او پرښتې يې پر پيغمبر درود وايي (رحمتونه لېږي)، مؤمنانو! تاسې هم پرې درود او سلام ووايئ او (حکم ته يې) پوره تسليم وسئ. ]
که قرآن دنيا لږه گڼلې او د "قليل" لقب ورکوي: (مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ)[4] خو وايي چې د رسول الله خوی ستر دی: ((وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ [5]= ((او په رښتيا ته ستر خوښونه لرې.))
که موږ هېرونکي يو نو الله ژمنه کړې څه يې چې رسول الله (ص) ته ورلېږلي، نه به يې هېروي:
((سَنُقْرِئُكَ فَلاَ تَنسَى [6]= ((موږ ژر (قرآن) پر تا لولو نو نه به يې هېروې))
کله يې په يو آيت کې پرلپسې ډېر کمالات راغلي دي: ((يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِداً وَمُبَشِّراً وَنَذِيراً. وَدَاعِياً إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجاً مُّنِيراً [7]= [پيغمبره! په حقيقت کې موږ ته شاهد او زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی يې او(ته) مو د هغه په حکم د الله لوري ته بلونکی او روښانه څراغ لېږلی يې. ]
الله ته تر ټولو ورنږدې، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم دی يوازې د هغه په باب دا آيت نازل شوی دی: ((ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى [8]= ((بيا نژدې شو او راکښوت))
امام سجاد(رح) وايي: الله خپل استازی معراج ته بوت، چې د خپل صفت عجايب او نوښت په ملکوت کې ورو‌ښيي. [9]

---

[1] (البلد/١)
[2] (البلد/٢)
[3] (احزاب /٥٦)
[4] (نساء / ٧٧)
[5] (قلم/ ٤٠)
[6] (اعلی /٦)
[7] (احزاب/ ٤٥، ٤٦)
[8] (نجم/٨)
[9]. (تفسير نور ٣٠٧/١١).

رسول الله (ص) په خبرو کې معصوم دی او د ځاني غوښتنو له مخې خبره نه کوي: ((وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى[1] = ((او هغه د ځاني غوښتنو له مخې نه غږېږي.))

په کتنه او ليدنه کې معصوم دی: ((مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى [2]= نظر(يې بلې خوا ته) وا نه ړاوه او و نه ښويېد(څه يې، چې وليدل، واقعيت و).

زړه او اروا يې کله هم نه دي تېروتي: ((مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى[3]=څه چې (د پېغمبر پاک) زړه وليدل، ترې منکر نه شو.))

په قرآن کې ځوځل د رسول الله (ص) نوم د الله د نوم ترڅنګ راغلی دی، ځو بېلګې يې دادي:

عزت يوازې د الله او استازي لپاره يې دی: (وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ)[4].

له الله او استازي يې لاروي وکړئ: (أَطِيعُوا اللّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ).

او وايي د هغوی بلنه ومنئ (اسْتَجِيبُوا لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ) [5].

له الله او استازي سره يې مرسته وکړئ: ((وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلاَ يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[6] = [ او (همداراز) هغوی چې تر (مهاجرينو) مخکې په (مدينه) کې هستوګن ول او ايمان يې راوړی (او) له هغوی سره مينه لري، چې دوی ته يې هجرت کړی دی او څه چې هغوی (مهاجرينو) ته ورکړ شوي، پخپلو زړونو کې هغوی ته اړتيا قدرې (کينه او کنجوسي) نه ننګېري او (مهاجرين) تر خپلو ځانو (غوره او) لومړي ګڼي او که څه هغوی پخپله ډېر اړمن وي او ځوک چې له کنجوسی او د خپل نفس له حرصه خوندي شو؛ نو همدوی بريالي دي. ]

سرغړونه ترې سخته رټل شوې ده: ((وَمَن يَعْصِ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ ناراً خَالِداً فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ[7] = او ځوك چې د الله او د هغه له پېغمبره سرغړونه کوي او د الله له ټاکليو

---

[1] (نجم / ٨)

[2] (نجم /١٧)

[3] (نجم / ١١)

[4] (منافقين /٨)

[5] (انفال /٢٤)

[6] (حشر / ٩)

[7] (نساء / ١٤)

پولو تېرى وکړي، هغه به اور ته وغورځوي، چې تل به پکې وي، چې دا ورته رسواکوونکى عذاب دى.))

((وَمَن يَتَوَلَّ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ [1]= او څوك چې د الله او د هغه د پېغمبراو مؤمنانو ولايت ومني (برياليي دي ځکه) د الله گوند برياليى دى.))

((إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَاباً مُّهِيناً [2]= ((په حقيقت کې هغوى چې الله او استازى يې ځوروي (نو) الله هغوى په دنيا او آخرت کې له خپل رحمته لرې کړي دي او ورته يې سپکوونکى عذاب چمتوکړى دى.))

د ((رب)) ټکى د پالونکي پر مانا دى، چې ډېر زيات په قرآن کې راغلى دى او هر ځل يو شي ته نسبت ورمنسوب شوى؛ لکه: "رب الناس"؛ يعنې د خلکو پالونکى "رب العالمين"؛ يعنې نړۍ پال او همداراز "رب المشارق" خو د رب ټکى، چې د اسلام پېغمبر ته خطاب کوي، چې زه ستا پالونکى يم، تر دوو سوو زيات په قرآن کې راغلى دى او دا جوتوي، چې الله پر خپل استازي ځانگړى پام درلود.

کله پرلپسې شپېږ ځل د اسلام پېغمبر ته خطاب شوى؛ لکه: ((إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحاً مُبِينا. لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُسْتَقِيماً [3]=په حقيقت کې موږ ستا په چارو کې څرگنده پراخي رامنځ ته کړه چې الله ستا له هغو تېرو او راتلونکيو گناهونو تېر شي، چې په تا پورې يې تړل (او ستا حقانيت يې جوت کړى) او پر تا خپله پېرزوينه بشپړه کړي او سمه لار دروښيي.))

په قرآن کې کله له داسې ټکيو سره مخېږو، چې الله پر خپل استازي ځانگړې لورنه درلوده؛ لکه:

(ينصرک [4])؛ يعنې الله به دې مل وي.

((أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ = ايا سينه يې درپراخه نه کړه [5]

---

[1] (مائده /٥٦)

[2] (احزاب / ٥٧)

[3] (فتح/١، ٢)

[4] (طه، ٩)

[5] (انشراح/١)

الله خپل استازي ته وايي: قبله مې واړوله، چې خوښ او راضي شې(او يهودان ونه وايي، چې زموږ د قبلې پر لور لمونځ کوې. (قِبْلَةً تَرْضَاهَا)[1].

په راتلونکې کې به دومره څه درکړم، چې ته خوښ شې: ((وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى[2] = او هرومرو به ژر ستا پالونکی (دومره) درکړي، چې خوشحاله شې.))

((إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ[3]= کوثر مې درکړ.

((وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ[4]= د خلکو له شره به دې وساتم.))

له حالاتو او جامو اغستو دې خبر يم:

((يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّل[5]= ای (د تفکر او چوپتيا) په جامه (ډوب) ځان نغښتونکيه!))

((يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ[6]= ځان نغښتونکيه! (او په بستر کې پروته)!

خبر يم د مخالفانو ناپل-ناروا خبرو دې خلق تنگ کړی دی: ((وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ[7] = او په يقين موږ پوهېږو، څه چې هغوی وايي، ستا سينه ورته تنگيږي (او تا خورا خپه کوي)

کوثر مې درکړ، غوڅه اراده دا ده، چې ستااهل بيت له هر ډول رجس او پليدۍ پاک کړم. ته مې نړيوالو ته رحمت ولېږلې.

((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ[8] = ((او ته مو يوازې نړيوالو ته رحمت لېږلی يې.))

الله له خپل پېغمبره دفاع کوي او چې کله به مخالفانو په يو ډول پېغمبر کمزوری کړ؛ نو الله به ترې دفاع کوله، هغوی به ويل: ((يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ[9]))؛ يعنې يوسړی پېغمبرته څه ورزده کوي؛ خو

---

[1] (بقره/٤٤)

[2] (الضحی/٥)

[3] (کوثر/١)

[4] (مائده/٦٧)

[5] (مزمل/١)

[6] (مدثر/١)

[7] (حجر/٩٧)

[8] (انبيا ء/ ١٠٧)

[9] (نحل /١٠٣)

الله يې ځواب ورکوي: ((عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى[1] = ((هغه ته پياوړی ځواکمن [=جبرئيل امين] ورښوولي دي.))
کفارو به ويل: رسول الله (ص) شاعر دی؛ نو الله وويل: ((وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ[2]=او موږ هغه (= پيغمبر) ته شعر ورښوولی نه دی))
آنحضرت(ص) ته يې مجنون وايه؛ خو الله ويل: ته د الله د نعمت تر سيورې لاندې مجنون نه يې.
آنحضرت (ص) يې په سحر او کوډو تورناوه؛ نو الله پرسخته دا تور ردواه او چې هر ډول تور پر رسول الله (ص) ولگېد؛ نو الله په بشپړ پرېکندتوب رداوه.
رسول الله (ص) د قرآن انځور و، چې دا خبره هم اهل سنتو او هم اهل تشيع د رسول الله (ص) له مېرمنې رانقل کړې ده. ((کان خلقه القرآن[3]))
اوس به دا حقيقت له قرآنه، د رسول الله (ص) د خبرو او اهل سنتو د روايتونو په رڼا کې راوڅېړو: هم قرآن په قيامت کې شفيع دی ((نعم الشفيع القرآن لصاحبه يوم القيامه[4]) او هم رسول الله (ص) وويل: زه لومړنی شفيع يم[5].
هم قرآن د نړيوالو لپاره گواښنگری دی: (لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً[6] ) او هم د سبا سورت په ۲۸م آيت کې راغلي: ((كَافَّةً لِّلنَّاسِ)) رسول الله (ص) وويل: زه ټولو نړيوالو ته رالېږل شوی يم.[7]
هم رسول الله (ص) [لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً[8]] دی.

---

[1] (نجم/٦)
[2] (يس/٦٩)
[3] (شرح ابن ابي الحديد ٦/ ٣٤٠، سنن النبي علامه طباطبايي/٥٦مخ)
[4] نهج الفصاحه ٦٣٣ مخ
[5] (فضائل الخمسه ٤/١)
[6] (فرقان/١)
[7] (فضائل الخمسه ٤٥/١)
[8] (فرقان/١) ] نهج البلاغه/٢٦ خطبه

هم قرآن د خلکوخير غواړي ((هوالناصح[1]))او هم رسول الله (ص) ((فبالغ می النصحيه [2]))
هم قرآن پند دی (مَوْعِظَةٌ مِن رَبِّكُمْ[3]) او هم رسول الله (ص) خلک پند ته رابلي. ((والموعظه الحسنه [4]))
هم قرآن خلک په غوره توگه رابلي؛ يعنې په قرآن کې کړنې او انگېرنې -خرافات او اوهام نشته: (يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ[5])
حضرت علي (ک) د رسول الله (ص) په هکله وايي: د رسول الله (ص) پر لار روان شئ، چې د ښيون تر ټولوغوره لار ده اوخپل کړه وړه مو د رسول الله (ص) پر کړنلاړ سم کړئ، چې تر ټولوغوره کړنلار ده[6].
قرآن ته کتل هم عبادت دي.[7] او رسول الله (ص) هم وويل: ما ته کتل عبادت دي.[8]
هم قرآن هغه وزله ده، چې خلک له تيارو رڼا ته راباسي: ((كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ[9])) او هم د رسول الله (ص) په هکله لولو، چې پرحقه معبوث شو، چې خلک د بوتانو له نماځنې او د شيطان له لاروۍ يې د الله لاروۍ ته راوبلي.[10]
هم قرآن د لاروۍ کتاب دی: ((وَهذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ[11]= ((او دا له برکته ډك کتاب دی، چې موږ پر تا نازل کړی دی؛ نو لاروي يې وکړئ او پرهېزگاري وکړئ، ښايي الله درباندې ولورېږي.))
او هم بايد د رسول الله (ص) له احکامو لاروي وشي. (وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ[12])

---

[1] نهج البلاغه/۱۷٦ خطبه
[2] نهج البلاغه/۲٦ خطبه)
[3] (يونس/۵۷)
[4] (نهح البلاغه/۱۰۹).
[5] (اسراء /۹)
[6] (نهج البلاغه /۱۱۰ خطبه).
[7]. (وسايل ٤/۸۵٤ مخ)
[8]. (فضائل ۱۷/۱)
[9] (ابراهيم/۱)
[10]. (نهج البلاغه ۱٤۷خطبه).
[11] (انعام /۱۵۵)
[12] (حشر/ ۷)

هم قرآن د رحمت كتاب دی: ((وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَاناً لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدىً وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ[1])) او هم رسول الله (ص) هستی ته رحمت دی:

((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ[2] = ((او ته مو يوازې نړيوالو ته رحمت لېږلی يې.))

څومره، چې د قرآن تلاوت زيات وي؛ نوغوره به وي او هم څومره، چې د رسول الله (ص) درود زيات وي؛ لكه امام حسن عسكری چې وايي: (اكثروا. . . . تلاوه والصلاه علی النبی [3])

هم قرآن رڼا ده: (إِلَيْكُمْ نُوراً مُبِيناً[4]) او هم رسول الله (ص) رڼا ده: (السلام عليک يا نورالله [5])

هم قرآن بيان دی: (هذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ[6]) او هم د رسول الله (ص) كلام بيان دی. (كلامه بيان [7])

هم قرآن مبارک دی: (كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ)[8]او هم آنحضرت (ص) مبارک دی [9].

هم قرآن د ژغورنې بېرغ دی او هم رسول الله (ص)[10] .

هم قرآن د كريم لقب لري: (لقرآن كريم) او هم د رسول الله (ص) د كرامت سرچينه ده [11].

هم خپل اولاد د قرآن پر كړنلار وروزو او هم د رسول الله او د اهل بيتو پر كړنلار يې. [12]

هم قرآن بشپړ يقين دی (وَإِنَّهُ لَحَقُّ الْيَقِينِ[13]) او هم رسول الله (ص) دومره عبادت وكړ، چې ځان يې د يقين او باور درجې ته ورسو[14].

---

[1] (نحل/ ۸۹)

[2] (انبياء / ۱۰۷)

[3]. (تحف العقول/٤۸۸ مخ)

[4] (نساء/ ١٧٤)(نساء/ ١٧٤)

[5]. (موسوعة زيارات المعصومين ۱/ ۴۲)

[6] (آل عمران/۱۳۸)

[7] (نهج البلاغه/٩٦خطبه).

[8] (ص/۲۹)

[9] (صحيفه سجاديه، دو يمه دعا)

[10] (صحيفه سجاديه، دويمه دعا)

[11]. (موسوعة زياره المعصومين ۱۷/۱)

[12]. (كنزالمعال، ٤٥٤٩).

[13] (حاقه/۵۱)

[14]. (موسوعة زياره المعصومين ۱/ ۹۵)

هم قرآن شفا ده (وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ[1]) او هم رسول الله (ص) طبيب دی [2].
هم قرآن روښانوونکی ځانګړنه لري(وَقُرْآنٍ مُّبِينٍ[3]) او هم رسول الله (ص): ((وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْمُبِينُ[4] = او ووايه: په واقع کې زه هماغه څرګند وېروونکی يم.))
هم قرآن عزيز دی، (لَكِتَابٌ عَزِيزٌ)[5] او هم رسول الله (ص) د عزت وزله ده: (اعزبه الزله [6]) هم قرآن خلک ودې ته رابلي (يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ[7]) او هم رسول الله (ص) خلک ودې ته رابلي[8].
قرآن د ټولو اسماني کتابونو د آرونو ساتونکی دی (وَمُهَيْمِناً عَلَيْهِ[9]) او هم رسول الله (ص) د ټولو تېرو انبيا وود آرونو پاسوال دی [10].
هم قرآن امام دی [11] او هم رسول الله (ص) [12].
هم په هغه زړه کې، چې قرآن وي، پرې عذاب نه راځي [13] او هم په هغه امت کې، چې رسول الله (ص) وي، عذاب پرې نه راځي:
((وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ ایاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هذَاإِنْ هذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ[14] = [خو (پيغمبره!) څو ته يې په منځ کې يې (نو) الله يې نه په عذابوي او (همداراز) تر هغه چې بښنه غواړي الله به يې عذابونکی نه وي. ]

[1] (يونس/٥٧)
[2]. (نهج البلاغه/١٠٦خطبه)
[3] (الحجر/ ١)
[4] (الحجر/ ٨٩)
[5] (فصلت/ ٤١)
[6]. (نهج البلاغه/ ٩٦خطبه)
[7] (جن/٢٢)
[8]. : (نهج البلاغه/١٩٥خطبه)
[9] (مائده /٤٨)
[10]. (نهج البلاغه، ٦٣)
[11]. (نهج الفصاحة/٩٧٩ح)
[12]. (بحارالانوار٩/٢٩٤)
[13]. (كنزالعمال/ ٢٤٠٠ح)
[14] (انفال/٣٣)

نه په قرآن کې بېلاري شته (وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجا[1]) او نه په رسول الله (ص) کې بېلاري شته (إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ. عَلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ[2])

هم د قرآن خبره د اړپېچ پرمهال د کاښي کرښه ده (إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ[3]) او هم د رسول الله (ص) کلام د کاښي کرښه ده [4].

هو! رسول الله (ص) د قرآن انځور دی او داچې رسول الله (ص) د مباهلې پرمهال حضرت علي (ک) خپل ځان بللی و نوحضرت علي (ک) هم د قرآن انځور دی؛ نو که په روايتونو کې راغلي، چې بې د حضرت علي (ک) د ولايت له منلو لمونځ نه قبلېږي؛ نو هسې خبره يې نه ده کړې؛ ځکه د "خم غدير" په آيت کې الله خپل استازي ته وويل، چې بې د ولايت له ابلاغه رسالت نه بشپړېږي.

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ[5] =پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پر تا نازل شوي، بشپړ (خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې و نه کړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی.))

هو! الهي رسالت بې له ولايته بشپړ نه دی. حضرت علي (ک) وايي: قرآن هغه سمندر دی، چې ژورو ته يې لاس رسی نشته.

نو رسول الله (ص) هم ژور پېژندای نه شو، چې دا خبره يې د اهل بيتوپه اړه هم صادقه ده؛ نو که چا د رسول الله (ص) او د اهل بيتو په اړه څه ليکلي نو په حقيقت کې يوازې خپله پوهه يې راڅرگنده کړې ده؛ لکه څنگه چې څوک يو لوښی په سمندر کې ورغوپه کوي او څه اندازه اوبه را اخلي او وايي دا سمندر دی، حال دا سمندر کله هم په کوزه کې نه ځايېږي.

---

[1] (کهف/ ١)

[2] (يس/٤، ٥)

[3] (طارق/١٣)

[4]. (نهج البلاغه /٢٧٩خطبه)

[5] (مايده/٦٧)

# د حضرت محمد (ص) د کمالاتو سرلیک

## د رسول الله (ص) خوی

په هغه ستر رسالت کې د الله د استازي د بري یو راز ښه خوی او ورین تندی و. پر خلکو خورا لورانده و او له خلکو سره په چلن کې یې له پراخې سینې کار اخسته، چې په همدې ښو اخلاقو یې د خلکو پر زړونو واکمني کوله، تردې چې د عربستان په هغه وحشي او روسته پاتې ټولنه کې یې داسې کسان وروزل، چې هر یو یې د بشریت لپاره بېلګې دي. قرآن پاک د الله د استازي د ښو اخلاقو په هکله وایي:

((وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ[1]= او په رښتیا ته ستر خوښونه لرې.))

چې د ټولو الهي انبیاو سیره همداسې وه او پر خلکو خوار لورانده ول.

دا خبره دومره ارزښت لري، چې اسامه ترې وپوښتل، چې تر ټولو غوره څيز، چې انسان ته ورکړ شوی، څه دی، و یې ویل: ښه اخلاق.

امام حسن د خپل نیکه خبره را اخلي، وایي: د ښو اخلاقو د خاوند اجر د رمضان د شپې د لمونځونه هومره دی.

په بل ځای کې وایي: ((ښه اخلاق ګناهونه داسې ویلې کوي؛ لکه څنګه چې لمر یخ ویلې کوي)).

وپوښتل شو: ښه اخلاق څه دي ؟ و یې ویل: ښه اخلاق دا دي: د دوستۍ اړیکه له هغوی سره ټینګه وساتې، چې درسره یې پرېښې ده او هغه وبښې، چې ظلم یې دربانديې کړی او ور یې کړې هغه ته، چې درکړې یې نه وه.

په دعا کې یې خپل څښتن ته ویل: خدایه! خلق و خوی مې نیک کړې خدایه له ناوړه اخلاقو مې وساتې او له نارواوو په ځان ساتلو کې مې مل شې.

امام رضا (رح) د رسول الله (ص) وینا را اخلي، وایي: جبرائیل د الله له لوري راغی او را ته یې وویل: محمده! پر تا دي، چې ښه اخلاق دې جامه کړې؛ ځکه بد خلقي د دنیا او اخرت خیر له منځه وړي او بیا یې وویل: پوه شئ، چې په تاسې کې به تر ټولو هغه زما په څېر وي، چې تر ټولو یې اخلاق ښه وي.

---

[1] (قلم/۴)

په انبياوو عليه السلام کې يوازې د اسلام پېغمبر دی، چې د ژوند د تاريخ جزئيات يې روښانه ثبت شوي دي، چې دا مسلمانانو ته ستر وياړ دی؛ ځکه د نورو پېغمبرانو د ژوند په تاريخ کې يې تر مړينې روسته ډېرې اړونې راوړي نومناسبه به وي، چې دلته د رسول الله (ص) خوی ته لنډه اشاره وکړو، چې له ژوند او اخلاقو سره به يې اشنايې ټولو ته گټوره وي[1].

١- د ستر خوی خاوند:

((وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ [2] = او په رښتيا ته ستر خوښونه لرې.

٢ – د نرم خوی خاوند:

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ [3]= خلکو ته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لورانډ) شوی يې او که تونډ خويه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خوربدل؛ نو له هغوی تېر شه او ببښنه ورته وغواړه او په چارو کې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ ځکه چې توکل کوونکي د الله خوښېږي.))

٣ – په تورات کې يې نامه او نښې ثبت شوي دي:

((الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ [4]= هغوی چې (د الله د استازي، " اُمي " پېغمبر لاروي وکړي، چې د هغه (نوم او ځانگړنې) په خپل تورات او انجيل کې ليکلي مومي (هماغه پېغمبر چې) دوی ته د غوره چارو (پر ترسره کولو) امرکوي او له ناوړه چارو يې منع کوي، دوی ته پاك څيزونه حلا لوي او ناپاکه ورته حراموي او د دوی (له اوږو او غاړو) درانه پېټي او ځنځيرونه لرې کوي؛ نو هغوی

[1] څه مو چې دلته راخستي، د بحارالانوار له شپاړسم ټوک، سيره ابن هشام؛ ((کحل البصر)) او د الميزان تفسير له شپږم ټوکه راخستي دي.

[2] (قلم/٤)

[3] (آل عمران /١٥٩)

[4] (اعراف /١٥٧)

چې پرې ايمان راوړي او درناوی او مرسته يې وکړي او په هغې رڼا پسې ولاړ شي، چې له ده سره نازله شوې ده (نو) همدوی بريالي دي.))
٤ – پر ټولو اديانو د بري ژمنه ورکړل شوې ده:
((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ [١]= او (الله) هغه دی، چې خپل پيغمبر يې له لارښوونې اوحق دين سره ولېږه، چې پرټولو اديانو يې لاسبری کړي، که څه مشرکان ناخوښه وي.))
((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيداً [٢]= (الله) هغه دی، چې خپل استازی يې له سمې لارښوونې او حق دين سره لېږلی دی، چې پر ټولو اديانو يې بريالی کړي او (د پيغمبر پر حقانيت) د الله شاهدي بس ده.
((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ [٣]= (الله) هغه دی، چې خپل استازی يې له سمې لارښوونې او حق دين سره راولېږه، چې هغه پر ټولو اديانو بريالی کړي که څه مشرکان پرې خوښ نه وي.))
٥ – د ټول بشريت لپاره راغلی دی:
((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ [٤]=او موږ ته ټولوخلکو ته (د الهي مکافاتو) زيری ورکونکی او (له عذابه يې) وېرونکی لېږلی خو ډېری خلك نه پوهېږي.))
٦ – د پيريانو لپاره هم راغلی:
((قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآناً عَجباً [٥]= ووايه: وحي راته شوې، چې څو تنو پېريانو (زما خبرې) واورېدې نو و يې ويل: ((په رښتيا موږ هېښنده لوستونی (قرآن) واورېد.))
٧ – پر مؤمنانو تر هغوی ړومبی دی:

[١] (توبه/٣٣)
[٢] (فتح/٢٨)
[٣] (صف/٩)
[٤] (سبا/٢٨)
[٥] (جن /١)

((النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ إِلَّا أَن تَفْعَلُوا إِلَى أَوْلِيَائِكُم مَّعْرُوفاً كَانَ ذَلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُوراً [1]= پېغمبر مؤمنانو ته د هغوی تر خپلو ځانو ډېر وړ (او نژدې) دی او مېرمنې يې د هغوی [= مؤمنانو] مېندې دي او د الله په کتاب کې (په ميراث کې) تر عامو مؤمنانو او مهاجرينو (خو)ځينې خپلوان يو تر بله لومړيتوب لري؛ خو داچې)وغواړئ)له خپلو دوستانوسره ښېګڼه وکړئ (او د خپلومالونو يوه برخه ورکړئ) دا (حکم) په (الهي) کتاب کې ليکل شوی دی)).

۸ـ پر خپل امت او ټولو انبياوو عليه السلام لووی-شاهد دی:

((فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيداً [2]= څنګه به وي پر هغه ورځ چې موږ له هرامته (پرکړنو يې) يو شاهد راولو او تا به هم پرې شاهد کړو؟))

۹ـ د ډول ډول دباوونو پر وړاندې غوره تسل دی:

((وَلاَ يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَن يَضُرُّوا اللّهَ شَيْئاً يُرِيدُ اللّهُ أَلاَّ يَجْعَلَ لَهُمْ حَظّاً فِي الآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ [3]= او تا دې هغوی خپه نه کړي، چې په کفر کې زيار کاږي، بېشکه چې هغوی الله ته هېڅ زيان وررسولای نشي (پردې سربېره) الله غواړي (چې هغوی پر خپل حال پاتې شي او) په آخرت کې ورته هېڅ برخه ونه ټاکي او (په پای کې) ورته ستر عذاب دی.))

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لاَ يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا وَمَن يُرِدِ اللّهُ فِتْنَتَهُ فَلَن تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللّهِ شَيْئاً أُولَئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ [4]= (د الله) استازيه! هغوی دې تا انديښمن نه کړي، چې د کفر په لار کې په بيړه هلې ځلې کوي او په خوله وايي: ((ايمان مو راووړی)) خو زړونو يې ايمان راووړی نه دی! او (همداراز) هغه ډله يهود، چې ستا خبرو ته ښه غوږ ږدي، چې ستا د دروغجنولو لپاره پلمه

---

[1] (احزاب، ٦)

[2] (نساء ٤١)

[3] (آل عمران/١٧٦)

[4] (مايده/۴۲)

پیدا کړي، دوی د نورو څرې دي، چې پخپله درغلي نه دي، هغوی خبرې له آریز مفهومه اړوي او (یو بل ته) وایي: ((که تاسي ته دا (چې موږ یې غواړو) درکړ شو (او محمد ستاسې د غوښتنو له مخې ورمندون وکړ) نو و یې منئ، که نه (ترې) لرې شئ)) ؟ (خو) الله چې چاته (د هغه په پرلپسې ګناهونو) سزا ورکوي؛ نو ته یې د ژغورلو لپاره څه نشې کړای، دا هغه کسان دي، چې الله نه دي غوښتي، چې زړونه یې پاك شي، دوی ته په دنیا کې رسوایي او په آخرت کې سترعذاب ورپر برخه دی.))

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِن رَبِّكَ وَإِن لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ [1]= پیغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ (خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې و نه کړل؛ نو د هغه پیغام دې رسولی نه دی، الله تا د خلکو (له احتمالي زیانونو) ژغوري. هو! الله (ځېلي) کافرانو ته سمه لار نه ورښيي.))

((قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لاَيُكَذِّبُونَكَ وَلكِنَّ الظَّالِمِينَ بِايَاتِ اللّهِ يَجْحَدُونَ [2] = موږ پوهېږو، چې د هغوی خبرې دې ځوروي؛ خو (مه خپه کېږه او پوه شه چې) هغوی تا نه دروغجنوي بلکې (دا) ظالمان د الله له آیتونو منکرېږي.))

((وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللّهُ وَاللّهُ خَيرُ الْمَاكِرِينَ [3]= او (دریاد کړه) چې کله کافرانو ستا په باب دسیسې جوړولې، چې بندي دې کړي یا دې ووژني او یا دې (له مکې) وشړي، هغوی لارې چارې سنجولې او الله هم (خپل) تدبیر کاوه او الله تر ټولو غوره تدبیروونکی دی.))

۱۰ـ د ملنډو وهوونکیو پر وړاندې یې الهي ژغورنه:

((إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ [4]=(؛ ځکه) چې موږ به تا د ملنډو وهونکیو له شره وژغورو.))

۱۱ـ پر خپل دین یې بشپړ یقین دی، چې پوتی یې هم هاخوا او دې خوا ته فکرنه تله:

[1] (مایده/٦٧)

[2] (انعام/٣٣)

[3] (انفال/٣٠)

[4] (حجر/٩٥)

((وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئاً قَلِيلاً [1] = اوكه ته موږ (پر حق) ټينګ كړى نه واى (او د عصمت د مقام په رڼا كې له بې لارى خوندي شوى نه وې؛ نو) نژدې وه، لږ څه يې لوري ته ورمات شوى وې.))

١٢_ قرآن ورته؛ څكه سوكه سوكه راغى، چې زړه يې په آيتونو ټيكاو ومومي:

((وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلاَ نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلاً [2] = او كافران وايي: ((ولې پرې قرآن ټول په يو ځل نازل شوى نه دى ؟!))(هو!) داسې(؛ څكه شوي) چې زړه دې پرې ښه كلک كړو او (د همدې موخې لپاره) هغه مو په ځانګړي اوډون د بېلابېلو برخو په بڼه په كراره ورته لوستى دى.

١٣_سترګو نه شو وهلاى:

((وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ [3] = (پېغمبره!) دا كافران چې ستا په غږ قرآن اوري (د مانا، غږ او لحن د ډېر اغېز له لامله) لرې نه ده، چې په سترګو دې ووهي خو د الهى كلام تر اورېدو روسته د كينې له مخې وايي: ((هغه خو په رښتيا لېونى دى.)).

١٤_ د شفاعت دومره ژمنه ورسره شوې، چې خوښ شي:

((وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى [4] = او هرومرو به ژر ستا پالونكى تا ته (دومره) دركړي، چې خوشحاله شې.))

١٥_ په يتيمۍ كې ماوا وركړه شوه، په هېښنه كې لار وروښوول شوه او بېوزلي يې پر غنا واوختله:

((مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى. وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَى. وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى. أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى. وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى. وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى [5] = [چې] خپل پالونكي نه يې پرېښى او نه دربانديې پر غوسه شوى دى او هرومرو تا ته اخرت تر دنيا غوره دى او هرومرو به ژر ستا پالونكى تا ته (دومره) دركړي، چې خوشحاله شې، ايا ته يې يتيم نه وې موندلى نو

---

[1] (اسراء، ٧٤)

[2] (فرقان /٣٢)

[3] (قلم / ٥٢)

[4] (ضحى/٥)

[5] (ضحى/ ٣- ٨)

(ځای او) پناه يې درکړه؟!او ته يې ورک شوی موندلی وې؛ نو) لار يې دروښووله او ته يې تنګلاسی موندلی وې؛ نو شتمن يې کړې.))
١٦_ الله تعالی د يوې شپې لپاره هم ځان ته پرېښبود:
((مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى. وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَى. وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى. أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى. وَوَجَدَكَ ضَالاًّ فَهَدَى. وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى[١]= [چې] خپل پالونکي نه پرېښبی يې او نه دربانديې پر غوسه شوی دی او هرومرو تا ته اخرت تر دنيا غوره دی. او هرومرو به ژر ستا پالونکی تا ته (دومره) درکړي، چې خوشحاله شې، ايا ته يې يتيم نه وې موندلی نو (چې بيا) يې (ځای او) پناه درکړه؟!او ته يې ورک شوی موندلی وې؛ نو (بيا) يې درته لار وښوده. او ته يې تنګلاسی موندلی وې؛ نو شتمن يې کړې.))
١٧_ الله پراخه سينه ورکړه، ستونزې يې ورهوارې کړې او نوم يې مشهور شو:
((أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ[٢]= ايا سينه مو درپراخه نه کړه؟))
((وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ [٣]= او موږ ستا دروند پېټی له تا واخست ؟!))
((الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ [٤]=(هماغه پېټی)چې ستا ملا يې درنه کړې وه.))
((وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ [٥]= او موږ ستا لپاره ستا د يادېدو (اوازه) لوړه کړه.))
((فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً[٦]= نو په حقيقت کې له (هرې) سختۍ سره اسانتيا شته.))
((إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً[٧]= په واقع کې له(هرې)سختۍ سره اسانتيا شته.))
١٨- الله کوثر ورکړ او دښمن يې ورته شنډ کړ:
((إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ[٨]= په حقيقت کې موږ کوثر [= خير او ډېر برکت ] درکړ.))
((فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ [٩]= نو خپل پالونکي ته دې لمونځ وکړه او قرباني وکړه.))

---

[١] (ضحی/ ٣- ٨)
[٢] (الشرح/١)
[٣] (الشرح/٢)
[٤] (الشرح/٣)
[٥] (الشرح/۴)
[٦] (الشرح/۵)
[٧] (الشرح/٦)
[٨] (کوثر/١)
[٩] (کوثر/٢)

((إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ[1]= [ځکه] چې يوازې ستا کينه کښ (دښمن) بې ستې دی!))
۱۹- پرځه چې نه پوهېده، الله ورښوول:
((وَلَوْلاَ فَضْلُ اللّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ لَهَمَّتْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلاَّ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَيْءٍ وَأَنزَلَ اللّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللّهِ عَلَيْكَ عَظِيماً[2]= ((او که پر تا د الله فضل او لورنه نه وای نو د هغوی (خاينانويا منافقانو) يوې ډلې هوډ درلود چې بې لارې دې کړي خو هغوی يوازې خپل ځانونه بې لارې کوي او هېڅ ډول زيان در رسولای نشي او الله پر تا کتاب او حکمت نازل کړ او په څه چې نه پوهېدې، در و يې ښوول او (تل) درباندې د الله لوی احسان دی.))
۲۰- حق کتاب يې ورکړ:
چې هر څه پکې بيان شوي دي، د مسلمانانو لپاره زېری او لارښوونه ده او د حق او باطل د پېژندو وزله ده، چې دا کتاب يې يوځل ورته د قدر پر شپه راولېږه او يوځل يې هم په ۲۳ کالوکې سوکه سوکه.
۲۱_ پر سمه دی، د حنيف ابراهيم لاروی دی اوڅه چې وايي، وحې ده.

## حضرت محمد (ص) ته ورسپارل شوې دندې:

د جاهلانو، کافرانو، مادي تعلقاتو، ځومخومنافقو، د الله پرځای د بل عبادت، له منحرفو ډلو سره له جوړجاړي او د بېوزليو مسلمانانو له پرېښوونې ځان وژغوري او له جاهلانو، کفارو، مشرکانو او منافقانو مخ واړوي.
دنده يې درلوده، چې خلک له ظلم، تيارې او تفرقې رڼا ته راوباسي.
((الر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ[3]= الف، لام، را (دا) يوکتاب دی، چې موږ پرتا نازل کړی دی، چې خلك دهغوی د پالونکي په اجازه (د شر، ظلم او ناپوهی) له تيارو راوباسې او (د ايمان، عدل او پوهې) رڼا ته يې راولې، د هغه الله لارې ته چې ناماتی ستايل شوی دی.))
دنده يې درلوده، چې په مالياتو د خلکو ژوند تامين کړي.

---

[1] (کوثر/۳)
[2] (نساء/ ۱۱۳)
[3] (ابراهيم/۱)

((خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ =[1] له مالونو يې (د زکات په نامه) صدقه واخله، چې په هغه يې پاك او سوتره کړې او (د زکات اخستو پر وخت) ورته دعا وکړه؛ ځکه دعا دې ورته ډاډينه ده او الله اوريدونکی (او) پوه دی.))

دنده يې درلوده، چې سوچه او نړه عبادت وکړي:

((قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصاً لَهُ دِينِي[2] = ووايه: ((چې زه خو الله په داسې حال کې نمانځم چې[خپل] دين (او گروهه) مې يوازې هغه ته نړه کړې ده.))

د امت لپاره استغفار وکړي:

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[3]=خلکوته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خوبه او سخت زړی وې؛ نوخلك درڅنې خوربدل؛ نو له هغوی تېرشه او ښنه ورته وغواړه او په چاروکې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ ځکه توکل کوونکي دالله خو ښېږي.))

استقامت ولري:

((فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلاَ تَطْغَوْاْ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [4]= ((نو لکه څنگه چې درته امر شوی، هماغسې ثابت قدم وسه او همداراز ځوك چې درسره د الله لوري ته راغلي (بايداستقامت وکړي) او له پولو مه اوړئ، بېشکه څه چې کوئ، الله مو کړنې ښې ويني))

د انبياوو عليه السلام په لارښوونو پسې ولاړ شي:

((ثُمَّ صَدَقْنَاهُمُ الْوَعْدَ فَأَنجَيْنَاهُمْ وَمَن نَّشَاءُ وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ[5]= بيا مو ورسره کړې و عدې پوره کړې. هغوی او ځوك چې مو وغوښتل (د دښمنانو له منگولو) وژغورل او له پولو اووښتي مو هلاك كړل ].

---

[1] (توبه /۱۰۳)
[2] (زمر/١٤)
[3] (آل عمران /۱۵۹)
[4] (هود/ ۱۱۲)
[5] (انبياء /۹)

عدالت پلی کړي:
((سَمّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ فَإِن جَاؤوكَ فَاحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْئاً وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ[1]=هغوی (يهودان) د درواغ (ويلو) لپاره ستا خبروته ښه غوږ ږدي، په مړه خېټه حرام مالونه خوري نو که دوی درته راغلل، ترمنځ يې ورمندون وکړه، يا(که په مصلحت دې وه، پر خپل حال يې پرېږده! او که ترې تېر شې نو هېڅ زيان در رسولای نشي او که پرېکړه دې ورته کوله؛ نو په انصاف يې پرېکړه وکړه، بېشکه الله منصفان خوښوي.))
پر نېکيو امر او له بديو منع وکړي:
((الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[2]= ((هغوی چې (د الله د استازي، "اُمي " پېغمبر لاروي وکړي، چې د هغه (نوم او ځانګړنې) په خپل تورات او انجيل کې ليکلي مومي (هماغه پېغمبر چې) ورته د غوره چارو(پر ترسره کولو) امر کوي او له ناوړه چارو يې منع کوي، پاك څيزونه ورته حلا لوي او ناپاکه ورته حراموي او د دوی (له اوږو او غاړو) درانه پېټي او ځنځيرونه لرې کوي؛ نو هغوی چې پرې ايمان راوړي او درناوی او مرسته يې وکړي او په هغې رڼا پسې ولاړ شي، چې له ده سره نازله شوې ده (نو) همدوی بريالي دي.))
په ټېره خپلې کورنۍ ته:
((وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقاً نَّحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَى[3]=خپلې کورنۍ ته د نمانځه حکم وکړه او خپله هم پرې ټينګ ولاړ وسه، موږ له تا روزي نه غواړو (بلکې) موږ يې درکوو او د پرهېزګارۍ ښه پايله ده.))
دنده يې درلوده، چې خپلوانو او نورو ته زېری وکړي او ويې وېروي.
په ډاګه حرام اوحلال څرګند کړي:

[1] (مائده /٤٢)
[2] (اعراف، ١٥٧)
[3] (طه ١٣٢)

((الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِندَهُمْ فِي التَّورَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[1]= هغوی چې (د الله د استازي، "اُمي" پېغمبر لاروي وکړي، چې د هغه (نوم او ځانګړنې) په خپل تورات او انجیل کې لیکلي مومي (هماغه پېغمبر چې) دوی ته د غوره چارو (پر ترسره کولو) امر کوي او له ناوړه چارو یې منع کوي، دوی ته پاك څیزونه حلا لوي او ناپاکه ورته حراموي او د دوی (له اوږو او غاړو) درانه پېټي او ځنځیرونه لرې کوي؛ نو هغوی چې پرې ایمان راوړي او درناوی او مرسته یې وکړي او په هغې رڼا پسې ولاړ شي، چې له ده سره نازله شوې ده (نو) همدوی بریالي دي.

د الله نعمتونه یاد کړي او تسبیح یې ووایي:

((فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ[2]=(خو علاج یې دا دی چې) پالونکی دې ستایه او تسبیح یې وایه او له سجده کوونکیو وسه!))

الله تعالی ته تسلیم شي:

((وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّاتٍ مَعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفاً أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهاً وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ كُلُوا مِن ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلاَ تُسْرِفُوا إِنَّهُ لاَيُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ[3]=او الله هغه الله دی، چې په ډډونو ولاړ او (هم) پر ځمکه پراته بڼ ونه یې پیدا کړي او همداراز کجورې او هر راز کښتونه یې زرغون کړي دي، چې د مېوې او خوند له پلوه یو له بله بېل دي او (همداراز) د ښوونه او انارو ونې یې پیدا کړي، چې له ځینو اړخونو سره ورته دي او د ځینو له پلوه توپیرلري (پاڼې او بهرنۍ جوړښت یې سره ورته دی؛ خو د مېوو خوند یې توپیر لري) مېوې یې، چې ورسېدې؛ نو ویې خورئ او د فصل رېبلو او (راټولولو) پر وخت د هغه حق ورکړئ او اسراف مه کوه(؛ ځکه)چې هغه مسرفان نه خوښوي.))

پخواني کتابونه ومني:

---

[1] (اعراف /۱۵۷)

[2] (حجر/۹۸)

[3] (انعام ۱٤۱)

((وَلَمَّا جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ كِتَابَ اللَّهِ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لاَيَعْلَمُونَ[1] = ((او چې کله هغو ته د الله له لوري هغه پېغمبر راغی، چې د هماغه نښو تصديقوونکی و، چې له دوی سره وې، يوې ډلې يې چې (اسماني) کتاب ورکړشوی و، کتاب داسې شاته وغورځاوه لکه چې (هېڅ پرې) خبر نه دي!))

پخواني انبياء عليه السلام تصديق کړي:

((بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ[2]= (داسې نه ده) بلکې (هغه) حق راوړی و او (پخواني) استازي رښتين بولي.))

الهي آيتونه تلاوت او خلک تزکيه، تعلي او تقوی ته راوبلي؛

دنده يې درلوده، چې:

له مؤمنانوسره متواضع وسي، پرالله توکل وکړي، په لارکې يې جهاد وکړي، د مؤمنانوايمان راوړو ته حريص وي، له خدايه ووېرېږي، خلک د حکمت اوموعظې له لارې توحيد او توبې ته راوبلي، د بديو د لرې کولو له لارې خلک ښو، صبر، خلوص او ښېنې ته راوبلي، مشوره وکړي، د دښمن له لوري د سولې وړانديز ومني او په ځانگړيو شرايطوکې ورسره بيعت وکړي، له مؤمنانوسره مشوره وکړي او له کتابيانو سره انصاف.

دنده يې درلود، چې:

خلک له دښمن سره مقابلې اوجهاد ته راوهڅوي، له بنديانوسره پر لورنې اوله ټپيانوسره پر ورين تندي چلن وکړي، دنده يې درلود، چې د شپې له خپل پالونکي سره راز و نياز وکړي، خلکو ته قيامت ورياد کړي او د معاد لپاره استدلال راوړي، بيت المال و ايشي، خلک اخلاقوته راوبلي، ښه او پوه خلک پر شا وټپوي او نااهلان په تېره له جگړې تښتېدونکي، د ترون ماتونکي او پر هغو نيوکه وکړي، چې رسول الله (ص) يې د خپل اولاد په څېر پېژانده؛ خوايمان يې پرې نه راوړ او همدارازپر هغو شتمنو يې نيوکه کوله، چې له جگړې گوښه کېدل او سنگر ته له نه تلو به خوشحاله ول او کله يې د هوا د گرمی پلمه کوله.

((فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لاَتَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّاً لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ[3]= (د تبوك له جگړې) پاتې

[1] (بقره /۱۰۱)

[2] (صافات/۳۷)

[3] (توبه /۸۱)

شويو له " رسول ا لله "سره له مخالفته خوشحال ول او دا يې بده ګڼله، چې د الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانوجهاد وکړي او(يو بل او مؤمنانو ته يې) ويل: ((په دې ګرمۍ کې (غزا ته) مه ځئ.)) (هغوی ته) ووايه، که پوهېدای: ((نو د دوزخ اور تردې هم ډېر ګرم دی!))

کله يې رومي نجونو ته د کتو د فتنې پلمه راوړه.

کله خوانسان په يوه شپه کې ننګېږي - احساس کوي، چې د قرآن يوه ستره برخه د رسول الله (ص) د ځانګړنو، دندو، ستونزو او له دوست، دښمن کوشنې، غټې، ښځمنو، نارينه وو، مؤمن، کافر او منافق سره د چلن په باب راغلي دي؛ نو پخپله ووايئ داسې يو انسان، چې دومره کمالونه اومعجزې لري، نه پېژندل يې بې برخې پاتېدل نه دي؟! ايا بې له قرآنه بل شفا ورکونکی ښوونځی راغلی دی ؟! تر حق روسته، بې له بې لارۍ بله لاره شته ؟!

## د رسول الله ساده خوی

د پاک نبي ژوند ساده و او په ژوند کې يې دروند لګښت نه درلود او سره له دې چې پخپله کوشنۍ اراده يې کړای شول د دنيا ټولې زېرمې په خپل واک کې کړي؛ خو قناعت او سادګي يې جامه او کړنلار کړې وه.

امام محمد باقر وايي: يوه پرښته د الله استازي (ص) ته راغله او ورته يې وويل: محمده! الله درباندې سلام وايي او وايي: ((که غواړې د مکې سيمه به درته له سرو زرو ډکه کړم.))

پاک نبي (ص) سراسمان ته پورته کړ، و يې ويل:

((خدايه! زه پردې حال ښه او خوښ يم، چې يوه ورځ په نس موړ شم او شکر دې وباسم او بله ورځ وږی پاتې شم او له تا يې وغواړم.))

هغه مبارک پر ځمکه يوازې پر پوزې کېناسته. تر سر لاندې يې د څرمنې بالښت ايښوده، چې د کجورو له پاڼو ډک شوی و.

ډېری يې خواړه روټه او کجورې وې او د الله د استازي په ژوند کې داسې ورځ را نه غله، چې درې ورځې پرلپسې د غنمو ډوډۍ وخوري. روژه يې په کجورو ماتوله او که کجورې نه وې؛ نو په اوبو يې ماتوله. کوم خواړه يې چې خوښ نه وو؛ نو د هغه خوړو بده يې هم نه ويله.

حضرت عايشه بي بي وايي: ((کله به مياشت ووته خو زموږ له نغري به لوږی پورته نه شو)).

پر خپله سورلۍ بې کتې سپرېده او بل يې هم په ځان پسې سپراوه.

حضرت علي (ک) وايي: ((د الله استازي د دنيا په لږ تر لږه نعمتونو او خوړو قناعت کاوه او پر دنيا يې زړه نه بايله او تل يې نس تش و. خوراک څښاک يې لږ و او ساده جامې يې اغوستې،

که څه د دنيا له ټولو نعمتونو د خوند اخستو وړانديز هم ورته شوی و خو د داسې وړانديز له منلو يې ځان ساته؛ ځکه پوهېده، څه چې الله لوېدلي او خوار گڼي، هغه يې هم بايد خوار او لوېدلي وگڼي. دنيا يې نه وه خوښه او په دنيا پسې يې زړه نه خوړ.))

يوه ورځ پاک نبي پر پوزي ويده و، چې پر بدن يې تغمې جوړې شوې، چې په دې وخت کې پرې د يو صحابي زړه وسوځېد او اجازه يې وغوښته، چې يو څه پر پوزي هوار کړي؛ خو ورته يې وويل: زه له دنيا سره څه کار لرم ؟ زما او د دنيا حال هغه ته ورته دی، چې يوې مودې ته د يوې ونې تر سيوري لاندې دمه کوي او تر څو شېبو روسته پاڅي او خپله لار وهي. [1]

د "بني نضير" او "بني قريظه" تر جگړو روسته، چې د يهودو زېرمې رسول الله ته په لاس ورغلې نو د الله د استازي د مېرمنو په زړونو کې د اشرافي ژوند خبره راغله او د زر او زيورو غوښتنه يې وکړه. پاک نبي يې دا خبره و نه منله، تردې چې وحې راغله او دې کيسې ته يې د پای ټکی کېښود.

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحاً جَمِيلاً [2]= پېغمبره! خپلو مېرمنو ته دې ووايه: ((که تاسې د دنيا ژوند او ښايست يې غواړئ؛ نو راشئ، چې گټه (=ښه څورې) درکړم او په ښه وضعيت مو خوشې کړم)) او له دې لارې يې ورته په سپينه وويل، چې په دنيا کې يوازې عفت او رزق بسيا درته دی، د دنيا پړک او پړوک او رسول الله د مېرمنېدو اوبه په يوه وياله کې نه ځي ؛ البته څرگنده ده، چې د هغه مبارک نظر دا نه و، چې امت رهبانيت او دنيا پرېښوونې ته وهڅوي او هېڅکله يې پخپله هم داسې و نه کړل؛ بلکې مراد يې دا و، چې امتيان يې ځانونه پر دنيا له زړه بايللو او تش منځو-پوچو توکيزو موخو ځان وژغوري او يوازې هومره له مادياتو گټه واخلي، چې د دنيا او اخرت د نېکمرغۍ او عالي مانيزو-معنوي موخو لپاره يې بسېږي.

نبوي حديث دی: ((په اند مې په تاسې کې ترټولو نېکمرغه هغه دی، چې متعلقات يې لږ او لمونځ کوونکی وي او د اړتيا هومره پر روزۍ قناعت وکړي، تردې چې خپل الله ته ورسي او د خپل الله عبادت په ښه توگه وکړي. [3]))

---

[1] (الطبقات الكبری ۴۶۷/۱)

[2] (احزاب/۲۸)

[3] (نهج الفصاحه؛ ۱۱۴ مخ)

نبوي حديث دی: ((په دنيا کې زهد د هيلو لنډول، د نعمتونو شکر او له هغه څخه ځان ژغورل، چې الله حرام کړي دي.[1]))

پاک نبي د ساده ژوند عملي زده کړه خپلې کورنۍ او يارانو ته هم ورکړې وه. يوه ورځ يې حضرت سلمان (رض) د لور کور ته ورغی او ويې ليدل، چې بي بي فاطمې يو پيوندي پړونی پر سر کړی دی.

حضرت سلمان (رض) هېښنده او خپه شو او له ځان سره يې وويل: ولې بايد داسې وي ؟مگر هغه د عربو د ښاغلي او د مسلمانانو د مشر لور او د الله د استازي د تره د زوی کوروداني نه ده؟

(حضرت سلمان (رض) حق درلود؛ ځکه هغه خو د "ايران" د دربار د شاهزادگانو مزې چړچې ليدلې وې.) بياچې فاطمه بي بي د خپل پلار ليدو ته ورغله نو ورته يې وويل: پلار جانه! سلمان مې پيوندي پړوني حيران کړ. پر الله چې پينځه کاله دي، چې زه د علي په کور کې ژوند کوم او يوازې د پسه يو پوټکی لرو، چې د ورځې پرې خپلو اوښانو ته واښه اچوو او د شپې پرې پخپله سملو.

د الله د استازي لور پر لږ تر لږه قناعت کاوه او په ژوند کې يې پر ځان سخته تېروله، د کور ټول کارونه جارو، مېچنه او د کوشنيانو ساتنه يې په خپله کوله پر يو لاس يې مېچنه کوله او پر بل يې کوشنی ويده کاوه. په لاندې کيسه کې د رسول الله مبارک زهد ته پام وکړئ:

د الله د استازي عادت و، له هر سفره، چې راستېښنده؛ نو د هر څه له مخې به د خپلې لور کره تله او پر احوال يې ځان پوهاوه. يوه ورځ همداچې له سفره راستون شو؛ نو فاطمې بي بي بنگړي، غاړکۍ او پرده اخستې وه. پاک نبي دا ځل د يوې شېبې لپاره هم په کور کې يې پاتې نه شو او نېغ جومات ته ولاړ. فاطمه بي بي د خپل پلار پر تندي پوه شوه او سملاسي يې د چا په لاس پرده، غاړه کۍ او بنگړي خپل پلار ته ولېږل او ورته يې پېغام ور واستو، چې لور دې وايي: ((دا هر څه وپلوره او د اسلام په لار کې يې ولگوه. رسول الله په خوشحالۍ وويل: څه چې ورته په کار وو، هماغسې يې وکړل، دنيا د محمد او آل لپاره يې نه ده[2].))

---

[1] (تحف العقول؛ ۵۷ مخ)

[2] (بحار۴۳ / ۲۰)

پامورړ خو داده، چې د الله د استازي زهد د ژوند په سختو ورځو او د هجرت پر لسم کال، چې اسلام د نړۍ ستر ځواک و، یو شان و او د هغه په لاس روزل شویو هم د هغه په څېر ژوند کاوه.
د مدائن والي هماغه د الله د استازي د وخت "سلمان" و او بیخي بدل نه شو، چې د ژوند ټوله کډه یې یوه گنډه وه، چې چېرې تله، په اسانه یې وړای شوه.
د رسول الله ساده جومات، چې د کجورې له لسو لرگیو جوړ او حضرت بلال (رض) یې مؤذن و، ټوله نړۍ ولړزوله؛ خو نن د مدینې جومات د مرمرو د ډبرو د سل گونوستنو په درلودو، یو هېواد هم نه خوځوي؛ نو دلته به بده نه وي، چې د نن نړۍ ته یو نظر وکړو، چې ووینوایا پرمختگ کوو، که مخ پر ځوړې یو او ایا بې د الله او رسول له لارې، د خلاصون بله لار هم شته؟ نن لوبې جدي شوي او جدي چارې لوبې شوي. د سوکالۍ وسایلو پرمختگ کړی خو امنیت پر شاتگ کړی. کتابونه ډېر شوي؛ خو د مطالعې حوصله لږه شوې ده. منارې لوړې او ډېرې شوي؛ خو حضرت بلال نشته. تجملات، اصل شوي او معنویات فرع شوي دي. درآمد مو زیات شوی؛ خو هوساینه کمه شوې ده. پوهې وده کړې؛ خوعاطفه راپرېوتې ده. د مینې اظهار زیات شوی؛ خو روح یې کم شوی. لوړ پوړي تعمیرونه ډېر شوي؛ خو صبر لږ شوی. واټونه پراخ شوي؛ خو نظرونه تنگ شوي دي. مقامونه اوچت شوي؛ خو د ژوند ارزښت کم شوي. زده کړې لوړې شوي؛ خو ننگېرنې- احساسات کم شوي. اخستنه مو ډېره شوې؛ خو زېرمه کمه شوې. زده کوو، چې څنگه درآمد مو زیات شي؛ خو ژونددود نه لرو.
کورونه ستر شوي؛ خو کورنۍ وړوکې شوي. د ژوند کلونه اوږده شوي؛ خو د ژوند حقیقت لږ شوی. شعار ډېر شوی؛ خو مینه لږه شوې. وزلې ډېر شوي؛ خو وخت لږ شوی. پوهه ډېره شوې؛ خو د ورمندون- قضاوت ځواک لږ شوی. مهارت زیات شوی؛ خو د ژوند ستونزې هم زیاتې شوي.
درملونه ډېر شوي؛ خو پایله یې روغتیا نه ده. سپوږمۍ ته خېژو خو د گاونډي خبر نه اخلو. له ځمکې بهر فضا مو سوبه کړه خو د کور له فضا بې خبره یو. درآمد مو زیات خوبېلتون هم زیات شوی دی. هوساینه ډېره ده؛ خوخندا لږه. خواړه ډول ډول دي؛ خو ځواک نه لري، کورونه ښایسته خو سست دي.

**زړه سواند لوراند**

۱ـيوه ورځ رسول الله (ص) حضرت علي (ک) ته دولس درهم ورکړل، ورته يې وويل: ((جامې پرې راته واخله!)) حضرت علي (ک) بازار ته ولاړ او پرهماغه بيه يې رسول الله (ص) ته جامې واخستې او رسول الله (ص) ته يې راوړې. رسول الله (ص) وويل: ((که ترديې ارزانه او ساده جامې وې؛ نو غوره به وې؛ نو که پلورنکی يې مني نو دا جامې بېرته ورکړه)). حضرت علي (ک) جامې پلورونکي ته ورکړې اوپيسې يې ترې واخستې او رسول الله (ص) ته راغی. رسول الله (ص) له حضرت علي (ک) سره د بازار پر لوري روان شول، چې په لار کې يې يوه وينځه په ژړا وليده، ورغلل او د ژړا لامل يې ترې وپوښت. و يې ويل: د سودا اخستنې لپاره راته څلور درهم راکړل شوي ول؛ خو رانه ورک شول او اوس وېرېږم، چې کور ته ولاړه شم. رسول الله (ص) له خپلو دولسو درهمو څلور يې وينځې ته ورکړل او ورپسې بازار ته ولاړل او خپل ځان ته يې پر پاتې درهمو کميس واخست د راستنېدو پرمهال يې يو بر بنډ وليد، کميس يې ور وبښه، بيا بازار ته ولاړ اوبل کميس يې واخست. کور ته د راستنېدو پرمهال يې بيا هماغه وينځه خپه وليده، و يې ويل: کور ته په تلو کې مې ځنډ کړی دی اووېرېږم، چې ومې وهي، رسول الله (ص) له وينځې سره يې د بادار کور ته ولاړ، د کور خاوند هم د رسول الله (ص) په راتگ ډېر خوشحاله شو او پر همدې وياړ يې وينځه وبښله او آزاده يې کړه. رسول الله (ص) وويل: ((څومره له برکته ډک دولس درهم ول، چې دوه بربنډ يې پټ کړل او يو تن يې آزاد هم کړ.)) [1].

۲ـ يو يهودي پر رسول الله (ص) څو درهمه پور درلود. يوه ورځ يې ترې وغوښتل؛ خو رسول الله (ص) د ورکړې لپاره څه نه درلودل، يهودي وويل: همدلته به له ما سره يې، څو خپل پور مې راکړې. ماسپښين شو، ورپسې مازيگر شو، بيا ماښام شو، چې ماسخوتن راورسېد او يهودي هماغسې رسول الله (ص) نيولی و. خلک د يهودي دې کار غوسه کړل؛ خو رسول الله وويل: ((مونږ د تېري حق نه لرو)). د رسول الله (ص) دا چلن ددې لامل شو، چې يهودی مسلمان شي او د خپل مال يوه ستره برخه هم د اسلام په لار کې ورکړي، و يې ويل: زما دې کار ازمېښتي اړخ درلود، د سپکاوي نيت مې نه درلود. که څوک د يوې ټولنې سمونې او بدلولو ته

[1]. (بحارالانوار۱۶/۲۱۵)

زړه سوی لري او د زړه رڼا ونه لري؛ نو ناشونې ده، ټولنې ته رڼا راوړي، چې د الهي انبياو يوه ځانګړنه هم د ټولنې د سمونې لپاره د زړه سواندي ده.
الله خپل استازی داسې ستايلی دی:
((لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَاعَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ [1] = ((په رښتيا پخپله له همدا تاسې يو استازی درغلی، چې ځورونې مو پرې سختې پرېوځي (او) پر لارښوونې مو ټينګارکوي، پر مؤمنانو خواخوږی (او) زړه سواندی دی.))
په بل ځای کې وايي: ((لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ أَلاَّ يَكُونُوا مُؤْمِنِين [2] = ((ښايي ته له دې لامله چې (مشرکان) ايمان نه راوړي، خپل ځان (له ډېره غمه) بايلې.))
((طه. مَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى [3] = ((طاها. موږ قرآن ستا د کړولو لپاره پر تا نازل کړی نه دی.))
هو ګرانو! ديني زړه سواندي، د انبياوو عليه السلام او الهي اولياوو ځانګړنه ده، چې د هر چا لپاره پکار ده، چې وکړای شي ټولنه بدله کړي ؛ البته دا زړه سواندي بايد د اخلاص له مخې وي نه دوکانداری لپاره، د رسول الله (ص) هر لاروی بايد ووينې، چې کار په کوم ځای کې ځنډېدلی او له هماغې ځايه ورته متې بډ وهي او سرته يې ورسوي، مهم نه دی، چې دا کار څنګه دی، مهم دا دی، چې يو ښه کار دوام ومومي اوسر ته ورسول شي. د رسول الله (ص) يوه ځانګړنه د تکلف نه درلودل دي، چې الله خپل استازي ته وايي: ((قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ [4] =(پېغمبره!) ووايه: ((زه له تاسې پردې [قرآن او رسالت] ځان ته هېڅ بدله نه غواړم او نه زه له متکلفينو، رياکارانو او له ځانه جوړونکيو يم. (خبرې مې څرګندې او پر دليل ولاړې دي).))
۳ـ د رسول الله (ص) تر بعثت مخکې پر خلکو د ژوند تنګسه راغله، چې سوکړه هم ورپسې راغله اوخلک وارخطا شول، چې پکې د رسول الله (ص) تره ابوطالب هم و، رسول الله (ص) خپل تره عباس ته وويل: ولاړ شو او هر يو له ابوطالبه يې يو زوی خپل کورته راوړو او له دې لارې به يې د ژوند د لګښت لاسنيوی وکړو، چې دا هوډ عملي شو او عباس، جعفر له ځان

---

[1] (توبه/۱۲۸)
[2] (شعراء /۳)
[3] (طه/۱ /۲)
[4] (ص / ۸٦)

سره کور ته بوته او رسول الله (ص) حضرت علي (ک) له ځان سره کور ته بوته او له هماغې وړکتوبه د رسول الله (ص) په کور کې مېشت شو.
٤ – ډېرى مشران د خطر پرمهال لومړى خپل ځان ژغوري او خلک او خپل لارويان په ستونزه کې پرېږدي؛ خو رسول الله (ص) په خپله په مکه کې پاتې شو او خپلو لارويانو ته يې حبشې ته دهجرت حکم وکړ، چې مدينې ته د هجرت پرمهال يې هم لومړى خلک ولېږل او بيا پخپله ولاړ.

**له خلکو سره سلامشوره**

په هغو چاور کې، چې د الله له لوري يې حکم نه و راغلى نو رسول الله (ص) به له خلکو سره سلامشوره کوله او ان په ځينو ځايونو کې به يې د خلکو نظر ته پر خپل نظر لومړيت ورکاوه او د هغوى نظر به يې پلي کاوه. د احد په غزا کې يې يوه شورا جوړه کړه، چې د جګړې لپاره په مدينه کې سنګر ونيسي که له مدينې بهر ووځي. په خپله د رسول الله (ص) او ځينې نورو نظر دا و، چې په مدينه کې پاتې شو خو د رسول الله ډېرى ځوانانو يارانو بهر ته تلو ته لېواله وو، ويل يې: رسول الله (ص)! موږ دې امر منو خو نظر دې رانه وغوښت او زموږ نظر داسې دى، چې بايد د جګړې لپاره ووځو.
دلته رسول الله (ص) د ځوانو لېوالو مؤمنو نظر ته د نورو او ان په خپل نظر لومړيت ورکړ، وسلوال شو او د جګړې ډګر ته ولاړ. په زړه پورې خو داده، چې د ((وشاورهم فى الامر))[1] حکم په احد کې تر ماتې خوړو روسته راغى او سره له دې چې د اصحابو په خبره د عمل په پار مسلمانانو د احد په جګړه کې ماتې وخوړه خو الله بيا هم حکم ورکوي، چې بيا هم ورسره مشوره وکړه.[2]؛ البته نهايي هوډنيونه د مشر په غاړه ده؛ ځکه قرآن د همدې آيت په پاى کې رسول الله ته وايي: ((فاذا عزمت فتوكل على الله)) چې کله دې هوډ وکړ، پر الله توکل وکړه او خپل کار دې پيل کړه.[3]

---

[1]. آل عمران/١٥٩؛ تفسير نمونه ١٤٢/٣.

[2]. د استاد مطهري د سيره نبوي مقالات.

[3]. فروغ ابديت ٤٤٣/٢-٤٩٥؛ تفسير نمونه د آل عمران تر ١٥٩ آيت لاندې.

## له يارانو سره اوږه پر اوږه

رسول الله (ص) له خپلو يارانو سره په يوه سفر وتلی و، چې د خوړو چمتو کولو پرمهال يې هر يوه يار يوه دنده پر غاړه واخسته او رسول الله (ص) هم د خسو او خاشاکو راټولو دنده پر غاړه واخسته او څومره يې، چې اصحابو کرامو له دې کاره مخنيوی کول غوښتل خو ورسره يې و نه منله.

په بل ځای کې رسول الله (ص) له اوښه راکوز شو او د تړلو لپاره يې يو ګوټ ته ولاړ اصحاب راغلل، چې اوښ ترې واخلي او و يې تړي؛ خو رسول الله (ص) وويل: کوښښ وکړئ خپل کار مو د نورو پر اوږو وا نه چوئ.

## د رسول الله پتمني

حضرت عمار ياسر (رض) وايي: تر بعثته مخکې ما او حضرت محمد (ص) يو ځای شپونولي کوله. يوه ورځ مې ورته وړانديز وکړ، چې پلانی سيمه مېږو څرولو ته ښه څرځی دی او راځه، چې سبا هلته ورشو. حضرت محمد (ص) ومنله. زه سبا هلته ولاړم او و مې ليدل، چې رسول الله (ص) تر ما مخکې رارسېدلی دی؛ خو خپلې مېږې له څرېده ژغوري، و مې پوښت: ولې دې مېږې له څرېدو ژغورې؟ و يې ويل: ؛ څکه ژمنه مې درسره وه، چې يو ځای به يې پيلوو او و مې نه غوښتل، چې مېږې مې ستا تر مېږو مخکې له دې څرځي ګټنه وکړي.

## د رسول الله (ص) رښتينولي

د رسول الله (ص) يو زوی ابراهيم نومېده، چې په کوشنيتوب کې ومړ او تر مړينې روسته يې لمر تندر ونيو، خلکو ګومان وکړ، چې د لمر تندر نيونه د ابراهيم د مړينې په پار ده؛ خو رسول الله (ص) بې ځنډه خلک راټول کړل، و يې ويل: د لمر تندر نيونه مې د زوی د مړينې په پار نه ده.

هغه په خپل دې چار خلک له ناپوهی خرافو او بې ځايه مينې وژغورل حال دا که بل هر سياستوال وای نو د خلکو له دې ګروهې به يې د خپل ځان د اوڅارولولپاره ګټنه کوله.

**مخکښ مبارز**
د احزاب په جګړه کې، چې ټولو اسلامي ضد ځواکونو دسیسه جوړه کړې وه، چې د اسلام پرخلاف کودتاه وکړه؛ نو رسول الله (ص) د دفاع هوډ وکړ؛ نو له اصحابو کرامو سره په سلامشوره یې د مدینې په شاو خوا کې د خندق=کندې د ایستو هوډ وکړ او دلته هم رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ړومبی تن و، چې د کندې په کنلو یې لاس پورې کړ او سره له دې چې ځینې مسلمانان به بې د رسول الله له اجازې له کاره تلل خو رسول الله (ص) د کار تر پایه و او د کندې په ایستو بوخت و.

**د رسول الله (ص) تدبیر**
له ستونزو سره د مخېدو پرمهال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د نوون، طرح او رښتینولۍ خاوند و، په تاریخ کې راغلي: عربي ټبرونو لاسونه یو کړل، چې کعبه له سره جوړه کړي؛ خو همداچې د حجر الاسود تیږې ایښوولو وار راغی؛ نو هر ټبر پر بل ټبر ځان لومړی ګاڼه، چې د کعبې په دیوال کې د تورې تیږې د ایښوولو ویاړ یې د ټبر په برخه شي، چې په دې اړه خبرې ترخې شوې او د لاس و ګرېوانېدو امکان شو.
یوه وویل: د شخړې پرځای به صبر وکړو او څوک چې لومړی مسجدالحرام ته راننووت نو هغه به مو په منځ کې قضاوت او منځګړتوب وکړي. و یې لیدل، چې حضرت محمد (ص) راننووت او هغه یې خپل منځګړی کړ. رسول الله (ص) حکم وکړ، چې یو ټوکر راوړئ او حجر الاسود یې پکې کېښود او هر ټبر یې یوه څنډه ونیوه او د کعبې څنګ ته یې راوسته او بیا حضرت محمد (ص) په خپلو مبارکو لاسونو حجرالاسود په خپل ځای کې کېښوده او دې شخړې ته یې د پای ټکی کېښود.

**د رسول الله (ص) پرېکندتوب**
ځینې آنحضرت (ص) ته راغلل، چې ایمان دربانديې راوړو خو په دې شرط، چې د بوتانو عبادت به کوو او لمونځ به نه کوو خو رسول الله (ص) ورسره و نه منله؛ ځکه چمتو نه و، چې د ښوونځي یوه برخه یې زیانمنه شي که څه د لارویانو د نه ډېرېدو په تاوان یې هم وي او دا نور دي، چې هره ورځ د خپلو پلویانو د زیاتولو لپاره خپله کړلار، کړچار، نوم او بڼه بدلوي او د سوداګرو په څېر د مشتري په پیدا کولو پسې دي.

رسول الله (ص) به کفارو ته ويل: ((لکم دينکم ولی دين))[1]ستاسې دين دې تاسې ته وي او زما دين دې ما ته وي. حال دا بې له انبياوو عليه السلام نور په خپل دين کې دومره ثابت قدمه نه دي، د دښمنانو پر لار ځي او کله دښمن ته لېوالتيا پيدا کوي او د سازش او نرمش لاره خپلوي.
د انبياوو عليه السلام دښمنان تل غواړي، چې پېغمبران او لارويان يې سازشته راکاږي قرآن کريم مسلمانان له دې نقشې خبروي.

## رسول الله (ص) او کورنۍ چارې

الله تعالی د تحريم سورت په لومړي آيت کې وايي:
((يا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ =پېغمبره! ولې د خپلو مېرمنو دخوښۍ لپاره د الله حلال شوي څيزونه (پر ځان) حراموې؟! او الله ډېر بښونکی (او) لورين دی.))
داچې رسول الله ډېرې مېرمنې درلودې؛ نو کله ناکله به د عمومي خوښۍ لپاره له ځينو وګړيزو حقونو تېرېده. هو!د نورو له خوښۍ سره مينه د انسان د ګېرېدو لاملېږي؛ نو کله قرآن په سخته رسول الله (ص) ته وايي، چې ولې دې داسې او هغسې وکړل، چې خلکو ته ووايي، چې وګړيزې چارې بايد د ټولو لپاره بېلگه نشي او ان رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم حق نه لري د الله حلال، حرام کړي او د الله خوښي د ټولو پر خوښۍ لومړيت لري. هو! په هره بيه د مېرمنې خوښي په کار نه ده او همداراز له دې ګواښنې څرګندېږي، چې قرآن د الله له لوري دی؛ ځکه انسان کله هم په خپل کتاب کې د تاريخ په ترڅ کې ټولو کهولونو ته ځان د يوې وړې مسلې په پار نه رټي.
ته وا رسول الله (ص) قسم کړی و، چې له ځينو حلالو ډډه وکړي او داچې په اسلام کې ډپ نشته؛ نو الله د کفارې په وړانديز لار پرانسته، چې ښوونځی او حلالې چارې زيانمنې نشي (قد فرض الله لکم تحلة ايمانکم).
رسول الله (ص) ته چې دنده ورکول کېږي، چې د کورنۍ د خوښې په پار دې حلال پر ځان نه حراموي دا دنده هم له رټنې سره يو ځای ده، چې ولې دې د الله حلال پر ځان حرام کړي

---

[1]. کافرون/٦

دي ؟ او هم له مينې سره [د آيت په پيل کې (يا ايها النبی) راغلی او په (والله غفور الرحيم) پای ته رسي. ]

د الله پېرزو داسې ده، چې هم تېر جبرانوي (غفور رحيم) او هم راتلونکي ته لار پرانځي، وايي: "قسم چې دې کړی، چې له حلالو ګټنه و نه کړې، د کفارې په ورکولو يې مات کړه. "د کفارې په ورکولو د وګړي د قسم ماتول د ټول تاريخ لپاره د الهي قانون تر ماتولو غوره دی.

د تحريم په سورت کې څو آيتونه يو د بل ترڅنګ راغلي او داچې له خورا زده کړو ډک دي؛ نو په لنډو ورته اشاره وکړو: کيسه داسې ده:

رسول الله (ص) ځينې خبرې خپلې يوې مېرمنې ته امانت کړې وې ورته يې ويلي وو، چې چاته به يې نه کوې خو په خواشينۍ، چې و يې کړې. الله رسول الله (ص) خبر کړ، چې مېرمن دې امانت ساتي نه ده کړې او خبره يې خپره کړې ده. رسول الله (ص)، چې د وحې له ليارې خبر شوی و نو د خپلې مېرمنې د خبرلوڅۍ يوه برخه يې وويله او د خبرلوڅۍ بله برخه يې ورته و نه ويله. مېرمن يې وويل: له کومه پوه شوې، چې ما دې خبره بربنډه او خپره کړې ده ؟ رسول الله وويل: پوه او آګاه الله خبر کړی يم. [1]

((وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىَ بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَن بَعْضٍ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنبَأَكَ هَذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ[2]= او (درياد کړه) چې کله پېغمبر خپلې يوې مېرمنې [= بي بي حفصې] ته پټه خبره وکړه؛ نو هغې، بله [=بي بي عائشه] پرې خبره کړه او الله [خپل استازی] پر [راز لوڅولو] خبر کړ [پېغمبر] د [راز] يوه برخه همدې مېرمنې ته ښکاره کړه او له بلې برخې تېر شو؛ نو چې همدا مېرمن يې د راز له برسېرولو خبره کړه [ نو] هغې وويل: ((ته چا خبر کړې؟!)) و يې ويل: ((پوه [او] خبر (الله) پرې خبر کړم!))

د هغې خبر بربنډول او خپرول، چې له انسان سره امانت وي، ستره ګناه او د فکري از زړيز کړلارۍ نښه ده؛ نوځکه الله د هغه راز بربنډونکې او اورېدونکې، چې د مفسرينو د وينا له مخې ام المؤمنين حفصه او ام المؤمنين عايشه وه، وايي:

((إِن تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا وَإِن تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلَاهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذَلِكَ ظَهِيرٌ[3] = که تاسې دواړه (د پېغمبر مېرمنې له خپل کاره) توبه

---

[1]. تحريم /٣

[2] (تحريم/٣)

[3] (تحريم/٤)

وباسئ (ستاسې په ګټه ده ځکه په دې چار کې د الله او د هغه د پېغمبر له اطاعته) مو زړونه کاږه شوي دي او که دواړه د پېغمبر پرخلاف لاس يو کړئ (نو زيان وررسولای نشئ) ځکه الله يې پخپله مرستندوی دی او تر هغه روسته يې جبرائيل او د مؤمنانو صالح[1] او پرښتې ملاتړې دي.))

له دې پېښې، چې د تحريم د سورت په دريم او څلورم آيتونو کې راغلې دي د رسول الله د کورنيو چارو په باب ترې د يو لړ ټکيو لپاره ګټنه کېږي، چې مونږ يې په اوډون رااخلو:

۱-مېرمن بايد همخواله وي، چې مېړه يې وکولای شي يو لړ رازونه ورته ووايي. (اسرا النبی)

۲-د کورنيو ټولو غړيو ته د ټولو خبرو ويل اړين نه دي. (الی بعض ازواجه)

۳-د خلکو پټ وساتئ او نوم يې مه اخلئ. (بعض ازواجه)

٤-د رسول الله (ص) مېرمنې معصومې نه وې؛ ځکه د آنحضرت راز يې بربنډ کړ او د توبې کولو حکم ورته راغی. (نبات)

۵- رسول الله (ص) هم په کورنيو چارو کې راګير و. (نبات به)

٦-الله پر خپل استازي ځانګړې پېروز لري او د هغوی دسيسې به لنډې او شنډې کړي، چې استازي ته ايستل شوې دي. (اظهره الله عليه)

۷-د ټولنې مشر بايد له خپلو کورنيو چارو هم خبر ووسي. (اظهره الله)

۸-تېروتنې يې په خپله وګړيو ته وواست نه نورو ته. (عرف بعضه)

۹-په سمبالنه او مديريت کې تغافل او د سينې پراخوالی په کار دی. رسول الله (ص) ټولې بربنډې شوې خبرې خپلې مېرمنې ته و نه کړې (او له ځينو چارو يې ډډه او تغافل وکړ او ځينې بربنډې شوې خبرې يې ورته وکړې) (و اعرض عن بعض)

۱۰-هغه چې راز بربنډوي؛ نو شونې ده، خپل راز يې هم بربنډ شي. (نبات... نبانی...)

۱۱-د پېغمبرانو د پوهې سرچينه د الله پوهه ده. (نبانی العليم الخبير)

۱۲-خبر ورکوونکی بايد خبير او عالم وي. (نبانی العليم الخبير)

۱۳-د الله په علم او شتون ايمان کولای شي انسان له هر ډول ګناه او دسيسې وژغوري.

١٤-د يوې تېروتنې په پار ټولې تر پوښتنې لاندې مه راوړئ يوازې د راز بربنډوونکې او اورېدنکې دې توبه وکړي. (تتوبا)

---

[1]. له شيعه او اهلسنتو په دوه پنځوس حديثونو کې رانقل شوي، چې له "صالح المؤمنين " نه مراد حضرت علي ابن ابيطالب دی.

۱۵- پښېمانه وګړيو ته د توبې لار پرانځئ. (تتوبا)
۱٦-د راز اورېدل هم ګناه ده، الله د راز بربنډونکې او اورېدونکې ته وايي: که دواړه توبه وکړئ. (و ان تتوبا)
۱۷-کله يو عمل يا يوه پېښه يا يو څرک د يو بهير ښکارندوی دی (د يو راز بربنډول جزيي خبره وه خو الله هغه د يوې دسيسې ښکارندوی وګڼله)وايي: "که دواړه د پېغمبر پرخلاف لاس يو کړئ " (و ان تظاهرا عليه)
۱۸-ناسته پاسته او د چا مېرمنتوب او يا د چا مېړتوب يې د همدلۍ او هم اندۍ نښه نه ده په دې کيسه کې د رسول الله (ص) مېرمنې وې خو ګډاندې يې نه وې.
۱۹-چاچې راز بربنډ کړ او توبه يې و نه کړه؛ نو دسيسه ګر دی. (تتوبا... تظاهرا عليه)
۲۰-انديزې او زړيزه کړلاري د عملي کړلارۍ سريزه ده. (صغت قلوبکما) (هو! د ژبې تر تېروتو مهم انديزه کړلاري ده)
۲۱- د رسول الله او ښوونځي پرخلاف يې د دسيسو پرخلاف بايد ټول ځواکونه تيارشئ شي. (هو مولاه و جبرئيل و صالح المؤمنين و الملائکة)
۲۲-د سترو نوم ستر کړئ (سره له دې چې جبرائيل پرښته ده؛ خو نوم يې بېل اخستل شوی دی) (و جبرئيل... والملائکة)
۲۳-الله هم د ټولو مولا دی او هم په خپله د رسول الله مولا دی [ د تحريم د سورت په دويم آيت کې وايي: (هو مولاه) ]
۲٤-حق هيڅکله ځان ته نه پاتېږي او له هر لوري پلويان مومي. (هو مولاه و جبرئيل و صالح المؤمنين و الملائکة)
۲۵-صالحتوب انسان د الهي مقربو پرښتو تر څنګ راوړي. (هو مولاه و جبرئيل و صالح المؤمنين و الملائکة)
۲٦-پرښتې د واقعي مؤمنانو ملګرې دي. (والملائکة بعد ذلک ظهير)
۲۷-الهي مرستې هم ظاهري او هم د انسانانو له لوري دي. (صالح المؤمنين) او هم غيبي او د پرښتو له لوري دي (والملائکة)

## د رسول الله (ص) مېرمنوالي

سره له دې چې د رسول الله ډېرې مېرمنې پوخ منګې، پلارمړي درلودنکې، کونډې او د بېلابېلو اخلاقو او خويونو څښتنې وې خو؛ لکه څنګه چې قرآن سپارښتنه کړې ده: (عاشروهن

بالمعروف)[1] د رسول الله (ص) چلن ورسره نېک او طبيعي و او كله ناكله به چې كومې بدخويي كوله او ان د رسول الله اصحاب به يې له دې چلنه خپه كېدل؛ نو ويل يې: رسول الله (ص)! پرېږده يې. رسول الله به ويل: د مېرمنو بدخويي يې بايد د مثبتو ټكيو او كمالاتو ترڅنګ راوړل شي او انسان دې د بدخويۍ په پار خپله مېرمن نه پرېږدي.

رسول الله (ص) وايي: له موږ څخه نه دی، چې شتمني ولري؛ خو پر خپله مېرمن او اولاد سخت وي.[2]

رسول الله به حضرت خديجې ته د وفادارۍ او درناوي په پار ان تر مړينې روسته يې هم د هغو ښځمنو درناوی کاوه، چې له حضرت خديجې سره ملګرې وې.

رسول الله وايي: زه مې له کورنۍ سره تر ټولو غوره چلېږم.[3]

آنحضرت به له خپلو مېرمنو سره داسې په عدالت چلېده، چې ان د رنځ پرمهال به يې هم خپله بستره د هغې مېرمنې خونې ته وړه، چې وار به يې و.

ام المؤمنين عايشه بي بي وايي: رسول الله (ص) به چې له كوره واته نو د خديجې ستاينه يې كوله، ور ته مې وويل: الله ترې غوره درکړې ده هغه خو يوه بوډۍ وه. رسول الله (ص) وويل: پر الله چې داسې نه ده، هېڅوک به راته خديجه نشي، هغه مهال چې ټول كافر وو، هغې ځانته راباندې ايمان راووړ او په پخپله شتمنۍ يې زما ملاتړ وكړ او الله ترې اولاد راكړ.

رسول الله (ص) به چې حلاله وکړه؛ نو د خديجې ملګرو ته يې غوښه لېږله.

حضرت خديجه هغه مېرمن وه، چې په خپله يې حضرت محمد (ص) ته د واده وړانديز وركړ او د مهر درونوالی يې د رسول الله له اوږو پورته كړ او نورو مركو ته يې منفي ځواب وركړ.

هو!؛ لكه څنګه چې الله خپل پيغمبر ته امر كوي، چې د ابراهيم نوم ياد كړه (اذكر فى الكتاب ابراهيم) د مريم نوم ژوندی وساته. (اذكر فى الكتاب مريم) د الهي اولياوو د نوم په ژوندي ساتلو کې په ښځه او سړي کې توپير نشته او موږ هم بايد د ام المؤمنين خديجې بي بي نوم هېر نه كړو.

ويلو ته يې اړتيا نشته چې د رسول الله (ص) ټولې مېرمنې په يوه كچه نه وې؛ ځكه الله يې ځينو ته ويلي دي: ((كه تاسې دواړه (د پيغمبر مېرمنې له خپل كاره) توبه وباسئ (پر ګټه مو ده

---

[1]. نساء/۱۹

[2]. مستدرک الوسائل ٦٤٣/٢

[3]. وسائل ١٢٢/١٤.

ځکه په دې چار کې د الله او د هغه د پېغمبر له اطاعته) مو زړونه کاږه شوي دي او که دواړه د پېغمبر پرخلاف لاس یو کړئ (نو زیان ورته نشئ رسولای) ځکه الله یې پخپله مرستندوی دی او تر هغه روسته یې جبرائیل او د مؤمنانو صالح او پرښتې ملاتړې دي.)) نو څرګندېږي، چې په هغوی کې ځینو ځینې تېروتنې هم درلودې او په بل ځای کې وایي: الله په تاسې کې ښو ته مو اجر ټاکلی دی (اعد المحسنات منکن اجرا عظیما) نو څرګندېږي، چې د رسول الله (ص) ټولې مېرمنې په یوه کچه نه وې.
هو!؛ لکه څنګه چې ټول پېغمبران هم په یوه کچه نه وو (فضلنا بعض نبیین علی بعض)؛ یعنې ځینو انبیاوو علیه السلام ته مو پر ځینو غوراوی ورکړ. ان تر ټولو غوره پېغمبر هم بایدله ځانه د پوهې او معنویت د لوړې درجې په هڅه او فکر کې وي؛ ځکه د انسان وده او پرمختګ محدودیت نه لري، الله خپل استازي ته وايي: له پالونکي دې وغواړه، چې پوهه دې ډېره کړي.

## پر کوشنیانو لورنه

یو نوزیږی یې دعا که نوم ایښوونې ته رسول الله (ص) ته راوست. نوزیږي پر آنحضرت متیازې وکړې، د نوزیږي موروپلار سخت خپه شو خو رسول الله (ص) وویل: پرېږ یې دئ، جامې به مې ووینځم خو پر کوشنی مو غوسه کېدل لاملېږي، چې دا بې ګناه و ډار شي.
* رسول الله (ص) به پر کوشنیانو سلام اچوه.
* د کوشنیانو او کوشنیانو نوم به یې په درناوي اخسته.
* په تېره د نجونو په باب یې خورا سپارښتنې کولې او په ښوونځي کې یې ښځمنو ته په درنه سترګه کتل یو ستایل شوی چار دی. په قرآن کریم کې راغلي: د نجونو زوکړه یې د پلرونو د غوسه کېدو لاملېده، چې له غوسې یې رنګ اوښته.
((وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ = او چې یوه تن ته یې د لور (د زیږېدو) زېری وشي؛ نو مخ یې (له ډېر خپګانه) تک تور اوړي او (خپلې ښځې ته) له غوسې ډک وي (چې ولې دې لور راوړه!).))[1]

---

[1]. نحل /۵۸. ی

نو په داسې يو چاپېريال کې د کوشني او په تېره د نجونې درناوی خورا د درناوي وړ دی. هو! هغه مهال چې د لور درلودل شرم و، رسول الله وايي: غوره اولاد مو لونې دي او د يوې ښځې د نېکمرغۍ او نېکگامۍ نښه داده، چې لومړی اولاد يې نجلۍ وي.[1]

د رسول الله (ص) يو يار ورسره ناست و، چې خبر يې کړ: مېرمنې دې لور زېږولې ده؛ نو خپه شو. رسول الله (ص) چې دا ننداره وکته، و يې ويل: ځمکه يې ځای او اسمان يې څېرگی دی او روزي يې هم پر الله ده؛ نو ولې خپه يې ؟ نجلۍ د يو خوږبويه گل په څېر ده، چې بويوې يې.[2]

يو سړي د رسول الله په مخ کې وويل: ما هېڅکله خپل کوشنی ښکل کړی نه دی. رسول الله وويل: دا دې د سختۍ زړۍ نښه ده

د کوشنيانو ترمنځ پر عدالت چلن يې خورا سپارښتنه کوله، ويل يې: که يو دې د بل په مخ کې ښکل کړ؛ نو هغه بل به هم ښکلوې.

د "موته" تر جگړې روسته د حضرت جعفر طيار (رض) زامن يې پر سورلۍ له ځان سره سواره کړي وو، د اسلامي ځواکونو ښه راغلاست ته ورغی. جومات ته ولاړ او پر ممبر کېناست او د حضرت جعفر طيار (رض) زامن د ممبر پر پاتکيو وو، د جعفر (رض) په ستاينه کې يې وينا وکړه او بيا د هغه زامن يې پر زنگانه کېنول او د مينې لاس يې ورته پر سر راکښوده.[3]

امام صادق (رح) وايي: رسول الله (ص) د ماسپښين د لمانځه روستي رکعتونه بې له مستحباتو ژر وکړل. خلکو وپوښت: رسول الله (ص) څه شوي دي ؟ و يې ويل: د کوشنی د ژړا غږ مو وا نه ورېد.[4]

يوه ورځ رسول الله (ص) خپله يوه سجده؛ خورا اوږده کړه. تر لمانځه روسته ځينو وويل: رسول الله (ص)! گومان مو وکړ، چې وحې راغلې ده. آنحضرت (ص) وويل: نه! زوی مې حسن په سجده کې پر اوږو مې سپور و نو صبر مې وکړ، چې کوز شي.

---

[1]. مستدرک الوسائل ۲/۶۱۴-۶۱۵

[2]. وسائل الشيعه ۱۵/۱۰۱

[3]. د حلبي سيرت ۳/۶۸.

[4]. کافي ۶/۴۸

امام حسن او امام حسين به چې رسول الله (ص) ته راغلل؛ نو آنحضرت له ځايه ورپاڅېده، په غيږ کې يې راخستل او پر اوږو يې سپرول.[1]

## د رسول الله (ص) يو علمي کرامت

پخوانيو ستور پوهانو د محاسبو له مخې، د مدينې جغرافيايي عرض ۲۵ درجې، طول يې، ۷۵ درجې طول البلد او ۲۰ دقيقې دی.

د دې محاسبې له مخې، هغه قبلې، چې په مدينه کې استخراجېدې، د رسول الله (ص) له محراب (چې اوس هماغسې پاتې دی) سره يې سمون نه خوړ، چې دې اختلاف ځينې فني کارپوهان حيران کړي وو خو په دې روستيو کې مشهور عالم "سردار کابلي" په ننيو محاسباتو وښوده، چې د مدينې عرض ۲٤ درجې او ۷۵ دقيقې دی او طول يې ۳۹ درجې او ۵۹ دقيقې دی.[2]

ددې محاسباتو پايله دا شوه: د مدينې قبله بېخي په جنوب کې ده، چې يوازې ٤۵ دقيقې د جنوب له ټکي کږه ده، چې دا استخراج کټ مټ د رسول الله (ص) له محراب سره سمون لري او دا په خپله علمي کرامت دی، چې رسول الله (ص) د لمانځه په حال کې داسې د "مسجدالحرام" پر لور وګرځول شو، چې ان کوچنی کږوالی پکې رانغی.[3]

## د رسول الله (ص) مېلمه پالنه

حضرت سلمان (رض) وايي: د رسول الله (ص) کور ته ولاړم خپل بالښت يې زما شاته کېښود او په زړه پورې خو داچې دا چلن يې له هر مېلمه سره کاوه. رسول الله تر خپلو مېلمنو لاندې روجايي اچوله او د خوړو پرمهال تر هغه پر خوړو بوخت و، چې مېلمه له دسترخوانه لاس نه و اخستی.[4]

---

[1]. اخلاق نبوي او هغه هم له بحارالانوار ۲۸۵/٤۳ څخه اخستی دی.

[2]. تحفه الاجله فی معرفه القلبه / ۷۱، ۱۳۱۹ کال

[3]. صدوق، من لا مفيد، ۱/ ۸۸ او ابواب قبله، ۳/ ۲۱۸

[4]. سنن النبي ۵۳ او ٦۷ مخونه.

يوه ورځ د رسول الله (ص) يوه رضاعي خور او رضاعي رور بېل بېل ورغلل خو رسول الله (ص) د خپلې رضاعي خور ډېر درناوی وکړ ځينو ترې ددې توپير د دليل پوښتنه وکړه، و يې ويل: ؛ ځکه دې خور مې د خپل مورو پلار ښه درناوی؛ نو ما يې هم ښه درناوی وکړ.[1]
کله به تر خوړو روسته مېلمانه نه تلل او په کور کې به يې ناست وو او بنډار به يې کاوه؛ خو د الله استازي به زغمل، چې آيت راغی، چې د رسول الله مېلمانه شوئ؛ نو تر خوړو روسته خواره شئ؛ ځکه ناسته مو د رسول الله (ص) له نورو ټولنيزو او وگړيزو چارو مخنيوی کوي او د هغه د کړاوو لاملېږئ.
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلاَّ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلاَ مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ وَاللَّهُ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلاَ أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا =مؤمنانو! د پېغمبر کورونو ته مه ننوځئ خو داچې خوراك ته وبلل شئ خو (تر وعدې مخکې مه ځئ، چې) د خوړو په تمه کېنئ خو چې کله وبلل شوئ، ننوځئ او چې خواړه مو وخوړل؛ نو خواره شئ او (تر خوړو روسته) پر خبرو مه بوختېږئ، په واقع کې ستاسې دا کار پېغمبر ربړوي؛ خو له تاسې شرمېږي (او څه نه وايي) خو الله د حق (له ويلو) نه شرمېږي او چې کله ترې (= د پېغمبر له ښځو) کوم څيز غواړئ؛ نو د پردې تر شا يې وغواړئ، چې دا کار ستاسې او د هغوی د زړونو د سپېڅلتيا او پاکۍ لپاره غوره دی او تاسې حق نه لرئ، چې "رسول الله (ص)" وځوروئ او په مطلق ډول او د تل لپاره (نه ښايي) چې (تر مړينې) روسته يې له مېرمنو سره نکاح وکړئ ځکه دا کار د الله په نزد ستره (گناه) ده.))[2]

## رسول الله (ص) او پاکوالی

د الله نازولي حضرت محمد مصطفی (ص) له کوشنيتوبه له پاکوالي سره ځانگړې مينه درلوده او د سيره ليکونکيو د وينا له مخې آنحضرت (ص) د نورو کوشنيانو په پرتله خپل وېښتان

---

[1]. بحارالانوار ۲۸۱/۱۶

[2]. احزاب /۵۳.

ږومنځول او مخ يې پاک و، چې دا پاکوالی يې د ټولو د خولې متل ګرځېدلی و. وېښتان يې د "سدر" په پاڼو وينځل او د "بنفشه" په غوړيو يې غوړول.
عادت يې و، چې هندارې ته مخامخ ودرېږي او خپل وېښتان ږومنځ کړي او کله يې دا کار اوبو ته مخامخ کاوه[1]
امام صادق (رح) وايي: يوه ورځ يو سړی د الله د استازي د کور مخې ته راغی او د ننووتو غوښتنه يې وکړه؛ نو رسول الله مبارک د خپل عادت له مخې هندارې ته ودرېد او وېښتان يې سم کړل؛ نو دامهال حضرت عايشې، پاک نبي ته وويل: د آدم په اولاده کې تر ټولو وړ، غوره او د نړۍ د پالونکي استازی يې او بيا هم هندارې ته درېږې او وېښتان ږومنځوې ؟
رسول الله (ص) وويل: عايشې! الله پرې خوشحالېږي، چې بنده د رور ليدو ته پاک ورشي[2].
پاک نبي نه يوازې په خپله پاک و؛ بلکې هر وخت يې ياران هم پاکۍ ته رابلل او د پاک وسېدنې روزنه يې ورکوله، يوه ورځ يې يو سړی وليد، چې جړه پړه او اوږده ږيره يې درلوده؛ نو و يې ويل: ((څه تاوان به يې کړی و که ږيره يې سمه کړې وای.))
هغه سړي، چې د رسول الله مبارک خبره واورېده ولاړ او خپله ږيره يې سمه کړه او بيا د الله استازي ته راغی، چې پاک نبي يې دا کار وستايه او ورته يې وويل: تردې روسته له همداسې ږيرې سره ګرځه.
د الله تعالی استازي پاکوالي ته دومره ارزښت ورکاوه، چې پر سفر وته؛ نو ږومنځه، رانجه، بېتي، هنداره او مسواک يې له ځان سره وړه. هغه مبار ک د جامو پر پاکوالي هم خورا ټينګار کاوه او ويل يې: چاچې جامې واغوستې نو په کار دی، چې تل يې پاکې وساتي.
نبوي حديث دی: ((په جامو کې مو تر سپينو يوه هم غوره نه ده سپينې جامې واغوندئ.))
ښکاره خبره ده، چې د سپينو جامو يوه ځانګړنه داده، چې ژر ږته کېږي او اغوستونکی اړباسي، چې پاکې يې کړي.
پاک نبي د خپل کور د پاکوالي هم خورا خيال ساته، ساده؛ خو ډېر پاک و، ويل يې: ((د کور د وره مخه پاکه ساتئ او د يهودانو په څېر يې چټله مه ساتئ)).
ـد اوبو پر لوښي د سر له نه اېښوولو او په کور کې د غنو د جالو له پرېښوولو يې خلک منع کول، ويل يې: د کور ګند مو هره ورځ بهر وباسئ او مه پرېږدئ، چې شپه پرې تېره شي.

---

[1] (مکارم الاخلاق ١/١٣٥_١٣٧)
[2] (مکارم الاخلاق ١٨٣/١)

سپارښتنه يې کوله، چې اوبه مه چټلوئ او په نهرونو کې مه لامبئ او همداسې ويل يې: د نهرونو تر څنگ او هلته، چې د خلکو تگ راتگ وي، اودسماتي ته مه کېنئ.

د الله د استازي ويناوې دي:

اسلام پاک دی؛ نو تاسې هم پاک وسئ، چې يوازې پاکان دي، چې جنت ته به ځي. پاکوالی نيم ايمان دی، الله له چټلی کرکه کوي، پاکوالی نيم ايمان دی او ايمان دی، چې جنت ته دې بوځي. پاکوالی د لمونځ د قبلېدو کونجي ده. د دين بنسټ پر پاکوالي دی.

رسول الله (ص) پاکوالي ته خورا ارزښت ورکاوه. کله به يې خپل مسواک تر غوړو شاته ايښوده، چې ژر يې رواخستای شي.

يوه ورځ يې وليدل، چې د جومات په يوه گوټ کې توکاڼې پرتې دي؛ نو ژر يې پر يوه ټوکر پاکې کړې.

په دوبي کې يې جامې په يوه ديگ کې خوټولې.

د هر مرغه غوښه يې نه خوړه؛ بلکې د هغه مرغه غوښه به يې خوړه، چې په خپله يې دانه ورکړې وي.

وېښتان يې ږومنځول او تل يې عطر کارول.

**رسول الله (ص) او ځوانان**

۱- د "زيد بن حارثه" په نامه يو ځوان و، چې په يو يرغل کې اسير او لاس په لاس شو، چې په پای کې رسول الله ته راورسېد. هغه شتمن پلار درلود او د خپل زوی د بيا اخستو لپاره رسول الله (ص) ته راغی، و يې ويل: دا زما زوی دی، بېرته يې راکړه او فديه يې واخله.

رسول الله (ص) وويل: واک يې په خپل لاس کې دی، که غواړي ستون شي؛ نو زه يې بې فديې درکوم. زيد هلته ولاړ و او دا خبرې يې واورېدې، و يې ويل: زه نه ستنېږم. رسول الله (ص) هم، چې له اسلام سره د زيد مينه او پتمني وکته نو د کعبې تر څنگ يې خلکو ته وويل: هغه مې خپل زوی ويلی کړ او خپله د عمه لور يې، چې يوه ازاده مېرمن وه ورنکاح کړه. په دې حرکت رسول الله (ص) دوه جاهلي دودونه مات کړل. يو داچې اجازه يې ورکړه، چې مريی زوی شي او دويم داچې اجازه يې ورکړه، چې ازاده ښځه هغه هم د خپلې عمه لور يې د يو مريي مېرمن شي. (هو! د رسول الله (ص) په ټولو چارو کې يو ډول حکمت ليدل کېږي)

۲- رسول الله (ص) د خپل ژوند په روستيو ورځو کې د "اسامه"(رض) په نامه يو ۱۸ کلن ځوان سرلښکر کړ او ټولو مشرانو ته يې حکم وکړ، چې له حکمه يې لاروي وکړي، و يې ويل: د الله لعنت دې پر هغوی وي، چې د اسامه له لښکره سرغړونه کوي.
۳- رسول الله په مدينه د "مصعب"(رض)په نامه يو ځوان د اسلام د تبليغ مسوول کړ. هغه يو ښکلی ځوان او له شتمنې کورنۍ ځنې و، چې په مکه کې يې له خپلې کورنۍ پټ ايمان راوړی و. مورو پلار يې ترې ټول شونتياوې ان جامې واخستې له ځانه يې يو ټوکر راتاو کړ او ځان يې رسول الله (ص) ته راورساوه او خپله پتمني يې ورته جوته کړه او د احد په جگړه کې شهيد شو.
٤- د علي بن ابيطالب (رض) يې خورا درناوی کاوه، چې ۳۰ کاله تر رسول الله (ص)ه کوشنی و.
۵-جعفر طيار (رض) د حضرت علي (ک) رور، چې په افريقا کې د اسلام بنسټگر شو.
٦-د الله د استازي په ارزونه کې عمر اوځار نه و. د اسلام پيغمبر علي خپل ځان گاڼه.

**د رسول الله (ص) نورې ځانگړنې**

د رسول الله (ص) ځينو مېرمنو، چې ترې وغوښتل، چې په لاس ته راغليو غنايمو کې برخه ورکړي او و يې ويل: تر څو به مو وضع دومره ساده وي ؟ رسول الله خپه شو و يې ويل: زما ژوند ساده دی که غواړئ ژوند راسره وکړئ، صبر وکړئ که نه چمتو يم طلاقې مو کړم.
يوه ورځ د خپلې لور فاطمې کور ته ولاړ، و يې ليدل، چې بنگړی يې په لاس کړی او نوې پرده يې راځوړنده کړې ده، رسول الله (ص) بې له څه ويلو ووت. فاطمة الزهرا يې په تندي پوه شوه او ژر يې خپل بنگړی پيغمبر اکر م ته ولېږه او پيغام يې ورواستاوه، چې څنگه دې خوښه وي، هغسې يې ولگوه.
رسول الله (ص) د چا په مخ کې خپلې جامې نه ايستې.
د چا په مخ کې يې پښې نه غځولې.
په ورين تندي يې خبرې کولې او ټولو ته يې پام و.

کله به یې د مطلب د ښه پوهاوي لپاره درې ځل وایه.[1] ان کوشنیانو او ښځمنو ته به یې غېږ او ځواب په درناوي ورکاوه.[2]
د رنځورانو پوښتنه یې کوله او ډاډ یې ورکاوه.[3]
د کوره د وتو پرمهال یې ځان سینګاراوه.[4]
نېکچاریو ته یې انعام ورکاوه یوه ورځ یې یو سړی پر لمانځه ولید، چې په له مانا ډکو غونډلو له الله سره راز و نیاز کوي. و یې ویل: لمونځ یې چې پای ته ورسېد؛ نو ما ته یې راوړئ. چې راغی؛ نو آنحضرت د سرو زرو یوه سیکه ورکړه و یې ویل: ((وهبت لک الذهب لحسن ثنائک علی الله))[5] داچې ښه حال دې درلود او ښه دې الله ستایه نو دا سیکه درډالۍ کوم.
تر خوړو او څښاک مخکې یې "بسم الله" ویله او روسته یې ترې "الحمد الله" ویله.[6]
ناسته پاسته یې د الله له ذکر سره وه.
یوه ورځ یې یو کارګر ولید، چې د ډېر کار له لامله یې لاسونه تناکې شوي وو؛ نو د هغه لاس یې ښکل کړ.[7]
د هغو وګړیو به یې ډېر درناوی کاوه، چې خلکو به یې درناوی کاوه او کله به یې د چارو واګې هماغې وګړي ته ورسپارلې.
د بدو چاریو او نېکچاریو پر وړاندې بې توپیره نه و؛ بلکې هم هڅاندی و او هم نیوکه کونکی.
د خلکو له ښیون او ښیون سره یې دومره مینه درلوده، چې زړه به یې سوځېده، چې آیت راغی، چې قرآن مو دې لپاره درلېږلی نه دی، چې ځان وکړوې (ما انزلنا علیک القرآن لتشقی).
په غونډه کې به یې له بېل بېل وګړي سره داسې بنډار کاوه، چې هر چا به ننګېرل، چې تر ټولو پېغمبر ته نږدې یم.
کله به ترې ځینو یارانو غوښتل، چې خپلو دښمنانوته دې ښېراوې وکړي؛ خو آنحضرت به ورته ښېراوې نه کولې او تل یې دعا دا وه، چې خدایه دا خلک ښیون کړې.

---

[1]. اخلاق نبوي، ۲۵ مخ.
[2]. سنن النبي، ۵۳ مخ.
[3]. مکارم الاخلاق، ۳۵۹ مخ.
[4]. سنن النبي، ٤۲ مخ.
[5]. حیاة الحیوان ۶۳/۲
[6] بحار ۳۳۵/۱۵
[7]. سیره نبوي، مصطفی دلشاد، چې هغه هم له "العمل و حقوق العامل فی الاسلام ۳۰۵ مخه اخستی دی.

تر شوني بريده يې سوالگر ته منفي ځواب نه ورکاوه ان يوه ورځ يوې ښځې خپل زوی رسول الله (ص) ته راولېږه و يې ويل: آنحضرت (ص) ته ووايه، چې خپل کميس دې راکړي او آنحضرت (ص) هم ورکړ خو آيت راغی: ((لا تبسطها کل البسط))[1] حق نه لرې څه چې لرې، د الله په لار کې يې انفاق کړې.
په غونډو کې گرد کېناسته.
د قانون په پلي کولو کې يې په چا کې توپير نه کاوه.
رسول الله (ص) د اسيرانو او مريانو په باب خورا سپارښتنې کولې او له يوې اسيرې مېرمنې سره يې واده وکړ، چې په دې عمل يې د خلکو مينه اسيرانو ته راماته کړه او ډېرو مسلمانانو ډېری اسيران ازاد کړل.
د الله استازي به ويل: هماغه خواړه او جامې ورکړئ، چې په خپله هم ترې گټنه کوئ او په پتمنو ټکيو ورته نوم واخلئ، چې د پتمنۍ احساس وکړي او خپه نشي.
له شتمن او نشتمن سره يو شان چلېده. په خبرو اترو کې يې له شخړو او بې ځايه خبرو ډډه کوله او د خلکو په نيمگړتيا راسپړنې پسې نه و

**رسول الله (ص) د هر افراط و تفريط مخنيوی کاوه**

۱-وا يې ورېدل، چې يو سړي د اولاد په درلودو خپله ټوله شتمني وقف کړې ده او خپل اولاد ته يې ميراث پرېښی نه دی؛ نو خپه شو، و يې ويل: دا افراط کاري سمه نه ده.
۲- وا يې ورېدل، چې ځينو يارانو يې خوب، خوراک او کوروالی پرېښی دی او پر عبادتونو بوخت شوي، ټول يې راوغوښتل او ددې چار له لامله يې ورټل.
۳-وا يې ورېدل، چې يوه ښځه يې په جگړه کې اسيره کړې ده او تر اسارت روسته يې ورته د خپل مېړه مړی ښوولی دی، چې د ښځې زړه ښه وسوځوي؛ نو خورا خپه شو، و يې ويل: که څه د دښمن او کافر مېرمن ده او له موږ سره جگړې ته راغلې ده او زموږ کوټلې دښمنه ده؛ خو اوس چې اسيره شوې؛ نو موږ بايد په عدالت ورسره چلن وکړو او د مېړه د مړي په مخ کې يې تېرول له عدالته لرې چلن و.

[1]. طه/۲

# د رسول الله (ص) لمانځيز سيرت

د رسول الله (ص) بندګي او عبادت و، چې کمالاتو ته يې رسولی و.
معراج[1] ته؛ ځکه ولاړ، چې د الله بنده و. (اسری بعبده)
ځکه رسول شو، چې د الله بنده و. (و اشهد ان محمدا عبده و رسوله)
وحې ورته؛ ځکه راتله، چې د الله بنده و. (فاوحی الی عبدک)
په مزمل سورت کې ورته لومړي احکام دا وو، چې د شپې عبادت کوه. (نصفه اوانقض منه قليلا اوزاد)
په هماغه سورت کې ورته خطاب شوی، چې پېغمبره! ته د ورځې تګ راتګ او اوږدې هڅې لرې نو بايد د شپې عبادت وکړې او زړه ورپورې وتړې.
د اسراء سورت په ۷۹ آيت کې خپل استازي ته وايي: او د شپې يوه برخه ويښ وسه او تهجد او عبادت وکړه او دا اضافي دنده په تا پورې ځانګړې ده. (د شپې لمونځ پر نورو فرض نه دی) هيله ده، چې (د شپې د لمانځه له لامله) دې الله خوښ او محمود مقام ته ورسوي.

### د شپې لمونځ

د شپې د لمانځه لپاره خورا فضايل او ځانګړې سپارښتنې راغلي او سره له دې چې د ځينو چارو ثواب دوه ګرايه[2] يا څو ګرايه[3] يا لس ګرايه راغلی او تر ټولو ډېر ثواب د الله په لار کې انفاق او لګښت ته راغلی، تردې چې قرآن انفاق د ثواب او ودې لپاره وايي او د الله په لار کې انفاق د هغه تخم په څېر دی، چې وکرل شي او اووه وږي ترې راټوکېږي او په هر وږي کې سل دانې وي[4]؛ يعنې تر اوه سوه ګرايه يې ورته ثواب ويلی دی؛ خو همداچې د شپې د پاڅېدو خبره اوڅار شي؛ نو وايي: څوک يې له ثوابه خبر نه دي[5]؛ يعنې ثواب يې څو ګرايه او له اوو سوو ګرايه سره برابر دی.

---

[1]. د رسول الله د معراج په باب مو له الميزان تفسيره يوه وينه په بيل څېرکي کې راوړې ده.
[2]. په قرآن کې د ضعف ټکی د دوه ګرايه په مانا دی.
[3]. په قرآن کې د اضعاف ټکی د څو ګرايه په مانا دی.
[4]. (کمثل حبة انبتت سبع سنابل) بقره/۲۶۱
[5]. (فلا تعلم نفس ما اخفی لهم...) سجده /۱۷

په روايتونو کې راغلي، چې د شپې لمونځ د ورځې د ګناهونو د بښل کېدو، د رزق د زياتېدو، د بدن د روغتيا او د قبر د رڼا لامل دی.[1] د ورځې ګناهونه د شپې د لمانځه مخنيوی کوي.[2]
که څه په قرآن کې د فجر پر راختو، پر سهار، پر مازيګر، پر شپه او پر ورځ قسم ياد شوی دی؛ خو پر سهار درې ځل قسم ياد شوی دی. (و الليل اذا يسر[3])، (والليل اذا عسعس)[4] او (والليل اذ ادبر)[5]. (پر شپه قسم، چې مخ پر پای ته رسېدو ده، چې هماغه پر ګهيځ قسم دی)
هو! شپه او سهار د عبادت لپاره غوره وختونه دي او سره له دې چې حضرت موسی عليه السلام درې شپې ورځې د طور په غره کې و خو الله وايي: دېرش شپې (ثلاثين ليلة) او دا؛ ځکه چې په شپه کې عبادت ځانګړی ثواب او مقام لري.
قرآن رسول الله (ص) ته د شپې د لمانځه لپاره د پاڅېدو حکم ورکوي (قم الليل).
هو! مشر بايد خپل استراحت کم کړي او له تضرع سره په نښلون ځان د ورځې درنو مسووليتونو ته چمتو کړي؛ نوځکه رسول الله (ص) پرلپسې درې ځل حضرت علي(ک) ته د شپې د لمانځه سپارښته کوي:
((عليک بصلاة الليل، عليک بصلاة الليل، عليک بصلاة الليل.))[6]
په بل حديث کې راغلي، چې بې برخې هغه دی، چې د شپې له لمانځه بې برخې وي.[7]
په بل روايت کې راغلي، چې متعال الله حضرت موسی عليه السلام ته وايي: دورغ وايي هغه چې انګېري، چې له ماسره مينه کوي؛ خو د شپې له ما سره د خبرو پرځای ويده وي "[8] او په شپه کې دوه رکعته لمونځ الله ته تر هر څه غوره ده.[9]

---

[1]. سفينة البحار
[2]. بحارالانوار ١٤٥/٨٧.
[3] (فجر/٤)
[4]. تکوير /١٧
[5]. مدثر/٣٣
[6]. وسائل ٢٦٨/٥.
[7]. بحارالانوا ر ١٤٦/٨٧
[8]. اعلام الدين، ديلمي، ٢٦٣ مخ
[9]. علل الشرايع، ٣٦٣ مخ.

### د ناهواریو منځ ته ورو ته د رسول الله پام

د رسول الله ژوند، چې لولې نو ګورو چې د هغو توپیرونو او اړپېچونو منځه ته ورو ته یې ځانګړی پام و، چې سوکه سوکه د خلکو عادت شوي ول او په ((فَاسْتَبِقُواْ الْخَيْرَاتِ=په ښېګڼو کې سیالي وکړئ!)) پورې اړوند نه ول.

د بېلګې په توګه: په غونډه کې به ګرد کېناستل، چې غونډه لاندې باندې و نه لري او سپارښتنه او ټینګار یې کاوه، چې غونډې ته راننوځئ؛ نو په تش ځای کې کېنئ او ځان ته یو ځانګړی ځای مه ټاکئ او چې په خپله به غونډې ته راننووت نو اجازه یې نه ورکوله، چې څوک ورته له ځایه اوچت شي او که څوک به ورته له ځایه پاڅېد؛ نو ویل یې: کېنه! خوښ نه و پر سورلۍ سپور وي؛ خو تر څنګ یې پلی هم روان وي، پلی یې له ځان سره سپراوه. پر ځمکه کېناسته او پخپله یې اوزه لوشله.

## د نبوي سیرت ټولنیز اړخ

کېدای شي دا ټول اخلاقي تفسیر کړو او د رسول الله (ص) خاکساري یې وګڼو. اړنګ نشته چې پاک نبي تر ټولو خاکساره و او یوه شېبه هم له دې غافله نه و، چې د الله بنده دی او تل یې ځان د الله د ستر والي پر وړاندې کمزوری بنده ګاڼه نو څوک چې داسې وي؛ نو څومره به د الله پر بندګانو لورین او خاکسار وي. یوې مېرمنې یې وویل: ((ستا هر څه ښه دي؛ خو یو کار دې نیمګړی دی، چې د نورو بنګانو په څېر له ځان سره چلېږې او پر ځمکه کېنې.))

رسول الله (ص) وویل: ((کوم بنده تر ما ډېر بنده دی ای عبد اعبد منی))

څرګنده ده، چې د رسول الله خاکسار سیرت اخلاقي اړخ لري؛ خو شواهد ښیي، چې رسول الله ددې چلن ټولنیز اړخ ته هم متوجه و، دې ته یې هم پام و، چې که همدا درناوي، لقبونه، عنوانونه او دودونه، چې واړه ښکاري د و ګړیو ترمنځ څومره پېږ دېوالونه جوړوي او څومره د زړونو په لرېوالي کې اغېزمن دي.

رسول الله په یو سفر کې له خپلو اصحابو سره و، چې په یو کور کې تم شول د غرمې ډوډۍ ته د پسه د حلالولو وړاندیز وشو. یو صحابي وویل: د پسه حلالول پر ما. بل وویل: پوټکی ایستل یې پر ما. درېیم وویل: پخول یې پر ما. رسول الله وویل: له بېدیا د خسو راوړل پر ما. وویل شول: رسول الله (ص)! تاسې کېنئ موږ ته ویاړ دی، چې په چوپړ کې مو یو. رسول الله

(ص) وويل: پوهېږم، چې دا کار کوئ خو الله خوښ نه دی، چې خپل بنده په نورو بندگانو کې داسې ويني، چې ځان ته د نورو په پرتله پر امتياز قايل وي.
د رسول الله په سيرت کې داسې پېښې او کيسې ډېرې شته، چې هغه عادتونه يې له منځه وړي، چې په سر کې کوشني معلومېږي خو په واقع کې د بېځايه توپيرونو پيلامه وي. [1]

## د رسول الله (ص) وگړيز سيرت

الميزان تفسير[2] د رسول الله د سيرت په باب اوږده وينه لري، چې يو لړ مطالب مو ترې راخستي دي:
الهي نعمتونه به يې ډېر او ستر گڼل که څه لږ او واړه به وو او هېڅکله به يې نه رټل.
د دنيوي او توکيزو چارو په پار نه غوسه کېده.
که اشاره يې کوله؛ نو په ټول لاس يې کوله.
موسکا يې خندا وه او په خټ خټ يې نه خندل.
په غونډه کې تر ټولو په روستي ځای کې کېناسته (له خلکو به نه تېرېده، چې ځان مخکې ورسوي)
له خلکو سره يې داسې چلن کاوه، چې هر چا به خيال کاوه، چې تر ټولو نږدې وگړی ورته دی.
چاچې ترې کومه اړتيا وغوښته نو يا يې پوره ورکوله او يا يې په ورين تندي او پسته ژبه رخصتاوه.
د ټولو خلکو لپاره پلار و او حق ته د رسېدو لپاره ورته يو شان وو.
غونډه يې د حلم، حيا، رښتينولۍ او صداقت غونډه وه او له غونډې يې غږونه نه راپورته کېدل.
د بوډاگانو يې درناوی کاوه او پر کوچينانو لورين و.
اړمنو ته سربښندويه او د نشتمنو ساتونکی و.
تل يې تندی ورين و.
تاوتريخوالی، ناروا خبره، د خلکو نيمگړتيا راسپړل او بېځايه ستاينه پکې نه وه.

---

[1] (بيست گفتار / استاد مرتضی مطهري)
[2] (الميزان تفسير ٣٢١/٦)

که څه ته به يې ډېره نه لګېده؛ نو خبرې يې پکې نه راايستې.
څوک يې له ځانه نه نهيلاوه.
شخړې يې نه کولې او له چا سره يې خوله نه وهله.
څوک يې نه راټه.
يوازې د ثواب د خبرو لپاره ګړېده.
د خندا پرمهال يې له خلکو سره خندل او د خلکو په غم او ښادۍ کې شريک و.
که څوک ناشنا و او په کړنو او ويناوو کې يې له رسول الله (ص) سره جفا کوله؛ نو زغمه يې .
تر هغه يې د چا خبره نه پرېکوله، چې د حق له بريده به اوښتی نه و او همداچې څوک به د حق له بريده واوښوت يا يې منع کاوه او يا يې له غونډې پاڅېده.
ويل يې: له اخلاقي مکارمو او محاسنو سره مبعوث شوی يم.
د مريانو په څېر پر ځمکه کېناسته.
په خپلو لاسونو يې خپلې پڼې ګنډلې.
پر بې کټې خره سپرېده او بل يې هم په ځان پسې سپراوه.
کورنۍ ته يې ويل: انځوريزې پردې مې له مخې لرې کړئ!
د الله له وېرې يې ډېر ژړل.
ډېری به د الله پر ذکر بوخت و.
هره ورځ يې اويا ځل استغفار وايه.
تر ټولو سخي، رښتين، پتمن او نرم خويه و.
هر څه يې چې درلودل د الله په لار کې يې ورکول او يوازې د يوه کال د اړتيا هومره يې له ځان سره ساتل.
له نشتمنو سره کېناسته او له مسکينانو سره يې خواړه خوړل او فاضلو وګړيو ته ځانګړی پام و.
له چا سره يې جفا نه کوله او د ښېنه غوښتونکيو ښېنه يې منله.
په خوراک څښاک کې له خپلو مريانو سره يو شان و.
يوه شيبه يې هم چټې نه تېروله.
(د ستړيا پرمهال )د خپلو اصحابو ښونو ته ورتله.
نه يې څوک د نشتمنۍ له لامله راټه او نه يې د چا د شتمنۍ له لامله درناوی کاوه.
ژر نه غوسه کېده؛ خو ژر خوښېده.

موعظه یې جدي، غوسه یې الهي او د پېښو پرمهال یې له خدایه ښیون غوښته او هر څه یې الله ته ورسپارل او پر خپل ځواک یې ډډه نه وهله او ددې آیتونو ((و علی الله فلیتوکل المتوکلون))[1] ((افوض امری الی الله))[2] ((الا له الخلق و الامر))[3] او ((ان الی ربک المنتهی))[4] ځرګنده بېلګه و.

جامې یې په خپله پیوندولې، څاروي یې لوشل، له مریانو سره یې خواړه خوړل او د خپلې اړتیا سودا به یې په خپله په بازار کې اخسته، له شتمن او نشتمن سره یو شان چلېده او چې مقابل لوري خپل لاس راښکودی نه و نو رسول الله ترې خپل لاس نه راښکود.

پر ټولو یې سلام اچوه ویل یې، چې د عمر تر پایه به پر کوشنیانو سلام اچول پرېنږدم، چې تر ما روسته دا عادت پاتې شي.

په غونډه کې یې پښې نه غځولې.

د دوو چارو په ټاکنه کې یې ستونزمنه ځانته ټاکله.

د خوړو پرمهال یې ډډه نه وهله.

خطبه یې لنډه وه.

په خوږ بوی مشهور و.

په خپله مخه کې یې خواړه خوړل او د نورو مخې ته یې لاس نه ورغځاوه.

اوبه یې په درې ساه ګانو څښلې.

ټولو خلکو ته یې په یوه سترګه کتل او د خلکو د خوشحالۍ لپاره یې ټوکې هم کولې خو په ټوکو کې له حقه نه واته.

یوه ورځ یوه بېدیاني ورته ډالۍ راوړه او بیا یې له آنحضرته د ډالۍ د بیې غوښته وکړه، آنحضرت وخندل او چې آنحضرت خپه و نو ویل یې چې کاشکې هغه بېدیاني راشي.

مخ پر قبله کېناسته.

پر سورلۍ به چې سپور و نو اجازه یې نه ورکوله، چې څوک ورسره په څنګ روان وي یا یې له ځان سره سپاراوه او یا یې ویل: ته مخکې ولاړ شه او په پلانۍ سیمه کې به سره وینو.

---

[1]. ابراهیم /۱۲

[2]. مؤمن /٤٤

[3]. اعراف /٥٤

[4]. نجم /٤٢

هېڅکله يې له چا غچ وا نه خست؛ بلکې ښښنه يې کوله.
که درې ورځې به يې کوم يار و نه ليد نو د هغه پوښتنه يې کوله او که نه و او يا مسافر و نو دعا يې ورته کوله او که رنځور و نو پوښتنې ته يې ورتله او که روغ و نو ليدو ته يې ورتله.
حضرت انس (رض) وايي: نهه کاله د رسول الله (ص) خادم وم، ياد مې نه دي، چې ان يو ځل يې هم راته ويلي وي، چې داسې او هغسې وکړه او ان که مېرمنو به يې د کوم کار لپاره رټلم، رسول الله (ص) ويل، چې څه ورته مه واست او پرېږ يې دئ؛ ځکه داسې به مقدر شوي وو.
په درناوي يې د خلکو نوم اخسته (په کنيه او لقب) او له کوشنيانو سره يې هم داسې چلن درلود او له دې لارې به يې د هغوی زړونه لاس ته راوړل.
ډالۍ يې منله خو صدقه يې نه منله.
د لمر تر راختو روسته د کار لپاره له کوره واته.
ږېره او سر يې په سدرو وينځل.
برېتې او نوکان يې اخستل او ښخول.
رانجو، مسواک، پاکوالي، عطر، د بېځايه وېښتانو وهلو، نوره او عود وهلو ته يې ځانګړی ارزښت ورکاوه، تردې، چې د عطرو لګښت يې تر خوړو ډېر و او که د جمعې پر ورځ به يې عطر نه درلودل؛ نو د مېرمنې معطر پړونی يې نمناکاوه او پر سر يې موږوده، چې سر او ږېره يې خوږ بويه شي. د کمکي اختر پر ورځ يې لومړی پر خپلو مېرمنو عطر وهل او بيا پر ځان او په ځينو غوړيو يې بدن غوړاوه.
د سفر لپاره يې د پنجشنې (پينځه نۍ) ورځ ټاکله او سفر ته به يې هنداره، رانجه او مسواک له ځان سره وړل.
پر لار به طبيعي روان و او چې مخ پر ځوږ به شو؛ نو ((لا اله الا الله)) يې ويله او مخ پورته يې تکبير وايه او په هر سفر کې يې چې هر ځای د دمې لپاره ټاکه؛ نو هلته يې دوه رکعته لمونځ کاوه، ويل يې: چې د ځمکې دا ټوټه ځمکه مې پر لمانځه شاهده وي.
مؤمنانو ته يې د سفر پرمهال دا دعا کوله: الله مو تقوی ډېره کړه او الله مو خير مخې ته راوله، دين او دنيا مو روغه او روغ رمټ راستانه شئ.
سپينې او شنې جامې يې ښه ايسيدې.
د جمعې د ورځې لپاره يې ځانګړې جامې درلودې. پګړۍ يې پر سروله او ګوته يې پر ښي لاس کوله.

له ښي اړخه به يې جامې اغوستې او زړې جامې به يې مسکين ته ورکولې، ويل يې: څوک چې د الله لپاره مسکين ته خپلې جامې ورکړي؛ نو ترهغې چې مسکين له دې جامو ګټنه کوي؛ نو د الله په امن او امان کې به وي.
پر پوزي سملاسته، جامې يې له پومبې وې او په ځانګړيو ځايونو کې يې وړينې جامې هم اغوستې.
له خوبه تر پاڅېدو روسته به يې الله تعالی ته سجده کوله.
ويل يې: د سترګو رڼا مې په لمانځه او خوندونه مې په مېرمنو کې دي.
د خپل ځوځات (حسن او حسين) لپاره به د زوکړې پر اوومه ورځ عقيقه کوله او د کوشنيانو د وېښتانو د وزن هومره به يې مسکينانو ته سپين زر ورکول.
حضرت علي (ک) وايي: که څه حضرت عيسی عليه السلام زاهد و خو د اسلام پېغمبر تر هغه هم زاهد و.
ان د مريانو د مېلمستيا بلنه يې هم منله. په لاس يې خواړه خوړل. که پر دسترخوان به کجوره وه نو خواړه يې پرې پيلول.
د دوو کپونو ترمنځ يې د الله تعالی شکر کاوه.
تر خوړو روسته يې غاښونه خلالول.
تر اوبو څښلو مخکې يې "بسم الله ويله.
اوبه يې رولې، په يوه غړپ يې نه څښلې او په درې ساه ګانو يې څښلې.
اوبه يې نه پو کولې.
تر خوړو مخکې يې لاسونه ښه وينځل.
ډوډۍ يې روټه او حلوا يې له کجورو وه.
ګرم خواړه يې نه خوړل.
خربوزه او انګور يې خوړل.
له خلکو سره د کتنو له لامله يې پياز او هوږه نه خوړه.
يوازې يې خواړه نه خوړل او نور يې له ځان سره مېلمانه کول.
د غټ اختر پر ورځ يې دوه څاوري حلالول: يو يې ځانته او بل يې د امت هغه وګړيو ته چې د قربانۍ وسه يې نه درلوده.
د جنازې او مړي د ښخولو پرمهال خپه و، لږې خبرې يې کولې او هغه به يې هم له ځان سره کولې.

په ډېرو لږو اوبو يې اودس او غسل کاوه .
تل مسواک ورسره و.
د فرضو لمونځونو دوه ګرايه يې مستحبي لمونځونه کول.
د شپې لمانځه ته چې پاځېد، اسمان ته يې وکتل او د آل عمران سورت روستي آيتونه يې ويل.
په رمضان مياشت کې يې مستحبي لمونځونه ډېرول، ويل يې: نفل لمونځ په جمعه نه کېږي.
ځوک به چې ورسره ترڅنګ کېناست او کار به يې ورسره و نو رسول الله (ص) به خپل لمونځ لنډاوه، پوښتل به يې که څه کار راسره لرې، چې اجراات درته وکړم.
د رمضان مياشت په درېيمه لسيزه کې به په جومات کې معتکف شو او که په کوم رمضان کې به بريالی نه شو؛ نو په بل رمضان کې يې دوه ګرايه؛ يعنې شل ورځې اعتکاف کاوه او د رمضان په درېيمه لسيزه کې يې خپله بستره ټولوله او نه ويدېده.
د رمضان په مياشت به يې ټول بنديان يې ازاد کړل او ټولو سوالګرو او نشتمنو ته يې ډالۍ ورکولې
د رمضان پر درويشتمه (د قدر شپه) داچې خپله کورنۍ ويښه وساتي نو د هغوی پر مخونو به يې اوبه پخنکولې، ويل يې: بې برخې دی هغه چې ددې شپې له خيره بې برخې پاتې شي.

## رسول الله ځان عادي ښوده

الله دنده ورکړې وه، چې خلکو ته ووايي، چې له ما نه بې له هغه څه تمه و نه ساتئ، چې وحې راته کېږي:
۱- (انا بشر مثلکم) زه ستاسې په څېر يو بشر يم.[۱]
۲-زه ځانته ګټه او تاوان رسولای نشم خو څه چې الله وغواړي. (لا املک لنفسی ضرا و نفعا الا ما شاء الله)[۲].
۳- د قيامت د راتګ د وخت پوهه يوازې له الله سره ده او زه ترې خبر نه يم.[۳]
٤-نه پوهېږم، چې په راتلونکې کې څه راباندې راپېښېږي. (و ما ادری ما يفعل بی)[٤]

---

۱. کهف /۱۱۰
۲. يونس/٤۹
۳. اعراف /۱۸۷
٤ احقاف /۹

۵- الله خپل استازي ته د علمي ودې سپارښته ورکړې. (و قل رب زدني علما)[1] او د قرآن په ويلو کې بيړه و نه کړي (و لا تجعل بالقرآن)[2].
رسول الله له يوې خوا په مينه او د زړه له کومې د وحې اخستو او اورېدو پر تمه و او بلخوا داچې د آيتونو ټولګه يې د قدر پر شپه تر لاسه کړي وو، همداچې جبرائيل ورته سوکه سوکه آيتونه ويل؛ نو رسول الله ترې مخکې ويل، چې الله ورته سپارښتنه وکړه، چې مخکې له دې چې وحې درباندې پای ته رسېدلې نه وي، قرآن ويلو ته بيړه مه کوه او له خدايه وغواړه، چې پوهه مې ډېره کړه. [له بيړې ژغورنه د قيامت سورت په اتلسم آيت کې هم راغلې ده: (لا تحرک به لسانک لتعجل به)]
له دې سپارښتنې د څو ټکيو لپاره ګټنه کېږي:
۱-چې وخت يې رارسېدلی نه وي او بشپړېدو او څېړنې ته اړتيا وي؛ نو بيړه منع ده؛ خو هلته چې يو موضوع بشپړ څېړل شوې وي؛ نو دلته شاته کېدل منع دي؛ نو په قرآن کې مو ځينې آيتونه بيړې او مخکې کېدو ته رابولي[3] او ځينې آيتونه مو له بيړې ژغوري.
۲-پوهې ته نهايت نشته او فارغ التحصېدل مانا نه لري؛ ځکه د الله استازي ته دنده ورکول کېږي، چې له خدايه وغواړي، پوهه يې ډېره شي.
۳- حقيقي پوهه قرآن دی؛ ځکه په دې آيت کې لولو: د قرآن په لوستو کې بيړه مه کوه (لا تعجل بالقرآن)بيا وايي: (و قل رب زدنی علما) نو څرګندېږي، چې د قرآن د آيتونو سرچينه الهي پوهه ده.
٤-ډېری غوښتنه په کمالاتو کې ارزښت لري. هو! د مقام او مال په راټولونه کې حرص کړلی دی؛ خو پوهه، چې څومره ډېره وي، هومره ښه ده.
۵-د پوهې ډېروالی هغه مهال ارزښت لري، چې د انسان د ظرفيت له لوړېدو سره يو ځای وي. که د انسان ظرفيت محدود وي او پوهه يې ډېره شي؛ نو دا چار به يو لړ آفتونه ولري؛ نو قرآن وايي: ((زدنی علما))؛ يعنې له پوهې سره مې ستر کړه او نه وايي: ((زد علمی)) او د بشري ټولنو ډېری جنايتونه له دې لامله دي، چې پوهه د کم ظرفيتونو انسانانو په لاس کې ده.

[1]. طه/١١٤
[2]. طه/١١٤
[3] آل عمران /١٣٣؛ حديد/٢١.

# د رسول الله (ص) تبليغي سيرت

د شعراء سورت ۲۱٤ آيت (انذر عشيرتک الاقربين)، چې راغی؛ نو رسول الله (ص) خپلوانو ته مېلمستيا وکړه، خپلې خبرې يې پيل او هغوی يې له شرک او بوت نمانځنې منع کړل. [1]
هو! بلنه بايد رڼه، رښتينه او له خپلوانو سره له لورنې او عواطفو سره يو ځای وي؛ ځکه که خپلوان دې بلنه ومني؛ نو د نورو منلو ته به هم لار هوار ه شي.
دويم داچې انسان د نږدې خپلوانو پر وړاندې ډېر مسووليت لري.
درېيم داچې کورنۍ اړيکې بايد له بديو د ژغورنې پر لار خنډ نشي
د مېلمنو شمېرپه تاريخ کې پينځه څلوېښت تنه ليکل شوی، چې ابولهب په خپلو چټياتو د مېلمستا نظم له منځه يووړ او پيغمبراکرم اړ شو بله مېلمستيا چمتو کړي، چې رسول الله (ص) تر خوړو روسته بيا ورته خپل رسالت اعلان کړي، چې دې بلنې ته يوازې حضرت علي (ک) سينه وډبوله، بيا رسول الله (ص) يې په هکله وويل: ((دا زما رور، ځايناستی، وصي، خليفه او وزير دی، چې خبره يې واورېدل شي او ترې لاروي وشي. [2]))
رسول الله (ص) تر درې کالو پورې خلک په پټه او يو يو تن خپل سپېڅلي دين ته رابلل، چې د حجر سورت ۹٤ م آيت راغی و يې ويل: ((فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ= ((نو د هغه څه چې درته حکم کېږي، په ډاګه يې کړه او له مشرکانو مخ واړوه (او پروا يې مه کوه))
رسول الله (ص) د صفا غره په لمن کې د مسجد الحرام ترڅنګ خپل رسالت په ډاګه کړ، و يې ويل: که زما بلنه مو ومنله؛ نو د دنيا او آخرت حکومت او عزت به ستاسې وي؛ خو هغوی پرې ملنډې ووهلې او د رسول الله (ص) تره ته يې ګيله وکړه چې وارره دې زموږ ځوانان له خپلې ګروهې اړوي؛ نو ورته ووايه که له دې چارو دې مطلب مال، مقام او شتمني وي، چې در به يې کړو، چې بيا رسول الله خپل تره ته وويل: ((زما خبرې الهي پېغام دی او زه به کله هم له خپلې دندې لاس وانخلم.))

---

[1]. د مجمع البيان تفسير
[2] (امالي شيخ طوسي/۵۸۱ مخ)

تردې روسته کفار بيا ابوطالب ته ورغلل و يې ويل، وراره دې محمد راوسواره، چې په خپله ورسره پوه شوه[1] خو ابوطالب ورسره و نه منله [2].

الله خپل پيغمبر پر ملا وډباوه، چې د ملنډې وهونکيوپر وړاندې به درسره يو، چې چرت خراب نه کړې. رسول الله (ص) به خلک توحيد ته رابلل او گروهن ول، چې که په لومړي گام کې بريالي نه شول؛ نو خير دی موږ به خپل کوښښ کوو او له خپل کوښښه به لاس نه اخلو او چې مو له لاسه کېږي بايد د مقابل لوري د سمو گروهنو درناوی وکړو، چې د تبليغ يو پړاو هم گډ ټکيو ته رابلنه ده او قرآن د بلنې لپاره گډ چورليځ کېدای شي؛ ځکه هم پکې تاريخ راغلی او هم پکې د تېر پيغمبرانو سپارښتنې او تر ټولوغوره خو داچې له اړونې خوندي دی؛ نو د همدې خبرې پر بنسټ رسول الله (ص) ته دنده ورکول کېږي، چې دا لاندېنی آيت د کتابيانو رابلنې ته گډ ټکی اعلان کړي.

((قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِنْ دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ[3]= ورته ووايه: کتابيانو!راځئ زموږ او ستاسې ترمنځ په منل شوې خبرې پسې ولاړ شو: او هغه داچې يوازې ((الله)) ونمانځوو او هېڅ څيز ورسره سيال ونه گڼو او له موږ دې هېڅوک د ((الله)) پرځای څوك پر ربوبيت نه نيسي نو که (له دې وړانديزه) يې مخ واړاوه، ورته ووايئ: ((شاهدان وسئ، چې موږ خو مسلمانان يو (نه تاسې).))

د يثرب دوه مشران مکې ته راغلل او له رسول الله سره يې وکتل، چې رسول الله (ص) ورته د انفال سورت ۱۵۱ او۱۵۲ م آيتونه ولوستل، چې دوی پرې ايمان راووړ او د يثرب د خلکو لپاره يې د استازي او مبلغ غوښتنه وکړه. رسول الله د حضرت "مصعب بن عمير"(رض) په مشرۍ يوه ډله ورولېږله، چې دا کار په يثرب کې د اسلام پيل و.

که ددې دوو آيتونو پر منځپانگې رڼا واچو؛ نو پوه به شو، چې په پيل کې د اسلام د تبليغ کړنلار د کلياتو بيانول وو، چې هم يې له عقل، فطرت او روغ وجدان سره سمون درلود او هم رانه او بامفهومه دي او هم د اسماني اديانو گډ ټکي ول.

[1] (شرح نهج البلاغه ١٤ / ٥٤)

[2] (تفسير کنزالدقايق)

[3] (آل عمران/٦۴)

څکه د تورات په ۳۰ م باب کې د همدې دوو آيتونو منځپانګه راغلې ده. هو زړګيه! د هرې بلنې په پيل کې بايد ساده مسائل وويل شي، چې هر عقل او وجدان يې وزغملای شي؛ نو اوس به راشو، چې د انفال د سورت ددې دوو آيتونو منځپانګه څه ده ؟
له شرک، انسان وژنې، اولاد وژنې، ډنډۍ وهنې، د غير عادلانه وينا، بې حيايي، د پلارمړي(يتيم) پرمال له ګېډې اچولو ځان ژغورل، له والدينو سره احسان، پر تړون وفا او تر خپلې وسې د دندې سرته رسول يې منځپانګه ده.
نن خلک په دغسې پلان جوړولو کې دوکتورا اخلي نو څومره به ښه وي، چې د قرآن دسترخوان ته کېنو او وينو، چې الله پر کوم کال د خلکو د ودې لپاره څومره ښه حکم ورکړی دی.
د بېلګې په توګه: په روايتونو کې کوشنی بايد تر کوم وخت پورې پرېښوول شي او تر درې کالو روسته کوم ټکی لومړی وروښوول شي او تر يوې مودې تېرېدو روسته دويم کوم ټکی ورزده کړو او همداسې د بلنې په پيل کې د غټانو لپاره لومړی څه وويل شي او د فرعون په څېر طاغوتانو ته د رابلنې لپاره له کومو ادبياتو کار واخستل شي. هو! زماني، مکاني او اروايي شرايطو ته پاملرنه او زموږ تبليغي کارپوهانو ته شان نزولونه هم ښوونيزه اروپوهنه ده او هم تبليغاتي اروپوهنه

## د رسول الله (ص) عملي سيرت

تر هر څه مخکې يې په مدينه کې جومات جوړ کړ، چې د عبادت، يووالي، سلام مشورې، چوپړ، ورمندون او د سترو هوډونو مرکز و، د جومات او لمانځه محوريت د ټولو انبياوو عليه السلام په سيره کې ليدل کېږي الله کعبه د ځمکې لومړی ټکی کړاو بيا يې له دې ځايه ځمکه پراخ کړه. حضرت موسی(ه) ته هم لمونځ لومړی عملي دستور و. د جومات په جوړلو کې په خپله رسول الله (ص) متې بډ وهلې وې او د مسلمانو ښځو د کار لپاره يې هم وخت ټاکلی و، چې ټول خلک د جومات په جوړلو کې ونډه واخلي، هغه جومات، چې د کجورو د ونو له لسو ډډنو يې ستنې جوړې شوې او ټوله نړۍ يې وخوځوله. د رسول الله (ص) يوه عملي سيره د رورولۍ اعلان دی، چې د حجرات د سورت لسم آيت په همدې هکله دی.

((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخوبكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ[1]=په حقيقت کې مؤمنان يو د بل ورونه دي؛ نو د خپلو ورونو ترمنځ (د اړيپچ پرمهال) روغه وکړئ او (ځانونه) د الله له عذابه وساتئ، ښايي پر تاسې رحم وکړای شي.))

دا آيت د مؤمنانو ترمنځ اړيکې د ورونو په څېر بولي، چې پکې تعبيرونه پټ دي؛ لکه:

الف: د ورونو دوستي، ټينګه اوژوره وي.

ب: د ورونو ملګرتوب دوه اړخيز وي.

ج: د ورونو ملګرتوب د فطرت او طبيعت له مخې وي نه د ماددياتو لپاره.

د: دوه ورونه د پردي پر وړاندې يوموټي او مټ وي.

ه: د دوو ورونو جرړه او بيخ يو وي.

و: رورولي په پام کې نيول سينه پراخوي.

ز: يو د بل په غم او ښادۍ کې شريک دي.

نن د مينې د اظهار لپاره د ملګري، انډيوال، دوست، هېوادوال، کليوال او... ټکي کارول کيږي؛ خو اسلام د رور ټکی کارولی، چې دا يو غښتلی ټکی دی.

يو حديث دوه ديني ورونه دوه ملګرو ته ورته کړي دي، چې يو بل وينځي.[2]

په دې او مخکني آيت کې د "فَأَصْلِحُوا" حکم درې ځل راغلی دی او راښيي، چې اسلام په ټولنه کې څومره د سولې او دوستۍ پلوی دی.

په تېر آيت کې يې وويل: (فاصلحوا ....واقسطوا) له عدالت سره سول ټينګه کړئ او په دې آيت کې وايي) فاصلحو... واتقوا) د سولې په ټينګښت کې له خدايه ووېرېږئ، که د منځګرتوب لپاره وټاکل شوې؛ نو الله په نظر کې ونيسئ نه داچې ستاسې دا منځګرتوب پر کوم لوري د تېري لامل شي.

---

[1] (حجرات/۱۰)

[2]. (محجه البيضا ۳/۳۱۹)

## رورولي

د اسلام يو ښه چار دا دی، چې له ښېخه سمونې راوړي د بېلګې په توګه وايي: ((إنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً-[1]؛ يعنې ټول عزتونه يوازې له الله سره دي؛ نو د عزت لاس ته راوړو لپاره ولې په دې اوهغې پسې منډې وهئ ؟

ياوايي: (أَنَّ الْقُوَّةَ لِلّهِ جَمِيعاً-[2]؛ يعنې ټول ځواک يوازې د هغه دی؛ نو ولې هره شپه د يوچا په شاوخوا کې چورلئ. په دې آيت کې هم وايي: ټول مؤمنان ورونه دي بيا وايي: اوس چې ټول ورونه ياست نو غوسه او جګړه د څه لپاره ؟ ټول سره ملګري شئ.

نو د ټولنې سمونې لپاره بايد ګروهيز او انديز بنسټونه سم شي.

د رورولۍ کړلار او د رورولۍ د ټکي کارول د اسلام نوښتونه ول.

رسول الله له ۷٤۰ تنو سره د "تخليه" په سيمه کې و، چې حضرت جبرائيل راغی: الله د پرښتو ترمنځ د رورولۍ غوټه تړلې نو رسول الله هم خپل اصحاب سره ورو نه کړل او هر يو له بل سره رور شو؛ لکه:

حضرت ابوبکر له حضرت عمر سره، حضرت عثمان له حضرت عبدالرحمن سره، حضرت سلمان له حضرت ابوذر سره، حضرت طلحه له حضرت زبير سره، حضرت مصعب له حضرت ابوايوب انصاري سره، حضرت حمزه او حضرت زيد حارثه، حضرت ابودردا او حضرت بلال، حضرت جعفرطيار او حضرت معاذ بن جبل، حضرت مقداد او حضرت عمار او همداراز حضرت عايشه او حضرت حفصه، حضرت ام سلمه او حضرت صفيه يې خويندې کړې او پخپله رسول الله له حضرت علي (ک) سره رورولي وکړه [3].

د احد په جګړه کې رسول الله (ص) حکم وکړ، چې شهيدان حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عمرو بن جموح، چې يو له بل سره يې رورولي وه، په يو قبر کې ښخ کړئ. [4]

---

[1] يونس/٦٥)

[2] بقره/ ١٦٥)

[3]. (بحارالانوار٣٨ /٣٢٥)

[4]. (شرح ابن الحديد١٤ /٢١٤ او بحار ٢٠ / ١٢١).

نسبي رورلۍ يوه ورځ شلېږي (فَلاَ أَنسَابَ بَيْنَهُمْ[1])خو ديني ورورلۍ تر قيامته وي (إِخْوَاناً عَلَى سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ-[2]).
د رورولۍ اړيکې يوازې په نارينه وو پورې ځانګړې نه دي؛ بلکې د ښځمنو لپاره هم دي (وَإِن كَانُواْ إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَاء[3])
رورولي اوملګرتيا بايد يوازې د الله لپاره وي، که څوک له چا سره د دنيا په پارملګرى شي؛ نو د هغه څه لپاره، چې ملګرى شوى وي؛ نو ور وبه نه رسي او د قيامت پر ورځ به يو د بل دښمنان وي.[4]
قرآن وايي: ((الْأَخِلاَّءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ[5]=پر هغه ورځ به بې له پرهېزګارانو (نور ټول) دوستان يو د بل دښمنان وي.))
تر رورولۍ د رورولۍ دوام مهم دى او آيتونو پر هغوى سختې نيوکې کړي، چې خپل ديني ورونه يې پرېښي وي.
سپارښتنه شوې، چې که ديني ورونو درڅخه ځان لرې کړ؛ نو ته ځان ورنږدې کړه ((صل من قطعک)).[6]
امام صادق (رح) ويلي: مؤمن د مؤمن رور دى، د يو بدن په څېر دي، که د بدن کوم غړى رنځور او پر درد اخته شي؛ نو ګردسره بدن ناراحت وي.[7]
سيد حسن خان شيون دا حديث شعر کړى دى، وايي:

انسانان واړه د يو وجود اعضاء دي
پيدايښت کې له يو جوهر څنې پيدا دي
زمانه که يو اندام ترې ناکرار کړي
ارامي له ټول بدن څنې فرار کړي
چې غمجن نه وي په غم د دوست عالم

---

[1] - مؤمنون /١٠١
[2] حجر /٤٧
[3] (نساء/١٧٦)
[4]. (بحارالانوار ٧٤ /١٦٧)
[5] (زخرف/٦٧)
[6]. (بحارالانوار٧٨/ ٧١)
[7]. کافي ١٣٣/٢

نه ښايېږي، چې يې نوم شي بنيادم

## په دفاعي پياوړتيا کې نبوي سيرت

د انفال سورت په ٦٠م آيت کې راغلي: ((وَأَعِدُّوا لَهُم مَااستَطَعْتُم مِن قُوَّةٍ وَمِن رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَتَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لاَتُظْلَمُونَ =او څه مو چې له وسې پوره وي، د هغوی [= دښمنانو] مقابلې ته يې چمتوکړئ او (همداراز د جګړې ډګرته) تکړه اسونه(چمتوکړئ) چې پرې د الله، خپل او هغه دښمنا ن ووېروئ، چې نه يې پېژنئ؛ خو الله يې پېژني او د الله په لار(او د اسلام د دفاعي بنسټ په غښتلتيا) کې چې هر څه ولګوئ؛ نو بشپړ مکافات به يې درکړل شي او تېری به درباندې ونشي.))

دا آيت د رسول الله (ص) پر سيرت رڼا اچوي؛ نوهمداچې رسول الله خبر شو، چې په يمن کې يوه نوې وسله جوړه شوې ده؛ نو اخستو ته يې يو تن ورلېږه يا داچې د امت د چمتوالي لپاره به يې د اس سپرېدو او غشي ايشتو سيالی جوړولې او انعامونه يې ورته ټاکل.

مسلمانان بايد له هر اړخ ځان چمتو وساتي او له ځانه د دفاع او د دښمن وېرولو ته بايد بسيا بودجه او شونتياوې ولري، چې مسلمانانو بايد د پوځي چمتوالي په چاروکې برخه اخستې وي.

او د ځان لپاره بايد پرمختللي شونتياوې ولري او دښمن په زړه کې د وېرې لپاره بايد له ټولو سياسي، پوځي، تبليغاتي او سمبالولو له چارو کار واخستل شي. په حديث کې راغلي: د مخ او سر ويښتانو ته رنګ ورکړئ، چې دښمن ونه وايي، چې د اسلام لښکر او سرتېري زاړه دي.

هو ګرانو! په هرځای کې خبرې او مذاکرې ګټورې نه وي، پر دښمن لاسبری ته ان ښځې هم بايد پر پوځي چارو ځان پوه کړي، مسلمانان يوازې بايد په دې فکر کې نه وي، چې له ځانه د دفاع لپاره ځان چمتوکړي؛ بلکې ځان بايد دومره سمبال کړي، چې دښمن ان د بريد جرات هم و نه کړي.

يووالی او يو موټی کېدل هم يو ډول ځواک دی، چې بايد لاس ته راوړل شي. (وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ)؛ ځکه که بې اتفاقي وي؛ نو نه به مسلمانان ځواک لري او نه به دښمن ووېروېري.

اسلام خو وايي، چې ټول مسلمانان سرتېري دي او د خلکوچمتوالی يو اړين چار دی.

د دښمن وېرولو ته هم ځواک په کار دی(من قوة) او هم شونتياوې (من رباط الخيل) او تل بايد پردې پوه شو، چې ټول دښمنان مو پر ګوته شوي او پېژندل شوي نه دي او ځينې هم تر ايرو لاندې د سکروټو په څېر د مناسب فرصت په تمه دي؛ لکه څنګه چې الله وايي (لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ) نو يوازې د پېژندل شويو دښمنانو لپاره چمتووالی په کار نه دی؛ بلکې د ناپېژندل شويو دښمنانو او راتلونکي لپاره هم چمتوکېدل په کار دي.

د جنګ لګښت، چې هرڅومره وي، ور يې کړئ، چې بشپړ اجر به درکړ شي. (وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ) د جګړې له جبهې بايد هر ډول مالي، استخباراتي، فرهنګي او تبليغي ملاتړ وشي؛ لکه څنګه چې د(وماتنفقوا من شي) آيت مطلق دی او هر څه رانغاړي نو ويلو ته يې اړتيا نشته خو دا ټول کارونه بايد د الله په لار کې د الله رضا ته وي، نه د ځان ښوونې او د چارواکيو د دباو له کبله د ټولنيزو ملاحظاتو په پار.

د انفال سورت د ٦٠ آيت په پای کې راغلي دي: (يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لاَتُظْلَمُونَ =نو بشپړ مکافات به يې درکړل شي او تېری به دربانديې ونشي)؛ ځکه د ځواک، عزت او استدلال تر سيوري لاندې به مو وټيزه پياوړې شي.

### رسول الله (ص) او سرتېري

داچې له دښمن سره مبارزه يو ستونزمن چار دی؛ نو د خلکو ايمان، صبر او پوهې او د مشر تبليغ او هڅونې ته اړتيا ده.

د رسول الله (ص) په وخت کې د مسلمانانو د بري راز د ايمان په روحيې، صبر، پوهې او د رسول الله (ص) په هڅونې کې و که نه په يوه جګړه کې هم د مسلمانانو او دښمنانو شمېر يوله بل سره برابر نه و.

د بدر په جګړه کې ۱۰۰۰ تنه د ۱۳۰۰۰ تنو پر وړاندې وو، د احد په جګړه کې ۷۰۰ تنه د ۳۰۰۰ تنو پر وړاندې ول، د خندق په جګړه ۳۰۰۰ تنه د ۱۰۰۰۰ تنوپر وړاندې وو او د موته په جګړه کې ۱۰۰۰۰ تنه د ۱۰۰۰۰۰ تنوپر وړاندې وو.

رسول الله د الله په امر ويلي وو: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ) مؤمنان جهاد ته وهڅوه الله ورسره ژمنه کړې وه، چې ۲۰ صابر مؤمنان به پر ۲۰۰ او سل به پر زرو لاسبري شي، الله د داسې ژمنو په ورکولو له مسلمانانوسره مرسته وکړه ؛ البته د انفال سورت په ٦٥ آيت کې، چې د بري ژمنه شوې ده، درې ټکي راغلي، چې د درې شرطونوامر پکې دی.

((يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِنكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفاً مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لايَفْقَهُونَ[1]= نبي! مؤمنان (له دښمن سره) جګړې ته راوهڅوه، که له تاسې شل تنه صابران وي؛ نو پر دوو سوو به لاسبري شي او که سل تنه وي؛ نو پر زرو کافرانو به لاسبري شي ځکه هغوی په ژوره توګه نه پوهېږي.))

د"الْمُؤْمِنِينَ " او "صَابِرُونَ" ټکي د مسلمانانوپه هکله او د"لايَفْقَهُونَ" ټکی د کفاروپه هکله راغلی دی، چې لازمه يې د مسلمانانوفقيه توب؛ يعنې د مسلمانانو ژوره پوهه درلودل ول؛ نو مسلمانان به هله لاسبري شي، چې "ايمان"، " صبر" او "ژوره پوهه" ولري.

پته دې پاتې نشي، چې د انفال د سورت په ٦٦ آيت کې راغلي دي: ((الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفاً فَإِن يَكُن مِنكُم مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَينِ وَإِن يَكُن مِنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ[2]=اوس الله ستاسې له اوږو پېټی سپك کړ (او پوه شو، چې په تاسې کې ښېوسي ده) نو ځکه که له تاسې سل تنه صابران وي؛ نو پردوو سوو به برياليي شئ او که يو زرتنه وي؛ نو پر دوو زرو به د الله په حکم، پرې لاسبري شئ او الله له صابرانو سره دی.))

که څه شمېر مو د ډېر دی خو داچې روحيه مو راټيټه شوې ده او دې کمزورې ارادې مو جګړيز وس له لسو ګرايو څنې دوو ګرايو(اتيا سلنه) ته راټيټ کړی دی خو بيا هم د ايمان په پار بايد د کافرانو دوه ګرايه ځواک ولرئ. لږ تر لږه بيا هم سل تنه پر دوو سوو تنو بايد بريمن وسئ ((مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَينِ)) او بايد زر تنه پر دوو زرو تنو برياليي شئ ((أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ))

هو! په مديريت کې کله د مخاطب د روحيې په پامنيوي په قانون کې بدلون راوړلای شي او په قانون کې دا بدلون د ايمان د ډېروالي او کم والي له لامله دی او د الله په لاس کې دی. (خَفَّفَ اللّهُ عَنكُمْ)

**دښمن ته امان ورکول**

پر اتم هجري کال پيغمبراکرم مکه سوبه کړه او بوتان يې دړې وړې کړل، د مکې تر سوبې روسته يې د اسلام ستر دښمنان او ان هغه ښځې، چې په خوړو کې يې رسول الله (ص) ته زهر اچولي وو، وبښله، د کفارو يو مشر، "صفوان"، چې د بني اميه له ټبر و، "جدې" ته (چې له

[1] (انفال/٦٥)
[2] (انفال/٦٦)

مکې لرې وه) وتښتېد، ځينې رسول الله (ص) ته راغلل او هغه ته يې امان وغوښت، چې رسول الله (ص) هم د خپلې پګړۍ په ورلېږلو امان ورکړ، چې کړای شي مکې ته راننوځي. صفوان له جدې راستون شو، رسول الله (ص) ته راغی، و يې ويل: دوه مياشتې مهلت راکړئ، چې فکر وکړم، رسول الله (ص) څلورمياشتې مهلت ورکړ.
"صفوان" به په ځينوځايونوکې د الله له رسول سره و، چې د رسول الله (ص) اخلاقو جذب کړ او پخپله خوښه يې اسلام راووړ.

## رسول الله (ص) او سوله

الله رسول الله (ص) ته دنده ورکړه، چې که دښمن سولې ته لېوالتيا وښوده نو ورسره سوله وکړه.
((وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ[1]= او که کفار سولې (او روغې) ته لېوالتيا وښيي نو ته هم سولې ته لېوالتيا وښيه او پر الله توکل وکړه! (؛ ځکه) چې په حقيقت يوازې هغه اورېدونکی (او) ښه پوه دی.))
اسلام جګړه نه غواړي او له خپل ځواکه ناوړګټنه نه کوي او د سولې وړانديز ته په خوشحالۍ هر کلی کوي؛ خو مسلمانان بايد د ځواک په داسې پړاو کې وي، چې ورته د سولې وړانديز د دښمن لوري وي (((وَإِن جَنَحُوا)) او منل نه منل يې د اسلامي مشر واک دی نه د خلکو ((فَاجْنَحْ) او و يې نه وويل: (فَاجْنَحْو) او دا هم کېدای شي، چې د سولې په دې وړانديز کې صداقت نه وي؛ نو پر الله توکل په کار دی)(وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ)؛ لکه څنګه چې حضرت علي (ک)، مالک اشتر ته ليکي: ((د دښمن له لوري د سولې وړانديز مه ردوه خو تر سولې روسته دې دښمن ته په پام وسه؛ ځکه کله د دښمن رانږدېدل د غافلولو لپاره وي.))

## د رسول الله (ص) مديريت

الله، رسول الله (ص) ته دنده ورکړې وه، چې امانت يې خاوندانو ته وسپاره او په خلکو کې د عدالت پر بنسټ حکم وکړه.

[1] (انفال/٦١)

((اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعاً بَصِيراً[1] = ((الله امر کوي، چې امانتونه يې خپلو خاوندانو ته وسپارئ او چې کله د خلکو ترمنځ منځگړتوب کوئ؛ نو په عدالت يې وکړئ، الله درته ښه نصيحتونه کوي، بېشکه الله اورېدونکی (او) ليدونکی دی.))

په پينځم ليک کې د حضرت علی (ک) د وينا له مخې: حکومتي دندې الهي امانتونه دي، چې انسانانوته ورکول کېږي او د رسول الله (ص) کړنلار هم دا وه، چې هره دنده اهل او وړ ته يې سپارله.

که د اسلامی نظام په مديريت کې کومه دنده نا اهل ته وسپارل شي؛ نو خلکو ته ترې لاروي په کار نه ده.

او روايتونه وايي: وړ انسانانو ته دندې سپارل او خاوند ته يې د امانت بېرته ورکول ربښتنې اسلام دی او وويل شوي، چې د خلکو اوږدو رکوع گانو، سجدو او د شپو ژړا گانو ته مه گورئ؛ بلکې ووينئ، چې په امانت کې د صداقت او خيانت په هکله څرنگه دی! نن ځينې يوازې مخينې او کارپوهې ته مديريت وايي او بری په شونتياوو او گواښ درلودو او په گواښ او تطميع د خلکوپه تابع کولو کې بولي خو د رسول الله (ص) د مديريت بنسټ پر اخلاقو او نرمۍ ولاړ و او له غوړه مالۍ، خوگانو لټونې، تونده خويۍ، تکلف او امتياز غوښتنې لرې و.

سره له دې چې رسول الله (ص) به له مريانو سره يوه د سترخوان ته کېناسته، څاروي يې لوشل، له مسکينانو او بېوزليو سره يې ناسته پاسته وه، پر بې کتې خره سپرېدو خو چې پر خبرو به شو؛ نو دومره جذب او عظمت يې درلود، چې چا به ان خپلو سترگو ته رپ هم نه ورکاوه، چې دا يو ډول الهي عزت، چې په تقوا لاس ته راوړل کېږي او د نن له عزت سره توپير لري، چې په لوکس دفتر، موټر او ډول ډول ساتندويانو مو ترلاسه کړی دی.

قرآن وايي: ((إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمنُ وُدّاً[2] =بېشکه هغوی چې ايمان راوړی او ښې چارې يې کړې دي، ژر به رحمان (الله) ورته (د خلکوپه زړونوکې) مينه واچوي.))

---

[1] (نساء/ ۵۸)

[2] (مريم/۹۶)

رسول الله (ص) وايي: ((څوک چې له خدايه ووېرېد؛ نو الله به ترې هر څه ووېروي او څوک چې له خدايه ونه وېرېد؛ نو الله به يې له هرڅه ووېروي.[1]))
په اسلامي مديريت يا سنبالنه کې، عزت د الهي قانونو په پلي کولو کې او ذلت له الهي قانونو په سرغړونه کې دی.[2]
حضرت علي (ک) وايي: ((څوک چې ځان د نورو مشر ګڼي نو تر خلکو مخکې دې ځان پوه کړي او تر خبرو مخکې دې په عمل خلکو ته سمه لار وښيي[3])).
الله د رسول الله (ص) د نرم خوی په باب وايي: ((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[4]= ((خلکوته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خويه او سخت زړی وې؛ نوخلك درځنې خورېدل؛ نو له هغوی تېر شه او ښننه ورته وغواړه او په چاروکې ورسره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ ځکه چې توکل کوونکي دالله خو ښېږي.))
((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ[5]= او ته مو يوازې نړيوالو ته رحمت لېږلی يې.))
((لَقَدْ جَاءكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ[6]=((په رښتيا پخپله له همدا تاسې درته يو استازی راغلی، چې ځوروني مو پرې سختې پرېوځي (او) ستاسې پر لارښوونې ټينګارکوي، پر مؤمنانو خواخوږی (او) زړه سواندی دی.))
د رسول الله (ص) دومره پر خلکو زړه سوځېده، چې د ځينو د نه ايمان راوړو په پار يې ان غوښتل خپل ژوند له لاسه ورکړي.
((لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ[7]= ښايي ته له دې لامله، چې (مشرکان) ايمان نه راوړي، خپل ځان (له ډېره غمه) بايلې.))

---

[1]. (امالي شيخ طوسي ۱۳۹/۱)
[2]. (بحارالانوار ۷۸/ ۱۹۲).
[3]. (نهج البلاغه /۷۳حکمت)
[4] (آل عمران /۱۵۹)
[5] (انبياء/ ۱۰۷)
[6] (توبه / ۱۲۸)
[7] (شعراء/۳)

((فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَى آثَارِهِم إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهذَا الْحَدِيثِ أَسَفاً[1] = او كه په دې خبره (= قرآن) ايمان را نه وړي نو ښايي ته يې د كړنو له لامله ځان له غمه مړ كړې.))

رسول الله وايي: ((پرځمكوالو ولورېږئ، چې اسمان وال درباندې ولورېږي.)) [2]

د مكې د سوبې پرمهال رسول الله (ص) خپل ټول مخالفين وبښل او و يې ويل: ((زه هم نن د خپل رور يوسف په څېر وايم، چې ګرم نه ياست.))

د مشرۍ او مديريت لومړۍ اړتيا د سينې پراختيا ده، چې الله خپل پېغمبر ته وركړې وه (أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ) كه د انسان سينه پراخه نه وي؛ نو تروربړي او خپل دين ساتلى نشي او هغه چې پر ځان واكمن نه وي؛ نو پر نورو واكمنېداى نشي ان هغه فقهاء، چې د ځان ساتنې وس نه لري او پر خپل نفس لاسبرېداى نشي؛ نو د مرجعيت حق نه لري [3].

حضرت ابوذر غفاري رسول الله ته خورا ګران و خو ورته يې وويل: ((كمزروې دې بولم، ته ان پر دوو تنو د واكمنۍ حق نه لرې.))

ځينې چارواكي داسې دي، چې ان په موټر كې سپرېدو ته يې وګړي يو ښوونيز پړاو تېر كړي، چې دا ښاغلى چاروا‌كى له كومه ځايه سپور شي او په كوم ماډل موټر كې څو تنه پلاوى ورسره وي، څه ډول جامې يې اغوستې وي او.... خو د رسول الله سيرت راښيي، چې هېڅوک حق نه لري خلك خپل مريان كړي. هو چاراوكي له ځانه حق نه لري، چې د ځان لاروي د خداى لاروي او دده حكم نه منل د خداى حكم نه منل وبولي؛ ځكه د خداى د ګناه په بيه له مخلوقه لاروي روا نه ده.

## له بنديانو سره د رسول الله چلن

د تاريخ په اوږدو كې خلك په جګړو كې بنديانېدل؛ نو هغه لارې او طرېقې چې دغسې كسانو لپاره دي، يو څه رڼا پرې اچوو:

١_ كه دا بنديان ټول يو ځل خوشې كړو؛ نو دا به ددې لامل شي، چې مخالف اورپكي بېرته وسلوال شي او پر مسلمانانو يرغل وكړي.

٢_ ټول ووژنو، چې دا خبره له رحمت او د وړتياوو له ګټنې سره يې سمون نه خوري.

---

[1] (كهف/٦)

[2]. (مستدرک الوسايل ٩/٥٥)

[3]. (بحارالانوار ٢/ ٨٨)

۳_ بيل بيل بنديان کړای شي، چې دا کار د بنديانو ودې او بدلون ته ګټور نه دی او د دولت پر اوږو يو درووند پېټی هم دی.
٤_دا بنديان پر برياليو مسلمانانو وايشل شي، چې له يوه اړخ د لګښت پېټی يې پر مسلمانانو وايشل شي او پر دولت نه وي او بلخوا په تدريج د مسلمانانو خوی، وينا او ګروهې پکې خپرې شي او د اسلامي سپارښتنو په رڼا کې ورسره په مينه اوعدالت چلن وشي، تردې چې ان پر درناوي يې نوم واخستل شي او په تدريج آزادي ورکړه شي، چې له استعدادونو او وړتياوو يې ګټنه وشي او اسلامي ټولنې ته د خير او برکت لامل شي او د لزوم پرمهال په پيسو وپلورل شي؛ خو دا پلورل د جګړې تر تثبيته روسته دي او هېڅ پېغمبر حق نه لري پر سيمه له بشپړې لاسبرۍ مخکې بنديان ونيسي؛ ځکه که سرتېري د بندي نيولو او د هغوی د پلورلو په فکر کې شي؛ نو ټول ماغزه به يې پرغنيمت راټولو بوخت وي، چې تر وسه به لا اسلامي ځواکونو سيمه نه وي نيولې، چې ددنيا پالنې روحيه به پرې واکمنه شي، چې همدا کار به يې د ماتې لامل شي.
د انفال په سورت کې راغلي: ((مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى ان يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ = [1]له هېڅ پېغمبر سره دا نه ښايي، چې (له دښمنانو د سر د بيې د اخستو لپاره) بنديان ونيسي، چې (دکفارو د ډېرې وژنې له لامله) پر ځمکه غښتلی شي، تاسې دنيوي ګټه غواړئ او الله (روستۍ موخه او د) اخرت (پاينې چارې) غواړي او الله ناماتی حکيم دی.
رسول الله (ص)، چې د برائت د سورت اعلانولو ته له حضرت علي (ک) سره يوه ډله ولېږله نو ورته يې وويل: څوک حق نه لري ځان تسليم کړي، بې له دې چې سخت ټپي شوی وي [2].
حضرت علي (ک): که څوک بې له سخت ټپي کېدو تسليم شو؛ نوله بيت الماله به يې فديه ور نه کړه شي؛ نو بيا يې د کورنۍ خوښه، چې ازادوي يې که نه. [3]
الله رسول الله (ص) ته دنده ورکړې وه، چې په خپله نېغ په نېغ له بنديانو سره خبرې وکړه، لارښوونه ورته وکړه او هيلمن يې کړه.

---

[1] (انفال/٦٧)
[2]. (کافي ٥/ ٣٤)
[3]. (کافي ٥/٣٤).

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِمَن فِي أَيْدِيكُم مِنَ الأَسْرَى إِن يَعْلَمِ اللّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْراً يُؤْتِكُمْ خَيْراً مِمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِر لَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ[1]=پېغمبره!هغو بنديانو ته چې ستاسې په لاس کې دي، ووايه: ((که الله پوه شي، چې ستاسې په زړونوکې څه خير شته (او پاك نيتونه ولرئ؛ نو) څه چې له تاسې اخستل شوي، تر هغه به غوره درکړي او تاسې به وبښي او الله ډېر ښښونکی او لورين دی.))

د اسلام دا ډول کړنلار د کفارو جنگياليو بنديانو ته شخصيت ورکول دي.

هو! گورئ، چې اسلام څومره ښکلی دين دی، چې ان د رسول الله (ص) پرخلاف جگړې هم د بېرته راستنېدو او الهي مغفرت د لاس ته راوړو مخنيوی نه کوي، بنديانو ته وايي: (يَغْفِر لَكُمْ).

اسلام ته گورئ، چې د مخالف جنگيالي بندي ته د خېر، رحمت او مغفرت خبرې کوي.

اسلام ته گورئ، چې بايد د رسول الله (ص) لور يې د روژه ماتي پرمهال خپل روژه ماتی مسکين ته ورکوي.

((وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِيناً وَيَتِيماً وَأَسِيراً[2]=او (خپل) خواړه سره له دې چې خوښېږي يې (او ورته اړتيا لري)، د الله په پار "مسکين" او "يتيم" او "بندي" ته ورکوي.))

اسلام څومره ښه دين دی، حضرت علي (ک) چې د سجدې پر حال د جومات په محراب کې په حرامه مياشت کې دعبادت په حال کې پر زهرجنه توره ووهل شو؛ نو د هغه په باب يې وويل: دا وژونکی بندي کړئ، خواړه ورکړئ، اوبه ورکړئ او په بند کې ورسره ښه چلن وکړئ[3].

## له مخالفانو سره د رسول الله چلن

الله خپل پېغمبر ته حکم ورکوي: ((وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ[4]=او که کفار سولې (او روغې) ته لېوالتيا وښيي نو ته هم سولې ته لېوالتيا وښيه او پر الله توکل وکړه!(؛ ځکه) چې په حقيقت يوازې هغه اورېدونکی (او) ښه پوه دی.))

[1] (انفال/٧٠)
[2] (انسان /٨)
[3] (ميزان الحکمه).
[4] (انفال/٦١)

؛البته د انفال سورت په ۵۸ آيت کې راغلي: ((وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللّهَ لاَيُحِبُّ الْخَائِنِينَ[1]= اوکه (د کومې نښې په راښکاريدو) د کومې ډلې له خيانته ډارېدې (چې ژمنه يې ماته کړې او نابېره بريد کوي) نو پر ښکاره يې تړون ورمات کړه ځکه الله خائنان نه خوښوي.))

دا قرآن دی، چې وايي: ((قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ[2]= ورته ووايه: ((کتابيانو! راځئ زموږ او ستاسې ترمنځ په منل شوې خبرې پسې ولاړ شو:)) او هغه داچې يوازې ((الله)) ونمانځو او هېڅ څيز ورسره سيال ونه ګڼو او له موږ دې هېڅوك د ((الله)) پرځای څوك پر ربوبيت نه نيسي نو که (له دې وړانديزه) يې مخ واړاوه، ورته ووايئ: ((شاهدان وسئ چې موږ خو مسلمانان يو (نه تاسې).))

په يوبل آيت کې وايي: د مخالفينوله هغو غونډو ځان لرې سا ته چې پکې بې منطقه او باطلې ويينې کيږي، کېدای شي هغوی خپله لار واړوي.

((لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ[3]= [هرخبر (چې الله درکړی نو يو) ټاکلی وخت لري(او پخپله ژمنه ترسره کيږي) او ډېر ژر به پوه شئ.))

رسول الله (ص) به د مخالفينو خبرو ته داسې غوږ نيوه، چې کفارو به فکر کاوه، چې پيغمبر ژرباوری دی (وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ[4]) خو په عمل کې يې کله هم د خبرو تر اغېز لاندې نه راته.

د مبارزې لپاره يې له هر راز پوځي شونتياوو ګټه اخسته، د غشي ايشتنې زده کړه يې ځوانانو ته اړينه ګڼله او په دې باب يې سيالۍ ايښوولې او ګټيل او بايلل يې پکې جايز ګڼل، ويل يې: ددې يو غشي په پار، چې ددښمن پر لور ورايشتل کيږي؛ نو هم يې ايشتونکی، هم يې پلورونکی، هم يې پېرونکی جنت ځي، چې د اسلام سرتېرو ته يې ورکړي.

ګورو، چې رسول الله د منافقانوجومات ورانوي او چې د تبوک د جګړې پرمهال خبر شو، چې يوه ډله منافقان په يوه کور کې راټول شوي او دسيسه جوړوي؛ نو کور يې پرې ور ويجاړ کړ.

---

[1] (انفال/۵۸)

[2] (آل عمران/٦۴)

[3] (انعام/٦٧)

[4] - توبه/ ٦١

رسول الله له منافقينو سره په ترېو تندي او سختۍ چلېده او د منافق د مړي جنازه يې نه کوله.
((وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُم مَاتَ أَبَداً وَلاَتَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ[1]=د هغوی پر يوه مړي هم هېڅکله (د جنازې) لمونځ مه کوه او مه يې (د دعا او ښښنې لپاره) پر قبر درېږه ځکه هغوی پر الله او پېغمبر يې کافران شوي دي او د سرغړاندۍ په حال کې مړه شوي دي.))
ناغېړۍ او بې پروايي يې په لار کې ځای نه درلود. ابولهب د رسول الله تره و خو د المسد سورت يې په هکله نازل شو. هو! په لار کې د ځاه ايستونکي لاس بايد پرې شي، ان که د پېغمبر تره وي. په دې آيت کې الله دا خبره سپينه کړې، چې پېغمبر او مؤمنان حق نه لري مشرکانو ته دعا وکړي، چې که مشرکان يې خپلوان هم وي.
((مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُوْلِي قُرْبَى مِن بَعْدِ مَاتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ[2]= له پېغمبر او مؤمنانو سره دا وړ نه وه، چې مشرکانو ته، که څه خپلوان يې وي (له خدايه) ښښنه وغواړي، حال دا ورڅرګنده شوې ده، چې هغوی دوزخيان دي.))
په ډېرو آېتونو کې الله خپل پېغمبر ته تسل ورکړی، چې د دښمن دسيسه او کوښښ دې نهيلی نه کړي، پر کړخت يې سترګې پټې کړه او پر الله توکل وکړه.
((وَلاَ تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلاً[3]=او د کافرانو او منافقانو(حکم) مه منه او ربړ(ونې) يې نالېدې وګڼه (او ترې تېر شه) پر الله توکل وکړه او د الله چارسازي بس ده.))
کله هم مه غمجنېږه او چلونو ته يې مه وارخطا کېږه: ((وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلاَّ بِاللَّهِ وَلاَ تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلاَ تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ[4]=او صبر وکړه او ستا صبر دې يوازې الله ته او د الله په توفيق وي او(د چارو) له لامله يې مه خپه کېږه او مه يې پر دسيسو زړه تنګی کېږه.))
موږ دې د دښمن له ټولوپټواو ښکاره نقشوخبر يو: ((فَلاَ يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ[5]=نو پر خبرو يې مه خپه کېږه، بېشکه چې موږ ته يې ټول پټ او ښکاره معلوم دي.))

---

[1] (توبه / ٨٤)
[2] (توبه / ١١٣)
[3] (احزاب/ ٤٨)
[4] (نحل/ ١٢٧)
[5] (يس/ ٧٦)

ستا دنده صبر او تسبیح ده: ((فَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ[1]=نو چې څه وايي، صبر پرې وکړه او تر لمر ختو او لمر پرېوتو مخکې د خپل پالونکي تسبیح او ستاینهووایه.))

یوه ورځ د رسول الله (ص) یوه دښمن راغی او د ((اسلام علیک)) پرځای یې وویل: ((اسام علیک))؛ یعنې مرگ دې پر تا وي او پر ډېرې بې ادبۍ یې دا خبره څو ځل وکړه خو سره له دې چې رسول الله د غچ اخستو ته پوره ځواک درلود؛ خو ځواب یې یوازې ((علیک)) و، هلته ځینې ناست کسان ډېر زیات خپه شول؛ نو رسول الله ته یې وویل: ولې دې ددې دومره سپکاوي ځواب ورنه کړ؟! و یې ویل: د هماغې ((علیک)) پر ټکي مې ځواب ورکړ؛ یعنې پر تادې وي[2].

د اسلام دښمنان په ډول ډول قالبونوکې دي: ځینې د بې خبرۍ له لامله مخالفت کوي؛ خو له مسلمانانو او اسلامي نظام سره کار نه لري. ځینې اوازو او تبلیغاتو تېرایستي دي ځینې د خپلو گټو خوندیېنې ته مخالفت کوي او له خپلې کړلارۍ لاس نه اخلي. ځینې د ستر ځواکوو له وېرې له مسلمانانو سره نه یوځای کېږي. ځینې د اړنگ - شک له لامله پرمختگ نه کوي. ځینې یوه ورځ تړون تړي او بله ورځ د خپلو گټو له لامله یا له تاوانه د تېښتې لپاره هماغه تړون لتاړي. ځینې نېغ په نېغه پر اسلام برید کوي. ځینې خاینان دي او تاریخ لووی-شاهد دی، چې ددې خلکو ایمان راوړل له هماغه پیله دسیسه وه.

اسلام ددې هرې ډلې لپاره حکم لري؛ نوځکه په آیتونو او روایتونو کې ډول ډول احکام لیدل کیږي، چې دا د اسلامی عالمانو کار دی، چې را و یې باسي اوخلکو ته یې اعلان کړي.

دلته د قرآن د تعبیرونو څو بېلگې را اخلو:

کله به منافقینود رسول الله وخت نیوه اوخیال یې کاوه، چې تبلیغ یې کړی دی او په دې گومان ول، چې رسول الله یې پر ټولو خبرو باور کړی دی، چې دې ډلې بې له دې کاره بل کار نه درلود، قرآن یې په هکله وایي:

((وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَكُمْ-[3] هغوی وایي، چې ته راته غوږ یې، ورته ووایه: ستاسې خبرو ته زما غوږ نیول ستاسې پرگټه دي.))

---

[1] (ق/۳۹)

[2] (کافي۲/۵)

[3] توبه /۶۱)

یوه بله ډله وه، چې بې له خبرو یې خلک هم بې لارې کول او د الله له لارې یې منع کول، چې ددې ډلې حساب سخت دی.
درېیمه ډله ځان ته ځالي جوړوي او د ضرار جومات جوړوي، چې د جومات په نوم پکې راټول شي، چې خپل نمښته -انکار او هڅو ته سازماني او تشکیلاتي بڼه ورکړي او د خلکو د تېرایستو لپاره ان رسول الله (ص) ته بلنه ورکوي، چې راشه او دا جومات پرانځه او داسې ډلې د اسلامي ټولنې په زړه کې ځاله جوړوي؛ نو رسول الله (ص) ورسره انقلابي چلن وکړ او جومات یې ورړنګ کړ.
ځينو به هر وخت خپل تړونونه ماتول.
((إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللّهِ الَّذِينَ كَفَرُوا فَهُمْ لاَيُؤْمِنُونَ[1]=بېشکه د الله په نزد بتر خوځنده هغوی دي، چې کافران شوي دي او ایمان نه راوړي.))
((الَّذِينَ عَاهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لاَيَتَّقُونَ[2]= هماغوی چې درسره یې ژمنه وکړه؛ خو هر ځل خپله ژمنه ماتوي او (د وعدې ماتولو او خیانت) څه پروا نه لري.))
خو ځینې دي، چې له شا څخه ملاتړ کوي او په اسلام پسې یې راختي ده، چې قرآن یې په هکله وايي: ((فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ[3]=اوکه دوی د جګړې (په ډګر) کې په لاس درشي؛ نو داسې برید پرې وکړه، چې ورپسې لارویان یې خواره واره شي (او خپل حواس بایلي) ښایي عبرت واخلي.))
خو د لاسوندونو-شواهدو په رڼا کې، هغوی چې د خیانت هوډ لري؛ نو قرآن یې په هکله وايي:
((وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللّهَ لاَيُحِبُّ الْخَائِنِينَ[4]=اوکه (د کومې نښې په راښکارېدو) د کومې ډلې له خیانته ډارېدې (چې ژمنه یې ماته کړې او نابېره برید کوي) نو پر ښکاره یې تړون ورمات کړه ځکه الله خائنان نه خوښوي.))
هو! په مهمو پوځي او ټولنیزو چارو کې مسلمانان باید مخکې تر مخکې چمتووالی ولري، همداچې و یې ننګېرل څوک خیانت کوي؛ نو تر خیانته مخکې دې لستونې بډ وهي (وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً) نو چې تړون مات کړي؛ نوکه ته یې هم ورسره مات کړې نودا خبره له

---

[1] (انفال/٥٥)
[2] (نفال/٥٦)
[3] (انفال/٥٧)
[4] (انفال/٥٨)

عدالت سره سمون خوري او پر ترون ژمنه تر هغې په کار ده، چې له دسيسې وېره نه وي؛ خو همداچې د خيانت او دسيسې ننګېرنه وشو؛ نو ځای پرځای بايد مقابل لوري ته د ترون د ما تېدواعلان وشي.

**له مشرکانو سره د رسول الله چلن**

مشرکانو له رسول الله (ص) وغوښتل، چې يا د بوتانو درناوی وکړي او يا دې ورته يو کلن مهلت ورکړي، چې بيا هم د يو کال لپاره د بوتانوعبادت وکړي، نږدې ول، چې رسول الله (ص) ورسره خوښي وښيي؛ خو الله پر غوږ وواهه. قرآن وايي: ((وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذاً لاَتَّخَذُوكَ خَلِيلاً [1]=نژدې وه، چې دوی تا (پخپلو وسوسو سره) له هغه څه راواړوي، چې موږ تا ته وحې کړې ده، چې ته له هغه (قرآن) پرته (يو بل څه په دروغو) په موږ پورې وتړې نو هله يې ته په دوستۍ نيوې.))

((وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئاً قَلِيلاً[2]= اوکه ته موږ (پرحق باندې) ټينګ کړی نه وای (او دعصمت د مقام په رڼا کې له بې لارۍ خوندي شوی نه وې؛ نو) نژدې وه، چې لږ څه به د هغولوري ته ورمات شوی وې.))

((إِذاً لأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيراً [3]= (که داسې دې کړي وای نو) موږ به پر تا په دنيا کې (د مشرکانو) د مجازاتو د دوه ګرايه او ترمرګ روسته هم (د هغوی د مجازاتو) د دوه ګرايه عذاب خوند څکلی وای، بيا به دې زموږ پر وړاندې (د عذاب د لرې کولو لپاره) کوم مرستندوی نه وای موندلی.))

**د رسول الله (ص) خوی بايد له دې آيتونو راوايستل شي:**

کفارو تر ټولو ستر مقام د راجذبولو هڅه هم درلوده، الهي مشران بايد هوښيار وي، چې له آرونو د پر شا تګ پر بيه اړيکې ارزښت نه لري. الله په حساسو شېبو کې خپل اولياء ساتي او که د الله پام او ساتنه نه وي؛ نو د پېغمبرانو عصمت هم د ټېنګې نه دی.

---

[1] (اسرا/۷۳)

[2] (اسرا/۷۴)

[3] (اسرا/۷۵)

انبياء عليه السلام بايد غوخ اونفوذ نه منونكي وي. پوټی کوړوالی هم له پېغمبرانو د منلو وړ نه دی. الله هم پېرزوېنه لري او هم غضب، چې د پېغمبر په څېر انسان ته د نورو په پرتله دوه ګرايه عذاب ورکوي او يوازې له کفارو سره لږ څه خوښي ښوول، هغه د تل لپاره له الهي نصرته بې برخې کوي (ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيراً) او پردې خبره هم پوهېدل پكار دي، چې دښمن پرلږه خوښ نه دی.

قرآن وايي: ((وَلَنْ تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى ان تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَ الَّذِى جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ[1]=او يهود او نصارا به هېڅكله درڅخه تر هغې خوښ نشي ترڅو(په بشپړ ډول غوښتنو ته يې غاړه كېنږدې او) د(اړول شوي) دين لاروي يې وكړې، ورته ووايه: ((يوازېنی لارښوونه، الهي لارښوونه ده.)) او كه تر پوهې روسته په هيلو او غو ښتنو پسې يې ولاړ شې نو د الله له لوري به دې هېڅ دوست او مرستندوی نه وي.))

((وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ[2]=هغوی هيله لري، چې كه ته څه نرمي وكړې، چې هغوی (هم) نرمي وكړي (داسې نرمي، چې د حق له بهيره څه كږليچ پكې وي)))

((وَلاَ تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلاً[3]= او د كافرانو او منافقانو(حكم) مه منه او ربړ(ونې) يې ناليدې وګڼه (او ترې تېر شه) پرالله توكل وكړه او د الله چارسازي بس ده.))

((وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُم مَاتَ أَبَداً وَلاَتَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ[4]= پر يوه مړي يې هم هېڅكله (د جنازې) لمونځ مه كوه او مه يې (د دعا او ښښنې لپاره) پرقبر درېږه ځكه هغوی پر الله او پېغمبر يې كافران شوي دي او د سرغړاندی په حال كې مړه شوي دي.))

هو! له منافقانوسره منفي مبارزه پكار ده. د لمانځه له اړمه يې هڅوني‌او رټنې ته ګټه واخلئ، د منافقانو د جنازې سپكاوی پكار دی ؛ البته د رسول الله (ص) انقلابي چلن يوازې له قسم خوړليو منافقانو سره دی هغوی چې ان پر اوښكو تويولو يې هم اعتبار نه دی پكار؛ لكه د

---

[1] (بقره/١٢٠)

[2] (قلم/٩)

[3] (احزاب /٤٨)

[4] (توبه /٨٤)

حضرت يوسف ورونه، چې ژړغوني خپل پلار ته راغلل، و يې ويل: يوسف لېوه وداړه[1]. نه يې پر قسم اعتبار پکار دی، چې قسم يې سرغړونې ته يو ډال دی.
((اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ[2]= هغوی خپل قسمونه [؛ لکه] ډال گرځولي دي او (خلك يې) د الله له لارې منع کړل؛ نو له همدې امله سپکوونکی عذاب يې په برخه دی.))
نه يې پر خبره اعتبار پکار دی، چې د هغوی خبرې ته چې پېغمبر هم حيرانوي (مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ-[3] نه يې پر لمانځه اعتبار پکار دی، چې په ناغېړۍ يې کوي او نه يې پر زکات اعتبار پکار دی، چې په ناخوښۍ يې ورکوي.
((وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلاَّ أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلاَ يَأْتُونَ الصَّلاَةَ إِلاَّ وَهُمْ كُسَالَى وَلاَ يُنفِقُونَ إِلاَّ وَهُمْ كَارِهُونَ[4] =او هېڅ شی د هغوی د نفقو د نه منلو لامل نه شو خو داچې هغوی پر الله او پېغمبر يې کافران شول او زړه ماتي نمانځه ته راځي او (د الله په لار کې) په ناخوښۍ نفقه ورکوي.))
نه يې جومات جوړول منل کېږي؛ ځکه جومات يې ضرار دی. منافقينو د لارې لرېوالی او د خلکو زوړوالی او کمزوري پلمه کړ او د رسول الله (ص) د جومات پر وړاندې يې جومات جوړ کړ، چې ددې جومات پر نوم په خلکو کې درز واچوي او ان له آنحضرته يې وغوښتل، چې په دې جومات کې د پرانستيا لمونځ وکړي، چې دې جومات ته رسميت ورکړي، آيت راغی، چې ددې جومات د جوړونکيو موخه مسلمانانو ته زيان رسول دي، کله هم په دې جومات کې لمونځ و نه کړې او رسول الله (ص) دا جومات ړنگ کړ.
((وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِداً ضِرَاراً وَكُفْراً وَتَفْرِيقاً بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَاداً لِّمَنْ حَارَبَ اللّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلاَّ الْحُسْنَى وَاللّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ[5]= [ او (له هغوی يو بل ډلې) يو جومات جوړ کړ، چې (مسلمانانو ته) زيان ورسوي او کفر (غښتلی) کړي او په مؤمنانو کې بېلتون واچوي او هغه چاته ((ځارځی)) وي، چې تردې مخکې يې د الله او د هغه د پېغمبر

---

[1] (يوسف /١٧)

[2] (مجادله /١٦)

[3] بقره / ٢٠٤)

[4] (توبه/ ٥٤)

[5] (توبه / ١٠٦)

پرخلاف په مبارزه لاس پورې کړې دی (نو) هغوی سخت قسمونه خوري، چې: ((موږ خو د نېك (كار او چوپړ) په نيت (دا جومات جوړ کړی دی)) خو الله شاهدي ورکوي، چې هغوی بيخي دروغجن دي.))

په زړه پورې خو دا ده، چې د منافقينو مشر او ددې جومات جوړونکی د حضرت حنظله (رض) پلار ابوعامر و. حضرت حنظله(رض) هماغه ځوان صحابي و، چې د واده پر شپه يې بې له غسل کولو د واده کوټه پرېښوده، جګړې ته ولاړ او شهيد شو، چې آنحضرت (ص) يې په هکله وويل: ((هغه ته پرښتوغسل ورکړ.))

## له عادي کفارو اومنافقانو سره د رسول الله (ص) چلن

له دې خلکو سره د رسول الله (ص) چلن په ګوزاره کولو ولاړ و. قرآن، آنحضرت ته وايي: که کوم مشرک درنه پناه او امان وغوښت نو ور يې کړه، چې د الله کلام واوري او بيا هغه د امن ځان ته ورسوه؛ ځکه هغوی ناپوهه ډله ده او کېدای شي د آيتونو او مينې په ليدو ايمان راوړي؛ ځکه اسلام د ښيون - ښيون دين دی او د هغه ايمان پلوی دی، چې بنسټ يې فکر، تدبر، ټاکنه اوخپله خوښه وي نه هغه ايمان، چې د وېرې له لامله وي؛ نوځينو ته بايد وخت ورکړ شي؛ ځکه د ډېرو ايمان نه راوړل يې د ځېل له لامله نه وي؛ بلکې له دې لامله وي، چې موږ نه وي ور رسولای.

هو! پام مو وي، چې اسلام هغوی ته چې د ښيون احتمال يې وي، د څېړنې او فکر وخت ورکوي.

کوم ښوونځی، چې سول-منطق لري؛ نو بيړه نه کوي او پردې سربېره اسلام حکم کوي: هغوی چې له تاسې امان غوښتې نو په امن کې يې کور ته ورسوئ، چې ماغزه يې څېړنې او فکر ته آرام وي.

هو! کله ددې خلکو په هکله ځای دومره نري ټکي ته رسي، چې ان له رسول اللهه هم دا حق اخستل کېږي، چې خپلو کړلاريو خپلوانو ته دعا وکړي.

((مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُوْلِي قُرْبَى مِن بَعْدِ مَاتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ[1] = له پيغمبر او مؤمنانو سره دا وړ نه وه، چې مشرکانو ته که څه خپلوان يې وي (له خدايه) ښښنه وغواړي، حال دا ورڅرګنده شوې ده، چې هغوی دوزخيان دي.))

---

[1] (توبه/۱۱۳)

رسول الله (ص) ته دنده ورکړه شوې وه، چې ان يوې شېبې ته هم له خپل دښمن سره جوړجاړی ونه لري.
الله خپل رسول ته وويل: ټول عزت له الله سره دی: (فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعاً[1]). ټول ځواکونه د هغه دي: (أَنَّ الْقُوَّةَ للّهِ جَمِيعاً [2]) ورته يې وويل: پر هغه توکل وکړه؛ نوڅوک به هېڅ تاوان در و نه رسوي (فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْئًا) په غوږه ورته داخبره وکړه، چې خپل کار مې د خپل ځان لپاره او ستاسې د خپل ځان لپاره دی (لِي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ[3]) دومره پرېکندتوب يې درلود، چې نه يې په خپله او نه يې يارانو حق درلود، چې مشرکو خپلوانو ته دعا وکړي[4].

## له ګوندونو سره د رسول الله چلن

سره له دې چې رسول الله (ص) ټولو ته د رحمت سرچينه وه خو الله ورته وايي، چې څنګه له مخالفينو او هغوی چې په لار کې کويان باسي، چلن ولرې:
((ا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ[5]=پېغمبره! له کافرانو او منافقانو سره جهاد او سخت چلن وکړه، ورتګ يې جهنم ته دی، چې خورا ناوړه هستوګنځی دی!))
قبرونوته يې مه ورځه اوجنازه يې مه کوه: ((وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُم مَاتَ أَبَداً وَلاَتَقُمْ عَلَىَ قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ[6]=پر يوه مړي يې هم هېڅکله (د جنازې) لمونځ مه کوه او مه يې (د دعا او ښښنې لپاره) پر قبر درېږه ځکه هغوی پر الله او پېغمبر يې کافران شوي دي او د سرغړاندۍ په حال کې مړه شوي دي.))
د ((لا تتبع)) په حکم يې وويل، چې لاروي يې مه کوه او هم يې وويل: (اعرض)؛ يعنې مخ ترې واړوه او د رسول الله د تسل لپاره يې وويل، چې د الله تسبيح کوه، پرې توکل کوه نو نصرت به درکړم.

---

[1] - نساء /۱۳۹
[2] بقره/ ۱۶۵
[3] - يونس/٤١
[4]. (توبه/۱۱۳)
[5] (توبه/۷۳)
[6] (توبه / ۸٤)

که یوه ورځ هغوی پېغمبر د خپلو بېځایه ازار خنډ گڼلو خو داسې وخت به راشي، چې د همدې پېغمبر شتون به پرې د الهي عذاب د نه راتگ لامل شي.
((وَمَا كَانَ اللّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ[1]= خو (پېغمبره!) څو ته يې په منځ کې يې (نو) الله يې نه په عذابوي او (همداراز) تر هغه چې ببښنه غواړي الله به يې عذابونکی نه وي.))
که په یوه وخت کې کفارو د سولې پرمهال حضرت علي ته پرېښنود، چې د رسول الله له نوم سره د "رسول الله (ص)" ټکی ولیکل شي؛ نو د الله آیت د "محمد رسول الله (ص)" له غونډلي سره را نازل شو، چې همدا قرآن میلیونونو خلکو ولوست.
هو! ((فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً. إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً[2]=نو په حقيقت کې له (هرې) سختۍ سره اسانتيا شته. په واقع کې له (هرې) سختۍ سره اسانتيا شته.))
په زړه پورې خو داده، چې د "عسر" ټکی، چې د سختۍ پر مانا دی، ۱۲ځلې په قرآن کې راغلی او د "يسر" ټکی، چې د هوسايې پر مانا دی، ۳۶ځل راغلی دی.

## له اشرارو سره د رسول الله چلن

یوه ډله مشرکان له مکې څخه مدینې ته راغلل، ایمان یې راوړ خو داچې رنځور ول؛ نود رسول الله (ص) په حکم له مدینې بهر ښه هوا لرونکې سیمې ته واستول شول او چې د زکات او د اوښانوله شیدو هم گټه واخلي خوهمداچې روغ شول؛ نو مسلمانان شپانه یې ونیول، پښې او لاسونه یې ترې غوڅ کړل، سترگې یې ترې وایستې، چې بیا رسول الله (ص) حکم ورکړ، چې و یې نیسئ او هماغه ورسره وکړئ، چې له مسلمانو شپنوسره یې کړي ول.
خدای وایي:
((إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَاداً أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ[3]=هغوی چې د الله او د هغه له استازي سره جنگېږي او په ځمکه کې د فساد خپرولو هڅې کوي (او د خلکو پر ځانو، مالونو او ناموس وسله وال تېری کوي) نو سزا يې

[1] (انفال /۳۳)
[2] (الشرح/۵، ۶)
[3] (مایده/۳۳)

داده، چې ووژل شي يا پر دار وځړول شي، يا يې [ښی] لاس (څلور گوتې) او (کيڼه) پښه تېروبېرغوڅې شي او يا له وطنه وشړل شي دا خو يې په دنيا کې رسوايي ده او په آخرت کې ورته لويه سزا ده.))

هو! د ټولنې سمونې ته له خبرو او نصيحت سره له زوره هم کار اخستل پکار دي؛ نو داچې د اشرارو جنايتونه توپير لري؛ نو ډول ډول سزاگانې هم ورته وضع شوي دي، چې واک اواختيار يې د اسلامي واکمن په لاس کې دی، چې د جنايت هومره سزا ورټاکل کېږي.

روايتونه وايي، چې که څوک پر وسله د چا پر مال، ځان او ناموس گواښ وکړي؛ نو دا سزا پرې پلي کېږي او له ټولو خو مهمه خبره داده، چې قرآن دا ډول خلک له الله سره جگړه مار گڼي، چې د پښې اولاس له غوڅولو يې مراد د څلورو گوتوغوڅول دي. که په دې آيت کې د رحيم الله له لورې د رحمت پېغمبر ته د اشرارو د وژولو حکم ورکړ شوی دی؛ نوځکه دی، چې د الهي نظام راپرزول او د عمومي امنيت خرابول هغه څه نه دي، چې پر خبرو او استازي ورلېږلو هوار کړای شي.

د اسلام په دين کې د بينات (څرگندې معجزې)، کتاب، اسماني قانون او ميزان ترڅنگه چې د قسط اوعدالت نښه ده د اوسپنې خبره نوموتې-اوڅار ده؛ يعنې لومړی خبره او بيا زور.

هو! له اشرارو سره، چې د عدالت د پراختيا مخه نيسي نو بې له اوسپنې، چې د ځواک او پرېکندتوب نښه ده، په بل هېڅ څيز نه سمېږي. که د حديد سورت ۲۵ آيت ته وکتل شي؛ نو پوه به شو، چې که چاته دنده ورکوو؛ نو ورته د کار وسايل هم ورکول پکار دي.

((لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ[1]= په يقين (موږ) خپل استازي له څرگندو دلايلو سره ولېږل او ورسره مو (اسماني) کتاب او تله (له باطله د حق پېژندنه او عادلانه قوانين) ولېږل، چې خلك پر انصاف ودرېږي او اوسپنه مو راکوزه کړه، چې پکې ډېر زور او د خلکو لپاره گټې دي، چې الله ته معلومه شي، چې څوك په پټه او له استازيو سره يې مرسته کوي په رښتيا الله غښتلی ناماتی دی.))

ټولنه درې ځواکونو ته اړتيا لري:

مقننه قوه: (أَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ).

قضائيه قوه: (الْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ).

---

[1] (حديد/۲۵)

مجريه قوه: (أَنزَلْنَا الْحَدِيدَ).

**له پښېمانه شويو وگړيو سره د رسول الله (ص) چلن**

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[1]=[ خلكوته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خوبه او سخت زړی وې؛ نوخلك درځنې خورېدل؛ نو له هغوی تېر شه او ببښنه ورته وغواړه او په چاروکې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ ځکه توکل کوونکي د الله خو ښېږي.))

هغوی چې د احد په جگړه کې د مسلمانانو ماتې د خپلې تېښتې پايله گڼله نو د پېښمانی په اور سوځېدل؛ نو د رسول الله په شاوخوا کې راټول شول، ببښنه يې وغوښ ته چې حکم راغی:

۱_ هغه ظلم يې چې درباندی کړی؛ نو ويې ببښه (فَاعْفُ عَنْهُمْ).

هو! د اسلام د حکومت بنسټ پر مينه ايښوول شوی دی او سخت دريځه پرخلکو واکمني نشي کړای.

۲_ له خدايه يې، چې کومه سرغړو نه کړې نو ورته د مغفرت غوښته وکړه. (وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ).

۳_ سره له دې چې د احد په جگړه کې ورسره مشورې ماتې رامنځ ته کړه خوداسې چارې دې بايد اړ نه کړي، چې ورسره سلامشوره و نه کړې (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ)؛ ځکه چې سلامشوره زياتې گټې لري؛ لکه:

الف: ځواکونو ته تسل او ارزښت کول.

ب: د استعدادونو زرغونېدل.

ج: دوست له دښمنه پېژندل.

د: غوره نظريه منل.

ه: مينه زياتوي.

و: له ځانځانی ژغورنه.

ز: نورو ته عملي درس.

ح: د بري پرمهال د نورو د کينوله راپارېدو مخنيوی کوي.

---

[1] (آل عمران/۱۵۹)

ط: د ماتې پرمهال د غم شريکو زياتېدل.
دا خبره دې سپينه شي، چې سلامشوره له واحد حاکميت، پرېکندتوب او له توکل سره ټکر نه لري؛ نوځکه د مشورې ترڅنګ حکم راغلی، چې روستی هوډ نيونه پر تا ده او بايد پرالله توکل وکړې.

**له مخالفو ګوندونو سره په زغم چلن**

الله خپل رسول ته پراخه سينه ورکړې وه او هم زغم، چې د الله حکم دور و رسي (وَاصْبِرْ ان يَحْكُمَ اللَّهُ[1]) صبر وکړه، چې د صبرکونکيو ثواب نه ضايع کېږي. ((وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ [2]=صبر وکړه (؛ ځکه) چې په حقيقت کې الله د نېکانو اجر نه لاهو کوي.))
صبر وکړه؛ لکه مخکېنيو اولوالعزمه پېغمبرانو، چې صبر يې وکړ ((فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ[3]) صبر وکړه؛ ځکه الله به د صبر تر سيوري لاندې وده درکړي (وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ[4])
صبر وکړه؛ ځکه بې خبري به درباندې وخت راتنګ کړي، حضرت يونس عليه السلام صبر و نه کړ او د کب په نس کې راګېر شو. (فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلاَ تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَى وَهُوَ مَكْظُومٌ[5]= نو(اوس چې داسې ده) د خپل پالونکي حکم ته دې صبر وکړه او د کب د خاوند[=يونس] په څېر کېږه مه، چې له ډېره غمه يې الله وباله))
صبر وکړه؛ ځکه له صابرانوسره کړې ژمنې مو غوڅې دي: ((فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ[6]=نو (پېغمبره!) صبر وکړه، چې د الله ژمنه رښتينې ده او که موږ تا ته د هغه عذاب يوه برخه وښيو، چې موږ يې له هغو سره ژمنه کوو يا (له عذابه مخکې يې) ستا(ساه) پوره واخلو نو (مهمه نه ده ځکه) يوازې زموږ لوري ته راګرځول کېږي.))

---

[1] - يونس /۱۰۹
[2] (هود/۱۱۵)
[3] - احقاف /۳۵
[4] - مدثر /۷
[5] (قلم، ٤٨)
[6] (غافر /۷۷)

هم د ناوړه خبرو پر وړاندې، هم د تورونو ملنډو او سپکاويو پر وړاندې او هم د ناروا کړنو پر وړاندې صبر وکړه. ((اصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ[1]= په خبرو يې صبر وکړه.))((وَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْراً جَمِيلاً =او (دښمنان) چې څه وايي، صبر پرې وکړه او په ښه توگه ترې لرې شه.))

داچې د مخالفانو د خبرو پر وړاندې څلورځل د صبر حکم راغلی دی (فَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ[2]) نو جوتيږي، چې تر هر څه زيات رسول الله (ص) بېځايه پلمو، پېغورونو، تبليغاتو، او اوازو او بې ځايه تمو کړاوه.

**د صبر لاملونه**

د هغو ټولو ډنډورو، منفي تبليغاتو بې ځايه تمو، کړلاريو او تورونو پر وړاندې څه شي د رسول الله سينه پراخه کړې وه او صبر يې درلود ؟

قرآن ته چې وکتل شي؛ نو ليدل کيږي، چې الله له ډول ډول لارو د هر راز پېښو پر وړاندې خپل پيغمبر ته صبر ورکړ، چې مونږ هم څو بېلگې راخستې دي.

ژمنه يې ورکړه، چې دين به يې پر ټولو دينونو لاسبرى شي، که څه مشرکان ونه غواړي:

((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيداً[3]= (الله) هغه دى، چې خپل استازى يې له سمې لارښوونې او حق دين سره لېږلی، چې پر ټولو اديانو يې بريالی کړي او (د پيغمبر پر حقانيت) د الله شاهدي بس ده.))

((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[4]=او (الله) هغه دى، چې خپل پيغمبر يې له لارښوونې اوحق دين سره ولېږه، چې پرټولو اديانو يې لاسبرى کړي، که څه مشرکان ناخوښه وي.))

ژمنه يې ورکړه، چې کتاب به يې تحريف او وانه ړول شي او له ټولو دسيسو به يې وساتو.

[1] (ص/١٧)
[2] -ق ٣٩
[3] (فتح/٢٨)
[4] (توبه/٣٣)

((إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ[1]=په حقيقت کې موږ قرآن پخپله نازل کړی دی او بېشکه، چې موږ يې پاسوالان يو.))

ژمنه يې ورکړې، چې که څوک وغواړي، پر پوکي د الله رڼا مړه کړي؛ نو الله به يې خپله رڼا له منځه يوسي.

((يُرِيدُونَ أَن يُطْفِؤُواْ نُورَ اللّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللّهُ إِلاَّ أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ[2]=(کافران) غواړي د الله رڼا په خپلو خولو مړه کړي خو الله بې له دې هېڅ نه مني، چې خپله رڼا به پوره کوي، که څه کافران ناخوښه وي.))

ژمنه يې ورکړه، چې د کافرانو نقشې به خاورې ايرې کړي.

((ذَلِكُمْ وَأَنَّ اللّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ[3]= (د مؤمنانو او کافرانو برخليك) هماغه و (چې و مو ليد!) او په حقيقت کې الله د کافرانو د چلونو سستوونکی دی.))

ژمنه يې ورکړه، چې د ملنډې وهونکيو پر وړاندې، موږ درته بس يو.

((إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ[4] =(؛ ځکه) چې موږ به تا د ملنډو وهونکيو له شره وژغورو.))

ژمنه يې ورکړه، چې د ځمکې وارثان به صالح انسانان وي.

((وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ[5]= او په حقيقت کې مو په" زبور" کې تر تورات روسته ليکلي دي چې: ((زما صالح بندګان به دځمکې (د حکومت) وارثان شي.))

د نړۍ د راتلونکي حکومت واکمن به هغه ايمانوال وي، چې د صالح عمل خاوند وي.

((وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ[6]=الله له تاسې له هغو کسانو سره، چې ايمان يې راوړی او ښه کارونه يې کړي، ژمنه کړې، چې هرومرو به يې پر ځمکه واکمن

[1] (حجر/ ۹)

[2] (توبه/۳۲)

[3] (انفال/۱۸)

[4] (حجر/۹۵)

[5] (انبياء/ ۱۰۵)

[6] (نور/ ۵۵)

کړي لکه چې تر هغوی مخکښنيو ته يې د ځمکې خلافت ورکړی و او خپل دين به يې ور ته چې الله غوره کړی، د هغوی د ګټې لپاره پر پښو (پر ټينګو بنسټونو) ودروي او د وېرې حالت به يې پر ډاډ واړوي (داسې) چې يوازې ما لمانځي او له ما سره به هېڅ شريك نه کړي او څوك چې تردې روسته کافر شي؛ نو همدوی فاسقان دي.))

ژمنه يې ورکړه، چې د الله لښکر لاسبرى او پېغمبران به يې بريالي وي.

((وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ. إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ. وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمْ الْغَالِبُونَ[1]= او په يقين زموږ د لېږل شويو بندګانو (د بريا) ژمنه لا له پخوا شوې ده. بېشکه يوازې له هغوی سره به مرسته کېږي او بېشکه همدا زموږ لښکر بريالى دى[2].))

ژمنه يې ورکړه، چې کوثرتا ته زموږ ډالۍ ده.

((إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ[3]=په حقيقت کې موږ تاته کوثر [= خير او ډېر برکت ] درکړ.))

## رسول الله ته د الله تعالى تسل

تر ځان روسته د فتنوپه باب اندېښمن و، چې الله ورته وايي:

((فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُنتَقِمُونَ[4]=نو که موږ تا (له نړۍ) بوځو نو بېشکه موږ له هغوی غچ اخستونکي يو.))

د کږلاريو پرمختګ او بيړې اندېښمن کړی و، چې الله وويل:

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لاَ يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا وَمَن يُرِدِ اللّهُ فِتْنَتَهُ فَلَن تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللّهِ شَيْئاً أُولئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ[5]= (د الله) استازيه! هغوی دې تا اندېښمن نه کړي، چې د کفر په لار کې په بيړه هلې ځلې کوي او په خوله وايي: ((ايمان مو راوړی)) خو زړونو يې ايمان نه دی راوړی!

---

[1] (صافات/ ۱۷۱، ۱۷۲، ۱۷۳)

[2] (صافات/۱۷۳)

[3] (کوثر/۱)

[4] (زخرف/۴۱)

[5] (مايده/۴۱)

او (همداراز) هغه ډله یهود، چې ستا خبرو ته ښه غوږ ږدي، چې ستا د دروغجنولو لپاره پلمه پېدا کړي، دوی د نورو ځړي دي، چې تا ته پخپله نه دي راغلي، هغوی خبرې له اصلي مفهومه اړوي او (یو بل ته) وايي: ((که تاسې ته دا (چې موږ يې غواړو) درکړ شو (او محمد ستاسې د غوښتنو له مخې قضاوت وکړ) نو و يې منئ که نه (ترې) لرې شئ)) ؟ (خو) الله چې چاته (د هغه په پرلپسې ګناهونو) سزا ورکوي؛ نو ته يې د ژغورلو لپاره څه نشې کولای، دا هغه کسان دي، چې الله نه دي غوښتي، چې زړونه يې پاك شي، دوی ته په دنيا کې رسوايي او په آخرت کې سترعذاب په برخه دی.))

د مخالفانو د شمېر زیاتوالي اندېښمن کړی و؛ خو مه اندېښمنېږه:

((قُل لاَّ يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ فَاتَّقُوا اللّهَ يَاأُولِي الأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ[1]= ورته ووایه: (هېڅکله) ناپاك او پاك سره برابر نه دي، که څه تا د ناپاکانو ډېروالی حیرانوي! نو عقلمنو! د الله له مخالفته ځان وژغورئ، ښايي وژغورل شئ.))

کړاونو پرېشانه کړی و خو الله وويل:

((وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَى مَاكُذِّبُوا وَأُوذُوا ان أَتَاهُمْ نَصْرُنَا وَلاَ مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِ اللّهِ وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَبَإِ الْمُرْسَلِينَ[2]=او بېشکه تر تا مخکې هم ډېر پیغمبران دروغجن ګڼل شوي دي، چې د دروغجن ګڼلو پر وړاندې يې صبر وکړ او (په دې لار کې يې) کړاوونه ګالل، تردې چې هغو ته زموږ مرسته ورسېده. (ته هم همداسې وسه او دا یو الهي سنت دی) او د الهي سنتو د بدلولو وس په هېچا کې نشته او هرومرو درته د استازيو حال پوره راغلی دی.))

اندېښمن و، چې دروغجن ګڼل شوی؛ خو الله ورته وايي، چې ورته ووایه:

((وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ أَنتُم بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ وَأَنَا بَرِيءٌ مِمَّا تَعْمَلُونَ[3]= او که تا دروغجن وګڼي نو ووایه: زما عمل زما لپاره دی او ستاسې کړه ستاسې لپاره دي، څه چې کوم تاسې يې له مسؤولیته خلاص یاست او څه چې کوئ، زه يې له مسوولیته خلاص یم.))

ربښتیا! څوک چې الله لري؛ نو څه به کم ولري ((فَقُلْ حَسْبِيَ اللّهُ[4]))

---

[1] (مائده/۱۰۰)

[2] (انعام / ۳٤)

[3] (یونس /٤۱)

[4] (توبه/۱۲)

د مخالفانو شمتنی او د مؤمنانو بېوزلی وارخطا کړی و، چې الله وويل: ((فَلاَ تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلاَ أَوْلاَدُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ[1]= تا دې د هغوی د شتمنيو او اولادونو (زياتوالی) حيران نه کړي، الله غواړي هغوی په همدې وسايلو په دنيوي ژوند کې په کړاو اخته کړي او د کفر په حال کې يې ساګاني ووځي.))

((وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُواْ مِنْهَا رَضُواْ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْاْ مِنهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ[2]= او له هغوی ځينې د صدقاتو (او د غنيمتونو) په وېش کې پر تا نيوکې کوي، که هغوی ته له دې (غنېمتونو څه برخه) ورکړه شي؛ نو خوښېږي که ور نه کړای شي، غوسه کېږي (حق يې وي يا نه وي)))

د مخالفانو اوږد عمرخپه کړی و، چې الله وويل:

((وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ[3]= (يوازې پر تا ملنډې نه دي وهل شوي) او بېشکه تر تا مخکې هم پر ډېرو پېغمبرانو ملنډې وهل شوې وې خو ما کافرانو ته مهلت ورکړ، بيا مې هغوی ونيول؛ نو څرنګه وه (زما) سزا ؟!))

د خلکو نمښتې- انکار او د يار نه درلودو وارخطا کړی و، چې الله وويل:

((وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلاً قُلْ كَفَى بِاللّهِ شَهِيداً بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ[4]= هغوی چې کافران دي، وايي: ((ته استازی نه يې.)) ووايه: ((چې زموږ او ستاسې ترمنځ الله او څوك چې په کتاب پوهېږي (او پرقرآن هم خبر وي) د شاهدی لپاره بس دی.))

پرکفر يې اندېښنه مه کوه، دومره ارزښتنه نه لري، چې ته پرې خپګان څرګنده کړې.

((وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ[5]= اوکه تاسې د هغه څه په باب شکمن ياست، چې ما پر خپل بنده [= پېغمبر] نازل کړي دي (نو لږ تر لږه) د هغه په څېر يو سورت راوړئ؛ نوکه رښتيا وايئ (ددې کارلپاره له الله پرته) خپل شاهدان راوبلئ.))

مه اندېښنمنېږه، چې دا اندېښمني به دې له نورو کارونو وباسي:

---

[1] (توبه/۵۵)

[2] (توبه/۵۸)

[3] (رعد/۳۲)

[4] (رعد/۴۳)

[5] (بقره/۲۳)

((وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلاَّ بِاللّهِ وَلاَ تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلاَ تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ[1]= او صبر وکړه او ستا صبر دې يوازې الله ته او د الله په توفيق وي او (د چارو) له لامله يې مه خپه کېږه او مه يې پر دسيسو زړه تنگی کېږه.))

مه اندېښمنېږه، چې د هغوی کفر هېڅ تاوان نشي در رسولای:

((إِنَّمَا النَّجْوَى مِنَ الشَّيْطَانِ لِيَحْزُنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْئاً إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ[2] = (د گناه لپاره) پټې خبرې کول، يوازې د شيطان (کار) دی، چې مؤمنان پرې خپه کړي خو د الله له اجازې پرته هغوی ته هېڅ زيان نشي رسولای او مؤمنان نو بايد يوازې پرالله توکل وکړي.))

ولې خپه کېږې تا خو پرې خپله غاړه خلاصه کړې، مه خپه کېږه؛ ځکه چې ځي ځي؛ نوهم ما له به راځي.

((وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ[3]= او څوك چې كافر شي؛ نو د هغه كفر (منل) دې تا غمجن نه كړي (ځكه) بېرته راتگ يې زموږ پر لور دی؛ نو موږ به يې کړنې(او شومې پايلې) ورته په مخ کې کېدو، [ځکه] چې الله د سينو پر پټو رازونو پوه دی.))

بيلابيلو سيمو ته د کفارو تگ راتگ اندېښمن کړی و، قرآن وايي:

((لاَ يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلاَدِ[4]=تا دې په ښارونو کې د کافرانو (بريمن) تگ را تگ هېڅکله ونه غولوي!))

د ځينو تگ اندېښمن کړی و، چې الله وويل:

((أُولَئِكَ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَؤُلاَءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْماً لَيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ[5]=دا هماغوی دي، چې موږ ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړی دی او که (فرضاً) دوی ترې منکرېږي (څه پروا نشته او حق دين بې ملا تړه نه پاتېږي ځکه) موږ به يې نور (داسې) خلك پاسوال کړو، چې منکر ترې نه دي.))

---

[1] (نحل/١٢٧)

[2] (مجادله/ ١٠)

[3] (لقمان / ٢٣)

[4] (آل عمران/ ١٩٦)

[5] (انعام/ ٨٩)

داچې دربانديې د شاعر تور تړي نو مه خپه کېږه؛ ځکه موږ درته شعر نه دی ښوولی او نه درسره شعر ویل ښايي.

((وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ[1]=او موږ هغه (=پیغمبر)ته شعر نه دی ښوولی او نه ورسره (شعر ویل) ښايېږي دا (اسماني کتاب) یوازې پند او ښکاره قرآن دی.))

اندېښمن و، چې خلک به ورته مجنون وايي خو الله وويل: ((مَا أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ[2]= [چې] ته د خپل پالونکي په فضل لېونی نه يې.))

اندېښمن و، چې ولې قرآن یو غیرعرب ته چې له مکې بهر وسېده، نسبت ورکول کېږي.

((وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ لِّسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ وَهَذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُبِينٌ[3]=او په یقین موږ پوهېږو، چې هغوی وايي: ((دا آيتونه کوم انسان ده ته ورښيي.)) (نه داسې نه ده ځکه) د هغه چا ژبه چې دوی ورته اشاره کوي، عجمي ده؛ خو دا (قرآن) څرگنده عربي ژبه ده.))

او وايي، چې محمد د پلاني زدکړيال دی حال دا:

الف: دا به څنگه وشي دوه تنه، چې د یوبل پر ژبه نه پوهېږي؛ نو یو بل ته به څه ورزده کړي؟

ب: دا څنگه وو، چې چا هم په هغه وخت کې یو ځل هم ونه ویل، چې زه د پیغمبر ښوونکی یم.

ج: دا به څنگه وشي هغه خبرې، چې په **۲۳**کالوکې په بېلابېلو شرایطو کې نازلې شوې وې، یو له بل سره اړپېچ- اختلاف نه لري ؟

د: ولې په خپله ښوونکي د نبوت ادعا و نه کړه ؟

ه: داڅنگه شونې ده، هغه مهال څوک داسې خبرې وکړي، چې نن هم پرې ډېر پوهان نه پوهېږي؟

کتاب اړونې او تحریف ته دې مه اندېښمنېږه، چې موږ په خپله درلېږلی او په خپله به يې ساتو.

---

[1] (يس / ٦٩)

[2] (قلم / ٢)

[3] (نحل /١٠٣)

((إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ[1]=په حقیقت کې موږ قرآن پخپله نازل کړی دی او بېشکه موږ یې پاسوالان یو.))
پر خلکو د الهي عذاب له راتګه مه وېرېږه؛ ځکه څو ته پکې یې نوپرعذاب به یې نه کړم او څو خلک استغفار کوي؛ نو زموږ عذاب به ور ونه رسي.
((وَمَا كَانَ اللّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ[2]=خو (پېغمبره!) څو ته یې په منځ کې یې (نو) الله یې نه په عذابوي او (همداراز) تر هغه چې ښښنه غواړي الله به یې عذابونکی نه وي.))
حضرت علی (ک) د رسول الله (ص) تر وفات روسته وویل: ((په ځمکه کې دوه څیزونه د الله له عذاب د خوندېیني لامل ول، یو اخستل شوی؛ خو بل وموميئ او منګولې پرې ولګوئ رسول الله امان و، چې اخستل شوی دی او پاتې امان، له خدایه د ښښنې غوښتنه ده.)) [3]
په روایتونوکې راغلي، چې رسول الله (ص) تر خپلې مړینې روسته د څوڅیزونو په باب اندېښمن و او ویې وویل:
۱ـ هر منافق خوله ور دی. [4]
۲ـ منحرف مشران.
۳ـ د قرآن بې ځایه تاویل. [5]
٤ـ د عالم ښویېدنه. [6]

مخ اړونې

د قرآني احکامو له مخې د رسول الله یو چلن دا و، چې په ځېنې ځایونو کې به رسول الله (ص) مخ اړو او ځینې خلک او یا ډلې به یې په ناسته کې په څرګندنه- اصطلاح باېکاټ کولې او د هغوی سپکاوی به یې کاوه، چې په روایتونو کې هم دا خبره ډېره لیدل کېږي.

---

[1] (حجر / ۹)
[2] (انفال / ۳۳)
[3]. (نهج البلاغه / ۸۸ حکمت)
[4]. (بحارلانوار ۵۴۹/۳۳ – ۹/ ۱۱۰).
[5]. (بحارالانوار ۶۳\۷۲- ۲ | ٤۲).
[6]. (بحارلانوار۷۲/ ۱۵۰).

((وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي ايَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ ان يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلاَ تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ[1]= او چې كله تا وليدل، چې زموږ پر آيتونو ملنډې وهي؛ نو مخ ترې واړوه، تردې چې په نورو خبرو بوخت شي او كه شيطان دا(مخ اړونه) درنه هېره كړه او بيا درياده شوه؛ نو له دې ظالمې ډلې سره به نه كېنې!))

له بديو مخ اړونه او له بدچارو سره منفي مبارزه له بديو د منع يوه لار او پر يوه ښوونځي د غيرت او زړه سوي ښكارندوى ده.

انسان ته پكار نه دي، چې په فاسده ټولنه كې هضم شي؛ بلكې پكار دي، چې ټولنه بدله كړي او كه دا كار يې له لاسه نه كېده؛ نو له هغه ناستې يا سيمې پر وتو او هجرت دې دا باطل كار او خبره وغندي، په حديث كې لولو: له اشرارو سره ناسته پر ښوخلكو د بدگومانۍ لامل دى.

((وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلاَ تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَداً وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ[2] =او څوك چې پر پاكلمنو ښځو (د زنا) تور لگوي، بيا (د خپلې ادعا لپاره) څلور شاهدان رانه ولي نو اتيا دورې يې ووهئ او هېڅكله يې هېڅ شاهدي مه منئ او همدوى فاسقان دي.))

كه څينې آيتونه ټينگار كوي، چې له څينوسره مشوره مه كوئ، واده ورسره مه كوئ، په سفر كې ورسره مه ملگري كېږئ، چې دا ټولې خبرې يې يو ډول ټولنېزكلا بندي كول دي.

((وَعَلَى الثَّلاَثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا ان إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَن لاَمَلْجَأَ مِنَ اللّهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ[3]=او(همداراز) هغه درې تنه يې هم وبښل، چې (د تبوك په جگړه كې له گډونه) پاتې شوي ول(او مسلمانانو ورسره خپلې اړيكې پرې كړې وې) تردې چې پراخه ځمكه پرې تنگه شوه او په ځان پورې پكو شوي وو (نو په دې وخت كې) هغوى وگڼله، چې پناه ځاى يوازې د الله د رحمت لمنه ده، بيا الله پرې خپل رحمت ولوراوه (او توفيق يې ور پر برخه كړ) چې توبه وباسي، بېشكه الله توبه قبلوونكى (او) لوراند دى.))

هغه دريو تنومسلمانانو، چې د تبوک په جگړه كې برخه نه وه اخستې (كعب بن مالک، مراده بن ربيع، حلال بن اميه) پښېمانه شول او عذر غوښتنې لپاره آنحضرت(ص) ته راغلل خو

---

[1] (انعام/٦٨)

[2] (نور/۴)

[3] (توبه/١١٨)

آنحضرت ورسره خبرې و نه کړې او حکم یې وکړ، چې له هغوی او مېرمنوسره دې څوک مړې ژوندی نه کوي. هغوی پر ژړا او استغفار بوخت شول، چې تر پينځوسو ورځو روسته يې الله توبه ومنله.[1]

دا آيت دا پيغامونه راکوي:

۱ـ هغوی چې د مشر له خبرې سرغړونه کوي، سزا دې ورکړه شي او يوې مودې ته ورشا شي. (خُلِّفُوا).

۲ـ غوسه، بې اعتنايي او بايکاټ د سرغړونکيو او مجرمانو روزنې ته يوه لار ده. (وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَن لاَمَلْجَأَ مِنَ اللّهِ).

۳ـ له سرغړونکيوسره منفي مبارزه به ټولنه ورته زندان کړي (ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ).

٤ـ سره له دې چې رسول الله (ص) د الهي رحمت ښکارندوی و خو د يو ښوونکي په توګه کله کله د غوسې له اړمه هم کار اخلي. (وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ)

۵ـ له عذابونو څنې يو هم د وجدان عذاب دی (وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ).

٦ـ له خلکو نهيلي د توبې او الله ته د پام لامل دی. (وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ).

۷ـ د توبې توفيق هم الهي پېرزوينه ده (تَابَ عَلَيْهِمْ)، چې انسان د توبې توفيق پېدا کړي (لِيَتُوبُوا) او همداچې توبه کوي؛ نو بيا يې الله هم توبه مني (إِنَّ اللّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ)

۷ـ د منفي مبارزې تر پړاو روسته د سرغړونکيو بيا رغېدو ته مناسبه فضارامنځ ته کړئ او بيا ورسره پر لورنې چلن وکړئ (تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ).

[1]. (بحارلانوار ۲۱/ ۲۳۷)

## د الله تعالی نالوستی/ أُمّي استازی

د رسول الله د ژوند يو څرګند ټکی دادی، چې نالوستی و او ښوونځي ته نه و تللی او له يوه ښوونکي يې هم زده کړه نه وه کړې.
که مسلمان دی که نامسلمان چا هم و نه ويل چې د الله استازي په کوشنيتوب، ځوانۍ او ان په پوخ عمر کې، چې د رسالت وخت يې و، ليک لوست زده کړی وي او همداراز چا هم نه دي ويلي، چې د رسالت په پير کې يې يوه کرښه لوستې او يا ليکلې وي.
په هغه وخت کې عرب او په تېره د حجاز خلک په ټوليزه توګه نالوستي وو او لوستي پکې د ګوتو په شمېر وو او په عادي بڼه شوني نه وه، چې په دې خلکو کې څوک دا فن زده کړي.
لکه څرنګه چې پوهېږو په راتلونکيو څېړکيو کې به پرې رسڼا هم واچو)په هغه وخت کې رسول الله (ص) تورن شو، چې څه وايي، له نورو کتابونو يې اخستي دي؛ خو داچې ليک لوست يې زده نه و نو دا تور پرې ونلګېد.

### د نورو منښتې

ختيځ پوهان چې د اسلام تاريخ ته د نيوکې په سترګه ګوري، يوه هم د الله د استازي په ژوند کې د ليک لوست ټکی پيدا نه کړ او په دې واقعيت يې منښته کړې ده.
کارلايل په الابطال کتاب کې وايي:
((يوه خبره مو دې له ماغزو ونه وځي او هغه داچې د محمد ليک لوست نه و زده او له هېڅ ښوونکي يې زده کړه نه وه کړې په عربو کې ليک نوی دود شوی و. په آند مې محمد خو له ليک لوست سره آشنا نه و او بې له بېدياني ژونده يې هېڅ هم نه وو زده.))
ويل ډيورانت د تمدن په تاريخ کې وايي:
((ظاهراً هيڅوک په دې فکر کې نه وو، چې (رسول الله) ته ليک لوست ورزده کړي، هغه مهال عربو ته ليک لوست ارزښت نه درلود؛ ځکه په قريشو کې يوازې د اوولسو تنو ليک لوست زده و. معلومه هم نه ده، چې محمد به پخپله څه ليکلي وي او د رسالت پرمهال يې ځانګړی ليکوال درلود؛ خو سره له دې، د عربي تر ټولو بليغ او معروف کتاب يې پر ژبه راغی.[1]

---

۱. ويل دورانت؛ تاريخ تمدن، فارسي ژباړه: يوولسم ټوک، ١٤ مخ.

جان دیون پورت[1] وایي:
((په نړۍ کې د محمد د لیک لوست په هکله معمول ده، چې محمد زده کړه نه وه کړې او بې له هغه یې هم څه نه وو زده، چې په ټبر کې یې دود وو.))
کونستان ویرژیل ګیورګیو[2] لیکي:
((سره له دې چې اُمي و خو پرې په لومړي نازل شوي آیت کې د قلم، پوهې، لیک، لوست او نورو ته د لیک لوست د ښوولو خبره راغلې. په یو ستر دین کې هم معرفت ته دومره ارزښت نه دی ورکړ شوی او هېڅ دین به پېدا نه کړئ، چې په پیل کې یې دومره علم او معرفت ته ازرښت ورکړي. که محمد عالم و نو په غار (حرا) کې به ددې آیتونو په راتګ دومره نه حیرانېده؛ ځکه عالم د پوهې پر ازرښت پوهېږي خو هغه لوستی نه و او له هېڅ ښوونکي یې زده کړه نه وه کړې. مسلمانانو ته مبارکي وایم، چې د دین پیل یې علم او معرفت ته خورا ازرښت ورکړی دی.))
ګوستاولوبون[3] وایي:
((مشهوره ده، چې پېغمبر اُمي و. دا خبره واقعیت ته هم نږدې ده؛ ځکه که د پوهې خاوند و نو د قرآن د مطالبو او فقرو ترمنځ اړیکه به غوره وه او دا خبره هم واقعیت ته نږدې ده که پېغمبر اُمَي نه و نو نوی مذهب یې دود او خورولای نه شو؛ ځکه اُمَي سړی د ناپوهو انسانانو له اړتیاوو ښه خبر دی او ښه کړای شي نېغې لارې ته یې کړي. په هر حال پېغمبر که اُمَي و او که نه و خو دا جوته ده، چې د عقل د مقام لوړ پوړی و.))
داچې ګوستالوبون له قرآني مفاهیمو سره بلد نه دی او آند یې هم توکیز دی؛ نو د قرآن د اړیکې او د ناپوه پر اړتیاوو د عالم د پوهې د عاجزۍ کره خوله خوځوي او د قرآن او رسول الله (ص) سپکاوی کوي؛ خو سره له دې منښته کوي چې داسې لاسوند نشته، چې جوته کړي رسول الله (ص) لیک لوستی و.
د دوی د خبرو له رانقلولو مو مراد پر ویناوو یې استشهاد نه دی. د اسلام د تاریخ په هکله څرګندونو ته مسلمانان تر ختیځ پوهانو غوره دي او د دوی د خبرو له رانقلولو مراد دادی، چې

[1] ((عذر تقصیر به پیشگاه محمد و قرآن: درېم ټوک، ۱۷ او ۱۸ مخونه))
[2] ((محمد پېغمبري که از نو باید شناخت: لومړی چاپ، ٤٥ مخ))
[3] ((تمدن اسلام و عرب، څلورم چاپ، ۲۰ مخ))

که په دې هکله کوشنۍ نښه هم وای نو د نامسلمانو مؤرخانو له سترګو او نیوکو به پټه نه وه پاتې.
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له ابوطالب سره شام ته ولاړ او په دمه ځای کې پرې د بحیرا راهب سترګې ولګېدې، چې دې لیدنې د ختیځ پوهانو پام راواړولی، چې رسول الله په همدې کتنه کې له دې راهبه څه زده کړي دي؟
داسې وړوکې کتنه که دومره د ختیځ پوهانو پام راواړوي؛ نو که د رسول الله (ص) د لیک لوست په باب کوشنۍ نښه هم وه نو نیوکې به یې پرې کړې وای او دا مسئاله به یې ستره کړې وای.
پر مطلب رڼا اچونې ته دې په دوو برخو کې ویېنه وشي:
۱_ تر رسالت مخکې پېر
۲_د رسالت پېر
د رسالت پېر هم باید له دوو نظره وڅېړل شي:
۱_ لیک
۲_لوست
بیا به ووایو: دا څرګنده ده او مسلمان او نامسلمان په یوه خوله دي، چې رسول الله (ص) تر رسالت مخکې له لیک لوست سره کوشنۍ آشنایي هم نه درلوده، د رسالت په پېر کې هم د رسول الله نه لیکل غوښ واقعیت دی؛ خو نه لوستل یې دومره پخه خبره نه ده. د شیعه وو په ځینو روایتونو کې راغلي، چې رسول الله (ص) د رسالت په پېر کې لوست کاوه؛ خو لیک یې نه کاوه، که څه په دې هکله د شیعه وو روایتونه هم یوه خوله نه دي؛ خو له دلایلو او لاسوندونو لاس ته راځي، چې د رسالت په پېر کې یې هم نه لوست کاوه او نه لیک.
تر رسالت مخکې د لیک لوست په هکله د عربستان پر عمومي وضع رڼا اچوو:
تاریخ وایي، چې د اسلام تر راښکاره کېدو مخکې، په عربستان کې لوستي کسان د ګوتو په شمېر وو.

## په حجاز کې د ليک پيدايښت

بلاذري[1] ليکي:

((په لومړي ځل د ((طی)) د ټبر (چې د شام په ګاونډ کې پروت و) درې کسانو (عربي) ليک رامنځ ته کړ او عربي هجاء يې له سرياني سره قياس کړه، چې بيا ((د انبار)) يو شمېر خلکو دا ليک له هغو درې تنو زده کړ او د ((حيره)) خلکو د انبار له اوسېدنکيو زده کړ. ((بشر بن عبدالملک کندي)) د "اکيدر بن عبدالملک کندی " رور و، چې د "دومة الجندل" واکمن او نصراني و، "حيره" ته په راتګ کې عربي خط زده کړ. "بشر" د يو کار لپاره مکې ته ولاړ، چې "سفيان بن اميه" (د ابوسفيان تره) او "ابوقيس بن عبد مناف بن زهره" يې وليدل، چې ليکل کوي؛ نو ترې و يې غوښتل، ليکل ورزده کړي، هغه هم ورزده کړل. بيا بشر له دې دوو تنو سره د تجارت په موخه "طايف" ته ولاړ، چې "غيلان بن سلمه ثقفي" ترې خط زده کړ. بيا بشر له هغه دوو تنو بيل شو او د "مصر" سيمې ته ولاړ، چې "عمرو بن زُرارة" ترې خط زده کړ، چې بيا په "عمروکاتب" مشهور شو، بيا "بشر" شام ته ولاړ او ډېرو ترې خط زده کړ.))

ابن النديم[2] د بلاذري يو څو خبرو ته اشاره کوي: ((ابن النديم له حضرت ابن عباس رضی الله عنه روايت کوي، چې د "بولان" (په انبار کې يو ټبر دی) د ټبر درې تنه وو، چې عربي خط يې وليکه او د "حيره" خلکو ترې زده کړ.))

ابن خلدون هم د خپلې سريزې په ((فی ان الخط و الکتابه من عداد الصنائع الانسانية)) څپرکي کې د "بلاذري" ويناوې راخستې او تاييد کړې يې دي.[3]

بلاذري په سند راويتوي چې په ټوله مکه کې، د اسلام د راښکاره کېدو پرمهال يوازې څو تنه لوستي وو.

وايي: ((اسلام راښکاره شو او په قريشو کې يوازې اوولس تنه پر ليک پوهېدل: عمربن الخطاب، علي بن ابيطالب، عثمان بن عفان، ابوعبيده جراح، طلحه، يزيد بن ابي سفيان، ابوحذيفه بن ربيعه، حاطب بن عمرو عامري، ابو سلمه مخزومي، ابن بن سعيداموي، خالد بن

---

[1] بلاذري د فتوح البلدان په کتاب کې

[2] د الفهرست د ديارلسم مخ د لومړي فن په مقاله کې

[3]. مقدمه ابن خلدون: د ابراهيم حلمي چاپ: ۹۲ مخ)

سعید اموي، عبدالله بن سعد بن ابي سرح، حویطب بن عبدالعزی، ابوسفیان بن حرب، معاویة بن ابي سفیان، جهیم بن الصلت، علاء بن الحضرمي چې د قریشو له هم ژمنو و او پخپله قریش نه و.))

"بلاذري" یوازې د یوې ښځې نوم اخلي، چې د اسلام تر راښکاره کېدو مخکې یې لیکل زده و او هغه ((شفاء)) د "عبدالله عدوي" لور وه. دا ښځه مسلمانه شوه او له لومړیو مهاجرو شمېرل کیږي.

بلاذري وایي: ((دا هماغه ښځه ده، چې د رسول الله (ص) مېرمنې "حفصه بي بي" ته یې لیکل ورزده کړ او یوه ورځ رسول الله (ص) وویل: ((؛ لکه څنګه چې دې "حفصة" ته لیکل وزده کړل، څومره به ښه شي، چې ((رقیة النملة)) ته یې هم ورزده کړې.))

بیا بلاذري د څو مسلمانو ښځو نومونو هم راخلي، چې د اسلام په پېر کي یې لیک لوست او یا یوازې لوست کاوه. وایي: ((د رسول الله مېرمنې حفصې بي بي لیکلای شول. "ام کلثوم" د "عقبة بن ابي معیط" (له لومړنۍ مهاجرو وه) هم لیکل. "عایشې" د "سعد" لور ته وویل: پلار مې راته لیکل ښوولي وو. د "مقداد" لور کریمې هم لیکل. "عایشې بي بي" او "ام سلمې بي بي" لوستلای شول؛ خو لیک یې نه شو کولای.))

بلاذري بیا د هغو کسانو نومونه رااخلي، چې په مدینه کې د رسول الله (ص) لیکوال وو. بیا لیکي: د اسلام له راتګ سره، د ((اوس)) او ((خرزج)) د ټبرونو یوازې یوولس تنه پر خط پوهېدل او نومونه یې هم راوړي دي.

نو څرګندیږي، چې د حجاز چاپېریال ته د خط هنر نوی راننوتی و او په داسې وخت کې به لیکوال خورا مشهورېده. د اسلام له راښکاره کېدو سره سم، په مکه او یثرب دواړو کې د ګوتو په شمېر خلکو لیک لوست زده و، چې نومونه یې په تاریخ کې دي؛ نو که د رسول الله (ص) هم لیک لوست زده و نو هرومرو به یې نوم و نو داچې نوم یې د لوستو په نوملړ کې نشته؛ نو جوتیږي، چې لیک لوست یې نه و زده.

## د رسالت پېر او په تېره د مدينې پېر

له لاسوندونو په ګوتو کېږي، چې رسول الله د رسالت په پېر کې نه ليکل او نه لوستل خو اسلامي عالمان (شيعه او سني) دواړه په دې هکله يوه خوله نه دي؛ ځکه ځينو استبعاد کړی، څنګه کېدای شي، وحې (چې هر څه يې ورښوول) ليک لوست ورزده نه کړ؟ [1]

د شيعه وو په څو روايتونو کې راغلي، چې رسول الله (ص) د رسالت پرمهال لوستلای شو خو ليکل نه[2].

((پر رسول الله د الله له منتونو يو دا و، چې لوستلای يې شو خو ليکلای يې نه. د ابوسفيان چې اُحد ته مخه شوه؛ نو د رسول الله (ص) تره عباس ورته ليک واستاوه، ليک چې ور و رسېد، رسول الله (ص) د مدينې د شاوخوا په يو بڼ کې و، رسول الله (ص) ليک ولوست خو اصحاب يې د ليک له مضمونه خبر نه کړل؛ نو حکم يې وکړ، چې ټول ښار ته ولاړ شئ همداچې ټول ښار ته ولاړل له موضوع يې خبر کړل. [3]))

خو د "زيني دحلان" په سيرة کې د حضرت"عباس د ليک پېښه د "علل الشرايع" د روايت پرخلاف رانقلوي:

((همداچې د عباس ليک راورسېد؛ نو رسول الله ټاپه يې پرانسته او "ابی بن کعب" ته يې لوستو ته ورکړ. کعب ليک ولوست او رسول الله وويل: دا خبره پټه وساته. بيا رسول الله (ص) خپل مشهور صحابي "سعد بن ربيع" ته ورغی او د "عباس" د ليک موضوع يې ورسره شريکه کړه و يې ويل: دا خبره پټه وساتي.)) [4]

ځينې ګروهن دي، چې رسول الله (ص) د رسالت په پېر کې هم ليکل او هم لوستل.

سيد مرتضی له بحارالانواره په نقل وايي: ((شعبي او يوه ډله د علم خاوندان ګروهن وو، چې د رسول الله (ص) ليک لوست زده و.)) [5]

---

[1]. (بحار: نوی چاپ: شپاړسم ټوک، ۱۳٤ مخ)

[2] (هماغه سرچينه)

[3] چې د صدوق روايت دی او د علل الشرايع په ۱۳۳ مخ کې راغلي دي

[4]. سيرة زيني دحلان د سيره حلبيه په حاشيه کې: دويم ټوک، ۲٤ مخ)

[5]. بحار: نوی چاپ، شپاړسم ټوک، ۱۳۵ مخ او همداسې: مجمع البيان: د عنکبوت د سورت تر ٤۸ آيت لاندې.

سيد مرتضی پخپله د دوات او قلم په مشهور حديث استناد کوي، وايي: ((په معتبرو روايتونو کې راغلي، چې رسول الله (ص) د ژوند په روستيو شېبو کې وويل: قلم او دوات راوړئ، چې داسې څه درته وليکم، چې تر ما روسته بيخي بې لارې نشئ.)) [1]

د دوات او قلم پر حديث استناد، سمه خبره نه ده؛ ځکه دې حديث نه ده سپينه کړې، چې د الله استازي غوښتل پخپل لاس يې وليکي. که فرض کړو، چې غوښتل يې په ډله کې چاته حکم وکړي، چې وليکي او هغوی شاهدان ونيسي او د شاهدانو په صفت ترې لاسليک واخلي بيا هم د ((غواړم درته داسې څه وليکم، چې بېخي بې لارې نشئ)) تعبير سم دی. په ادبي څرګندنه کې دې ډول تعبيرونو ته ((مجازي اسناد)) وايي، چې مجازي اسناد د فصاحت وجه ده او په عربي او نورو ژبو کې دود ده.

### د رسول الله (ص) ليکوالان

له نصوصو او اسلامي معتبرو سرچينو را په ګوته کېږي، چې رسول الله (ص) په مدينه کې ليکوالان درلودل، چې دې ليکوالانو به الهي وحې، د رسول الله ويناوې، له مشرکانو او کتابيانو سره د رسول الله (ص) تړونونه او ژمنې ليکلې.

پر الهي وحې سربېره، د رسول الله (ص) د خولې هغه ويناوې هم شته چې ليکل شوې وې. د رسول الله (ص) ډېر ليکونه او تړونونه هم په تاريخ کې ثبت شوي دي.

"محمد بن سعد[2]" د رسول الله (ص) سلو ته نږدې ليکونه ثبت کړي دي، چې نورو واکمنانو ته يې کښلي وو او همداسې د رسول الله (ص) حکمونه او قوانين هم پکې دي. په دې ليکونو کې ډېر معلوم دي، چې د چا په لاس ليکل شوي دي؛ ځکه ليکونکي په پای کې خپل؛ نوم کښلی او دا سنت "ابی بن کعب" دود کړ، چې د ليک په پای کې ليکوال خپل؛ نوم وليکي.

دا يو تړون او ليک هم رسول الله پخپل؛ نوم نه و ليکلی؛ يعني يو ځای به هم پيدا نه کړئ، چې ويل شوي به وي پلانی ليک پخپله رسول الله (ص) ليکلی دی او پردې سربېره، په يو ځای کې به هم و نه وينې، چې د قرآن پلانی آيت پخپله د الله استازي کښلی وي، حال دا د وحې ليکوالانو هر يو پخپله قرآن ليکلی و نو آيا دا شونې ده، د رسول الله (ص) به ليک زده وي او پخپل خط به قرآن و نه ليکي؟!

---

[1]. (بحار: نوی چاپ: شپاړسم ټوک، ۱۳۵ مخ)

[2] "الطبقات الکبير" د دويم ټوک په (۱۰_۳۸)

د تاريخ په کتابونو کې د رسول الله (ص) د ليکوالانو نومونه راغلي دي.
((د الله د استازي ليکوالان، چې ليکونه او تړونونه يې ليکل دادي: علي بن ابيطالب، عثمان بن عفان، عمرو بن العاص، معاوية بن ابي سفيان، شُرحبيل بن حسنه، عبدالله بن سعد بن ابي سرح، مغيره بن شعبه، معاذ بن جبل، زيد بن ثابت، حنظلة بن الربيع، ابي بن کعب، جهيم بن الصلت او حصين النميري[1].))
"مسعودي[2]" لږ په تفصيل خبره کړې، چې دې ليکوالانو بېلابېله دنده درلوده او ښيي دې ليکوالانو تردې هم پراخ کار درلود او تشکيلات، نظم او د کار وېش يې درلود.
وايي: ((خالد بن سعيدالعاص د الله د استازي ليکوال و، چې د متفرقه اړتياوو ليکوال و همداسې مغيرة بن شعبه، حصين بن نمير، عبدالله بن ارقم او علاء بن عقبه د خلکو تړونونه ليکل. زبير بن العوام او جهيم بن الصلت د ماليانو او صدقاتو د کتابونو ليکوالان وو. حذيفه بن اليمان د حجاز د ((حرازي)) د ليکلو دنده درلوده. معيقيب بن ابي فاطمه دوسي د غنايمو د ليکلو دنده درلوده. زيد بن ثابت انصاري واکمنانو او پاچايانو ته د ليکونو ليکلو دنده درلوده او همداسې د الله د استازي د ژباړن دنده يې هم درلوده، چې په فارسي، رومي، قبطي او حبشي هم پوهېده، چې دا ټولې ژبې يې په مدينه کې د همدې ژبو له ويونکيو زده کړې وې. حنظلة بن الربيع به د پورتنيو ليکوالانو په نه شتون کې د هغوی دنده سرته رسوله او په ((ليکوال حنظله)) مشهور شوی و. حنظله د دويم خليفه د فتوحاتو پرمهال ((رها)) ته ولاړ او هملته ومړ. عبدالله بن سعد بن ابي سرح هم څه موده ليکوال و خو بيا مرتد شو او له مشرکانو سره يوځای شو. شرجبيل بن حسنه طابخي، ابان بن سعيداو علاء بن الحضرمي هم ليکوالي کړې وه. معاويه بن ابي سفيان د رسول الله (ص) تر مړينې يوازې څو مياشتې مخکې ليکوالي کړې وه. دوی هغه کسان دي، چې رسماً ليکوالان وو خو داسې کسان شته، چې يوه اوونۍ او دوه اوونۍ ليکوالي يې کړې ده، چې په رسمي ليکوالانو کې نه شمېرل کيږي.
مسعودي دلته د حضرت علي کرم الله وجهه، حضرت عبدالله بن مسعود(رض) او حضرت ابي بن کعب (رض) په څېر کسانو نومونه نه دي راوړي، چې د وحې او رسمي تړونونو ليکوالان وو؛ لکه چې غوښتل يې د داسې کسانو نومونه راوړي، چې د وحې پر کتابت سربېره يې بله دنده نه درلوده.

---

[1] يعقوبي، تاريخ د دويم ټوک په ٦٩ مخ
[2] "التنبيه و لاشراف" په ٢٤٥او ٢٤٦مخونوکې

په تاريخونو کې کښل شوي، چې ډلې ډلې به رسول الله (ص) ته راغلل او له رسول الله يې نصيحت غوښته، چې همدا نصيحوته به په هماغه او يا تر غونډې روسته ليکل کېدل.
بيا هم په تاريخونو کې نه ليدل کېږي، چې رسول الله (ص) خلکو ته ليکلي نصيحتونه او يا خپلې ويناوې ورکړې وي؛ نو ښکاره ده که د رسول الله (ص) په لاس ليکل شوی نصيحت او وينا وه نو مسلمانانو به په ستر وياړ ځان او خپلې کورنۍ ته ساته؛ لکه چې د حضرت علي کرم الله وجهه او د دولس ګونو امامانو د ليکنو په هکله شوي، چې لارويانو يې د تبرک او وياړ لپاره تر وسه ساتلي دي.
د "زيد بن علي بن الحسين" او "يحيی بن زيد" مشهوره پېښه او د((صحيفه سجاديه)) د ساتنې څرنګوالی يې ژوندی ګواه دی.
ابن النديم[1] په زړه پورې کيسه رانقل کړې ده:
((د کوفې له محمد بن الحسين سره آشنا شوم، چې په "ابن ابي بعره" مشهور و. ستر کتابتون يې درلود، چې ما نه و ليدلې او له يو کوفي شيعه يې ترلاسه ته کړی و او په زړه پورې خو دا وه، چې په هر کتاب او پاڼه کې کښل شوي وو، چې د چا په خط ده او ځينو علماوو شهادت هم ورکړی و، چې پلانی خط د چا دی. په هغه کتابتون کې د امام حسن بن علي او امام حسين بن علي د لاس ليکونه هم ساتل کېدل او همداسې د حضرت علي کرم الله وجهه او د رسول الله (ص) د نوروکاتبانو د لاس ليکنې وې.)) [2]
نو د رسول الله (ص) د ځيناستيو لاسليکنې، چې په دومره تبرک او وياړ ساتل کېږي؛ نو د رسول الله (ص) خو لا خپل ځای دی.
د رسالت په پېر کې د رسول الله (ص) د ليک خبره د نه منلو ده؛ خو د لوست خبره يې پرېکنده نه شو ردولای، که څه پاخه دلايل ورته نه لرو خو ډېر لاسوندونه ښيي، چې په دې پېر کې رسول الله (ص) لوست هم نه شو کړای.

## د حديبيه پېښه

د رسول الله (ص) په ژوند کې داسې پېښې شته، چې ښيي په مدينه کې يې هم نه لوستل او نه ليکل، چې د حديبيې پېښه يې يوه بېلګه ده، چې مطلب ښه څرګندولی شي.

---

[1] الفهرست د لومړي فن په دويمه مقاله کې
[2]. الفهرست: ٦٧مخ او د مصر د الاستقامة د مطبعې چاپ)

پر شپږم هجري کال د ذی القعده په میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د حج او عمرې په موخه له مدینې څخه د مکې پر لور ووت نو حکم یې وکړ، چې د قربانۍ اوښان هم په نښه او را روان یې کړئ خو همداچې د "حدیبیه" سیمې ته ورسېدل قریش خنډ شول او مکې ته د مسلمانانو د ننوتو مخه یې ونیوه. سره له دې چې حرامه میاشت وه او قریشو ان د جاهلیت د دود له مخې حق نه درلود مخه یې ونیسي او پخپله رسول الله (ص) هم ورته څرګنده کړه، چې یوازې د الله د کور زیارت ته راغلي او تر زیارت روسته بېرته ستنېږو خو قریشو ورسره و نه منله. مسلمانانو غوښتل په زور مکې ته ننوځي خو رسول الله (ص) وویل، چې د مکې او کعبې درناوی دې وساتل شي؛ نو هوکړه وشوه، چې د مسلمانانو او قریشو ترمنځ دې تړون وشي.

د تړون د لیکلو پرمهال د تړون مادې رسول الله (ص) ویلې او حضرت علي کرم الله وجهه لیکلې. رسول الله (ص) وویل: ولیکه: بسم الله الرحمن الرحیم. د قریشو استازي "سهل بن عمرو" نیوکه وکړه، و یې ویل: دا ستاسې شعار دی او موږ یې نه منو ولیکه: بسمک اللهم. رسول الله (ص) ورسره ومنله او علي(ک) ته یې وویل: همغسې یې ولیکه چې وایي. بیا یې وویل: دا هغه تړون دی، چې د ((محمد رسول الله)) او ((قریشو)) ترمنځ تړل کېږي. د قریشو استازي بیا نیوکه وکړه، و یې ویل: د الله استازی دې نه ګڼو یوازې لارویان دې د الله استازی ګڼي او که د الله استازی مو ګڼلې نو جګړه مو درسره نه کوله او مکې ته به مو پرېښې وې؛ نو نوم او د پلار نوم دې ولیکه. رسول الله وویل: که د الله استازی مې وګڼئ که نه د الله استازی یم. بیا یې علي کرم الله وجهه ته یې حکم وکړ، چې ولیکه: دا هغه تړون دی، چې د ((محمد بن عبدالله)) او ((قریشو)) ترمنځ تړل کېږي.

دلته مسلمانان غوسه شول؛ نوځکه تاریخي نقلونه پکې اړپېچ لري.

د ابن هشام له سیرته او له صحیح بخاري[1] را په ګوته کېږي، چې دا درز هغه مهال راپیدا شو، چې رسول الله (ص) ومنله، چې د ((رسول الله)) پرځای ((محمد بن عبدالله)) ولیکي؛ خو له ډېرو نقلونو را په ګوته کېږي، چې دا نیوکې هله پیل شوې، چې حضرت علي کرم الله وجهه دا ټکی لیکلی و او رسول الله (ص) له حضرت علي (ک) وغوښتل چې پاک یې کړي؛ خو حضرت علي (ک) وویل: په ځان کې مړانه نه وینم، چې له نومه مو د ((رسول الله)) ټکی وران کړم.

---

[1] صحیح بخاري ((باب الشروط فی الجهاد و المصاحة مع اهل الحرب))

دلته بيا نقلونه بېلابېل دي: شيعي روايتونه يوه خوله دي چې: د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم له نومه د ((رسول الله)) د ټکي له پاکولو، چې علي کرم الله وجهه نټه وکړه؛ نو د الله استازي پخپله پاک کړ او بيا علي(ک) وليکل: ((محمد بن عبدالله.)) په ځينو شيعه وو او د اهلسنتو په ځينو روايتونو کې راغلي، چې د الله استازي له علي وغوښتل، چې په تړون کې ورته د ((رسول الله ټکی)) وښيي، چې بيا حضرت علي کرم الله وجهه په تړون کې د رسول الله مبارکه گوته د ((رسول الله)) پر ټکي کېښووله او بيا پخپله د الله استازي د ((رسول الله)) ټکی پاک کړ او بيا حضرت علي (ک) يې پرځای ((محمد بن عبدالله)) وليکه نو ليکونکی حضرت علي (ک) و نه پخپله رسول الله (ص)؛ بلکې د شيعه وو او اهلسنتو د روايتونو له مخې رسول الله (ص) ليک لوست نه کاوه.

د ابوبکر عتيق نيشابوري سورآبادي قصص قرآن، چې له خپل تفسيره يې راټول کړی او په پينځمه پېړۍ کې په پارسي چاپ شوی، د حديبيه پېښه رانقلوي: ((. . . . . تردې چې د قريشو استازي سهيل بن عمرو د ((رسول الله)) پر ټکي نيوکه وکړه او وايي:

سهيل بن عمرو وويل: ((هذا ما صالح عليه محمد بن عبدالله سهيل بن عمرو.)) رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم علي ته وويل: پاک يې کړه. علي زړه و نه کړ، چې پاک يې کړي، که څه رسول الله (ص) حکم کوي؛ خو علي سرغړونه کوي. رسول الله (ص) وويل: گوته مې پرې کېږده، چې پخپله يې پاک کړم؛ ځکه پاک نبي لوستی نه و. علي پرې گوته کېښووله او رسول الله پاک کړ او علي هغه وليکل، چې سهيل ويلي وو.))

يعقوبي هم پخپل تاريخ کې ليکي: ((رسول الله علي (ک) ته حکم وکړ، چې د ((رسول الله)) پرځای ((ا بن عبدالله)) وليکي.

(رسول الله (ص) وويل:) ((فارنی مکانها)) فاراه مکانهافمحاها و کتب ابن عبدالله. علي ته يې وويل، چې ټکی راوښيه، علي وروښود، رسول الله (ص) پاک کړ او محمد بن عبدالله يې وليکه. [1]

په دې روايت کې له يوه اړخه ليکي، چې رسول الله (ص) د ((رسول الله)) د ټکي په پاکولو کې له علي (ک) مرسته وغوښته او بلخوا وايي، چې پېغمبر د ((رسول الله)) ټکی پاک او ((ابن عبدالله)) يې وليکه. کېدای شي په پيل کې داسې گومان وشي، چې تر پاکولو روسته پخپله

[1] (صحيح مسلم: پينځم ټوک، ۱۷۴ مخ)

رسول الله وليکل خو پخه خبره ده، چې د حديث د راوي مطلب دادی، چې علي (ک) وليکل؛ ځکه په حديث کې راغلي، چې رسول الله د ((رسول الله)) ټکي پاکولو ته له علي (ک) مرسته وغوښته.

له طبري تاريخ، د ابن اثير له کامل او د صحيح بخاري د باب الشروط او نورو روايتونو په ګوته کيږي، چې دويم ټکی پخپله رسول الله وليکه؛ ځکه ليکلي يې دي: ((فاخذه رسول الله وکتب))؛ يعنې رسول الله له علي واخست او پخپله يې وليکه.

د طبري او ابن اثير په عبارت کې يوه غونډله اضافه ده: ((فاخذه رسول الله و ليس يحسن ان يکتب فکتب د الله استازي له علي واخست او حال دا ليکل يې نه وو زده، و يې ليکل.))

د طبري او ابن اثير روايت ټينګار کوي، چې د الله استازي ليکل نه شو کړای خو په حديبيه کې يې استثناً وليکل.

کېدای شي دا روايت د هغو نظرتاييد کړي، چې وايي: که رسول الله (ص) په الهي ښوونو غوښتل، چې وليکي نو ليکلای شول؛ خو نه يې ليکل؛ لکه څنګه چې هېڅکله شعر يې و نه وايه او ان د بل شعر يې هم و نه لوست او که غوښتل يې د بل چا کوم بيت شعر ووايي نو ((حل)) کاوه يې؛ يعنې د شعر د پيل او پای ټکي يې زياتول او کمول، چې د شعر له حالته ووځي؛ ځکه الله شعر د رسول الله د مقام وړ نه ګانه:

((وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلاَّ ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ [1]=((او موږ هغه (= پېغمبر) ته شعر نه دی ښوولی او نه له هغه سره (شعر ويل) ښايېږي دا (اسماني کتاب) يوازې پند او ښکاره قرآن دی.))

په اسدالغابة کې د تميم بن جراشه ثقفي تر احوال لاندې ترې روايتوي، چې ټينګار کوي رسول الله ان د رسالت په پېر کې هم نه ليکل او نه لوستل:

((زه او د ثقيف يوه ډله رسول الله ته ورغلو او اسلام مو راووړ او ترې مو وغوښتل، چې تړون راسره لاسليک کړي او شرطونه مو ومني. رسول الله وويل: څه چې غواړئ، و يې ليکئ او را يې وړئ.)) غوښتل مو ربا او زنا ته مو ازاد پرېږدي؛ نو داچې پخپله مو ليک نه شو کړای؛ نو علي بن ابيطالب ته ولاړو علي (ک) چې وليدل داسې شرط لرو نو له ليکلو يې ډډه وکړه؛ نو له خالد بن سعيد بن العاص نه مو وغوښتل. علي وويل: پوهېږې، چې د څه ليکلو غوښتنه درنه کوي؟ و يې ويل: زما پکې څه کار دی؟ څه يې چې وويل، و به يې ليکم بيا يې چې رسول

[1] (يس: ٦٩)

الله (ص) ته یوسي نو رسول الله پخپله پوهېږي، چې څه وکړي. خالد ولیکل او لیک مو رسول الله ته یووړ. پېغمبر یو کس ته حکم وکړ، چې و یې لولي نو همداچې د ربا ټکي ته ورسېد، و یې ویل: د ربا پر ټکي ګوته کېږدئ او هغه هم د الله د استازي ګوته د ربا پر ټکي کېښووله او رسول الله (ص) پخپل لاس د ربا ټکی پاک کړ او بقري د سورت ۲۷۸ آیت یې ولوست ((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِینَ = ایمانوالو! د الله (د حکم له مخالفته) ووېرېږئ او که مؤمنان یاست، پر خلکو چې ستاسې کوم سود پاتې دی، هغه ور پرېږدئ.)). د آیت اورېدو مو روح او ایمان نور هم غښتلی کړ و مو منله، چې ربا و نه خورو. هغه سړي چې لیک لوسته د زنا ټکي ته چې ورسېد بیا پېغمبر هغه ټکی پاک کړ او د اسراء سورت ۳۲ آیت یې ولوست: [ وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِیلاً= او زنا ته مه ورنژدې‌کېږئ (؛ ځکه) چې دا ډېر ناوړه کار دی اوبده لار ده! ].

**هېښنده ادعا**

پر ۱۳٤٤ ل په ایراني خپرونو کې راغلل، چې ډاکټر سید عبدالطیف د هندوستان د اسلامي څېړنو دآکادمۍ رئیس او همداسې د هندوستان او د ختیځ د فرهنګي څېړنو د انستیټیوټ مشر، د هند په یوه اسلامي غونډه کې د خپلې وینا په ترڅ کې ادعا کړې، چې د رسول الله ان د رسالت تر پېر مخکې هم لیک لوست زده و.

ډاکټر سید عبدالطیف ادعا کړې وه:

۱_ د ((اُمي)) له ټکي د مفسرانو غلط تفسیر لامل شوی، چې ویل کېږي رسول الله (ص) نه لیک کاوه او نه لوست. دا ټکی د پېغمبر په هکله د اعراف سورت په ۱۵۷ او ۱۵۸ آیت کې راغلی.

((الَّذِینَ یَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي یَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِیلِ یَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَیَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَیُحِلُّ لَهُمُ الطَّیِّبَاتِ وَیُحَرِّمُ عَلَیْهِمُ الْخَبَآئِثَ وَیَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَیْهِمْ فَالَّذِینَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[1] = هغوی چې (د الله د استازي، "اُمي " پېغمبر لاروي وکړي، چې د هغه (نوم او ځانګړنې) په خپل تورات او انجیل کې لیکلي مومي (هماغه پېغمبر، چې) دوی ته د غوره چارو (پر ترسره کولو) امر کوي او له ناوړه چارو یې منع کوي، دوی ته پاك څیزونه حلالوي او

---

[1]. (اعراف: ۱۵۷)

ناپاك ورته حراموي او د دوی (له اوږو او غاړو) درانه پېټي او ځنځيرونه لرې کوي؛ نو هغوی چې پرې ايمان راوړي او درناوی او مرسته يې وکړي او په هغې رڼا پسې ولاړ شي، چې له ده سره نازله شوې ده (نو) همدوی بريالي دي.)))

((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِـي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ[1]=: (ورته) ووايه: ((خلکو! زه تاسې ټولو ته د هغه الله استازی يم، چې د اسمانو او ځمکې واکمني يې ده، بې له هغه بل معبود نشته، همدا يې ژوندي کوي او مړه کوي؛ نو پر" الله " او پر هغه پېغمبر او نالوستي استازي يې ايمان راوړئ، چې په الله او د هغه په کلمو (او ښوونو) ايمان لري او ددې پېغمبر لاروي وکړئ، چې سمه لار ومومئ.))

سيد عبدالطيف وايي: مفسران گومان کوي چې د ((اُمي)) معنا نالوستی دی، حال دا د ((اُمي)) معنا دا نه ده.

۲_ په قرآن کې داسې نور آيتونه شته، چې په ډاگه کوي د الله استازي هم ليک کاوه او هم لوست.

۳_معتبرو احاديثو او تاريخي نقلونو هم د رسول الله پر ليک لوست د تاييد ټاپه لگولې ده.

دا د نوموړي ادعاوې دي، چې موږ به په ترتيب دا درې برخې تر کره کتنې لاندې ونيسو.

۱_آيا د رسول الله (ص) پر نالوستۍ دليل د ((اُمي)) د ټکي تفسير و؟

دا ادعا بې بنسټه ده، چې وايي د رسول الله (ص) د نالوستۍ دليل د ((اُمي)) د ټکی تفسير و؛ ځکه:

لومړی داچې د عربو او مکې تاريخ لووی دی، چې رسول الله (ص) نالوستی و؛ لکه مخکې مو هم ورته اشاره وکړه، چې د اسلام له راښکاره کېدو سره سم، د گوتو په شمېر کسانو ليکل زده وو او د چاچې دا هنر زده و نو مشهورېده او ټول په تاريخ کې ثبت دي؛ خو په تاريخ کې چا هم د رسول الله (ص) ليک لوست نه دی ثبت کړی. فرضاً که په قرآن کې دې مطلب ته اشاره نه وه شوې؛ نو مسلمانان اړ وو، چې د تاريخ د حکم له مخې ومني، چې پېغمبر يې نالوستی و.

دويم: د اعراف د سورت پر آيتونو سربېره، په قرآن کې نور آيتونه هم شته، چې د رسول الله (ص) پر نالوستۍ ټينگار کوي؛ لکه:

---

[1] (اعراف: ۱۵۸ آيت)

((وَمَا كُنتَ تَتْلُو مِن قَبْلِهِ مِن كِتَابٍ وَلاَ تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذاً لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ[1]= (او تا هېڅکله تردې له مخه، نه کوم کتاب لوسته او نه دې په خپل ښي لاس څه ليکل(حال دا که لوستل او ليکل دې کړای شول؛ نو) باطل آندي (دقرآن په اړه) شکمنېدل.))

دا آيت په غوڅه وايي، چې رسول الله (ص) تر رسالت مخکې ليک لوست نه کاوه او اسلامي مفسرانو هم دا آيت همداسې تفسير کړی دی؛ خو ډاکټر عبدالطيف ادعا کوي، چې ددې آيت په تفسير کې هم تېروتي ياست او وايي، چې په آيت کې د ((کتاب)) ټکی سپېڅليو کتابونو؛ لکه تورات او انجيل ته اشاره ده او ادعا کوي: ته د قرآن تر نزول مخکې له هېڅ سپېڅلي کتاب سره آشنا نه وې؛ ځکه دا کتابونه په عربي نه وو او که هغه کتابونه دې لوستي وو، چې په عربي نه وو؛ نو تورلګوونکيو به درباندې شک کاوه.

دا ادعا سمه نه ده. په عربي کې ((کتاب)) د فارسي پرخلاف، د مطلق ليکنې په معنا دی که ليک وي او که دفتر، سپېڅلی او اسماني وي او که ناسپېڅلې او غېر اسماني. په قرآن کې دا ټکی څو څو ځل تکرار شوی دی:

کله هغه ليک ته کارېږي، چې د دوو تنو ترمنځ وي؛ لکه چې د سبا د ملکې په هکله راغلي دي:

((قَالَتْ يَا أَيُّهَا المَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ[2]= (ملکې سبا) وويل: (((د هېواد) مشرانو! ما ته يو ارزښتمن ليك راغورځول شوی دی))

((إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ[3]= بېشکه هغه د سليمان له لوري دی او (مضمون يې دا) دی: د لوراند (او) لورين څښتن په نا مه))

((وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لاَ يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمْ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ وَلاَ تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِن بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ[4] = (او هغوی چې نکاح يې په وس کې نه وي (نو) بايد پاکلمني وسي، چې الله له خپل فضله يې شتمن کړي او ستاسې له مريانو، چې څوك د ليکلي تړون له مخې

[1] (عنكبوت: ٤٨ آيت)

[2] (نمل/٢٩)

[3] (نمل/٣٠)

[4] (نور: ٣٣)

د ځان ازادي غواړي نو ور سره د ازادېدو تړون وليکئ، که تاسې ته دا معلومه وي، چې په هغو کې خير (تر ازادېدو روسته د خپلواك ژوند وسه) شته او له الله درکړې شتمنی، ورته څه ورکړئ او خپلې وينځې، چې پخپله پاك لمني غواړي نو د دنيوي گټو لپاره يې زنا ته مه اړباسئ او څوك چې هغوی (زنا ته) اړباسي نو تردې اړ ايستنې روسته الله اړشويو ته ښه بښونکی (او) لوراند دی.)))

((وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ[1] =او (له حسه د پټو سرچينو) کونجيانې يوازې له هغه سره دي، چې بې له هغه بل څوك پرې نه پوهېږي او څه چې په وچې او لمدې کې دي، الله پرې خبر دی او هره پاڼه، چې رالوېږي، پر هغې (هم) خبر دی او هر دانه چې د ځمکې په تپو تيارو کې پټېږي او ټول لانده او وچ په څرگندکتاب [=د الله د علم کتاب ] کې ليکل شوي دي.)))

په قرآن کې له دې ټکي سره چې د ((اهل)) ټکی يو ځای شي؛ نو ((کتابيان)) ويل کېږي، چې ځانگړي مقصد ته کارېږي.

کتابيان؛ يعني د آسماني يو دين لارويان. د نساء سورت په ۱۵۳ آيت کې وايي:

((يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِّنَ السَّمَاء فَقَدْ سَأَلُواْ مُوسَى أَكْبَرَ مِن ذَلِكَ فَقَالُواْ أَرِنَا اللّهِ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ثُمَّ اتَّخَذُواْ الْعِجْلَ مِن بَعْدِ مَا جَاءتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَلِكَ وَآتَيْنَا مُوسَى سُلْطَانًا مُّبِينًا)= (کتابيان له تا غواړي له اسمانه په يوه ځل کتاب پرې نازل کړې (حال دا دا يوه پلمه ده) هغوی له موسی تردې هم سترې غوښتنې کړې وې او ويلي يې وو: ((په ښکاره الله راوښيه!)) او د همدې ظلم له لامله (خو) پرې تندر را ولوېد بيا هغوی (د سامري) خوسی خپل معبود ونيو حال دا ښکاره نښې يې ليدلې وې خو موږ له دې ورتېر شو(او ومو ښښل) او موږ موسی ته څرگند دليل اوحکم ورکړ.)))

په دې آيت کې د کتاب ټکی دوه ځل راغلی يو ځل د ((اهل)) له ټکي سره او بل ځل يوازې راغلی دی، هلته چې د ((اهل)) ټکی ورسره يوځای شوی مطلب ترې آسماني کتاب دی او هلته چې يوازې راغلی معنا يې ساده ليک دی.

پردې سربېره د ((ولا تخطه بيمينک)) غونډله پخپله قرينه ده، چې مطلب يې دی: تا نه لوستل او نه ليکل او که ليک لوست دې زده و نو تورن کړی به يې وې، چې دا هر څه دې له بل ځايه

---

[1] (انعام: ۵۹)

راختستي او ليکلي دي؛ نو تا چې نه ليکلای شول او نه لوستلای نو تور لګولو ته ځای نه دی پاتې.

خو که مطلب دا وي، چې تا سپېڅلي کتابونه؛ ځکه نه دي ويلي، چې په نورو ژبو وو؛ نو د آيت معنا به دا وي:

((تا به پخوا په نورو ژبو نه لوستل او نه به دې ليکل)) چې ؛ البته سمه معنا نه ده.

په دې آيت کې د ((تتلوا)) ټکی کارول شوی، چې د ((تلاوت)) له مادې دی. په ((مفردات)) کې د راغب د وينا له مخې، د ((قرآئت)) پرخلاف، چې عمومي ده، تلاوت د سپېڅليو آيتونو لوستو ته کارېږي؛ نو که څه د ((کتاب)) ټکی له سپېڅلي او ناسپېڅلي عمومي دی؛ خو د((تتلوا)) ټکی د سپېڅليو آيتونو قرآئت ته ځانګړی دی.

خو ظاهرا ددې علت، چې دلته يې د ((تتلوا)) ټکی کارولی دادی چې پر قرآن وويینه ده او د ((مشاکله)) له پلوه، چې له ((بديعيه صنايع)) څخه دی د نورو څيزونو د قرآئت په هکله هم دا ټکی کارول شوی داسې به وي؛ لکه چې داسې يې ويلې وي: ته اوس قرآن لولې خو تر قرآن مخکې دې يوه ليکنه هم نه لوسته.

بل آيت، چې د رسول الله (ص) نالوستي راښيي د شورى سورت ۵۲ آيت دی:

((وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَنْ نَّشَاء مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ = لکه څنګه (چې موږ مخکېنيو پېغمبرانو ته وحې لېږلې وه) نو موږ تا ته په خپل امر روح (د قرآن په بڼه) وحې کړ، (او که نه) ته نه پوهېدې، چې کتاب او ايمان څه دي (او د قرآن له منځپانګې خبر نه وې) خو هغه مو يوه رڼا کړه، چې خپلو بندګانو ته (چې وړ يې وبولو) پرې سمه لار ورښيو او په رښتيا ته (خلکو ته) د سمې لارې پر لوري ښوونه کوې.))

دا آيت وايي: ته تر وحې مخکې له کتاب او ليکنې سره آشنا نه وې؛ ځکه ډاکټر عبدالطيف ددې آيت ذکر نه دی کړی. کېدای شي ووايي چې په دې آيت کې هم د ((کتاب)) له ټکي مراد، سپېڅلي کتابونه دي چې په عربي نه وو. ځواب هماغه دی چې په تېر آيت کې مې وويل.

اسلامي مفسران د هغه دليل له مخې، چې موږ ته څرګند نه دی، وايي: له کتابه مراد قرآن دی؛ نو ددې تفسير پر بنسټ، دا آيت له اړوند استدلاله وتلی دی.

درېيم داچې اسلامي مفسران کله هم د ((اُمي))ټکي مفهوم ته يوه خوله نه وو، حال دا تر رسالت مخکې، د رسول الله (ص) نالوستی ته يوه خوله دي.

## د ((اُمّي)) ټوليز مفهوم

اسلامي مفسرانو ((اُمي)) درې ډوله تفسير کړی دی:

**١_نالوستی او له ليک سره ناآشنا**

ډېری ددې نظر پلويان دي او يا ورته غوراوی ورکوي. ددې نظر پلويانو ويلي: دا ټکی ((ام)) ته منسوب دی، چې د مور پر معنا دی. اُمي؛ يعنې نوی زيږېدلی کوشنی، چې د پوهې له پلوه پخپلو بشري معلوماتو ولاړ وي يا ((اُمي)) د هغه انسان په معنا دی، چې (؛ لکه) له موره زيږېدلی وي او وضع يې د لوست ليک له پلوه تغيير نه وي کړې او؛ لکه څنګه چې د زوکړې په لومړيو ورځو کې پر لوست ليک لاسبر نه و پر هغه حال پاتې وي او دا اصطلاح په ((درې او پښتو)) کې هم د ((درس ناويلي)) پر معنا ده او يا ((امت)) ته منسوب دی؛ يعنې څوک چې د ډېری خلکو په عادت وي؛ ځکه ډېری پر ليکلو نه پوهېدل او ډېرو لږو ليکلای شول. ((عامي)) هم هغه ته وايي، چې د عامو خلکو په څېر وي او ناپوه وي.[1]

ځينو ويلي چې د ((امت)) د ټکي يوه معنا خلقت دی او ((اُمي)) هغه ته وايي، چې (نالوستی) پر ړومبني حالت پاتې وي او د ((اعشی)) پر شعر يې استناد کړی دی[2].

په هر حال که له ((ام)) که له ((امت)) نه اخستل شوی وي او ((امت))، چې په هره معنا وي؛ نو ددې ټکي معنا نالوستی دی.

**٢_اهل ام القری**

ددې نظر پلويان دا ټکی ((ام القری))؛ يعنې مکې ته منسوبوي. د انعام په **٩٢** آيت کې مکه په ((ام القری)) تعبير شوېده:

((وَهَـذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ يُحَافِظُونَ = (او دا يو مبارك كتاب دی، چې موږ نازل کړی دی (او) تردې دمخه د راغليو کتابونو تاييدونکی دی (هغه مې راولېږه چې خلکو ته پرې

[1] (وګورئ: د راغب مفردات: د ((ام)) تر ټکي لاندې او همداسې: مجمع البيان: د بقرې سورت تر ٧٨ آيت لاندې)

[2] (وګورئ: مجمع البيان: د بقرې سورت تر ٧٨ آيت لاندې).

د الهي مكافاتو زېرى وركړي) او د ام القرى [=مكه] او شاوخوا اوسېدونكي ووېروې. (يقين وكړه) څوك چې پر اخرت ايمان لري؛ نو په دې (كتاب هم) ايمان راوړي او پخپلو لمونځونو پابند دي.)))

دا احتمال هم له پخوا د تفسير په كتابونو كې راغلى دى[1].

او د شيعه وو په څو روايتونو كې هم دا نظر تاييد شوى، كه څه پخپله دا روايتونو معتبر نه دي پېژندل شوي او ويل شوي چې اسرائيلي ريښه لري[2].

دا احتمال په پخو دليلونو رد شوى دى[3].

يو داچې د ((ام القرى)) ټكى ((خاص اسم)) نه دى او پر مكې د ((عام صفت په نامه، نه په ((خاص اسم)) اطلاق شوى دى.

ام القرى؛ يعنې د ((كليو)) مركز. هغه ځاى ته ام القرى وايي، چې د كليو مركز وي.

د قصص سورت له ۵۹ آيته جوتېږي، چې دا ټكى وصفي عنوان لري نه اسمي:

((وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَى حَتَّى يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا رَسُولاً يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَى إِلاَّ وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ= (او ستا پالونكى هېڅكله تر هغې د ښارونو او اباديو ويجاړوونكى نه و، څو په مركز كې يې يو استازى راپاڅوي، چې زموږ آيتونه ورته ولولي او موږ يوازې هغه ښارونه او ابادۍ ړنګوو، چې اوسېدونكي يې ظالمان وي.)))

معلومېږي، چې د قرآن په ژبه كې هرې هغې سيمې ته ((ام القرى)) ويل كېږي، چې د همغې سيمې مركز وي.

بل داچې په قرآن كې دا ټكى هغوى ته هم اطلاق شوى، چې د مكې اوسېدونكي نه وو. د آل عمران سورت په ۲۰ آيت كې وايي:

((فَإنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ وَالأُمِّيِّينَ أَأَسْلَمْتُمْ فَإِنْ أَسْلَمُواْ فَقَدِ اهْتَدَواْ وَّإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلاَغُ وَاللّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ =نو كه دوى درسره شخړه كوي (نو ته ورسره مجادله مه كوه او) ووايه: ((زه او زما لارويان الله (اوحكم) ته (يې) تسليم يو.)) او كتابيانو[ = يهود او نصارى ] او نالوستو [ =مشركانو ]ته ووايه: ((ايا تاسې هم تسليم

[1] (وګورئ: مجمع البيان: د آل عمران تر ۷۵او اعراف تر ۱۵۶ آيت لاندې او همداسې امام فخر رازي پخپل تفسير كې د اعراف سورت تر ۷۵ آيت لاندې. )

[2] (وګورئ: مجله استان قدس: دويمه ګڼه)

[3] (هماغه سرچينه)

شوي ياست ؟)) نو كه (د حق منطق او حكم ته) تسليم شي، سمه لار به و مومي او كه سرغړونه وكړي (نو مه خپه كېږه ځكه) چې پر تا يوازې (د سمې لارښوونې) د تبليغ (ژمنه) ده او الله د (خپلو) بندگانو (دكړنو او گروهو) لېدونكى دى.))
نو معلومېږي، چې د هغې ورځې په عرف او د قرآن په وخت كې، ټولو بېديا مېشتو عربو ته ((اميين)) ويل كېږي، چې د يو آسماني كتاب لارويان نه وو.
پردې سربېره دا ټكى هغه يهودو ته هم كارول شوى، چې نالوستي وو او معلومات يې نه درلودل، سره له دې چې كتابيان شمېرل كېدل؛ لكه چې د بقرې سورت په ۷۸ آيت وايي:
((وَمِنْهُمْ أُمِيونَ لاَ يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلاَّ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَظُنُّونَ=او په دوى كې يوه ډله عوام دي، چې د الله كتاب يوازې يو لړ خيالونه او هيلې گڼي او يوازې يې پر خپلو گومانونو زړه تړلى دى.))
ښكاره خبره ده، چې هغه يهود د مكې نه وو او ډېرى په مدينه او شاوخوا كې يې مېشت وو، چې قرآن ورته ((اُمي)) ويلي دي.
درېيم: كه يو ټكى ام القرى ته منسوب وي؛ نو د ادبي قاعدې له مخې بايد، د ((اُمَي)) پرځاى ((قروي)) وويل شي؛ ځكه د ((صرف)) په علم كې د نسبت د باب د قاعدې له مخې، د مضاف او مضاف اليه په نسبت كې، هلته چې مضاف ((اب))، ((ام))، ((ابن)) او يا ((بنت)) وي؛ نو مضاف اليه ته نسبت وركول كېږي نه مضاف ته؛ لكه چې په ابوطالب، ابوحنيفه، بني تميم، طالبي، حنفي او تميمي كې ويل كېږي.

**۳_مشرک عرب، چې د اسماني کتاب لارويان نه وو:**

دا نظريه هم له پخوا په مفسرانو كې وه. مجمع البيان دا نظريه په ستر مفسر صحابي حضرت عبدالله بن عباس پورې تړي، چې د آل عمران سورت په ۲۰ آيت كې، چې د ((اميين)) ټكى د ((اهل كتاب)) پر وړاندې راغلى (وقل للذين اوتوا الكتاب و الاميين) او د بقرې سورت تر ۷۸ آيت لاندې له ابوعبيده نقلوي او د آل عمران سورت له ۷۵ آيته گوتو ته راځي، چې پخپله طبرسي همدا معنا د آيت په مفهوم كې انتخاب كړې. زمخشري په كشاف كې هم همدا آيت او د آل عمران سورت ۷۵ آيت همداسې تفسير كړى. فخر رازي دا احتمال د بقرې سورت تر ۷۸ آيت او د آل عمران سورت تر ۲۰ لاندې رانقلوي.
خو حقيقت دادى، چې دا معنا له ړومبۍ معنا بېله معنا ده؛ يعنې داسې نه ده، چې هغوى ته اُمي ويل كېږي، چې د يو آسماني دين لارويان نه وي، كه څه لوستي وي.

دا ټکی؛ ځکه مشرکو عربو ته اطلاق شوی، چې نالوستي وو؛ ځکه نو هلته چې دا ټکی د جمع په بڼه راغلی او مشرکو عربو ته اطلاق شوی دا احتمال یاد شوی؛ خو هلته، چې مفرد راغلی او پر رسول الله اطلاق شوی نو یو مفسر هم دا خبره نه ده کړې، چې مقصد یې دادی، چې حضرت محمد(ص) د یو آسماني کتاب لاروی هم نه و.

هلته دوه احتماله دي: یو داچې رسول الله (ص) پر خط نه پوهېده او بل د مکې و نو دويم احتمال مو په پخو دلیلونو رد کړ؛ نو حضرت محمد(ص) ته؛ ځکه اُمي ويل کېږي، چې لیک لوست یې نه و زده.

له سپېڅلیو کتابونو سره نا آشنایي، ددې ټکي مفهوم ته څلورم احتمال دی. دا هماغه احتمال دی، چې ډاکټر سید عبدالطیف له ځانه راایستلی او کېدای شي له هغې درېیمې معنا سره یې ګډ کړی وي، چې ومو ویل.

عبدالطیف وایي:

((په قرآن کریم کې د((اُمي)) او((امیون)) ټکي په بېلابېلو ځایو کې کارول شوی؛ خو تل او په هر ځای کې یوازې یوه معنا ترې اخستل کېږي. د ((اُمَي)) ټکی اصلاً په لغت کې د نوي زیږېدلي کوشنی په معنا دی، چې د مور له ګېډې زیږېږي او د ژوند همدې حالت ته په اشاره د ((اُمي)) ټکی یې هغه چاته تعبیر کړی، چې لیک لوست نشي کړای. د ((اُمي))ټکی همداسې د هغه چا په معنا دی، چې په ((ام القری)) کې ژوند کوي. ام القری؛ یعنې د ښارونو مور پلازمېنه او غټ ښار او دا هغه صفت دی، چې د رسول الله (ص) د وخت عربان مکې ته قایل وو.

د ((اُمي)) ټکی یوه بله معنا هم لري او هغه چاته کارول شوی، چې له پخوانیو ((سامي)) متنو سره آشنا نه و او کتابوال نه و.

قرآن د ((امیيون)) ټکی تر اسلام مخکې عربانو ته هم کارولی، چې سپېڅلی کتاب یې نه درلود او د تورات او انجیل لارویان هم نه وو او د ((اهل کتاب)) د ټکي پر وړاندې کارول شوی دی.

حال دا د ((اُمي)) ټکی دومره بېلابېلې معناوې لري معلومه نه ده، چې ولې مسلمان او نامسلمانو مفسران او ژباړونکیو ترې ((د سترګو او غوږ تړلي کوشنی معنا اخستې ده)) او په نالوستي او ناپوه یې تعبیر کړې ده او په پایله کې تر اسلام مخکې د مکې خلک یې هم امیيون او نالوستي ښوولي دي.))

لومړی داچې له پخوا اسلامي مفسرانو د ((اُمي)) او ((امیون)) ټکي درې ډوله تفسیر کړي او د ډاکټر سید عبدالطیف په څېر یوازې په یوې معنا پورې نه دي نښتي.
دویم: چا هم نه دي ویلي، چې د ((اُمي)) ټکی د سترګو او غوږ تړلي کوشنی په معنا دی، چې په ترخ کې معنا یې نالوستي وي. دا ټکی بیخي نوي زیږېدلي ته نه کارول کیږي؛ بلکې هغه پوخ عمري انسان ته ویل کیږي، چې د لیک لوست له پلوه په داسې حالت کې وي، چې له موره زیږیدلی وي.
د منطق د علماوو په اصطلاح کې د ((عدم و م؛ لکه)) مفهوم لري. اسلامي منطقینو د منطق په کتابونو کې تل دا ټکی د ((عدم و م؛ لکه)) د بېلګې تر عنوان لاندې راوړی دی.
دریيم: دا هم ناسمه ده، چې ووایوددې ټکي معنا له سامي متنو سره د نه اشنایي په معنا دی. د اهل لغت د مفسرینو د وینا له مخې، دا ټکی د جمع په حالت (امیین) کې د کتابیانو پر وړاندې، مشرکو عربو ته؛ ځکه کارول کیږي چې نالوستي وو او ظاهراً چې دا ریتونکی عنوان ورته یهود او مسیحیانو ورکړی و.
ناشونې ده چې هغو خلکو ته د امیین ټکی وکارول شي چې پخپله ژبه لیک لوست کولی شي؛ خو له بل کتاب او ژبې سره اشنایي و نه لري؛ ځکه په هر حالت کې ددې تفسیر له مخې، ددې ټکي ریښه ((ام)) یا ((امت)) دی او له موره د زوکړې د حالت معنا رارسوي.
په تېرو مخونو کې مو ورته اشاره وکړه، چې ولې ددې ټکي ریښه((ام القری)) نه ده پېژندل شوې.
نو ددې هندي عالم حیرانتیا بېځایه ده.
زموږ د ادعا پخلی هغه کتابونه کوي، چې په روایتونو کې ددې ټکي معنا یوازې ((نالوستی)) دی. رسول الله (ص) وایي: ((نحن امة امیة لانقرو و لا نکتب= موږ اُمي قوم یو چې نه لوست کوو او نه لیک. [1]))
ابن خلکان[2] د محمد بن عبدالملک چې په ((ابن الزیات)) مشهور و او د معتصم او متوکل وزیر و، په شرح کې لیکي:
((هغه پخوا د عباسي خلیفه معتصم لیکوال و او د وزارت چارې د "احمد بن شاذی بصري" پر غاړه وې. یوه ورځ معتصم ته لیک راغی، چې وزیر ورته لوست. په لیک کې د ((کلاء))

[1] (بحارالانوار: شپاړسم ټوک، ۱۱۹ مخ)
[2] ابن خلکان(تاریخ: څلورم ټوک)

ټکی راغلی و. معتصم هم چې له معلوماتو برخمن نه و، له وزير يې وپوښتل: کلاء څه ده؟ وزير هم پرې نه پوهېده. معتصم وويل: ((خليفة أُمي و وزير عامَي))؛ يعنې نالوستی خليفه او ناپوه وزير. بيا يې حکم وکړ چې يوليکوال راشي. ابن الزيات راغی. دا ټکی يې له هغو ټکيو سره معنا کړ چې دې ټکي ته يې معنا نږدې وه، چې د همدې ټکي معنا د ابن الزيات د وزارت سريزه شوه.))

٢_ آيا له قرآنه په ګټنې ويلی شو چې د رسول الله ليک لوست نه و زده؟

ډاکټر سيد عبدالطيف د آل عمران سورت، د١٦٤ آيت په راوړلو سره وايي: په قرآن کې راغلي چې رسول الله (ص) ليک لوست کاوه.

((لَقَدْ مَنَّ اللّهُ عَلَى الْمُؤمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ = په رښتيا الله پر مؤمنانو احسان کړی [= ستر نعمت يې پرې لورولی]، چې دهغو يو تن يې استازی ورولېږه چې د هغه آيتونه پرې ولولي او پاك يې کړي (او وده ورکړي) او د (الله) کتاب او حکمت وروښيي او ؛ البته تردې د مخه هغوی په څرګنده بې لارۍ کې وو.))

ډاکټر سيد عبدالطيف وايي: ((د قرآن سپنه وينا ده چې د پيغمبر ړومبی دنده داده چې قرآن خپلو لارويانو ته ورزده کړي هغه چې نورو ته ښوونه کوي بيا هم د قرآن د وينا له مخې، چې وکړای شي قلم وکاروي يالړ ترلږه څه چې قلم کښلي وي، ولولي.))

دا هېښنده استدلال دی:

لومړی داچې ټول مسلمانان يوه خوله دي، چې تر رسالت مخکې، رسول الله نه ليک او نه لوست کاوه او ډاکټر سيد عبدالطيف غواړي چې ددې پرخلاف خبره پر کرسۍ کېنوي. دا استدلال حداکثر دومره دی چې رسول الله (ص) د رسالت په پېر کې ليک لوست کاوه؛ لکه څنګه چې د سيد مرتضی او شعبي او.... عقيده وه نو د ډاکټر سيد عبدالطيف ادعا نه ثابتېږي.

دويم: د رسالت د پېر له نظره هم دا استدلال نيمګړی دی.

سمه ده چې نويو زده کوونکيو ته د رياضي، فزيک او..... ښوولو ته، قلم او کاغذ ته اړتيا وي؛ خو د حکمت، اخلاقو، حلالو او حرامو ښوونه، چې د پيغمبرانو دنده ده، قلم و کاغذ ته اړتيا نه لري.

((مشائين)) ته به يې؛ ځکه دا ټکی کاروه، چې ښوونکي به د ګرځېدو په حالت کې ښوونه کوله ؛ البته هغه زده کوونکي چې غواړي يو څه ضبط کړي؛ نو په کار ده چې و يې ليکي؛

نوځکه د الله استازي تل سپارښتنه کوله چې ويناوې دې ضبط او وليکل شي ويل يې: ((پوهه په بند کې کړئ)) وپوښتل شو: څرنگه؟ و يې ويل: ((و يې ليکئ.[1]))

رسول الله (ص): ((الله دې هغه خوشحاله کړي چې زما خبره اوري، ضبطوي يې او هغوی ته يې رسوي چې نه يې وي اورېدلې.[2]))

روايت دی چې د الله استازي درې ځل پرلپسې وويل: ((خدايه! پر ځايناستيو مې ولورېږې.

وپوښتل شو: د الله استازيه! ځايناستي مو څوک دي؟ و يې ويل: هغوی چې تر ما روسته راځي اوزماويناوو سنت مې زده کوي او نورو ته يې ورښيي.[3]))

نبوي حديث دی: ((پر مور و پلار د اولاد له حقونو دي چې ښه نوم پرې کېږدي، ليک لوست ورزده کړي او چې بالغ شو واده ورته وکړي.[4]))

قران کريم وايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلاَ يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّهُ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّهَ رَبَّهُ وَلاَ يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا فَإن كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لاَ يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء أَن تَضِلَّ إْحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى وَلاَ يَأْبَ الشُّهَدَاء إِذَا مَا دُعُواْ وَلاَ تَسْأَمُوْاْ أَن تَكْتُبُوْهُ صَغِيراً أَو كَبِيراً إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ اللّهِ وَأَقْومُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلاَّ تَرْتَابُواْ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلاَّ تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوْاْ إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَلاَ يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلاَ شَهِيدٌ وَإِن تَفْعَلُواْ فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّهُ وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ[5] = ايمانوالو! چې کله مو په پور تر يوې ټاکلې مودې پورې يو له بل سره راکړه ورکړه (اومعامله) کوله؛ نو ويې ليکئ او بايد ليکوال ستاسې ترمنځ (د معاملې سند) د عدالت له مخې وليکي او هېڅ ليکوال ته نه ښايي چې له ليکلو ډډه وکړي؛ لکه څنگه چې الله ورته ورښوولي نو بايد و يې ليکي او پر چاچې حق وي، (د معاملې خبره) دې وايي او هغه (ليکوال) دې يې ليکي او

[1] (وگورئ: بحار نوی چاپ: دويم ټوک، ۱۵۱ مخ)
[2] (کافي: لومړی ټوک، ۴۰۳ مخ)
[3] (بحار الانور نوی چاپ: دويم ټوک، ۱۴۴ مخ)
[4] (وسائل: درېيم ټوک، ۱۳۴ مخ)
[5] (بقره: ۲۸۲)

له خپل پالونکې دې ووېرېږي او له هغه (حق) دې هېڅ نه کموي او که پور اخستونکی کم عقل يا (له عقلي پلوه) کمزوری (او لېونی) وي يا (د ګونګيتوب له لامله) خبرې (او بيان) نشي کولای نو پرځای دې يې ولي (واکوال) د عدالت له مخې خبرې (او ورپسېن) وکړي، بيا دې له خپلو دوه تنه (عادل) نارينه (پردې حق) شاهدان ونيسي او که دوه سړي نه وي؛ نو يو سړی او دوې ښځې دې وټاکي چې د دواړو خواوو پرې خوښه او ډاډ وي (او بايد دواړه ښځې يو ځای شاهدانې وي) که يوه يې هېره کړي، بله يې ورته ورياده کړي او شاهدانو ته چې د شاهدۍ ويلو وويل شي؛ نو انکار دې نکوي او د لږ يا ډېر پور له ليکلو مه خوا بدي کېږئ (هر څه چې وي و يې لېکئ) او دا (ليکل) مو د الله پر وړاندې پوره انصاف، شهادت ته مرستندوی او د شك (او شخړو) د مخنيوي لپاره (احتياط ته) ډېره نژدې (خبره) ده؛ خو که پخپلو کې مو سوداګري، لاس په لاس وي؛ نو د سند د نه ليکلو يې څه باك نشته او په (هر حال کې) چې کله هم راکړه ورکړه کوئ؛ نو شاهدان ونيسئ او نه ښايي چې ليکوال او شاهد ته (دحق ويلو له لامله) زيان ورسېږي (او زور زياتی پرې وشي) او که داسې مو وکړل؛ نو دا ستاسې له سرغړونو ده او (ځانونه مو) د الله له (عذابه) وساتئ او (په دې توګه) الله تاسې ته ښوونه کوي او الله پر هر څه پوه دی.))

نو د الله او رسول الله د سپارښتنې له مخې، مسلمانان بايد د خپل دين د آثارودساتلو، د اولاد د حق ادا کولو او ددنيوي چارو سمبالښت ته، د ليک لوست زده کړې ته ملا وتړي.

په تاريخ کې راغلي چې رسول الله (ص) په فديه اخستو، د بدر د جګړې بنديان ازاد کړل، ځيني چې بېوزلي وو، بې فديې ازاد شول او د ځينو چې ليک لوست زده و ورسره تړون و شو، چې که هر يو د مدينې لسو کوشنيانو ته ليک لوست زده کړ؛ نو ازاد به شي.[1]

هو! رسول الله (ص) دومره ټينګار درلود چې دا هنر په مسلمانانو کې دود شي او د ليک لوست زده کړې ته مخه کړي؛ خوله دوی يو هم نه ايجابوي چې رسول الله (ص) دې د خلکود لاروښوونې لپاره ليک لوست ته اړتيا ولري.

ډاکټر سيد عبدالطيف وايي:

[1] (وګورئ: تاريخ الخميس: لومړی ټوک، ۳۹۵ مخ او همداسې: السيرة الحلبية: دويم ټوک، ۲۰٤ مخ)

الله د سورت په پیل کې قلم او لیکل یاد کړي؛ نو آیا دا ښکاره دلیل نه دی چې د رسول الله (ص) لیک لوست زده و. . . ؟ځنګه کېدای شي چې رسول الله (ص) پخپله خلک لیک لوست ته هڅوي؛ خو پخپله یې ورته پام نه وي، حال دا په هر کار کې مخکښ و.
داهم هېښنده استدلال دی:
البته دا آیت راښیي چې الله او استازی یې بشر ته د لیک لوست پر ارزښت پوهېدل خو دا آیتونه دلیل نشي کېدای چې الله له لیک لوست، قلم و کاغذ سره سروکارلري نه رسول الله(ص).
ډاکټر سید عبدالطیف وایي: ((پیغمبر به چې هر حکم؛ نو په پلي کولو کې به یې تر ټولو مخکښ و نو ځنګه یې دا حکم کړی او پخپله یې پرې عمل نه دی کړی؟))
د ډاکټر دا خبره دې ته ورته ده چې ووایو یو طبیب چې رنځور ته نسخه او درمل ورکوي؛ نو لومړی یې باید پخپله وخوري خو که دا طبیب دې درملو ته اړتیا و نه لري؛ نو بیا؟
باید ووینو چې آیا رسول الله (ص) هم د نورو خلکو په څېر لیک لوست ته اړتیا درلوده او بیا یې پخپل حکم عمل و نه کړ یا پیغمبر ځانګړې وضع لري او دا اړتیا نه لري.
رسول الله (ص) په عبادت، تقوا، راستی، پاکی، ښه خوي، ولسواکی او نورو ښو اخلاقو کې تر ټولو مخکښ و؛ ځکه دا هر څه ورته کمال وو چې نه درلودل یې نیمګړتیا وه خو د سواد درلودل ورته داسې نه وو.
سواد؛ ځکه بشر ته خورا ارزښت لري، چې وکړای شي یو د بل له معلوماتو ګټه واخلي، خپل معلومات له پوپنا کېدو او هېرېدو وساتي. د سواد درلودل له دې نظره د ژب پوهنې په څېر دي د انسان چې څومره ژبې زده وي د نورو له معلوماتو ګټه اخستنې ته به ډېرې وزلې په لاس کې ولري.
په ژبه پوهېدل او سواد درلودل واقعي علم نه دی خو د علم کونجي ده. علم هغه دی چې انسان هغه حقیقت او قانون ته ورسي چې په هستی کې واقعیت لري. طبیعي علوم، منطق اوریاضیات علوم دي؛ ځکه په دې علمونو کې بشر د بهرني څیزونو او ذهن ترمنځ یوه واقعي، تکویني، علیَ او معلولي اړیکه برسېره کړې ده؛ خو ژبپوهنه او د ژبې قواعد علم نه دی؛ ځکه موږ د څیزونو ترمنځ له واقعي اړیکې نه خبروي؛ بلکې یوازې له یو لړ اعتباري تړونو مو خبروي، چې په دې چارو پوهېدل د علم کونجي ده او پخپله علم نه دی.
هو! د همدې اعتباري تړونو په ترڅ کې یو لړ واقعي بهیرونه رامخې ته کیږي؛ لکه د ټکیو یو ځای کېدل چې د افکارو تکامل دی او د یو طبیعي قانون له مخې منځ ته راځي.

البته پرهغو طبيعي قوانينو ځان پوهول، د فلسفې او علم برخه ده؛ نو د سواد ارزښت په دې کې دی چې انسان د نورو د پوهې کونجي په لاس کې ونيسي.

اوس بايد پوه شو چې آيا د علم د لاس ته راوړو يوازېنۍ طريقه داده چې انسان د نورو د پوهو کونجي په لاس کې ونيسي؟ آيا رسول الله (ص) بايد د بشر له پوهې ګټه واخلي؟ که داسې وي؛ نو نبوغ او نوښت چېرې ولاړ؟ اشراق او الهام څه شو؟ له طبيعته نبغ په نېغه پوهه څه شوه؟ د مشهور فرانسوی حکيم "دکارت" چې يو لړ مقالې خپرې شوې او د شهرت اوازه يې په هر ځای کې خپره شوه او نوې خبرې يې په هر ځای کې وستايل شوې؛ نو يو له هغه کسانو چې د دکارت مقالې يې لوستې وې او د ډاکټر سيد عبدالطيف په څېر يې ګومان کاوه چې دکارت هم د کتابونو او نسخو خزانې ته لاس رسی پيدا کړی او خپل ټول معلومات له هغه ځايه لاس ته راوړي نو د دکارت ليدو ته ورغی او ترې وېې غوښتل، چې خپل کتابتون وروښيي نو دکارت دا سړی هغه کوټې ته بوت چې پکې يې خوسی څيرې کړی و ا ورته يې وويل: دا دی زما کتابتون! زه خپل معلومات له دې کتابونو اخلم.

الله ښښلي علامه سيدجمال الدين افغاني به ويل: ((هېښنده ده چې ځينې انسانان کلونه په څراغونو د نورو د کتابونو په لوستو بوخت وي؛ خو يوه شپه يې همدا څراغ مطالعه نه کړ که يوه شپه کتاب بند کړي او څراغ مطالعه کړي؛ نو پراخه او ډېر معلومات به لاس ته راوړي.))

څوک هم عالم نه زيږيږي. ټول خلک ړومبی ناپوهه او بيا يو څه عالمان شي او په سم تعبير: بې له خدايه هر څوک پخپل ذات کې ناپوهه دي او د نورو په اسبابو او ځواکونو عالمان کېږي هر څوک ښوونکي؛ يعني يوه ځواک ته اړين دی چې الهام ورته وکړي. الله د رسول الله په هکله وايي:

((أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى. وَوَجَدَكَ ضَالاًّ فَهَدَى. وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى [1] ايا يتيم يې نه وې موندلې نو (چې بيا) يې (ځای او) پناه درکړه؟!او ته يې ورک شوې موندلی وې؛ نو (بيا) يې درته لار وښوده. او ته يې تنګلاسی موندلی وې؛ نو شتمن يې کړې.))

خو خبره په ښوونکي کې ده چې څه او څوک وي؟ آيا انسان بايد يوازې له بل بشره پوهه زده کړي؛ نو لازم ده چې د نورو د پوهې کونجي (سواد) ولري. آيا انسان پخپله دومره نه دی چې نوښتګر شي؟ آيا انسان نشي کړای، چې بې د نورو انسانانو له اړتيا د طبيعت او خلقت کتاب

[1] (ضحی/٨-٦)

وځېږي ؟ آیا انسان هومره مقام او درجه نه لري چې غیب او ملکوت سره په اړیکه کې شي او الله نبغ په نېغه ښوونکی يې شي. قرآن کریم د رسول الله (ص) په هکله وايي:
((وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى. عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى[1] = او هغه د ځاني غوښتنو له مخې نه غږېږي. (؛ بلکې) خبرې يې يوازې وحې ده، چې ورته وحې کېږي. هغه ته پیاوړي ځواکمن [=جبرئيل امين] ورښوولي دي))
حضرت علي کرم الله وجهه[2] د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په هکله وايي:
((هغه مهال چې کوشنی و او نوی له تي غوځ شوی و د ساتنې دنده يې الله سترې پرښتې ته ورکړې وه، چې نیک خویونه به يې ورښوول.))
ابن خلدون پخپله مشهوره مقدمه کې د ((فی ان الخط و الکتابة من عداد الصنائع الانسانیة)) په څېرکي کې وايي: خط له دې لامله کمال دی، چې د بشر ژوند ټولنيز دی او وګړي يو د بل معلوماتو ته اړين دي. بيا په تمدنو کې د خط د تکامل بهير بیانوي او بیا د حجاز په چاپېريال کې د خط پيدا کېدو ته اشاره کوي او وايي:
((په صدر اسلام کې خط له تخنیکي اړخه لومړي پړاونه تېرول او د اصحابو خطونه له نیمګړتياوو تش نه وو خو روسته تابعينو او اخلافو هماغه رسم الخط د تبرک لپاره د قرآن کریم په کتابت کې حفظ کړ او يا داچې ځينې رسم الخطونه د قاعدې پرخلاف وو؛ نو د قرآن کریم ځینې ټکي په ځانګړي رسم الخط پاتې شول.))
بيا وايي: ((فني او عملي کمالونه؛ لکه رسم الخط چې نسبي اړخ لري او د ژوند په اسبابو او وسايلو پورې اړه لري، بايدله مطلقو کمالونو سره اشتباه نشي، چې نه درلودل يې د انسان په انسانيت کې نیمګړتیا وي.))
ابن خلدون بيا د رسول الله (ص) د ((اُمي)) توب خبره اوڅار کوي چې د خبرې نچوړ يې دادی: ((پیغمبر اُمي و. اُمي توب ورته کمال و؛ ځکه خپله پوهه يې له پورته اخستې وه خو موږ ته اُمي توب نیمګړتیا ده؛ ځکه چې له ناپوهۍ سره مو مساوي ده. [3]))

---

[1] (نجم/۳-۵)
[2] د نهج البلاغ په ۱۰۹ خطبه کې
[3] وګورئ: د ابن خلدون مقدمه، د ابراهیم حلمی چاپ، ٤۹٤ او ٤۹٥ مخونه.

بل آیت چې ډاکټر سید عبدالطیف پرې استناد کړی د ((لم یکن)) د سورت دویم او درېیم آیتونه دي چې وايي: ((ډېره حېرانونکې خبره ده چې د قرآن مفسرانو او ژباړونکیو دې آیت ته پام نه دی کړی چې د حضرت محمد(ص) په وصف کې راغلی چې وايي: ((رسول من الله یتلوا صحفاً مطهرة))؛ یعنې محمد د الله پېغمبر چې سپېڅلې پاڼې لولي. باید پام وکړو چې په دې آیتونو کې نه دي ویل شوي چې رسول الله (ص) دا صحېفې له خپلې حافظې رانقل کړي؛ بلکې څرګنده شوې چې دا صحیفې له مخې لولي.))

ددې استدلال ځواب به هله روښانه شي چې په پورتینو ټکیو کې د دوو ټکیو ((صحیفه)) او ((یتلوا)) معنا روښانه شي.

((صحیفه)) د پاڼې پر معنا ده او ((صحف)) يې جمع ده. له دې غونډلې سره د آیت معناچې روسته يې وايي: ((فیها کتب قیمة)) داده: پېغمبر هغه سپېڅلې پاڼې خلکو ته لوستې چې پکې رښتیا او پایښتي لیکنې دي.

له دې پاڼو مراد هماغه څېزونه دي، چې د قرآن کریم آیتونه به پرې لیکل کېدل؛ نو مطلب يې دادی چې پېغمبر به خلکو ته قرآن لوسته.

د ((یتلوا)) ټکی د تلاوت له مادې دی. هېڅ سند نشته چې ووايي: تلاوت له مخې لوستو ته وايي. د اهل لغت د ویناو له مخې، د ((قرآئت)) او ((تلاوت)) د کارولو د ځایو په هکله بایدووایم چې هره خبره کول، قرآئت او تلاوت نه دی. قرآئت او تلاوت هله وي چې خبره د متن وي، که له مخې وویل شي او که له یاده. د بېلګې په توګه: د قرآن ویل، قرآئت او تلاوت دی، که د مصحف له مخې وي او که له یاده او ددې دواړو ټکیو ترمنځ یو توپیر دادی چې تلاوت د سپېڅلیو متنو لوستو ته ځانګړی دی؛ خو قرآئت عمومي دی هم سپڅلیو متنو او هم عادي متنو ته په کارېږي.

د بېلګې په توګه: سمه ده چې ووایو: د سعدي ګلستان مې ولوست خو سمه نه ده چې ووایو: د سعدي ګلستان مې تلاوت کړ.

په هر حال، داچې متن له مخې وویل شي او که له یاده، نه د تلاوت په مفهوم کې دخالت لري او نه د قرآئت په مفهوم کې.

تېر آیت هم دا وايي، چې رسول الله (ص) خلکو ته هغه قرآن تلاوت کړ(ولوست) چې پر پاڼو لیکل شوی وو.

او رسول الله (ص) دېته څه اړتيا لري چې قرآن له مخې ولولي؟قرآن کريم سلګونو مسلمانانو حفظ کړی و او آيا د رسول الله (ص) قرآن حفظ نه و، چې له مخې لوستو ته اړين وي؟ الله د قرآن حفظ تضمين کړی و.
«سَنُقْرِؤُكَ فَلَا تَنسَى[1]- ((موږ ژر (قرآن) پر تا لولو نو نه به يې هېروې))
نو معلومېږي چې د قرآن له آيتونو، کله هم دا خبره نه جوتېږي، چې د الله استازي ليک لوست کاوه او پرعکس موضوع ترې جوتېدای شي او که فرضاً ترې جوته هم شي، چې ليک لوست يې؛ نود رسالت پېر وه خو ډاکټر سيد عبدالطيف وايي چې تر رسالت مخکې يې ليک لوست کاوه.

**درېيم: تاريخ او احاديث:**

ډاکټر سيد عبدالطيف وايي چې له تاريخ او احاديثو هم لاس ته راوړای شو، چې د الله استازي هم ليک کاوه او هم لوست. په دوه پېښو يې استناد کړی دی:
۱_ امام بخاري د ((العلم)) په کتاب کې د يو روايت په ترڅ کې رانقلوي چې: ((رسول الله (ص) يو پټ ليک وليکه او خپل زوم علي ته يې ورکړ او ټينګار يې وکړ، چې ليک ونه لولې او د ليک د اخستونکي نوم په ياد وساتې او ورته يې وسپارې، چې پېغمبر دغسې پټ ليکونه استول، چې ان زوم او تر ټولو اعتمادي تن يې هم بايد ونه لولي نو بې له پېغمبره څوک کېدای شي چې داسې پټ ليکونه وليکي؟[2]))
په خواشينۍ وايم کوم روايت چې په صحيح بخاري کې دی چې د ليک وړونکی علي کرم الله وجهه دی، حال دا امام بخاري له دې خبرې په ګټنې غواړي ووايي چې رسول الله پخپله ليک ليکلی و او ليک يې ان له حضرت علي کرم الله وجهه هم پټ ساتلی و.
د صحيح بخاري د العلم په باب کې راغلي چې رسول الله (ص) يوه ډله ولېږله او د هغوی مشر ته يې يو ليک ورکړ و يې ويل چې پلانۍ سيمې ته تر رسېدو د مخه ليک مه پرانځئ؛ نو هېڅ نه وايي چې مشر يې علي کرم الله وجهه و او د روايت له مضمونه معلومېږي چې هغه بايد ليک پرانځي چې د ليک وړونکی دی او نه درېيم شخص چې ډاکټر عبدالطيف هم داسې ګومان کړی دی.

---

[1] (الاعلی/٦)
[2] وګورئ: بخاري لومړی ټوک، ۲۵ مخ.

څه چې صحيح بخاري ددې کيسې په اړه راوړي، د((بطن نخله)) کيسه ده چې په تاريخونو کې ثبت ده.
ابن هشام[1] او همداراز بحارالانوار[2] هماغه روايت رانقلوي چې د ليک وړونکی عبدالله بن جحش و. وايي چې رسول الله (ص) وويل چې تر دو ورځو سفر روسته ليک پرانېزه او په ليک کې حکمونه عملي کړه او عبدالله جحش هم د الله د استازي وينا عملي کړه.
واقدي[3] په ګوته کوي چې د ليک ليکونکی ابی بن کعب و نه پخپله رسول الله (ص)، او وايي: ((عبدالله بن جحش وويل: يوه شپه د ماسوخوتن تر لمانځه ور و رسته، رسول الله (ص) راته وويل: سهار وختي وسله وال راشه چې ماموريت در پر غاړه دی. زه هم سهار وختي وسله وال د رسول الله د کور مخې ته ودرېدم. زما په څېر نور هم راغلي وو. رسول الله (ص) ابی بن کعب راوغوښت او ليک يې پرې وليکه. رسول الله (ص) ليک وتاړه او و يې ويل: ته مې ددې ډلې مشر کړې او دا ليک تر دوو ورځو مسافرت روسته پرانيزه او عمل پرې وکړه. ما تر دوو ورځو مسافرت روسته ليک پرانېسته او و مې ليدل، چې رسول الله (ص) حکم کړی و، چې د ((بطن نخله)) (د مکې او طايف ترمنځ سيمه) په سيمه کې د قريشو د کاروان په هکله لازم معلومات راټول کړم او همداراز رسول الله ټينګار کړی و، چې يو يار دې هم تګ ته اړ نه کړې او په تګ او نه تګ کې هر څوک خپلې خوښې ته پرېږده. ؛ البته خطرناک ماموريت و او خپلو ملګرو ته مې وويل، چې هغه څوک دې راشي چې شهادت ته چمتو وي او څوک چې چمتو نه وي؛ نو خوښه يې چې بېرته ولاړ شي. ټولوپه يوه خوله وويل: نحن سامعون و مطيعون لله و رسوله ولک. . .))
نو هغه څه له بېخه بې بنسټه دي چې ډاکټر سيد عبدالطيف پرې استناد کړی دی.
۲ـ دويمه پېښه حديبيه ده چې ډاکټر سيد عبدالطيف پرې استناد کړی او وايي:
((د بخاري او ابن هشام د نقل له مخې. . . . رسول الله (ص) ترون راواخست او پخپل لاس يې وليکه.))

[1] د ابن هشام سيرت، لومړی ټوک، ٦٠١ مخ د ((سرية عبد الله بن جهش))تر عنوان لاندې
[2] بحارالانوار،: شپږم ټوک، ٣٨ باب، ٥٧٥ مخ
[3] (مغازي، لومړی ټوک، ١٣ او ١٤ مخونه)

لومړی داچې بخاري په يو روايت کې داسې ليکلي او په بل روايت کې د هغې مخالفه خبره کړې ده. د اهل سنتو علما تقريباً يوه خوله دي، که څه د روايت ظاهر داسې دی، چې ترون پخپله رسول الله (ص) وليکه خو د راوي مطلب دا نه دی.

حلبي[1] د پيښې تر رانقلولو روسته وايي: ((رسول الله (ص) د ((رسول الله)) ټکي پاکولو ته له علي مرسته وغوښته)) د بخاري روايت رانقلوي او وايي چې دا له آنحضرت يوه معجزه وه چې راښکاره شوه او بيا وايي: ((ځينې وايي چې دا روايت په دې شکل د علم خاوندان معتبر نه گڼي. مطلب دادی چې رسول الله (ص) د ليکلو امر وکړ نه داچې پخپله يې ليکلي وي.))

وايي: ابوالوليد باجي مالکي اندلسي چې غوښتل، د بخاري د روايت ظاهر راواخلي نو د اندلس د علماوو له کلک انکار سره مخ شو.[2]))

خو ابن هشام بېخي داسې خبره نه ده راخستې او معلومه نه ده چې ولې ډاکټر سيد عبداللطيف دا خبره په ابن هشام پورې تړلې ده.

موږ پخوا هم وويل: څه چې له ډېرو تاريخونو گوتو ته راځي، دادي چې ډېر ليکونه علي کرم الله وجهه ليکلي وو او يوازې طبري او ابن اثير گروهن دي، سره له دې چې رسول الله (ص) ليک لوست نه شو کولی (خو)پخپله يې ترون وليکه.

حداکثر داده، چې رسول الله (ص) د رسالت پرمهال يو يا ډېر ځل ليکلي وي؛ خو موږ دلته تر رسالت وړاندې پير باندې بحث کوو.

## د مخالفينو تورونه

ددې ويښې په پيل کې مو وويل چې د اسلام او رسول الله مخالفينو، رسول الله (ص) له نورو سرچينو د مطالبو په اخستنه تورن کړ او؛ ځکه يې تورن کړ چې لوستی دی او يو لړ کتابونه لري او څه چې وايي له هغو يې رااخلي. په قرآن کې هم دې تورونو ته اشاره شوې ده.

((وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلاً[3]= او وايي: ((دا هماغه د پخوانيو خلکو قصې دي چې پر بل چا يې ليکلي او هر سهار او ماښام ورته اورول کېږي (چې ياد يې کړي).))

---

[1] (سيره: درېيم ټوک، ۲۴ مخ)

[2] (وگورئ: السيره الحلبية: درېيم ټوک، ۲۴ ټوک)

[3] (فرقان: ۵ آيت)

پردې سربېره چې د دښمنانو تورونه دومره له تعصب او کينې ډک دي، چې د قرآن د تعبير له مخې، بې له ((ظلم او تيري)) ورته څه هم نه شو ويلی دا آيت نه په ګوته کوي چې هغوی ادعا نه کوله چې پېغمبر به پخپله ليکل. د ((اکتتاب)) ټکی هم د ليکلو په معنا راغلی او هم د ((استکتاب)) چې معنا يې داده: يو څوک له بل وغواړي چې ورته وليکي.
تر آيت لاندې قرينه ده چې مقصد ترې دويمه معنا ده؛ ځکه د آيت مضمون دادی: هغوی وويل: د پخوانيو افسانې يې ليکلې (يا نورو ورته ليکلې) نو هر ګهيځ او ماښام ورته لوستل کېږي. ((اکتتاب)) يې په ماضي بڼه او ((املاء)) يې د مستمرې جاري په بڼه ياد کړي دي؛ يعنې هغه څيزونه چې له پخوا يې ليکلي دي؛ نور چې لوستي دي، هر ګهيځ او ماښام راځي او ورته يې وايي او هغه يې ترې زده کوي اويادوي. که پخپله رسول الله (ص) لوستی وای نو لازم نه و، چې ووايي، نورهرګهيځ او ماښام يې ورته املاء وايي او کافي وو، چې و وايي: پخپله يې لولي اويادوي يې.
چې هرډول تورونه (لېونی، کوډګر، دروغجن، اونوريې ورښيي) يې پرې تړل؛ نو ويې نه شو کړای چې ووايي داچې ليک لوست يې زده دی؛ نو موږ ته د نورو کتابو منځپانګه پخپل؛ نوم اوروي.

**پايله**

د رسول الله له ويناوو، پرېکنده تاريخ، د قرآن شهادت او د اسلام په تاريخ کې له ډېری قرآينو جوتېږي چې د رسول الله (ص) د ضمير دړه د بشر له زده کړې پاکه وه. هغه داسې انسان و، چې يوازې الهي او د حق زده کړې يې کړې وې. هغه داسې ګل دی، چې په روزنه کې يې بې د ازل له بڼ وانه، د چا لاس هم نه وررسېدلی.
سره له دې چې قلم، کاغذ او ليک لوست سره آشنا نه و په خپل سپېڅلي کتاب کې پر قلم او آثارو يې د يو سپېڅلي چار په نامه قسم خوړلی دی.
((ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ[1] = ((نون، سوګند پر قلم او څه چې ليکي!))
او پخپل لومړني آسماني پېغام کې پر ليک لوست سپارښتنه کوي او هغه د الله تر ټولو ستر نعمت ښيي چې الله بشر ته ورکړی دی.

[1] (قلم: لومړی آيت).

((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ [1]= ولوله، دخپل پالونکي په نامه، چې (هرڅه يې) شته کړي دي، انسان يې له ځوړندې (پرنډې وينې) پيداکړ. ولوله چې ستا پالونکی (ترټولو) ډېر عزتمن دی هغه [ پالونکی ]، چې په قلم يې ښوونه وکړه، انسان ته يې هغه څه وښوول چې پرې نه پوهېده.))

هغه انسان چې پخپله يې قلم په لاس کې نه و ايښی همداچې مدينې ته نووت او شونتياوې يې لاس ته راغلل؛ نو ((د قلم غورځنګ)) يې رامنځ ته کړ او سره له دې چې له ښوونکي يې زده کړې نه وې کړې او کوم پوهنتون ته نه و تللی د بشر ښوونکی او د پوهنتونو رامنځ ته کوونکی دی.

امام رضا (رح) له راس الجالوت سره په مناظره کې وايي: ((ددې پيغمبر د صدق دلايل دا و، چې پلارمړی، بېوزله، شپونۍ او کارګر و. هېڅ کتاب يې نه و لوستی او يو ښوونکي ته هم نه و ورغلی داسې کتاب يې راوړ، چې پکې د پيغمبرانو، تېرو او راتلونکيو خبرې دي. [2]))

او څه چې د قرآن ستروالی او اسمانيتوب ښيي، دادي چې د مبداء، معاد، انسان، اخلاقو، قانون، کيسو، عبرتونو او موعظو په باب دومره ښکلې او فصيحې ښوونې د يو اُمي انسان په ژبه جاري شوي او نه يوازې داچې له ښوونکي يې زده کړه نه وه کړې او يو پوهنتون ته هم نه و تللی؛ بلکې د خپل وخت يو کتاب يې هم نه و لوستی.

کومه معجزه چې ستر الله خپل روستي استازي ته ورکړه کتاب او ليکنه، وينا، آند او احساس دی، چې له فکر، زړه او ضمير سره سروکار لري.

له پېړيو پېړيو راهيسي دا کتاب خپل مانيز او خارق العاده ځواک ښيي، روزګار يې نشي زړولای، په ميليونو زړونه يې راکښلي، د ژوند قوت پکې خپې وهي، څومره عقلونه يې فکر او تدبر ته اړ کړي او څومره زړونه يې له ايمانه ډک کړي او څومره د ظلم په منګولو کې پراته ولسونه يې له زولنو خلاص کړي دي.

هو! الله غوښتل چې ددې کتاب وحې توب او ښه تر ښه جوت او روښانه کړي؛ نو پر پلامړي، بېوزله، بېديايي ګرځي او نالوستي بنده يې نازل کړ.

---

[1] (علق: ١=٥)

[2] وګورئ: عيون اخبار الرضا: سنګي چاپ: ٩٤ مخ

«ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاء وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ[1]= دا د الله لورېنه ده، چاته يې چې خوښه شي (او وړيې وبولي) پرهغه يې لوروي او الله د سترې لورونې خاوند دی.))

[1]. (جمعه: ٤ آيت)

# نبوي سيره او نړيوال حکومت

## د ختيځپوهانو لېينه

"رينيه جنيون" فرانسوي ختيځپوه وايي:
په رښتيا محمد د الله استازي، سره له دې چې د "روم" او يا د "ايران" په کوم پوهنتون کې زده کړه نه وه کړې؛ خو ستر سياستپوه، خوږ ژبی ويناند، کار ازميلی او ستر مشر و.
مسټر "ماکس سايکس" انګليسی ليکوال وايي:
"محمد" په خپلو بې ساريو او له معنوياتو په ډکو ښوونو وکړای شول فکر له عمل سره واغږي، هغه هوښيار قانون ايښوونکی او عدالت خپروونکی پيغمبر و.

## د اسلامي دولت جوړول

رسول الله صلی الله عليه واله، چې"يثرب" ته ورسېد؛ نو د اسلامي حکومت په جوړولو يې لاس پورې کړ:
۱ـ تر ټولو ړومبی يې په "قبا" کې جومات جوړ کړ، چې ډېر ژر د ديني، عبادي، سياسي، پوځي، مانيزو، بهرنيو او کورنيو اړيکو، قانون ايښوونې او ديني زده کړو مرکز شو.
دلته د رسول الله ياران راغونډېدل او د جومات له ساده منبره ورته لازمې زده کړې او لار ښوونې کېدې. مسلمانانو د نظم، روزنې او د قانون پر وړاندې د ټولو د برابرۍ زده کړې کولې او هلته يې د يووالي، رورولۍ او انضباط تمريناوه.
په هغو ورځو کې د دولت د مالي شونتياوو د لږوالي او دننه او بهر کې د بوختياوو له لامله ناشونې وه، هر کار ته ځانګړې مؤسسه جوړه کړای شي، چې هره يوه پر خپل ځانګړي کار بوخته شي؛ نو جومات د ټولو چارو د سمبالنې مرکز وګرځېد. مسلمانانو په ساده او کوشني جومات کې يو له بل سره ليدل او حکومتي اوامر به ورکول کېدل او له مدينې دباندې او هم پر کورنيو چارو يې څارنه درلوده.
د جومات جوړول، د کورنۍ او ټولنې وګړيو ته د ټولنيز بنسټ ايښـوو ړومبی ګام و؛ ځکه ډول ډول علمي، قضايي، عبادي، معنوي او سياسي غونډې پکې کېدې، چې مسلمانان يې له فکري اړخه يو بل ته لا نور هم نږدې کول؛ نو پوه شئ. جومات يوازې د عبادت ځای نه و؛ بلکې د

جومات مقام هماغه د اسلام مقام و، چې په ټولنيزو، سياسي او ديني چارو کې يې پرمختيا کوله.

۲_ د رسول الله (ص) دويم کار د يوه داسې سند تنظيمول وو، چې د مسلمانانو خپلمنځي اړيکې او همداراز د مسلمانانو او مدينه والو ترمنځ اړيکې تنظيم کړي. په سند کې راغلي وو: د لوراند او لورين الله په نامه. د "محمدرسول الله" له لوري تړون دی، له مؤمنانو، قريشو او د يثرب له مسلمانانو دا او هغه، چاسره لاروي يې وي او ورسره يو ځای شي او په جګړه کې ورسره برخه اخلي دوی له نورو بېل واحد امت دي. مؤمنان بايد په خپلو منځو کې هيڅ بېوزلی و نه لري او په ورين تندي له خپلې شتمنۍ مسلمان ته څه ورکړي او پور يا يې د ويني تاوان ورکړي، يا يې په فکري مرستې د ستونزې هواري ته لار پيدا کړي. يو مؤمن دې هم، د بل مؤمن له همژمني سره بې د هغه له هوکړې، تړون نه کوي. پرهېزګار مؤمنان دې د سرغړاندو پرخلاف يو لاس شي، او پر نا حقه باج غواړي او يا فساد کوي، ان که دا فساد کوونکی مو زوی وي. هېڅ مسلمان دې بل مسلمان د کافر د غچ له لامله نه وژني او له کافر سره دې د مسلمان پرخلاف مرسته نه کوي. الهي امان يو دی او تر ټولو بېوزله مسلمان کړای شي، په نوم يې پناه ورکړي او مؤمنان له نورو خلکو بېل، په يو بل پورې تړاو لري. هغه يهود، چې د موږ لاروي کوي، په حقوقو کې مساوي دي او بايد تېری پرې و نه شي او ملاتړ يې وشي. هېڅ مشرک قريشي ته د مال او ځان پناه مه ورکوئ او له مؤمنه يې مه خلاصوئ. هر مسلمان، چې ددې تړون مادې منلې وي او پر الله او قيامت ايمان لري؛ نو هېڅ قاتل ته به پناه نه ورکوي او مرسته به يې نه کوي. د شخړو د حل مرجعيت الله او استازی يې دی. د جګړې پرمهال يهودان له مسلمانانو سره د جګړې په لګښت کې شريک دي. يهود پر خپل دين او مسلمانان او خپلوان يې پر خپل دين دي او چاچې تېری يا ګناه وکړه؛ نو يوازې ځان او کورنۍ به يې هلاکه کړې وي او يهودان دې بې د"محمد" له اجازې نه وځي او د غچ جريمه دې نه پرېږدي. يهودان دې خپل لګښت کوي او مسلمانان دې خپل او يو له بل سره دې د هغو پر ضد مرسته نه کوي، چې له دې تړونوالو سره په جګړه کې وي او ترمنځ دې يې يو بل ته زړه پاک او نيت ښه وي. څوک دې له خپل همژمني سره ناوړه چار نه کوي. د هغه ملاتړ شئ، چې تېری پرې کېږي او د "يثرب" ښار تړونوالو ته حرام دی. هره شخړه او يا وژنه، چې ددې تړون په همژمنو کې وشي او فساد ترې راولاړېږي؛ نو د شخړې د حل مرجعيت الله او استازی يې "محمد" دی. قرشيانو او هغو ته پناه ور نه کړئ، چې ورسره يې مرسته کړې وي. که پر "يثرب" يرغل وشو؛ نو بايد ټول يې دفاع وکړي. که مسلمانان او يهود سولې ته راوبلل شول؛ نو په ورين تندي

دې يې ورسره ومني خو نه له هغه سره، چې د الله له دين سره جګړه کوي. ددې تړون همژمني ظالمان او بدچاري نه دي. څوک چې له مدينې ووت په امان کې دی او څوک چې راننووت هم په امان کې دی؛ خو هغه چې تېری و او يا بدچار وکړي[1].

رسول الله (ص) د حضرت عيسی عليه السلام له لارويانو سره د چلن لپاره د "نجران" ستر اسقف ته ليک وليکه:

((تر هغه چې "مسيحيان" د سولې پر لار وي؛ نو پر خپلو شتمنيو يې مالکيت محترم دی او تېری به پرې و نه شي.[2]))

## د انسانانو د رسمي دولتو او د رسول الله د دولت پرتله کول

شک نشته، کوم دولت چې رسول الله (ص) په مدينه کې جوړ کړ بنسټ يې عقل، فکر او الهي تلپاتې قوانين وو. د تاريخ په بهير کې، د اسلام د دښمنانو هڅه وه، چې د الله له استازيو سرغړونه او له حق، فطرت او عدالته نټه وکړي؛ نو په هر ډول بې لاريو کې لالهانده دي او بشريت يې د خپلو هوسونو لوبغالی کړی او له نړی يې د"ناپليون"، "ماکياول" او "مارکس" د جاهلي او مغرضو افکارو ازمېښتون جوړ کړی. حال دا رسول الله قرآن د الله له لوري راوړی، چې بشريت له کفر، تيارو او بې لاريو، رڼا او نېکمرغی ته راوباسي (الر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ ((إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ[3]= الف، لام، را (دا) يوکتاب دی، چې موږ پر تا نازل کړی دی، چې خلك د هغوی د پالونکي په اجازه (د شر، ظلم او ناپوهی) له تيارو راوباسې او (د ايمان، عدل او پوهې) رڼا ته يې راولې، د هغه الله لارې ته چې ناماتی ستايل شوی دی.)))

قرآن په ډاګه ويلي: ((يوازې يوه رڼا شته او هغه هم اسلام دی او د بشر جوړ شوي قوانين او سياستونه تورتم او بې لارې ده.))

اوس د رسول الله (ص) د ديني او د بشري نادينې دولتو پر توپيرونو رڼا اچوو:

---

[1] سيره ابن هشام: ۱۳۸_۱۳۴ مخونه، تاريخ ابن كثير: ۳ ټوک، ۲۲٦_۲۲٤ مخونه، المقدسي؛ البد والتاريخ: ٤ ټوک، ۱٥٤_۱٥۳ مخونه، محمد حميدالله؛ مجوعه الوثايق: ٤۷_٤۱ مخونه

[2] محمد ابوزهره؛ العلاقات الدوليه في الاسلام: ۷٦ مخ

[3] (ابراهيم: ۱)

۱_اصولاً د رسول الله (ص) دولت او دوديزو دولتو پرتله سم کار نه دی؛ ځکه د دوديزو دولتو د قوانينو بنسټ انساني تړونونه دي؛ خو د پاک نبي د دولت عملي او نظري بنسټ الهي وحې او حکمونه دي.
رڼا اچونې ته يې لاندې خبرو ته پام وکړئ:
الف _ډېری رسمي قوانين د ښکېلاکګرو او پوځيانو؛ لکه "ماکياول" او يهودو له لوري راپاتې دي. حال دا اسلامي قوانين د نړۍ د پالونکي له اړخه تشريع او پيغمبر انو بشر ته تبليغ کړي دي.
ب _د رسمي قوانينو نيمګړتياوې د توکم پالنې، افراطي ځانمنيو، د ټولنو د طبقاتي کېدو، د ماده پالو مشرانو او ګوندونو او پر بشر د ځنګل د قانون د واکمنېدو لامل دی. حال دا اسلام د انسان له غوښتنو او اړتياوو سره اړخ لګوي او اسلامي قوانين د بشر دنيوي او اخروي نېکمرغيو ته پام لري.
ج _وضعي قوانين زموږ د ټولنو له افکارو، هيلو او انساني تفکر سره اړخ نه لګوي؛ ځکه د انسان اړتياوو ته په مادي ليد ګوري، چې ددې ليدپايله جګړې، د کمزوريو ولسونو زبېښل او د ملي شتمنيو لوټېدل وو خو الهي قوانينو د بشر رواني مراد دی، که روحاني؟ جسمي، دنيوي او اخروي ټول اړخونه په پام کې نيولي او په ډول ډول ټولنو او حالاتو کې د پلي کېدو وړتيا لري.
۲_ د اسلامي دين واکمني نه منل، انسان د شرک او کفر تر پولې بيايې او پر امت ستر ظلم دی؛ نو که څوک داسې بنسټ کېږدي "مرتد" او د خلکو بې لاروونکی شمېرل کېږي او د الهي عذاب د راتګ لامل ګرځي؛ لکه څرنګه چې پر تېرو سرغړاندو امتونو الهي عذاب راغی او هغوی چې الهي حکمونو ته غاړه کېښوده؛ نو بې شمېره الهي لورېنې پرې و شوې.
د رسول الله په اند دولت، په حقيقت کې، د الهي قوانينو د پلي کولو او نړيوالو ته د اسلام د غږ رسونې وزله وه. داسې دولت د خپل امت استازی او د موخو پلي کوونکی دی او همداراز، د هېواد د ابادۍ او ټولنيز عدالت د پلي کولو دنده لري.
د اسلامي دولت د بهرنيو او نړيوالو اړيکو د پولو ټاکل، جګړه، سوله، اړيکساتنه او يا پرېکول، قاطعيت، د اسلامي امت مصالح او د نورو دولتو پر وړاندې دريځ، د قرآن آيتونه ټاکي؛ نوځکه اسلامي فقها نامسلمان وګړي او يا دولتونه پر دوو برخو وېشي:
**((محارب)) او ((معاهد))**

"محارب" هغه دی، چې له اسلام سره په جګړه کې وي او پر ضد یې دسیسه کوي او "معاهد" ژمن هغه نامسلمان دی، چې د اسلام پر خلاف د جګړې هوډ نه لري او په سوله کې د ګډ ژوند، راکړې ورکړې او مرستې تړون ورسره کوي.
البته ځینې وخت، په اسلامي ټولنه او نړیوالو اړیکو کې ځانګړي شرایط رامنځ ته کېږي، چې د پورته شرایطو په پامنیوو سره اسلامي واکمن کړای شي" ثانویه احکام" رامنځ ته کړي او ښکاره ده، چې ددې شرایطو په له منځه تلو سره، بېرته هماغه "لومړني احکام" او بنسټونه پلي کېدونکي او د اعتبار وړ دي.
د رسول الله (ص) سیاست، له بوت نمانځیو دولتو، ټولنو، سیاسي ځواکونو یا کتابیانو سره پر لاندې بنسټونو ولاړ و:
۱_ د مخامخ خبرو، رسمي تبلیغ، پلاویو او لیک له لارې یې اسلام ته را بلل.
۲_ د انسانیت او اسلام له دښمنانو سره د جګړې اعلان.
۳_ د سولې تړون کول؛ لکه د"حدیبیې" تړون اود"یهودانو" او "نجران" له استازیو سره تړونونه؛ نوځکه ګروهن یو یوازېنی دولت، چې د نننی پرمخ تللې نړی د (سمبالنې) وړتیا لري، هغه دولت دی، چې بنسټ یې د رحمت پیغمبر ایښی دی.
ماده پال دولتونه غواړي پر بشري ټولنه د ځنګل قانون واکمن کړي او د "ډېرین پېر"په څېر، حق زرورو ته ورکړي.
رسول الله (ص) د الهي روزنې له لامله ستر خوي درلود، تندی یې ورین، پر مؤمنانو لورین او په خپګان او خوشحالی کې یې شریک و او هیلمن و، چې ټول خلک یې پر الله او رسالت ایمان راوړي او د هغوی نه مسلمانېدو به داسې غمجناوه، چې زړه یې خوږ. په پراخه سینه او ورین تندي یې د خلکو خبرو ته غوږ ایښووه او د الله په پېرزوینه یې ښه چلن او خوی جامه وه.
د دولت جوړول یې په جومات جوړولو پیل کړ، چې ((ځواک او قانون)) د الله له عبادت سره یو ځای او د نړی ټولو واکمنو او مشرانو ته ښه بېلګه وي، چې د واکمنی پرمهال یې مادي اړخ پر الهي اړخ لاسبری نه شي.
او په رښتیا، چې نننی انسان هغو مشرانو او سیاستوالو ته اړتیا لري، د الله حکم او رضا چې تر هر څه ړومبی وګڼي.
د الله استازي، چې د پوهې سرچینه یې وحې وه او په عبادت غښتلی شوی و، د لاندې چارو له لارې د اسلامي دولت ستنې ټینګې کړې:

١ـ کورنۍ ټلواله يې تثبيت کړه، چې د هغې ټولنيز او سياسي ځواک يې د لاندې سياسي او اخلاقي گامونو په اخستو پياوړی کړ[1]:

الف: په مدينه کې يې د مسلمانانو (مهاجرو او انصارو) ترمنځ تړون وتاړه، چې له مخې يې ټول مسلمانان ((واحد امت)) دی او ټولو مساوي حقوق او دندې درلودې.

ب: له يهودانو سره د سولې، سياسي او پوځي مرستو او پر يو بل د يرغل نه کولو تړون، چې ځان يې له دسيسو ډاډمن کړي او د دولت بنسټ لا پسې پياوړی کړي؛ خو يهودو د خپل عادت له مخې، د تړون درناوی و نه کړ او په خپله يې پر ځانو تنگسه راووسته.

ج: د يوه غښتلي او واحد امت او د دولت د پښو د ټينگولو لپاره يې په مدينه کې د مهاجرو او انصارو ترمنځ روري اعلان کړه، چې دا کار قرآن هم وستايه او په تاريخي کتابو کې يو له بل سره د ورونه شويو نومونه راغلي او رسول الله (ص) حضرت "علي" خپل رور کړ، د "علي" لاس يې په لاس کې ونيو او و يې ويل: ((دا زما رور دی [2]))، چې خلکو ته وواييې، تر ما روسته "علي" د مشرۍ وړ دی.

٢ـ رسول الله (ص) د اسلامي دولت د پښو ټينگولو لپاره، لښکر او اردو جوړه کړ، چې په الهي حکم جهاد وکړي. په دې باب قرآن وايي:

((أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ[3]=پر هغوی، چې جگړه تپل شوې، د جهاد اجازه ورکړ شوې ده ځکه تېری پرې شوی، بېشکه الله د هغوی د ملاتړ وس لري.))

((الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلاَّ أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلاَ دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ. . . [4]= همغوی چې په ناحقه له خپلو کورونو يوازې (له دې لامله) شړل شوي، چې وايي: ((زموږ پالونکی الله دی!)) او که الله په ځينو خلکو د ځينو نورو مخه نه نيولای نو صومعې او کليساوې او کنيسې او جوماتونه به چې د الله نوم پکې ډېر يادېږي ټول نړېدلي وای، او الله

---

[1] د محمد رسول الله کتاب: ٢ ټوک، ٢٥ مخ

[2] (سيره ابن هشام: ٢ ټوک، ٥٠٤ مخ)

[3] (حج/٣٩)

[4] (حج-٤٠)

هرومرو له هغه سره مرسته کوي، چې (له دين) سره يې مرسته وکړي، بېشکه الله ځواکمن ناماتی دی.))

((الَّذِينَ إِن مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ[1]=دا همغوی دي، چې که موږ يې پر ځمکه واکمن کړو نو لمونځ کوي او زکات ورکوي او پر ښو چارو امر او له بديو منع کوي او د ټولو چارو پای يوازې الله ته ده.))

مناسبه ده ځينو هغو ختيځپوهانو ته ځواب ورکړو، چې بېځايه وايي: اسلام د توره په زور راغلی او په ترهګرۍ او انسان وژنه يې تورنوي.

الف_ د جهاد حکم د اسلام د بلنې په پيل کې وضع نه شو؛ بلکې تر اوو کالو تېرې او کړاوونو زغملو روسته تشريع شو.

ب_ دا حکم هغه مهال راغی، چې مکي آيتونه د اسلام دښمنانو ته ګټور نه وو؛ ځکه مشرکانو له زړه پرې باور درلود؛ خو په خوله ترې منکر وو.

ج: سره له دې چې جهاد خلک د((غيرالله)) له عبادته ژغوري خو بيا هم د اسلام له نظره د کمزوريو د ژغورنې لپاره د حل روستی لار ګڼل کېږي.

د_ اسلام ته ډلې ډلې خلک د تبليغ له لارې رانووتل، نه د توره په زور.

حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم؛ لکه څنګه چې د الله استازی و، د خلکو د مشري او د دولت د رياست، د وسلوالو ځواکونو د بولندويۍ او د قضايي چارو د سمبالنې دنده يې هم پر غاړه وه.

په هغه پړاو کې د وحې او رسول الله (ص) له لوري فرهنګي فعاليت او سياسي قانون اېښوونه پيل شوه، چې مسلمانان د سياسي ليد خاوندان شي او د دولت، ځواک، سياست، قضا، مشر تابه او نورو سياسي اصطلاحاتو مانا ورته روښانه شي. الله رسول الله ته د سياسي، پوځي، اقتصادي او ټولنيزو چارو د مشرۍ وړتيا ورکړې وه؛ نوځکه الله مسلمانانو ته وويل:

((النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ إِلَّا أَن تَفْعَلُوا إِلَى أَوْلِيَائِكُم مَّعْرُوفاً كَانَ ذَلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُوراً[2]= پيغمبر مؤمنانو ته د هغوی تر خپلو ځانو ډېر وړ (او نژدې) دی او مېرمنې يې د هغوی [= مؤمنانو] مېندې دي او د الله په کتاب کې (په ميراث کې) تر عامو مؤمنانو او

[1] (حج/۴۱)

[2] (احزاب: ٦)

مهاجرينو(خو)ځينې خپلوان يو تر بله لومړيتوب لري؛ خو داچې)وغواړئ)، له خپلو دوستانوسره ښېګڼه وکړئ (او د خپلومالونو يوه برخه ورکړئ) دا (حکم) په (الهي) کتاب کې ليکل شوی دی پېغمبر پر مؤمنانو تر هغوی وړ او ړومبی دی))

او په بل ځای کې راغلي: ((او که په کومه چاره کې مو شخړه راغله نو الله او رسول ته يې يوسئ[1]))

قرآن د رسول الله او دوه د منصوبينو لاروي، په آيت تثبيت کړه: ((د ايمان خاوندانو! د الله، رسول او د چارواکيو (چې د رسول الله (ص) له لوري ټاکل شوي) لاروي وکړئ [2]))

لنډه اشاره به هغو بې بنسټو خبرو ته وکړو، چې د اسلام دښمنانو په ناحقه پر اسلام ورتپلې دي:

ختيځپوهانو، پخوا د قرآن الهي توب او اسماني توب نه مانه او ادعا يې کوله، چې قرآن د رسول الله (ص) خپل فکر دی او يا يې ويل چې: ((دا هر څه يې له يهودو او مسيحيانو زده کړي دي.))

د اسلام علماوو، چې د قرآن معجزه توب جوت کړ و يې ويل چې: د قرآن په څېر يو آيت راوړئ؛ نو دا کار يې و نه کړای شو؛ نو پخپلې ماتې يې اعتراف وکړ.

نن يې د "نص" د تفسير خبره را منځ ته کړې او وايي: قرآن د الله له لوري او اسماني کتاب دی؛ خو تفسير او استنباط يې د بشر کار دی او د بشر سر پر اسماني مفاهيمو نه خلاصېږي.

ښايي دا ادعا په هغوی کې د دوو نظرونو د را پيدا کېدو پايله وي:

الف: لاييزم يا د دين او سياست بېلوالی.

ب: بنسټ پالي.

هغوی د خپل عادت او له الهي لار ښوونو د لرې والي له لامله، د ديني نصوصو په تفسير کې لالهانده او په زياتي(افراط)او کمي (تفريط)ککړ شول او يو د بل پرخلاف استنباط او تفسير يې رامنځ ته کړ او همدا فکري شخړې ددې لامل ګرځي، چې د استعماري دولتو لاسپوځي هلې ځلې نورې هم تونده او ګړندۍ کړي.

---

[1] (نسا: د ۵۹ آيت يوه برخه)

[2] ((نسا: د ۵۹ آيت يوه برخه)

دې خبرې ته يې پام نه دی، چې د رسول الله (ص) سنت، د قرآن آيتونه تفسيروي هغه سنت چې خاوند يې د ځاني غوښتنو له مخې خبرې نه کوي او د دين په اړه ټولې خبرې يې د وحې پر بنسټ دي او حلال او حرام يې تر قيامته پر خپل ځای دي.

رسول الله بېخي پر الله دروغ و نه تپل. پوه او وسمن الله په خپل ځواک، د قرآن مفاهيم اسان او پرې د پوهېدو وړ کړل او بيا يې د عربي ژبې په قالب کې راولېږل او که داسې نه وای نو ژبې به د قرآن د ويلو وس نه درلود.

## د عمومي افکارو درناوی

سره له دې چې رسول الله (ص) ته وحې راتله خو د الله په حکم يې له خلکو سره سلامشوره، د چارو د سمبالښت غوره لار گڼله. الله وويل: ((د چارو په سمبالښت کې (له مسلمانانو سره) مشوره وکړه او چې دې هوډ وکړ؛ نو پر الله توکل وکړه. [1]))

که د اسلام د تاريخ سترې پېښې ولوستل شي؛ نو په هغو ځايو کې، چې وحې نه راتله؛ نو رسول الله (ص) له خپلو اصحابو سره مشوره کوله اود سلامشورې درناوی يې کاوه او کله خو به داسې هم کېدل، چې له خپل نظره به تېر شو او د يارانو نظر ته يې غاړه اېښووه.

غوره چاپېريال جوړونې ته د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم)

له هڅو ځنې دا و، چې له زړونو کينې او دښمنی راوباسي. په تېر مورد کې د ښه گومان او روغ چاپېريال رامنځ ته کول وو؛ خو په دې مورد کې مسله تر هغه هم لوړه ده؛ يعنې په اسلامي ټولنه کې مسلمانان بايد يود بل پر وړاندې له ناتوپيرۍ او بې تفاوتۍ راووځي. داچې مسلمانان يو له بل سره کار و نه لري او هر يو يې د ځان لپاره ځانگړې نړۍ ولري او د مسلمان له چار سره کار و نه لري؛ نو دا چار په اسلام کې ناوړه دی او د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) د ژوند له څېړکيو ځنې يې يو دادی، چې دا بې د توپيرۍ چاپېريال، د مينې، محبت، همکارۍ، رورلۍ او د همکارۍ په ټولگه واړوي او دا هماغه څه دي، چې نن ورته موږ په خپل نظام کې خورا اړين يو.

مسلمانان بايد يو له بل سره په لېوالتيا،زړه سواندۍ او بې له پوټې ناتوپيرۍ چلن ولري. داسې نه ده، چې که يوه مسلمان ته يوه پېښه ورپېښه شوه، له څنگه يې ناتوپيره تېر شئ. نه! داسې نه ده. همکاري، همدردي، دلسوزي او يو له بل سره د مسلمانانو متقابل محبت، د رسول الله

---

[1] (شوری: ۳۸)

(صلی الله علیه و آله وسلم) له چارو څنې يو چار و. آنحضرت تر هغه چې و، خورا هڅه يې کوله، چې په اسلامي ټولنه کې مسلمانان – ان په يوه مورد کې هم- يو بل ته کينه، بغض او دښمني ولري؛ يعنې رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) په خپل حکمت او حلم له مينې ډک يو روغ او خوږ چاپېريال رامنځ ته کړی و.
رانقل کړي يې دي، چې يو بېديا مېشتی عرب- چې په ښاري ژوند، آداب معاشرت، ژوند او په معمولي اخلاقو نه پوهېده- په هماغه بېديايي تاوتريخوالي مدينې ته راغی او رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) ته ورغی او دا مهال آنحضرت په خپلو اصحابو کرامو- يا په جومات يا هم پر لار و- هغه هم ترې څه وغوښتل او رسول الله هم مرسته ورسره وکړه او د بېلگې په توگه، خواړه او کالی يې ورکړ. وويل شول: اوس ښه شول؟ ما درسره ښه وکړل؟ خوښ شوې؟ هغه بېديا مېشتي د خپل تريخ مزاج له لامله، چې عموما دا ډول خلک يې لري، او داچې په ظاهره،شوې مرسته ورته بسيا نه وه، و يې ويل: نه ! هېڅ دې هم نه دي کړي او هېڅ مرسته دې راسره نه ده کړې او اصلا تا ما ته څه راکړي دي؟
له رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) سره داسې تريخ چلن په اصحابو ښه و نه لگېد او ټول غوسه شول او د رسول الله په شاوخوا کې کسانو غوښتل، چې غبرگون وښيي او سپکې سپورې ورته ووايي؛ خو رسول الله وويل: نه! تاسې څه ورته مه وياست. زه په خپله ورسره مسله حل کوم. له ډلې راووتل او دا بېديا مېشتی عرب يې له ځان سره کور ته بوتله. معلومېده، چې رسول الله په هغه ځای کې څه نه درلودل، چې ور يې کړي؛ گنې ډېر څه به يې ورکړي ول. هغه يې کور ته بوتله او بيا يې هم څه –لکه خواړه، کالي او نغدې- ورکړل. بيا يې وويل: اوس خوښ شوې؟ و يې ويل: هو! بېديا مېشتی د رسول الله د احسان او حلم پر وړاندې پر گونډو شو او خوښي يې څرگنده کړه.
رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) هغه ته وويل: تا څو شېبې مخکې زما د اصحابو په مخ کې ما ته داسې خبرې وکړې، چې د هغوی زړه دې خپه کړ. خوښ يې همدا خبرې دې چې دې اوس ما ته وکړې او خوښي دې څرگنده کړه، د هغوی پر وړاندې يې هم ووايې؟ و يې ويل: هو چمتو يم! بيا رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) د ورځې په شپه او که په سبا يې دا بېديا مېشتی عرب له ځان سره خپلو اصحابو ته بوتلو او و يې ويل: دا اعرابي رور مو خيال کوي، چې له موږ څنې راضي دی؛ که راضي يې؛ نو ووايه. هغه هم د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) په ستاينه پيل وکړه او و يې ويل: هو ! زه خوشحاله او خوښ يم – د بېلگې په توگه- له رسول الله نه ډېره مننه؛ ځکه مرسته يې راسره وکړه. دا خبرې يې وکړې او ولاړ.

هغه چې ولاړ؛ نو رسول الله خپلو اصحابو ته مخه کړه او ورته یې وویل: ددې اعرابي مثال د هغه اوښ دی، چې له خپلې هغې رمې نه بیل شوی، چې شپون یې سروي. نو تاسې ای زما دوستانو! که وغواړئ، چې دا اوښ راته راونیسئ؛ نو حمله به پرې کوئ او له شاوخوا به ورمنډې کوئ. ستاسې دا حرکت به یې نور هم توري کړي او وېره به یې ډېره کړي او اوښ رانیول به درته ستونزمن کړي. ما پرېښوول، چې تردې ډېر له موږه توري شي او لرې رانه ولاړ شي. په مینه مې پرې لاس راکښود او خپلې رمې ته مې بېرته راستون کړ. دا د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) کړنلار ده.

رسول الله بیخي نه غواړي، د اسلامي ټولنې د ژوند په چاپېریال کې د مسلمانانو ترمنځ د ذرې هومره کینه او دښمني وي. آنحضرت په مسلمانانو کې د مینې، محبت او صمیمیت د رامنځ ته کولو لپاره خورا کوښښ کاوه. ان هغه مهال، چې د اسلام د ولکې کړۍ پراخه شوه او مکه یې هم سوبه کړه، د هغه ښار خلک یې وبښل. د مکې د ښار خلک هماغه خلک ول، چې رسول الله یې له خپله ښاره بهر کړی و. د مکې خلکو دیارلس کاله کړولی و او څو جګړې یې هم ورسره کړې وې او مسلمانانو هم پکې وژنې کړې وې او که دوی په همدې اند د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) د فاتح لښکر کوربانه ول؛ نو تر کلونو کلونو به یې شونتیا نه وه، چې د دوی ترمنځ سوله وشي؛ نو همداچې رسول الله مکې ته ورننووت، عمومي اعلان یې وکړ: انتم الطلقا[1]؛ یعنې ټول مې ازاد کړئ او و مې بښلئ، قریش یې وبښل او هر څه پای ته ورسېدل.

یو له هغو چارو څخه، چې رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم)، مدینې ته د ورننووتو په لومړیو شپو ورځو کې وکړ، د مسلمانانو ترمنځ ((د رورولۍ تړون)) و؛ یعنې مسلمانان یې سره ورونه کړل. داچې وایو یو له بل سره ورونه یو، په اسلام کې یوازې یو ست نه دی؛ یعنې حقیقتا یو مسلمانان پر یو بل د رورولۍ حق لري او یو بل ته مدیون دي او باید یو د بل متقابل حقونه ادا کړي. رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) دا چار په عملي توګه پلي کړ.آنحضرت (صلی الله علیه و آله وسلم) مسلمانان دوه په دوه سره رونه کړل او طبقات، کورنۍ او د مدینې او قریشو اشرافي توب ته یې پام و نه کړ. یو تور مریی یې له یو شتمن سره او یو ازاد شوی یې د بني هاشمو له یوه خانزاده سره رور کړ. په هر حال دې رورولۍ بېلابېل اړخونه درلودل، چې یو اړخ یې دا و، چې مسلمانان یو له بل سره د رورلۍ احساس وکړي.

---

[1]. بحارالانوار، ۹۷ ټوک، ۵۹ مخ.

يوه بله بېلګه هم راوړم، چې وښيم، چې رسول الله (صلى الله عليه و آله وسلم) څنګه ټولنه په اسلامي ارزښتونو سينګار کړه. په اسلام کې – چې عقايد، سياسي سلايق، ليکه، اړيکه او نورې چارې ترې وباسو- دا د وفادارۍ، حق پېژندنې او د وګړيو د زحمتونو او چوپړونو قدرپېژندنه ده، چې خورا مهم دي او عملا په دې چار به رسول الله خورا اډانه کوله. آنحضرت يوازې په وينا بسيا نه کوله او د بېلګې په توګه، ووايي: پر خپلو ژمنو مو ودرېږئ او يو د بل په نسبت حق پېژاندي ووسئ؛ بلکې په عمل کې يې هم دا فضا رامنځ ته کړه.
په يوه حديث کې مې وليدل، چې د نجاشي – د حبشې پاچا- له لوري يو پلاوی رسول الله ته مدينې ته ورغی، چې پېغام يې ورته راوړي؛ لکه څنګه د دولتونو ترمنځ متداول او معمول دی. نجاشي په حبشه هېواد کې پاچا و او د هغه مهال د نورو پاچايانو په شان دی هم نامسلمان او مسيحي و؛ خو کله چې حبشي پلاوی راغی، و يې ليدل، چې رسول الله (صلى الله عليه و آله وسلم) له خپل ځايه راپاڅېد او د پلاوي پر مېلمستيا بوخت شو. اصحابو وويل: ای رسول الله! موږ خو دلته يو، اجازه راکړئ، چې موږ يې مېلمستيا وکړو. آنحضرت وويل: نه ! هغه مهال، چې مسلمانانو حبشې ته هجرت وکړ، د دوی پاچا له مسلمانانو سره په خورا درناوي چلن کړی و؛ زه هم غواړم، چې جبران يې کړم او حق شناسي وکړم.
نو تاسې وينئ، چې رسول الله (صلى الله عليه و آله وسلم) په خپل ژوندانه، که څه د قريشو کفارو ورسره خورا جګړې کړې وې او له ختيځ روم له امپراتور- چې شامات او فلسطين يې هغه مهال تر ولکې لاندې وې- پرخلاف يې هم څو جګړې کړې وې او د يرموک، موته او تبوک په جګړو کې يې هم ګډون کړی و او تر هغو سيمو پورې په جهاد، فتوحاتو او هېواد پراختيا بوخت و؛ خو پر حبشه يې هېڅکله يرغل و نه کړ.
داسې نه وه، چې هر پاچا به چې اسلامي ايمان نه مانه؛ نو رسول الله به ورسره جګړه کوله. نه ! عهدشناسي، حق شناسي او د نجاشي د محبتونو قدر ان تر هغه چې د اسلامي حکومت پېر کېږي او په خپله رسول الله يې مشر کېږي، پر ځای دی. داسې بېلګې د رسول الله په ژوند کې خورا ډېرې دي او که وغواړو، چې هر يوه يې ووايو؛نو وينه مو خورا اوږدېږي.
يوه بله بېلګه هم راوړم: د اسلامي حکومت په پېر کې يوه ښځه مدينې ته رسول الله (صلى الله عليه و آله وسلم) ته ورغله. اصحابو وليدل، چې رسول الله له دې ښځې سره خورا په مينه چلن وکړ او د هغې او د کورنۍ پوښتنه يې وکړه. ښځه، چې ولاړه، رسول الله د اصحابو د حيرانتيا او هيښتنې د لرې کولو په موخه ووېل: دې ښځې د خديجې پر ژوندون (په مکه کې د سختۍ پر مهال) زموږ کور ته تګ راتګ درلود. هغه مهال، چې رسول الله کلابند و او چا ورسره راشه

درشره نه درلوده؛ نو دې ښځې هغه مهال له خديجې سره مړې ژونده کاوه. په دې روايت کې هم نه دي راغلي، چې دا ښځه مسلمانه شوې هم وه. نه ! احتمالا دا ښځه لا تر اوسه مسلمانه شوې نه وه؛ خو يوازې داچې په تېر وخت کې يې داسې يوه ځانګړنه درلوده؛ نو رسول الله (صلى الله عليه و آله وسلم) يې تر کلونو کلونو تېرېدو روسته هم قدر کاوه.

يوه بله بېلګه هم په ټولنه کې د کار او کوښښ د چاپېريال رامنځ ته کول دي، چې په دې باب رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم يوازې په دې بسنه نه کوله، چې ووايي، کار وکړئ. آنحضرت په بېلابېلو طريقو په خلکو کې د کار او کوښښ روحيه راژوندۍ کوله او که کله به يې ليدل، چې يو ځوان بېکاره دی، ويل يې: ان الله لا يحب الشاب الفارغ= خدای له هغه ځوانه، چې خپل عمر تلف کړي او بېکاره وي، خوښ نه دی.

په يوه روايت کې راغلي، چې رسول الله (صلى الله عليه و آله وسلم) به چې کله وليدل، چې د يوه ځوان اندام او ځواني به د چا خوښه شوه؛ نو له هغه به يې دوه پوښتنې کولې: واده دې کړی او آيا کوم کار لرې که نه؟ که هغه به ويل، چې واده مې نه دی کړی او کار نه لرم؛ نو رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم به ويل: سقط من عيني دا ځوان مې له سترګو وغورځېد. او په دې کړنلارو او چلن به يې خلک د کار او کوښښ پر اهميت پوهول.

يو مهال، څو تنه رسول الله ته ورغلل او د يوه وګړي تعريفونه يې ورته وکړل او ورته يې وويل: ای رسول الله! موږ له دې سړي سره په سفر کې وو او هغه يو ښه، پاک او الهي سړی و، تل يې عبادت کاوه، په هر ځای کې به مو چې دمه کوله، هملته يې له پيله تر پايه عبادت او د قرآن تلاوت کاوه. چې کله يې د سړي په باب دا خبرې وکړې؛ نو رسول الله په حيرانتيا وپوښتل: نو چا يې کارونه کول؟ هغه کس چې له خپلې سورلۍ له راکوزېدو سره سم پر عبادت بوختېږي؛ نو چا ورته خواړه چمتو کول؟ چا يې سامان را کوزاوه او چا يې کارونه کول؟ دوی ورته په ځواب کې وويل: ای رسول الله! موږ يې په خورا خوشحالۍ چارې سر ته رسولې. رسول الله وويل: کلکم خير منه[1] يعنې تاسې ټول تر هغه غوره ياست؛داچې هغه خپل کارونه په خپله نه کول او ستاسې پر اوږو يې در اچول او په خپله پر عبادت بوختېده؛نو دا کارونه يې نه لامليږي، چې ښه سړی وي. ښه سړي تاسې ياست، چې کار او کوښښ کوئ او ان د بل کار هم پر اوږو اخلئ.

---

[1]. بحارالانوار، ۷۳ ټوک، ۲۷۴ مخ او مکارم اخلاق، ۲۶۵ مخ.

په داسې کړنلارو، د اسلامي ټولنې د ژوند چاپېریال له کار او کوښښ سره له مینې ډکېږي. دا ټول موارد مې چې مطرح کړل،نن هم موږ ورته اړتیا لرو

## قانونسازي

د سمو او مناسبو سیاسي، اقتصادي، قضایي، اداري او ټولنیزو قوانینو تدوین او پلي کول، د دولت او د پر مخ تللې متمدنې ټولنې راز دی.

اسلام وایي: ((اسلامي ټولنه باید قانون ولري او د قانون پر بنسټ ولاړه وي))؛ نوځکه په قرآن کې د بشر د اړتیاوو له مخې، ټول قوانین یا په تفصیل او یا په ټولیزه توګه راغلي، چې د توضیح او تشریح دنده یې رسول الله (ص) ته سپارل شوې ده.

د جهاد، قضایي چارو، زکات، خمس، ارث، واده، طلاق، انفاق، له نامسلمانو سره اړیکې، سوداګري او د ټولنیزو اړیکو په اړه آیتونه په مدینه کې نازل شول او رسول الله (ص) امت ته تشریح کول او احکام یې تطبیقول او د ځینو کړنو د تایید او د خپلو ویناوو له لارې یې په ځان پسې "نبوي سنت" پرېښوول، چې مسلمانانو ته د "تفقه" او "اجتهاد" سرچینې شي. موږ همدې آیتونو او سنتو ته په رجوع ننني نړۍ ته قوانین تدوینولای شو.

## بهرنۍ اړیکې

په اسلامي دولت کې، چې د ځواک چلونې لپاره سیاسي، اداري او قانوني بنسټونه جوړ شول؛ نو بیا رسول الله (ص) د ستر عقیدتي او سیاسي ځواک په توګه د سولې، خیر او د نړۍ د مشرۍ په موخه، د بهرني نړیوال سیاست پر ډګر پښه کېښوده. ستر سیاستپوه، خپل کار او ډیپلوماسي، اسلام ته د "روم"، "ایران"، "حبشې" او د عربي سیمو د مسیحي مشرانو د رابللو له لارې پیل کړه.

د نورو دولتو د سفیرانو، د پاچایانو استازیو او د دوی له لوري د راوړل شویو ډالیو منل، پر سمې ډیپلوماسۍ، د رسول الله (ص) د تایید نښه ده، چې هغه مهال هم د دولتو ترمنځ دود وه او دا خبره په خپله د اسلامي دولت د بهرنیو اړیکو د آرونو د پخلي او غښتلتیا نښه ده، چې د رسول الله (ص) دې عمل، اسلامي دولت په نړۍ کې د ستر سیاسي ځواک په توګه اوڅار کړ، چې په نړیوالو او بهرنۍ اړیکو کې پر فکر، پوهه او ثابتو آرونو ولاړ دی.

قرآن او د رسول الله سنتو ته په کتنه دا واقعیت جوتېږي، چې په اسلامي دولت کې د بهرني سیاست چورلیځ (محور)، دین ته بلنه او تبلیغ د دولت د پیاوړتیا لامل دی، چې دولت پر ستر

فکري او فرهنګي څواک بدلوي، چې کولای شي، د نړۍ د مشرۍ دنده پر غاړه واخلي او اسلامي دولت، چې له تبلیغ او فرهنګي چار لاس واخست؛ نو یوازې به پر اداري سازمان واوړي.

**د قانون درناوی**

قانون ته درناوی او پرې چلېدل، ډېر لږ تر سترګو کېږي؛ خو د الله په استازیو او ځیناستو کې یې د ژوند عادي چار و.

حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم د رحمت پېغمبر و، چاچې یې سپکاوی؛ نو ښنه یې خو د قانون سپکاوی یې بخي نه ښنه. د قانون په پلي کولو کې یې له چا مخ نه کاوه او دې ته یې هم نه کتل، چې له قانونه سرغړوونکی د مقام خاوند او یا د چا زوی دی. د قانون پر وړاندې ټول ورته یو برابر وو؛ ځکه ایمان یې درلود، چې د عدالت پر بنسټ ولاړ قانون، د انسانانو د امنیت او په نړۍ کې د ژوند او پایښت غوره لار ده او ښه خبره نه ده، چې قانون د ځانمنو د غوښتنو وزله شي.

روایت دی، چې د مکې د فتح پرمهال د"بني مخزوم" د ټبر یوې ښځې غلا وکړه، چې جرم یې هم جوت شو خو د ټبر پر مغزو یې د جاهلیت دوړې پرتې وې او و یې ویل: ((که د ټبر پر ښځې یې حد جاري شو؛ نو د ټبر ټولنیز موقعیت به خراب شي)) نو هلې ځلې یې پیل کړې، چې مخنیوی یې وکړي؛ نو حضرت "اسامه بن زید" یې، چې د زوی په څېر پر رسول الله (ص) ګران و رسول الله (ص) ته واسطه کړ.

حضرت "اسامه" لا خپله خبره پای ته نه وه رسولې، چې رسول الله په غوسه وویل: ((دا د واسطې خبره او ځای نه دی!ایا کېدای شي د الله حد جاري نه کړم؟[1]

**د واکمن ټاکل**

قرآن ته په رجوع، چې د اسلام تلپاتې اساسي قانون دی او په "نبوي سنتو"کې تر پلټنې روسته، چې ددې قانون مفسر او څرګندوی دی، کېدای شي د "ایران" په اسلامي جمهوریت کې د مشر د ټاکنې طریقه په اسلام کې د واکمن ټاکلو ته بېلګه کړو.

---

[1] الطباطبایي محمد حسین؛ محمد في مراه الاسلام: ۸۳ مخ.

اسلامي ټولنو له پخوا تر ننه پورې داسې واکمنان زغملي، چې اسلامي دولت يې پر ميراثي او ټبيزې واکمنی اړولی او ځينو عالمانو هم دا کار د بيعت په نامه روا ګڼلی دی.
"ابن عبدربه" روايتوي: ((معاويه بن ابوسفيان، چې هوډ وکړ، خپل زوی "يزيد" ته تر ځان روسته، له خلکو بيعت واخلي نو غونډه يې جوړه کړه او "يزيدبن مقنع" يې خپل ویاند وټاکه. "يزيدبن مقنع" پاڅېد او په لوړ غږ يې وويل: "اميرمؤمنان دا دی! (معاويه بن "ابوسفيان" ته يې اشاره وکړه) و يې ويل: د "معاويه" تر مړينې روسته دا سړی خليفه دی او "يزيد" ته يې په اشارې وويل: چاچې له يزيد سره بيعت و نه کړ؛ نو کار به يې له دې سره (خپلې تورې ته يې اشاره وکړه) وي. معاويه بن ابوسفيان په خوشحالۍ وويل: کېنه!چې ته د خورږبيو خطيبانو ښاغلی يې. [1]))
خو سره له دې ټولو پېښو، د رښتينو او مخلصو علماوو له برکته، د اسلام عظمت او ځواک لا اوس هم پرځای دی. استاد"محمد قطب" اعتراف کوي، چې معاويه بن ابوسفيان د اسلامي دولت نظام له شورايي بڼې پر مورثي واړو خو اسلامي عربي حکومت مکتوب (قرآن) اساسي قانون لري![2].
"استاد سنهوري"، چې په اسلامي دولتو کې استبداد څېړي نو وايي: ((دليل يې د خپلسرو او د اسلام له موخو او آرونو وتلي واکمنان دي. [3]))
د اسلام د سياسي او ټولنيزو قوانينو د عظمت ښه همدا واقعيت دی، چې تر وسه د اسلام له احکامو يوازې محدود پلي شوي او نور د مغولو، تُرکانو او د مصري واکمنانو د هوسونو قرباني شوي، يا يې له منځه تللي او يا اړولي او بې ارزښته کړي دي؛ خو بيا يې هم قوانين د نورو اديانو په پرتله سر لوړي او پر خپل ځای پاتې دي.

---

[1] ابن عبد ربه؛ العقدالفريد: ۵ ټوک، ۱۱۹مخ، دارالکتب العلميه بيروت، ۱۹۸۷م.
[2] قطب محمد علي؛ نظام الاسلام السياسي: مطبعه الوفا مصر، ۱٤۰٦ ه، ق _۱۹۸٦ م.
[3] السنهوري عبدالرزاق؛ فقه الخلافه: ۳۹ مخ، الهيته المصريه للکتاب، ۱۹۸۹ م. په دې اړه د ارواښاد((علامه مودودي)) د ((خلافت او ملوکيت)) پښتو ژباړه ولولئ. ]

**په اسلام کې د حکومت او واکمنۍ بنسټ پر دوو آرونو ولاړ دی:**

۱_ په ولس او وګړيو کې د مسئووليت منلو د روحيې د پياوړتيا لپاره پر لاندې ټکيو ټينګار کوي:

الف_ له مسلمانانو غواړي د مشورې، امانت قبلونې او د ټاکنو پرمهال، الهي تقوا جامه کړي او پوه دې وي، چې د قيامت پر ورځ پوښتل کيږي؛ نو خپلې ګټې دې د اسلام تر ګټو لوړې نه ګڼي. ددې زهد پايله، پر مسلمان واکمن، د مسلمانانو همېشنۍ څارنه ده، چې د واکمن د احتمالي تېروتنو مخنيوی کوي او د عصمت تر پولې يې عدالت ته نږدې کوي.

ب_پر نېکيو امر او له بديو ژغورل يې پر ټولو فرض کړي، چې مسلمانان تل خپل واکمن ښو ته راوبلي او ښه چارې يې وستايي او د بې لارۍ يې مخنيوی وکړي او که اړتيا شوه له واکه يې ګوښه کړي.

تاريخ له ظالمو واکمنو سره د امامانو او په تېره د حضرت امام حسين د مبارزو له کيسو ډک دی او د وينا له مخې يې، دا چارې يې پر نېکيو امر او له بديو ژغورلو ته کړي دي.

۲ _ د عالمانو مسئووليت:

هغه مخلص او رښتين عالمان، چې د ټولنيزو مهمو چارو د هوارۍ وس لري، د اسلامي کچې له مخې، د واکمن د شرايطو او د واکمن د ټاکنې دنده لري، چې بې له ډار او مادي تمې دا دنده ترسره کړي.

**د اسلامي امت بنسټ ايښوونه**

د امت جوړونه يوازې سياست نه و؛ د سياست يوه برخه وه او بلهستره برخه يې د بېلابېلو وګړيو روزنه وه: ((هو الذی بعث فی الاميين رسولا منهم يتلوا عليهم آياته و يزکيهم و يعلمهم الکتاب و الحکمة[1])) يزکيهم، حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم بېل بېل زړونه وروزل، حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم بېلابېلو ذهنونو او عقلونو ته پوهه او علم ورتلقين کړ. و يعلمهم الکتاب والحکمة. حکمت يو پړاو پورته پوړ دی. يوازې دا نه وه، چې يو لړ قوانين، احکام او مقررات يې ورزده کړل؛ بلکې حکمت يې ورزده کړ. د هغوی سترګې يې د نړۍ پر حقايقو وغړولې. لس کاله هم حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دې

[1]. د جمعه سورت، دويم آيت.

کړلار سره مخې ته ولاړ. بلخوا، سياست، د حکومت سمبالنه، له اسلامي ټولنې دفاع، د اسلام د لمنې پراخول، له مدينې بهر وګړيو ته لار پرانستې پرېښوول، چې سوکه سوکه او يو يو د اسلام د ښوونو نوراني ډګر ته رانغوځي. بلخوا د بېل بېل وګړي روزنه. وررونو او خويندو! دا دوه يو له بله بېلولای نشو.

يو لړ وګړيو، اسلام يوازې وګړيز چار وباله او سياست يې له اسلامه واخست. دا هغه څه دي، چې نن په ډېرى اسلامي ټولنو او په يرغليزې مستکبرې، مستعمرې او لويديزې نړۍ کې دوديږي، چې: اسلام له سياسته بيل دی، سياست يې له اسلامه واخست؛ حال داچې د اسلام مکرم نبي (ص) د هجرت په پيل کې، په هماغو ړومبيو شېبو کې چې يې ځان د مکې له ستونزې راخلاص کړ، لومړی کار چې يې وکړ، سياست و. د اسلامي ټولنې جوړول، د اسلامي حکومت جوړول، د اسلامي نظام جوړول، د اسلامي پوځ جوړول، د نړۍ سترو واکمنانو ته ليکونه وراستول، د هغې ورځې سياسي ډګر ته وردانګل، سياست دی. څنګه کولای شو، چې اسلام له سياسته بيل کړو؟! څنګه کولای شو، چې سياست د هغه هدايت په لاس، چې د اسلام د هدايت لاس نه دی، معنا او تفسير او بڼه ورکړو؟! ((الذين جعلوا القرآن عضين[1])) ځينې قرآن ټوټه کوي. ((نؤمن ببعض و نكفر ببعض[2])) د قرآن په عبادت ايمان راوړي؛ خو د قرآن په سياست ايمان نه راوړي! ((لقد ارسلنا رسلنا بالبينات و انزلنا معهم الكتاب و الميزان ليقوم الناس بالقسط[3])) قسط څه شی دی؟ قسط؛ يعنې په ټولنه کې د ټولنيز عدالت پلي کول. څوک کولای شي، دا کار وکړي؟ له عدالت او قسط سره د ټولنې جوړول، يو سياسي چار دی؛ د يوه هېواد د چارواکيو کار دی. دا د انبياوو موخه ده. نه يوازې زموږ د پېغمبر؛ بلکې حضرت عيسی، حضرت موسی، حضرت ابراهيم (عليهم السلام) او نور ټول پېغمبران د سياست او د اسلامي نظام جوړولو لپاره راغلي دي.

د مدينې پېر، د حضرت رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د درويشت کلن رسالت دويم څپرکی دی. په مکه کې ديارلس کاله، لومړی څپرکی و- چې د دويم څپرکي سريزه ګڼل کېږي او تقريبا لس کاله هم د حضرت رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د مدينې پېر دی، چې د اسلامي نظام د بنسټ ايښوولو او د ټولو وختونو او د انسان د تاريخ او ټولو ځايونو لپاره

---

[1]. د حجر سورت، ۹۱ آيت.
[2]. د نساء سورت، ۱۵۰ آيت.
[3]. د حديد سورت، ۲۵ آيت.

د یوې بېلګې جوړولو پېر دی؛ البته دا بېلګه، یوه بشپړه بېلګه ده او په یوه پېر کې یې هم ساری نه لیدل کېږي؛ خو دې بشپړې بېلګې ته په کتو، کولای شو، چې ملاک او کچې وپېژنو. دا ملاکونه د بشر د وګړیو لپاره او مسلمانانو لپاره یو لړ علامتونه دي، چې باید د هغوی په واسطه د نظامونو او انسانانو په اړه قضاوت وکړي. مدینې ته له هجرته د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم موخه دا وه، چې له ظالمانه، طاغوتي فاسد سیاسي، وتېز او ټولنیز چاپېریال سره مبارزه وکړي، چې هغه مهال پر ټولې نړۍ واکمن و او موخه یوازې د مکې له کفارو سره مبارزه نه وه؛ خبره، نړیواله خبره وه. رسول الله (ص) په دې موخې پسې و او چې چېرې به زمینه وه، د ګروهې او اندنې تخم به یې شینده، په دې هیله، چې په مساعد وخت کې به دا تخم را زرغون شي. موخه دا وه، چې د انسان د آزادۍ، ویښتیا او نېکمرغۍ پیغام د ټولو انسانانو زړونو ته ورسي او دا چار بې له دې شونی نه و، چې یوه بېلګه نظام جوړ شي. داچې څومره به وکولای شي، دوام ورکړي او روسته به څومره وکولای شي، څانونه ورنږدې کړي، د هغوی په همت پورې اړه لري. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بېلګه نظام جوړوي او ټول بشریت او تاریخ ته یې وروړاندې کوي.

# د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د نظام اووه کچې

هغه نظام، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم جوړ کړ، بېلابېلې کچې لري، چې په هغوی کې يې اووه شاخصونه او ملاکونه تر نورو مهم او غوره دي:

لومړۍ کچه، ايمان او معنويت دی. په نبوي نظام کې حقيقي انګېزه او پرمخ وړونکی موټر هغه ايمان و، چې د خلکو د زړه او فکر له سرچينې راخوټېده او د هغوی لاس و پښه يې پر سمه لار پر مخ وړه؛ نو لومړی شاخص او کچه، وګړيو ته د ايمان، معنوياتو او سم اند ورکول او پياوړي کول يې دي، چې دا چار رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په مکه کې پيل کړ او په مدينه کې يې د هغه بيرغ په پوره ځواک هسک کړ.

دويم شاخص او کچه قسط او عدل دی. د کار بنسټ پر عدالت او قسط دی او حقوال ته يې-بې له کومې ملاحظې- د حق ورسول دي.

درېيم شاخص او کچه، علم او معرفت دی. په نبوي نظام کې د هر څه بنسټ، پېژندنه، پوهنه او ويښتيا ده. څوک په پټو سترګو يو لوري ته نه بيايي؛ خلک له پوره پوهې، معرفت او د تشخيص له ځواک سره، په کارنده ځواک-نه منفعل ځواک- بدلوي.

څلورم شاخص او کچه، مينه او رورولي ده. په نبوي نظام کې، هغه شخړې رټل شوي دي، چې سرچينه يې خرافاتي، وګړيزې او د ځاني ګټو انګېزې وي او ورسره مبارزه کېږي. چاپېريال يې د صميميت، رورولۍ او همدلۍ چاپېريال دی.

پينځم شاخص او کچه، د خويونو او کړنو سمونه ده. انسانان تزکيه کوي او له اخلاقي رذايلو يې پاکوي؛ اخلاقي او تزکيه شوي انسانان جوړوي؛ ((ويزکيهم و يعلمهم الکتاب و الحکمة[1])) تزکيه يو له بنسټيزو بسنتېونه څخه ده؛ يعنې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په بېل بېل وګړي رونيز او د انسان سازۍ کار وکړ.

شپږم شاخص او کچه، اقتدار او عزت دی. نبوي نظام او ټولنه، پر سر ګوزار خوړونکې، وابسته او نور ته لاس اوږدونکې، په چا پسې تلونکې نه ده او ده او هغه ته د اړتيا لاس وړاندې کوونکې نه ده؛ عزيزه، مقتدره او هوډمنه ده. خپل مصلحت چې يې وپېژنده؛ ور رسېدو ته يې هڅه کوي او خپل کار پرمخ بوځي.

---

[1]. د جمعه سورت، دويم آيت.

اووم شاخص او کچه دایمي کار، حرکت او پرمختګ دی. په نبوي نظام کې تمېدنه نشته؛ په مرتبه توګه حرکت، کار او پرمختګ دی. نه راپېښېږي، چې یو مهال ووایي: نوره پای ته ورسېده او اوس به دمه وکړو! دا پکې نشته. البته دا یو خوندور او خوښ چار دی؛ یو ستړی کوونکی، ستومانوونکی او کړوونکی کار نه دی؛ هغه کار دی، چې انسان ته څواکبښاندی دی.

حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مدینې ته ورننووت، چې نظام بشپړ او پر پښو ودروي او هغه د تل لپاره په تاریخ کې بېلګه پرېږدي، چې هر کس د تاریخ په هر ځای کې- تر هغه روسته تر قیامته- وکولای شي، ورته یې جوړ کړي او په زړونو کې ورلېوالتیا رامنځ ته کړي او انسانان د داسې یوې ټولنې پر لور ولاړ شي. البته د داسې یوه نظام جوړول، ګروهیزو او انساني بنسټونو ته اړتیا لري.

لومړی، باید سمې ګروهې او اندونه وجود ولري، چې دا نظام یې پر بنسټونو جوړ شي. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دا اندونه او افکار د کلیمه توحید، د انسان د عزت او نورو اسلامي ښوونو په چوکاټ کې او د مکې په دیارلس کلن پېر کې اوډون کړل او بیا یې هم په مدینه او د ژوند په هره شېبه کې، تل دا افکار او لوړې ښوونې- چې ددې نظام بنسټونه دي- ده او هغه ته ور زده او ور وښوول.

دویم، بشري بنسټونه په کار دي، چې دا بنسټ د هغوی پر اوږو ورکېښوول شي-ځکه اسلامي نظامونه یوازې په وګړي پورې اړوند نه دي- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ډېری دا بنسټونه په مکه کې هم جوړ کړي او چمتو کړي وو. د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو لړ صحابه کرام ول، چې دوی د مکې د دیارلس کلن ستونزمن پېر محصول ول؛ یو لړ هم هغه وګړي ول، چې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تر هجرت مخکې، په یثرب کې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له پیغام سره آشنا شوي وو؛لکه د حضرت سعد بن معاذ (رض) په څېر وګړي او د حضرت ابو ایوب (رض) په څېر وګړي او داسې نور. بیا هم چې رسول الله ورغی، د راننووتو د شېبې له هماغې پیله یې انسان سازي پیل کړه او ورځ په ورځ یې لایق مدیران، ستر، مېړني، سرښندونکي، ایمانوال، پیاوړي او پوه انسانان د دې نظام د پیاوړیو بنسټونو په نامه جوړ او مدینې ته ورننووت. مدینې ته د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم - دې ښار ته د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته تر راتګ مخکې یې نامه یثرب و او د آنحضرت تر هجرت روسته یې نامه مدینة النبي شو- د پسرلي د نسیم په څېر و، چې ددې ښار په چاپېریال کې خور شو او ټولو احساس کړل، چې په چارو کې پراختیا رامنځ ته شوې ده؛ نو زړونه یې متوجه او راویښ کړل. خلکو چې واورېدل، چې

حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم قبا ته ورغلی دی- قبا مدينې ته نږدې ده او آنحضرت پينځلس ورځې هلته پاتې شو- د مدينې په خلکو کې يې ليدو ته په زړه کې مينه نوره هم ډېره شوه. ځينې خلک قبا ته مخې ته ورغلل او له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره يې ليدل او بېرته راتلل او ځينې هم په مدينه کې ورته په تمه ول، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورشي. بيا چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مدينې ته ورغی. دا لېوالتيا او لطيف او ملايم نسيم د خلکو په زړونو کې په توپان بدل شو او زړونه يې بدل کړل. ناڅاپه يې احساس کړل، چې عقايد، عواطف، ټبريز تړاوونه او تعصبونه يې ددې سړي په ځېره، کړنو او ويناوو کې ويلي شوي دي او د يوه نوي ور له لارې د پنځون نړۍ له حقايقو او اخلاقي ښوونو سره اشنا شوي دي؛ همدا توپان و، چې لومړی يې د هغوی په زړونو کې انقلاب رامنځ ته کړ، ورپسې يې د مدينې پر لور وروغځاوه او بيا ورپسې يې د مکې طبيعي کلا ونيوه او په پای کې يې لرې لرې سيمو ته وروغځاوه او د هغه مهال د دوو سترو امپراتوريو او هېوادونو زړونو ته ور و رسېد او هر چېرې ته چې ولاړ، زړونه يې ولړزول او د انسانانو په زړونو کې يې انقلابونه وکړل. په صدر اسلام کې مسلمانانو ايران او روم د ايمان په ځواک سوبه کړ. تر تېرې لاندې ولسونو به هم چې دوی کله ليدل، په زړونو کې به يې ايمان رامنځ ته کېده. تورې هم ددې لپاره وې، چې له لارې د زور او زورواکو خنډونه لرې کړي؛ ګنې ولسونو ته همداچې دا طوفان ورسېده او د هغه مهال دوه امپراتورۍ-يعنې ايران او روم- تر بيخه پورې د اسلامي هېواد د امپراتورۍ برخه ګرځېدلي وو. دا هر څه په څلوېښتو کلونو کې وشول؛ لس کاله يې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر مهال؛ دېرش کاله يې هم تر آنحضرت روسته.

همداچې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مدينې ته ورننوت، کار يې پيل کړ او د آنحضرت د ژوند له هېښنو ځنې يوه داده، چې په دې لسو کلونوکې يې يوه شېبه هم له لاسه ور نه کړه او و نه ليدل شول، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ان د يوې شېبې لپاره هم د معنويت، هدايت، ښوونې او روزنې لاس پر سر شوی وي. ويښتيا يې، ويدېدل يې، جومات يې، کور يې، د جګړې ډګر يې، په کوڅو او بازار کې ګرځېدل يې، کورنی ژوند يې او وجود يې- په هر ځای کې چې و،- زده کړه وه. عمر يې خورا برکتي و! هغه چې د ټول تاريخ فکر مسخر او ايل کړ او اغېز يې پرې وشينده- چې ما څو څو ځل ويلي، ډېرې چارې او مفاهيم، چې بيا يې په روستيو پېړيو کې بشريت ته سپېڅلتيا پيدا کړه؛ لکه د مساوات، رورولۍ، عدالت او ولسواکۍ مفهوم، ټول د آنحضرت له ښوونو سرچينه اخلي؛ د نورو اديانو

په ښوونو کې داسې چارې نه وې او یا لږ تر لږه راڅرګندې شوې نه وې- یوازې لس کاله ډله ایز سیاسي او ټولنیز کار یې کړی و. څومره برکتي عمر! د ورننووتو له هماغه پیله یې خپل دریځ وټاکه.

پر کوم اوښ، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سپور و، د یثرب ښار ته ورننووت او خلک ترې راتاو شول. هغه مهال د مدینې ښار محله محله و؛ هرې محلې هم د ځان لپاره کورنه، کوڅې، دېوالونه او مشران درلودل او هره یوه یې د یوه ټبر وه: په ((اوس)) پورې تړلي ټبرونه او په خزرج پورې تړلي ټبرونه. چې کله د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اوښ مدینې ته ورننووت، د هر ټبر د کلا مخې ته چې ورسېد؛ نو مشران به یې راوتل او د اوښې مخه به یې نیوه او ویل به یې: یا رسول الله! دلته راشه! زموږ کور، ژوند، شتمني او هوساینه مو ستا په واک کې ده. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: د اوښ مخه پرېږدئ ((انها مامورة)) هغه په امر حرکت کوي؛ پرېږدئ، چې ولاړه شي، اوښې ته یې مخه پرېښووله، چې بلې محلې ته ورسېده. بیا یې مشرانو، مخورو، سپین ږیرو، وګړو او ځوانانو مخه ونیوه: یا رسول الله! دلته راکوز شئ، دا مو خپل کور دی، څه چې غواړې، در به یې کړو، موږ ټول ستا په چوپړ کې یو. و یې ویل: ګوښې شئ، پرېږدئ، چې اوښ پر خپل مخ مخې ته ولاړ شي ((انها مامورة)). اوښ همداراز پر مخه تله، چې د بني النجار محلې ته - چې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مور له دې ټبره ده- ورسېد؛ د بني النجار سړي د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ماماګان وو؛ نو رامخې ته شول او و یې ویل: یا رسول الله! موږ دې خپلوان یو؛ زموږ هستي ستا په چوپړ کې ده؛ زموږ کور ته راشه. و یې ویل: ((انها مامورة) ګوښې شئ، لار پرانځئ. لار یې پرانسته. اوښ د مدینې تر ټولو نشتمنې محلې ته ولاړ او په یوه ځای کې په ګونډو شو. ټولو ولیدل، چې ووینې، چې د چار کور دی، و یې لیدل، چې د ابوایوب انصاري کور دی؛ نشتمن او یا هم د مدینې یو له خورا نشتمنو وګړیو څنې. په خپله او نشتمنه کورنۍ یې راغله او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سامان یې راواخست او خپل کور ته یې یووړل. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د مېلمه په توګه د هغوی کور ته ورننووت او د مدینې نورو شتمنو، بادارانو او مخورو ته یې د رد ځواب ورکړ؛ یعنې خپل ټولنیز دریځ یې وټاکه او څرګنده شوه، چې دا انسان د پیسو، ټبریز حیثیت او د پلاني ټبر د ریاست شرف، قوم، خپلوانو، کورنیو او دې ته ورته چارو پورې تړلی نه دی. له هماغه شېبې یې وټاکله، چې په ټولنیز چلن کې د کومې ډلې او خلکو پلوی دی او شتون به یې د کومو خلکو لپاره ګټور وي. ټولو له حضرت رسول الله صلی الله علیه

وآله وسلم او ښوونو يې ګټه يووړه؛ خو هغه چې څومره بې برخې دی؛ نو ځمکه ډېره ګټه کوي او بايد بې برخېتوب يې جبران شي. د ابوايوب انصاري د کور مخې ته يوه ځمکه وه. و يې ويل: دا ځمکه د چا ده؟ وويل شول: د دوو پلارمړيو ځمکه ده. له خپلې کڅوړې يې پيسې ورکړې او ځمکه يې وپېرله. بيا يې وويل: دلته جومات جوړوو؛ يعنې يو سياسي، عبادي، ټولنيز او حکومتي مرکز؛ يعنې د خلکو د راټولېدو ځای. د مرکزيت لپاره يو ځای ته اړتيا وه؛ نو د جومات په جوړولو لګيا شول. د جومات ځمکه يې له چا و نه غوښته او له چا يې په بخشش کې هم وانخسته؛ هغه يې په پيسو وپېرله. سره له دې چې دوو کوشنيانو ساتونکی او پلار نه درلود؛ خو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د يوه پلار په څېر، په بشپړه توګه د هغوی حق ورکړ او په خپله د هغوی مدافع شو. د جومات جوړولو ته چې هوکړه وشوه؛ نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له هغو ځنې يا لومړی تن و، چې يوم يې راواخست او د جومات په کار يې پيل وکړ؛ نه د يوه تشريفاتي کار لپاره؛ بلکې واقعا يې په کار پيل وکړه او خولې پرې راماتې شوې او داسې کار يې وکړ، چې هغوی چې ځان له کاره شا ته کړی و، و يې ويل: موږ دې ناست يو او پېغمبر دې داسې کار کوي؟ نو موږ هم ورځو او کار کوو؛ نو ورغلل او جومات يې په لنډ وخت کې جوړ کړ- حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم – دې لوړ مقامي او مقتدر مشر- وښووله، چې د ځان لپاره په هېڅ ځانګړي حق قايل نه دی. که کوم کار ترسره کېږي؛ نو هغه بايد ونډه پکې ولري.

بيا يې د هغه نظام سياست او سمبالنه اوډون کړه. چې کله انسان ويني او ګوري، چې آنحضرت ګام په ګام، په مدبرانه توګه پر مخ تللی؛ نو پوهېږي، چې ددې پياوړي او پرېکنده هوډ تر شا څومره دقيق فکر، اند او محاسبه شتون لري، چې علی الظاهر بې له الهي وحې ناشونی دی. نن هم که څوک وغواړي، ګام په ګام د هغو لسو کلونو حالات وڅېړي؛ نو په څه به پوه نشي. که انسان هره پېښه بېله بېله وشمېري؛ نو څه يې لاس ته نه راځي؛ بايد وګوري او ووينې، چې د کار ترتيب څنګه دی؛ څنګه دا ټولې چارې مدبرانه، په هوښيارتيا او له سمې محاسبې سره ترسره شوې دي.

لومړی د وحدت او يووالي جوړول دي. د مدينې ټول وګړي خو مسلمان نشول؛ ډېری يې مسلمانان شول او خورا لږ يې هم نامسلمان پاتې شول. پر دوی سربېره، د يهودو درې مهم ټبرونه- د بني قينقاع، بني النضير او بني قريظه ټبرونه – هم په مدينه کې مېشت ول؛ يعنې په خپلو ځانګړيو کلاګانو کې چې تقريبا په مدينې پورې نښتې وې. مدينې ته د دوی راتګ سل که دوه سوه کاله مخکې و او داچې ولې راغلي وو،يوه اوږده کيسه ده.

هغه مهال، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مدینې ته ورغی، ددې یهودو ځانګړنې په دوو، درېیو ځیزونو کې وې: یو داچې د مدینې آریزه شتمني، د کښت غوره پټي، غوره ګټه کوونکې سوداګری، غوره ګټه ورکوونکې صنایع- د سرو زرو کالي او دې ورته ځیزونو جوړول- یې په واک کې وو. د مدینې ډېری خلکو به د اړتیا پر مهال دوی ته مراجعه کوله؛ پور به یې ترې اخسته او له سود سره به یې بېرته ورکاوه؛ یعنې له وټیز پلوه د ټولو ږیره د یهودو په لاس کې وه. دویم داچې د مدینې پر خلکو یې فرهنګي غوراوی درلود؛ ځکه کتابیان وو او له بېلابېلو ښوونو، دیني ښوونو او له هغو چارو سره اشنا وو، چې د مدینې نیمه وحشي وګړي ترې بې خبره وو؛ نو اندیز تسلط یې درلود؛ په واقع کې که په ننني ژبه خبره کول وغواړو؛ یهود په مدینه کې یوه روښانفکره طبقه شمېرل کېده؛ نو د هغه د ځای د خلکو سپکاوی به یې کاوه، ملنډې به یې پرې وهلې او تحمیق کول به یې؛ البته په هغو ځایونو کې چې له خطر سره به مخ شول او لازم به وو؛ نو ځان یې ټیټاوه هم؛ خو په طبیعي توګه دوی غوره وو.
درېیمه ځانګړنه یې داوه، چې له لرې لرې سیمو سره یې اړیکې هم درلودې؛ یعنې یوازې د مدینې په چاپېریال کې را ایسار نه وو. یهود په مدینه کې یو واقعیت و؛ نو باید له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د دوی یوه چاره هم وای. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو عمومي ډله ایز میثاق جوړ کړ. آنحضرت چې کله مدینې ته ورننووت، بې له دې چې کوم ترون وي، بې له دې چې څه له خلکو وغواړي او بې له دې چې خلکو په دې باب کومه مذاکره کړې وي، روښانه شوه، چې د دې ټولنې مشري د دې سړي ده؛ یعنې نبوي شخصیت او عظمت، ټول د هغه پر وړاندې خاکسار کړي وو؛ څرګنده شوه، چې هغه مشر دی او څه چې وایي، باید ټول یې په چورلیځ حرکت او اقدام وکړي.
حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو میثاق ولیکه، چې ټولو ته د منلو وړ شو. دا میثاق د ټولنیز چلن، معاملو، شخړو، دیه، له مخالفینو، یهودو او نامسلمانانو سره د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د اړیکو په باب و. دا ټول ولیکل شول او ثبت شول؛ مفصل هم دی؛ کېدای شي د پخواني سترو تاریخي کتابونو دوه یا درې مخه یې نیولي وي.
بل ګام یې خوار مهم دی، د رورولۍ رامنځ ته کول. باداري، خرافي تعصبونه، ټبریز غرور او یو له بله د ټولنې د وګړیو بېلوالی، د هغه مهال د عربي متعصبې او جاهلي ټولنې ځانګړنې او بلاګانې وې، چې پرې ککړ وو. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د اخوت په رامنځ ته کولو، دا ټولې چارې تر پښو لاندې ولتاړلې. د پلاني ټبر د مشر او د یوه خورا نشتمن او منځني پوړ له یوه سړي سره یې روري کړه او ورته یې وویل: تاسې دواړه سره رونړه یاست

او هغوی هم د زړه له کومې دا روزولي ومنله. د ټبر مشران او مخور یې له مسلمان شویو مریانو او ازاد شویو مریانو سره روڼه کړل او دې چار د ټولنیز یووالي پر لار ټول خنډونه لرې کړل. د جومات لپاره یې چې مؤذن ټاکه، خوږ غږي او پیمخي خورا ډېر ول، مخور او ستر شخصیتونه هم ډېر ول؛ خو په دې ټولو کې یې حبشي بلال وټاکه. ښکلا، څېره، کورنی، مورنی، پلرنی او توکیز شرف مطرح او نوموتی نه و؛ یوازې اسلام، ایمان، د خدای په لار کې هڅې او په دې لار کې سرښندنه کچه وه. وګورئ، چې څنګه یې په عمل کې ارزښتونه وټاکل. تر خبرې ډېر یې عمل او سیرت پر زړونو اغېزمن و.

## له اسلامي نظامه پاسوالي

داچې دا کار سمبال کړي؛نو پړاوونه یې درلودل: لومړی پړاو د نظام بنسټ ایښوونه وه، چې په دې چارو ترسره شوه. دویم پړاو ددې نظام ساتنه وه. ژوندی، مخ پر ودې موجود، که ټول څواکمنان یې وپېژني؛ له هغه به د خطر احساس وکړي او قهرا به یې دښمن شي. که حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم  و نشي کړای، چې د دښمن پر وړاندې له دې سپېڅلي نوزېږي طبیعي موجوده دفاع وکړي؛ نو دا نظام به له منځه ولاړ شي او ټول زحمتونه بې پر سیند لاهو شي؛ نو باید ساتنه یې وکړي. درېیم پړاو د بنسټونو بشپړول او رغول دي. بنسټ ایښوونه بسیا نه ده؛ بنسټ ایښوونه لومړی ګام دی. دا درې چارې یو له بل سره اوږه پر اوږه ترسره کېږي. بنسټ ایښوونه په لومړي پړاو کې دي؛ خو په همدې بنسټ ایښوونه کې هم دښمنانو ته پام دی او تردې روسته به هم ساتنه دوام مومي. په همدې بنسټ ایښوونه کې د وګړیو ستو او ټولنیزو بنسټونو ته پام شوی دی او تردې روسته به هم دوام مومي.
پېغمبر ګوري، چې دا نوزېږې ټولنه د پینځو دښمنانو له خوا ګواښل کېږي:
یو دښمن کوشنی او کم ارزښته دی؛ خو په عین حال کې غلفت ترې په کار نه دی.کېدای شي یو وخت یو ستر خطر رامخې ته کړي. هغه کوم یو دی؟ د مدینې د شاوخوا نیمه وحشي ټبرونه. د مدینې په لس فرسخۍ، پینځلس فرسخۍ او شل فرسخۍ کې نیمه وحشي ټبرونه شتون لري، چې ټول ژوند یې جګړه، وینه تویونه، لوټل، یو له بل سره لاس و ګرېوانېدل او یو له بله وهل دي. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم  که غواړي، چې په مدینه کې روغ او ډاډمن ټولنیز نظام رامنځ ته کړي، باید د دوی چاره وکړي. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم  د دوی لپار چاره وسنجوله. په هغوی کې په هر یوه کې چې د هدایت او سمېدو

نښې نښانې وې؛ نو له هغوی سره یې ټرون وکړ، لومړی یې هم ورته و نه ویل، چې هرومرو مسلمان شئ. نه! کافر او مشرک ول؛ خو ټرون یې ورسره وکړ، چې برید به نه کوئ. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر خپله ژمنه او ټرون خورا ټینګار درلود او پرې ولاړ و، چې دا به هم ووایم. هغوی چې شري ول او ډاډمن نه ول؛ نو حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یې درمنله وکړه او په خپله ورپسې ورغی. دا سریه ګانې، چې اورېدلي مو دي، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پنځوس تنه په پلاني ټبر پسې ورواستول، شل تنه یې په پلاني ټبر پسې ورواستول، په همدې پورې اړوند دي؛ هغوی چې خوی او طبیعت یې ارامېدونکی، ښیون منونکی او سمېدونکی نه دی او بې له وینې تویونې او زورواکۍ ژوند نشي کولای؛ نو حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورپسې ورغی او و یې ځپل او په خپلو ځایونو کې یې کېنول.

دویم دښمن مکه ده، چې یو مرکزیت دی. سمه ده، چې په مکه کې په رایجه معنا کوم حکومت نه و؛ خو کبرجنو، ځواکمنو او متنفذو شتمنو پر مکه واکمني کوله. دوی یو له بل سره اختلافونه درلودل؛ خو د دوی نوزیږي نظام پر وړاندې سره یو لاس وو. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هم پوهېده، چې غټ خطر د همدوی له اړخه دی؛ همداسې په عمل کې هم وشول. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم احساس کړل، چې که په تمه کېني، چې هغوی ورپسې راشي؛ نو کټ مټ به هغوی ته فرصت په لاس ورشي؛ نو ورپسې ورغی؛ خو د مکې پر لور ورنغی، د هغوی کارواني لار له مدینې تېرېده؛ حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپل برید له هغه ځایه پیل کړ، چې په پیل کې د بدر جګړه ددې بریدونو ځنې مهم برید دی. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم برید پیل کړ او هغوی هم په خورا تعصب او ځېل د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم جګړې ته راودانګل او تقریبا حالات همداسې ول؛ یعنې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هغوی پر خپل حال نه پرېښوول؛ هغوی هم هیلمن ول، چې وکولای شي، دا نوزیږی-یعنې اسلامي نظام- چې د خطر احساس یې ترې کاوه، جرړه یې راونړوي. د احد غزا او نورې جګړې، چې راپېښې شوې، په همدې زمینه کې وې.

روستۍ جګړه، چې هغوی په حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پسې ورغلل، د خندق غزا- یوه له مهمو جګړو ځنې- وه. خپل ټول ځواک یې راټول کړ او له نورو یې هم مرسته وغوښته او ویل یې چې ولاړ به شو او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دوه سوه، درې سوه، پینځه سوه نږدې یاران به ووژنو؛ مدینه به هم لوټ کړو او هوسا به راستانه

شو او بيخي به يې څه پاتې نشي. مخکې له دې چې هغوی مدينې ته را ورسي، حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له کيسې خبر شو او هغه مشهور خندق (کنده) يې و کنله. مدينه له يوه لوري قابل نفوذ وه؛ نو هلته يې تقريبا د څلورو مترو په پلنوالي يوه کنده وکنله. د رمضان مياشت وه او د ځينو روايتونو له مخې، هوا خورا سړه وه؛ هغه کال اورښت هم نه و شوی او خلکو کوم درآمد هم نه درلود؛ نو له خورا ستونزو سره مخ وو. د کندې په کنلو کې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم تر ټولو ډېر کار وکړ او چې په کوم ځای کې به يې وليدل، چې څوک ستړی شوی او مخکې نشي تللای؛ نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به تله او کولنگ به يې ترې اخسته او پر کار به لگيا کېده؛ يعنې يوازې حکم کولو ته يې شتون نه درلود؛ په خپل تن او وجود يې په وگړيو کې شتون درلود.
کفار د خندق مخې ته ورغلل؛ خو و يې ليدل، چې نه يې شي کولای؛ نو مجبوره شول، چې مات، نهيلي، شرمېدلي او ناکام بېرته ستانه شي. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: پای ته ورسېده؛ دا پر موږ د مکې د قريشو روستی يرغل و؛ نو تردې روسته زموږ وار دی؛ موږ به د هغوی پر لور او ورپسې مکې ته ورځو.
يو کال روسته حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل، چې غواړو مکې ته د عمرې لپاره ولاړ شو. د حديبيه کيسه – چې يوه له خورا مغزو او معنا ډکه پېښه ده- دا مهال راپېښه شوې ده. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د عمرې ترسره کولو لپاره د مکې پر لوري روان شو. هغوی هم وليدل، چې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په حرامو مياشتو کې- چې د جگړې مياشت نه ده او هغوی هم د حرامو مياشتو درناوی کاوه- د مکې پر لور ورغی؛ نو څه ورسره وکړي؟ لار ورته پرانستې پرېږدي، چې راشي؟ له دې بري سره به څه کوي او څنگه به يې پر وړاندې درېږي؟ آيا په حرامو مياشتو کې ورمخې ته شي او جگړه ورسره وکړي؟ څنگه ورسره جگړه وکړي؟ بالاخره هوډ يې وکړ، چې مخې ته ور وځو او نه يې پرېږدو، چې مکې ته رانوځي او که کومه پلمه مو په لاس راغله؛ نو ټول به يو ځای ووژنو. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په خپل خورا لوړ تدبير داسې يوه چاره وکړه، چې ورته کېناستل او تړون يې ورسره لاسليک کړ، چې ستون شي او بل کال بيا راشي او عمره ترسره کړي او په ټوله سيمه کې هم د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د تبليغاتو لپاره لار پرانستل شوه.

نامه یې سوله ده؛ خو متعال خدای په قرآن کې وایي: ((انا فتحنا لک فتحا مبینا[1])) موږ ځرګنده سوبه درکړه. که څوک د تاریخ سمو او کوټلیو سرچینو ته مراجعه وکړي؛ نو و به ګوري، چې د حدیبیه پېښه څومره هېښنده پېښه ده. بل کال حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم عمرې ته ولاړ او له دې سره، د آنحضرت برم او دبدبه ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو شوه.

بل کال- یعنې اتم کال- چې کفارو تړون مات کړ؛ نو حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورغی او مکه یې سوبه کړه، چې یوهستره سوبه او د آنحضرت د واک او ځواک ځرګندویه وه؛ نو حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خورا مدبرانه، په ځواک، صبر، پراخې سینې، بې له وارخطایی او بې له دې چې یوه شېبه پر شا تګ وکړي، ددې دښمن چاره وکړه.

درېیم دښمن یهود ول؛ یعنې ناډاډمن پردي، چې اوس په یوه ښار کې له حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره ژوند کوي؛ خو له ورانکارۍ یې لاس نه اخسته. که پام وکړئ، د بقرې سورت ډېرې آیتونه او د قرآن یو لړ نورو آیتونو له یهودو سره د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرهنګي مبارزې ته اشاره کړې ده؛ ځکه و مو ویل، چې دوی فرهنګي ول؛ پوهنې یې درلودې؛ د کمزورایمانه وګړیو پر ذهنونو اغېزمن ول، دسیسې یې کولې، خلک یې نهیلول او یو له بل سره یې جنګول. دوی سازمان یافته دښمنان ول، د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له لاسه چې څومره کېدل، له دوی سره یې ګوزاره کوله؛ خو بیا یې چې ولیدل، چې دوی د ګوزارې خلک نه دي؛ نو سزا یې ورکړه. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هسې او بې سریزې په دوی پسې ورنغی؛ دې درېیو ټبرونو، هر یوه یې یو کار وکړ او بیا حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته د هغوی د کړنو له مخې سزا ورکړه. لومړی بني قینقاع ول، چې له حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره یې خیانت وکړ؛ حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورپسې ورغی او ورته یې وویل، چې باید له دې ځایه ووځئ؛ دوی یې کډن او له هغه سیمې یې بهر کړل او ټولو امکانات یې مسلمانانو ته پاتې شول. دویمه ډله یې بني نضیر ول، دوی هم خیانت وکړ- چې د خیانت کیسه یې هم مهمه ده-؛ نو حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل، چې له یو څه توکیو سره له دې ځایه بهر شئ؛ دوی هم مجبور شول او ووتل. درېیمه ډله یې بني قریظه ول، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اجازه ورکړه، چې پاتې شي؛

---

[1]. د فتح سورت لومړی آیت.

دوی يې بهر نه کړل؛ له دوی سره يې تړون وکړ، چې پرېنږدي، چې په خندق جګړه کې دښمن د هغوی له سيمې مدينې ته راننوځي؛ خو دې يهود تېر ناځواني وکړه او له دښمن سره يې تړون وکړ، چې د هغوی ترځنګ پر پېغمبر يرغل وکړي؛ يعنې نه يوازې له حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره پر کړې ژمنه ولاړ پاتې نه شول؛ بلکې په هغه حال کې چې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د مدينې يوې برخې ته کنده کنلې وه- چې قابل نفوذ وه- او د دوی محلې بل پلو وې او بايد د دښمن د راتګ په مخ کې خنډ شوي وای؛ خو دوی ورغلل او له دښمن سره يې خبرې اترې او مذاکره وکړه، چې هغوی او دښمن-ګډ- له هغه ځايه مدينې ته ورننوځي او له شا پر حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ګوزار وکړي. آنحضرت د دسيسې په ترڅ کې خبر شو. مدينه شاوخوا يوه مياشت کلابنده وه او د مياشت په منځ کې ول، چې دوی خيانت وکړ. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خبر شو، چې دوی داسې هوډ کړی دی، په يوه خورا هوښيار تدبير يې يو کار وکړ، چې د هغوی او د قريشو انډيوالي خرابه شي- چې کيسه يې په تاريخ کې راغلې ده- يو کار يې وکړ، چې هغوی او قريش يو پر بل ناډاډمن شي. د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم يو ښکلی سياسي جګړه ايز چل همدلته و؛ يعنې دوی يې همدلته ودرول، چې تاوان و نه رسوي او بيا چې قريشو او همژمنو يې ماتې وخوړه او له خندقه پر شا شول او د مکې پر لور ولاړل؛ نو رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم مدينې ته راستون شو او پر هماغه ورځ، چې راستون شو، د ماسپښين لمونځ يې وکړ او و يې ويل، چې د مازيګر لمونځ به د بني قريظه وو د کلا مخې ته کوو؛ راځئ، چې هلته ولاړ شو؛ يعنې ان يوه شپه ځنډ يې هم ونکړ، ولاړ او هغوی يې کلابند کړل. هغوی پينځه ويشت ورځې کلابند او له مسلمانانو سره يې اخ و ډب درلود، بيا يې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ټول جګړه مار سړي ووژل؛ ځکه خيانت يې خورا ستر و او د سمونې وړ نه ول. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دوی سره داسې چلن وکړ؛ يعنې له يهود دښمن- عمدتا د بني قريظه و کيسه، مخکې ترې د بني نضير او وروسې د خيبر يهودان- نه يې داسې په تدبير، ځواک، پيګيری او په سترو انساني اخلاقو مسلمانان خلاص کړل. په دې يوه کيسه کې هم حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له خپلې کړې ژمنې او خبرې پر شا نه شو، ان د اسلام دښمنان هم دا خبره مني او منښته پرې کوي، چې په دې معاملو کې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کله هم ژمنماتي و نه کړه او هغوی ول، چې ژمنماتي يې کوله.

څلورم دښمن منافقين ول. منافقين د خلکو په منځ کې ول، هغوی چې په ژبه يې ايمان راوړی و؛ خو په باطن کې يې ايمان نه درلود؛ پرېوتي وګړي، معاند، کينه کښ تنګ نظري، له دښمن سره يولاسېدو او همکارۍ ته چمتو؛ خو سازمان نيافته. له يهودو سره يې توپير همدا و. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له سازمان يافته دښمن سره، چې چمتو او يرغل ته په تمه دی، چې ضربه ووهي؛ لکه له يهودو سره چې يې چلن وکړ، داسې چلن کوي او هغوی ته امان نه ورکوي؛ خو دښمن چې سازمان يافته نه دی او وګړيز ځيلونه، دښمنی او خباثتونه لري، بې ايمانه دی؛ نو زغمي يې. عبدالله بن ابی د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دښمنانو څخه يو خورا دښمن وګړی و. تقريبا د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د عمر تر روستي کاله پورې ژوندی و؛ خو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ورسره بد چلن و نه کړ. سره له دې چې ټول پوهېدل، چې منافق دی؛ خو له هغه سره يې ګوزاره کوله او د نورو مسلمانانو په څېر ورسره چلېدل، له بيت الماله يې خپله برخه ورکوله، امنيت يې خوندي او درناوی يې هم کېده. سره له دې چې هغوی دومره رذالتونه او خباثتونه کول، چې په بقره سورت کې د همدې منافقينو په باب خبرې شوې دي؛ خو چې کله همدوی منافقينو په مدينه کې يو سازمان موندلی چار وکړ؛ نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ورپسې ورغی. د ضرار جومات په کيسه کې دوی ولاړل او يو مرکز يې ځان ته جوړ کړ؛ يا له اسلامي نظامه بهر- يعنې له هغوی سره، چې په روم امپراطورۍ کې وو؛ لکه راهب ابوعامر- يې اړيکې ټينګې کړې او سريزې يې چمتو کړې وې، چې د روم په مرسته په حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پسې لښکر راولي؛ نو دلته حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ورپسې ورغی او جومات يې ورروسوځاوه او له خاورو سره يې يو ځای کړ، چې جوړ کړی يې و او و يې ويل: دا جومات، جومات نه دی او دا جومات د خدای د نامې او د خلکو پرخلاف د دسيسو مرکز دی. يا هلته چې له همدې منافقينو څخه يوه ډله ولاړه او خپل کفر يې څرګند کړ او له مدينې ووتل او په يوه ځای کې يې يو لښکر راټول کړ؛ نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم مبارزه ورسره وکړه او و يې ويل: که رانږدې شول؛ نو ورپسې به ورشو او و به جنګېږو ورسره. سره له دې چې په مدينه کې دننه هم منافقين ول؛ خو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له هغوی سره کار نه درلود؛ نو له درېيمې ډلې سره يې سازمان منلی پرېکنده چلن وکړ؛ خو له څلورمې ډلې سره يې نرم چلن وکړ؛ ځکه سازمان موندلي نه ول او خطر يې وګړيز خطر و او ډېری يې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په خپل چلن خېجله کړل.

پينځم دښمن هغه دښمن و، چې په هر مسلمان او مؤمن کې دننه و او تر ټولو دښمنانو خطرناک دښمن هم همدا و. دا دښمن په موږ کې هم شته دی: ځاني غوښتنې، ځان غواړي،کږلارۍ ته لېوالتيا او هغه تېروتنې، چې انسان يې په خپله سريزې چمتو کوي. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دې دښمن سره هم کلکه مبارزه وکړه؛ خو له دې دښمن سره مبارزه، په توره نه وه، په ښوونه، روزنه، تزکيه او ګواښلو ده؛ نو کله چې خلک له هومره زحمت ګاللو روسته له جګړې راستانه شول؛ نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وويل: تاسې له کوشني جهاد نه راستانه شوئ او اوس په ستر جهاد لګيا شئ. ډېره هېښنده ده يا رسول الله! ستر جهاد يې کوم يو دی؟ موږ له دومره ستريا او زحمت سره جهاد وکړ؛ مګر تردې هم بل ستر جهاد شته دی؟ و يې ويل: هو! له خپل نفس سره جهاد؛ البته ځينې منافقين هم د الذين فی قلوبهم مرض له ډلې ځنې دي؛ خو هر څوک چې الذين فی قلوبهم مرض دي- يعنې په زړه کې يې رنځ دی- د منافقينو له ډلې ځنې نه دي؛ کله مؤمن دی؛ خو په زړه کې يې رنځ دی. دا رنځ؛ يعنې څه؟ يعنې اخلاقي او شخصيتي کمزورۍ او بېلابېلو ځاني غوښتنو ته ورلېوالتيا، چې که مخه يې و نه نيسې او په خپله مبارزه ورسره و نه کړې؛ نو ايمان به دې درځنې واخلي او له دننه به دې تش او وروست کړي او چې کله ايمان يې درځنې واخست؛ نو زړه به دې بې ايمانه او ظاهر به دې ايمانوال وي؛ نو بيا ددې وګړي نامه منافق وي او که خدای مه کړه، زموږ او ستاسې زړه له ايمانه تش شي، حال داچې ظاهر مو ايمانوال دی؛ نو ايماني او اعتقادي زړه تړنې او پابندۍ به له لاسه ورکړو؛ خو په عين حال کې په خوله به مو هماغه د پخواني ايمان خبرې وي، دې ته نفاق وايي، چې يو خطر دی. قرآن وايي: ((ثم کان عاقبة الذين اساوا السوای ان کذبوا بايات الله[1])) هغوی چې ناوړچاري وکړه؛ نو خورا ناوړه به يې په نصيب شي. هغه خورا ناوړه څه دي؟ د الهي آيتونو دروغجنول. په بل ځای کې وايي: هغوی چې په دې ستره دنده- د خدای په لار کې انفاق- باندې عمل و نه کړ ((فاعقبهم انفاقا فی قلوبهم الی يوم يلقونه بما اخلفوا الله ما وعدوه و بما کانوا يکذبون[2]))داچې له خدای سره يې د ژمنې پرخلاف وکړل؛ نو په زړونو کې يې نفاق راغی. د اسلامي ټولنې لپاره ستر خطر دادی. په تاريخ کې چې په هر ځای کې چې وينئ، چې اسلامي ټولنه کږلارې شوې ده، له همدې ځايه کږلارې شوې ده. شونې ده، بهرنی دښمن راشي او ځېنه وکړي، ماتې ورکړي،

---

[1]. د روم سورت، لسم آيت.

[2]. د توبه سورت، ۷۷ آيت.

لوټ مار و کړي؛ خو له منځه يې وړای نشي؛ بالاخره ايمان پاتېدونکی دی او په يوه ځای کې خپل سر راپورته کوي او رازرغونېږي؛ خو په هغه ځای کې چې د انسان دا دننی دښمن يرغل وکړي او انسان له دننه تش کړي؛ نو لاره ترې کږېږي. په کوم ځای کې چې کږلاري ده، سرچينه يې همدا ده. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دې دښمن سره هم مبارزه وکړه.

حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په خپلو کړنو کې مدبرانه چلن وکړ او سرعت عمل يې درلود. اجازه يې ور نه کړه، چې په يوه معامله کې هم وخت ترې تېر شي. وګړيز پاکوالی او قناعت يې درلود او هېڅ د کمزوزتيا ټکی يې نه درلود. هغه پاکلمنی او سوتره و، چې دا په خپله د اغېزمنۍ خورا مهم لامل دی. موږ بايد زده کړو؛ له دې خبرو څنې ډېری خبرې بايد ما ته وشي؛ زه يې بايد زده کړم، چارواکي يې بايد زده کړي. په کړنو اغېزمنېدل تر په ژبه له اغېز شيندلو خورا ژور او پراخ بنسټيه دي. هغه پرېکندتوب او صراحت درلود. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کله هم دوه سرې خبره و نه کړه؛ البته چې کله له دښمن سره مخېده، دقيق سياسي کار يې کاوه او دښمن به يې په اشتباه کې اچاوه، په ډېری ځايونو کې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خپل دښمن غافله کړی دی، څه له پوځي پلوه، څه له سياسي پلوه؛ خو له مؤمنينو او خپلو خلکو سره يې تل پرېکنده، رڼې او روښانه خبرې کولې او سياست يې ورسره نه کاوه او په ډېری ځايونو کې يې نرم دريځې کوله؛ لکه د عبدالله بن ابی په معامله کې، چې کيسه يې اوږده ده. آنحضرت هېڅکله له خلکو او ډلو-ان له دښمنانو سره او ان د مکې له کفارو- سره له خپلې کړې ژمنې او تړونه پر شا نه شو. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ورسره خپله کړې ژمنه او تړون مات نه کړ؛ خو مخالفينو به ماتول. حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پرېکنده ځواب ورکړ. له چا سره يې تړلی تړون مات نه کړ؛ نو ټول پوهېدل، چې که له دې سړي سره تړون وشي؛ نو تړون يې د ډاډ وړ دی، بلخوا حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم هېڅکله خپله خاکساري او تضرع له لاسه ور نه کړه او له خدای سره يې خپله اړيکه ورځ تر بلې ډېره کړه. د جګړې په ډګر کې، هماغه مهال، چې خپل ځواکونه يې منظمول، هڅونه يې کوله، په خپله به وسلوالېده او پرېکنده بولندوي به يې کوله يا به يې ښوونه ورته کوله، چې څه وکړي. په ګونډو به شو او لاسونه به يې خدای ته پورته کړل او د خلکو په مخ کې يې اوښکې تويېدې او له خدای سره به يې خبرې کولې: پالونکيه! ته مرسته راسره وکړه؛ پالونکيه! ته مو ملاتړ شه! ته دې په خپله دښمنان لرې کړه. نه يې دعا لامل شوه، چې له خپل ځواکه کار وانخلي او نه يې له خپل ځواکه کار

اخستنه لامل شوه، چې توسل، تضرع او له خدای سره له اړيکې غافل شي؛ دواړو ته يې پام و. هېڅکله له دښمنه و نه ډارېد. حضرت اميرالمؤمنين –چې د مېړنتوب بېلگه ده- وايي: په جگړه کې به چې حالات ستونزمن شول؛ نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته به مو پناه وروړه. په کوم ستونزمن چار کې به چې څوک ښکېل شو؛ حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته به يې پناه وروړه. هغه لس کاله حکومت وکړ؛ خو کومې چارې چې آنحضرت په دې لسو کلونو کې وکړې، که يوه پياوړي ټيم ته يې ورکړو؛ نو په سلو کلونو کې به يې هم ونشي کړای، که موږ نن خپل ترسره کړې چارې له هغه څه سره پرتله کړو، چې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کړي دي؛ نو هغه مهال به پوه شو، چې آنحضرت څه کړي دي. د هغه حکومت سمبالنه، د هغه ټولنې جوړول، د هغه بېلگې جوړول، د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له معجزاتو څنې دي. خلکو لس کاله ورسره شپه و ورځ ژوند وکړ، کور ته يې ورغلل او آنحضرت يې کور ته ورغی، په جومات کې سره يو ځای ول، پر لار سره يو ځای ول، يو ځای يې سفرونه وکړل، يو ځای سره ويده شول، يو ځای يې سره لوږې تېرې کړې دي، يو ځای يې ښادۍ کړې دي. د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د ژوند چاپېريال هم يو خوشحاله چاپېريال و، له وگړيو سره يې ټوکې ټکالې کولې، سيالۍ به يې کېښوولې او په خپله يې هم گډون پکې کاوه. هغه خلکو چې لس کاله ژوند ورسره کړی دی، ورځ په ورځ يې پر آنحضرت گروهه او په زړونو کې يې ورسره مينه ژوره شوې ده. د مکې په سوبه کې چې کله ابوسفيان د عباس –د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم تره- په ملاتړ د آنحضرت غونډ ته ورغی، چې امان ترې واخلي، سهار وختي يې وليدل، چې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم اودس کوي او خلک ترې راټول شوي دي، چې د حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د اودس اوبه د تبرک لپاره راواخلي! و يې ويل: ما کسری او قيصر –د نړۍ څواکمن واکمنان- ليدلي؛ خو د هغوی دومره درناوی مې نه دی ليدلی. هو! مانيز عزت، واقعي عزت دی ((ولله العزة و لرسوله و للمؤمنين[1])) مؤمنين هم که پر هغه لار ولاړ شي؛ نو عزت لري.

## د اسلامي نظام تثبيتول

---

[1]. د منافقون سورت، ۸ آيت. ژباړه:

د خم غدير پېښه د اسلام د تاريخ خورا مهمه او ټاکونکې پېښه ده. دې پېښو ته له دوو ليدلوريو او دوو اړخونو ورکتای شو. يو په شيعه وو پورې ځانګړی اړخ دی او يو اړخ يې په ټولو اسلامي ډلو پورې اړوند دی، ددې پېښې د دويم اړخ په پامنيوي، بايد دا روحيه او احساس د نړۍ په ټولو مسلمانانو کې رامنځ ته شي، چې د غدير اختر، چې ددې سترې پېښې رايادوونکی دی، يوازې په شيعه وو پورې اړوند نه دی.

د پېښې لومړی اړخ، لکه څنګه چې مې وويل، په شيعه وو پورې ځانګړی دی؛ ځکه په دې پېښه کې حضرت رسول الله (ص)،حضرت علي کرم الله وجهه خپل ځايناستی وټاکه او پر هماغه ورځ او هماغه کيسه کې يو لړ کسانو رسول الله وپوښت، چې ای رسول الله! دا ټاکنه ستا له لوري ده که د خدای له لوري؟ و يې ويل: ((من الله و رسوله[1]))؛ يعنې هم الهي حکم دی او هم زما له لوري دی. دا پېښه له دې اړخه، شيعيان لمانځي، چې د شيعه وو ګروهه- يعنې د حضرت اميرالمؤمنين خلافت- تر هر دليله ډېر، پردې پېښه مستند دی. البته ددې پېښې په باب استنباط او استدلال په خورا کتابونو کې د اسلام د تاريخ په ترڅ کې راغلي دي. او زه نه غواړم ددې مطلب په باب، چې زرونو قلمونو او ژبو يې په اړه ويلی دي او ليکلي يې دي، څه پرې ورزيات کړم.

خو د پېښې دويم اړخ، چې د ارزښت له پلوه تردې اړخه لږ نه دی، د شيعه وو او سنيانو ترمنځ يو ګډ چار دی، چې پردې به يو څه ډېره رڼا واچوو.

کيسه داسې وه، چې د خدای استازی پر لسم هجري کال، حج ته ولاړ، د مدينې له يوې ډلې مسلمانانو او د جزيرة العرب له وګړيو سره، چې مسلمانان شوي وو. په دې سفر کې حضرت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خدای د کور له حج نه د اسلامي مفاهيمو، که سياسي وو، که پوځي، که اخلاقي او که ګروهيز، د بيان لپاره خورا او بشپړه ګټنه وکړه. له رسول الله نه په منی کې دوه ويناوالی رانقل شوي دي، چې يوه يې ظاهرا پر هماغه لسمه ورځ او د لسمې ورځې په شاوخوا کې وه او بله د تشريق[2] تر ورځو روسته، چې سپيناوی شوی او ښيي، چې دا دوه ويناوالی دي، نه يوه ويناوالي. په دې ويناوالی کې د خدای استازي ټول هغه غټ مطالب،

---

[1]. الاحتجاج علی اهل الجاج/ طبرسي/ لومړی ټوک، ۸۲ مخ.

[2]. (ش ر ق) روښانول/ ختيځ لوري ته توجه کول/ هغه عنوان دی، چې د ذی الحجی مياشت له يوولسمې نه تر ديارلسمې ورځې پورې ويل کېږي او په قرآن کې د ((ايام معدودات)) په عبارت راغلي دي. د بقره سورت، ۲۰۳ آيت.

چې مسلمانان بايد ژور پام ورته وکړي، تقريبا ويل شوي دي او عمدتا سياسي مسايل دي. انسان په ښه توګه درک کوي، دا وګړي، چې نن په اسلامي نړۍ کې حج له سياسي چارو بيل ګڼي او تصور کوي، چې بايد په حج کې عبادت يې په عادي او رايجه معنا ترسره کړو او هر سياسي چار د حج له څېرې بهر راوړي، څومره د اسلام له تاريخ او نبي کريم له سيرته لرې او پردي ترې دي.

کوم مطالب، چې حضرت رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم په دې ويناوالۍ کې وويل، چې د شيعه او سني په کتابونو کې هم رانقل شوي دي، په لنډو سره دادي. لومړی د جهاد په باب وينا کوي او له مشرکينو او کفارو سره جهاد مطرح کوي او اعلانوي، چې دا جهاد به دوام مومي، تر هغه چې د ((لا اله الا الله)) کليمه په هر ځای کې خپره شي. د اسلامي وحدت په باب، رسول الله وينا وکړه او ټينګار يې وکړ، چې مسلمانان دې په کورنۍ جګړه ککړ نشي او د مسلمانانو پر يووالي او راغونډېدو يې ټينګار وکړ او د جاهلي ارزښتونو په باب يې په زغرده ټينګار وکړ، چې دا ارزښتونه د اسلام له نظره ناڅيزه او صفر ګڼل کېږي او ارزښت نه دی، ((الا و کل ماثرة فی الجاهلية تحت قدمی هاتين)) هر ارزښت او هر شرافت، چې د جاهليت پېر پر مهال ارزښت ګڼل کېده، زه يې په دې شېبه کې تر پښو لاندې کوم، جاهلي ارزښتونه يې په ټوليزه توګه نفې کړل. هغه مالي شخړې، چې د جاهليت له پېره د مسلمانانو ترمنځ پاتې ول، د بېلګې په توګه: چا يو چا ته پور ورکړی و او له هغه نه د خپلو پور او پيسو د سود او ربا غوښتونکی و؛ نو دا چار يې نفې کړ، نسخ يې کړ. ((الا و ان کل ربا من الجاهلية فهو تحت قدمی هاتين[1])) د پيسو لومړی سود، چې يې لرې کوم، د خپل تره مې عباس د سود ګټه ده- چې د جاهليت پر مهال يې پور ورکاوه او له ډېرو وګړيو د پيسو غوښتونکی و- و يې ويل: دا مې لرې کړ، نسخ مې کړل. د تقوا پر ارزښت يې د اسلامي ارزښت په نامه په ځو ځو ځل ټينګار وکړ او په زغرده يې وويل، چې څوک هم پر بل وګړي بې له تقوا غوراوی نه لري. د ائمة المسلمين د نصيحت لزوم؛ يعنې په سياسي چارو کې لاسوهنه او واکمنانو ته د خپل نظر څرګندول يې مطرح کړل او دا چار يې يوه فريضه وګڼله، چې ټول مسلمانان دنده لري، اسلامي واکمنانو ته خپل د خېرښېګڼې نظرونه واوروي.

حضرت رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم په دې وينا کې د اسلامي نړۍ غټ غټ سياسي او ټولنيز مطالب وويل او په همدې ويناوالۍ کې يې د ((ثقلين حديث)) هم ووايه، چې د

---

[1]. سيرة النبوية، دويم ټوک، ۴۱۲ مخ.

ثقلینو حدیث دادی، چې یې وویل: زه چې له تاسې ځنې ولاړم؛ نو دوه ګران بیه څیزونه په تاسې کې پرېږدم ((کتاب الله و عترتی)) قرآن او عترت مې. او بیا یې خپلې د شهادت ګوتې سره یو د بل ترڅنګ کړې او و یې ویل: هغه دوه، ددې دوو په څېر دي، چې د شهادت دوه ګوتې هېڅ توپیر سره نه لري، بیا یې وویل: ددې دوو په څېر نه دي او بیا یې خپله د شهادت او منځنۍ ګوته اوچته کړه، و یې ویل: زه مې کتاب او عترت داسې نه ګڼم، چې د شهادت او منځنۍ ګوته یوه لنډه او یوه اوږد ده؛ بلکې د شهادت د ګوتو په څېر دي، چې یوه یې هم پر بلې غوراوی نه لري[1].

او د عترت مسله یې مطرح او نوموتې کړه. د حج اعمال، چې پای ته ورسېدل؛ نو سملاسي یې د مدینې پر لوري حرکت وکړ. په لاره کې د یوې درې پر سر، چې خم غدیر نومېده او د مدینې او یمن قافلې باید یو له بله بېلې شوې وای، ودرېدل او حال داچې رانقلوي، چې هوا او موسم دومره ګرم و، چې د پېښې شاهدان او نندارچیان وایي، چې غوښه دې پر ځمکه ګوزاره کړې وای؛ نو کباب کېده او په داسې یو حالاتو کې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر یوه لوړه درېږي او صبر کوي، چې ټول خلک راټول شي او چې ټول خلک سوکه سوکه راټول شول؛ نو د ولایت مسله اعلانوي ((من کنت مولاه فهذا علی مولاه[2])) او د حضرت امیرالمؤمنین لاس رانیسي او دومره یې اوچتوي، چې ټول یې ویني. په خورا روایتونو کې راغلي، چې لاسونه یې دومره اوچت کړل، چې ټول یې وویني او د لاسونو د ډېر اوچتولو له لامله د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او حضرت امیرالمؤمنین تخرګونه راڅرګند شول.

دا کوم اړخ، چې په پام کې دی- اسلامي نړیوال او د اسلامي ډلو ترمنځ ګډ اړخ دی او یوازې په شیعه پورې ځانګړی نه دی- دا دی، چې که فرض وکړو، چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په دې اعلان کې، چې هرومرو دا اعلان ترسره شوی دی او دا جمله د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له خولې راوتې ده، که فرض کړو، چې د خدای استازي نه غوښتل، چې د حضرت امیرالمؤمنین بلافصل حکومت مطرح او نوموتی کړي؛ نو لږ تر لږه

---

[1]. الکافي/ دویم ټوک، ۴۱۵مخ. ((انی قد ترکت فیکم امرین لن یضلوا بعدی ما ان تمسکتم بهما کتاب الله و عترتی اهل بیتی فان الطیف الخبیر قد عهد الی انهما لن یفترقا حتی یردا علی الحوض کهاتین و جمع بین مسبحتیه و لا اقول کهاتین و جمع بین المسبحة والوسطی فتسبق احداهما الاخری فتمسکوا بهما....))

[2]. الکافي، لومړی ټوک، ۴۲۰ مخ. ژباړه: ((د چا چې زه مولا او رهبر یم، دا علي یې هم مولا او رهبر دی.))

دا وه، چې د مسلمینو موالات، اړیکه او ژوره اړیکه له حضرت امیرالمؤمنین او له خپل عترت سره، په دې وینا پلي او تثبیت کړي. داچې حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم قرآن د عترت ترڅنگ ږدي، هم د منی په وېناوالی کې او هم د ثقلین په حدیث کې- چې د ثقلین حدیث ظاهرا په څو څو ځل د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له خولې راوتی دی- او هم د غدیر په حدیث او د غدیر په پېښه کې- پر حضرت امیرالمؤمنین او په خپله پر هغه اډانه- ددې اړیکې د ټینگولو یو علت دادی،چې لومړی داچې خلکو ته د وخت په اوږدو کې د اسلام په خوښه یو بشپړ انسان، چې اسلام ته د منلو وړ یوه بېلگه انسان ټولو انسانانو او راتلونکیو ځوځاتونو ته ور وړاندې کړي. له څرگندو او نانټو حالاتو سره، په عیني بڼه د یوه بشپړ انسان بېلگه، د ټولو انسانانو په واک کې کړي، چې اسلامي روزنه باید پردې لوري حرکت وکړي او د مسلمان انسان شخصیت او وگړه هغه شخصیت دی، چې غایت او نهایت یې دوی دي. هغه انسانان، چې پاکوالی یې، علم یې، تقوا یې، سم چاري یې، د خدای پر وړاندې عبودیت یې، پر اسلامي مسایلو ولکه یې، د اسلامي ارمانونو د پلي کولو لپاره یې مړانه او سرښندنه یې ټولو تو روښانه او څرگنده ده. حضرت امیرالمؤمنین د یوې بېلگې په نامه مطرح کوي، چې خلک- څه د هغه مهال خلک او څه راتلونکي خلک-ورسره نښلون ولري او اړیکه ورسره ټینگه کړي. اوس داسې وانگېرئ، چې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د بلافصل ځایناستي په نامه، عملا و نه شول او تر پینځه ویشت کلونو روسته ځایناستی شو، بالاخره، چې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خلیفه شو، بالاخره، چې د امامت مقام یې تثبیت شو، بالاخره ټولو مسلمانانو د هغه وگړي په نامه قبول کړ، چې د ټولنې مشر دی. دا ځانگړنه، دا نښلون، دا اړیکه، ټول مسلمانان د هغه وگړي په نسبت، چې ټول یې مني، چې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خلیفه دی- منتهی ځینې وایي، چې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بلافصل خلیفه او ځینې گروهن دي، چې نه تر پینځه ویشت کلونو روسته خلیفه- دا هغه شخصیت دی، چې ټول مسلمانان یې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د ځایناستي په نامه مني؛نو باید د ټولو مسلمانانو لپاره د بشپړ اسلامي انسان د یوې بېلگې په نامه تلپاتې شي او د هغه او د مسلمانانو ترمنځ اندیزه اړیکه، گروهیزه اړیکه، عاطفي او عملي اړیکه تر تله پاتې شي.

## د اوسنيو حکومتي غونډالونو بنسټونه

د سيادت اصل د اوسنيو بشري حکومتو تر ټولو مهم اصل او بنسټ دی.
په سياسي فرهنگ کې د سيادت اصطلاح نااشنا ده؛ ځکه نوې ده او اوس په فرانسه کې اوڅار شوې او مراد ترې هغه ځواک دی، چې دولت يې په واک کې دی او لهد دې لارې د هېواد په چارو کې دخل او تصرف کوي او د بحث مهم ټکی همدا دی، چې بايد راڅرگندشي.
څوک تر ټولو اوچت ځواک دی؟ په بله وينا، هغه کومه سرچينه ده، چې د دولت ټول ارکان ترې خپل مشروعيت او ځواک اخلي؟
ځواب: دا فکر له پخوا د بشر په سياسي تفکر کې و او د نورو مفاهيمو او نظرياتو په څېر، په متفکرانو، کيڼ لاسو او ښي لاسو دولتوکې لاس په لاس کېده او کله به د واکمنو د ظلم، تېرې او استبداد سرچينه هم کېده.
پخوا به سيادت وگړيو ته هم منسوبېده؛ نوځکه ((بودان[1])) گروهن و: ((سيادت د هغه دی، چې تر ټولو زيات ځواک او زور ولري.))
"افلاطون"حکومت پر "پاچاهۍ" او "اريستوکراسۍ" ووېشه او "ارسطو" باور درلود، چې حکومت پاچاهي ده او يا اريستوکراسي او په اوسني وخت کې فرانسوي عالم "مونتسکيو" حکومت پر درې ډوله: جمهوريت، مشروطه، پاچاهۍ او استبداد اېشلی و.
له پخوا راهيسې ان د "منځنيو پېړيو" تر پايه، ځينو واکمنو خپلو حکومتو ته ديني رنگ ورکاوه او د ((تيوکراسۍ)) نوم يې پرې اېښووه. کله به واکمن د خدايي ادعا هم کوله؛ لکه د قرآن د وينا له خې: "فرعون" خپلو خلکو ته وويل: ((زه ستاسې ستر پالونکی يم[2]))
په لويديځ کې تر ترخو تجربو روسته، سيادت له اشخاصو دولت ته ولېږدېد، چې شک نه شته ددې ستر بدلون سرچينه د "اسپانيا" په "اندلس" کې د مسلمانانو پوهه او فرهنگ و، چې د لوېديزو عالمانو ورته پام شو.[3]

---

[1] [الموسوعة العربيه؛ المسيره: د بودان ماده]
[2] (نازعات: ٢٤)
[3] بدوی عبدالرحمان؛ دورالعرب في تکوين الفکر الاروبي: ۵ مخ. لويس برنارد؛ اهتمام الانگليز بالعلوم العربيه: ٤_٣ مخونه.

پر اسلامي فكر او فرهنګ پوهاوي، په لويديځ كې توپان را ولاړ كړ، چې د فرانسې پاڅون او د "مارتين لوتر" ((پروتستانتيزم=اعتراضي غورځنګ))يې بېلګې دي، په تېره د هغه وخت د روسته پاتې كليسا د واكمنۍ پرخلاف د "لوتر" راپاڅېدل، كېداى شي له اسلامي معارفو سره د "لوتر" د اشنايۍ پايله وي.
په اسلام كې سيادت يا مطلق او بې قېدوشرط واک يوازې د وسمن او پوه الله دى. دا حقيقت رسول الله (ص) په مدينه كې خلكو ته څرګندكړ، چې د اسلامي دولت پر مشروعيت ټينګار وكړي او هېڅكله هغه او ترې مخكې پيغمبرانو، سيادت په خپل ځان پورې اړوند و نه ګاڼه، سره له دې چې بشپړ انسانان او د كرامت او اعجاز خاوندان وو.

## د اسلامي دولت آريز قوانين

په مدينه كې د اسلامي دولت بنسټ د قرآن د قوانينو له مخې كېښوول شو داسې "بېلګه" دولت چې د روم، ايران او ان نني سياستوال هم د هغسې دولت له جوړوو بې وسه دي. رسول الله د دولت د پښو تر ټينګولو روسته، په خپلو كړنو، خبرو او ويناوو لاسبرى شو چې الهي احكام د پلي كولو پړاو ته ورسوي او ديني ټولنيز او ذهني مفاهيم يې پر واقعيتونو واړول.
څه چې د رسول الله له سيرت او چې څه يې تر ځان روسته مسلمانانو ته پرېښوول، پردې واقعيت ګواه دى، چې د قرآن آيتونه انسان ته تر قيامته د پوهېدو او تفسير وړ دي او هغوى دروغجن دي، چې له دې واقعيته منكرېږي.
د اسلامي دولت له نښو يوه داده، چې عبادت يوازې د الله حق بولي او د بشري خدايانو، شتمنۍ او د نورو ډول ډول بوتانو عبادت پكې نه كېږي او دا ځانګړنه داسې ټولنيز نظم رامنځ ته كوي، چې پكې خلک يو د بل ورونه، كمال او فضيلت ته د رسېدو ملاتړي او ملګري دي او نېكيو ته رابلل او له بديو ژغورل يې د ژوند دود دى. پردې ځانګړنې سربېره، اسلامي دولت يو لړ نورې نښې هم لري، چې د قرآن د آيتونو په رڼا كې ورته اشاره كوو:
١ـ عدالت د ټولنې بنسټ دى، چې الله يې سپارښتنه كړې ده:
((إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ[1]=په حقيقت كې الله پر عدل او نېكۍ كولو او د خپلوانو (د حق) پوره كولو

[1] (نحل/٩٠)

امر کوي او له ناوړو چارو او بدو او ظلم منع کوي، تاسې ته نصحيت کوي، ښايي پند واخلئ.))

په خبره کې هم بايد عدالت رعايت شي، ان که د خپلوانو په اړه مو هم وي: ((وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى[1]))

۲_پر ژمنې او تړون وفا، چې قرآن پرې ټينګار کړی. ((وَبِعَهْدِ اللّهِ أَوْفُوا[2]))

۳_ د ناوړو چارو حرام ګڼل:

((قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَاناً وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللّهِ مَا لاَتَعْلَمُونَ[3]= (ورته) ووايه: ((زما پالونکي په ښکاره او پټه ناوړه چارې او ګناه او پر ناحقه تېری حرام کړی دی: او داچې له الله سره څوك شريك کړئ، چې د هغه په باب يې کوم د ليل نه دی رالېږلی او په الله پورې داسې خبرې تړئ، چې پرې نه پوهېږئ.))

٤_زور، ځواک، مقام او شتمني د غوره والي کچې نه دي.

په دې اړه الله وايي: ((په رښتيا په تاسې کې تر ټولو هغه پر الله ګران دی، چې تقوا يې تر ټولو ډېره وي.[4]

۵_ بدله او سزا د کړنو له مخې ده.

الله وايي: او مسلمانانو ته ووايه چې عمل وکړئ، چې ډېر ژر به الله، رسول او مؤمنان ستاسې چارې ووينې.

((وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ[5]))

قرآن کريم د ((ګناه)) او ((سزا)) ترمنځ مساوات راوړی، چې دا مساله له قانونه ړومبی او ډېره مهمه ده ((ګناه)) د ټولنې له پېژندل شويو دودونو وتل دي او ((سزا)) د دودونو د ماتولو پر وړاندې د ټولنې غبرګون دی. لاندې آيتونو ته ځير شئ:

---

[1] (انعام: ۱۵۲)

[2] (انعام: ۱۵۲آيت)

[3] (اعراف/ ۳۳)

[4] ((ان اکرمکم عندالله اتقيکم))؛ (حجرات: ۱۳)

[5] (توبه: ۱۰۵)

((وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَينَ بِالْعَينِ وَالأَنْفَ بِالأَنْفِ وَالأُذُنَ بِالأُذُن وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَن لَمْ يَحْكُم بِمَا أَنْزَلَ اللّهُ فَأُولئِكَ هُمُ الظَّالِمُون[1]=په تورات كې موږ پر هغوی (يهوديانو) فرض كړی وو، چې نفس د نفس، سترګه د سترګې او پوزه د پوزې اوغوږ د غوږ او غاښ د غاښ په بدله كې دی او هر ټپ بدل لري او كه څوك يې وبښي (او له بدلې تېر شي) نو (د ګناهونو) كفاره يې حسابېږي او چاچې د الله د نازل شويو احكامو له مخې پرېكړې و نه كړي نو همغوی ظالمان دي.))

((وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيرٌ لِلصَّابِرِينَ=[2] او كه غچ اخلئ؛ نو هومره يې واخلئ چې څومره درباندې تېرى شوى وي؛ خوكه زغم وكړئ؛ نو دا صابرانو ته ډېره ښه ده.))

[1] (مائده/٤٥آيت)

[2] (نحل: ١٢٦آيت)

## د رسول الله (ص) د دولت ځانګړنې

د رسول الله په واکمنۍ کې بنسټيزه مسله دا وه، چې په مهمو ټولنيزو چارو کې وحې ته په تمه کېده، ان که د يو کار ټول اسباب او وسايل به چمتو هم وو خو بيا يې هم بې د الله له اجازې يو کار هم نه کاوه. د ساري په توګه: د جهاد په باب هغه مهال چې مسلمانانو دا پوښتنه کوله، چې ولې بايد مسلمانان د قريشو د ظلمونو پر وړاندې چوپ پاتې شي او ځواب يې ور نه کړي، چې له خپلو کورونو يې راوشړل او پر شتمنيو يې ورته ګېډې واچولې؟نو سره له دې چې جګړې ته د مسلمانانو روحيه چمتو وه او رسول الله هم غيرتي او غښتلی انسان و خو بيا يې هم مسلمانانو ته وويل: ((صبر وکړئ، چې وحې په دې اړه څه وايي؟))

بله مهمه او څرګنده مساله داده، چې په پيل کې، يوازې رسول الله الهي احکام تطبيقول؛ ځکه د الهي امانتونو او احکامو پلي کولو ته پياوړی انسان او مشر و.

په خواشينۍ وايم: ډېرو اسلامي عالمانو د رسول الله (ص) په وااکمنۍ او مديريت کې له دې مهم اصله غفلت کړی او همدا بې پامي د مذاهبو او اجتهادو د پيداښت لامل شوی، چې خاوندان يې له قرآني آرونو او موضوعي يووالي لرې کړي او پر وګړيو د قرآن د قواعدو او مصداقونو د اختلاف او ناهمغږۍ لامل ګرځېدلي دي.

موږ (علماء) د قرآن او نبوي سنتو وارثان يو. علماوو ته د قرآن په آيتونو کې له تدبر او بې له نبوي سنت، بل څه نه پاتېږي، چې قرآن هم همدا سپارښتنه کړې ده: ((أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ.[1]))

او څه چې رسول الله حکم کوي، وا يې خلئ: ((وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ. . .[2]))

البته د نظر اختلافونه، تر هغه وخته پروا نه کوي، چې د قرآن اصول او قواعد خوندي پاتې شي او موخه د ګډو آرونو پر چوريلځ، د قرآن اصلي مراد ته رسېدل وي

---

[1] (نسا: ۸۲او محمد: ٢٤)

[2] (حشر: ۷)

## دولت او حکومت

د نویو تعریفونو له مخې، دولت یوه حقوقي اداره او شخصیت دی، چې په یوه ټاکلې سیمه کې د ولس استازي او خدمت ور تر غاړې وي او واک یې په لاس کې وي او حکومت هغه سازمان دی، چې د دولت دننه جوړېږي.
وګړي دي، چې حکومتونه رامنځ ته کوي او برى او ماتې یې ورته منسوبېږي؛ لکه څرنګه چې د غندنې او ستاینې ګوتې هم ورته نیول کېږي.
کله د حکومت د مانا کړۍ راتنګوي او یوازې د هېواد د وزیرانو شورا ته ویل کېږي. ښایي حکومت ته پراخ بنسټه تعبیر دا وي، چې د "مقننه"، "مجریئه" او "قضایئه" قواوو، چې د دولت ځواکمني او زور چلوي ټولګه یې وګڼو.

## اسلامي دولت

شک نه شته، چې اسلامي دولت، د نړۍ تر ټولو دولتو غوره دی او ورسره ستر توپیر لري.
تر وسه د "مارکسیزم" له ماتې ډېر وخت نه دی تېر شوی او دې فکر ان و نه کړای شول، په هغو هېوادو کې د پښې ځای پیدا کړي، چې په ښکاره پرې ټینګ وو.
د "فرانسې پاڅون" هم له سیاسته د دین په بېلولو، ټولنه د ((لاییزم)) او جاهلیت ګړنګ ته ورګوزاره کړه. څه چې نن د حضرت "مسیح" د دین په نامه خلکو ته ویل کېږي، یوازې ښکلې اخلاقي موعظې دي ؛ البته موږ شک لرو، چې حضرت "عیسی" علیه السلام به یوازې همدا نصیحتونه راوړي وي. د مسیحیانو په اړه خو پاموړ خبر داده: سره له دې چې ټول مسیحیان ګروهن دي، چې حضرت "عیسی" علیه السلام ویلي: ((څه چې د الله دي الله ته یې ورپرېږدئ او څه چې د"قیصر" دي "قیصر" ته یې ورپرېږدئ)) خو د"کلیسا"مشران بې له دې چې په دې اړه شرعي، اصلي او اعتقادي حکم ولري، د دولتو په سیاستو کې ورننووتي او د خلکو له دیني احساساتو یې ناوړه ګټه اخستې او هغه یې د امپراتوریو او متحجرو کلیساوو په چوپړ کې کړي او داسې حالات یې را منځ ته کړي، چې هغه څه له منځه ولاړ شي، چې دیني رنګ او بوی لري او غیر دیني تفکر واکمن شي.

**بنسټيز توپير**

اسلامي نظام د ځرګندو احکامو، قوانينو او شريعت په درلودو سره، د ګروهې او ايمان پر بنسټ، د خلکو د دين او دنيا چارې رانغاړي. په دې نظام کې حاکميت، چې د خلکو له حاکميته لوړ دی يوازې د الله دی او واکمن او تر لاس لاندې ټول سازمانونه ژمن دي الهي احکام پلي کړي.

د اسلام دا ځرګند اصول او قوانين ددې مخنيوی کوي، چې اسلامي حکومت دې د"کليسا" په څېر يوازې دروحانيونو او ديني عالمانو په منګولو کې وي او کوم شرايط، چې واکمن ته يې په پام کې نيولي نو بيا هم واکمن د اسلام د حاکميت او قوانينو تر سيوري لاندې د پوهمنو عالمانو او د مسلمانانو د شورا او د "امربالمعروف او نهې عن المنکر" تر څارنې لاندې دی.

د يوه واکمن او د حکومت د ارزونې يوازېنۍ کچه پر قرآن او نبوي سنتو عمل دی؛ څکه رسول الله ځان او نور مسلمانان د قانون پر وړاندې سره سم بلل او ان د الله استازي په خپله ځان د "سوادة بن قيس" کسات ته ونيو چې کيسه يې داسې وه: سره له دې چې رسول الله د مسلمانانو ټولمنلی واکمن و خو يوه ورځ په خپلو يارانو کې ودرېد او و يې ويل: ((څوک چې راباندې څه يا کسات لري؛ نو رادې شي او وا دې يې خلي!)) دا مهال "سوادة" وويل: ((رسول الله (ص)! د "بدر" په جګړه کې هغه مهال چې د مسلمانانو ليکې دې برابرولې نرۍ سيخ درسره و، چې زه دې پرې پر نس ووهلم او خوږ شوم، اوس غواړم خپل کسات واخلم.)) رسول الله (ص) سم له لاسه خپله مبارکه نس بربنډه کړه او و يې ويل: ((راشه! کسات دې واخله.)) دا مهال "سوادة" راغی او د تبرک لپاره يې د رسول الله نس ښکل کړه. [1]

[1] (وګورئ: سيره ابن هشام، د بدر غزا)

# د رسول الله (ص) پوځي مشري

"ويجان ماکسيم" د فرانسې مشهور بولندوی او په ۱۹۳۲ز کې په "لبنان" او "سوريه" کې د فرانسې لوړ پوړی استازی و، چې د اسلام د پېغمبر په اړه وايي:
((د حضرت محمد د زوکړې پر ورځ چې مسلمانان څومره هم خوشحالي وکړي؛ نو بيا به هم لږې وي؛ ځکه د دنيا تر ټولو پرمختللی او مترقي دين يې راوړی. هغه زړور او پوه بولندوی و، چې پر ځمکه او د خلکو په زړونو کې يې د الله د دين تثبيت لپاره خورا ربړونه وګالل.))

**د مکتبي بولندويانو روزنه**

د رسول الله له سيرته، په بولندويۍ او د بولندويانو په روزنه کې يو اصل لاس ته راځي چې: بولندويي يو مسؤوليت او قرآني امانت دی او د هر امت ارزښت د برياليو او زړورو بولندويانو په روزنې پورې اړه لري. صالح بولندوی هغه دی، چې د پوه ښوونکي په ځانګړنو سمبال وي او خپل مسؤوليت د امت او تر لاس لاندې کسانو پر وړاندې وپېژني او تل يې د تمرين او ((تيار شئ)) حالت ته پام وي او کله ورته تر خپلې څارنې لاندې، د بولندويۍ ځينې مهمې دندې ورسپاري.
بې ښوونځي بولندوی مغرور او ځانمنی دی، چې د نورو زيار پخپله ګټه څرخوي او خپله رتبه پرې لوړوي. داسې بولندويان تر خپل لاس لاندې پوځيانو باندې نه شمېري، کبر پرې کوي او دې خبرې ته يې پام نه وي، چې دا چلن يې د سرتېرو نظم ګډوډوي، چې طبيعي ده، ټولنه له پرمختګه لوېږي او دغسې بولندويان ډېری د ښکيلاک ګوډاګيان دي، چې له لارې يې د ملتونو ملي شتمني لوټي.
داسې بولندويان، چې د ښکيلاک له لوري ښه وپېرسېږي او په وسايلو او وسلو يې سمبال کړي؛ نو پوځي کودتاوې پرې کوي او ولسونه پرې ځپي او همداچې د يهودو په څېر له وړوکي دولت سره يې جګړه شي ماتې خوري او تر ټولو مخکې همدا بولندويان وي، چې له هېواده پښې سپکوي، چې نړيوالو دا واقعيت د عربو او اسرائيلو د ۱۹۶۷ ز (۱۳۴۵ل) په جګړه کې د سر په سترګو وليد.

## ښځګه او ټاکنه

د اسلام پیغمبر په خپل امت کې د دیني کچو له مخې، غوره بولندویان وروزل. د رسول الله دا جمله: ((تاسي ټول واليان او اميران ياست او ټول د تر خپل لاس لاندې کسانو مسؤول ياست.)) پردې دليل دی، چې مسلمانان بايد د ژوند په بېلابېلو موقعيتونو کې مشري او مديريت وکړای شي.

فرانسوي علامه "ګوستا ولوبون" په ((خواطر الحيات)) کتاب کې ليکي: ((د اسلام د پيغمبر ځايناستيو د "روم" او "ايران" ښارونه ازاد او پکې مېشت خلک يې د ولسونو مخکښان کړل او ښارمېشتو د تمدن وزلې (وسايل) د اسلام له سر چينې لاس ته راوړل)).

## ښځګه بولندوی

قرآن کريم د بني اسرائيلو د بې ساري بولندوی "طالوت" په باب وايي:

((وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكاً قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَن يَشَاءُ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ [1]=)) او پيغمبر يې وويل: ((الله تاسې ته ((طالوت)) په واکمنۍ ټاکلی دی)) هغوی وويل: ((هغه څنګه پر موږ د واکمنېدو وړ شو؟ تر هغه خو موږ وړ يو او هغه خو شتمن هم نه دی؟)) پيغمبر يې ځواب ورکړ: ((په حقيقت کې الله هغه تر تاسې غوره کړی او هغه ته يې پراخه علمی اهليت او جسمي ځواک ورکړی دی او د الله چې چاته خوښه شي، واکمني ورکوي. د الله احسان پراخه او (د واکمنۍ لپاره د وګړيو له وړتيا) خبر دی.)))

پر بني اسرائيلو د "طالوت" د واکمنۍ لامل پراخه پوهه او بدني ځواک ښوول شوی او حضرت "علي" کرم الله وجهه هم دا ټولې ځانګړنې درلودې؛ ځکه د علم او پوهې له نظره [ رسول الله (ص) ويل: ((زه د علم ښار يم او "علي" يې ور دی او څوک چې علم غواړي نو پردې وره دې رانوځي))] د رسول الله (ص) د پوهې ښکارندوی و. [2]

د غزل بابا "امير حمزه خان شينواري" څومره په خوږه ژبه دا حديث په شعر ويلی:

---

[1] ((بقره/ ۲٤٧

[2] تاريخ ابن عساکر: ۲ ټوک، ۲٦٤ مخ، حسکاني؛ شواهد التنزيل: لومړی ټوک، ۲۳٤ او ۲۵ مخونه.

ښار يې دی احمد، "علي" دی باب د علم
لمر محمد دی، "علي" مهتاب د عـــــلم
او د حضرت "علي" د مړانې په باب د تاريخ په کتابو کې په تواتر دومره ځانګړنې روايت شوي، چې څوک ترې نه شي منکرېدای. ]
حضرت ابن عباس (رض) وايي:
((له هغه وخته چې الله مؤمنان په ((يا ايها الذين آمنوا))مخاطب کړل؛ نو له هماغې ورځې يې، "علي" د هغوی امير او ښاغلی کړ او د قرآن په ډېرو آيتونو کې د رسول الله (ص) پر اصحابو نيوکې شوي؛ خو "علي" يوازې په نېکۍ ياد شوی دی.[1]))
حضرت"علي"(ک) چې په هره ((سريه)) کې برخه اخسته؛ نو بولندوی يې و. حال دا د رسول الله (ص) نور اصحاب د نورو تر قوماندانۍ لاندې وو. د ساري په توګه:
د "ذات السلاسل" په جګړه کې حضرت "عمرو العاص" د حضرت "ابوبکر" او حضرت "عمر" بولندوی و او حضرت "اسامه بن زيد" تنکی ځوان و، چې رسول الله (ص) د داسې لښکر بولندوی کړ، چې پکې د انصارو او مهاجرو ستر شخصيتونه؛ لکه حضرت "ابوبکر"، حضرت "عمر" او "ابوعبيده" (رضی الله عنهم) هم وو.[2]
پاموړ بله خبره خو داده، چې په کتابو کې يوازې د حضرت "علي" له نامه سره د((امام)) ټکی راغلی، چې دا ټکی د رسول الله (ص) د يوه يار له نامه سره هم نه دی راغلی.

## د سرتېرو درناوی

رسول الله (ص) ته د انسانانو د شخصيت د درناوي کچه تقوا وه، چې دې کار به کله کله د هغوی غوسه هم را پاراوله، چې د شخصيت سنجونې کچه يې شتمني، اصل او يا نسب و.
له "حبشي"((بلال))، "رومي"((صهيب)) او "فارسي"((سلمان)) (رضی الله عنهم) سره د رسول الله (ص) دروند چلن، د رسول الله (ص) د قرآني کړنلارې عملي بېلګه ده.
د مکې د فتح پرمهال، د رسول الله (ص) دې چلن "ابوسفيان" په غوسه کړ او و يې ويل:
((محمده!له ځان سره دې ډېر ټيټ خلک راوستي، چې ته يې پېژنې او موږ يې نه پېژنو.))
رسول الله (ص) وويل: ((ډېر ظالم او بې حيا يې!))

---

[1] ابن حجر عسقلاني؛ صواعق: ۱۳۵ مخ _ شواهد التنزيل؛ ۱ ټوک، ٤۹او ۱۵ مخونه.
[2] ابن سعد؛ الطبقات الکبری: ۲ ټوک، ۱۹۰ مخ _ يعقوبي تاريخ: ۲ ټوک، ۹۳ مخ.

رسول الله (ص) چې حضرت "اسامه بن زيد"(رض) بولندوی کړ؛ نود ډېرو غوسې را وپارېدې خو قرآن مجيد وايي:

((يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِن ذكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ[1]=خلکو! په واقع کې موږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې پيدا کړي ياست او موږ تاسې څانګې څانګې (او خېلونه) او ټبر ټبر کړئ، چې يو بل وپېژنئ (خو دا د امتياز کچه نه ده) په حقيقت کې د الله پر وړاندې ستاسې ډېر عزتمن، ستاسې ډېر پرهېزګار دی، په رښتيا الله پوه (او) خبر دی.))

((إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ[2] =په حقيقت کې الله پر عدل او نېکۍ کولو او د خپلوانو (د حق) پوره کولو امر کوي او له ناوړو چارو او بدو او ظلم منع کوي، تاسې ته نصحيت کوي، ښايي چې پند واخلئ.))

رسول الله (ص) ځان له خپلو يارانو نه بېلاوه او څوک نوی به چې غونډې ته راغی؛ نو د رسول الله (ص) يې پوښتنه کوله، بيا روسته اصحابو يوه چوتره جوړه کړه، چې رسول الله پرې کېناسته چې وپېژندل شي.

د "قبا" د جومات د جوړولو پرمهال يې د نورو په څېر کار کاوه او د احزابو جګړ ې ته د کندې ((خندق)) په استو کې يې هم له يارانو سره سم کار کاوه او پر مبارکو اوږو يې ډبرې او خاورې له ((کندې)) دباندې استې.

## هوډ کول

په سخته او تنګسه کې د پرېکنده او ښو هوډونو کول، د بري په لاس ته راوړو کې د مشر د غښتلتيا او پياوړتيا نښه ده.

تاريخ له قرېشو سره په "بدر" کې د رسول الله (ص) هوډ داسې روايت کړی دی:

مسلمانان د قرېشو د هغه کاروان لاس ته راوړو ته راووتل، چې له "شامه" مدينې ته راستنېده؛ خو سيمې ته تر رارسېدو روسته خبر شول، چې "ابوسفيان" د يهودو په اشاره د کاروان لار د "سره سمندر" غاړې ته کږه کړې او له مکې يې مرستندوی ځواکونه هم غوښتې دي.

---

[1] (حجرات/ ١٣آيت)

[2] (نحل /٩٠)

په دې شرايطو کې رسول الله (ص) بايد موقعيت ښه وسنجوي، چې هوډ وکړای شي، چې له قرېشو سره وجنګېږي، چې شمېر او جنګي کاتل (تجهيزات) يې تر مسلمانانو ډېر دي او يا پر شا شي او خپل ځواکونه مدينې ته ستانه کړي.
رسول الله تر ژور فکر روسته د بې ساري مشر په څېر هوډ وکړ او دې پايلې ته ورسېد: که پر شا شي؛ نو د قرېشو مشرکان به يې په ډار او سستۍ تورن کړي او بيا به ترې د مدينې د يهودو سترګه هم و نه سوځي او پردې سربېره، دا پر شا تګ به د اسلام پر تبليغ هم ناوړه اغېز وکړي.
رسول الله (ص) پريکړه وکړه خو په دې اړه يې له يارانو سره هم سلا مشوره وکړه، چې په هوډ کې ورته د برخې اخستو دود وښيي او له دښمن سره د مخامخېدو او جګړې ته چمتوالی ورزده کړي او له تجربو يې ګټه هم واخلي؛ لکه څرنګه چې د "احزاب" په جګړه کې، حضرت "سلمان فارسي" (رض) د "خندق" د ايستو سلا ورکړه او رسول الله (ص) هم ورسره ومنله او همداسې يې د ښه هوډ بله بېلګه د "اُحد" په جګړه کې تر ماتې خوړو روسته، د جبران لپاره، د قريشو د تعقيب هوډ وکړ او د "حمراءالاسد" سيمې ته ورپسې راووتل. همداراز د "اُحد" په جګړه کې، چې د رسول الله (ص) د وژل کېدود اوازې دسيسه جوړه شوه؛ نو رسول الله (ص) په مناسې هوډ نيونې، د غونډۍ سر ته وخوت او خپل بېل بېل سرتېري يې په نامه ياد کړ او و يې ويل:
((پلانيه! دلته راشه! پلانيه دلته راشه! زه يم رسول الله (ص) )) او داسې يې د مشرکانو دسيسه شنډه کړه.[1]

## پازوالې منل

سره له دې چې د مشرۍ دنده د رسول الله (ص) پر غاړه وه او ټولو ته بېلګه و؛ خو خپل لارويان يې د مشرۍ د دندې پر غاړه اخستو ته هڅول، چې په دې اړه پياوړي شي، تردې چې په بېلابېلو سيمو کې د اسلام بريو د نړۍ ټول پوځي بولندويان ګوته پر خوله کړي وو.
د مسلمانانو ځينې بولندويان، چې موخه يې يوازې د الله رضا وه، ددې لپاره چې و نه پېژندل شي تربوزکونه وهل. سره له دې چې د "اموي" او "عباسي" واکمنانو په څېر بې لارې مشران

[1] ابن ابی الحديد؛ شرح نهج البلاغه: ۱۵ ټوک، ۲۳ مخ _ ابن سعد؛ طبقات: ۳ ټوک، ۱۵۵ مخ ابن کثير؛ السيره: ۳ ټوک، ۵۸ مخ _ الکامل في تاريخ: ۲ ټوک، ۱۸ مخ _ تفسير الرازي: ۹ ټوک، ۶۷ مخ.

يې درلودل، چې موخه يې يوازې د خپل واک ساتنه وه او تل په دې فکر کې وو، چې څرنګه اسلامي دولت په خپله کورنۍ کې وساتي، چې وړتيا يې هم نه درلوده.

## پوځي شونتياوې چمتو کول

١ـ د انسان روزنه:

يوازې اسلام دی، چې وړ انسانان او بېلګه سرتېري روزي؛ ځکه د مسلمان مجاهد موخه يو له دې دوو ده:

الف: د الله په لار کې شهادت.

ب: بريالی ژوند.

او پوهېږي په دنيا کې، چې څه کړي هماغه په اخرت کې رېبي او ځوک چې د ذرې هومره ښه وکړي؛ نو وررسي او که د ذرې هومره بد وکړي؛ نو سزا يې ورکول کېږي او پوهېږي، چې ددې تېرېدونکې او لنډې دنيا له لارې کړای شي، د اخرت تلپاتې نعمتونه لاس ته راوړي. حال دا نامسلمانان، ټاکلي عمر ته تر رسېدو روسته بايد په زور عسکرۍ ته بوتلل شي، هغوی د فاسدو کورنيو اولادونه او د بې لارې مدرسو زده کړي دي او د "توکم پالنې" پر بنسټ روزل کېږي.

په دې روستيو کې د نوي پوځي تفکر د خاوندانو پام، د جنګياليو د روزنې ارزښت ته را اوښتی او پوه شوي، چې روزنه بايد يوازې پوځي زده کړې نه وي؛ بلکې له کوشنيوالي پيل شي.

"مارشال رومل" ليکي: ((که غواړو جګړې ته تکړه سرتېري وروزو نو بايد روزنه يې له زانګو پيل کړو.))

"مارشال مونتخوی" هم په خپل کتاب کې همدا سپارښتنه کړې ده.[١]

په خواشينۍ، چې په روستيو کې، په دې اړه د مسلمانانو وضع ډېره خرابه ده، که موږ خپل نن له پرون سره پرتله کړو؛ نو وبه وينو، چې په پخوا وختو کې د رسول الله لاروي، موږ د نړيوالو د لارښوونې او ازادۍ مخکښان کړي وو او نن مو وضع دومره ويجاړه ده، چې جنګي جنايتکاران او وسله پلوري راباندې واکمن دي.

٢ـ د تمبوونکې ځواک جوړول:

---

[١] (الحرب عبر التاريخ)

ددې څواک د جوړېدو موخه داده، چې مشر بايد دومره چمتووالی او څواک ولري، چې د جګړې د پېښېدو پرمهال د جګړې او د هغې د عواقبو مخنيوی وکړي.
په دې اړه قرآن کريم وايي:
((وَأَعِدُّوا لَهُم مَااستَطَعْتُم مِن قُوَّةٍ وَمِن رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَتَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لاَتُظْلَمُونَ[1] = او څه مو چې له وسې پوره وي، د هغوی [= دښمنانو] مقابلې ته يې چمتوکړئ او (همداراز د جګړې ډګر ته) تکړه اسونه (چمتوکړئ)، چې پرې د الله، خپل او هغه دښمنان ووېروئ، چې نه يې پېژنئ؛ خو الله يې پېژني او د الله په لار(او د اسلام د دفاعي بنسټ په غښتلتيا) کې، چې هر څه ولګوئ؛ نو بشپړ مکافات به يې درکړل شي او تېری به دربانديې ونه شي.))
حضرت "جابر بن عبد الله انصاري" (رض) وايي، چې پاک نبي وويل: ((هغه ډار، چې الله له موږه د دښمن په زړه کې واچوه، د يوې مياشتې مزله هومره لاسنيوی راسره وشو.))
له دې حديث او پورته آيته جوتېږي، چې په اسلام کې جنګي ستراتېژي، د پرشاتمبوونکي څواک پر چمتو والي ولاړه ده، چې دا مفهوم د انفال سورت د ٦٠ آيت د ((تُرْهِبُونَ)) له ټکي لاس ته راځي.
البته د داسې سياست درلودل طبيعي خبره ده؛ ځکه اسلام د اديانو خاتم او د انسان او انسانيت را ژوندی کوونکی دی او انسانان هم د الله بندګان دي او رسول الله (ص) بايد داسې لارې چارې وسنجوي، چې د الله بندګان په امنيت کې ژوند وکړي.
تاريخ ګواه دی، چې رسول الله (ص) د ٢٨ غزاوو مشري کړې وه، چې يوازې په نهو هغو کې("بدر"، "احد"، "خندق"، "بني قريظه"، "بني المصطلق"، "خيبر"، "د مکې فتح"، "حنين" او "طايف") کې جګړه پېښه شوه، چې په خپله همدا خبره د تمبوونکي څواک د روزنې پر ارزښت د تاييد ښه ده.
نن هم ډېری پوځي ستراتېژيستان د همدې نظر پلويان دي، چې بنسټګر يې رسول الله (ص) و او ددې نظر پر ارزښت هله پوه شول، چې جګړو سترې کړل.
جنرال "آندره بوفر" وايي:

---
[1] (انفال/٦٠ آيت)

((د شلمې پېړۍ انسان، چې له دوو نړیوالو جګړو سترې او په پرمخ تللیو وسلو سمبال دی؛ نو اوس د جګړې د بیا پیلېدو د مخنیوي لپاره یې د تمبولو ستراتېژي خپله کړې ده.[1]))
"جنرال مونتګمري" پردې ستراتېژۍ رڼا اچولې:
((د تمبولو ستراتېژي هغه ځواکمني ده، چې د دښمن د ناڅاپي ګوزار او پرمختګ مخنیوی کوي او په بله وینا: هغه ځواکمني ده، چې د جګړې د دفع او تمبونې لامل دی))

## چټک غبرګون

چټک غبرګون خورا کارنده جنګي لار ده، چې د سرتېرو د روحیې د پیاوړتیا او پر دښمن د ناڅاپي یرغل او د روحیې د ماتولو لامل ګرځي.
رسول الله هم خپل مجاهدین لټان نه وو روزلي، چې خپلې چارې یو بل ته وسپاري؛ بلکې د دښمن پر وړاندې ویښتیا او هوښیارتیا ته یې رابلل.

## د چټک غبرګون سریزې

د دښمن پر لور په بیړه ورتګ، غیر عادي او استثنایي کار دی اوددې لپاره، چې دا کار پایله ولري؛ نو باید ټول شونتیاوې په کار واچوي، چې د دښمن پر پوځي ځواک ځان پوه کړي.
تر چټک غبرګون مخکې چارې دادي
۱_ د سرحدي او مرکزي ځواکونو همغږي:
ددې همغږۍ ارزښت د "انفال" سورت په ٦٠ آیت کې جوت شوی، چې اشاره مو ورته وکړه.
پردې سربېره، د هېواد سرحدي او مرکزي ځواکونه یو د بل لازم او ملزوم او بشپړوونکي دي .
اسلامي فقهاء وایي: ((ډېرې چارې او څیزونه وو، چې پخوا یې موضوعیت درلود؛ خو د وخت د بدلېدو له لامله یې خپل موضوعیت له لاسه ورکړی. د ساري په توګه: "توره" او یا "اس" ځانګړې ځانګړنه نه لري؛ بلکې مراد ترې له وخت سره مناسبې وزلې دي او د پولو او سرحد مفهوم، د یوه هېواد ځمکنۍ بشپړتیا ده، چې له ګاونډیو سره لګېدلې، چې هوایي او سمندري پولې یې هم رانغاړي.))
۲_ چټک خبرول:

[1] القیاده و اداره الحرب: ۸۳ مخ

چاچې دا دنده پر غاړه اخستې وي؛ نو بايد ژر تر ژره پرې لاس پورې کړي، چې هغه ته چې خطر اعلانېږي، وکړای شي، مخکې له دې چې اوبه له ورخه تېرې شي، مناسب هوډ وکړي او مقابلې ته بلهې ووهي.

لاندې ټکيو ته پاملرنه به دا چار ګړندی کړي:

الف_جاسوسان او ساتندويان او په اصطلاح زړه سواندي او کارازمېيلي استخبارات چې رسول الله (ص) همدې کار ته د مدينې په دننه او بهر جاسوسان درلودل.

د ساري په توګه: د رسول الله (ص) تره حضرت"عباس بن عبدالمطلب" او حضرت "بشير بن سفيان" د مدينې تر ۴۰۰ کيلومترۍ پورې د استخباراتو دنده درلوده.

د "عربستان" په بېلابېلو سيمو کې ان په "ايران" او "روم" کې هم رسول الله (ص) استخبارات درلودل؛ لکه حضرت "عبدالله بن ابي حدرد اسلمي" (رض)، چې د "هوازن" د سيمې استخباراتي چارې سمبالولې.

ب_ د پولو ساتل او څارنه او د دښمن د موقعيت او شونتياوو پېژندو ته ګزمې لېږل، چې رسول الله (ص) هم پردې خبره ډېر ټينګار کړی و او ويلي يې دي: ((د اسلام د پولو ساتنه تر ټولې دنيا او څه چې پکې دي، غوره دي [1].))

رسول الله به د دښمن پر احوال د ځان پوهولو لپاره دکشف ټولی لېږه، چې مشهوره يې د حضرت "عبدالله بن جحش" (رض) سريه وه او کله يې په خپله هم دا کار کاوه، چې د "بدر" په جګړه کې د دښمن پر احوال د پوهېدو لپاره ووت او پردې سربېره، خپل ياران او مجاهدين يې هم دې کار ته هڅول او د "خندق" په جګړه کې يې وويل:

((هر يو د دښمن سيمې ته ورشئ او ځان پوه کړئ، چې څومره اوبو کې دي او بيا مې خبر کړئ او له خدايه غواړم په جنت کې مې ملګري وي. [2]))

٣_ د چټک تګ يون ته د مسلمانانو چمتو کول:

رسول الله (ص) خپل سرتېري او لوړ پوړي بولندويان داسې روزلي وو، چې په بېړه د خطر د سرچينې پر لور حرکت وکړي او دسيسه پر خپل ځای شنډه کړي.

د پورتنۍ ادعا روښانه دليل دادی، چې دښمن به بې له چمتووالي، د اسلامي دولت له څواکونو سره مخ کېده؛ نوځکه خپلې شتمنۍ او هر څه يې پرېښوول او تبنتېدل.

---

[1] وګورئ: (سيره ابن هشام: ۳ ټوک، ۲۳۲ مخ)

[2] (سيره ابن هشام: ۳ ټوک، ۲۳۲ مخ.

د قرآن آيتونه پردې خبره ټينګار کوي، چې مسلمانان دې د دښمن پر لور په بيړه وخوځيږي، چې دا خبره د انفال سورت په ٦٣ آيت کې هم راغلې ده، چې اشاره ورته وشوه.
څښتن تعالی د "عاديات" په لومړيو آيتونو کې د مجاهدينو پر اسونو قسم خوري، چې همدې واقعيت ته اشاره ده.
نني پوځي بولندويان هم پردې خبره پوه دي او د خپلو ځواکونو له ننووتو مخکې، د دښمن سيمه په پرمخ تلليو الوتکو بمباروي، چې د ځواکونو ننووتو ته يې لار پرانځي او دا ټوپ چارې د ځان او دښمن ترمنځ د واټن او د يرغل د وخت راکمولو ته کوي؛ ځکه دا دواړه لاملونه د جګړې د برخليک په ټاکلو کې ستره ونډه لري.

# د رسول الله (ص) پوځي سياست

**پوځي سياست لاندې ډولونه لري:**

١_ عمومي پوځي سياست:

د عمومي پوځي سياست پلي کولو ته د رسول الله (ص) تر ټولو مهم چار، په مدينه کې د ستراتېژيکي پوځي هډې جوړول وو، چې لاندې اقدامات يې اغېزې دي.[١]

الف: په مدينه کې د رسول الله (ص) په مشرۍ، د اسلامي دولت جوړول او د دولت د اقتصادي، پوځي، سياسي او ټولنيزو بنسټونو پياوړي کول و.

ب: مدينه يې د اسلام د تبليغ او د اسلام د دفاع مرکز وګرځاوه.

ج: د بېلابېلو "سريه" وو او غزاوو مشري به له مدينې کېده، چې تاريخپوهانو يې شمېر اتيا ليکلی دی.

او په دې توګه مدينه پر پياوړې هډې واوښته چې د رسول الله (ص) موخې يې پلي کولې او له ډېرو ځايو ورته خلک راتلل او له رسول الله (ص) سره يې ليدل او په اسلام يې ايمان راووړ.

٢_ د جګړې اداره، سمبالنه او مديريت:

رسول الله لاندې څلورو موخو ته د رسېدو لپاره جنګي سياست پلی کاوه:

الف: په بشر ضد چارو کې د اسلام د دښمنانو، قريشو او يهودو نهيلول، چې ټول ددې سياست د پلي کېدو شاهدان وو.

ب: د مدينې د کورني او بهرني امنيت ټينګښت.

ج: د اسلامي دولت د امنيت او استخباراتو پياوړتيا، چې پينځه کاله روسته، اسلامي دولت دومره پياوړي استخبارات درلودل، چې د دښمن له هر خوځښته خبرېدل او تاريخ داسې پېښه نه ده ليدلې، چې د اسلامي دولت پر پلازمېنه د دښمن ناڅاپي يرغل شوی وي.

د: پر دښمن اقتصادي ګوزار_ او دا هغه تاکتيک دی، چې په هره مبارزه کې مهمه ونډه لري. له شامه مکې ته د قريشو د مشرکانو د کاروانو د لارو ناامنه کول هم ددې سياست د پلي کولو لپاره وو.

---

[١] القياده و اداره الحرب فى الاسلام: ١٣٤ مخ.

### د پوځي سیاست موخې

د رسول الله (ص) د بعثت موخه دا وه، چې انسانان د ښوونې روزنې له لارې الهي کمال او قرب ته ورسوي او پوځي سیاستونه یې په دې لار کې د خنډونو لرې کولو ته وو. [1]

رسول الله (ص) دوه ډوله پوځي خوځښتونه درلودل:

الف - ړومبنی جهاد:

دداسې خوځښتونو مشروعیت، دیني مشر ته اړتیا لري. اسلام د الله پیغام دی او باید د نړیوالو غوږونو ته ورسي او که څوک، ګوند یا دولت د اسلام د خپرېدو مخنیوی وکړي؛ نو باید دا خنډ لرې کړای شي.

ب_ دفاعي خوځښتونه:

ددې خوځښتونو موخه د اسلامي حکومت او قرآن ساتنه او د هغه خطر مخنیوی دی، چې د اسلام شتون ته ګواښ وي.

## د رسول الله (ص) پوځي وګړه

ځیني خلک زموږ دې کار ته مبالغه وایي، چې موږ رسول الله (ص) بې ساری او تکړه پوځي شخصیت، چې یو دیني او اخلاقي شخصیت و ښیو. حال دا دا بې بنسټه خبره ده؛ ځکه په رښتیا رسول الله له پوځي اړخه په تاکتیک او ستراتېژۍ کې د پیاوړي دولت بنسټګر و.

استاد "راتب عرموش" لیکي: ((عربو لومړی د شعر په ویلو لاس پورې کړ او بیا یې قواعد وضع کړل او همداسې سترو مشرانو هم ړومبی د جګړو مشري وکړه، چې ځینو ماتې خوړه او ځینو بری مونده او بیا نور راغلل او د هغوی د ماتې او بریو د لاملونو په څېړلو یې لاس پورې کړ او په دې توګه یې د جګړې اصول او بنسټونه تدوین او راټول کړل [2].))

### ۱_ د قوماندانی ځانګړنې:

بې د "اُحد" له جګړې (، چې د رسول الله (ص) له حکمه د ځینو غشي اېشتونکیو د سرغړونې له لامله، مسلمانانو ډېر تلفات وګالل)، په ټولو جګړو کې د رسول الله (ص) سمې کړلارې

[1] محمد عبد الزهره عثمان؛ سیره المصطفی: ۱۱۷ مخ.

[2] عرموش؛ احمد راتب: مقاله ((الرسول قائد عسکري ساریی)) ۱۱ ګڼه.

جوړونې، پوځي ځيرکې او اسماني ملاتړ، بې ساری پوځي مشر کړی و، چې ټول پوځي شنونکي پرې اعتراف کوي.

اوس د رسول الله (ص) ځينې ځانګړنې:

الف_ بدني چمتووالی:

پخوا، جګړه زموږ د وخت په څېر نه وه، اوس د ټنې په کېکاږلو د بمونو او ګوليو باران شي. حال دا پخوا جګړې د جنګياليو په بدني تياري پورې اړه درلوده د جګړې ډګر ته درسېدو لپاره به شپې او ورځې مزلونه کېدل او څو ورځې به لاس پر لاس جګړه وه اود جګړې مشران به هم له خپلو سرتېرو سره اوږه پر اوږه جنګېدل.

رسول الله ښه تکړه او د مړانې خاوند و، چې د اسلام لوړ پوړی پوځي بولندوی حضرت "علي" يې په اړه وايي: ((د جګړې تنور به چې سور شو او سخته به راغله نو رسول الله به مو پناه و.))

تاريخپوهان ليکي: رسول الله (ص) له ((رکانه)) نومي جنګيالي سره مبارزه وکړه او پر ځمکه يې راوايشت.

د "بني المصطلق" جګړې ته يې له خپلو يارانو سره اوږد مزل وکړ ټول ياران يې ستړي شول؛ خو رسول الله ستړی نه شو.

له مسلمانانو سره يې د "خندق" په ايستو کې يو ځای متې بډ وهلې وې او د مسلمانانو مخې ته به چې ستر ګټ راغی؛ نو له رسول اللهه يې مرسته غوښته او هغه هم د ميتي په ګوزارونو ګټ دړې وړې کاوه.

ب _ لرليد:

تدبر او لرليد د هوښياری او پوځي تجربې تر ټولو پر مخ تللی پړاو دی.

دلته د پاک نبي د لرليد څو بېلګې راوړو:

۱_ د حديبې له سولې سره د رسول الله هوکړه: حال دا د حضرت عمر (رض) په ګډون ډېر مسلمانان له سولې سره مخالف وو او پر رسول الله (ص) يې نېوکې کولې.[۱]

۲_ له "عبدالله بن ابی" (د مدينې د منافقانو له مشر) سره تر هغه پورې ملګرتيا، چې دکار حقيقت يې معلوم شو.

۳_ په بېلابېلو ځايو کې د حضرت "علي" (ک) اوځارول.

[۱] تهذيب؛ سيره ابن هشام: ۲۴۱ مخ

ج ـ چټک هوډ:
لکه څنګه چې مو په تېرو مخونو کې هم ورته اشاره وکړه، پر الهي مرستو سربېره، د ډاډ او هوډ پر سموالي او د اسلامي دولت د ځواکونو د خپرېدو د مخنيوي لپاره يې پياوړي استخبارات درلودل او د "خندق" تر جګړې روسته، رسول الله (ص) هوډ وکړ پر "بني قريظه و" يرغل وکړي او د فتنو جرړې يې له بېخه وباسي او هغې سيمې ته تر رسېدو روسته يې ۲۵ ورځې کلابند کړل، چې حکم ته يې غاړه کېښوده، چې په هغه وخت کې دا د اسلام او مسلمانانو په ګټه غوره او پرځای پرېکړه وه.
د ـ پياوړې اراده:
پياوړې اراده هغې ته ويل کېږي، چې هوډ کوونکی يې د ټولو ستونزو او سختيو په شتون کې عملي کړي.
"مونتګمري" وايي: ((مېړانه، سمه هوډ لرنه او پياوړې اراده تر هغو ځانګړنو دي، چې له عادي انسانه غوره او وړ مشر جوړوي. [1]))
؛لکه د "اُحد" په جګړه کې د رسول الله (ص) پولادي اراده او له يارانو سره سلامشوره او خپله سلا يې، چې جنګيالي دې له مدينې نه وځي خو د ډېرى مسلمانانو سلا وه، چې له ښاره د جګړې ډګر نه جوړوو او بيا رسول الله (ص) د جګړې جامې واغوستې او و يې ويل: ((يو پېغمبر ته نه ښايي، چې د جګړې جامې واغوندي او بېرته يې وباسي خو داچې له خپل امت سره له جګړې راستون شي.))
ه ـ پر ځان واکمني:
که يو مشر په کړکېچ کې پر ځان واکمن نشي او ځان کابو نه کړای شي؛ نو سرتېري به يې وشيندل شي او ماته به يې په برخه وي.
رسول الله په کړکېچنو شرايطو کې بشپړ ډاډ درلود او د حساب وکتاب له مخې يې منطقي غبرګون ښـووه.
هغه مهال چې پر ځمکه پروت و او"غورث بن الحارث" په ايستلې توره پرې چغې کړې: ((محمده! اوس به دې څوک له ما ژغوري؟))
رسول الله (ص) په سړه سينه وويل: ((الله!))
له همدې سره د "غورث" له لاسه توره ولوېده.

---

[1] الحرب عبر التاريخ: ۱ ټوک، ۲٦ مخ.

له ياده مو و نه وځي، چې په "احد" او "حنين" کې بې له لږ شمېر يارانو نور له جگړې وتښتېدل؛ نو رسول الله په ډاډه زړه مبارزې ته دوام ورکړ؛ ځکه وارخطا کېدل يې د اسلام له منځه تگ .

و_ د خور وور لښکر بېرته راټولول:

د "سوريې" لوی درستيز ((مصطفی طلاس)) د رسول الله ددې ځانگړنې په اړه ليکي:

د تاريخ په بهير کې د هغو پوځي بولندويان د گوتو په شمېر دي، چې د لښکر تر شيندلېدو روسته يې، و کړای شول، خپل سرتېري راټول او تنظيم کړي؛ نوځکه د دنيا ستر پوځي بولندويان د رسول الله (ص) دې ځانگړنې ته سلامي ولاړ دي [1].))

چې رسول الله (ص) دا کار د "حنين" په جگړه کې وکړ او بری يې وموند.

ز_ د اصحابو او دښمن پر ځانگړنو ځان پوهول:

ح _ په زوره پر نورو د خبرې له منلو ځان ژغورل او د اصحابو د مشورو درناوی.

ط_ د کړيو هوډونو د دندو پر غاړه اخستل او قبلول يې:

د احد په جگړه کې تر ډېرو تلفاتو روسته يې څوک ملامت نه کړ او د کار پړه يې پر ځان واچوهله، که څه له مدينې د راوتو هوډ يې د اصحابو په مشوره کړی و.

۲_ د جنگياليو روزل:

د جنگياليو روزل، د رسول الله (ص) د پوځي شخصيت بل اړخ و؛ ځکه ښه خبر و په جگړه کې د بري راز د تکړه جنگياليو روزل دي.

۳_ د وسلې چمتو کول:

رسول الله د وسلې شمېر او څرنگتيا ته ارزښت ورکاوه؛ ځکه ځينو وسلو د دښمن وسلې له کاره غورځولې؛ لکه د "خندق" په جگړه کې د کندې ايستو پايله دا شوه، چې مشرک ځواکونه پر اسلامي ځواکونو يرغل و نه کړای شي.

له هجرت ٦ مياشتې روسته چې د جهاد حکم راغی؛ نو رسول الله (ص) د پوځي ځواکونو او بولندويانو په ټاکلو لاس پورې کړ او د رسول الله (ص) له لوري د لومړی لېږل شوې سريه مشر حضرت "حمزه"(رض) د رسول الله (ص) تره وټاکل شو ؛البته ځينو تاريخپوهانو حضرت "عبيده بن حارث" (رض) ښوولی دی.

---

[1] الرسول العربي و فن الحرب: ۱۷۳ مخ.

په"يعقوبي تاريخ" کې د رسول الله (ص) له لوري، د ټاکليو بولندويانو نومونه راغلي دي.

## جګړې ته کړلار

الف_ تبليغاتي جګړه:

"ناپليون" وايي: ((په جګړه کې معنوي لامل تر مادي لامله درې ګرايه زيات ارزښت لري.[1]))
لازم ګڼم هغې تبليغاتي جګړې ته لنډه اشاره وکړم، چې حضرت "نعيم بن مسعود عطفاني" د مشرکانو پرخلاف پيل کړه.

"نعيم" تر اسلام راوړو روسته رسول الله ته وويل: ((رسول اللهه! زه له خپل ټبره پټ مسلمان شوی يم نو که د اسلام پرمختګ ته څه لاربنوونه وي ورته چمتو يم.))

د الله استازي وويل: ((نعيمه! په تبليغ د خپل مشرک ټبر روحيه کمزورې کړه، چې په جګړه کې دوکه او چل روا دی.[2]))

ب_ د يارانو د روحيې له کمزورۍ مخنيوی:

د اسلام له څواکونو د هغو کسانو لرې کول، چې د مسلمانانو روحيه يې کمزورې کوله.

رسول الله (ص)، چې خبر شو: د"عبد الله بن ابی سلول" هم ژمني يهودان غواړي له مشرکانو سره په جګړه کې له مسلمانانو سره مرسته وکړي؛ نو رسول الله (ص) وويل: ((ايا مسلمان شوی يې؟)) وويل شول: ((نه!)) رسول الله (ص): ((بېرته يې ستانه کړئ؛ څکه نه غواړم د کافر په مرسته پر مشرک لاسبر شم.[3]))

۵- اروايي جګړه:

ارواييي جګړه د جګړييزې ارادې د دړې وړې کېدو تر ټولو مزبوتې وزلې دي او هغوی چې پر جنګي فنونو پوهېږي، خبر دي چې تر پوځي جګړې د ارواييي جګړې برى ژر او ارزانه دی؛ څکه په ارواييي جګړه کې د دښمن پر عقل، فکر او عواطفو يرغل کېږي او د دښمن د سرتېري تر ټولو قيمتي څيز؛ يعنې معنوي روحيه له منځه وړي.

"مارشال رومل" وايي: ((برى به د هغه پوځي مشر وي، چې د دښمن پر بدن تر بر لاسي د مخه پر عقلونو يې لاسبرى شي))

---

[1] الرسول القائد: ٤٦ مخ.

[2] تاريخ طبري: ٢ ټوک، ٢٤٢ مخ.

[3] الرسول القائد: ١١١ مخ _ الرسول فن الحرب: ١٥١ مخ.

د فرانسې پخوانى ولسمشر "جنرال دوګول" وايي: ((يو دولت په جګړه کې د بري لپاره، جګړې ته د سرتېرو تر لېږلو د مخه دې د دښمن پرخلاف اروايي جګړه پيل کړي او د جګړې پرمهال دې هم له دې لارې د خپلو سرتېرو روحيه غښتلې کړي.))

په دويمه نړيواله جګړه کې د "بريتانيا" لومړي وزير "چرچيل" ليکي: ((په ډېرو ځايو کې اروايي جګړې د تاريخ څېره اړولې ده.[1]))

سره له دې چې رسول الله (ص) په داسې وخت کې ژوند کاوه، چې له تمدن او پرمختګه لرې و خو د جګړې د ستراتېژۍ په اړه يې داسې څرګندونې درلودې، چې د اوسنۍ زمانې د پوځي ستراتېژيو بنسټ دی، چې په لنډو ورته اشاره کوو:

الف ـ ځواکمني:

د رسول الله (ص) د "انفال" شپېتم آيت ته پام و، چې: ((ترهبون به عدو الله وعدوکم)) او پوهېده، چې د اسلامي دولت ځواکمني د الله او بشريت دښمنان وېروي او پر اسلامي دولت ديرغل فکريې له مغزو وباسي نو له مجاهدو مسلمانانو يې داسې پياوړی لښکر جوړ کړ، چې مشرکانو او کفارو به ورسره له مخامخېدو ډډه کوله، چې په ټوله کې پاک نبي په ۲۸ غزاوو کې ګډون کړی و، چې ۱۹ يې بې له جګړې ترسره شوې دي.

ب ـ په ژبه جهاد:

رسول الله وايي: ((مؤمن په ژبه او توره د الله په لار کې جهاد کوي[2].))

لومړی داچې تبليغ وزلې دي او د وخت له لاسه ورکولو مخکې، دښمن ته په نېکيو امر او له بديو يې ژغورل پکار دي.

دويم داچې تبليغ د دښمن په وېرولو کې خورا ونډه لري او نن ترې پر انساني عواطفو، چلن او فکر د اغېز له لامله په تبليغاتي جګړه کې کار اخستل کېږي. د اسلام په صدر کې په ژبه د جهاد يوه بڼه د ((الله اکبر))، ((احد احد)) او ((امت امت)) شعارونه ورکول وو. نن هم د سرتېرو راهڅولو ته شعارونه ورکول کېږي؛ خو دا شعارونه فاشيستي او توکميز دي.

---

[1] القياده و اداره الحرب: ۱۵۸ مخ.

[2] کنزالعمال: ۵ ټوک، ۱۰۸ مخ.

## له اروايي جګړې د ځان ژغورنې لارې

۱_ ایمان او ګروهه:

بې ایماني او د ګروهې سستي هغه ستره روحي رنځوري ده، چې له پخوا تر اوسه يې دېرو پررروحیه ناوړه اغېزه کړې او لري يې. هماغه ستر پيغمبر، چې ځان يې پر الله سپارلی و او د شيطان پر لښکر يې چورت نه واهه الله يې د يارانو او اصحابو په اړه وايي: ((مؤمنانو ته چې ځينو وويل: ستاسې پر ضد يې سترلښکر راټول کړی؛ نو وډارشئ او ځان ترې وساتئ، چې دې خبرو يې ایمان نور هم غښتلی کړ، و يې ويل: الله راته کافي دی او الله تر ټولو غوره پالندوی دی.))

((الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُوا حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ[1]=دوی هغه کسان دي، چې(ځينو) خلکو وويل: ((خلکو [=ددښمن لښکر ] ستاسې پرخلاف د بريد لپاره راټول شوی دی؛ نو ترې ووېرېږئ!)) نو ددې خبرې په اورېدو يې ایمان نور هم پياوړی شو، و يې ويل: ((موږ ته الله بس دی او(هغه زموږ) غوره ملاتړ او کار سازی دی.))

هو! د اروايي جګړې پر وړاندې عقيده او ایمان د مسلمانانو تر ټولو کلک ډال و.

۲_ صبر او لمونځ:

د اسلام د دښمنانانو د اروايي دباوونو مقابلې ته صبر او لمونځ پياوړې وزلې دي.

الله په قرآن کې وايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ[2]= مؤمنانو! په صبر(او زغم) او لمانځه سره مرسته و غواړئ (ځکه) الله له صابرانو سره دی.))

((وَلاَ تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِن لاَ تَشْعُرُونَ[3]= او د الله په لار کې وژل شويو ته مړه مه وايئ بلکې (هغوی) ژوندي دي؛ خو تاسې نه پوهېږئ. (او په حسي درک ورته ځير کېدای نشئ).

---

[1] (آل عمران: ۱۷۳)

[2] (بقره/۱۵۳)

[3] (بقره/۱۵۴)

((وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الأَمْوَالِ وَالأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ[1]= او موږ به هرومرو تاسې په وېره او لوږه او د سرومال او حاصلاتو په زيانولو ازمېيو او زېرى ورکړه د زغم خاوندانو ته))

((الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وإِنَّا إِلَيهِ رَاجِعُونَ[2]= (او) هغو (صابرانو) ته زېرى ورکړه، چې د مصيبت په ورسېدو يې وويل: ((موږ د الله يو او د هغه لوري ته ورستنېدونکي يو!))

((أُولئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِن رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ[3]= دوی هماغه (کسان) دي، چې د خپل پالونکي درود، لطف او ځانګړی رحمت پرې لورېدلی دی او همدوی سم لاري دي.))

۳_ له ناغېړی ځان ژغورل:

د قرآن آيتونه، نبوي سنت او د امامانو ويناوې، مسلمانانو ته ډاډ او تسل ورکوي او سپارښتنه کوي، چې له لټی او سستی ځان وژغوئ، چې ستره روحي رنځوري ده.

قرآن مجيد مسلمانانو ته وايي:

((وَلاَ تَهِنُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنْتُم مُؤْمِنِينَ[4]=اوکه تاسې (په رښتيا) مؤمنان ياست (نو) مه سستېږئ او مه خپه کېږئ او همدا تاسې لاسبري ياست.))

((إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لاَ يُحِبُّ الظَّالِمِينَ[5]= که تاسې(داحد په ډ ګرکې) ټپي شوي ياست (او ماتې مو خوړلې) نو(د بدر په ډګر کې) هغه ډله هم ستاسې په څېر ټپي شوې وه او موږ د (برى او ماتې) دا ورځې د خلکو ترمنځ اړوو را اړوو(، چې دا د دنيوي ژوندځانګړنه ده) چې الله مؤمنان وپېژني او له تاسې شاهدان ونيسي او الله ظالمان نه خو ښوي.))

((وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ[6]= او چې الله مؤمنان چاڼ کړي (او تکړه شي) او کافران (ورو ورو) پوپناه شي.))

---

[1] (بقره/۱۵۵)

[2] (بقره/۱۵٦)

[3] (بقره/۱۵۷)

[4] (آل عمران/۱۳۹)

[5] (آل عمران/۱۴۰)

[6] (آل عمران/۱۴۱)

((أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ[1]=ايا انګېرئ، چې (يوازې دايمان په ادعا) به جنت ته ولاړ شئ، حال دا تر وسه الله په تاسې کې مجاهدين او صابران نه دي معلوم کړي.))

د قرآن پر کلامي سپارښتنو سربېره، د احدد جګړې پېښه په دې اړه عملي بېلګه ده. په هغه جګړه کې سره له دې چې مسلمانانو ترخه ماتې وخوړه خو د رسول الله (ص) لاروي يې د ژغورنې لامل شوه او مؤمنانو ته يې له نفس سره مبارزه او اکبر جهاد ورزده کړ.

٤_واقعيتونه راوړاندې کول:

سره له دې چې د غير الهي دولتو تبليغات د خپلو او نورو ولسونو د ارادو د سستولو لپاره، له دروغو او دوکو کار اخلي خو په دې روستيو کې پوهانو جوته کړې، چې د واقعيت د ويلو هومره هېڅ څيز نه شي کړای د اروايي جګړې ناوړه اغېزې له منځه يوسي؛ څکه د واقعيت پېټول په انسان کې فکري تشه رامنځ ته کوي او د دښمن په تبليغاتو بې لارې کېږي؛ نوڅکه سمه خبر رسونه او د واقعيتونو ښوول، په خلکو کې د شک د له منځه وړو يوازېنی لار ده.

تاريخپوهانو د احد په جګړه کې د رسول الله (ص) د صحابي حضرت "انس بن نظر" کيسه رانقل کړې ده: د حضرت "عمر" او حضرت "طلحه" (رضی الله عنهما) په ګډون يوې ډلې مسلمانانو، چې کله د پاک نبي د وژل کېدو يې واورېدل؛ نو يو بل ته يې وويل: کاشکې، چې يو تن مو "عبد الله بن ابی سلول" (د منافقاتو مشر) ته لېږلی وای، چې له مړينې د مخه يې راته له ابوسفيانه امان اخستی وای. دا مهال حضرت "انس" وويل: ((خلکو! که "محمد" مړ شو؛ نو الله خو يې مړ نه دی؛ نو کومې موخې ته چې "محمد" جنګېده تاسې هم وجنګېږئ.)) بيا "انس" اسمان ته مخ کړ او و يې ويل: ((خدايه! زه د دوی له ويلو درنه بښنه غواړم او له وړانديزه يې بېزاره يم.)) د جګړې ډګر ته يې ورودانګل او شهيد شو.[2]

له ام المؤمنين عايشې (رضی الله عنها) روايت دی، چې: ((لومړي خليفه به چې د احد د جګړې ورځ رايادە کړه؛ نو پر ژړا به شو او ويل به يې "هغه ورځ د "طلحه" د تېښتې ورځ وه.[3]))

---

[1] (آل عمران/۱۴۲)

[2] ابن ابی الحديد؛ شرح نهج البلاغه: ١٤ ټوک، ١٥ مخ _هېکل؛ حياة محمد: ٢٦٥ مخ _ ابن اثير؛ کامل: ٢ ټوک، ٩١٠ مخ _ سيرة الحلبيه: ٢ ټوک، ٢٩٧ مخ.

[3] ابن سعد؛ طبقات: ٣ ټوک، ١٥ مخ _ ابن کثير؛ السيره النبويه: ٣ ټوک ٥٨ مخ _ البدايه والنهايه: ٤ ټوک، ٢٩ مخ _ مستدرک الحاکم: ٣ ټوک، ٢٧ مخ.

او له دې مخکې مو هم ويلي وو، چې ګران پېغمبر پر غونډۍ ودرېد او تښتېدليو يارانو ته يې په نامه غږ وکړ، چې حضرت "عثمان بن عفان" هم پکې و.
د احدد جګړې پر ورځ د رسول الله (ص) د ژونديتوب واقعيت نه يوازې د رسول الله (ص) د وژل کېدو د اوازې د شنډېدو لامل شو؛ بلکې د شيندل شوي لښکر د بيا راټولېدو لامل هم شو مسلمانان بېرته ډاډه شول او پوه شول، چې د الله د وعدې له مخې به، برى د مسلمانان وي.
لرليد رسول الله اړ کړ، چې د احد په جګړه کې د روحي ګوزار د اغېز د منځه وړو ته په بل پوځي اقدام لاس پورې کړي؛ ځکه تر هغو پېښو روسته، رسول الله د پوځي مشر په توګه له دغو مسلو سره مقابلې ته چاره سنجولې وه:
الف _ په مدينه او چاپېريال کې يهودو، منافقانو او مشرکانو، پر مسلمانانو ملنډې وهلې او پر ماتې يې خوشحالۍ کولې.
ب _ د مسلمانانو د واکمنۍ دبدبې ته ګواښ.
ج _"عبدالله بن ابى سلول" ادعا کوله، چې رسول الله (ص) يې خبرې ته غوږ نه و ايښې او پر خپلو هم ژمنو په غوسه دی او سره له دې چې په جګړه کې يې ونډه نه وه اخستې خو د مسلمانانو د روحيې کمزورولو ته يې تبليغات کول.
د_ او که د جګړې پايله هماغسې پاتې واى نو تل به د مسلمانانو پر تندي د ماتې ټاپه لګېدلې واى او د عربستان په نورو ځايو کې به ترې د مشرکانو سترګه هم نه سوځېده او قريشو به بيا يرغل ته پر بډو ګوتې وهلې واى.
د پورته دليلونو له مخې، رسول الله (ص) هوډ وکړ د احد د جګړې د ماتې جبرانولو ته حساب شوی ګام پورته کړي او د مسلمانانو ټيټې روحيه بيا ورغوي او د يهودو او منافقانو پر زړونو د وېرې رپ ولګوي؛ نو د احد تر جګړې روسته يې اعلان وکړ: ((هغه مسلمانان دې د قريشو ښرلو ته له مدينې راووځي، چې د احد په جګړه کې يې برخه اخستې وه.)) مسلمانان د رسول الله (ص) د حکم له مخې د مدينې په اته ميلۍ کې "حمراءالاسد" سيمې ته راووتل. "ابوسفيان" چې خبر شو؛ نو ګومان يې وکړ مسلمانانو تازه ځواکونه راوستي او همدا ګومان يې لامل شو، چې پر لښکر او "ابوسفيان" د وېرې رپ ولګي او د مکې پر لور وتښتي نو مسلمانانو ددې سنجول شوي حرکت له لارې خپله دبدبه بېرته تر لاسه کړه او د رسول الله حکيمانه مشرۍ، مسلمانان له روحي ماتې وژغورل.

ددې حکيمانه مشرۍ بله بېلګه د "خيبر" په جګړه کې ده په سر کې رسول الله (ص) د حضرت "ابوبکر"(رض) په مشرۍ مسلمانان د يهودو کلا نيوو ته ولېږل خو تر څه مودې روسته ماتې خوړلي راستانه شول.

بله ورځ يې مسلمانان د حضرت "عمر"(رض) په مشرۍ د همدې موخې لپاره ولېږل خو هغوی هم تش لاس راستانه شول.

مجاهدينو به خپل بولندوی او بولندوی به خپل مجاهدين له دښمنه په وېره تورنول. د حضرت "جابر بن عبدالله" (رض) د روايت له مخې، چې "حاکم حسکاني" په "مستدرک" کې راوړی او صحيح يې ګڼلی، رسول الله (ص) يارانو ته وويل: ((سبا به د مشرۍ بېرغ هغه ته ورکړم، چې الله او رسول يې پرې ګران دي او هغه هم پر الله او رسول يې ګران دی او هېڅکله له جګړې تښتېدلی نه دی، الله به يې کلا په لاس فتح کړي او بری به مو په برخه شي.)) سبا ټول په تمه وو، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم به څوک بولندوی ټاکي. پر هغه ورځ د "علي" سترګې خوږېدې خو رسول الله (ص) ورته د مشرۍ بېرغ ورکړ او هماغسې وشول، چې رسول الله (ص) ويلي وو او "علي" د خيبر د کلا ورونه پرانستل.[1]))

هو! رسول الله (ص) خپل سرتېري داسې روزلي وو، چې د ماتې روحي اغېزې يې په سترو بريو له منځه وړې.

[1] فرائد السمطين: ۱ټوک، ۲۵۹ مخ ـ الطبراني؛ المعجم الصغير: ۲ ټوک، ۱۰۰ مخ ـ البخاري: ۵ ټوک، ۲۳ مخ ـ مسلم: ۷ټوک، ۱۲۲ مخ.

## نبوي سيره او د منجمنټ/ مديريت اصول

غربي عالم"توماس کار لايل"(۱۷۹۵- ۱۸۸۱ز)د رسول الله د مديريت په اړه ويلي دي:
((په رښتيا سپېڅلي الله، عرب په اسلام له تيارو رڼا ته راوايستل او هغو مړو او مړاوو خلکو ته يې ژوند او خوځښت ورکړ. له اسلامه مخکې لالهانده، بېنومه او بېوزله وو، چې د ژوند له پيله يې په وچو او سوځنده دښتو کې بې له کومې ګټې ژوند تېراوه (کډوالي)، په تاريخ کې بله کارنامه نه ده کښل شوې؛ خو ځښتن ورته استازی ولېږه او له بېنومۍ يې پر شهرت او له کمزورۍ يې پر ځواکمنۍ واړول او په ټوله نړۍ کې يې رڼا خپره شوه او وړانګې يې له شماله تر جنوب او له ختيځه تر لوېديځه ورسېدې.))
"فيردريک روکرت" (۱۷٦٦- ۱۸٦٦ز) جرمنی ختيځپوه او د ((وين)) او ((برلين)) د پوهنتونو استاد وايي:
((هغه کړلارې او قوانين، چې "محمد" خپل امت او نړيوالو ته راوړل، د هر اړخېزې ستاينې او درناوي وړ دي او د دين د معجزې دليل يې دادی، په هغه وخت کې، چې د کړلارو او قوانينو د پلي کولو او بري هېڅ شرايط چمتو نه وو خو صداقت، پاک نيت او د موخو ستريا يې ټول ناشوني کړل.))

### مديريت ته ټوليزه کتنه

له ديني پوهې بې اعتنا او جاهلي ټولنې، پخوا او اوس د مادي او ناپوهو انسانانو د نظرياتو په زخمو کې لالهانده دي او چې بيا جاهلي ټولنو ته الهي پېغمبرانو لار وښوده نو يهودانو پر ناځيزه بيه د ((تورات)) نوراني کتاب واړاوه او مسيحيانو يې په لاورۍ ((انجيل)) واړاوه.
روسته چې هغوی د ژوند د بېلابېلو چارو د مديريت په اړه د خپلو اديانو له بېوسۍ خبر شول؛ نو په دې ګومان، چې خپل اړول شوي اسماني کتاب ته لوړکړي؛ نو له مادي فلسفې سره يې د مفاهيمو په ګډولو لاس پورې کړ، چې ددې اړونو او ګډولو پايله د ځمکنيو او اسماني مفاهيمو ګډوډي او پردې دين ځينې ناروا ازادۍ او ارتجاعي ارزښتونه وتپل شول، چې ويلای شو، د نړه ماده پالنې تاوان تردې ګډوډۍ لړ دی.
ددې بې لاريو بل غبرګون د پاڅونو او خوځښتونو رامنځ ته کېدل وو.

د کليسا له لوري د ګناهونو د بښل کېدو د سند پرخلاف د ((لوتر)) پاڅون او د فرانسې ستر پاڅون له دينه د سياست د بېلولو پيلامه وه او همدا و، چې نړۍ پر داسې ځنګله واوښته چې زرور پکې پر کمزوريو نه لورېږي، شتمن بېوزلي زبېښي او د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې د وينو نېزونه وبهېدل او تر دوو خونړيو نړيوالو جګړو روسته، اوس هم په نړۍ کې ګډوډي ده.

## رسول الله (ص) بې سارې مدير و

د لويديځ او ختيځ سترو عالمانو په ټولو اړخونو کې د رسول الله (ص) لوېښت منلی، چې يو يې مديريت هم دی: هغه با کفايته او پياوړي مدبر مدير، له شيندلې جاهلي ټولنې، ستر "واحد امت" جوړ کړ او د رسالت رڼا يې بېلابېلو سيمو ته ورسوله او د اقتصاد، سياست او قانون اېښوونې په برخو کې يې علمي او انساني پاڅونونه رامنځ ته کړل.
پخوا مو هم ورته اشاره وکړه او د لويديځ عالمانو هم منلې، چې اسلامي پوهې د نننۍ نړۍ د ډېرو پرمختګونو، خوځښتونو او بدلونو لامل و او شک نشته چې د اسلامي نړۍ د ټولو پرمختګونو لامل د رسول الله بې سارې اداري کړلارې او سيره ده. هغه پېغمبر، چې د قرآن د وينا له مخې، ټولو مسلمانانو ته غوره بېلګه ده
((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً[١]=سکه د الله د استازي په ژوند کې ستاسې هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هېله من وي او الله ډېر يادوي.))
او د بشر ي ژوند د ټولو چارو مشر دی.
رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د سمبالنې او مشرۍ لپاره ټولې عالي ځانګړنې درلودې او دا؛ ځکه، وو چې مشري او سمبالنه يې لا چا په دنيا کې نه ده ليدلې. د الهي قدرت په مرسته، د خپل ستر شخصيت او د هغه مقام په واسطه، چې په خلکو کې يې درلود، يو ستر پاڅون يې سمبال او رهبري کړ.
پر ټولو ګران و او دوست او دښمن دواړو يې پر رښتينولۍ منښته درلوده او په خپل رسالت کې يې د خلکو له دې ويسا هم ګټنه کوله او هغوی يې پوښتل:

[١] (احزاب/٢١)

((که درته ووایم، چې ددې غره تر شا یوه ډله سواره دي؛ نو راسره یې منئ؟)) ټولو وویل: ((هو مونږ یې درسره منو! تر وسه لا چا له تاسې دروغ نه دي اورېدلي.))

د رسول الله (ص) د مشرئ یوه بله ځانګړنه دا وه، چې د ځان لپاره پر هېڅ ډول ټولنیز امتیاز قایل نه و. یو صحابي وایي: ((له رسول الله (ص) سره یو بازار ته ولاړو، هلته یو هټۍ وال وپېژنده، چې د الله د استازي د لاسونو ښکلولو په موخه له ځایه راپاڅېد. رسول الله (ص) خپل لاس کش کړ، و یې ویل: ((دا کار پارسیان د خپلو پاچاانو لپاره کوي او زه پاچا نه یم؛ بلکې ستاسې په څېر یو انسان یم.[1]))

سره له دې چې د الله د استازي ځکم بې ځنډه پلي کېده او تل یې اصحابو ویل: ((داچې پر تا ایمان لرو نو که حکم وکړئ؛ نو ځان به درته پر سیند هم لاهو کړو)) خو رسول الله (ص) هېڅکله د مستبدانو په څېر نه و. سره له دې چې د عصمت د مقام خاوند و او سلا مشورې ته یې اړتیا نه درلوده؛ خو د قرآن پاک د وینا له مخې ((و شاورهم فی الامر)) یې په هغه چارو کې له اصحابو سره سلا مشوره کوله، چې وحې به ورته نه وه راغلې؛ لکه څنګه چې یې د "بدر" په جګړه کې د غونډ د ځای د جوړولو په هکله له یارانو سره سلا مشوره وکړه. د "احزاب" او"تبوک" په جګړه کې یې هم له یارانو سره سلا مشوره وکړه او د هغوی د نظر درناوی یې هم وکړ او له دې لارې یې د سلا مشورې غښتلی بنسټ کېښود، چې مشران ځان تر نورو پورته او مافوق ونه ګڼي او له خلکو سره سلا مشوره وکړي او د سلا مشورې په هکله یې ویل: ((تر وسه لا څوک پر سلا مشوره بدمرغه شوی نه دی او د رای پر استبداد نه دی نېکمرغه شوی)) او په یو بل ځای کې وایي: ((هر مهال مو چې چارې د نېکانو په لاس کې او لاسبري مو سخاوتمندان وي او چارې مو پر سلا مشوره سمبال شي؛ نو تر ځمکې لاندې درته د ځمکې مخ ښه دی (؛ یعنې د ژوند وړتیا لرئ) خو که چارواکي مو بد او شتمن مو کنجوس او په چارو کې مو مشوره ونه شي؛ نو د ځمکې لاندې یې درته د ځمکې تر پاسه غوره ده.))

د جمعې د لمونځ او د جګړې د صف نظم ته یې خورا ارزښت ورکاوه؛ لکه څنګه چې یې د "بدر" د جګړې په هله ګوله کې د سرتېرو لیکې برابرولې. پر چارو یې نظم او انضباط واکمن و نو لارویانو ته یې هم په هر کار کې نظم په کار دی.

---

[1] (شرح الذهب، رهباني٤/٢٦٥)

په مدينه کې يې ډول ډول تشکيلات جوړ کړل، چې هرې ډلې خپله ځانګړې دنده درلوده ځينې د وحې کاتبان، ځينې مبلغان، ځينې د ځانګړو او محرمانه ليکونو ليکونکي، ځينو د خلکو معاملې او ژمنې ثبتولې او ځينو د مالياتو د راټولولو او ثبتولو دنده پر غاړه درلوده او ځينو. . . .

که د الله استازي سلا ګڼله، چې ځينې چارې په پټه بڼه وشي، چې دښمن ترې خبر نشي، يارانو يې د مشرۍ ټول حکمونه پر سر سترګو بې ځنډه ترسره کول. د بېلګې په توګه: که فرمان به يې ورکړ، چې چمتو شئ سبا زو نو بې له دې چې تر روستي مقصده خبر ووسي، سبا به ټول سينه پر لاس چمتو ولاړ وو او ډېر داسې راپېښېدل، چې مقصد ته ورسېدل؛ نو هله به له مقصده خبر شول او کله خو داسې هم کېدل، چې يوې ډلې ته يې حکم وکړ، چې پر پلاني لوري ولاړ شئ او د هغوی مشر ته يې يو ليک ورکاوه، چې پلانۍ سيمې ته ورسېدئ؛ نو ليک خلاص او پکې ليکل شوي حکمونه پلي کړئ او هغوی هم داسې کول او مقصد ته تر رسېدو مخکې خبر نه ول، چې کومې سيمې ته او د څه لپاره ځو او له دې لارې يې دښمن له خپلو موخو نه خبرېده او هغوی يې ګنګسول. د الله د استازي د مشرۍ بله ځانګړنه دا وه، چې انساني ځواک ته د سازمان او تشکيلاتو بڼې ورکولو سره يې خورا مينه درلوده او ويل يې: ((که درې کسان يو ځای پر سفر وځئ؛ نو يو مو هرومرو مشر وټاکئ.)) لنډه داچې پر رسالت ايمان، ښه اخلاقو، تواضع، دروند او ښه خوی، مړانې، متانت يا درونږوالي، پراخې سينې، سادګۍ، نظم او انضباط، پر وخت او ځای تشخيص، زړه ته د ترديد لار نه ورکولو، وړاندوينې، د نيوکو پر وړاندې زغم او پراخې سينې، د انسانانو پېژندل او ورته د وړتياوو مطابق دندې ورکولو، په شخصي چارو کې نرمي او په اصولي مسلو کې پرېکندتوب، لارويانو ته شخصيت ورکولو او ورسره سلا مشورې، د خپل ژوند د کچې نه لوړولو، د عقلي، عاطفي او عملي استعدادودنو روزولو، له استبداد ه ډډې او له سازمان او تشکيلاتو سره مينه، هغه څه وو، چې له رسول الله (ص) يې بشپړ مشر او مدير چلوونکی جوړ کړی و، چې تر وسه لا بشر يې دويم نه دی لېدلی.

د مشرۍ په هکله يې دومره بس، هغه مهال چې نړۍ په ګډوډۍ کې وه او معنوياتو ته يې ارزښت نه ورکاوه، د ټولنيز عدالت پر بنسټ يې نظام جوړ کړ.

## د رسول الله (ص) د مديريت يوه برخه

خبره به درسول الله د بلنې له ړومبيو ورځو راواخلو، چې خپلې کړلارې يې پر دوو برخو وېشلې وې:

الف: په مکه کې مديريت.

ب: په مدينه کې مديريت.

رسول الله (ص) په مکه کې د ډېرو کړاوونو په ګاللو، د توحيدي آيتونو په لوستو او په راويښوونکيو پوښتنو او ځوابونو او د آخرت او د دوزخ د اور په رايادولو، د نومسلمان د عقيدو په جوړولو او له زړونو او فکرونو يې د جاهليت د دوړو په څنډلو لاس پورې کړ او په تبليغ يې، ټول د الهي دين منلو او د جاهليت د دودونو پرېښوولو ته راوبلل.

دا ديارلس کاله د ښوونې او روزنې، په تېره د افکارو د روزنې پړاو و؛ نوځکه په دې پړاو کې د قرآن ډېر شمېر آيتونه راغلل.

د يادونې وړ ده، چې سمه عقيده او بنستيې ايمان، له عادي خلکو "امين" او "مخلص" مسلمانان جوړوي، چې ټولنې ته د ورننووتو او د مدني دندو د پر غاړه اخستو پرمهال د اسلامي کړنلار او چلن نندارې کوي، چې د عبادي کړلارې پلي کول د همدې موخې او د امينو انسانانو روزلو ته وو، چې پينځه وخته لمونځ، د قرآن لوستل او نور عبادتونه هم پکې شامل وو، چې رسول الله (ص) يې مسلمانانو ته سپارښتنه کړې وه او په خپله يې هم د هغوی په سرته رسولو کې خورا کوښښ کاوه، چې رسول الله (ص) او نورو مسلمانانو د شپې لمونځ او يو لړ نور عبادتونه، د ژوند يوه برخه ګرځولې، چې قرآن يې په اړه وايي:

((رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَى مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَن لَن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرآنِ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَى وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضاً حَسَناً وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْراً وَأَعْظَمَ أَجْراً وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [١]= په واقع کې ستا پالونکی پوهېږي، چې ته د شپې له دربو څخه دوو برخو ته نژدې او(يا) د(هغې) نيمايي او (يا) د هغه دريمه [لمانځه ته] راپاځېږې او ستا له ملګرو يوه ډله هم (دغسې کوي) او الله

---

[١] (مزمل/٢٠)

د شپې او ورځې اندازه ټاکي او هغه پوهېږي، چې تاسې (د عبادت لپاره) په (ځير) وخت نه شئ حسابولای نو و يې بښلئ؛ نو قرآن څومره، چې درته (ممکن او) اسان وي، ولولئ. (هغه) پوهېږي، چې ژر به په تاسې کې ځينې رنځور شي او (يو شمېر) نور (به) پر سفر ووځي او الهي فضل (او روزی) به تر لاسه کوي او بله (ډله) به د الله په لار کې جهاد کوي (او د قرآن له لوستو بې برخې کېږي) نو څومره چې درته (ممکن او) اسان وي، قرآن ولولئ. لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او الله ته غوره پور (قرض الحسنه) ورکړئ [=د هغه په لارکې نفقه ورکړئ] او (پوه شئ)، هره نېکي، چې له مخکې، خپلو ځانو ته لېږئ (نو) له الله سره به يې ډېر غوره او په ډېرې بدلې ومومئ او له خدايه بښنه وغواړئ [ځکه ] چې الله ډېر بښونکی [او] لورين دی.))

لکه چې د شپې دا کړلار پټ حکمت لري؛ يعنې د شپې د لمونځ کوونکي د قلبي ايمان پر پياوړتيا او ټينګښت سربېره، د ورځې الله ته د رابللو او انفاق په لار کې ګړندي ګامونه اخلي.

**په مکه کې مديريت**

د هغو دباوونو له لامله، چې قريشو د رسول الله (ص) پر نوي غورځنګ راوړل؛ نو اړ شو، چې دوو هجرتونو ته کړلارې جوړې کړي، چې يوه ((حبشې)) او بله مدينې ته. دا کړلارې دومره منظمې او دقيقې جوړې شوې وې، چې د اسلام له دښمنانو يې د هر ډول ناوړګټنې فرصت واخست او د مهاجرت مخنيوی يې و نه کړای شو او دا هجرتونه د هغو خطرونو د مخنيوي لپاره وشول، چې د مسلمانانو ژوند يې ګواښه.

د رسول الله (ص) د تدبير، هوښياری او پياوړي مديريت يوه نښه دا وه، چې د لاندې دليلونو له لامله په مکه کې پاتې شو او خپل هجرت يې وځنډاوه:

الف_تر هغو خلکو سره کتنه او اسلام ته يې رابلنه، چې د "عربستان" له بېلابېلو سيمو مکې ته د کعبې زيارت ته راتلل، چې د مدينې له خلکو سره د "عقبی لومړی تړون" يې يوه بېلګه ده. ياد دې وي، چې په يو لړ نورو مراسمو کې، چې د "عقبی دويم تړون" يادېږي، چې پکې د يثرب۷۳ وتليو وګړيو، چې ښځې هم پکې وې، پر رسول الله (ص) ايمان راووړ او هغوی چې "يثرب" ته ستانه شول؛ نو د نورو خلکو مسلمانېدو، د رسول الله (ص) هجرت او په "يثرب" کې داسلامي دولت جوړولو ته يې لار هواره کړه.

ب_ د ړومبيو مسلمانانو د يوې ډلې د هجرت تنظيمول، چې ورته لومړی يا کوشنی هجرت ويل شوی. دې هجرت "افريقا" ته د اسلام غږ ورساوه او هلته يې د اسلام مرکز جوړ کړ، چې

غبرګ يې نورو ځايو ته هم ورسېد او پردې سربېره، مسلمانانو خورا زياتې تجربې هم لاس ته راوړې.

ج-چې په مکه کې د رسول الله (ص) يوازېنی ملاتړ؛ يعنې تره يې ((ابوطالب)) رنځور شو؛ نو يوه ډله قريش ورته ورغلل، چې وراره يې نوي دين ته د خلکو له رابللو ډډه وکړي او که زموږ خبره يې ومنله؛ نو څه چې غواړي، ور به يې کړو خو رسول الله (ص) پر خپلې بلنې ټينګ ولاړ و او خپل تره ته يې وويل، چې ورته ووايي:

((ګرانه تره!که يو ټکی مو پر ژبه راووړ نو د عربو او عجمو ښاغلي به شئ.))

قريشو رسول الله (ص) ته غوږ رانېردې کړ، چې څه وايي.

رسول الله (ص) وويل: ((ووايئ: ((لا اله الا الله)) او يوازي "الله" ولمانځئ.))

د قريشو مشرکان ددې خبرې په اورېدو، د "ابوطالب" له کوره ووتل؛ ځکه که حق ته يې غاړه ايښې وای نو بايد له ټولو هغو ګټو او مقامونو يې لاس پرېمنځلی وای، چې په شرک او تېري ور په برخه شوي وو.

دې پېښې ته پام څرګندوي، چې رسول الله هغه مهال د توحيد پر بنسټ نړيوال اسلامي حکومت جوړولو ته لار هواروله، چې دا خبره د رسول الله (ص) د مديريت مهم اصل و.

**په مدينه کې مديريت**

رسول الله (ص) مدينې ته تر هجرت روسته، د قرآن د قوانينو او د احکامو د پلي کولو په موخه، د اسلامي دولت د بنسټونو او حکومتي سازمانو په جوړلو لاس پورې کړ.

د رسول الله بېسارې حکومتي کړنلار نه چا په پخوانيو تمدنو کې ليدلې وه او نه به يې په راتلونکې کې ويني.

**اداري تشکيلات**

رسول الله له هر څه مخکې، اداري تشکيلات جوړ کړل، چې دا ورته د الهي احکامو د پلي کولو وزله وه، نه موخه.

د اسلامي دولت د اداري جوړښت غړي دا وو:

۱_د سيمو او ټبرونو مشران او په هغوی کې د رسول الله (ص) استازي.

۲_ د زکات د راټولولو، ساتلو او وېش کارمندان.

۳_د وحې او د هغو ليکونو ليکوال، چې رسول الله (ص) به د هېوادو، ټبرونو او سيمو مشرانو ته ليکل او هغه سفيران، چې دا ليکونه او پېغامونه به يې نورو دولتو ته رسول.

رسول الله (ص) په دې تشکيلاتو کې تر ټولو لوړ سياسي ځواک او مقام و او پر ټولو مسلمانانو يې عام او سراسري ولايت درلود؛ ځکه د نبوت پر مقام سربېره يې د مسلمانانو د مشرۍ او واکمنۍ دنده هم درلوده.

که پوښتنه وشي:

رسول الله (ص) د اسلامي دولت د جوړولوکار له کوم ټکي پيل کړ؟

د بيت المال او خزانې له جوړلو؟

د پوځي ځواک له جوړولو؟

د قضايي محاکمو له جوړولو؟

د گوند او يا گوندونو له جوړولو؟ يا....؟

نو ځواب دادی:

رسول الله د اسلامي دولت جوړول، د جومات په جوړولو پيل کړ او په هغه وخت کې جومات د ديني گروهو د پياوړتيا، د نفس د پاکۍ او روزنې، د اسلامي ښوونو د زده کړې ستر پوهنتون، د پوځيانوښوونيزمرکز، د انسان او الله د اړيکو او د ټولو دولتي ادارو د څارنې او تنظيم مرکز و.

د رسول الله (ص) پر سختو دښمنانو سربېره او هغوی چې په مدينه او او بهر کې مسلمانانو ته په څارنځای کې وو؛ نو په دغسې حالاتو کې يوازې په پياوړي او د قيق مديريت ترسره کېدای شي؛؛ نوځکه رسول الله د ټولو ادارو چارې په خپله سمبالولې، چې ؛ البته ددې ټولو کړلارو سرچينه الهي وحې وه خو پلي کول يې د رسول الله (ص) تر مخامخ څارنې لاندې وو، چې په طبيعي ډول لاندې دوو شبهو ته ځواب ورکړ شي:

الف_ د اسلام د دښمنانو گومان، چې ادعا کوي، اسلامي احکام ذهني او خيالي دي او په واقعيت کې پلي کول يې ډېر ستونزمن دي.

ب: د لايزم د لارويانو په لوی لاس دروغ او گومانونه، چې له سياست او انساني کړو وړو، د قرآني نصوصو پر بېليدو گروهن دي.

## د رسول الله (ص) مدیریت

مدینې ته تر ننووتو لږ روسته، زیات شمېر پېښې وشوې، چې په هره پېښه کې د رسول الله ځانگړی چلن، د نوي مدیریت د کارولو دلیل دی.

۱_عدالت-نیاو:

د رسول الله (ص) ټولنیزې چارې په اداري بڼه او د سنجول شوې کړلارې له مخې وې او تر لاس لاندیو سره چلن یې پر عدالت ولاړ و، ان په کتنه او موسکا کې یې هم په هغوی کې توپیر نه کاوه او چارې یې داسې سمبالولې، چې حق حقوال ته ورسي او همدا الهي ځانگړنې یې وې، چې په انساني مشرۍ کې یې ترې بې ساری بېلگه جوړه کړه.

څرگنده ده، هغه مشر ظالم دی، چې د تر لاس لاندې کسانو ترمنځ توپیر کوي، چې په خپله به د خپلې ادارې د ړنگېدو لامل وي، چې همدا اوس داسې توپیرونه د نړۍ په مادي ادارو کې شته، حال دا شعارونه ورکوي: مدیر باید ټولو کارکوونکیو ته په یوه سترگه وویني او ترمنځ یې مساوات وي؛ خو حقیقت دادی، چې دا شعارونه یې بنسټ نه لري او موږ د پاک نبي د سیرت په رڼا کې اعلانوو، چې د هر مدیر چلن باید د عدالت پر بنسټ وي؛ یعنې که دوې ادارې یو شانته شرایط او ځانگړنې ولري؛ نو د عدالت غوښتنه ده، چې دواړه برابر امتیازات ولري او که د ځینو سازمانو کار، د ټولنې ښېگړو او گټو ته ژوندوني ارزښت ولري؛ نو د هغه سازمان او نورو ادارو ترمنځ مساوات، د ټولنې د ښېگړو پرخلاف کار دی او کېدای شي د فرصتونو په لاسه ورکولو او د ډېرو استعدادونو او وړتیاوو د ویجاړۍ لامل شي؛ لکه څنگه چې ښځایه ښښې، د قانون درناوی له منځه وړي؛ نوځکه وایو: په ځینو وختو کې مساوات له عدالت سره اړخ نه لگوي.

د رسول الله ژوند ان له بعثت مخکې هم له غوره چلن او ښه مدیریته برخمن و، چې بېلگه یې په عربو کې د کعبې په دېوال کې د ((حجرالا سود)) د تیږې د اېښوولو پر سر د اختلاف پرمهال د رسول الله (ص) مدیریت دی.

کیسه داسې وه: هر چا غوښتل، ددې کار ویاړ ور په برخه شي او په دې اړه یو هم له خپلې خبرې نه تېرېده او نږدې و ترمنځ یې اوږده جگړه راشي. بالاخره پرېکړه وشوه: څوک چې ړومبی په وره راننووت نو هغه به یې شخړه هواروي او د الله په اراده، حضرت "محمد" ړومبی کس و، چې راننووت او خپل څادر یې خور کړ او تیږه یې پکې کېښوده او تر ټولو یې وغوښتل

د څادر يوه پيڅکه ونيسي او تيره خپل ځانګړي ځای ته راوړي او بيا يې تيره په خپل لاس په خپل ځای کې کېښوده او له دې لارې يې شخړه پای ته و رسوله.
بله بېلګه مدينې ته د ننووتو پرمهال ده.
د مدينې هر اوسېدونکي هڅه کوله د رسول الله (ص) د مېلمستيا وياړ ولري. هغه مهال ددې مسالې پر سر د لاس و ګرېوان کېدو امکان ډېر و، چې ناوړه اغېزې يې تر ډېره پاتېدای شوې او په راتلونکې کې يې اسلامي غورځنګ ته ډېرې ستونزې پيښولې نو هواروي ته يې رسول الله (ص) وويل:
((اوښ ته مې دنده ورکړ شوې، لار ورکړئ! چېرې چې ودرېد هماغه کور ته ځم.)) اوښ د حضرت "ابو ايوب انصاري" (رض) د کور مخې ته ودرېد او دا مساله هم د رسول الله (ص) پردې تدبير هواره شوه.
۲ـ رورولي:
دا کړلار، چې د بشريت تاريخ يې سارى نه لري، په ښکلي انساني او اداري بڼه ترسره شو او سره له دې چې مهاجرو او انصارو پر خوى بوى او دودونو کې يو له بل سره خورا توپيرونه درلودل خو د رسول الله د مدينې د هغه وخت د شرايطو او ټولو اړخونو په پامنيوي سره يې، په منځ کې يې "رورولي" اعلان کړه.
په زړه پورې خو داده، چې ددې کړلارې پلي کولو ته هېڅ ډول ټاکنه او له پخوا جوړجاړى نه و شوى او دا کار هغه مهال ترسره شو، چې کله ټول مسلمانان راټول شول؛ نو رسول الله (ص) حکم وکړ: هر مسلمان دې ترڅنګ له ولاړ مسلمان سره د رورۍ تړون وکړي.
ددې بې سارې الهي او اداري کړلارې پايله دا وه، چې ټولو اصحابو ځان د يوې کورنۍ غړي ګڼل او د سرښندنې داسې پوړۍ ته رسېدلي وو، چې که په خپله يې هم کوم څيز ته اړتيا درلوده؛ نو مسلمان رور ته يې وربښه او که د ارث او خپلوۍ په اړه آيتونه نه وو راغلي نو ټولو به ګومان کاوه، چې يو له بله ميراث هم وړي.
۳- جومات عبادتځى او د حکومت اداري مرکز:
د اسلام نوي پر پښو درېدلې امت، د خپلو اداري، فکري، سياسي، پوځي او عقيدتي چارو سمبالښې ته يو مرکز ته اړ وو داسې مرکز، چې د نوي دين له آرونو او ارزښتونو سره اړخ ولګوي او د همدې اړتيا لپاره، رسول الله (ص) له هر څه مخکې، د جومات په جوړلو لاس پورې کړ يو ساده جومات، چې يوازې څلور دېوالونه يې درلودل، چې لوړوالى يې د انسان د لوړوالي

هومره و، چې په پيل کې يې چت هم نه درلود او څه موده روسته ورته يې د کجورو له لښتو چت جوړ کړ.

اصولاً د يوې پروژې او کړلارې ارزښت په ښه اداره کولو پورې اړه لري او داچې څومره خلکو ته ګټوره ده.

هو مسلمانانو! د رسول الله جومات په ډېر لږ لګښت جوړ شوی و او ساده و خو له هماغې وړوکي او ساده جوماته، پر ټوله نړۍ د اسلامي تمدن وړانګې خپرې شوې.

٤_د مدينې د منشور ليکل:

په دې اړه مو په ((سيره او نړيوال حکومت)) څپرکي کې خبرې وکړې.

٥- د جګړې مخنيوی:

د رسول الله (ص) د پوځي شخصيت په اړه مو په تېر څپرکي کې وويل چې: هغه مبارک به له داسې پر مخ تلليو پوځي کړنو کار اخسته چې نن پرې پوه پوځيان اعتراف کوي.

د پاک نبي د مديريت د عظمت يوه نښه دا وه، سره له دې چې وحې ورته راتله او د قرآن ډېرو آيتونو؛ لکه:

((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[1]= (الله) هغه دی، چې خپل استازی يې له سمې لارښوونې او حق دين سره راولېږه، چې هغه پر ټولو دينونو بريالی کړي او که څه مشرکان پرې خوښ نه وي.))

د اسلام برې تضمين کړی و خو رسول الله (ص) د چارو عقلاني اړخ او تدبير ته بې پامه نه و او د مسلمانانو روزنې ته يې اړينې تشکيلاتي او اداري لارې چارې برابرې کړې وې.

هو! رسول الله (ص)، له دې ټولو شونتياوو سره سره کوښښ کاوه په چارو کې خبره په خبره هوراه کړي او کار يې وينې تويېدو او جګړې ته نه پرېښود.

رسول الله (ص) هم د همدې سياست د پلي کولو لپاره، د هجرت پر شپږم کال له مشرکانو سره تر لسو کالو پورې په "حديبيه" کې تړون وکړ او بيا د "خيبر" پر لور ولاړ او د دسيسو جرړه يې له بېخه را وايسته.

٦_ پاچايانو ته د ليکونو استول:

---

[1] (صف /٩)

رسول الله (ص) د سفيرانو او ډيپلوماسۍ په درناوي، د بېلابېلو هېوادو پاچايانو ته ليکونه واستول او اسلام ته يې راوبلل، چې په تاريخي کتابو کې ددې ليکونو شمېر ۱۸۶ ياد شوی دی.

۷_ له يارانو بيا بيعت اخستل:

په کړکېچنو حالاتو کې له يارانو بيا بيعت اخستل يې، د مسلمانانو د روحي ستې د پياوړتيا او وفادارۍ سنجولو ته اداري تدبير ګڼل کېږي، چې بېلګه يې د "حديبيه" په سوله کې وه او کيسه يې داسې وه:

د څښتن استازی بې وسلې، له ۱٤۰۰کسانو سره له مدينې، د مکې پر لور د کعبې زيارت ته راووت د قريشو مشرکانو د حرکت مخه يې ونيوه. رسول الله (ص) هم په سړه سينه خپل سفيران ورولېږل، چې په همدې تګ راتګ او ډيپلوماسۍ کې مشرکانو د رسول الله (ص) يو استازی بندي کړ او و يې واژه او هغه مهال سره له دې چې رسول الله (ص) جګړې ته چمتووالی نه درلود؛ خو په هوښيار مديريت يې ټول ياران را ټول کړل او له هر يوه يې بيعت واخست، چې که جګړه ونښلي، دښمن ته شا نه کړي او دا بيعت په اسلام کې پر "بيعت رضوان" مشهور دی.

۸_ د مکې سوبه:

ستر سوله پال مشر او د رحمت پېغمبر، د مکې د فتح پرمهال پر ښار ورننووت او اعلان يې وکړ: ((ځئ ولاړ شئ! ازاد ياست!!!))

رسول الله (ص) تر هغو قريشو غچ وا نه خست، چې مسلمانان او هغه يې له کوره ايستلي، وهلي، ټکولي او ځيني يې شهيدان کړي وو. ان ستر مشرک او د مشرکانو مشر "ابوسفيان" يې هم وبښه او اعلان يې کړه چې: ((چاچې د "ابوسفيان" په کور کې پناه واخسته؛ نو خوندي او په امن کې دی)).

# د رسول الله د مديريت بنسټونه

۱ـ الهي وحې:

اسلام د انسانانو ترمنځ په وګړنيواو نړيوالو چاروکې پوره مساوات راوړاندې کړی.[۱]

((يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ[۲]= خلکو! موږ په واقع کې تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې پيدا کړي ياست او څانګې (او خېلونه) او ټبر ټبر مو وګرځولئ چې سره وپېژنئ (خو دا د امتياز کچه نه ده) په حقيقت کې د الله پر وړاندې ستاسې ډېر عزتمن، ستاسې ډېر پرهېزګار دی، په رښتيا الله پوه (او) خبر دی.))

او رسول الله (ص) به هم په بېلابېلو مناسبتونو کې پردې خبره ټينګار کاوه، چې وايي:

((خلکو! الله مو يو او پلار مو هم يو دی، ټول د ادم اولاد ياست او عرب پر عجم فضيلت نه لري؛ خو په تقوا.))

نوځکه په اسلامي ټولنه کې تقوا د غورتيا کچه ده.

د اسلام له نظره، کار او عمل واجب دی او کار د انسان د دنيا او آخرت د نېکمرغۍ لامل دی، چې دا آيت دې حقيقت ته اشاره کوي:

((وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ[۳]= او (ورته) ووايه: (((هرکار چې غواړئ) و يې کړئ! الله او پېغمبر يې او مؤمنان ستاسې کړه ګوري! او ژر به د پټو او ښکاره وو پوه ته وړاندې کړای شئ؛ نو څه چې مو کول، تر هغو به مو خبرکړي!)))

او داچې د ټولنې پياوړتيا په زيار او ډله ييز کار پورې اړه لري؛ نو قرآن هم دې خبرې ته اشاره کړې او وايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلاَ الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلاَ الْهَدْيَ وَلاَ الْقَلاَئِدَ وَلاَ آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِن رَبِّهِمْ وَرِضْوَاناً وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَن

---

[۱] بسيوني دکتر عبد الغني عبدالله؛ اصول علم الا دارة العامة: ٤٨ مخ.

[۲] (حجرات/ ۱۳)

[۳] (توبه/ ۱۰۵)

صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَن تَعْتَدُوا وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللّهَ إِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ[1]=مؤمنانو! د دين د نښو او الهي پولو(او د حج د مراسمو) او د(هرې يوې) حرامې مياشتې درناوی وکړئ او د قربانيو په نښه شويو او بې نښو څارويو ته لاس مه غځوئ او هغوی (هم) مه ځوروئ، چې د خپل پالونکي د فضل په لټون او د خوښۍ لپاره يې د((بيت الله)) پر لور ځي خو چې له احرامه راووتلئ، ښکارکولای شئ او له يوې ډلې سره دښمني دې، چې پر تاسې يې (د حديبيې پر کال) د مسجدالحرام لار تړلې وه، تاسې و نه هڅوي، چې تېر ی پرې وکړئ او(تل) په نېکيو او پرهېزګارۍ کې يو له بل سره مرسته وکړئ او (هېڅکله) په ګناه او تېريو کې ديو د بل لاسنيوی مه کوئ او د الله (د حکم له مخالفته) ځان وساتی (؛ ځکه) چې الله سخت عذابی دی.)

قرآن وايي: پر ځمکه کوښښ کول، د حلال رزق لاس ته راوړل دي او په دې اړه وايي:

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّباً وَلاَ تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ[2]=خلکو! تر هغو (څيزونو) وخورئ، چې په ځمکه کې حلال او پاک دي! او د شيطان پر پلو مه ځئ، چې هغه مو ښکاره دښمن دی.))

انساني کار او يو له بل سره مرسته، بېلابېلې ښې پايلې لري، چې يوه يې د شتمنۍ لاس ته راوړل دي، چې موږ ورته د اقتصاد په برخه کې اشاره کړې ده.

دين د شتمنۍ سمې ساتنې ته د انفاق سپارښتنه کړې:

((وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَاماً[3]= او هغوی چې کله (د الله په لار کې) لګښت کوي؛ نو نه بې ځايه لګښت کوي او نه بخيلي بلکې منځلاري وي.))

د حلال رزق تر ګټلو او انفاق روسته، په اسلامي ټولنه کې د تزکيې (نفسپاکۍ) او ټولنيزو دندو وار دی. په دې اړه قرآن وايي:

((وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ[4]= او هغوی چې په مالونوکې يې يو ټاکلی حق وي))

((لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ[5]= د سوالګر او بې برخې لپاره (چې له بېوسۍ سره سره سوال نه کوي))

---

[1] (مائده/ ٢)

[2] (بقره/١٦٨)

[3] (فرقان/ ٦٧)

[4] (معارج /٢٤)

[5] (معارج /٢٤)

((خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ[1]=د هغوی له مالونو (د زکات په نامه) صدقه واخله، چې په هغه يې پاك او سوتره کړې او (د زکات اخستو پر وخت) ورته دعا وکړه؛ ځکه چې ستا دعا ورته ډاډېنه ده او الله اورېدونکی (او) پوه دی.))

۲_ شورا:

سلا مشوره اسلامي اصل او مديريتي فن دی او؛ لکه څنګه چې د منفي او مثبتو جريانو له يو ځای کېدو برېښنا پيدا کېږي مشوره هم د افکارو د پياوړتيا او د بشري ټولنو د پرمختګ لامل ګرځي او اسلام د عقل، فطرت او انسانيت د دين په نامه، ددې اصل د پلي کولو مخکښ دی. حال دا بې دينه ټولنې تر ډېرو خونړيو جګړو روسته دې اصل ته ورسېدلې، هغه هم په نيمګړې توګه.

په ټولنه کې اسلامي شورا، د نصيحت، سربښندنې او احساس له مخې د پلي کېدو وړ ده، نه د نورو هېوادو په څېر، چې مشوره له مخې د مقابل لوري د بهرولو لپاره وي، چې د اسلامي شورا او نورو شوراوو بنسټيز توپير په همدې خبره کې دی.

چې کله دويم خليفه د "ايران" د فتحې په موخه بهر راووت نو حضرت "علي" ووېل: ((ته د مسلمانانو واکمن يې نو غوره به وي، چې په پلازمېنه کې پاتې شې او جګړې ته بولندوی وټاکې.)) خليفه همدا مشوره ومنله.

د رسول الله (ص) له نظره، په اسلامي شورا کې لاندې دوو ټکيو ته پام د شورا د پياوړتيا لامل ګرځي:

الف_ له ټولومسلمانانو سره مشوره، نه له يوې ځانګړې او ټاکل شوې ډلې سره، چې له دې لارې د افکارو خاوندان خپل نظر ښکاره کړای شي.

د "بني ساعده په سقيفه" کې، چې لومړی خليفه يې وټاکه، ډېر غوره مشاوران؛ يعنې "نبوي کورنی" او "بني هاشم" نه وو، چې مشر يې "علي" و؛ نوځکه د اسلامي خلافت بنسټ کوږ کېښوول شو، چې پايله يې په درېيم خليفه پسې د خلکو پاڅون و، چې بيا ټول مسلمانان راغلل او د "علي" (ک) ټاکنې ته يې راودانګل؛ لکه چې مسلمانانو غوښتل، د تېرو شوراوو نيمګړتيا تکرار نشي، چې اصلي سلا کاران پکې نه وو.

---

[1] (توبه/ ۱۰۳)

[خوشال باباوايي: ((چې اختلاف يې د اصحاب په مخ کې راشي – د مفهوم موکار هغو زده چې مفهوم دی. ]
ب_ بايد د هرې شورا په سر کې تکړه، مدير او مدبر مشر وي، چې روستی پرېکړه وکړای شي.
رسول الله (ص) د زړه له کومې پردې اسلامي دود عمل کاوه، چې قرآن يې په اړه ويلي دي: ((وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلاَةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ([1]= او د هغو کسانو (لپاره دي) چې د خپل پالونکي (بلنه) يې منلې او لمونځ يې کړی وي او خپلمنځي چارې په مشورې سره سرته رسوي او څه چې موږ ورته ور روزي کړې (د الله په لار کې يې) لګوي))
او همداراز يو بل آيت، چې رسول الله (ص) ته خطاب دی، وايي:
((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[2]=خلکو ته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خويه او سخت زړی وې؛ نو خلك درڅنې خورېدل؛ نو تر هغوی تېر شه او ښښنه ورته وغواړه او په چاروکې ورسره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه) او پر الله توکل وکړه؛ ځکه چې توکل کوونکي د الله خوښېږي.))
رسول الله (ص) له يارانو سره تر سلا مشورې روسته، په خپله پرېکړه کوله او عملي کوله.
"امين الاسلام طبرسي" له رسول اللهه روايت کړی: ((چاچې د اړوند کار له کارپوه سره سلا مشوره وکړه؛ نو پر سمه به ښيون شي[3]))

## شورا او ولسواکي

پېرۍ پېرۍ مخکې له دې چې په نړۍ کې د ولسواکۍ فکر رامنځ ته شي، په اسلامي ټولنه کې د سلامشورې او شورا اصل دود و او مسلمانانو به د الهي تقوا او ديني ارزښتونو له لامله ان په سرښندنه او د خپلو شخصي ګټو د لاسه ورکولو په بيه، د دې اصل د پلي کولو په موخه، يو بل ته سلا مشوره ورکوله.

---

[1] شوری / ۳۸)
[2] (آل عمرآن / ۱۵۹)
[3] طبرسي؛ مجمع البيان: ۵ ټوک، د شوری دسورت د ۳۸ آيت تفسير.

د نوې ولسواکۍ روح هم د ټولنې د وګړيو له راى او تجربې ګټه اخستل دي. ويلاى شو: د اسلامي شورا بنسټ تر ولسواکۍ پراخه دى.
اسلامي عالمانو د اسلامي دولتو لپاره د((اهل حل وعقد)) د شورا خبره رامنځ ته کړې، چې د ديموکراټيکو نظامو پارلمانو ته ورته ده او هماغه ونډه لري[1]. او ويلي يې دي، چې غړي يې بايد عادل، حکيم، ټولنپوه او د نظر خاوندان وي، چې وکړاى شي د واکمنۍ او مشرۍ په کچه برابر وي او له خپل منځه هغه خپل مشر وټاکي، چې تر ټولو اسلام او مسلمانانو ته وړ وي.[2]
د يادونې ده، چې دا نظر يوازې په کتابو کې ليکل شوى او بيخى پلي نه شو؛ لکه څرنګه چې مو پخوا هم ورته اشاره وکړه ځينې ورونه شته حکومتو سره د جوړجاړي له مخې هر حکومت، چې پر اوضاع لاسبر شي، په رسميت پېژني، بې له دې چې ووينې څرنګه ځواک ته رسېدلى دى.

## د اداري تنظيم بنسټونه

الف _ کار:
رسول الله (ص) د بشري ټولنې مخکښ مدير و. د اسلامي دولت چارې يې په قرآني آرونو سمبالولې، چې د اداري او ټولنيزو هڅو پرمهال، د هر چا دنده ټاکل شوې وي.
د رسول الله مديريت دومره ښکلى او په زړه پورې و، چې هغه مهال يې د "روم" او "ايران" پاچايان تر پلي کولو بېوسې وو.
د الهي اداره چيانو خاتم د مسلمانانو د ټولنيز مقام او په دنيا او خرت کې د رتبې د ټاکلو کچه کار وټاکه. قرآن کريم وايي:
((وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِمَّا عَمِلُوا وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ[3]= او هغوى هر يو (مؤمن وکافر) ته د خپلو کړنو له مخې درجې دي، چې يې د کړنو بدل پوره ورکړاى شي او هېڅ تېرى به پرې ونشي.))
قرآن د مېړمنو کار هم ناليدى نه دى ګڼلى، وايي:

---

[1] ابوالاعلي مودودي؛ نظريه الاسلام و هدية في السياسة والقانون والدستور: ۲۶۲ مخ.
[2] (وګورئ: ماوردي، احکام السلطانيه)
[3] (احقاف / ۱۹ آيت)

((فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لاَ أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُم مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُم مِن بَعْضٍ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لأُكَفِّرَنَّ عَنْهُم سَيِّآتِهِمْ وَلأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ ثَوَاباً مِنْ عِندِ اللّهِ وَاللّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ[1]= نو پالونکي يې غوښتنې ومنلې (او و يې ويل) زه له تاسې د هېچا عمل نه لاهو کوم، نارينه وي که ښځه، ټول له يوه جنس ياست، هغوی چې زما په لار کې هجرت کړی او له خپلو کورونو شړل شوي او زما په لار کې ځورول شوي او جګړه يې کړې او وژل شوي دي؛ نو هرومرو يې ګناهونه ښنم او هغو جنتي بڼ ونو ته يې ننباسم، چې تر ونو لاندې يې ويالې بهېږي، دا د الله له لوري ثواب دی او له الله سره تردې هم ښه ثوابونه شته.))

هغه بې ساري مدير نه يوازې مسلمانان يې کار ته را هڅول؛ بلکې کار يې د تکامل چورليځ ګاڼه؛ ځکه له کار سره مينه، په انسان کې د نوښت او کوښښ روح ژوندی ساتي او بې شوقه کار نه يوازې د پرمختګ لامل نه ګرځي؛ بلکې د پوپناه کېدو او روسته پاتېينې لامل دی.

رسول الله ددې حکيمانه سياست په پلي کولو، د عربو ورک نومی ملت، نړيوالو ته د انساني ارزښتونو خپروونکی او له ظلم او فساده ازادوونکی وښود.

د پورتنيو څرګندونو له مخې ويلای شم: د يوه ښوونځي، تکړه او بريالی مدير هغه دی، چې د کار پر وړتيا سربېره، له کار سره مينه او پر ارزښت يې ايمان ولري.

پوهان وايي: ((هر څوک د يو کار استعداد لري؛ خو بختور هغه دی، چې دا استعداد را برسېره کړي.))

پيغمبران د ټولنو ستر مديران وو؛ ځکه په پرلپسې کار او منظم مديريت يې بشري ټولنې "توحيد" او د الله دين ته رابللې؛ نوځکه په هغو سختو شرايطو او د شونتياوو په کمښت او د مناسبو اداري سازمانو په نه شتون کې يې حداکثر برى ترلاسه کړ.

ب: پوهه، واک او وړتيا:

رسول الله (ص) مسلمانان د پوهې زده کړې، د تخصص لاس ته راوړو او فکر کولو ته هڅول، چې له دې لارې يې ځواک او منزلت غښتلی کړي. په دې اړه قرآن وايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ وَإِذَا قِيلَ انشُزُوا فَانشُزُوا يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ[2]= مؤمنانو!

---

[1] (آل عمران / ۱۹۵)

[2] (مجادله/ ۱۱آيت)

چې کله درته وويل شي: ((په مجلسونوکې ځای ارت کړئ (او نويو راغليو ته ځای ورکړئ))) نو ځای پراخ کړئ، چې الله ستاسې په چارو کې پراخي راوړي او چې کله وويل شي: ((پاڅئ)) نو پاڅئ، چې الله له تاسې د هغوکسانو درجې لوړې کړي، چې ايمان يې راوړی او پوهه ورکړ شوې ده او څه چې کوئ، الله پرې ښه خبردی.))

کارپوهيزه پوهه د ژوند لار رڼا کوي او د نويو نظرياتو د راپيدا کېدو او د شننې لار يې هواروي.

د وگړيو په ټاکنه کې د رسول الله يوه کچه بدني ځواک او روغتيا هم وه؛ څکه وس او روغتيا د ديني واجباتو د پلي کولو او د ديني ارزښتو لاس ته راوړو ته لازم شرط دی.

اسلام مؤمنان بدني روغتيا او چمتووالي ته رابلي او رسول الله وايي:

((ځواکمن مؤمن تر کمزوري مؤمن ښه دی.)) او په بل ځای کې وايي: ((مؤمنه! بدن دې پر تا حق لري)) او د روژې نيوو گټه يې روغتيا ښوولې ده ((روژه ونيسئ، چې روغ رمټ شئ.)) په ديني ښوونو کې لامبو، اس ځغلونه او منډه ځانگړی ځای لري او لمونځ، حج او د جهاد په څېر عبادتونه، پر معنوياتو سربېره، د انسان د بدني ځواک او روغتيا په پياوړتيا کې هم خورا ستره ونډه لري. پخوا مو هم ورته اشاره وکړه، چې د بقرې د سورت په ۲۴۷ آيت کې راغلي: ((بني اسرائيلو د ((طالوت)) پر واکمنۍ د شتمنۍ د کموالي له کبله نيوکې کولې خو حکيم الله بني اسرائيل د طالوت په بدني ځواک پر غوږ ووهل او ددې دندې وړ يې وگاڼه.))

ج: مساوات:

اسلام ټول مسلمانان په ټولنيزو حقوقو کې مساوي گڼي او چاته د توکم، ژبې او د پوټکي د رنگ په سترگه نهويني او؛ لکه څنگه چې مخکې مو هم وويل: رسول الله چې مدينې ته ورسېد؛ نو سره له دې چې انصار او مهاجر له بېلابېلو ټبرونو وو خو هغوی يې يو له بل سره رونه کړل.

په غير الهي افکارو کې، نه يوازې د بشر له مساوات او برابرۍ نته کېږي؛ بلکې په ځينو پخوانيو ټولنو کې په ډېر وياړ د انسانانو د توپير خبره کېده، چې دا ناسم گومان په "يونان" او "روم" کې ډېر و او خلک پر ازاد، مريي، روحانيونو، سرتېرو او کارگرانو وېشل شوي وو او په پخواني "هند" کې يوې ډلې ته نجس (اچوت) ويل کېدل او بېخي ټولنيز حقوق يې نه درلودل.

په اسلام کې مساوات هغه شعار نه دی، چې له هر تفسير سره اړخ ولگوي. د ساري په توگه: توکم پالنې ته له هېواد سره مينه نه وايي، د قومي ښېگړو لپاره هر تېری روا نه گڼي او يا داچې له ننني قوانينو او نظامو سره جوړجاړی وکړي؛ بلکې ثابت اصول لري او ټول انسانان په حقوقو

کې مساوي ګڼي او په انسانانو کې توپير، په لاس ته راوړيو څانګړنو؛ لکه په نيکۍ او فساد کې ويني.
قرآن وايي: ((أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ[1]=ايا هغوی چې ايمان راوړی او ښې کړنې يې کړې وي، د هغه چا غوندې کړو، چې په ځمکه کې فساد کوي؟ يا پرهېزګاران د بدکارانو غوندې کړو؟!))
او پردې سربېره، قرآن د ټولو انسانانو ريښه يوه بولي او وايي: ((يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِن نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً[2]= خلکو! د خپل پالونکي (له مخالفته) ووېرېږئ، هغه چې تاسې ټول يې له يوه تنه پيدا کړئ او (همداراز) له هماغه يې د هغه جوړه هم پيدا کړه او له دې دواړو يې(د ځمکې پر مخ) ډېر نارينه او ښځې خواره کړل او له هغه خدايه ووېرېږئ، چې (تاسې ټول يې پر لوېښت قايل ياست) په نامه يې يو له بله څيزونه غواړئ. (او همداراز) له خپلوانو سره د اړيکو له پرېکونې ډډه وکړئ ځکه الله څارونکی دی.))
او رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وايي: ((تاسې ټول د آدم اولاد ياست او آدم له خاورې و.))

## په مساوات کې پاموړ څلور ټکي

۱ـ د مساوات پر آر عمل:
قرآن په ډاګه دا خبره کړې، چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم هم د نورو انسانانو په څېر انسان دی:
((قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَداً[3]=ووايه: ((زه خو يوازې ستاسې غوندې يو بشر يم (ځانګړنه مې داده، چې) ما ته وحې کېږي، چې ستاسې يوازېنی معبود ايکې يو معبود دی؛ نو څوك چې له خپل پالونکي سره د مخامختيا هيلمن وي؛ نو بايد ښې چارې وکړي او هېڅوك د خپل پالونکي په عبادت کې شريك نه کړي.))

---

[1] (ص / ۲۸)
[2] (نساء/۱)
[3] (کهف/۱۱۰)

تاريخپوهان ليکي: يو عرب راغی، چې لا يې رسول الله (ص) نه و ليدلی، چې د پاک نبي هېبت پرې کېناست او په رپار شو. رسول الله (ص) په لورنې ور وکتل و يې ويل: ((روره! پر ځان سخته مه راوله! زه خو څه باچا نه يم، زه د قريشو د يوې مېرمنې زوی يم، چې وچه غوښه يې خوړه.))

۲_طبقاتي ليد له منځه وړل:

قرآن کريم د حضرت نوح عليه السلام د کيسې په ترځ کې وايي: ((قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ. قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ شعراء. إِنْ حِسَابُهُمْ إِلاَّ عَلَى رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ. وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ[1]=وويل: ((ايا پر تا ايمان راوړواو حال دا خوار او پرېوتو خلکو دې لار منلې ده ؟! (نوح) وويل: ((له کړنو يې خبر نه يم که پوهېږئ، د حالاتو ګروېګنه يوازې زما د پالونکي کار دی او زه د مؤمنانو شړونکی نه يم.))

رسول الله (ص) هم د قرآن پر حکم، د جاهليت طبقاتي ليد او روحيه دړې وړې کړه او هغه مهال چې د قريشو مشرانو د الله له استازي وغوښتل، د "صهيب"، "عمار" او"بلال" په څېر مسلمانان، د بېوزلۍ له لامله له غونډې وباسي نو آيت راغی:

((وَلاَ تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِن شَيْءٍ وَمَا مِن حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ[2]= او هغوی مه شړه، چې ګهيځ او ماښام خپل پالونکی بولي او خوښي يې غواړي، نه د هغوی حساب پر تا شته او نه ستا حساب پر هغوی شته نو که هغوی وشړې نو له ظالمانو به شې.))

او په دې توګه رسول الله د هغوی ناروا غوښتنه ونه منله.

۳_د ښځې او سړي مساوات:

ددې موضوع پر ارزښت به هله پوه شئ، چې خبر شئ، ددې ډول مساواتو فکر ان د اروپا د منځنيو پېړيو د عالمانو ذهن ته هم نه و راغلی او تل يې په دې اړه يو له بل سره شخړه وه، چېايا ښځه انساني روح لري او که شيطاني؟ حال دا قرآن د ښځې او سړي د ټولنيزو حقوقو د مساوات خبره هغو خلکو ته کوي، چې لونې يې ژوندۍ ښخولې او ښځه يې پرېوتی موجود ګاڼه.

قرآن دا مساوات په دې بڼه اعلان کړ:

---

[1] (شعراء/۱۱۱-۱۱٤)

[2] (انعام /۵۲)

((مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِن ذكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ[1]=هر نارينه او يا ښځينه، چې ښه كار وكړي (نو) كه ايمان يي راوړی وي؛ نو بېشكه هغه ته به په پاك ژوند، (حقيقي) ژوندون وركړو او هرومرو به هغوی ته ترخپلو كړنو هم ښه بدله وركړو.

٤- د ولس او ولسمشر ترمنځ مساوات:

رسول الله (ص) او يارانو يې په يو سفر كې هوډ وكړ، چې خواړه پاخه كړي، چې هر يوه ته دنده ور پر غاړه شوه او رسول الله (ص) هم د نورو په څېر يوه دنده پر غاړه واخسته چې يارانو يې وويل: ((موږ به خوشحاله شو، كه كار دې موږ وكړو.))

رسول الله وويل: ((پوهېږم خو نه غواړم ځان پر تاسې غوره وګڼم[2].))

٥_د واليانو ټاكل:

دا ټاكنې راښيي د پاک نبي د اسلام د بلنې پياوړتيا او راتلونكې ته پام څومره و. په قرآن كريم كې د حضرت شعيب عليه السلام د لور له خولې راغلي، چې خپل پلار ته يې وويل:

((قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ قوي الْأَمِينُ[3]=تر هغو دوو (نجونو) يوې وويل: ((پلاره! دی په مزدورۍ ونيسه ځكه ډېرغوره سړی، چې ته په مزدورۍ نيسې(نو همداسې) يو څوك دې وي، چې غښتلی او امين وي.))

د رسول الله ټولې هلې ځلې ددې لپاره وې، چې د اسلام او مسلمانانو د چوپړ لپاره غوره انسانان وټاكي او په دې اړه وايي:

((څوک چې د مسلمانانو واكمن شي او دنده داسې چاته وسپاري، چې ترې وړ كس وي؛ نو له الله او پېغمبر سره يې خيانت كړی دی.))

[1] (نحل /٩٧)

[2] قسطاني؛ مواهب اللدينه: ٢٩٤ مخ.

[3] (قصص / ٢٦)

# د رسول الله د بشري ځواک مديريت

رسول الله په خپلو کړلارو او مديريت کې يوازې د انسان خير او سمونې ته پام کاوه او يوازې اسلام دی، چې په ټولو احکامو کې يې د انسان دنيوي او اخروي نېکمرغۍ ته پام کړی او د انسان ټولې وګړنی او ټولنيزې چارې يې تنظيم کړي دي.

د اسلام د ټولو احکامو روح د انسان د حرمت، شخصيت، عزت او درناوي ساتنه ده، چې په دې اړه قرآن مجيد وايي:

((وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً[1] = او په رښتيا موږ بنيادم ته ډېر عزت ورکړی دی او هغوی مو په وچه او لمده کې (پر سورليو) سواره کړي دي او هغو ته مو له ډول ډول پاکو څيزونو روزي ورکړې او هغوی مو تر خپلو ډېرو مخلوقاتو غوره کړي دي.))

انسان ته يې د کړنو له مخې سزا يا ثواب ورکول کېږي. که ښه يې کړي وي؛ نو ثواب به ورکړ شي او که بد يې کړي وي؛ نو سزا به يې ورکړ شي.

کچه او معيار، د مسلمان کړنې دي؛ يعنې چې کله انسان خپل کار د الله په نامه پيلوي؛ نو ګروهه لري، الله يې له نيت او ښکاره او پټو چارو خبر دی او همدا فکر يې روح پياوړی کوي او تل يې دا کوښښ وي په چارو کې د الله خوښي لاس ته راوړي؛ ځکه الله ويلي:

((إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لاَ نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلاً[2] = په رښتيا هغوی، چې ايمان راوړی دی او ښه کارونه يې کړي وي؛ نو موږ به د نېکانو اجرلاهو نه کړو.

الله پردې خوښېږي، چې کار په ځيرتيا او پوخ پيل کړئ.

رسول الله (ص) هم ډېر اسان شريعت راوړی، چې انسان يکې تر خپلې وسې پړ دی. قرآن وايي:

((لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْساً إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْراً كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلاَنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ[3] =الله هر څوك تر خپلې

[1] (اسراء/ ۷۰/)

[2] (کهف/۳۰)

[3] (بقره/ ۲۸٦)

وسې مکلف بولي (انسان) چې څه (ښه) وکړي نو ځان ته يې کړي او هره (بدي) چې وکړي نو د ځان په زيان به يې کړې وي. (مؤمنان وايي:) پالونکيه!که له موږ څه هېره او خطا وشي، موږ پرې مه نيسه. پالونکيه! پر موږ هغه پېټی مه ږده؛ لکه چې هغه دې (د گناه او سرغړونې له لامله) زموږ پر مخکېنيو ايښی و. پالونکيه! پرموږ هغه پېټی مه ږده، چې د پورته کولو وس يې نه لرو او د گناهونو نښې را نه پرېمينځه، ومو ښنه، رحم راباندې وکړه، ته زموږ پالندوی (او مرستندوی) يې او پرکافرانو مو بريالي کړه.))

چې پردې گروهه، د مسلمان عمل، د ځيرتيا او مړانې تر ټولې لوړې کچې ته رسي او هم په خپلو لاروېانو کې د داسې مفکورې رامنځ ته کول ډېر ستر کار او د مديريت مهم ټکی دی.

سره له دې چې اسلام کار عبادت گڼلی خو مادي اړخ ته يې هم پام دی، چې کارگر ښه ژوند ولري او په مينه او نوښت کار وکړي.

رسول الله (ص) ټينگار کاوه، چې په عدالت د کارگر مزدوري ورکړئ او تل يې د کارگر سوکالۍ ته پام و او په دې اړه وايي: ((څوک چې زموږ لپاره د يوکار لامل شي؛ نو که کور نه لري؛ نو بايد د کور خاوند شي او که ښځه نه لري بايد د ښځې خاوند شي او که سورلي نه لري؛ نو بايد د سورلۍ خاوند شي.))

د رسول الله سيرت د هغه په زدکړيال حضرت "علي ابن ابيطالب" کې انځور شو. حضرت "علي" چې "مالک اشتر نخعي" د "مصر" والي وټاکه؛ نو داسې يو منشور يې ورکړ، چې د نړۍ تر ټولو لوړ اداري او سياسي پروگرام شمېرل کېږي او په يوه برخه کې يې راغلي: ((له ولس سره په نرمۍ چلن کوه او د داړن ځاروي په څېر مه وسه، چې د ولس داړل درته غنيمت وي[1].))

---

[1] (نهج البلاغه: ۵۳ ليک))

## د رسول الله د عمومي مديريت ځانګړنې

۱_ د کار پر ارزښت ايمان:

په غير ديني ټولنو کې مديريت يو کسب دی، چې ټاکل شويو مادي موخو ته رسېدل اسانوي او له هرې لارې او وسيلې يې د خلکو قانع کول ځانګړنه ده؛ خو په اسلام کې د مدير د ټاکلو اساسي شرط، د کار پر ارزښت د زړه له کومې باور دی؛ لکه څرنګه، چې رسول الله (ص) د قرآن پر حقانيت او خلکو ته يې پر تبليغ بشپړ ايمان درلود او دا حقيقت قرآن بيان کړی:

((آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِن رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كَلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِن رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ[۱]=پر پېغمبر، چې څه د الله له لوري نازل شوي دي، ايمان يې پرې راوړی دی (او هغه په خپلو ټولو خبرو پوره مؤمن دی) او (هم) ټولو مؤمنانو پر الله، پرښتو، کتابونو او پېغمبرانو يې ايمان راوړی دی (او وايي:) ((موږ د الله د پېغمبرانو ترمنځ يوه ته هم په توپير قايل نه يو (او پر ټولو ايمان لرو)) او (مؤمنانو) وويل: ((موږ واورېدل او غاړه مو کېښووه: پالونکيه! ستا ښښنې (ته سترګې پر لار يو) او درتګ (مو) يوازې همدا ستا لوري ته دی.))

د رسول الله پرلپسې هلې ځلې، پر الهي وحې او اسلامي ارزښتونو د ايمان ښنه وه؛ ځکه ډېر کړاوونه يې پرې راوستل خو بيا هم ستړی نه شو او هغه مهال به له خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېده، چې ډلو ډلو به اسلام راووړ او هغه مهال به ډېر خپکې ده، چې خلک به سمې لارې ته نه راتلل خو آيت راغی او د رسول الله د تسليت لپاره يې وويل:

((فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَى آثَارِهِم إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهذَا الْحَدِيثِ أَسَفاً[۲]= او که په دې خبره (= قرآن) ايمان را نه وړي نو ښايي ته د هغوی د کړنو له لامله ځان له غمه مړ کړې.))

۲_امانت ساتنه او پازوالي:

هغه مشر بريالی او ځلېدلی دی، چې د ستر روح خاوند وي او د کار سختي وزغمي او په اخلاص او امانتوالۍ خپله دنده ترسره کړي.

په اسلام کې مديريت يوازې وړ مؤمن او وړ کارپوه ته سپارل کېږي او سيره ليکوونکيو ليکلي، يو صحابي رسول الله وپوښته: ((ولې راته قوماندانۍ نه راسپارئ ؟))

---

[۱] (بقره /۲۸۵)

[۲] (کهف / ٦آيت)

رسول الله (ص) وويل: ((؛ څکه د سر ته رسولو وس يې نه لرې او د يوې دندې يا کار مسئووليت د قيامت پر ورځ د انسان د پښېمانۍ او سرکوزۍ لامل دی؛ خو (نه) هغوی ته چې د دندې او مسئووليت وړ وي او ټول واجبات يې پوره کړي وي.))

۳_ پرېکندتوب:

په حساسو شېبو کې د رسول الله (ص) د پرېکنده هوډ کولو په اړه مو د رسول الله (ص) د پوځي مشرۍ په بحث کې خبرې وکړې.

دلته بايد ووايم: مدير د ټولو پروژو او کړلارو روستی هوډ کوونکی دی؛ نو بايد بې له هر ډول وسواس او شکه، تر ټولوغښتلې اراده ولري؛ څکه د ارادې سست والی د مدير په مديريت کې ګډوډي راولي. الله خپل استازي ته وايي:

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[1]=خلکوته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خويه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خوربدل؛ نو تر هغوی تېر شه او ښښنه ورته وغواړه او په چاروکې ورسره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ څکه چې توکل کوونکي د الله خو ښېږي.))

حضرت "علي" وايي: ((په پرېکنده هوډ، ناغېړي او بې ارادېتوب له منځه يوسئ [2].)) ((چاچې سستي او لټي جامه کړه؛ نو حقوق يې پوپناه شي. [3]))

٤_ عاجزي او ولسي کېدل:

قرآن کريم د "حجر" د سورت په ۸۸ آيت کې رسول الله (ص) ته وايي: ((له مؤمنانو سره لوراند وسه!)) او د رسول الله اخلاق، چې د قرآن له مخې وو، داسې لوراند، عاجز او متواضع و، چې کله به کوم ناپېژندګلو راغی؛ نو رسول الله (ص) به يې نه پېژانده؛ نو پوښتل يې، چې په تاسې کې کوم يو د الله استازی دی؟

خورا لوراند او تل به موسکی و او هغه مهال چې د قريشو مشرکانو ترې وغوښتل چې ورسره ناست بېوزلي وشړي، چې د ناستې ځای يې پراخه شي؛ نو و يې نه منل.

---

[1] (آل عمران / ۱۵۹)

[2] (غرر الحکم: ٤ټوک، ۲۳۲ مخ)

[3] (الحيات: لومړی ټوک، ٤۰۲ مخ)

حضرت "علي"[1](خپل والي ته وليکل:

((ما؛ لګه! لورنه به خلک درسره لورانده کړي او د عدالت پلي کول تر ټولو غوره چار دی، چې د واکمن څېره ځلاندوي. د وخت يوه برخه هغوی ته ځانګړې کړه، چې تاته اړتيا لري او کارونه يې په خپله ترسره کړه. په عمومي غونډه کې کېنه او پر هغه مقام، د هغه الله پر وړاندې متواضع وسه، چې ستا پيدا کوونکی دی او په کوم ځای کې، چې ناست يې ساتندويان دې مه پرېږده، چې خلک درته په ډاډه زړه خپله ستونزه ووايي.))

هو!مسلمان مدير په خلکو کې کېني او له نږدې او مخامخ يې ستونزو ته غوږ ږدي.

۵_ نېکه مخينه:

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له بعثت مخکې په "امين" مشهور و. د بېوزليو د دفاع او ورسره د مرستې په موخه يې د"حلف الفصول" په تړون کې ګډون وکړ او حکيمانه تدبير او مديريت يې د ((حجر الاسود)) د تيرېږ د ايښوولو پرمهال، د عربو ستره شخړه هواره کړه. په ((حراء)) غار کې يې د تفکر او خلوت له لارې ځان د پيداېښت پر اسرارو پوه کړ او هماغلته يې د خلکو د ستونزو د حل لپاره فکر کاوه او د همدې ځانګړنو او فضايلو په درلودو، اسلامي امت او ان د وخت خلکو پرې ډاډ درلود. رسول الله هم خلکو ته "علي"(ک) د امير او مدير په هېڅ وروپېژانده چې ؛ البته د رسول الله دا ټاکنه د "علي"(ک) د وړتيا، ښه مخينې او ښه اخلاقو له لامله وه؛ ځکه "علي"(ک) په اسلام راوړو، لمونځ کولو او هم رسول الله ته د وحې رومبی تصديقوونکی و[2].

٦_سختي او نرمي:

په خپل ځای سختي او نرمي کول، د اسلامي مديرانو دوه عمومي ځانګړنې دي او پېغمبرانو ته زېري ورکوونکي او وېرونکي ويل شوي، چې د انساني ټولنو مديران دي. يوازې ستاينه، هڅونه او زېری د ګناه د جرات لامل ګرځي او يوازې وېرول او ژغورل هم نهيلي راولي او ټولنه تباه کوي؛ ځکه که ښېښه نه وي او انسان لومړی ځل ګناه وکړي او د ګناه جبران ته هلې ځلې و نه کړي؛ نو بيا بيا ګناه کول ورته ډېر اسان وي؛ نوځکه الهي استازي هم زېري ورکوونکي او هم وېروونکي وو او که يوازې د جنت ورونه خلاص وي؛ نو کار به سر نه نيوه خو پېغمبرانو خلکو ته د برزخ او دوزخ خبرې هم وکړې، چې وېره او زېری دواړه د انسان د

[1] نهج البلاغه: ۵۳ ليک)

[2] (تاريخ طبري: ۲ ټوک، ۵۷ مخ)

تکامل او پرمختګ لامل شي. رسول الله (ص) وويل: ((هغه مشر وړ دی، چې درې ځانګړنې ولري: تقوا چې له ګناه يې وساتي. حلم چې غوسه يې سړه کړي او لورنه، چې تر لاس لاندېو سره د پلار په څېر لوراند وي[1].

٧ـ زغم او لوړ نظري:

مدير بايد د مزبوتو اعصابو او ارادې خاوند وي، چې پر ستونزو لاسبری شي. مدير بايد د سمندر په څېر وي، چې پکې ډول ډول ساکښ خوځېږي خو په ظاهره هوار او هيبتناک وي او که کومه شېبه پرې ځګونه کېني نو په څپو يې له منځه يوسي او څه موده روسته بېرته ارام شي. د رسول الله (ص) په سيره کې ليدل کېږي، چې کله پرې ځينو اصحابو نيوکې کولې او نامناسب ټکي يې ورته کارول؛ خو رسول الله به زغمل. قرآن کريم وايي:

((وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ الْسَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ([2]=او نېکي او بدي يو شان نه دي، (بدي) پر غوره چلن (نېکی) لرې کړه نو ناڅاپه (به وګورې) څوک چې له تاسره دښمني لري، ستاسې د خواخوږي دوست غوندې به وي.[3]))

رسول الله (ص) وايي: ((له پوهې سره زغم له دې غوره څيز نشته[4]))

په زغم او پراخه سينه حکومت ساتل کېږي او بې له دې مديريت شيندل کېږي.

حضرت "علي"[5](وايي: ((پراخه سينه او زغم د رياست او مشرۍ وزلې دي.))

---

[1] کافي: ١ ټوک، ٤٠٧ مخ)

[2] فصلت/٣٤)

[3] (فصلت: ٣٤)

[4] (سفينه البحار: حلم)

[5] نهج البلاغه، ١٧٦ حکمت)

# نبوي سيرة او ټولنيزې کړلارې

## د اسلامي او جاهلي پېر پرتلنه

ايټالوی ليکوال او ټولنپوه "اګوستين کرستا" په خپل کتاب "الکياسة الاجتماعيه" کې ليکي:
((که اسلامي پېر له جاهلي سره پرتله کړو؛ نو پوه به شو، چې اسلامي پېر، د انسان په شخصيت سازۍ کې خورا پرمختګ کړی و؛ ځکه په جاهليت کې شتمنو، بېوزله پرېوتي او سپک ګڼل؛ خو په اسلامي زمانه کې "محمد" د مسلمانانو ترمنځ رورولي او لورنه دوې ټولنيزې ګانې کړې.))

## ټولنپوهنه څه ته وايي؟

سره له دې چې مادي ټولنپوهان ادعا کوي، ټولنپوهنه يې علمي ده او له وخت سره سمون لري. بشر يووېشتمې پېړۍ ته راورسېد خو تر اوسه يې د ټولنپوهنې روڼ تعريف نه دی پيدا کړی او يوازې د ټولنپوهنې د موضوع ګانو په څرګندولو يې لاس پورې کړی او دا لاالهانده يې تر هغو ټولنو د لرېوالي او نه پېژندو پايله ده، چې الهي پېغمبرانو يې بنسټ اېښی و. هغوی بې له کومې لارښوونې، د هغو روميانو په نظرياتو پسې ولاړل، چې غوښتل يې خپله ټولنه د قيصرانو له زور زياتي وژغوري او بيا په "ماکياولي"، "ډاروينې"، "هيټلري نازيزم"او د "مارکس" په ماتې خوړوليو نظرياتو پسې ولاړل.
هر ټولنپوه په خپل ليد د ټولنپوهنې مسايلو ته ليدلي.[1] د ساري په توګه: په هغوی کې ځينې د ټولنو په بېلابېلو برخو کې پر ميخانيکي ګروهه لري او ځينو ټولنه معنوي شخصيت فرض کړې ده.
د نظرونو دې ډېروالي، لا يکو ټولنو ته لاندې منفي اغېزې راوړې او د هغوی پام يې له الهي اديانو اړولی: بې هويتي، ځان د يو امت برخه نه ګڼل، ځانمني، د ټولنو طبقاتي کېدل، توکم پالي، پر عنف تېری او داسې نورې ستونزې.

[1] (وګورئ: البستاني، محمود، الاسلام وعلم الاجتماع ٢٤مخ)

شمېرو ښوولي، چې يوازې د امريکا په متحدوايالتونو کې شپږ ميليونه غير قانوني او غيرشرعي کوشنيان زيږېدلي او همداراز شمېرنې وايي، چې په "المان" کې تقريبا ۱۳ ميليونه ښځې او سړي يوازې ژوند کوي او ددې هېواد ښځې له ډېرش کلنی مخکې واده ته غاړه نه ږدي او تر واده روسته هم يوازې يو اولاد راوړي؛ ځکه د کوشنی دروزنې او ساتنې دنده ورترغاړې ده.[1]

پېغمبرانو د نېکمرغو ټولنو بنسټ کېښود او اسلام د تاريخ په گواهی د حضرت محمدعليه السلام ، په لاس د مدينې په نامه "بېلگه انساني ټولنه" جوړه کړه.

تردې سريزې روسته د اسلامي ټولنپوهنې تعريف دا دی:

د خلکو د گډ ژوند څېړنه. د گډ ژوند اصطلاح، له نورو علمونو د ټولنپوهنې تعريف توپيروي؛ ځکه گډون د انسان د شخصي ژوند له اړخونو وتل او ترمنځ يې گډو چارو ته پام دی. که دا مشترکات په ټولنيزو همکاريو او يا د انساني ټولنو په ښکاره نښو او چارو کې وي، چې مشترکې ډلې د ځانگړو نښو په درلودو مشخصېږي؛ نو اسلامي ټولنپوهنه د انساني ټولنو په منځ کې اړيکو، همکاريو او ښکاره نـښو ته پام لري.

اسلام د بشري ټولنو نظم ته قوانين او چوکاټونه لري، چې د واقعيت تر څنگ، د پلي کېدو وړتيا هم لري.

سره له دې چې تر استعماري جگړو روسته، د اسلامي هېوادو ملا ماته شوې او مسلمانان کمزوري او روسته پاتې دي؛ خو بيا هم اسلامي احکام تر ټولو بشپړ او غوره قوانين دي او دا خبره يوازې زه نه کوم؛ بلکې ډېر لويديز ي پوهان او سياستوال يې هم کوي.

### د دوو ټولنو پرتلنه

د "روم" د پوهنتون د قانون استاد "دېوېډ سانتيلانا" (۱۸۵۵- ۱۹۳۱ز) وايي:

((د اسلام ټولنيز حقوقي نظام ډېر پرمخ تللی، ځلېدلی او د پلي کېدو وړ دی، چې نوي دولتونه، نه يوازې د اسلام د قوانينو په څېر نه شي جوړولای؛ بلکې ورته نږدې يې هم نه شي جوړولای او د اسلام قوانين نيمگړي نه دي او په لنډو ويلای شو، چې اسلام ډېر ستر دين دی، چې د انسان لاس يې ونيو او په انصاف او عدالت ورسره وچلېد.))

[1] (وگورئ: بغدادي محمود، مع الزواج المدني: ۹۶مخ)

## د ټولنپوهنې پیدابښت او پرمختګ

فرانسوي "اګوست کنت" ته یې د ټولنپوهنې پلار ویلی او دې علم په ۱۷مه پېړۍ کې د کوشنیتوب پېر تېره کړې او له ډېرو کنډو کپرو را تېر شوی او کله یې لار ښې او کله کینې لوري ته کږېده او ددې فن پوهانو به کله کله خپل نظریات د انساني ټولنو په لابراتوارونو کې پر خلکو تجربه کول.

خلک پر ډول ډول طبقو وېشل او پردې خبره ګروهه، چې ځینې خلک ذاتاً اصیل او ساهو او ځینې پرېوتي دي، د مریبتوب د نظام تایید، د تورپوټکو او سپین پوټکو حقوقي توپیر، چې دا ټولې وېشنې د جاهلیت د وخت افکار دي.

مخکې له دې چې د ټولنپوهنې، اقتصاد، حقوقو، سیاست او ارواپوهنې علوم را منځ ته شي، اسلام بشر او بشري ټولنې ته داسې پوهه، نظم او قوانین راوړل، چې د بشر ټولې اړتیاوې یې ځواب کړې.

## د ټولنو تاریخي څېړنه

د اسلام په ټولنیزو بحثونو کې، په "جزیرة العرب" کې له اسلام مخکې ټولنې ته د جاهلیت پېر ویل کېږي؛ ځکه د بحثونو له موضوع سره تړاو لري او د اسلام د پیغمبر بلنه هم له هماغه ځایه پیل شوې؛ خو د اسلامي معیارونو په رڼا کې ویلای شو: د جاهلیت د وخت قوانین او احکام هماغسې پرځای دي او پلي کېږي، چې دا خبره په هغو کتابیانو کې، چې له حقه اوښتي، په پخواني "ایران" او "روم" او زموږ په وخت کې هم شته.

لویدیځ، اسلامي تمدن و نه مانه او د کلیسا د بې لاریو له لامله یې تر ټولو اسماني ادیانو سترګې پټې کړې او پر ماده پالۍ او بوت پالنې یې د بشر نېکمرغي پوپنا کړه.

لویدیځ، پخوا د مرینې، څمکوالۍ او پانګوالۍ نظامونه تجربه کړل او نن یې د پوچو خیالونو راټوکېدنه، جاهلي "سوسیالزم" او "کمونزم" هم تجربه کړ.

اسلام له دې ټولو نظامو سره توپیر لري او ددې نظامو له یو ځای کېدو هم منځ ته نه دی راغلی؛ بلکې اسماني او خدایي دین دی، چې حضرت محمد مصطفی(ص) پر بشر د اسلام زېری وکړ او د نړۍ په ټولو فاسدو نظامو پسې راپاڅېد. د شریعت په رڼا کې یې "بېلګه اسلامي ټولنه" جوړه او پراختیا یې ومونده او ټولو ته یې د روښانه ژوند، تکامل او پرمختګ لار پرانسته.

په هماغه وخت کې، د روم په امپراتورۍ کې وګړي پر دوو برخو وېشل کېدل:

يوه ډله يې ازاد وو، چې د هېواد درېيمه برخه وګړي وو او نور مريان وو. له مريانو سره په ستغ چلن کېده او ټوله ورځ به کارېدل او بادارنو يې د شپې له پښو په ځنځيرونو تړل او په سمڅو کې يې اچول او سخت زړي ساتندويان پرې ګومار شوي وو او په کوشنۍ تېروتنې يې په کوړو وهل او کله خو به اعدامېدل هم او ځينې وخت د ساتېرۍ پخپلو کې يا يې له زمريو سره جنګول[1].

د مريانو تر پاڅونو روسته، په پټيو او کارخانو کې د توليد کچه لږه شوه؛ نو د مرينې پېر پای ته ورسېد او ځمکوالي يې ځايناستې شوه ځمکوالي د توليد ځانګړی دود دی، چې پکې بزرګر د ځمکوال مريي دی، بزرګر ژمنه کوي، چې د کلني محصول يوه برخه خپل بادار ته ورکړي. تاريخ او د اوسنۍ دنيا واقعيتونه ښيي ټول پاڅونونه، چې پکې د فرانسې پاڅون هم راځي، د خپل وخت د انسانانو د ستونزې په هواري کې بېوسه او پاتې راغلي او دا خو لرې خبره ده، چې راتلونکې ته د حل لار ولري دا؛ ځکه سرچينه يې جاهليت او ماده پالي ده. رسول الله (ص) ناستوماني هڅې وکړې، چې مرينه له منځه يوسي او ټول کوښښ يې دا و، چې د قرآن په رڼا کې، د بشر راتلونکې ته د حل لار همېشنۍ وومي. هغه په داسې وخت کې پېغمبر شو، چې مريان ساتل کېدل او جنګي بنديان يې مريانول او دا په ټوله نړۍ کې يو دود و او په هغو شرايطو کې له دې دودونو سره پرېکنده مبارزه ناشونې وه؛ نوځکه ددې ستونزې هواري ته يې تدريجي لار راوړاندې کړه.

قرآن مجيد وايي:

((فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّاً بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ذلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لاَنتَصَرَ مِنْهُمْ وَلكِن لِيَبْلُوَا بَعْضَكُم بِبَعْضٍ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ[2]= او چې کله تاسې (د جګړې په ډګر کې له جنايتکارو)کافرو سره مخ شوئ؛ نو څټونه يې پرېکړئ (او دې کار ته دوام ورکړئ) چې ښه يې وځپئ؛ نو(په دې ترڅ کې يې بنديان) کلك وتړئ، بيا يا ورسره ښېګڼه وکړئ (او خوشې يې کړئ) او يا ترې (د خوشې کېدو په بدل کې) فديه [= غرامت] واخلئ (او دا حالت بايد) تر هغه پورې وي، چې جګړه (مار) خپله وسله پر ځمکه کېږدي (هو) دا(د الله حکم دی) او

---

[1] راشد الشبراوي؛ النظام الا شتراكي _ سيد قطب؛ نحو مجتمع الاسلامي: ٧٦ مخ.
[2] (محمد / ٤)

که الله غوښتلای نو پخپله به يې ترې غچ اخستی وای خو (غواړي) چې تاسې په يو بل وازمېيي او هغوی چې د الله په لارکې وژل شوي؛ نو الله هېڅکله د هغوی کړنې له منځه نه وړي))
ددې آيت په رڼا کې، د اسلامي واکمن واک دی، چې د ټولنې د مصلحت په پامنيوي سره جنګي بنديان د "فديي" په اخستو او يا بې له "فديي" ازاد کړي.

**نړيواله ټولنه**

د اسلامي نړيوالې ټولنې بنسټ، ژبه، نژاد او جغرافيايي پولې نه دي؛ بلکې ورونه يې ټولو انسانانو ته پرانستي دي او د ننووتو يوازېنی شرط يې د يو دين او ګروهې درلودل دي.
قرآن کريم دا حقيقت داسې بيان کړی:
((يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِن ذكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ"[1]=خلکو! په واقع کې موږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې پيدا کړي ياست او موږ تاسې څانګې (او خېلونه) او ټبر ټبر کړئ، چې يو بل وپېژنئ (خو دا د امتياز کچه نه ده) په حقيقت کې د الله پر وړاندې ستاسې ډېر عزتمن، ستاسې ډېر پرهېزګار دی، په رښتيا الله پوه (او) خبر دی.))
حضرت محمد(ص) وايي: ((عرب پرعجم غوره نه دی؛ خو په الهي تقوا.))
په اسلامي مفکوره کې ښکېلاک او ښـکېلاکي جګړې ځای نه لري؛ ځکه د رسول الله دوينا له مخې: ((ټول بشريت يو امت دی)) نو د همدې خبرې پر بنسټ، د بل ښکېلول د اسلام له نظره رټل شوی او کرکجن کار دی.

**الهي ټولنه**

يوازې د اسلامي نظامو ځانګړې موخه، د معنوي او الهي ټولنو جوړونه ده؛ خو بشري نظامونه داسې موخه نه لري، هغوی د ستونزې هواري ته د يوې لارې وړانديز کوي او چې انسانان يې پر ډول ډول غمونو ککړ کړل او جګړې يې وکړې نو له دې تجربې لاس اخلي او په بلې پسې ځي او يوازې د بشر غم او کړاوونه زياتوي.
رسول الله په هغه جاهلي ټولنه کې لړزان راوسته لومړی يې په دليل او برهان د جاهلي نظام بنسټونه بې ارزښته کړل او بيا يې په الهي ارزښتونو داسې ټولنه جوړه کړه، چې له ګردو ټولنو

[1] (حجرات/١٣)

سره يې توپير درلود، چې پکې "فارسي سلمان"، "رومي صهيب"، "حبشي بلال" (رضی الله عنهم) او عربو په روږی ژوند کاوه.
رسول الله (ص) اسلامي ټولنه پر لاندې بنسټونو ودروله:
١_ اسلامي ټولنه، هغه الله جوړه کړې، چې پوه، لوراند او د بشر له فطرته خبر دی او دا ټولنه بې له الهي قوانينو پر مخ نه شي تلای.
٢_ اسلامي نظام په هر وخت او ځای کې او ان د بشريت راتلونکې ته په کارېږي؛ ځکه ټوليز او پراخ بنسټه قوانين او اصول لري، چې له هر وخت سره اړخ لګوي او د ژوند هرې برخې ته کړلار او تدبير لري.
٣_اسلامي قوانين او اصول د انساني ژوند هر پړاو ته کړلارې لري، چې د بشري افکارو تر جوړو شويو قوانينو غوره دي.
٤_ هغه قوانين، چې نالوستي پېغمبر نړيوالو ته راوړل، بشپړ او پرمخ تللي دي؛ ځکه د انسان په افکارو او ګروهو کې يې داسې بې ساري او چټک بدلون راوست، چې د فيلسوفانو تر انګېرنو ډېر غوره وو، چې دې بدلون انسان ته د پرمختګ او تکامل لار پرانسته او عقلونه يې له تجربي او انساني علومو ګټنې ته چمتو کړل او مسلمانان يې د علمي فرصتونو مخکښان کړل؛ نو ويلای شو په لويديځ کې د قوانينو او د ټولنپوهنې او سياسي علومو پرمختګ، د مسلمانانو له پوهې د برخمنېدو او اقتباس پايله وه.
د اسلام د ټولنيز نظام د پيلامې ټکی، مدينې ته د رسول الله (ص) مهاجرت و، چې د انصارو او مهاجرو په منځ کې يې د روږی په ترون، د "رورولېزې د ټولنې" بنسټ کېښود.
د مدينې "د رورولېزې ټولنه" هغه مرکزي زړی دی، چې مسلمانانو ترې بېلګه اخسته او يووالي ته رسېدل؛ خو که ترې لرې شي؛ نو خواره واره به شي.
په خواشينی وايم دا لړيوالی او شيندنه د رسول الله تر وفات روسته پيل شو، چې بېلګه يې د دريېم خليفه خلافت و، چې پکې خپښپالي او پوړيزه ټولنه رامنځ ته شوه. [1]

## د انسان خلافت او د پېغمبرانو شهادت

[1] وګورئ: (١) د مولانا مودودي د "خلافت او ملوکيت" پښتو ژباړه. (٢)سيد قطب؛ عدالت اجتماعی در اسلام، بخش سيستم سياسی در اسلام. (٣) د عبدالحميدجودة السحارة، "ابوذر".

د معقول ټولنيز ژوند او د ((توحيدي ټولنې)) دا باور دی، چې انسان پر ځمکه د الله ځايناستی او پېغمبران د امتونو د کړنو د سنجونې مېچ دي او همدا باور ((توحيدي ټولنه)) تر هغو ټولنو توپيروي، چې بنسټ يې شيطان او لارويانو يې ايښې وي.
د انسان له خلافته مراد دادی، چې ټول انسانان د الله له لوري دنده لري په غوره توگه د ځمکې په ښېرازۍ لاس پورې کړي.
قرآن کريم وايي:
((وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَتَعْلَمُونَ[1]=(هغه وخت درياد کړه) چې ستا پالونکي پرښتوو ته وويل: ((زه پر ځمکه ځايناستی، خليفه (استازی) ټاکم.)) (پرښتوو) وويل: (((پالونکيه!)ايا ته داسې څوك ټاکې، چې فساد او وينه تويې کړي؟ (ځکه له آدم نه مخکې ځمکني موجودات پر فساد او وينه تويېدنه ککړ وو، که د دغه انسان له پېدايښته موخه عبادت وي) نو موږ (خو) ستا ستاينه کوو او تا پرسپېڅلتوب ستايو.)) الله وويل: ((زه، چې پر څه پوهېږم تاسې پرې نه پوهېږئ.))
او الله تعالی رسول الله (ص) پر خلکو شاهد ونيو او و يې ويل:
((وَكَذلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلاَّ لِنَعْلَمَ مِن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلاَّ عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللّهُ وَمَا كَانَ اللّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَحِيمٌ[2]=او په همدې توگه مو تاسې (چې قبله مو منځنۍ قبله ده) يو منځنی امت وگرځولئ، چې پر خلکو شاهدان اوسئ او پېغمبر پر تاسې شاهد وي او تاسې، چې پخوا کوم لوري ته مخ اړاوه، هغه مو يوازې ددې لپاره ټاکلی و، چې څوك په پېغمبر پسې ځي او څوك ترې مخ اړوي، دا کار ډېر سخت و خو نه هغوی ته چې الله ورته لار ښوولې وه (او په دې هم پوه شئ، چې مخکېنۍ قبلې ته ستاسې لمونځونه سم وو) او الله هېڅکله ستاسې ايمان [=لمونځ ] نه ضايع کوي ځکه الله پر خلکو ډېر زيات لوراند (او) لوروونکی دی.[3]))

---

[1] (بقره/۳۰)
[2] (بقره/۱٤۳)
[3] (بقره: ۱٤۳)

دلته له شهادته مراد دادی، چې پیغمبران د خلکو دکړنو د ارزونې مېچ او معیار شي. د الله له لوري د انسان پر ځایناستې ګروهه کړای شي څلور په زړه پورې پایلې ولري:

۱ـ یوه چورلیځ ته د انساني ټولنې منسوبول؛ یعنې هماغه الله، چې بشر یې خپل ځایناستی کړ او پر یوه مالک او خاوند ایمان راوړل، چې د هر څه پیدا کوونکی دی او دا هماغه توحیدي باور دی، چې رسول الله پرې د انساني ټولنې بنسټ کېښود او ټولو پیغمبرانو د(لا اله الا الله) جنډه پورته کړې وه او الله څومره ښه ویلي چې:

((صِبْغَةَ اللّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ[1]= الهي رنګ (غوره کړئ!؛ یعنې د ایمان، توحید او اسلام رنګ) او کوم رنګ به تر الهي رنګه ښکلی وي ؟ او موږ یوازې هماغه لمانځو.))

۲ـ د ټولنیزو او توحیدي اړیکو ټینګول او د نومونو له عبادته د انسان ازادي، چې د ډول ډول ظلمونو او ښکېلاک لامل دي.

قرآن کریم مشرکانو ته وایي:

((مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِ إِلاَّ أَسْماءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ أَمَرَ أَلاَّ تَعْبُدُوا إِلاَّ إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ[2]=تاسې د هغه پرځای له (څو) نومونو پرته بل څه نه لمانځئ، چې تاسې او پلرو مو پر هغوی نومونه ایښي دي او الله د هغوی پر (حقانیت) کوم دلیل نه دی نازل کړی، حکم یوازې د"الله " دی امر یې کړی، چې له هغه پرته بل څوك مه لمانځئ، دا سم دین دی؛ خو ډېری خلك نه پوهېږي.))

۳ـ په ټولنیزو اړیکو کې په خلکو کې د روزې روحیه غښتلې کول. د ظالمانو واکمنې له منځه وړل او د یو الله پر غوره والي او واکمنۍ ګروهنېدل؛ نو طبیعي ده، چې د داسې باور په درلودو، ټول خلک یو له بل سره ورونه او په انساني کرامت او حقوقو کې په ټولنه کې یو له بل سره اوږه په اوږه وي.

قرآن کریم وایي: ((انسان تر خپلې وسې پر دی.))

((وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَى[3]=او داچې انسان ته یوازې هڅه یې ده.))

٤ـ داسې لید چې پر ځمکه خلافت، الهي امانت وبولي. قرآن وایي:

---

[1] (بقره/۱۳۸)

[2] (یوسف/٤٠)

[3] (نجم/۳۹)

((إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّماوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُوماً جَهُولاً[1]= په حقيقت کې موږ اسمانو او ځمکې او غرونو ته (د تعهد، مکلفيت او الهي ولايت) امانت وړاندې کړ خو له منلو يې ډډه وکړه او ترې ووېرېدل خو (يوازې) انسان هغه پر اوږو کړ او په واقع کې هغه ډېر ظالم او ناپوه دی، (دا ځکه چې ددې ستر مقام قدر يې و نه پېژانده او پر ځان يې تېری وکړ).))

امانتوالي مسئووليت رامنځ ته کوي او چې څوک مسووليت و نه لري، د امانت دروند پېټی پر اوږو نه شي زغملای او نه پر ځمکه د الله د ځايناستی دنده ښه ترسره کولای شي.

قرآن مسئووليت ته د پام په اړه وايي:

((وَلاَ تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلاَّ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤولاً[2]=او د پلار مړي شتمنۍ ته په غوره طريقه تر هغه ورنژدې شئ، چې مړانې ته ورسي او پر (خپلو) ژمنو وفا وکړئ، چې د ژمنې پوښتنه کېږي.))

ځانمني او توکيز انسانان نشي کړای دنده پر غاړه واخلي او ځان له خپلې ټولنې ځار کړي او ځان په وړه خبره بايلي او وارخطا کېږي.

### د شهادت د ليکې بنسټونه

((پر زمانې قسم، چې انسان په تاوان کې دی؛ خو هغوی چې ايمان يې راووړ او او نېکې چارې يې کړې او يو بل ته د حق او صبر سپارښتنه کوي.)) (د عصر سورت)

رسول الله د انسان د خلافت ليکه، د شهادت په ليکه غښتلې کړه، چې د الله د پېرزوينې ښکارندوی شي او پيغمبران د انسان لارښوونې او ژغورنې ته مبعوث شوي، چې روسته د شهادت ليکې ته امامانو او د اسلام پرهېزگارو علماوو په لاندې توگه دوام ورکړ:

١_د مؤمنو او نېکو انسانانو روزل.

٢_د داسې ټولنې جوړول، چې "پر نېکيو امر او له بديو منع" پکې دودوي، چې له دې لارې د فساد د خپرېدو مخنيوی وشي.

---

[1] (احزاب/٧٢)

[2] (اسراء/٣۴)

د الهي پېغمبرانو او لاييکو مشرانو توپير دادی، چې پېغمبران خلکو ته بېلګه او پر کړنو يې ګواهان وو او د فساد له منځه وړو ستر لامل وو او هېڅکله له خپلې لارې کاږه نه شول او بېخي يې فکر ته ظلم رانغی، چې په دې اړه قرآن وايي:
((لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ[1]= ظالمانو ته به د الله تړون و نه رسي)) خو د مادي مشرانو کوښښ دا و، چې انساني فضايل او ارزښتونه له منځه يوسي.))
قرآن کريم وايي: ((الله تاسې غوره کړي يئ او پر تاسې يې د څه سختي نه ده ايښې، د خپل پلار ددين، چې هماغه ابراهيمي دين دی، لاروي وکړئ، چې او الله مخکې له دې او په دې قرآن کې هم تاسې مسلمان ونومولئ، چې پېغمبر پر تاسې او تاسې هم پر نورو خلکو ګواه اوسئ.)[2])
که مسلمانان وغواړي پردې آيت عمل وکړي او انسانانو ته بېلګه شي؛ نو پر قرآني آرونو دې منګولې ولګوي.
رسول الله (ص) او نورو پېغمبرانو انسانان دوو جهادونو ته رابلل:
۱_اکبر جهاد:
يعنې له نفس سره مبارزه، چې مؤمنان د دنيا والو له تېرايستو، شيطاني وسوسو، خپلسرۍ او شهوت پالۍ ساتي او زهد، تقوا، اصلاح او وړتيا ته يې رابلي.
۲_ اصغر جهاد:
يعنې له يرغلګرانو، استثمارګرانو او ظالمانو سره مبارزه او د مستکبرانو له منګولو ځان او نور ژغورل .
بايد ووايم دا دواړه جهادونه د انبياوو عليه السلام د تکامل د کاروان په بهير کې يو ځای او اوږه په اوږه لار وهي او د اسلام پېغمبر پرلپسې خپل اصحاب له اکبر جهاده، اصغر ته او له اصغره اکبر ته رابللي دي او اصحابو يې هم دا دواړه يو د بل تر څنګ کول او حکومت، مال او شتمنۍ ته يې پام نه و او يوازې د الله د خوښۍ د لاس ته راوړو په فکر کې وو؛ نوځکه يې په ډېر لږ وخت کې د رسول الله (ص) اسماني موخو ته د عمل جامه واغوسته او ستر تمدن يې را منځ ته کړ.

---

[1] (بقره: ١٢٤)
[2] (حج/٧٨)

## نوې ټولنه

لکه چې و مو وويل: د اسلام او مسلمانانو له نظره، ټولنه هماغه وه، چې رسول الله (ص) په مدينه کې جوړه کړه؛ نو اوس لومړی پر "اصطلاح پوهنې" او بيا د "ټولنپوهنې" پر څو مهمو اصطلاحاتو رڼا واچوو:

۱_ اصطلاح پوهنه:

پوهان پردې يوه خوله دي، چې د هرعلم د اصطلاحاتو پېژندل خورا اهميت لري او وايي چې: ((د هرې پوهې اصطلاحات بايد دقيق، هر اړخيزه او روښانه وي؛ ځکه په علم کې ډېر اصطلاحات د ورځېني ژوند له اصطلاحاتو سره توپير لري. [1]))

۲_ټولنه: (community):

په ټولنپوهنې کې، ټولنه بنسټيز مفهوم دی او داسې يې ښوولې ده:

((يوه ډله انسانان، چې ګډ ژوند، دود، رواج او ميراثي عادتونه ولري او د يوه ځواک يا حکومت تابع وي.))

ډېری موروثي عادتونه او دودونه جاهلي ځانګړنې لري؛ نوځکه دا دودونه رسول الله (ص) ورټل او پلې کول يې منع کړل او يوازې ګوتو په شمېر دودنه يې پرېښوول، چې ټولنې ته ګټور وو؛ لکه مېلمه او مسافر ته ځای ورکول او د مسافرو او بې کسو دفاع.

۳_بنسټ:

"ماک ايور" ټولنيز بنسټونه داسې ښوولي:

((په ټولنه کې د ټاکلو او متمايزو اړيکو بڼې ته وايي[2].))

د انګليسي ټولنپوه "موريس ګينز برګ" له نظره، ټولنيز بنسټونه دادي:

((د ټولنې د وګړيو ترمنځ د الزامي ښوول شويو اړيکو شکلونو ته وايي. که ددې اړيکو اړخونه په ټولنه کې وي او که کوم يو يې له ټولنې بهر وي.))

د "ګينز برګ" په تعريف کې د ((الزام)) ټکی ډېر ارزښت لري او له مخې يې ويلای شو: که د واده په څېر يو دود، ټولنې منځ ته راوړی وي؛ نو پرې پابندي او قوانينو ته يې غاړه نه اېښوولو ته هغه سزا پکار ده، چې حکومت ټاکلې وي او که کليسا منځ ته راوړی وي؛ نو سرغړاندي ته يې هغه سزا په کار ده، چې کليسا ټاکلې ده.

---

[1] (رايت، ف، ج؛ مبادي علم الاجتماع: ۵٦ مخ)

[2] [ وګورئ: رايت، ف، ج، مبادی علم الا اجتماع، ۷۵ مخ ]

کليسا هم يو ټولنيز بنسټ دی، چې د عبادت مرکز او د کورنيو د پاکۍ او کرامت ساتندويه ده.
په اسلام کې واده هغه بنسټ دی، چې رسول الله (ص) تاسيس کړی او هغه يې د الله پر وړاندې سپېڅلی تړون ګڼلی، چې د ښځې د پاکلمنۍ او د حقوقو د ساتلو ضامن او د پاکې او مؤمنې کورنۍ د منځ ته راتګ لامل دی او د روغې او فاضلې ټولنې د بنسټ ړومبۍ تيره ده.
خو ځينې غير ديني ټولنې، بې له تړون او نکاح څخه په بشري قانون، د مدني واده يا، د ښځې او سړي د کوروالي وړانديز کوي، چې دا کار ډېری سوداګرۍ ته ورته دی نه واده ته او ددې قانون په اړه د شتمنو او سياسي مقاماتو لاس خلاص دی او چې کله يې په کار وي؛ نو د ښځو په ژبه يې تفسيروي؛ نوځکه په دې روستيو کې يې له هغو ښځو دفاع ته تشکيلات جوړ کړي، چې ظلم پرې شوی وي.
هر څنګه چې وي، د داسې قوانينو طبيعي پايله د کورنيو، کوشنيانو او ټولنې تباهي ده.
٤_ عادتونه، دود او رواج (costumes):
عادتونه؛ يعنې تقليدي چارې يا د تقليد او لاروۍ پر بنسټ، ټولنيزې چارې سر ته رسول.
"واندت" وايي: ((عادتونه د پوهې له مخې هغه کړنې دي، چې په تېريزه ټولنه يا توکم کې رامنځ ته کيږي او ورو ورو پراختيا او بدلون مومي.))
"ماک ايور" ګروهن و، چې عادتونه د ټولنې اومه مواد دي او "ګينز برګ" باور درلود، چې عادتونه هغه کړه دي، چې د اجر او سزا لامل ګرځي. وايي: ((يومېرمنتوب (monogamy) د ټولنيز بنسټ په پرتله يو عادت دی که څه نن په لويديځ کې دا مسله ځانګړی دود دی، چې د پلي کوونکي او سرغړونکي ته يې قوانين په پام کې نيول شوي؛ نو ددې نظر له مخې، دودونه د خلکو د منلو او نه منلو تابع دي. [1])) او که اسلامي دودونه له غير ديني دودونو سره پرتله کړو؛ نو پوتيې شک به هم پاتې نه شي، چې ټول غير اسلامي دودونه جاهلي دي؛ ځکه دې ټولنو اسماني ارزښتونو ته شا کړې او جاهليت ته يې مخه کړې. هغوی د "صنعتي" او د فرانسې تر پاڅون روسته د انسان بې قيد و شرط ازادي اوڅار کړه، چې د ډېرو ناوړو دودونو لامل شوه، چې يو تر هغوی "مدني واده" و، چې اشاره مو ورته وکړه، چې دا کار يې له اسلام څخه له مخه عربو ته ورته دی؛ خو په دومره توپير، چې نن دا کار د قانون په ملاتړ کيږي. ددې ناوړو دودونو يوه بله بېلګه له پردې سړي سره د مړوښې ښځې انډيوالي ده.

[1] [وګورئ: مبادي علم الا جتماع، ۵۷مخ ]

په دې اړه د "سويډن" پوهنتون يو استاد په خواشينۍ وايي:

((چې کله کور ته ځم نو ښځه مې را ته وايي: لږ روسته راشه؛ ځکه انډيوال مې په کور کې دی او په خپل راتگ يې مه خپه کوه.))

په "ډنمارک" کې، له سړي سره د سړي واده قانوني دی؛ خو په "فرانسه" او نورو هېوادو کې قانوني نه دی؛ خو قانوني بنديز هم نه لري. په "امريکا" کې جمهوري رياست ته د نوماندۍ يو شرط د سم او قانوني واده له لارې زوکړه ده.

اسلامي دودونه ديني اړخ لري او مسلمان پوهېږي، چې ازادي يې په هغه ځای کې پای ته رسي، چې د نورو د ازادۍ پيل دی او همدا هراړخيز قانون يې دې ته اړ باسي، چې د نورو د حقوقو خيال وساتي او د خپلو حقوقو له پولو وا نه ړوي او د "امر بالمعروف او نهی عن المنکر" قانون يې کړنې تنظيموي.

اسلامي ټولنه پاکه او روغه ده، چې پکې افراط (زياتی) او تفريط (کمښت) نه ليدل کېږي.

۵_ دودونه، جشنونه او مذهبي مراسم:

دا اصطلاح گانې هغه کړنو ته پکارېږي، چې د بنسټونو او عادتونو پرخلاف، د اجر او سزا له لامله نه ترسره کېږي؛ بلکې هر يو ځان ته ښه دي او د گډ ارزښت ښکارندوی دي.

الف _دودونه (traditions):

هغو افکارو او کړو وړو ته دودونه وايي، چې پرې د باوري ذهن ته، د ستر قانون او يا لارې رايادوونکی وي او له يو کهوله بل کهول ته لېږدي.

دودونه کله په يوه ځانگړي تفکر او ښوونځي پورې د تړاو نښه ده؛ لکه د"الماني نازيانو" او يهودانو توکم پالنه، چې داسې دودونه له اسلامه مخکې دودونو ته ورته دي.

حضرت "محمد"(ص) ددې ټولو غلطو دودونو ټغر راټول کړ او متمدن او فرهنگي امت يې رامنځ ته کړ، چې په دې اړه ستر فرانسوي عالم "ژان ژاک سيديو" وايي:

(("محمد"له خپرو عربو امت جوړ کړ ستر ملت چې حکومت يې په "اسپانيا" کې د "تاج" له سينده، د "هند" تر "گنگا" سيند پورې رسېده او هغه مهال چې "اروپا" د منځنيو پېړيو په ناپوهيو کې ډوبه وه، اسلام په بېلابېلو سيمو کې د تمدن بيرغ ورپاوه [1].))

ب_ جشنونه:

---

[1] (تاريخ العرب: ٤٥ مخ)

د خلکو يو ډول کړه دي، چې د ځينو چارو د معنوي ارزښت د څرگندولو په موخه، په بېلابېلو بڼو ترسره کېږي. غير الهي ټولنې ددې جشنو په سر ته رسولو کې د عرف او الهي شرايعو پرخلاف چارو لاس پورې کوي او که اسلامي ټولنې اخلاق او د اسلام سپېڅلي احکام رعايت کړي؛ نو له غير شرعي چارو به خوندي وي.

ج_ مذهبي مراسم:

دا مراسم جشنو ته ورته دي او په هماغه موخه ترسره کېږي؛ خو په دومره توپير، چې دا مراسم په ځانگړو وختو؛ لکه د مړي د ښخولو او سوځولو پرمهال ترسره کېږي. کېداى شي په "هند" کې د مړيو سوځول له هغه چلنه جاهليت ته لږ نږدې وي، چې له مړيو سره په ځينو لاييکو هېوداو کې کېږي؛ ځکه په دې هېوادو کې مړی وارثانو ته د سوداگريز توکي مثال لري، چې وارثان يې غړي په بيه پلوري.

په دنيا کې هېڅ مذهب او دين د اسلام هومره مړي ته درناوی نه لري؛ ځکه مړي ته غسل ورکول، د جنازې لمونځ، په درناوي يې خارو ته سپارل، د مړي د روح خوشحالۍ ته په مړي پسې خيرات او د قرآن ختم، ټول د مړي درناوی دی.

د_ ديني شعاير:

يو مسيحي چې د پوهې له مخې، د وگړيزې يا ټولنيزې دندې په نامه ديني جشنو، د مړي ځانگړي مراسمو او کليسا ته ځي؛ نو ددې کړنو ټولگې ته يې ديني شعاير وايي.

البته ډېری ديني کړنې شته چې گټوربداى شي؛ خو پام مو وي، چې کله وگړني عبادتونه د تکرار له لامله بې مانا کېږي او يوازې پر عادت بدلېږي؛ لکه يو مسيحي چې د حضرت عيسى مسيح عليه السلام د زوکړې شپه، په شرابو او مستۍ کې د ديني عمل په نامه تېروي. (بايد وويل شي ډېری مسلمانان د "قدر شپه" تر سهاره په دعا تېروي)

٦_ اتحاديې:

په هره ټولنه کې د هغې ټولنې د ټولنيز جوړښت د څېړنې لپاره، د اتحاديو پېوستون ځانگړی ارزښت لري؛ ځکه د اتحاديو جوړښت د ټولنې د جوړښت په څېر دی.

اتحاديه يوشمېر انسانان يو گډ هدف ته د رسېدو لپاره منځ ته راولي.

**په لاييکو ټولنو کې د اتحاديو تر ټولو مهم بنسټونه**

الف_د ازادۍ آر:

ددې آر په پلي کولو کې ابهام دی او روښوالی پکې نه شته او ابهام يې ددې لامل شوی، چې خلک خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له هرې لارې او وزلې ګټه واخلي؛ نوځکه يې کله د غوښتنو، قوانينو او ټولنې د مهمو ښېګړو ترمنځ تناقض، جاهلي کړنې او ګډوډې رامنځ ته کېږي.

ب_ګټه:

کله کله، ډېرې ګټې ته د رسېدو لپاره د وګړيو او شرکتونو ترمنځ داسې سيالۍ را منځ ته شي، چې په اسانۍ خپل لاسونه يو د بل په وينو ککړوي.

په اسلامي اتحاديو کې پتمنه سيالۍ او د اسلام د احکامو رعايتول، له هر څه لومړي دي او ويلای شو اسلامي هېواد د عابدو وګړيو، متقي اتحاديو او ښتن لمانځو ټولنو ټولګه ده.

که په اسلامي ټولنه کې اسلامي احکام او ((مؤمنان سره ورونه دي)) اصل پلي شي؛ نو د چا حق به و نه تروړل شي.

په مدينه کې تر مېشتېدو روسته، د روری د اصل اعلان يو ستر ګام و، چې رسول الله (ص) پورته کړ او د مهاجرو او انصارو لاس يې ونيو او و يې ويل:

((د الله په لار کې د الله لپاره سره ورونه شئ.)) رسول الله (ص) په دې ښکلي چار د انساني ټولنې بېلګه جوړه کړه، چې بيا به يې هيڅوک هم جوړه نه کړای شي؛ خو هغوی چې کړه وړه يې د اسلامي احکامو له مخې وي.

مهاجرو د سوداګرۍ دنده درلوده او پر کښت او کرنه دومره نه پوهېدل او د انصارو له ورېښلو ځمکو يې ګټه نه شوه اخستای؛ نوځکه انصارو هوډ وکړ د مهاجرو ځمکې هم وکري او ګټه يې سره ووېشي؛ نو ځګه د غوره ټولنې جوړولو لپاره، د کښت زحمت هم د مهاجرو له اوږو پورته کړای شو. ددې ټولنې ښښه، سړيتوب او ځواني يوازې دا نه وه؛ بلکې د ايثار او سرښندنې تر بريده ورسېده. تاريخپوهانو ليکلي، چې يوه ورځ رسول الله (ص) ته يو مېلمه راغی، چې په کور کې يې خواړه نه وو، چې دا مهال يو انصاري راغی او مېلمه يې له ځان سره بوت او هغه ورکړه لږ خواړه يې د مېلمه مخې ته کېښوول او له خپلې کوروداني يې وغوښتل ډيوه مړه کړي او په خپله يې هم خوړو ته لاس ورووړ او داسې يې ښوول، چې خواړه خوري، تردې

چې مېلمه ټول؛ خواړه وخوړل. پر سبا رسول الله د انصاري کور ته ورغې و يې ویل: الله پر هغه چار درنه ډېر خوشحاله شو، چې له مېلمه سره دې وکړ.
په تاريخ کې راغلي، چې حضرت "عبادة بن صامت" ته يې ډالۍ راوړه. حضرت "عبادة" وویل: ((د پلاني کور ته يې یوسئ، چې ډېره اړتيا لري.)) حضرت "وليد" د "عبادة" زوی وايي: ((ډالۍ مې واخسته او د هر چا کور ته به مې، چې وړه نو راته يې ویل، چې د پلاني کور ته يې یوسه، چې تر ما ډېر اړ دی او په پای کې ډالۍ هيچا وا نه خسته او بېرته د "عبادة" کور ته را ستنه شوه.))
غير ديني افکار د بشر ستونزې نشي هوارولای او په خپله هم پردې بېوسۍ اعتراف کوي؛ ځکه و يې نه کړای شو په وګړيو کې له ټولنې سره تړاو او پکې د ټولنې لپاره د سرښندنې احساس راژوندی کړي او له ډله ییز عقله په نتېه يې لاس پورې کړ.

"اډوارډ مونتيه" د سويس ختيځپوه (۱۸۵۶_۹۲۷) وايي:
((د "محمد" ديني سلېښت او اخلاص، هر څېړونکی حېرانوي هغه له شرک، بوت نمانځنې او غندليو کړنو سره، په پرلپسې مبارزې جوت کړل، چې په واقعي مانا ديني مصلح و خو ډېرو د ناپوهۍ او ځينو د تعصب له لامله و نه پېژانده او حق يې پوره نه کړ. [۱]))

## په ټولنه کې د ارزښتونو او اسلامي اخلاقو د خپراوي لپاره د رسول الله (ص) دود

هغه ټکی، چې د رسول اکرم (صلی الله عليه و آله وسلم) د ژوند په باب زما په پام کې دی، دادی چې: داچې په ټولنه کې ارزښتونه او اسلامي اخلاق، دود او د خلکو له ګروهو او ژوند سره ګډ شي؛ نو رسول اکرم به د ژوند چاپېريال په اسلامي ارزښتونو پسوله.
يو وخت يو تن حکم ورکوي يا سپارښتنه کوي، چې د بېلګې په توګه غوره خويونه، ګذشت، صبر او د خدای په لار کې استقامت ولرئ، ظلم مه کوئ، عدالت وکړئ؛ يعنې سپارښتنې، حکم ورکول او ښوونه ورکول مطرح او نوموتي دي – چې البته يو اړين چار دی او د اسلام پېغمبر (صلی الله عليه و آله وسلم) هم ښوونه کوله ((يعلمهم[۲])) او خلکو ته يې د معرفت او ژوند ښوونه وکړه -؛ خو يو مهال خبره تر ورښوولو او ورزده کولو پورته ده؛ يعنې ښوونکی يو کار کوي او کړنه ترسره کوي، چې اخلاق او اسلامي احکام په ټولنه کې د يو جوت رنګ په بڼه واوړي، د خلکو له ناسمو ګروهو سره مقابلې ته رادانګي، له جاهلي احساساتو او د راپاتې شويو او رسوب کړيو نااسلامي اخلاقو سره مبارزه کوي او ټولنه او وګړي يې له خوبه راپاڅوي او په يوه مناسب وخت کې له مناسبې کړلارې سره، داسې يو کار کوي، چې د ټولنې او د خلکو د ژوند چاپېريال، له دې ځانګړنې، خويونو او ښو کړنلارو سره په ښه توګه واغړل شي.
که يوه ټولنه غواړي، چې وده وکړي او وغواړي، په ځان کې سم اسلامي خويونه رامنځ ته کړي؛ نو همدې کړلارې ته اړتيا لري. کېدای شي، د قرآن کريم په څو آيتونو کې چې ((يزکيهم)) تر ((يعلمهم[۳])) روسته يا ترې مخکې راغلی؛ نو کېدای شي، په دې آيتونو کې له

---

[۱] [ وګورئ: "حاضر الاسلام و مستقبله"].
[۲].بقره سورت، ۱۲۹ آيت
[۳].بقره سورت/۱۲۹ آيت

((تزکيه)) مراد همدا مطلب وي؛ يعنې د خلکو پاکول،سوتره کول؛ کټ مټ د هغه طبيب او رنځورپوه په څېر، چې يوازې خپل رنځور ته نه وايي، چې دا کار وکړه او هغه کار مه کړه؛ بلکې هغه يوه ځانګړې ځای ته وړي او څه ته چې اړتيا لري، رنځور ته يې ورکوي، خوروي يې او څه چې ورته مضر دي، له هغه نه يې پرهېز کوي. پيغمبر اکرم (صلی الله عليه و آله وسلم) هم د خپل نبوت په درويش کلني پېر کې يوه داسې کړلار او لار درلوده؛ په تېره په هغو لسو کلونو کې چې په مدينه کې يې ژوند کاوه او د اسلام د واکمنۍ او د اسلامي حکومت د جوړېدو پېر و.

ما مطرحولو ته څو بېلګې چمتو کړي دي، دا زموږ د نن لپاره د جمهوري اسلامي نظام لپاره خورا مهم دي؛ هم د ولس لپاره او هم د چارواکيو او هغو وګړيو لپاره، چې له يوې ډلې سره سروکار لري او د خلکو يوه ټولګه يې خولې ته ګوري، چې څه به وايي. زموږ دې پام وي، چې وغواړو د طاغوت د پېر د اخلاقو هغه راپاتې شوني او رسوبات –چې زموږ ودې او تعالي ته خورا مضر دي –له ځانه لرې او وشنډو؛ نو بې له دې بله چاره نه لرو، چې په خورا مړانه او پرېکنده توګه د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) په همدې کړلارو عمل وکړو.

يوه بېلګه، د خلکو د ژوند په چاپېريال کې، له جاهلانه تعصبونو لرې د يوې روغې فضا رامنځ ته کولو پورې اړوند دی. پوهېږئ، چې ټول ولسونه همداسې دي او بې له يو څو وګړيو، چې د معرفت له پلوه خورا لوړو کچو ته رسېدلي وي، حالات يې داسې دي، چې په ډېرى ځايونو کې يې پر ژوندانه تعصبات، غرضونه، رنځونه، غوټې او دې ته ورته چارې واکمنې دي او خلک له عادلانه چلنه منع کوي او يو ناوړه چاپېريال رامنځ ته کوي.

دا چاپېريال بايد سم او روغ کړو، د روغ چاپېريال او د خلکو ترمنځ خوش بينۍ رامنځ ته کولو لپاره، پيغمبر اکرم (صلی الله عليه و آله وسلم) بې له هغو سپارښتنو، چې يې درلودې، يو لړ کړنلارې يې هم درلودې؛ په تېره په هغه پېر کې چې دا مسله خورا مهمه هم وه؛ ځکه جاهلي عربو يو له بل سره خورا ستونزې او تېريز او کورني تعصبونه درلودل او پر يو بل يې خورا ناوړه ګومانونه کول او رسول اکرم (صلی الله عليه و آله وسلم) بايد دا هر څه د مؤمنيو له زړه رااېستلای وای او د هغوی له زړونو يې يو بل ته دا هر څه ايستلای او زړونه يې ورپاک کړای وای.

له پېغمبر اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) نه روایت رانقل شوی، چې وايي: ((لا یبلغنی احد منکم عن اصحابی شیا فانی احب ان اخرج الیکم و انا سلیم الصدر[1])) رسول اکرم ته به راتلل او په یو بل پسې به یې سپکې سپورې ویلې او په یو بل پسې به یې کله رښتیا او کله له واقعیته لرې خبرې کولې؛ پېغمبر اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) خلکو ته وویل: هېڅوک دې زما د اصحابو په باب راته څه نه وايي، تل ما ته مه راځئ او یو د بل بد مه ویاست. لېواله یم، چې په خلکو کې راښکار کېږم او خپلو اصحابو ته مې ورځم، ((سلیم الصدر)) ووسم؛ یعنې له پاک او سوتره زړه سره او بې له کومې مخینې او بدبینۍ د مسلمانانو منځ ته ورشم.
دا د پېغمبر اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) یوه خبره او پخپله د آنحضرت (ص) په باب مسلمانانو ته یې یو حکم دی. وګورئ، چې د رسول اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) دا حکم څومره له دې چار سره مرسته کوي، چې مسلمانان احساس وکړي، چې په اسلامي ټولنه کې باید بې له ناوړګومانۍ او له خوش بینۍ سره له وګړیو سره چلن وکړو. په روایاتو کې شته، چې کله واکمني له شر او فساد سره وي؛ نو پر هر څه ناوړه ګومان ولرئ؛ خو چې کله حاکمیت د ټولنې د خیر او صلاح سره وي؛ نو ناوړه ګومانونه شاته وغورځوئ او یو بل ته ښه ګومان ولرئ، یو د بل خبره منئ او اورئ، یو د بل بدۍ مه وینئ او یو بل د ښېګڼو ته ګورئ.
په مسلمانانو کې دود و، چې پېغمبر اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) ته به راتلل او په غوږ کې به یې ورسره نجوا او پسپسکي کول، چې آیت راغی او له رسول الله سره یې په غوږ کې پسپسکي کول منع کړل؛ څکه په نورو مسلمانانو کې یې ناوړه ګومانونه راپارول.

[1].مکارم اخلاق، ۱۷ مخ.

# نبوي سيره او ارواپوهنه

د رسول الله (ص) په باب د غربي پوهانو خبرې
"ویلیام سویر" انګلیسي ادیب او لیکوال په "سیره محمد" کې لیکي:
(("محمد" په خپلو روښانه ویناوو او اسان شریعت، د نړۍ د ټولو مشرانو مخکښ دی. هغه په خپلو سترو کارنامو، هېښ حیران کړل. په تاریخ کې بل داسې مصلح نشته چې په دومره لږ وخت کې ویده بشریت را ویښ، نېک خویونه یې دود او پوهې ته یې ارزښت ورکړی وي.))
"فرانسوا ولټېر" فرانسوي پوه او د فرانسې د پاڅون له فکري مشرانو، په ((محمد)) کې لیکي:
((په رښتیا، چې د"محمد" په وجود کې څه هېښنده ځواک دی، چې انسان ستاینې او درناوي ته اړباسي. چا به چې لاس ورکړ؛ نو له لاس ورکوونکي مخکې یې لاس نه راکښه او د کوڅو د کوشنیانو له څنګه چې تېرېده په مینه او خندا ورسره چلېده.))
ټول عالمان یوه خوله دي، چې دین د انسان پر ژوند ستر اغېز لري، چې د شخصیت د انډول لامل او د روحي رنځونو مخنیوی یې کوي او کله خو د ډېرو روحي رنځونو درمل هم دی.
نن په غیر اسلامي هېوادو کې روحي رنځ ډېرې شوي، چې دولتو هم ورته د درملنې لپاره د کلینکونو په جوړولو ډېره بودجه ځانګړې کړې ده.

## انسان او اروا‌پوهنه

اروا‌پوهنه هغه پوهه ده، چې د انسان چلن څېړي ؛ البته هغو هڅو ته یې ډېر پام دی، چې د انګېزو پر وړاندې غبرګون وي.
پر ((غبرګون)) او ((محرک)) د رڼاوي لپاره مو لاندې مثال ته پام را اړوم.
څوک چې راسره بد کوي؛ نو یو له دې غبرګونو ښیو:
۱_ پر وړاندې یې ورته کار کوو.
۲_خپله غوسه سړوو او غلي کېږو.
۳_نېکي ورسره کوو.
په دې مثال کې د هغه سړي بد چلن ((محرک)) دی او د کړنو پر وړاندې یې زموږ چوپتیا، احسان او ورته عمل ته ((غبرګون)) وایي.

د انسان هر غبرګون د وجود د دوو اړخونو پايله يې ده يو يې "پيژندګلويز" اړخ دی؛ لکه فکر، تخيل او حافظه او بل يې "عا طفي" اړخ دی؛ لکه اراده، لېوالتيا او بوږ[1].

## ديني زده کړې او ارواپوهنه

د عقل او شهوت ترمنځ په مبارزه کې، د انسان د عقلاني اړخ د ودې لامل، پر الله ايمان او دا باور، چې انسان پر ځمکه د الله ځايناستی دی. هماغه شهوت، چې د "قابيل"، "فرعون"، "نرون" او "هيټلر" په څېر وګړيو لاسبری شو، چې تر وسه خلک پرې لعنتونه وايي. په دې اړه رسول الله [2]وايي: ((الله پرښتې له نړه عقله او څاروي له نړه شهوته پيدا کړل؛ خو د انسان په پيداېښت کې يې عقل او شهوت سره ګډ کړل؛ نو د چاچې عقل پر شهوت برلای شو؛ نو تر پرښتوو غوره او د چاچې شهوت پر عقل لاسبر شو؛ نو تر څاروي هم بدتر دی.))

## وراثت او چاپېريال

په دې برخه کې به د ارواپوهنې دوو اړوندو مسلو ته اشاره وکړو:

۱ـ هر انسان ځاني وړتيا او ځواک لري، چې په ځانګړي شرايطو کې فعليت ته رسي.

۲ـانسان پر هغو استعدادونو سربېره، له کورنۍ، چاپېريال او ټولنې، يو لړ تجربې زده کوي.

د پورته دوو نظرياتو په رڼا کې، د اسلام د پېغمبر تر ټولو ستر برى به دا وي، چې د کعبې له چوپړيالانو شي يا داچې د قريشو تر ببرغ لاندې د عربو قبايل راغونډ کړي او چارواکی شي؛ خو چې آنحضرت پېغمبر شو؛ نو د جاهليت ټول دودونه يې له منځه يووړل او پرځای يې اسلامي دودونه راوړل او خلکو هم پرې ايمان راووړ او جاهلي دود يې پر پرمختللي دود واړاوه.

ځينې نظريات، د چاپېريال اغېز ارواپوهنيز اصل ګڼي او ځينې عالمان ترې نټه کوي او ځينو نورو عالمانو له دې دوو نظرونو يو بل نظر را ايستی؛ لکه د "ډاروين" نظر او د"پاولوف" د"شرطي انعکاس" نظريه، چې د تاريخي "ماټرياليسم" پر بنسټ ولاړه ده.

---

[1] دکتر محمود بستاني؛ کتاب الاسلام و علم النفس

[2] (وسايل: ۱۹۰ باب)

## اسلام او د ارواپوهنې آرونه

مادي ارواپوهان، د حقيقت او رښتيا له بهيره کاږه شوي او له ځان سره يې خپل لارويان هم دې کندې ته ورگوزار کړي. هغوی د تېري، پر نورو واکمنې او لوړتيا غوښتنې، د انسان اړتياوې گڼلې، چې ورته د رسېدو لپاره، له هرې شونې لارې کار اخلي او پر همدې بنسټ يې ظالمانو ته د لوټ او وران کارۍ مخه پرانستې ده؛ خو اسلام دا ټولې غوښتنې کرکجنې بللي، چې د توارث او د بشري ټولنو له سمو عاداتو يې سرچينه نه ده اخستې او درملنې ته يې پر قرآن او نبوي سنتو عمل وړانديز کړی دی.

دلته د مادي ارواپوهنې له مخې، د انسان ځينې غوښتنې څېړو او اسلامي ليد توگه هم ورسره جوخت راولو:

## ټولنيز ملاتړ او الهي ملاتړ

ټولنيز ملاتړ ته اړتيا، د بشر تر ټولو لومړۍ اړتيا ده، تردې چې ډېر ارواپوهان يې د ژوند د طبيعي اړتياوو؛ لکه خوړو او خوب په لړ کې شمېري.

اسلام يې هم په انسان کې ټولنيز ملاتړ ته لېوالتيا په رسميت پېژندلې او ټينگار پرې کوي؛ خو په دې باب د مادي او اسلامي فکر توپير په دې کې دی، چې قرآن کريم، الله د انسان د ملاتړ سرچينه ښيي او ددې حقيقت بيانوونکی دی، چې انسان د خپلې گټې او تاوان خاوند نه دی او د مړينې، ژوند او د قيامت پر ورځ د را ژونديتوب په اړه واک نه لري. رسول الله (ص) خلکو ته وويل: ((که په تاسې کې څوک له خدايه څه وغواړي نو له ټولو خلکو دې خپله هيله پرې کړي او بې له خدايه دې بل ته هيلمن نه وي، چې الله يې غوښتنه پوره کړي.[1]))

اوس چې د اسلامي ټولنيز ملاتړ پر مفهوم پوه شو؛ نو ښه به وي پر مهمو بنسټونو او سريزو يې هم رڼا واچوو:

د اسلامي ټولنيز ملاتړ، يو تر ټولو مهم بنسټ، د نيت او موخې سپېڅلتيا ده ؛البته ټولو ښوونځيو انسان راهڅولی، چې بايد موخه ولري او د ارواپوهانو کلکه سپارښتنه ده، چې په چارو کې کې بري ته موخه ټاکل په کار دي، چې ژوند مو سمون، معقوله مانا او حرکت پيدا کړي او هڅه يې دوام ومومي او وايي:

---

[1] اصول کافي: ۲ټوک ((د خلکو د بې نيازۍ باب)) ۲ حديث.

((د موخې نه درلودل او يا يې ناځرګندېدل، انسان پر ژوند بدګومانوي او ژوند له خپګان او سترړيا ډکوي.))

اسلام ژوند او انساني هويت، د الله پر عبادت؛ يعنې پر څمکه د الله د ځايناستي د مفهوم پر پلي کېدو سره تړي. پردې مانا چې انسان دنده لري، د اسماني احکامو له مخې، د الله عبادت وکړي.

د موخې په ټاکنه او ورته په پام کې د مادي انسان او مسلمان توپير دادی، چې که مادي انسان خپلې موخې ته و نه رسېد؛ نو خپګان پرې راځي او پوچي او بې ارزښتي ننګېري او ډېری وخت له خپلو همځوليو په غچ اخستو او جنايتو لاس پورې کوي؛ خو مسلمان تل د خپلې دندې سر ته رسولو ته چمتو وي او که خپلې موخې ته و نه رسېد؛ نو معذور دی او اجر يې له الله سره خوندي دی. مسلمان که الهي موخه ولري؛ نو له ډګره نه تښتي، موخې ته ورسي که نه.

رسول الله (ص) وايي: ((د کړنو ارزښت، د کوونکي په نيت پورې اړه لري.[1]))

---

[1] (وسايل : ٥باب، ٦ حديث)

يعنې دا مهمه ده، چې د انسان موخه الهي وي، که موخې ته ورسېد او که نه، چې په داسې حالاتو کې، که د انسان نيت ښه وي؛ خو موخې ته و نه رسي نو الله په لورنې خپل بنده ته تسل ورکوي چې: ((د مؤمن نيت تر کړويې غوره دی.[1])) [2]

**الهي ارزښت او ټولنيز ارزښت**

د الهي ارزښت اصطلاح مو د مادي ارواپوهانو د ټولنيز ارزښت پر وړاندې رامنځته کړه. له ټولنيز ارزښته مراد دادی، چې د هر انسان روح دې ته اړ دی، چې نور ورته په درنه سترګه وګوري او شخصيت يې په رسميت وپېژني.

اروا‌پوهان وايي: ((د هر انسان ټولنيز ارزښت په دې پورې اړه لري، چې نورو ته څومره ارزښت ورکوي او پرې لورېږي))

[1] کېدای شي ننني پر مخ تللې نړۍ انسان ته ډېر څه ورکړي وي؛ خو په څنګ کې يې ډېر داسې څيزونه ترې اخستي، چې نه شتون يې پر انسان ژوند تريخ کړی او هغه پر ډول ډول عقلي ناروغيو د انسان اخته کېدل دي، چې د عقلي عصبي ناروغيو د متخصصينو د وينا له مخې، څه چې ننني انسانان په تېره ځوانان کړوي، په ژوند کې د ارزښتناکې موخې نه درلودل دي؛ يعنې ژوند ورته يوازې خوند اخستل ښوول شوي، چې د دنيا په يو خوند هم انسان نه مړېږي، چې په پای کې د ژوند پوچوالي او بالاخره ځان وژنې ته رسي، چې ددې برخې متخصصين يې دې ته اړ کړل، چې په دې اړه په څېړنو لاس پورې کړي، چې له دې څېړنو، په زړه پورې او د وينا له مخې يې حېرانوونکې پايلې درلودې، چې ددې کتاب تر حوصلې لرې دي؛ خو څو ته يې اشاره کوو؛ د آلزايمر ناروغي په هغوی کې خورا لږه ده، چې عبادت يې کاوه او پردې سربېره، په نويو اروا‌پوهنيزو مقالو کې پردې خبره خورا ټينګار کېږي، چې انسان څو ډوله امنيت لري؛ لکه جسمي، روحي او ټولنيز او هغه امنيت، چې دا امنيتونه تنظيم او رانغاړي او تر ټولو لوړ دی ((معنوي امنيت)) دی، چې "عقلي عصبي" متخصصين غواړي د ننني ناکراره بشر د ارامۍ لپاره په خلکو کې معنوي امنيت غښتلی کړي او وايي، چې د هغو وګړيو عمر د نورو په پرتله اوږد دی، چې په ژوند کې معنوياتو ته يې پام وي او موخه ولري او څومره، چې دا معنويات او موخه سپېڅلې وي؛ نو هومره د انسان ژوند خړوب او له خوشحالۍ ډک وي او نن هم، چې د دنيا د سترو اراوا‌پوهانو؛ لکه "وين ډبليو ډاير"، "اسپنسر جانسون" او "جي پي واسواني" کتابونه پر همدې موضوع کښل شوي، چې په ټولو کې په ژوند کې د بريو او خوشحاليو د لاس ته راوړو لپاره پر ايمان او معنوياتو خورا ټينګار شوی دی، چې بېلګه يې د وين ډبليو ډاير د " There is a spiritual solution to every problem کتاب دی چې تر هغو زرونو کتابو يوه بېلګه ده، چې هڅه کوي د مادي انسان مخه معنوياتو ته راواړوي. ]

[2] (د تېرې سرچينې، څلورم حديث)

رسول الله (ص) [1]څوارلس پېړۍ مخکې ویلي وو: ((د مؤمن له نښو یوه داده، چې له خلکو سره مینه وکړي او خلک هم ورسره مینه وکړي.))
لوراند الله هم خپل پیغمبر ته چې په دې باب بېلګه و، وایي: ((دا الهي پېرزوینه او رحمت و، چې ته یې نرم خویه او لوراند کړې او که توند خویه او نالوراند وې؛ نو خلک به درنه خواره شوي وای [2].))
دا آیت الله ته د رسول الله لورنه منسوبوي، چې تر هغو لورنو توپیر شي، چې د وګړنیو غوښتنو یا د مادي لورېنو راماتولو ته وي. بلخوا اسلام له خلکو سره دوستي او دښمني هله روا ګڼي، چې الله او د احکامو پلې کولو لپاره وي یا داچې له الهي احکامو سره په ټکر کې نه وي.
پر نورو د واکمنۍ، لاسبرۍ او ذلت په اړه، اسلامي فکر د مادي عالمانو له نظر سره توپیر لري؛ څکه دوی د((ماکیاول)) او ((فروید)) په افکارو پسې ځي او انګېري:
((په هره وزله چې وي، موخې ته ورسېږه)) یا ((دومره دروغ ووایه، چې خلک دې پر خبره باور وکړي.))
حال دا رسول الله، روحي رنځونو؛ لکه ځان ټیټ ګڼل، ځان ګناهګار ګڼل او له روحي دباوونو ژغورلو ته یې د عبادتونو سپارښتنه کړې ده او د دوه اړخیز ټولنیز مسئوولیت او مرستې پر بنسټ یې ټولنه جوړه کړه او په عقیدتي سپارښتنو د بنیادم روحیات اندول ته رابولي، چې لاندې احادیث یې بېلګه دي: ((شیطان چټل او پلیت دی او له مودو راهیسې یې کړ چارې عادت شوي دي.))، ((که په یو چار کې بې ځایه شکمن شوئ؛ نو و یې کړئ.))، ((پام مو پر بد پال خراب نه کړئ او خپلې چارې پر مخ بوځئ. [3]))

### امنیتي اړتیاوې

ارواپوهانو دا اړتیا د انګېزو او د انسان د اړتیاوو په لیکه کې شمېرلې ده، چې په درېو برخو کې د انځور وړ ده: روحي امنیت، ژوند او راتلونکي امنیت ته هیله او په اوسني ژوندکې امنیت.

---

[1] (وسایل: باب ۱۰۵- ۲۵حدیث)
[2] (آل عمران: ۱۵۹)
[3] وګورئ: وسائل: ۱٦ باب، ۲ حدیث او همداراز: تحف العقول: ۳۵ مخ

اسلام دا ټول امنيتونه اړين ګڼلي خو مفهوم يې ورته سم کړی دی. اسلام د امنيت سرچينه هغه الله ګڼي، چې له هر څه خبر دی. رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم[1] وايي: ((مسلمانان سره ورونه دي او په انساني او ټولنيزو حقوقو کې مساوي دي او تر ټولو بېوزله پکې پناه ورکړای شي او د دښمن پر وړاندې يو لاس دي.))

د اسلام تلپاتې دين، د انسانانو دوستي او دښمني او نور اړخيز مسايل، د حلالو او حرامو په کړلارې تنظيم کړي دي.

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم[2]وايي: ((څوک چې حرام وخوري نو تر څلوېښت شپو يې لمونځ نه قبلېږي.)) ((څوک چې پر نامحرمه ښځه لاسبر شو او د الله له وېرې يې پرېږدي؛ نو الله به پرې د دوزخ اور حرام کړي او د قيامت له سترې وېرې به يې وساتي او جنتي به يې کړي.)[3])

د اسلام دين هغه حلال ګڼي، چې ذاتاً پاک وي او له سمو لارو لاس ته راغلي وي او نورو او ځان ته د ضرر لامل نه شي[4].

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وايي: ((د مسلمان مال پر بل مسلمان هله حلال دی، چې په خوښه يې وي.))

---

[1] (بحار: ۱۰۰ توک ٤٦مخ)

[2] (کنزالعمال: ۹۲٦٦ حديث)

[3] [وګورئ: وسايل: ۱۱- ۱۹۹]

[4] د رسول الله د همدې خبرې په تصديق بايد ووايم چې: ټول الهي احکام هم داسې تنظيم شوي، چې انسان ته ګټه لري او ان نورو ته پوټي تاوان هم نه لري، ددې کتاب د ژباړې پر مهال د "خوګ انفلوانزا" افغانستان نړۍ او وارخطا کړې ده او په ميليونو ډالر لګوي، چې دپراختيامخه يې ونيسي؛ څکه دا ناروغي نورو ته لېږدېدونکې ده؛ نو ګرانو!د رسول الله په احاديثوکې د"خوک" د غوښې پر حراموالي او نه خوړو يې ټينګار شوی او هغوی چې تل له الهي احکامو سرغړونې ته مخونې راوړي ويل يې، چې نن طب پر مخ تللی او کوم "پرازيټ" چې د "خوګ" په بدن کې و؛ نن درمل لري؛ ښه هغه پرازيت ته خو مو درمل راوايستل؛ خو له دې انفلونزا سره به څه کوئ. خبره دا نه ده؛ بلکې په بل څه کې ده او هغه هم "نوی علمي ځېل" دی، چې نن د علم په نامه روان دی؛ نو که د نړۍ روغتيايي کارکوونکي په واقعي مانا غواړي په نړۍ کې له ناوړه رنځونو مخنيوی وکړي؛ نو د زړه له کومې دې راشي او د اسلام روغتيايي احکام دې ولولي او منشور دې ترې جوړ کړي، چې البته دا خبره يوازې د الهي احکامو طبي اړخ و، دا چې نورې به څومره ګټې لري؛ د هرعلم متخصصين پرې پوهېږي. ]

حرام هغه دي، چې ذاتاً پليت او چټل وي او يا د نورو پر حقوقو د تېري له لارې لاس ته راغلي وي؛ لکه هغه مال، چې د غلا، احتکار، خيانت او په راکړو ورکړو کې په چل ول لاس ته راغلی وي.

### د مالکيت اړتيا

مالکيت اړينه اړتيا ده، چې مادي ارواپوهانو هم د انسان اړتيا ګڼلې خو د اسلام له نظره، مالکيت هم د نورو وزلو په څېر، د ژوند د اړتياوو د پوره کولو هومره مشروعيت لري او د شتمنۍ ګټلو لپاره زيار عبادت ګڼل شوی دی.

په روايت [1]کې راغلي: ((څوک به تر هغه مړ نه شي، چې خپله روزي يې پای ته نه وي رسولې نو روزي له حلالو لارو لاس ته راوړئ او تقوا جامه کړئ.))

### له ښکلا سره مينه

اروپوهانو دا اړتيا د انسان د اړتياوو د لړ په پای کې راوړې. اسلام هم دې اړتيا ته د نورو اړتياوو په څېر ارزښت ورکړی او ورته لاس رسي يې عبادت ګڼلی دی.

قرآن کريم د اعراف د سورت په ۳۲ آيت کې رسول الله (ص) ته وايي:

((قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللّهِ الَّتِيَ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالْطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِي لِلَّذِينَ آمَنُواْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ = (پيغمبره!) ووايه: ((چا الهي ښکلا، چې خپلو بندګانوته يې رايستلې ده او پاکه روزي، حرامه کړې ده ؟!)) (ورته) ووايه: ((دا په دنيوي ژوند کې مؤمنانو ته دي (که څه نور په کې برخه لري؛ خو) په قيامت کې به يوازې مؤمنانو ته وي.)) په دې توګه موږ (خپلې) نښې پوهانوته ورښيو.))

رسول الله (ص) يوه ورځ يو صحابي وراته، چې ظاهري ښکلا ته يې پام نه کاوه او ورته يې وويل: ((له الهي نعمتونو ګټه او خوند اخستل د دين يوه برخه ده.)[2])

همداراز په تېره سرچينه کې حديث دی چې: ((الله ښکلی دی او ښکلا خوښوي.))

قرآن مجيد په "نحل" سورت کې طبيعي او حيواني شتمنيو ته پر پاملرنې ټينګار کړی دی[3].

---

[1] (وسايل: ۷باب: ۲حديث)

[2] [ وګورئ: وسايل: لومړی باب، ۵حديث، د جامو احکام ]

[3] په دې باب وګورئ: سيدقطب؛ افرينش هنري قرآن]

**د ودې پړاونه**

ننني اروپوهان د ودې هره پړاو د میراثي او چاپېریالي لاملونو اغېز ګڼي، چې په دې کې یې د "ډاروین" او "فروید" نظریاتو ته ډېر پام اړولی او نه دیني او اخلاقي اړخونو ته خو په اسلام کې د انسان د ودې ټولو پړاوونو ته پام شوی دی:

۱_د کورودانې (ژوند ملګرې) د ټاکنې پړاو.

۲_د څاڅکي د تړلو پړاو.

۳_ د دوه ځانی پېر.

٤_ د زیږون وخت.

٥_د شېدو ورکولو وخت.

الف_ د کورودانې (ژوند ملګرې) ټاکنه:

اسلامي قانون، مسلمانان له خیانت کارې او تېري کوونکې کورنۍ یا ټبر سره له واده او خپلوۍ ژغورلي دي او ځرګنده کړې یې ده، د چاچې په ختمه کې خیانت اغېزل شوی وي؛ نو پر اولاد یې هم منفي او ناوړه اغېز لري او سپارښتنه یې کړې، چې[1]: ((له ایمانوالو او نېکو ښځو سره واده وکړئ؛ ځکه اصل او ریښې یې ستاسې اولاد ته هم لېږدي)): ((د اولادونو ماماګان مو ستاسې د مېرمن په څېر وي))؛ یعنې د ماماګانو ځانګړنې خورینو او خورزو ته لېږدي.[2]

دا مطلب، چې اسلام پرې هغه مهال ټینګار کړی و، نن د طبي علومو د "جنټیک" د برخې مهمه برخه ده، چې د "غالب" او "مغلوب" صفت تر عنوان لاندې پرې خورا زیاتې څېړنې شوې، چې همدا د صفاتو پر لېږد ټینګار کوي.)

ب_ د څاڅکي تړل:

د اسلام دین د څاڅکي د تړلو د وخت لپاره ځانګړې سپارښتنې لري، چې د مور او کوشني د روحي او بدني روغتیا لامل دي؛ لکه په میاشتینۍ کې له نږدې والي ژغورل شوي یو، له غسل مخکې احتلام مکروه دی. له کوروالي مخکې ((بسم الله)) ویل او داسې نور. . .

ت_ دوه ځاني (امیندواري):

---

[1] [وسایل: ۸۳ باب: ٦ حدیث]

[2] د همدې سرچینې ۳۳باب، لومړی حدیث

دا د انسان د ژوند مهم پړاو دی، که پکې ديني لارښوونې پلي شي؛ نو د کهول د سمون لامل به شي. اسلام دې پړاو ته ساده؛ خو ګټور احکام لري. د ساري په توګه: د کجورو او نشپاتي په څېر مېوې دې وخوړل شي، له خوړو مخکې دې ((بسم الله)) وويل شي او د قرآن ويلو او دعا کولو پرمهال دې لاسونه پر نس کېښوول شي او. . . .

ټ_زيږون:

رسول الله ښځو ته سپارښتنه کړې، چې تر لنګوال روسته کجورې وخوري؛ ځکه د شېدو له لارې پر کوشنی هم اغېز لري او کوشنی يې زغمناک وي.

حديث داسې دی: ((مېرمن، چې تر لنګوال روسته کجورې خوري نو اولاد يې که هلک وي يا جلۍ، زغمناک وي. [1]))

په ځلوېښتۍ کې يا د نفاس پرمهال، اسلام له ښځې د ديني دندو د اجرا پېتې پورته کړی، چې پام يې ځان او کوشنی ته وي. [2]

ث_ دشيدو ورکولو وخت:

اسلام ټينګار کوي، چې مور دې هرومرو خپل کوشنی ته خپلې شيدې ورکړي او که په خپله شيدې نه لري؛ نو بله ښځه دې دا کار وکړي[3].

---

[1] (وګورئ: وسايل: ۸۳ باب، ٦ حديث)

[2] په دې پېر کې، چې د "نفاس" پېر هم ورته ويل کېږي، هغه بدلونونه بېرته خپل عادي حالت ته راګرځي، چې د دوه ځانۍ پر مهال د مور په بدن کې راغلي وي. په لنډو ټکيو وايم، چې د دوه ځانۍ په پېر کې له سره تر پښو، د بدن په ټولو غړيو کې بدلونونه راځي، چې ددې بدلونو عادي حالت ته راګرځېدل ٤۰ ورځې وخت غواړي، چې طب هم دا پېر ٤۰ ورځې ښوولې، چې لوستونکي دې د پوره پوهېدو لپاره د "تفورث او ويليامز" نسائي ولادي کتاب ولولي. )

[3] طب د مور د شيدو په اړه وايي: په ساعت کې يو ځل بايد ماشوم ته شيدې ورکړل شي؛ ځکه په دې وخت کې د ماشوم وده ډېره چټکه وي او خدای هم د مور په بدن کې شيدې د ماشوم د بدن د اړتياوو له مخې برابروي او بايد وويل شي د مور شيدې هره شېبه له بلې شېبې توپير لري؛ ځکه د ماشوم د اړتياوو له مخې، د مور په شيدو کې هم بدلون راځي او همداسې د مور شيدې په خپله "انتي بيوتيکي"ځانګړنې لري او کوم ماشوم، چې د مور شيدې خوړلې وي؛ نو په راتلونکي کې يې هوش تر هغو ماشومانو خورا زيات وي، چې د مور شيدې يې نه وي خوړلې او همداسې هغه ماشوم، چې د مور شيدې خوري، د ډول ډول ناروغيو پر وړاندې يې مقاومت هم ډېر وي او داسې په زرګونو نورې ګټې، چې په طب کې د کوشنيانو په کتابو کې په تفصيل راغلي او د يادونې وړ ده، چې په طب کې ماشوم ته د شيدو ورکولو موده هومره ښوول شوې، چې اسلام ويلې؛ ځکه تر دې مودې وروسته، د ماشوم بدن دا وړتيا پيدا کوي، چې کومو موادو ته اړتيا لري، په

رسول الله (ص) [1]ويلي: ((د مور د شيدو هومره کوشنی ته هېڅ خواړه هم غوره نه دي)) او که د کوشنی خپلې مور شيدې نه درلودې او که بله ښځه دې کار ته وګومارل شي؛ نو د بلې ښځې د روح او جسم پر پاکوالي ټينګار شوی او [2]وايي: ((پام وکړئ! چې څوک مو کوشنی ته شيدې ورکوي؛ ځکه کوشنی له همدې شيدو سره وده کوي او ځوانۍ ته رسي))

خپله يې د کولمو له لارې جذب کړي او تر هغې مودې وروسته د مور شيدې هم هغه ګټه نه لري، چې په دې ۲۱ مياشتو کې يې درلوده. په همدې لړ کې بايد ووايم چې په لويديځ کې به ډېرو ميندو خپلو ماشومانو ته خپلې شيدې نه ورکولې، چې ښايست يې پرې خراب شي، چې دې کار د ټولنې ماشومان له بېلابېلو روغتيايي او عقلي ګواښونو سره مخ کړل؛ خو چې کله د کوشنيانو متخصصينو پلټنې پيل کړې او د مور د شيدو په ارزښت وپوهېدل؛ نو په نړۍ کې يې ماشوم ته د مور د شيدو د ورکولو د دودولو پراخ تبليغات پيل کړل، چې يوه ورځ يې د مور د شيدونړيواله ورځ ونوموله؛ نو زه هغه متل وايم چې ((ځي ځي؛ نو ابازو ته به راځي))؛ نو نړيوالو! راشئ او دومره لګښت مه کوئ او د اسلام روغتيايي احکامو ته غاړه کېږدئ او که نه همدا لړۍ به روانه وي، چې په ټولنه کې به رنځوري را پيداکېږي او تاسې به بيا پلټنې پيلوئ او تر څو يې پايلو ته رسئ؛ نو په ميلونو انسان به هماغه رنځ وژلي وي، چې له دې رنځونو د ژغورلو لار اسلام په ساده ټکيو ويلې ده؛ نو ګورو، چې د اسلام د دين ټولې سپارښتنې د انسان د بدن د شرايطو له مخې، د هغه خدای له لوري تنظيم شوي، چې مونږ يې پيدا کړي يو او هغه دی، چې زمونږ د بدن او روح له اړتياوو، تر هر چا ښه خبر دی او زه خو وايم، چې الهي احکام د انسان لپاره داسې دي؛ لکه د مور شيدې.
د ياودونې وړه ده، چې د ماشوم د زوکړې د ړومبيو ورځو شيدې، ډېرې ميندې ماشوم ته نه ورکوي او تويوي يې، چې داکار ناسم دی؛ ځکه هماغه ټينګې شيدې (وررړه يا کنډ) د ماشوم د ژوند د ړومبۍ ورځې د اړتيا پوره کولو ته جوړې شوي، چې بل څيز يې نه شي پوره کولای او په طب کې ددې شيدو په ورکولو خورا ټينګار شوی دی او بله دا چې تر شپږو مياشتو پورې، ماشوم ته بې د مور له شيدو بل هېڅ هم مه ورکوئ؛ ځکه د ماشوم د هاضمې غونډال يې د هضمولو وس نه لري او کله کله خو ليدل کېږي، چې ځينې ((نياګانې)) ماشوم ته "چمبرخيال" او داسې نور مواد ورکوي او وايي زمونږ ډاکټري تر اوسنيو ډاکترانو غوره ده، چې ددې خلکو دا کار له ماشوم سره يو ډول زياتی دی، چې کول دی په کار. ]

[1] (وسايل؛ ۸۷باب ۵ حديث)

[2] (وسايل ۸۷ باب لومړی حديث)

**ارواييي پالنه په دوو پړاوونو کې کېږي:**

الف_بلوغ ته تر رسېدو مخکې.

ب_د بلوغ وخت او ترې روسته.

اسلام(الف) پړاو ته کوم مکلفيت نه دی وضع کړی، چې اُخروي بدله ولري؛ خو تر بلوغ روسته پالنې ته يې مکلفيت وضع کړی، چې اُخروي سزا او بدله لري.

يو مسلمان اروا پوه[1] وايي: ((هلک چې بلوغ ته نژدې وي د کوشنيتوب د پړاو هومره زده کړې ته چمتووالی لري او د روزنې د چارو مسئوولين دنده لري، د کوشنيتوب په پړاو کې، چې د چا کوم خوی او چلن سم شوی نه وي په دې پړاو کې دې يې ورسم کړي.))

[1] ډاکټر محمود البستاني په؛ الاسلام و علم النفس، ۱۰۰ مخ کې

# نبوي سيرت او وټيزه وده

"کارل مارکس" د اسلام د پيغمبر په اړه وايي:
((دا پيغمبر، چې په خپل رسالت يې د پوهې، رڼا او معرفت زمانه پيل کړه؛ نو پکار ده وېناوې او کړه وړه يې په علمي توګه تدوين شي. هغه له خپلو ښوونو سره دنده درلوده، چې هغه بې عقله مطالب، وهمونه او خرافات له منځه يوسي، چې ناپوهو دوستانو او پوهو دښمنانو پر تېرو اديانو ورزيات کړي وو.[1]))
((هغه شريعت چې "محمد" راووړ، د هغې چينې مثال لري، چې د پلټونکيو اړتياوو ته يې ځواب ورکاوه. دداسې ټولنې بنسټ يې کېښود، چې هر چا به د ضوابطو له مخې، له بيت الماله خپله برخه اخسته او دين يې له بشريت سره ستره مرسته وه[2]))

## کمونزم او پانګوالی ته لنډه کتنه

داچې "سوسيالزم" او "کمونزم" ژر ماتې وخوړه او نن په پانګوالي ټولنه کې د ماتې درز راغلی دليل يې ظلم او د بشر له فطري اړتياوو سره يې نه سمون وو؛ ځکه لومړی ډلې د ظلم او وينې تويونې له لارې غوښتل، خپل ښوونځی پر خلکو وتپي او د پاټکيو له منځه وړو په دروغجن شعار يې د "ګوندي واکمنو" او په هغوی پورې له اړوندو يې نوې طبقه رامنځ ته کړه او عمومي مالونه يې لوټ کړل. هغوی انسان او ازادي يې، د عمومي مالکيت له لامله، تر پښو لاندې کړل او په زور يې پرخلکو د اوتو بوتو نظريات وتپل.
"پانګوالی" هم د "ډيموکراسی" له شعار سره ميدان ته راودانګل خو په عمل کې يې بې له جګړې، ښکېلاک او د هېوادو د ملي شتمنيو له لوټ او د ښکېلاکګرانو د سوداګريزو توکيو له پلورلو بله هېڅ پايله نه درلوده.
د پانګوالی تئوريسن "تانوفردي" بې قيد و شرط مالکيت روا وباله او ملي شتمنی يې د پانګوالو په واک کې کړې.

---

[1] (وګورئ: راس المال (کاپيټال)؛ ٤٧_٤٨ مخونه)
[2] (المقتطف مجله، مصر چاپ، ١٨٧٢ ز ګڼې)

دوی وايي: ((د خلکو د ورځ پر ورځ زياتېدونکي فقر علت دادی، چې د نړۍ شتمنۍ محدودې او د بشر غوښتنې نامحدودې او ورځ پر ورځ مخ په زياتېدو دي، چې شته منابع نه شي کړای، د انسان ټولې اړتياوې پوره کړي؛ نو د همدې لړو سرچينو د لاس ته راوړو لپاره شخړه رامنځ ته کېږي او ستونزې هم ورځ پر ورځ زياتېږي.))
هغوی په دې استدلال د کمزوريو ملتونو زېښناک ته مخوي (توجيه کوي) او کمزوري ملتونه بېوزله او نهيلي ساتي.
حقيقت خو دادی، چې پانگوال ان خپلو ملتونو ته هم دروغ وايي او د خپلو سيالانو په له منځه وړو او گواښ سره د حکومتو پر سياستو اغېز کوي، چې دا لالهاندي يې له اسلامه د لرېتوب او ورسره د دښمنۍ پايله ده او همدا دښمني ددې لامل شوې، چې اسلامي اقتصاد له مخې لرې شي او نوی جاهليت رامنځ ته شي[1].

## وټيزې پراختيا ته د رسېدو لپاره د رسول الله (ص) کړلارې

رسول الله (ص) په دنيا او اخرت کې د انسان سوکالۍ ته د روغ رمټ اقتصاد بنسټ کېښود او د اقتصادي ستونزو هواري ته يې پر دوو اصلونو ډډه وکړه: رورولي او بېلگه سازي.
د رورولۍ له ترونه مراد دادی، چې يو له بل سره مينه رامنځ ته شي او ورونه يو د بل د ستونزو په هواري کې مرسته وکړي، چې په مدينه کې د رسول الله (ص) لومړی گام همدا و. د رسول الله دا کړلار د انساني اړيکو تر ټولو غوره ډاډمن چار و، چې د ټولنې د روغ رمټ ساتنې لامل و او په زړونو کې يې الفت پيدا کړ او پردې سربېره، اسلام، اسلامي امت، تقوا، صالح عمل، ښښنې، عدالت، مرستې، پر ژمنې وفا، امانتوالۍ او "پر نېکيو امر او له بديو منع" ته را بلل او په راکړه ورکړه کې يې له ډنډې وهلو ژغوره او د زکوة، خمس، ډول ډول خيراتونو، کفارو او پر مسلمانانو د فرضي نفقو له لارې يې د شتمنو په لاس کې د شتمنۍ له زېرمه کېدو او د بېوزلو د بېچاره کېدو مخنيوی کړی دی. په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وايي: ((په دوستۍ، شفقت او لورنې کې د مؤمنانو مثالونه د انسان د بدن په څېر دی، چې که يو غړی رنځور وي؛ نو ټول بدن ورسره رنځور وي.))

---

[1] (د لا پوهېدو لپاره د شهيد"باقر صدر" د ((الاسلام يقود الحيات)) او ((اقتصادنا)) آثار ولولئ)

بې بېلګې رورولي بې ماڼو بېرې ته ورته ده او د بېلګې شتون د ټولنيزو او اقتصادي ستونزو هواري ته اړينه ده، چې ځمکه پرې اباده شي او له کانو غوره ګټه واخستل شي. شک نشته چې د اقتصادي ستونزو هواري او د اقتصادي کړلارو اوډون ته د رسول الله کړلارې تر ټولو غوره بېلګه دي. هغه مبارک دا دنده په بشري ځواک او شونتياوو ترسره کړه نه په اعجاز؛ ځکه معجزې يې د نبوت ثابتولو ته کارولې او د ښو اخلاقو، زغم، د احکامو په پلي کولو، اقتصادي او ټولنيزو کړلارو کې يې د ستر انسان په څېر عمل کاوه.

رسول الله وټيزې ستونزې د انسانانو د ايماني او اخلاقي کمزورۍ زيږنده بلله. هماغه ښتن، چې انسان يې پيدا کړ؛ نو د خپل ذات او صفاتو د اثبات لپاره يې د هستۍ ټول منابع او شونتياوې د انسان په واک کې کړل او اړتياوې يې ورپوره کړې؛ خو انسان په ظلم او له الهي رسولانو سره د مخالفت له لارې او له خپلو بې لارې کوونکيو ځاني غوښتنو په لارۍ، هغه فرصتونه له منځه يووړل، چې ښتن ورکړي وو. په دې اړه قرآن کريم وايي:

((او په رښتيا انسان ډېر ظالم او ناشکره دی[1])) ددې آيت په رڼا کې، ظلم او ناشکري، د انساني ټولنو د اقتصادي ستونزو بنسټيز لامل دی؛ ځکه چې ظلم او بې عدالتي د شتمنۍ د ناوړه وېش لاملونه دي او ناشکري هم له طبيعي سرچينو د ناوړګټنې لامل دی.

رسول الله (ص) ددې دوو ستونزمنو ځانګړنو درملنې ته، داسې اقتصادي ګام پورته کړ، چې د ظالمو او سودخورو په لاسو کې يې د شتمنۍ د زېرمه کېدو مخه ونيوه او د ظلم او بې عدالتۍ د ريښو د پرېکولو په موخه يې له ظالمانو سره په مبارزه لاس پورې کړ او توليد ته يې يو لړ احکام وضع کړل، چې د سستۍ، لټۍ او ناشکرۍ مخنيوی يې وکړ او همداسې د توليد د هڅونې او له طبيعته د ګټنې په موخه يې دا حکم وکړ: ((چاچې شړه ځمکه اباده کړه؛ نو د هغه به وي)) او "حيازت" او "تحجير" يې د مالکيت اسباب کړل.

پام وکړئ:

حيازت؛ يعنې د يو شي لاس ته راوړل يا تصرف؛ لکه له ځنګله مېوه راشکول او له اوبو د کبانو نيول.

تحجير؛ يعنې په بې خاونده ځمکه کې د تيږو بارې (چمبر) جوړول يا په نښه کول.

البته که څوک له ځمکې په ګټنه کې لټي وکړي او بې کښته يې پرېږدي؛ نو اسلامي واکمن حق لري ځمکه ترې بېرته واخلي.

---

[1] (ابراهيم: ٣٤)

## د اسلامي اقتصاد سترې ځانګړنې

د قرآن کريم او نبوي سنتو د احکامو تر څېړلو روسته او په اسلامي فقه کې د طبيعي سرچينو او عمومي شتمنۍ په احکامو کې تر تدبر روسته، ددې دين اقتصادي مباحثو ته څلور لاندې سرټکي لاس ته راوړو:

١_د طبيعي سرچينو لومړنۍ وېش.

٢_ توليد او د توليد شويو موادو څرنګه توزيع، چې په دې برخه کې له توليد او په اسلامي اقتصاد کې د ارزښت په اړه يې خبرې لرو.

٣_ په شتمنيو کې تصرف او په دې باب د لاندې مسلو په اړه کړېږو.

الف _سوداګري او ترې ګټه.

ب _ د ژوندنيو اړتياوو لپاره د شتمنۍ لګول.

٤_ د دولت عمومي دندې.

### د طبيعي سرچينو لومړنۍ وېش

طبيعي شتمنۍ پر دوو غټو برخو وېشل کېږي:

الف _د شتمنۍ طبيعي سرچينې؛ لکه ځمکه، کانونه، سمندرونه، غرونه او چينې.

ب_نورې طبيعي شتمنۍ، چې په ځمکه کې خپرې ورې دي؛ لکه راز راز څاروي، ونې، بوټي، تيرې او. . . چې حيازت او تصرف يې اقتصادي چار دی.

د رسول الله يوه ستره موخه دا وه، چې انسان ته سمه لار وښيي او په خصوصي مالکيت کې يې نيت پاک کړي او د ټولنې له عمومي ښېګړو سره سمون ورکړي؛ نوځکه يې وګړيو ته د طبيعي سرچينو د مالکيت اجازه نه ورکوله؛ بلکې عمومي يا دولتي زېرمې يې ګڼلې، چې چا پکې په ګټنه کې پر بل امتياز نه درلود.

د اوبو د سرچينو، د ځنګلو د لرګيو، د غرونو د قيمتي کاڼو او د ځناورو ښکار، زياتره وخت د احتکار لامليږي او په اقتصادي کار کې نه شمېرل کيږي؛ لکه څنګه چې د "حمی" له لارې د طبيعي شتمنيو پر سرچينو، د وګړيو ځانګړی حق روا نه دی.

[((حمی))؛ يعنې په زور د طبيعي سرچينو (؛ لکه غونډۍ او ځنګلونو) تصرف، چې نور ګټې ته پرې نه ږدي. ]

شهيد "محمد باقر صدر"[1] وايي: رسول الله (ص) د ((حمی)) اصل له اسلامي ټولنې لرې کړ او و يي ويل: ((حمی په الله او په استازي پورې يې ځانګړې دی او نور څوک يې حق نه لري))؛ ځکه ((حمی)) د "حيازت" احتکاري بڼه ده او د طبيعي سرچينو "حيازت" د "احتکار" يو ډول دی نه اقتصادي چار.

اسلام وګړيو ته يوازې ((احيا)) د حق د پيداښت لامل ګڼي؛ ځکه احيا د احتکار پرخلاف اقتصادي چار دی او څوک چې بېديا اباده او خړوب کړي؛ نو ځمکه يې احيا کړې او ګټې ته يې چمتو کړې ده.

که ژوندي کوونکي څه موده روسته دا چار پرېږدي؛ نو ځمکه شاړېږي او نښې يې له منځه ځي او بيا له وګړي، پر ځمکه د کار او د ګټنې اجازه اخستل کېږي.

تحجير، چې مخکې مو هم ورته اشاره وکړه، په بې خاونده ځمکه کې د تيږو (چمبر) څلور دېوالی ته ويل کېږي او هله ددې کار کوونکي ته د حق د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي، چې پکې د احيا چارې پيل کړي.

رسول الله (ص) "حتکار" حرام کړ او پر "محتکر" يې لعنت ووايه او د غله يا هغه په څېر يې وګاڼه، چې پر الله ايمان نه لري او و يې ويل: ((د الله د کتاب له مخې، هغه د ملحد په څېر دی، چې زموږ د مسلمانانو په بازار کې احتکار کو ي[2])) څوک چې مال د ګرانېدو لپاره ۴۰ ورځې احتکار کړي الله ترې بېزار دی[3]))

خوراکي توکي لېږند مواد دي او که لېږنده شتمني بې له زياره او يا شرعي لارو، بې له کارولو، د چا په واک کې شي؛ نو يوازې حيازت يې د مالکيت اثبات ته کافي نه دی او هغه به له عمومي مباحاتو او شتمنيو وي.

## توليد او وېش

اسلام توليد، وده او ډېروالی ددې خبرې په پامنيوي يې ستايي، چې انسان پر ځمکه د الله ځايناستی ګڼي نو هغه توليد مجاز ګڼي، چې له دې مقام سره په ټکر کې نه وي، چې په همدې ځای کې له نورو مادي ښوونځيو سره ستر اختلاف لري.

---

[1] د((الاسلام يقود الحياة)) په ۷۹ مخ کې

[2] (کنزالعمال: ۹۷۱ حديث))

[3] (بحار الانوار: ٦٢ټوک، ۲۹۲ مخ)

د پانګوالۍ موخه د توليد وده ده؛ خو د اسلام موخه د شتمنۍ راټولول نه دي؛ بلکې شتمني د خلکو د سوکالۍ، د ټولنيز عدالت پلي کولو او توحيدي ټولنې د جوړولو لپاره غواړي.
په دې اړه د اسلام او نورو ښوونځيو توپير په دې کې دی:
۱ـ د اسلام له نظره لازم دي، چې د توليد بنې او ترې لاس ته راغلې ټولنيزې اړيکې بې له انساني کرامت، طبيعي حقوقو او مانيزو ارزښتونو سره اړخ ولګوي؛ نوځکه په اسلام کې له ښځو او کوشنيانو، په کمه بيه کار اخستل روا نه دي، چې په پانګواله ټولنه کې دود دی او پر ټولنه منفي اغېز لري.
۲ـ په اسلامي اقتصاد کې، د پانګوالۍ پرخلاف، توليد يوازې د بازار د غوښتنې تابع نه دی؛ بلکې هڅه کېږي، د خلکو ژوندنۍ اړتياوې، په پراخه کچه توليد شي او په دې اړه د بازار غوښتنې او شرايطو ته پام نه لري.
رسول الله (ص) وويل: ((سوداګرو! سر مو را پورته کړئ! لار مو روښانه ده، تاسې ټول به د قيامت پر ورځ فاسق او خاين راپاڅېږئ خو هغوی چې په سوداګرۍ کې يې رښتينولي جامه کړې وي. [1]))
اسلامي اقتصاد، د بډايانو د هوساينې لپاره د سينګاري توکيو توليد ته تندی نه ورکوي او نه يې ښه ايسي خو پانګوالي يې په توليد لاس پورې کوي، چې له اسراف کوونکيو ګټه او د حياتي توکيو له توليده لاس واخلي.
د الله استازي وويل: ((الله تعالی بندګان لري، چې نعمت يې وربښلی او تر هغه چې دوی بخشش لري؛ نو نعمت يې په لاسو کې وي او چې بخيلان شي؛ نو نعمت به ترې واخستل شي او نورو ته به ورکړ شي[2].))
۳ـ کله په پانګوالې نړۍ کې، د يو مال د زياتېدو او کړکېچ د پېښېدو پرمهال، يا د مال توليد په ټپه دروي او يا يې له منځه وړي، چې بيه په مناسبه کچه کې پاتې شي.
د امريکامتحداياالات په نړۍ کې د غنمو د مناسبې بيې ساتلو ته د کال ډېر غنم سمندر ته ورغورځوي، حال دا په نړۍ کې ډېر انسانان ان يو کپ ډوډۍ هم نه لري؛ نو چېرې دي د بشر حقوق او شعاورنه يې!)

---

[1] (وسايل : ۱۲ټوک، ۲۸۵ مخ)
[2] (مجلسي؛ بحارالانوار: ۵۷ ټوک، ۳۵۲ مخ)

خو په اسلامي اقتصاد کې د تولید او لګښت ترمنځ دومره واټن نه شته او اسلام کوښښ کوي د تولیدوونکیو او لګوونکیو ترمنځ واټن لږ کړي. لنډه داچې په اسلام کې تولید باید د انسان په چوپړ کې وي نه انسان د تولید په چوپړ کې.

**مبادله او لګښت**

مبادله د مال د پیداینې وزله نه ده؛ بلکې یو له بل سره یې بدلول دي. په بله وینا: مبادله وګړي ته نوې پانګه نه راوړي؛ بلکې د خپل تولید یوه برخه د نورو له تولیداتو سره بدلوي او خپلې اړتیاوې پوره کوي.

پخوا چې د توکیو بدلول، بې له پیسو ترسره کېدل درې لاندې ځانګړنې یې درلودې:

۱_ د پیداینې او لګښت ترمنځ واټن نه و.

۲_ د توکیو لږ مهاله زېرمول شوني نه وو.

۳_د مبادلې چار د خلکو کسب نه و.

دا هر څه د پیسې له پیداښت سره له منځه ولاړل؛ ځکه په دې نویو شرایطو کې تولیدوونکي کړای شي، خپل توکي نغد وپلوري او د خپلو لګښتي توکیو اخستنه وځنډوي او همدا مسله د تولید او لګښت ترمنځ واټن رامنځ ته کوي.

پردې سربېره، چې د پیسې ارزښت په زېرمولو کمېږي او له لامله یې پیسه د شتمنۍ د راټولېدو او احتکار لامل ګرځي او څوک چې په پوره اندازه نغدې ولري کړای شي په پوره اندازه توکي واخلي او تر څه مودې روسته یې په احتکاري بیه وپلوري.

د پورتنیو درېو ځانګړنو په له منځه تګ سره ((سوده)) رامنځ ته شو او د ټولنې روغتیا، پوهاوی او ټولنیز انډول یې له خطر سره مخ کړ او اقتصاد یې له طبیعي لارې اړولی دی.

اسلامي اقتصاد په خپلو ثابتو او متحرکو عناصرو او په هره شونې وزله د بې لاریو د جبران او سمون په هڅه کې دی؛ نوځکه یې ربا، سود او بانکي راکړې ورکړې، په پرېکنده توګه حرام کړي؛ ځکه د سود ګټه د پیسې د احتکار پایله ده نه د کار مزدورۍ.

ډېری بانکونه د ((رنسانس)) په وخت کې، چې د اروپایي دولتو د کمزورۍ زمانه وه، یهودي صرافانو جوړ کړل او لومړی بانک د رنسانس له علمي فرهنګي خوځښت ۳۰۰ کاله مخکې؛ یعنې پر ۱۱۷۰ ز کال د ایټالیا د "ژېنو" په ښار کې جوړ شو او بل د هماغه هېواد د ((ونیز)) په ښار کې جوړ شو. دا بانکونه د نړۍ د اقتصاد په بېلابېلو اړخونو کې ننوتي او د ربا پر بنسټ

منځ ته راغلي، چې د اسلام او ان د يهودي دين له نظره هم حرام دي او مسيحيانو هم د رنسانس له دورې مخکې حرام گڼل.

"عقاد" په ((حقايق الاسلام)) کې ليکي: "لوتر" او لارويانو يې د سود په مخنيوي کې ټينگه مبارزه کوله او "ولتر" په دې اړه يوه رساله هم کښلې. "هنري کوستون" د ((پانگوال څرنگه پر نړۍ واکمني کوي او د دوزخ پر لور يې بيايي))کې، چې پر ۱۹۵۵ز کال چاپ شوی، د بانکونو په اړه وايي: ((نړيوالې جگړې ددې موسسو (بانکونو) يوه پايله وه. [١]))

د اسلام له نظره، شتمني بايد د ټولنې د ودې او سوکالۍ په چوپړ کې وي؛ نوځکه د شتمنۍ گرځېدل راگرځېدل او مبادله يې واجب کړې او د نغدو او سرو او سپينو زېرمول يې حرام کړي دي؛ ځکه د اقتصادي هڅو او بازار د بندېدو او ويجاړېدو لامل گرځي او الله تعالی هم په دې اړه په قرآن کې ويلي دي: ((او هغوی ته د يو دردوونکي عذاب ژمنه ورکړه، چې سره او سپين يو د بل له پاسه زېرموي او د الله په لار کې يې نه لگوي. . . . [٢]))

ددې سخت گېرۍ لامل دادی، چې داسې کسانو ته اجازه نه ورکوي هغه شتمني، چې د نړۍ خالق د انسانيت او د خلکو ښېگڼو ته پيدا کړې او بايد په روا چارو او انساني اړيکو کې ترې کار واخستل شي؛ نو دې په خپله او نور يې هم له گټې بې برخې کوي.

رسول الله پر سود خورو کړۍ راتنگه کړې وه ويل يې: ((څوک چې سود وخوري نو الله به يې د خوړلې سود هومره نس د دوزخ له اوره ډکه کړي او که شتمني ترې زېرمه کړي؛ نو الله به يې يو عمل هم قبول نه کړي او تر هغه چې يو قيراط ربا ورسره وي الله او پرښتوې پرې لعنت وايي. [٣]))

امام صادق (رح) وپوښتل شو: ولې الله ربا حرامه کړې ده؟ امام ځواب ورکړ: ((؛ ځکه چې خلک د خير له چارو لاس وا نه خلي [٤].))

اسلام سود، د خلکو د مال لوټول او غلا نامشروع تصرف گڼي او غواړي شتمني تر ټولو قيدونو او کړيو وژغوري او د خلکو په چوپړ کې يې کړي او خپل ټول احکام يې دې موخې ته تنظيم

---

[١] (وگورئ: "محمد عبدالمنعم خفاجي"؛ الاقتصاد الا سلامي. )

[٢] توبه: ٣٤)

[٣] (بحار الا نوار: ٧١ ټوک، ٣٦٤ مخ)

[٤] (بحارالانوار: ٧٨ټوک، ٢٠١ مخ)

کړي، چې شتمني د الله د بندګانو د سوکالۍ، سربښندنې، ښښنې او ځوانۍ لامل شي نه چې د خلکو د خوارۍ او پر مال يې د تېري لامل.

انګليسي "کينز"، الماني "شاخت" او له دوی دمخه "اسميت"، چې د لويديځ ستر اقتصاد پوهان وو، د سود خورو مؤسسو او د سود د پورونو پرخلاف جګړه اعلان کړې وه.

"کينز" تر هغه تړون روسته چې له مخې يې امريکا، انګليس ته په سود پور ورکړ، په خواشينۍ وويل: ((د امريکا د سود د پور له امله راباندې راغلی درد به مې هېڅکله هېر نشي. [1]))

[1] (الا قتصاد الاسلامي: ۱۰۸_۱۰۷ مخونه)

# نبوي سيره او تبليغ

فرانسوي "ادوارد مونتيه" (۱۸۵٦_۱۹۲۷ز) چې پر ۱۹۱۰ ز کال د جينيوا پوهنتون رئيس شو، د رسول الله په اړه وايي: ((محمد ستر شخصيت و، ښه چلن او خوږه ژبې درلوده، ربښتين و او تر ټولو ستره ځانګړنه يې سم قضاوت، پسته ژبه او د خلکو خوشحالول وو.))

فرانسوي عالم "ګوستا ولوبون[1]" د رسول الله په اړه وايي: ((د محمد په څېر پيغمبر ددې وړتيا لري، چې د دين لاروي يې وشي او د رسالت په منلو کې يې يو له بل مخکې شو؛ ځکه د رسالت بنسټ يې د الله پېژندنه، ښو ته پر رابلنه او له بديو پر ژغورنه و او څه يې، چې بشريت ته راوړل ښکلا او ښېګڼه ده.))

## د تبليغ طريقه

((الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالاَتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلاَ يَخْشَوْنَ أَحَداً إِلاَّ اللَّهَ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيباً[2]=(مخکېني پيغمبران) هغوی وو، چې د الله پيغامونه يې رسول او (يوازې) له هغه وېرېدل او بې له خدايه له بل هېچا نه وېرېدل او همدا بس دی، چې الله حسابګر (او د خلکو د کړنو بدله ورکوونکی) دی.

((يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِداً وَمُبَشِّراً وَنَذِيراً. وَدَاعِياً إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجاً مُّنِيراً[3]=پيغمبره! په حقيقت کې موږ ته شاهد او زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی يې. ((او (ته) مو د هغه په حکم د الله لوري ته بلونکی او روښانه څراغ لېږلی يې.))

## تبشير او انذار

"تبشير" زېری ورکول دي او په هڅونه کې شمېرل کېږي. د ساري په ډول: که غواړې اولاد مو يو کار وکړي په دې دوو لارو کې يوه يې يا په عين وخت کې له دواړو ګټنه کوئ: يوه د هڅونې لار ده، چې کله مو زوی ښوونځي ته ځي؛ نو ګټې يې ورته وايئ، چې دې کار ته يې لېوالتيا ډېره شي، روحيه او طبيعت يې دې کار ته لېوال شي، بل داچې ښوونځي ته د نه تګ

---

[1] په خپل کتاب ((التمدن الاسلامي)) ٦۷ مخ کې

[2] (احزاب/۳۹)

[3] (احزاب/٤٥-٤٦)

خطرناک عواقب ورته وویل شي، چې په نه تګ به نالوستی پاتې شې. داچې ماشوم غواړي له دې حالته وتښتي، لیک لوست ته مخه کوي. دلته ستاسې یو کار هڅونه او زېری دی؛ یعنې دا کار له مخې د ماشوم راښکودل دي او بل کار مو وېرونه او انذار دی. (د خطر اعلانول)، چې دا کار ماشوم له شا ټېله کول دي، چې روان یې کړي؛ نوځکه وايي: تبشیر "قاید" دی او انذار "سایق" دی. قاید؛ یعنې مخکې راکښودونکی.
هغه چې د اس یا اوښ پړی نیسي او مخکې روان وي او څاروي ورپسې روان وي؛ نو دې ته قاید وايي "سایق" هغه ته وايي، چې د څاروي تر شا روان وي او څاروي یې روان کړي وي. تبشیر د قاید حکم لري؛ یعنې له مخکې یې راکاږي او انذار د سایق حکم لري؛ یعنې د څاروي تر شا وي او له شا یې روان کړی وي او دا دواړه یو عمل ترسره کوي. که اوس دا دواړه سره یوځای وي، هم قاید وي او هم سایق، یو له مخکې څاروی راکاږي او بل د څاروي شاته وي او روان کړی یې وي، دواړه لاملونه په عین واحد کې واکمن دي. دا دواړه بشر ته اړین دي؛ یعنې په یوازې ځان تبشیر او انذار یو یې هم بسیا نه دي. تبشیر اړین شرط دی خو بسیا شرط نه دی. انذار هم اړین شرط دی خو بسیا شرط نه دی
داچې قرآن ته "سبع المثاني" ویل کېږي، ښايي یو اړخ یې دا وي، چې په قرآن کې تبشیر او انذار په یو بل پورې تړلي دي؛ یعنې یو خوا زېری او هڅونه او بلخوا انذار او د خطر اعلان دی.
په بلنه کې دا دواړه رکنه باید یو ځای وي. دا به تېروتنه وي که مبلغ یوازې په تبشیرونو یا انذارونو ډډه وکړي؛ بلکې د تبشیر اړخ ډېر غوړ ښکاري او ښايي په همدې دلیل وي، چې قرآن تبشیر لومړی ګڼي. ((مُبَشِّراً وَنَذِيراً، بَشِيراً وَنَذِيرًا))

## تنفیر

بې له تبشیر او انذاره یو بل عمل هم لرو، چې نوم یې "تنفیر" دی. تنفیر؛ یعنې تښتېدل. کله انسان غواړي انذار وکړي؛ نو انذار له تنفیر سره غلطوي. انذار هغه وخت انذار دی، چې د سایق عمل ترسره کړي؛ یعنې واقعاً له شا سړی پر مخ بوځي خو تنفیر؛ یعنې داسې کار کول، چې سړی وتښتي. بیا هم د هماغه څاروي مثال راوړم. مثال یې داسې دی، چې انسان(اس یا اوښ) راکاږي او بیا غواړي په ځان پسې یې راروان کړي، یو ډول چغې او سورې جوړوي، ناڅاپه څاروی توري کېږي، پړی شلوي او تښتي. دې ته تنفیر وايي. د انسان په اروا کې، کله ځینې بلنې نه یوازې قایدیت نه دي؛ بلکې تنفیر دی؛ یعنې نفرت رامنځ ته کول او تېښته ورکول

دي او دا ارواييي چار دی او د انسان اروا داسې ده. هماغه د ماشوم او ښوونځي مثال درته وايم. زياتره وخت موروپلار او ښوونکي د تبشير او انذار پر ځای تنفير کوي؛ يعنې داسې کار کوي، چې د ماشوم په اروا کې له ښوونځي کرکه او تېښته پيدا کېږي او له ښوونځي تېښته د ماشوم د اروا غبرګون دی.

تاريخ ليکي: رسول اکرم (ص)، چې حضرت معاذ بن جبل (رض) د "يمن" خلکو ته د بلنې لپاره ولېږه، د ابن هشام د سيرت له نقله، داسې سپارښتنه يې ورته وکړه: ((يا مُعاذُ بشر و لا تُنفر، يسر و لا تُعسر[1]))

د اسلام تبليغ ته ځې، د کار بنسټ دې تبشير او زيری دی، داسې کار وکړه، چې خلک د اسلام په ګټو پوه شي او پخپله خوښې او لېوالتيا اسلام ته رامات شي.

و يې و نه ويل(ولا تنذر)، انذار مه کوه؛ ځکه انذار هغه کړلار ده، چې قرآن يې حکم کړی دی. کوم ټکی، چې آنحضرت ورته ګوته ونيوه، ((بشر و لا تنفر)) داسې کار و نه کړې، چې خلک له اسلامه توري کړې او ترې کرکجن يې کړې. مطلب داسې بيان نه کړې، چې د خلکو ارواييي غبرګون له اسلامه تېښته وي. دا څومره ستر ټکی دی او څرګندونې ته اړتيا لري.

## د روح لطافت

د انسان اروا فوق العاده لطيفه ده او ژر غبرګون ښيي. که انسان په يو کار کې خپله اروا تر دباو لاندې ونيسي، بل خو لا پر ځای پرېږده، کوم غبرګون، چې انسان رامنځ ته کوي، تېښته ده. د ساري په ډول: په عبادت کې د رسول اکرم سپارښتنه دا ده، چې عبادت دومره وکړئ، چې روح مو خوشحاله وي؛ يعنې په لېوالتيا او خوښۍ يې ترسره کړئ. عبادت مو چې وکړ، لمونځ مو وکړ، نفلونه مو وکړل، د قرآن تلاوت مو وکړ، بې خوبه شوئ او نور ننګېرئ، چې دا عبادت درته سخت دی او په زوره يې پر ځان تپئ؛ نو آنحضرت وويل: ((دلته بس دی، عبادت پر ځان مه تپه.))

څومره چې دې وزغمه هومره سم دی او تردې ورزيات زړه، لږ لږ له عبادته توري کېږي او عبادت دې؛ لکه د دعا وکړئ؛ نو له عبادته بده خاطره مه پيدا کوئ. تل هڅه کوئ، چې په عبادت کې خوشحاله وسې او اروا دې له عبادته ښه خاطره ولري.

---

[1] (ابن هشام، ۴/۲۳۷). دا وينا مو په بشپړ ډول د پېغمبر اکرم د ويناوو په برخه کې له تحف العقول کتابه راوړې ده. او نوموړی کتاب مې په پښتو هم ژباړلی او په www.andyal.com وېبپاڼه کې يې لوستلی شئ.

بیا رسول اکرم وايي: ((جابره! اسلام درونډ- بامتانته دين دی، له ځان سره دې ګوزاره کوه.))
بيا وايي: (څومره ښه تشبيه ده!) جابره! هغوی، چې انګېري پر ځان په دباو او سختۍ به ژر موخې ته ورسي نو تېروتنه کوي، اصلا موخې ته نه رسي، ددې وګړي مثال د هغه په شان دی، چې سپرلۍ ته يې يو څاروی ځانګړی کړی وي، چې له يوه ښاره پرې بل ته ولاړ شي او انګېري، چې څومره ډېر دا څاروي ووهي او دباو پرې راوړي نو ژر به ورسي. لومړني څو منزلونه په يوه ورځ کې وهي خو پام کېږي يې، چې دا څاروی يې ټپي کړی او څاروی نور د تګ نه دی او ځای پر ځای ولاړ دی، خپلې موخې ته ونه رسېد او د سپرلۍ وسيله يې هم ټپي کړه. هغوی چې پر ځان دباو راوړي، چې ژر موخې ته ورسي، دا بيخي موخې ته نه رسي، اروا يې د سپرلۍ د وزلې په شان کېږي، چې ټپي شوې وي، په لار کې پاتېږي او مخکې نشي تلای. په خلکو کې هم دا شان دي.))
ډېر داسې څيزونه دي، چې د تنفير اغېز لري؛ يعنې خلک له اسلامه توري کوي. د ساري په ډول: په اسلام کې ښېشکه، پاکوالی موکد سنت او مستحب دی. پاکوالی د ايمان برخه ده او رسول اکرم مو د خپل وخت تر ټولو پاک و او که نن هم وای نو هغه به مو تر ټولو پاک ګاڼه. رسول اکرم په عطرو ډېره سپارښتنه کوله او کله يې هم نه پرېښوول. په عين حال کې پاکووالی سنت او مستحب دی او واجب نه دی. اوس که د يو مبلغ جامې ناولې او خيرنې وي او بدن يې بوی کوي، له فقهي اړخه نه شو ويلای، چې حرام کار يې کړی دی، اوس همدا خيرن مبلغ دې راشي او د يو پاک سوتره ځوان مخې ته دې درېږي او ورته ووايي، چې زه دې اسلام ته رابلم، که له خولې يې ملغلرې هم ودوړېږي؛ نو پر ځوان به په پوټې اغېز هم و نه کړي.
متکلمين وايي: د نبوت يو شرط دادی، چې په پېغمبر کې هغه صفت نه وي، چې خلک ترې کرکجن وي ان که جسمي نيمګړتيا هم وي.
نو؛ لکه څنګه چې د مبلغ او د خدای لوري ته د رابلونکي کس قواره، دې کرکجنه نه وي؛ نو همداشان نورې ځانګړنې؛ لکه چلن او وينا دې داسې نه وي، چې په خلکو کې کرکه راپيدا کړي او ترې وتښتي.

## په بلنه او تبليغ کې تاوتريخوالي نه کول

بلنه دې له تاوتريخوالي سره يو ځای نه وي، په بله وينا: بلنه او تبليغ په زوره نه کېږي او په زور کلي نه کېږي. يوه مسله ډېره پوښتل کېږي: ايا د اسلام بلنه اساساً په زور ده؟؛ يعنې د اسلام د ايمان سته زور دی؟ دا هغه څه دي، چې مسيحي کشيشانو ورته فوق العاده تبليغات کړي دي.

په اسلام يې د "تورې دين" نومولی دی؛ يعنې هغه دين، چې يوازې توره کاروي. په دې کې اړنګ نشته چې اسلام د تورې دين دی، چې دا اسلام ته يو کمال دی او په اسلام کې نيمګړتيا نه ده؛ خو هغوی چې دا خبره کوي"اسلام د تورې دين دی" غواړي ووايي: هغه اوزار، چې اسلام خپلې بلنې ته کاروي، توره ده. قرآن وايي: ((ادْعُ إِلِىَ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ[1]- د خپل پالونکي لوري ته دې په حکمت او غوره نصيحت بلنه ورکړه او ورسره په غوره چلن استدلال اووينه وکړه.))
غواړي وښيي د اسلام حکم داسې و: ((ادع بالسيف)). اوس څوک نشته چې ووايي قرآن ولې ويلي: ((ادْعُ إِلِىَ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ)) او په عمل کې هم پيغمبراکرم داسې و؟ وينه اغږي او بيا وايي، چې اسلام يې په توره تبليغاوه، ان دوی په ځينو کتابونو کې د آنحضرت سپکاوی هم کړی دی، يو کاټون رسموي، چې په يو لاس کې يې توره او په بل کې يې قرآن دی او د سړي پر سر ولاړ دی، چې يا به په دې قرآن ايمان راوړې يا دې سر پرېکوم. کشيشانو دا کانې ډېرې کړي دي.

### د تبليغ څرنګوالی

د تبليغ د څرنګوالي ويل څه اسان چار نه دی؛ ځکه هغه بشپړ انسان و او په تبليغ کې يې ټولو اړخونو ته پام و، چې مورږ يې دلته د تبليغ څو ځانګړنو ته اشاره کړې ده:
۱ـ په نېکو اخلاقو او ښه خوی اسلام ته رابلنه:
په تبليغ کې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم تر ټولو ستره وسله ښه خوی او ورين تندی و، چې له دې لارې يې د ټولو پر زړونو واکمني کوله، چې په دې هکله قرآن کريم وايي:
((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ[2]= خلکوته د الهي رحمت (په برکت) نرم (او لوراند) شوی يې او که توند خوبه او سخت زړی وې؛ نوخلك درځنې خورېدل؛ نو ترې تېر شه او ببښنه ورته وغواړه او په چاروکې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (نو پرېکنده وسه او) پر الله توکل وکړه؛ ځکه توکل کوونکي د الله خوښېږي.))

---

[1] (نحل/۱۲۵)

[2] (آل عمران/۱۵۹)

که ووايو چې د هغه مبارک تبليغ عملي اړخ درلود نو بې ځايه به مو نه وي ويلي؛ ځکه د رسول الله (ص) اخلاق او کړنلار وه، چې تر وينا مخکې يې ټول زړونه رامات کړي وو. د زړه يې په خوله او څه يې، چې په خوله وو؛ نو هغسې يې کول او ويلي يې وو: ((خلقه قرآن))؛ يعنې خلق او خوی يې قرآني بڼه درلوده او د قرآن پاک د تعبير له مخې هغه "شاهد"؛ يعنې هر اړخيزه بېلګه وه.

د الله استازي (ص)، چې څوک هم تبليغ ته لېږل؛ نو سپارښتنه يې ورته کوله: ((په نرمه او پسته خلک اسلام ته راوبلئ او دا څه و نه کړئ او يا داسې څه و نه وايئ، چې د خلکو زړه له دينه تور کړئ)) او چې حضرت معاذ بن جبل (رض) يې "يمن" ته لېږه؛ نو ورته يې وويل: ((د کار بنسټ دې "تبشير" او "ترغيب" کړه او پر خلکو سختي و نه کړې او ورسره ګوزاره وکړه.)) په بل ځای کې وايي: ((الله راته له خلکو سره د ګوزارې شريعت راکړی دی.))

۲_ د خلکو له ښيون او لارښوونې سره مينه:

رسول الله (ص) د خلکو له ښيون سره خورا مينه درلوده او له دې کاره ډېر خوښ و، چې قرآن شريف يې ددې ځانګړنې په هکله وايي:

((لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَاعَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ[1]= په رښتيا پخپله له همدا تاسې درته يو استازی راغلی، چې ځوروني مې پرې سختې پرېوځي (او) پر لارښوونې مو ټينګارکوي، پر مؤمنانو خواخوږی (او) زړه سواندی دی.))

۳_ څوک يې په ډب، ادب نه کړل:

د قرآن شريف له مخې کړنلار يې د "بلاغ مبين" کړن لار وه؛ يعنې په روښانه يې الهي پيغام خلکو ته بيانوه او هېڅکله يې له "سوټي" او "کېبله" کار وانه خست او هېڅکله يې ځان د خلکو وکيل او واکمن و نه ګاڼه او هغه يې کول، چې الله ورته ويلي وو.

((وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ[2]= د الله او پيغمبر اطاعت وکړئ او (د هغه د فرمان له مخالفته) ووېرېږئ او که مخ مو واړاوه (نو د جزا وړ به شئ او) پوه شئ، چې زموږ پر پيغمبر د څرګندې پيغام رسونې مسووليت دی (او دا دنده يې تاسې ته پای ته ورسوله)))

[1] (توبه/۱۲۸)

[2] (مايده/۹۲)

((وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الأْمُورِ[1]= او څوك چې زغم او ښښنه وكړي (نو د ټينگې ارادې خاوند دی ځكه) چې دا په چارو كې (د هغه) له ټينگ هوډه (را ولاړ شوی) دی.))

٤_ انذار:

يعنې له نږدې راپېښېدونكې خطره د خلكو خبرول؛ يعنې هغه غافل ته خبرداری وركول، چې خطر ورته پټ دی. په دې هكله قرآن وايي:

((أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لاَ يُفْتَنُونَ[2]= ايا خلكو گومان كړی، همداچې ووايي: ((موږ ايمان راوړی)) (نو) پرې به ښوول شي او و به و نه ازمېيل شي؟))

((إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ[3]= ته يوازې (يو) خبروونكی يې (كه ايمان يې را نه ووړ، مه خپه كېږه خپله دنده ترسره كړه).))

((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ= ووايه: ((خلكو! زه خو درته يوازې څرگند خبروونكی يم.))

((إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ[4]=زه يوازې يو څرگند وېروونكی يم.))

((قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ أَن تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَى وَفُرَادَى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِكُم مِن جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ[5]=ووايه: ((زه درته يوازې ديوې خبرې نصيحت كوم او هغه داچې: تاسې د الله لپاره دوه دوه يا يو يو راپاڅئ بيا غور او فكر وكړئ، دا ستاسې ملگری [=محمد]هېڅ ډول لېونتوب نه لري، هغه خو تاسې ته د سخت (الهي) عذاب تر راتگ مخكې يوازې يو وېروونكی دی.))

٥_ خبره يې د منطق، دليل او حكمت پر بنسټ وه:

د قرآن شريف د وينا له مخې خبره يې د منطق، دليل او حكمت پر بنسټ وه:

((ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ[6] = د خپل پالونكي لوري ته دې په حكمت او غوره

---

[1] (شوری/۴۳)
[2] (عنكبوت/۲)
[3] (فاطر/۲۳)
[4] (شعراء/۱۱۵)
[5] (سبا/۴۶)
[6] (نحل/۱۲۵)

نصيحت بلنه ورکړه او ورسره په غوره چلن استدلال او بحث وکړه، ستا پالونکى تر هر چا ډېر ښه پوهېږي، چې څوك د هغه له لارې اوښتي دي او (همداراز) پوهېږي، چې څوك پرسمه لار دي.))

د مخالفينو خبرو ته يې په حوصله او پراخه سينه غوږ ايښود او پر منطق، دليل او حکمت، مينه، محبت او زړه سوي يې د پوښتنو او نيوکو ځواب ورکاه[1].

چې د نجران له مسيحيانو سره د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم مناظره يې ښکلې بېلګه ده او کيسه يې داسې وه:

رسول الله (ص) يې "اثقف" ته په يو ليک کې د دين بلنه ورکړه، چې د "نجران"خلکو هم تر سلا مشورې روسته يو پلاوی مدينې ته راواستاوه او له رسول الله (ص) يې خپلې پوښتنې داسې وکړې:

_ کوم دين ته مو رابلې ؟

رسول الله (ص): تاسې يو الله ته رابلم، چې شريک او ساری نه لري او داچې زه د الله استازی يم او "عيسى" د الله بنده او مخلوق دی.

_ که په رښتيا عيسى د الله بنده او مخلوق وي؛ نو پلار يې څوک دی ؟

رسول الله (ص): تاسې د حضرت "آدم"په هکله څه ګروهه لرئ؟ ايا حضرت آدم د الله بنده او مخلوق و که نه و؟

_ هو د الله بنده او مخلوق و.

رسول الله (ص): نو د حضرت آدم پلار څوک دی ؟

مسيحيان حيران او چوپ شول، چې بيا د الله استازي ورته د آل عمران د سورت ۵۹ م آيت ووايه.

((إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِندَ اللّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ[2]= الله ته ((د عيسى)) ((مثال))د آدم غوندې دی، چې الله هغه له خاورې پېداکړ او بيا يې وويل: ((چې شه)) نو بس((وشو)) (نوځکه بې له پلار يې د مسيح زوکړه هېڅکله پر الوهيت دليلبدای نشي.)

٦_ له خرافاتو سره مبارزه:

---

[1] (د پېغمبر اکرم (ص) په سيره او د اسلام په دين کې د بيان پر ازادۍ دلالت دی)

[2] (آل عمران/۵۹)

د الله استازي هېڅکله خرفاتو ته تندی ور نه کړ او که چا به د حضرت رسول د فضيلت په هکله هم کومه خرافه جوړه کړه؛ نو ورسره يې په کلکه مخالفت او مبارزه کوله، چې لاندې کيسه يې خبرې ګواه ده: د رسول الله (ص) اتلس مياشتينی زوی "ابراهيم"، چې له دې دنيا سترګې پټې کړې نو پر هماغه ورځ لمر هم تندر ونيو او خلکو داسې وويل: دا کار د الله د استازي د زوی د مړينې له لامله شوی دی او دا خبره په خلکو کې ډنډوره شوه؛ نو سره له دې چې دې کار په خلکو کې د رسول الله(ص) شان او منزلت نور هم ډېراوه او په خکلو کې يې نور هم مطرحاوه او سره له دې چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خپل زوی په وير کې غمجن و خو له خرافاتو سره د مبارزې لپاره جومات ته ولاړ او پر منبر يې داسې وويل: ((پوه شئ، چې لمر او سپوږمۍ د الله د قدرت نښې او د هغه ځانګړو طبيعي قوانينو په چوکاټ کې په ځانګړي مدار کې چورلي، چې الله ورته ټاکلي او هېڅکله يې د چا د مړينې يا زوکړې له لامله تندر نه نيسي؛ بلکې په داسې وخت کې ستاسې دنده ده، چې لمونځ وکړئ.))

۷_ په زړه کې يې د الله وېرې، له نورو وېره له منځه وړې وه:

له الله وېرېده او پر هېڅ ځواکمن يې چرت نه و خراب او شاه او ګدا دواړه يې يو ډول دين ته رابلل او؛ لکه څنګه چې تاريخ هم ګواه دی، چې د خپل وخت واکمنان يې د ليکونو له لارې دين ته راوبلل.

په دې هکله قرآن شريف وايي:

((الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالاَتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلاَ يَخْشَوْنَ أَحَداً إِلاَّ اللَّهَ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيباً[۱]=(مخکېني پيغمبران) هغوی وو، چې د الله پيغامونه يې رسول او (يوازې) له هغه وېرېدل او بې له خدايه له بل هېچا نه وېرېدل او همدا بس دی، چې الله حسابګر(او د خلکو د کړنو بدله ورکوونکی)دی.))

پورتنی آيت د دين مبلغانوته دوه شرطه بنستيز ګڼي: لومړی داچې له اللهووېرېږي او دويم داچې بې له الله له بل چا و نه وېرېږي.

رسول الله (ص) تل په خپلو دعاګانو کې له الله غوښتل، چې د تل لپاره يې په زړه کې د الله وېره وي، چې همدا وېره يې له ګناهونو د ځان ژغورلو لامل شي.

۸_ پراخه سينه او استقامت:

---

[۱] (احزاب/۳۹)

په **۲۳** کلن تبليغ کې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پردې ځانګړنه دوست او دښمن دواړه ګواهان دي. ډېرى داسې راپېښ شوي، چې د پرمختګ ټولې لارې وتړل شوې؛ خو رسول الله (ص) هېڅکله نهيلى نه شو او د هغه مينې او ايمان له کبله، چې پر خپل رسالت او پالونکي يې درلود نو هېڅکله يې د نهيلى او سختيو غشيو پر زړه اغېز و نه کړ. د ذهن په کتاب کې يې د ماتې په نامه کوم لغت نه و او په پراخه سينه او استقامت يې د رسالت دنده پر مخ وړه، تردې چې په سختو کړکېچنو شرايطو کې يې له تصوره بهر لاس ته راوړنې درلودې او همدا ځانګړنه يې د پتمنو يارانو د زړه قوت و، چې په مکه کې تر سوځنده لمر لاندې يې پر سوځونکيو شګو پر سينو ستر ستر ګټونه او ډېرې ځکه ايښوول او کړاونه ورکول کېدل، چې د محمد (ص) له دينه لاس واخلي او يا داچې په ورمېږونو کې يې پړي اچول کېدل او د مکې په کوڅو کې راکښوول کېدل خو بيا يې هم د زړه قوت د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم اوچت مورال و او ويل يې: ((اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد رسول الله.))

يوه ورځ د الله استازي حضرت عمار، حضرت ياسر او حضرت سميه وليدل، چې تر کړاوونو لاندې زبېخل شوي وو؛ نو ورته يې وويل: ((آل ياسر! سينه مو پراخه کړئ، چې ځاى مو جنت دى.))

حضرت "خباب بن ارث" وايي: د الله استازي ته په داسې وخت کې ولاړم، چې نور د قريشو کړاوونو پوزې ته را رسولى وم، چې ورته مې وويل: رسول الله (ص)! وخت يې نه دى را رسېدلاى، چې له خدايه راته د ژوند پراختيا وغواړې؟ په دې وخت کې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پاڅېد او کېناست او له غوسې سور شو او راته يې وويل: ((تر وسه لا د پخوانيو مؤمنانو حال درباندې نه دى راغلى هغوى يې پر اوسپنو دومره وهل، چې هډوکي يې مات شول پر اره يې څېرې کول؛ خو له خپل دينه يې لاس وانه خست. په دې وخت کې د الله استازي قسم وخوړ، چې الله به خپل دين بريالى کړي.

**اسلامي تبليغ**

تبليغ هغه چار دى، چې د الله پېغام خلکو ته رسوي او په داسې توګه کېږي، چې الله ته د انتساب وړتيا ولري. د تبليغ د عناصرو او اجزاوو تر څېړولو روسته، د پورتني تعريف د سمون پخلى کېږي او پوهېداى شو، څه چې نن د تبليغ په نامه يادېږي، يوازې د خلکو غولول او بې لارې کول دي

د تبليغ عناصر دادي:

۱_ استازی یا پیغام راوړونکی.
۲_پیغام.
۳_ وزله.
٤_ پیغام اخستونکي.
۵_ د خلکو غبرګون.

پر هغه تبلیغ باید شک وشي، چې د پیغام سرچینه پکې نه وي؛ ځکه د رالېږونکي او رالېږل شوي په منځ کې د تېروتنې لامل ګرځي ؛البته په اسلامي تبلیغ کې دا دواړه یو له بله بېل دي او د پیغام سرچینه، الله تعالی او رالېږل شوی استازی یې دی.

اوس به پر پورتنیو اجزاو ورڼا واچوو:

۱_استازی:

د اسلامي تبلیغ تر ټولو مهم عنصر استازی دی، چې حضرت محمد (ص) دی او د عظمت لپاره یې همدومره بس، چې د پیغمبرانو ښاغلی او د پیغمبرانو د کاروان خاتم دی او کتاب یې تلپاتې معجزه او ښوونځی دی.

رسول الله د الهي پیغام په رسولو کې بې ساری و. قرآن وایي:

((أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِداً وَمُبَشِّراً وَنَذِيراً=[1]پیغمبره! په حقیقت کې موږ ته شاهد او زیری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی یې))

نیاومنو (منصفو) ختیځپوهانو او نورو نامسلمانو پوهانو د رسول الله لویي منلې او یو له دوی یې نوم د "سل غوره نارینه وو" دکتاب په سر کې راوړی دی.

"برنارد شاو" ایرلندی لیکوال او عالم، د رسول الله په اړه وایي: ((زه بې له دې چې له حضرت مسیح سره د دښمنۍ یا مخالفت هوډ ولرم، ددې ستر انسان (حضرت محمد) ژوند مې وڅېړه او دې پایلې ته ورسېدم، چې باید د بشریت د ژغورندوی نوم پرې کېږدو او باوري یم، که دده په څېر د نن له ستونزمنې نړۍ د واکمنۍ فرصت ګوتو ته ورشي؛ نو په اسانه به یې هوارې کړي او ویلای شم، چې نن په اروپا کې ډېر غوړونه د "محمد" د پیغام اورېدو ته لېوال دي [2].))

د برتانیا په دایرة المعارف کې د حضرت محمد (ص)په اړه راغلي: ((سره له دې چې د اسلام د پیغمبر په زمانه کې، ټولو په پېړیو پېړیو په ناپوهۍ او بوت نمانځنه کې ژوند کړی و خو د

[1] (احزاب/٤٥)
[2] وګورئ: شاو، برنارد، الاسلام الصحیح، ۲۵مخ.

شلو کالو په ترخ کې يې داسې بنستيزې سمونې راوړې، چې يهودي او مسيحي سمونپال يې د پاپ او کليسا د واکمنۍ په مرسته په پېړيو پېړيو، له سرته رسولو بېوسې وو.))

په اسلامي تبليغ کې، انسان د خدايي فطرت پر بنسټ، همغږی موجود شمېرل کېږي او د جسم او روح ترمنځ يې بېلتون نه شته او پر يو بل غوره والی نه لري او وګړنی لېوالتيا يې له ډله ييز روح سره برابره ده؛ نوځکه ګردې انساني ټولنې او همداراز هستي پر عدالت ولاړه او همغږې ده.

۲_قرآن:

د اسلام تلپاتې معجزه ده. د اصيلې او ژورې منځپانګې خاوند دی او ثابت او نه بدلېدونکي احکام لري. قرآن د خلکو د لارښوونې لپاره له لاندې دوو طريقو کار واخست:

الف_د ډول ډول تعبيرونو کارول:

قرآن د غوسه ناکو مفاهيمو لپاره له سختو او درنو ټکيو کار اخسته او د لطيفو او نرمو مفهومونو لپاره يې نرم ټکي کارول.

ب_ تکرار:

ددې لپاره، چې قرآن د يو مفهوم پر مانا انسان ښه وپوهوي؛ نو د تکرار مخنيوي ته يې يو مفهوم، په بېلابېلو سورتونو کې له بېلابېلو ټکيو سره راووړ، چې مخاطبان يې پر ارزښت پوه شي.

د قرآن بل غوره والی دادی، چې د ټولې نړۍ لپاره دی؛ ځکه بې له قرآنه، بشريت ته د الله له لوري، بل کتاب نه دی راغلی؛ لکه څنګه چې بې له اسلامه، بل دين بشريت ته نه دی راغلی، چې په خپله قرآن دا خبره کړې ده:

((پېغمبره! موږ ټولو نړيوالو ته لارښوونکی لېږلی يې[1]))

د الهي پېرزوينې غوښتنه ده، چې دا اسماني رسالت نړيوال وي او د ټولو انسانانو غوږونو ته ورسي؛ ځکه دا دين د انسان د نېکمرغۍ تضمينوونکی دی او ددې خبرې يادونه په کار ده، کوم انسان، چې د قرآن له حقايقو خبر نه شي او منلو ته يې را و نه بلل شي؛ نو الهي ثواب او عذاب هم ورته نه وي؛ نوځکه څوک هله ځان مکلف بولي، چې تبليغ ورته وشي او له زړه نه قرآن ومني.

[1] (سوره سبا: ۲۸)

قرآن په پخوانيو او اوسنيو وسايلو تبليغولاى شو او د قرآن سپېڅلي احکام تر ټولو هغو عاداتو او دودونو سره سمون خوري، چې له بشري روغ فطرت او انساني ژوند سره اړخ لګوي.

**۳_د تبليغ اوزار:**

د تبليغ په نوي مفهوم کې، وزله او اوزار بې پلوي ګڼل کېږي؛ يعنې د اوزارو ښو او بدو ته پام نه کېږي؛ خو رسول الله (ص) د خلکو پام دې خبرې ته راواړاوه، چې ټول څيزونه او طبيعت او د تبليغ لومړني اوزار، ټول د الله پيدا او تسبيح ويونکي يې دي او هستۍ ته په دې ډول ليد، اوزار د يو ډول ژوند او احساس لرونکي ګڼل کېږي.

الله تعالی په لاندې آيتونو کې دا حقيقت بيان کړی دی:

_((د اسمان او ځمکې لښکرې ټولې د الله دي.[1]))

_((په نړۍ کې به داسې موجود نه وي، چې د هغه تسبيح ويونکی او ستايونکی وي.[2]))

_((پېغمبره! که دا قرآن مو پر غره نازل کړی و نو ليدلي به دې وو، چې د الله له وېرې به نرم او رژېدلی وای.[3]))

_((ځينې کاڼي د الله له وېرې رژېږي[4].))

او د نړۍ موجوداتو ته په داسې کتنې سره بايد ومنو، چې که دروغو او ناروا تبليغ ته يې وکاروو؛ نو چغې به يې راپورته شي.

**٤_د پېغام اخستونکي:**

د اسلام د اسماني پېغام اخستونکي، د هغې ورځې د عربستان د ټولنې عرب وو، چې د رسول الله (ص) ښکليو اخلاقو او نرم خوی لېوال کړي وو. رسول الله به تر ټولو سره له کتابيانو تر بېوزليو پورې کېناسته چې تر ټولو غوره امت جوړ کړي او په رښتيا، چې په دې موخه کې بريالی هم شو.

**٥_د خلکو غبرګون:**

د رسول الله تبليغ ته، د خلکو پر ورين تندي ورغاړې وتل، د فطرت غږ ته مثبت ځواب و. خلکو اسلام ومانه او پر ټولو تېرو پېغمبرانو او معجزو يې ايمان راووړ، چې نړۍ له توکم پالنې،

---

[1] (فتح: ٤)

[2] (اسرا: ٤٤)

[3] (حشر: ٢١)

[4] (بقره: ٧٤)

ځانمنۍ، تکبر او پر بې ارزښته مادي مسلو له شخړو خلاصون وموميي او د نېکمرغۍ پر لور لوړ ګامونه اوچت کړي.

## د بعثت په پيلامه کې تبليغ ته يوه کتنه

يو مسلمان عالم د اسلام د پيغمبر د بلنې د تفسير او څرګندولو پرمهال، د رسول الله په اړه ليکلي دي: ((هغه بېلګه مبلغ و، چې الله تعالی وټاکه، چې امت ته بېلګه شي، د الله د نعمتونو زېرګری او له الهي عذابه وېرونکی وي او په اجازه يې خلک د هغه لوري ته راوبولي [1]))

تبليغ د اسلام د ذات او ماهيت غوښتنه ده؛ نوځکه تل د حقايقو د څرګندولو او بلنې په حال کې دی؛ خو يهودي دين داسې څرګند تبليغ نه لري او پټ پټونی کوي او د لارويانو تبليغ يې ډېری بې لاروونکی او د منافقت له مخې دی، چې قرآن په اړه يې وايي: ((هغوی چې هغه روښانه آيتونه پټوي، چې د خلکو لارښوونې ته مو درولېږل او په کتاب کې مو روښانه کړل؛ نو الله، پرښتې، پېريان او انسانان به پرې لعنت وايي [2]))

د "بريتانيا" په دايرة المعارف کې د قرآن تر ټکي لاندې راغلي:

((محمد نړيوالو ته نوی دين راووړ، چې هماغه اسلام دی، هغه د نورو پيغمبرانو او سترو شخصيتونو په پرتله ډېر بري ته ورسېد؛ ځکه سره له دې چې مخاطبانو يې ډېر وخت په بوت پالنې، ظلم، خرافاتو، ربا او په ټبريزو جګړو کې تېر کړی و خو په شلو کالو کې يې په هغو خلکو کې داسې بنسټيزې سمونې راوستې، چې د يهودو او نصاراو سمونپالو د پاپ د څواکمنۍ په مرسته هم را نه و ستای شو.))

زموږ په نظر، د پاک نبي د بري راز په دوو څيزونو کې و: ((د الله مرسته او د قرآن په رڼا کې د رسول الله (ص) ناستوماني هلې ځلې.))

تاريخ ښيي د پاک نبي تبليغ په پينځو پړاوونو کې ترسره شو، چې په هر پړاو کې يې ځانګړې روښانتياوې درلودې، چې دادي:

۱_ پټه بلنه.

۲_ ښکاره بلنه.

---

[1] (دکتر ابراهيم امام؛ الاعلام الاسلامي: ۵ مخ)

[2] (بقره: ۱۵۹)

۳_ پر مسلمانانو د مشرکانو د کړاوونو پړاو.
٤_ هجرت.
۵_ په مدينه کې د هستوګنې پړاو.
په دې هر پړاو کې رسول الله له داسې لارې ګټه اخسته، که په هغه لنډ مهال کې له دې ستر او بې ساري انساني انقلابه لاس ته راغلې پايلې، د هغې زمانې له شونتياوو سره پرتله کړو؛ نو و به يې منو، چې خورا پرمختللې لارې وې.

**پټه بلنه**

په دې لنډ پړاو کې رسول الله (ص) ته وحې راتله، پوهه اوډاډيې ورکاوه، چې په رښتيا د پيغمبرانو لړۍ ته د پای ټکی اېښوونکی او د الله استازی دی، چې دا ډاډ او پوهه ورته د قرآن د نوراني آيتونو له لارې ورکول کېده او رسول الله په دې آيت له خپل رسالته خبر شو:((اقرا باسم ربک الذي خلق= ولوله، د خپل پالونکي په نامه، چې (هرڅه يې) شته کړي دي[1]))
د تبليغ په چارو او خبر رسونې کې لاندې ټکي د يادونې دي:
الف _د پېغام سرتيا د پېغام راوړونکي د ستريا ښکارندويه ده.
ب _بايد د پېغام سرچينه معلومه وي.
ج _پېغام رسولو ته مناسب وخت او ځای په کار دی.
رسول الله (ص) لومړی خپله کورنۍ اسلام ته را وبلله او روسته به کعبې ته تله او پر لمانځه به درېده او حضرت "علي" او حضرت بي بي "خديجه" ورپسې درېدل. څه موده روسته پرښته راغله او پېغام يې راووړ: ((او خپلوان دې د الله له عذابه ووېروه[2]))
ددې حکم پلي کولو ته يې خپله پرګه، د خپل تره "ابو طالب" په کور کې مېلمنه کړه، چې تقريباً ٤٠ کسان وو او تر خوړو روسته يې وويل: ((د "عبدالمطلب" زامنو! پر الله قسم، چې په عربو کې داسې ځوان نه وينم، چې تر ما يې څه غوره خپل ټبر ته راوړي وي ما تاسې ته د دنيا او اخرت نېکمرغي راوړې او الله حکم راکړی، چې ور و مو بلم او په تاسې کې، چې څوک راسره په دې دنده کې مرسته وکړي؛ نو هغه به زما رور، ځايناستی او وصي وي. [3]))

---

[1] (علق: ۱)
[2] _(شعرا: ۲۱٤)
[3] وګورئ: المراجعات: ۳۰٤مخ.

د پېغمبر خپلوانو و نه منله خو يوازې "علي"(ک) ومنله. پاڅېد او و يې ويل: ((زه به دې مرستندوی يم.)) په دې وخت کې يې رسول الله (ص) پر اوږه يې لاس کېښود او په ډله کې ناستو ته يې وويل: ((دا په تاسې کې زما ځايناستی، وصي او رور دی، خبرې ته يې غوږ کېږدئ او ورپسې ولاړ شئ.))

**ښکاره بلنه**

دا پړاو د اسلام د دعوت د پراختيا او د پټې بلنې بشپړوونکی پړاو دی. ورځ پر ورځ د اسلام سته غښتلې کېده او خلکو په خوشحالۍ د اسلام دين مانه او په ښکاره يې د دين په اړه په مکه کې يو له بل سره بحثونه کول.

په دې پړاو کې "علي"(ک) او د رسول الله (ص) تره حضرت "حمزه" (رض) په پوره صداقت او بشپړ ايمان، د الله د استازي دفاع ته ملا تړلې وه، يوه ورځ يې واورېدل، چې "ابوجهل" د الله د استازي سپکاوی کړی؛ نو د زمري په څېر يې پر "ابوجهل" ور ودانگل او سر يې ورمات کړ.

حضرت "ابوذر غفاري" (رض) د رسول الله (ص) زړه ور صحابي، په هغو سختو شرايطو کې د مشرکانو په منځ کې د توحيد نارې وهلې او د همدې کار له لامله يې له مشرکانو وهل او ډبول هم خوړل. حضرت "ابوذر" (رض) يې وواهه او په وهلو يې بې سده کاوه؛ خو چې په سد کې به شو؛ نو بيا به يې د توحيد نارې پورته کړې .

**پر مسلمانانو د** مشرکانو **د کړاوونو پړاو**

په دې پړاو کې رسول الله (ص) له هغو لارو گټه اخسته چې په تېر پړاو کې يې ترې نه اخسته؛ لکه د وگړيو او تېرونو له استازيو او مشرانو سره نېغ په نېغه خبرې، چې رسول الله (ص) دا کارونه د حج په موسم کې کول. په دې پېر کې د قريشو مشرکانو پر ځېل، کينه او ظلم، له وحې، د الله له استازي او له هغه دين سره مخالفت ته ملاوې وتړلې، چې د هغوی گروهو ته يې بې عقلي او ناپوهي ويله.

مشرکانو د "ابوطالب" له لارې رسول الله ته پېغام ولېږه خو رسول الله (ص) ورته داسې تاريخي ځواب ورکړ، چې اوس هم په تاريخ کې انگازې کوي:

((تره! که لمر مې په ښي او سپوږمۍ په کیڼ لاس کې راکړي، چې له خپل رسالته لاس واخلم نو هېڅکله به داسې و نه کړم، څو مې الله اسلام بريالی کړي او يا مې په دې لار کې ووژني.))
روسته له دې چې دې کار يې هم پايله نه درلوده؛ نو پر رسول الله يې ډول ډول تورونه ولګول و يې ځوراوه، له توکانو نيولي تر چټليو پورې، هر څه يې پرې ورواچوهل او پردې هم يخ نه شول او له کينې يې د پاک نبي له ټولې پرګې سره راکړه ورکړه او مړی ژوندی پرېښود او د "ابيطالب په دره" کې يې کلا بند کړل او پردې سربېره يې پر هر مسلمان خورا تېری کاوه؛ خو له دې ټولو سختيو سره، رسول الله (ص) پر الهي مرستو او د قرآني احکامو په رڼا، د جاهليت پردې څيرې کړې او په پراخه سينه، جهاد او استقامت يې د تبليغ کار په ښه او ښکلې توګه ترسره کړ او اسلام د عربو په ټولو ټبرونو کې خور شو.

## حبشې ته هجرت

د بعثت پر پينځم کال، مسلمانانو ړومبی هجرت حبشې ته وکړ، چې د اسلام د ((تبليغي سياسي)) چارو د بشپړولو په لړ کې، د رسول الله (ص) د بهرنيو اړيکو څېره هم څرګندوي.
دا هجرت هغه مهال ترسره شو، چې رسول الله (ص) احساس کړه، چې د مسلمانانو د کړولو مخه نشي نيولای؛ نوځکه يې د ډېر تاوان او احتمالي زيانونو د مخنيوي او د اسلام د تبليغ او د تبليغ د وزلو د ساتلو او فعالولو لپاره يې مسلمانانو ته د هجرت سپارښت وکړ و يې ويل:
((حبشې ته هجرت وکړئ، چې عادل پاچا لري، چې په واکمنۍ کې يې پر چا ظلم نه کېږي او هېواد يې د رښتياوو ځای دی، چې الله مو له دې ستونزو وژغوري او پراخي راولي))
او د خپل تره زوی "حضرت جعفر ابن ابيطالب"(رض) يې ددې مهاجرو مشر وټاکه.

## په مدينه کې د هستوګنې پړاو

له هجرت مخکې، په ټولو پړاوونو کې د اسلام د تبليغ کار په ښه او پوره بڼه ترسره شوې. رسول الله (ص) له خلکو، د ټبرونو له استازيو او مشرانو سره نېغ پر نېغه خبرې کولې چې ؛ البته دې کتنو پر دواړو اغېز درلود، چې که مشر به راوبلل شو؛ نو د ټبر په مسلمانېدو کې يې خورا مرسته کوله[1].

---

[1] (عماره دکتر محمد؛ اساليب الاتصال والتغېر الجتماعي: ۱۱٤ مخ)

په تبليغي کړلار کې د نېغ په نېغه کتنو موخه، د بلنې پر سرچينه د خلکو د باور راماتول دي، چې همدا اعتماد يې پر ښوونځي د ايمان سرچينه ګرځي.
د "لازرسفيلد" او "کاتز" په څېر عالمان، په تبليغ کې، پر نېغ په نېغه رابللو ګروهه لري او دليل يې هم راوړي: ((خلکو ته اسان دي، چې له هغې بلنې سرغړونه وکړي، چې له افکارو سره يې سمون و نه لري؛ خو نشي کړاى له خپلوانو، ملګرو او همکارانو سره له نېغ پر نېغه خبرو لاس واخلي، په تېره چې کله خبره نوې هم وي او بل داچې نېغ پر نېغه بلنه مقابل لورى راماتوي او ډېر اغېز پرې لري.[1]))
رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم هم له ټېرونو او مشرانو سره د نېغ په نېغه خبرو اترو له ارزښته خبر و[2].

**په مدينه کې تبليغ**

که څه په مکه کې د تبليغ مثبتې وزلې ډېرې لږې وې خو په مدينه کې ډېرې وې، چې موږ په دې برخه کې نهو ځايو ته اشاره کوو:
١_اذان، چې د لمانځه وخت يې اعلاناوه.
٢_ د مدينې له يهودو سره په سوله کې د ګډ ژوند په موخه، نېغ په نېغه خبرې اترې.
٣_د مدينې له ګاونډيانو سره دوستانه اړيکې.
٤_د اسلامي حکومت استخبارات.
٥_ په کوشنيو او لويو اخترونو او د جُمعې د ورځې د لمانځه په خطبه کې د پاک نبي ويناوې.
٦_ د نورو ټېرونو له مشرانو، استازيو او خلکو سره د پاک نبي خبرې اترې او کتنې.
٧_د نوي دين او د پاک نبي په اړه اوازو خلک دې ته اړ ايستل، چې ځان پوه کړي، چې څه خبره ده.
٨_ د رسول الله جګړې، چې اسلامي تبليغ ته يې لار پرانسته او د ډنډورچيانو خوله يې ورماته کړه.
٩_ هغه ليکونه، چې رسول الله (ص) د نړۍ د بېلابېلو هېوادو پاچايانو ته واستول.

---

[1] (امام دکتر ابراهيم؛ الاعلام الاسلامي: ١٠ مخ)
[2] (حمزه عبدالطيف؛ الاعلام صدر الاسلام: ٧١ مخ)

# د اسلام نړيواله بلنه

د اسلام سپېڅلي دين، دراښکاره کېدو په ړومبيو ورځو کې په مکه کې خپل انساني او نړيوال هويت ښکاره کړ او اعلان يې کړ، چې نړيوال ښوونځی دی او تبليغ به يې تر ټولو جغرافيايي پولو تېر شي او د انسان بشپړتيا او ودې ته به هر ډول شونتياوې چمتو کړي.
دا کتنه راښيي، چې اسلام د انسان ټولې وسې او اړتياوې، څنګه چې دي، هماغسې پېژندلي او له مخې يې خپل احکام تنظيم کړي. تر ټولو پرېکنده ((نص))، چې ددې دين انسانيتوب راښيي دا آيت دی:
((فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفاً فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ[1]=نو خپل مخ دې د پالونکي (ساهو) دين ته سم کړه، دا فطرت دی چې انسانان پرې الله پيداکړي دي، په الهي پيداښت کې ادلون بدلون نشته دا هماغه سم دين دی؛ خو زياتره خلك نه پوهېږي.))
اسلام يوازېنی ښوونځی دی، چې بې د خلکو له ښکېلولو، د انسانانو د راويښولو کوښښ کوي او پوهوي يې، چې ازاد دي او بايد له ټولو کړيو، بندونو او پر ځان او نورو له تېري خلاصون ومومي .
د قرآن مکي سورتونو، د ډول ډول اعتقادي بحثونو تر څنګ، د انسان مادي او معنوي جوړښت او ترکيب هم روښانه کړی او راښيي اسلام انساني ماهيت لري او ټول انسانان يې مخاطب دي.
په مکي آيتونو کې څرګنده شوې، چې اسلام نړيوال دين دی. د ساري په توګه:
((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ[2]= او ته مو يوازې نړيوالو ته رحمت لېږلی يې.))
((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ[3]= او موږ ته ټولوخلکو ته (د الهي مکافاتو) زېری ورکونکی او (له عذابه يې) وېرونکی لېږلی خو ډېری خلك نه پوهېږي.))
پر پورتنيو نصوصو سربېره، له پيله د اسلام ټولې پلې شوې کړلارې هم ددې موخې لپاره وې. دساري په توګه: د رسول الله (ص) په تبليغي پلاويو کې د "حمزه بن عبدالمطلب"، "عمار بن

[1] (روم /۳۰)
[2] د انبياء سورت ۱۰۷ آيت
[3] (سبا/ ۲۸)

یاسر"، ((حبشي))"بلال"، رومي "صهیب" او د "مصعب بن عمیر" (رضی الله عنهم) په څېر کسانو شتون، ددې ښکارندوی دی، چې اسلام جغرافیایي او توکمیز توپیرونو ته ارزښت نه دی ورکړی او وینو، چې په دې مبلغانو کې شتمن، بېوزله، تور، سپین، عرب او عجم لیدل کېږي.

## د رسول الله (ص) لیکونه

رسول الله د اسلامي بلنې د پراختیا لپاره، د نړۍ د بېلابېلو هېوادو او سیمو له مشرانو سره په خورا ښکلې دود اړیکې ونیوې او ددې سیاست د دوام په لړ کې یې ورته لیکونه ولېږل او اسلام ته یې راوبلل، چې ځینو یې بلنه ومنله او مسلمانان شول، ځینو په ښکاره ورسره و نه منله خو ښه غبرګون یې وښود او ځینو په کبر او ملنډو ورسره چلن وکړ، چې یو شمېر لیکونه یې دادي:

**د ایران پاچا ته لیک:**

پر شپږم هجري کال، پاک نبي خپل استازی له لیک سره د "ایران" پاچا "خسروپرویز" ته ولېږه او په لیک یې اسلام ته راوباله. پر هغه مهال د "ایران" امپراتوري د ختیځ تر ټولوستره، شتمنه او پراخه امپراتوري وه او "خسروپرویز" پرې واکمن و، چې اور لمانځی و.

د رسول الله (ص) په لیک کې راغلي و:

((د لوراند او لورین څښتن په نامه. له ((محمدرسول الله (ص))) نه د "ایران" پاچا "خسرو پرویز" ته سلام دې پر هغه وي، چې پر الله او استازي یې ایمان راوړي او ګواهي ورکړي، چې بې له خدایه بل الله نه شته او "محمد" یې بنده او خلکو ته استازی یې دی، چې هغوی، چې ژوندي زړونه لري، له الله او قیامته ووېروي او پر کافرانو د الله د عذاب ژمنه پرېکنده کړي؛ نو مسلمان شه، چې په امن کې شې او که سرغړونه دې وکړه؛ نو د "مجوس" قوم ګناه به دې پر غاړه وي[1]))

---

[1] (تاریخ یعقوبي: ۲ټوک، ۷۷ مخ)

"خسرو پرويز"، ليک تر لوستو روسته په تکبر څيرې کړ. دا خبر، چې رسول الله (ص) ته راورسېد؛ نو و يې ويل: ((پاچاهي دې ړنګه شه)) او په دې وينا يې د هغه د حکومت د ټغر د ټولېدو خبر ورکړ.

په هغه وخت کې د "يمن" عربي هېواد د "خسرو پرويز" تر واک لاندې و او "باذن" پرې واکمن و. "خسروپرويز" ورته حکم وکړ، چې "محمد" لاسنيولی راولېږه.

"باذن" ته چې د "خسروپرويز" حکم راورسېد؛ نو دوه کسان يې په رسول الله (ص) پسې ولېږل، چې ويې ګوابښي او "باذن" ته يې راولي، دوی چې مدينې ته راغلل؛ نو رسول الله يې د خپلې دندې له موخې خبر کړ. رسول الله (ص) ترې وخت وغوښت و يې ويل چې: ((سبا به مو ځواب درکړم))، د هماغې ورځې پر سبا، الله خپل استازی خبر کړ، چې "خسروپرويز" خپل زوی "شيرويه" وژلی دی بيا چې استازي رسول الله (ص) ته راغلل د "خسروپرويز" له وژل کېدو يې خبر کړل او ورته يې وويل: ((باذن خبر کړئ او ورته ووايئ، چې دواکمنۍ کړۍ به مې تر "کسری" ورسي او د ځمکې پر هر ځای به مې واکمني شي؛ نو که مسلمان شوې؛ نو د "يمن" پر واکمنۍ به دې پرېږدم.))

استازي، چې "باذن" ته راغلل او د رسول الله (ص) خبره يې ورته وکړه؛ نو "باذن" وويل: ((پر الله قسم، چې دا د عادي واکمن خبره نه ده او زما په نظر "محمد" پېغمبر دی؛ نو بايد صبر وکړو، که وينا يې رښتيا شي؛ نو بېشکه پېغمبر به وي او که خبره يې سمه و نه خېژي نو هله به هوډ وکړو، چې څه ورسره وکړو.))

څه موده روسته "باذن" ته د "شيرويه" ليک راغی، چې: ((ما خپل پلار وژلی او پر تخت ناست يم او داچې اوس زما د واک پښې سستې دي؛ نو اوس له "محمد" سره کار مه لره.))

"باذن"، چې د "شيرويه" ليک ولوست؛ نو يارانو ته يې وويل: ((دا سړی د الله استازی دی او اسلام يې راووړ او ورسره فارسيان هم مسلمانان شول. [1]))

### د اسکندريه واکمن ته د ليک:

پر هماغه شپږم هجري کال رسول الله، د "اسکندريه" واکمن "مقوقس" ته هم ليک واستاوه او اسلام ته يې راوباله. "مقوقس" د الله د استازي ليک ولوست او هغه يې خير او نېکمرغي

---

[1] (تاريخ طبري: ۲ټوک، ۲۹۷ مخ)

وګڼله او پردې سربېره، چې په درناوي يې ليک ځواب کړ، دوه وينځې، يو اس او يو جوړ جامې يې هم ورته ډالۍ ورولېږلې.
رسول الله يې ډالۍ ومنلې او له دوو وينځو، له (ماريه) يوې سره يې واده وکړ، چې "ابراهيم" ترې وزيږېد[1].

**د دمشق واکمن ته ليک:**
پر هماغه کال رسول الله د "دمشق" واکمن "حارث" ته ليک واستاوه، چې په يوه برخه کې يې راغلي وو:
((سلام دې پر هغه وي، چې د ښيون لاروی او پر الله ايمان راوړي. تا پر يو الله ايمان ته رابولم، چې پر حکومت پاتې شې.))
د تاريخ ليکونکيو د وينا له مخې، "حارث" بلنه و نه منله او د رسول الله (ص) ليک او استازی يې بد ځواب کړل.

**د حبشې واکمن ته ليک:**
د بعثت پر پينځم کال، ځينو مسلمانانو د حضرت "جعفر ابن ابيطالب" په مشرۍ حبشې ته هجرت کړی و. ددې مهاجرت نقشه د سياسي تاکتيک په نامه او د لاندې موخو پلې کولو ته ايستل شوې وه:
الف _ د مشرکانو له شره د مسلمانانو خلاصېدل.
ب _ د نويو ملاتړو لاس ته راوړل.
ج _ اسلام ته د نجاشي او نورو حبشيانو رابلل.
رسول الله (ص) ددې حرکت په لړ کې پر شپږم هجري کال، "نجاشي" د حبشې پاچاته ليک واستاوه، چې پکې راغلي وو:
((د لوراند او لورين څښتن په نامه. د ((محمدرسول الله)) له لوري د حبشې ستر پاچا "نجاشي" ته سلام دې پر تا وي پر ډاډ ورکوونکي او ساتونکي الله درود وايم او ګواهي ورکوم "عيسی" د "مريمې" زوی، د الله روح او کلمه ده، چې پاکلمنې پېغلې مريمې ته يې ورکړ او الله "عيسی" له خپل روح پيدا کړ؛ لکه څرنګه چې "آدم" يې په خپل لاس جوړ کړ. زه تا غني الله او لاروۍ

[1] (دويدارامين؛ صورمن حيات الرسول: ۴۹۸ مخ)

ته یې رابولم او له تا غواړم زما لاروی شې او پر هغه الله ایمان راوړې، چې زه یې را لېږلی یم، چې زه پېغمبر یم. د خپل تره زوی "جعفر" او یو شمېر مسلمانان مې در لېږلي، چې درشي؛ نو و یې منه او تکبر مه کوه، چې زه تا او لښکر دې الله ته رابولم. د الله له پېغامه مې خبر کړې او نصیحت مې درته وکړ، نصیحت مې ومنه او درود دې پر هغه وي، چې د ښېون لاروی شي.[1]))

"نجاشي" د رسول الله په ځواب کې وکښل:

((د لوراند او لورین الله په نامه. د الله استازي محمد ته. له "نجاشي اعظم بن ابجزز" له لوري. پر تا دې د الله درود، رحمتونه او برکتونه وي، هغه ایکې یو پالونکی چې اسلام ته یې سم کړم. امابعد د الله پېغمبره! لیک او د "عیسی" په اړه دې، چې څه پکې کښلي وو، راورسېد. د اسمان او ځمکې پر الله قسم!، چې "عیسی" پردې یو ټکی هم نه ورزیاتوي کوم دین چې دې راوړی، پېژندلی مې دی او ستا د تره زوی مې له یارانو سره یې ومانه او ځان ته مې نژدې کړل او ګواهي ورکوم چې ته رښتین پېغمبر او د الله له لوري تایید شوی یې او ما له تا او ستا د تره زوی سره بیعت کړی او د هغه له لارې مې پر "نړۍ پال" ایمان راوړی دی او خپل زوی "ارها" مې درولېږه، چې یوازې پر ځان بر لاس یم نو که غواړې، چې درشم او ګواهي ورکوم، چې دین دې پر حق دی او د الله استازیه! پر تا دې درود وي[2]))

**د روم پاچا ته لیک:**

په لیک کې راغلي وو:

((له محمدرسول الله نه "هرقل" د "روم" پاچا ته سلام دې پر هغه وي، چې د ښېون لاروی وي تا اسلام ته رابولم نو اسلام راوړه، چې روغ پاتې شې، چې الله درته دوه ګرایه ثواب درکړي ((ورته ووایه: کتابیانو!راشئ چې د هغې خبرې لاروي وکړو، چې زموږ او ستاسې په منځ کې یو شانته ده، بې له خدایه بل ونه لمانځو او څه ورسره شریک نه کړو او په موږ کې ځیني د الله پرځای پالونکی و نه نیسو نو که له حقه واوښتل؛ نو ورته ووایه: تاسې ګواه اوسئ، چې موږ د الله حکم ته تسلیم یو)) نو که اسلام و نه منئ؛ نو د بزګرانو ګناه به ستا پر غاړه وي.))

"هرقل" په ځواب کې ورته وکښل:

---

[1] (تاریخ طبري: ۲ټوک، ۲۹٤ مخ)

[2] وګورئ: پورته سرچېنه.

((احمد د الله استازي ته! د "روم" له پاچا "هرقل" نه! هماغه يې، چې "عيسی" يې د راتګ زېری ورکړی و ليک دې له استازي سره راورسېد او په رښتيا ګواهي ورکوم، چې د الله استازی يې؛ څکه خبر دې په "انجيل" کې راغلی او"عيسی مسيح" هم ستا د راتګ زېری کړی او ما هم "روميان" راوبلل، چې پر تا ايمان راوړي خو و يې نه منل او که منلي يې وای نو ډېر به ښه وو او په رښتيا، چې ډېر لېوال يم، ستا په خدمت کې شم او پښې دې پرېمينځم.))
رسول الله (ص) ته، چې د "هرقل" ليک راورسېد؛ نو و يې ويل: ((چې زما ليک ورسره وي؛ نو هېواد به يې پايند او ټينګ وي [1]))

## د اسلامي بلنې ځانګړنې

له پورته خبرو پايله لاس ته راځي، چې د نبوي تبليغي عناصرو وړتيا، د ښوونځي حقانيت او د پاک نبي لوړ شان، خلک د هغه مبارک د نبوت تصديق او د بلنې منلو ته چمتو کړل او پردې سربېره، د اسلامي تبليغ مخاطب، فطرت او انسانيت دی؛ نوځکه څوک چې انساني ژوند غواړي نو په هر ځای او وخت کې ورته د منلو وړ دی او ويلای شو اسلام د ټولو انساني پرګو د مديريت وړتيا او وس لري او لاندې خبرې زموږ د خبرې پخلی کوي:
الف _له نيمې پېړۍ په لږه موده کې د اسلام خوربدل او پر لويديځ او ختيځ يې واکمني او دې تلپاتې ښوونځي ته د سترو انساني پرګو راتګ، داسې خبره ده، چې د بشر په تاريخ کې يې ساری نه درلود.
ب_ددې سپېڅلې بلنې د سر د راجګېدو ځای داسې روسته پاتې چاپېريال و، چې د "روم" او "ايران" د سترو امپراتوريو په منځ کې پروت و. سره له دې چې دوی په ظاهره متمدنې او د فلسفې او فرهنګ خاوندانې وې خو د خلکو په زړونو کې يې د ننووتو وس نه درلود.
ج _د بلنې راوړونکی داسې سړی و، چې پخوا يې د لوست او ليک مخينه نه درلوده.
د _مسلمانانو، چې غير اسلامي هېوادونه فتح کړل؛ نو لږه موده روسته په خپله خوښه اسلام ومانه؛ لکه څنګه چې مغولو پر "ايران" تر لاسبرۍ روسته اسلام ومانه.

[1] (تاريخ يعقوبي: ۲ټوک، ۷۷ مخ)

## نبوي سيرت او روزنه

سويسي عالم "سيدللو" د رسول الله (ص) په اړه په ((تاريخ العرب)) کې وايي:
(("محمد"په ۲۵ کلنۍ کې په خپل پاک سيرت او عادلانه چلن ځان ته "امين" لقب وړکړ او خلکو يې ډېر ژر خبره ومنله او ملاتړ يې شول پر کوشنيانو لورين و او د مشرانو يې درناوی کاوه.))
فرانسوي ختيځ پوه "کاردايفو"[1] د رسول الله (ص) په اړه وايي:
((عربو له اسلامه مخکې، په هر ناوړه کار لاس پورې کاوه؛ خو "محمد" د نوي دين په راوړو، په سمونو لاس پورې کړ او يو لاس يې کړل، چارې يې ورته پر ازرښتمنو قوانينو سمبال کړې او تر هغوی يې ريښه ور، عزتمن او متمدن امت جوړ کړ.))

## د سيرت النبي روزنيز اړخ

روسی ليکوال "ايوانوف" د اسلام په باب ليکي: ((اسلام په بيړه په نړۍ کې خور شو، چې بنسټګر يې عربي "محمد" و، چې و يې کړای شو، د خپل قوم ناوړه ارثي دودونه له منځه يوسي او د عربو قبايل يو لاس کړي، ذهنونه يې روښانه، اخلاق يې ښه او زړونه يې نرم او پرمختګ ته يې چمتو کړي او په دې لار کې يې برې هم لاس ته راووړ او په رښتيا، چې هغه له سترو سمونپالو و.[2]))
هو! همداسې وه او "محمد"(ص) هغه تېپ ولاړ او ناپوه ملت وروزه او د روزنې داسې پرمختللي دودونه يې ورزده کړل، چې د اوسنۍ نړۍ د روزنې د پوهانو نظريات لا ورته نه دي رسېدلي.
ننۍ نړۍ د کمپيوټر او اينټرنټ پر جوړوونکي وياړي خو سره له دې ټولو وزلو، پر مخدره توکيو د روږد له درمله بېوسې ده؛ خو رسول الله (ص) له هغه وحشي عربو د ورځې زمري او د شپې زاهدان جوړ کړل او داسې انسانان يې ترې جوړ کړل، چې څه يې ځان ته خوښول، بل

---

[1] په ((مفکر و الاسلام)) کتاب کې
[2] وګورئ: (مجله الثقافه، ۷ ټوک، د روسيې چاپ)

ته يې هم خوښول او په پوره ښوزلې او اړتيا کې يې د نورو اړتياوې ترخپلو اړتياوو ړومبې ګڼلې او د اسلام له راښکاره کېدو لا نيمه پېړۍ نه وه تېره، چې پر نيمه نړۍ واکمن شول.

## زده کړې او ښوونې ته د اسلام بلنه

داچې انسان بايد له نورو څه زده کړي او دا دومره روښانه ده، چې فکر نه کوم په باب يې خبرې وکړو. بايد د اسلامي پوهې او ښوونو د بريدونو په اړه خبرې وکړو، چې اسلام کوم علم غواړي د وحې په ړومبيو آيتونوکې وايي:

((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ[1] = ولوله! د خپل پالونکي په نامه، چې (هرڅه يې) شته کړي دي، انسان يې له ځوړندې (پرنډې وينې) پيدا کړ. ولوله، چې ستا پالونکی (ترټولو) ډېر عزتمن دی هغه [ پالونکی ]، چې په قلم يې ښوونه وکړه، انسان ته يې هغه څه وښوول، چې پرې نه پوهېده.))

دا آيت تر ټولو ستر لووی دی، چې اسلام علم ته څومره ارزښت ورکوي: الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. قلم د ليک لوست ښکارندوی دی.

((هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ=ايا هغوی چې پوهېږي او هغوی چې نه پوهېږي، يو برابر دي؟! (هېڅکله نه) بېشکه يوازې عقلمن دي، چې پند اخلي.[2]))

((وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا= او پوهانو وويل: ((پر تاسې افسوس، الهي ثواب هغوی ته غوره دی، چې ايمان يې راوړی او نېکې چارې يې کړې وي. [3]))

همداراز رسول الله (ص) وايي: ((بالتعليم ارسلت =زه تعليم ته رااستول شوی يم.)) [4]

مشهوره کيسه ده، چې رسول الله (ص) جومات ته راننووت او يوې ډلې عبادت کاوه او بلې زده کړه او رازده کړه؛ نو و يې ويل: ((کلا هما على خير و لکن بالتعليم ارسلت=دواړه ښه چارې دي؛ خو زه تعليم ته رالېږل شوی يم)) او بيا پخپله د تعليم او تعلم په ډله کې کېناست.

---

[1] (علق/۱-۵)

[2] (زمر: ۹ آيت)

[3] (قصص/۸۰ آيت)

[4]. (بحار/۱۲۰٦)

((هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ[1]=(الله) هغه دی، چې په نالوستو کې يې استازی په خپله د هغوی يو تن (د استازي په توګه) راپاڅاوه، چې د الله آيتونه ورته ولولي او پاك يې کړي او کتاب (قرآن) او حکمت وروښيي او که څه تردې له مخه په ښېخي څرګنده بې لارۍ کې وو.))
يُزَكِّيهِمْ له روزنې سره اړخ لګوي او په روزنيزو چارو پورې اړوند دی وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ اوس چې له کتابه هر مطلب وي، مطلق کتاب دی [يا قرآن] بالاخره کتاب او حکمت سره يوځای شوي دي. حکمت د حقيقت لاس ته راوړل دي، چې پکې وينه نشته خو وينه په دې ده، چې څه حکمت دي او څه نه دي، چې دا يوه صغروي وينه ده. د هر حقيقت لاس ته راوړو ته حکمت وايي.
((يُؤتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاء وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيراً وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ[2]= (د الله) چې چاته خوښه شي (او وړ يې وګڼي) پوهه او حکمت ورکوي او چاته چې پوهه ورکړه شي؛ نو په حقيقت کې ستر خير يې ورکړی دی او(له دې حقايقو) يوازې د پوهې خاوندان پند اخلي.))
روښانه ده، چې اسلام په ټوليزه توګه زده کړې او رازده کړې ته رابللي يو او موخه يې يوزاې داده، چې اسلامي امت بايد عالم وي.
نبوي حديث دی: ((طلب العلم فريضة على كل مسلم)) چې دلته ((مسلم)) د ((مسلمه)) پر وړاندې نه دی او دواړه رانغاړي[3].

---

[1] (جمعه: دويم آيت)
[2]. (بقره: ٢٦٩)
[3] [يادونه: انديال شهيد مرتضى مطهري په (ښوونه او روزنه په اسلام کې): په عربي کې د مذکر صيغه د سړي لپاره ځانګړې شوې نه ده او د مذکر صيغه هغه مهال سړي ته ځانګړې کېږي، چې د مونث پر وړاندې راشي؛خو چې د مونث پر وړاندې رانشي؛نو د ټولو لپاره ده؛لکه په قرآن کريم کې راغلي: هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ[3]= آيا دلته له الَّذِينَ يَعْلَمُونَ نه مطلب دادی: سړي، چې پوهېږي که کوم کسان، چې پوهېږي؟څرګنده ده، چې مطلب يې کوم کسان دي، چې پوهېږي. د ص سورت په ۲۸ آيت کې راغلي: ((أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ =ايا هغوی چې ايمان راوړی او ښې کړنې يې کړې وي، د هغه چا په څېر کړو، چې په ځمکه کې فساد کوي؟ يا پرهېزګاران د بدکارانو په څېر کړو؟!)) دلته ټولې صيغې مذکرې دي؛خو په ژباړه کې تاسې څه واست؟ (ايا هغو سړيو، چې ايمان راوړی او ښه کړه وړه يې کړي وي، د هغه سړيو په څېر کړو، چې په ځمکه کې فساد کوي؟ يا پرهېزګاران د بدکارانو په څېر کړو؟!)؛يعنې داسې ښځې له دې وينې بهر دي؟ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ؛ نو آيا ددې لپاره، چې ((متقين)) مذکره صيغه ده؛نو ښځې پکې نه راځي يا داچې مطلب ترې کسان دي. تر

کوم علم؟

د زده کړې رازده کړې په چار کې آريزه خبره داده، چې ددې مطلب پولې څه دي؟ ځينې علمونه " عيني فرض " دي؛ يعنې پخپله هغه علم د يوې گروهې په نامه، هومره چې د ايمان شرط يا سريزه ده، پر هر مسلمان لازم او فرض دی؛ لکه "معرفة الله، علم باالله و ملائکته و کتبه و رسله و اليوم الاخر"؛ ځکه په اسلام کې ايمان ((عن علم)) ته ورمات دی، نه ((عن تقليد)) ته. دا علم " عيني فرض " دی. دا خبره ټولو علماوو کړې ده؛ نو څرگنده ده، چې ((طلب العلم فريضة)) په هغو علمونو کې شامل دی، چې د ايمان له شرايطو ځنې دي. اوس بايد پوه شو، چې د [علم فريضه] څه ده؟

---

اوسه هيڅا دا احتمال نه دی ورکړی (چې ددې آيت مطلب به دا وي) ايمانوال او نېکچارې سړي، تر مفسدو سړيو غوره دي.

چې وپوښتي: آيا ايمانوالي او نېکچارې ښځې له مفسدو غوره دي که نه ؟ ووايي، چې قرآن ددې په هکله حکم نه لري.

آيا دې آيت: (إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُم[3] = په حقيقت کې د خدای پر وړاندې ستاسې ډېر عزتمن، ستاسې ډېر پرهېزگار دی) ژباړه داده، چې په تاسې کې ډېر عزتمن سړي پرهېزگاران سړي دي او د ښځمنو خبره پکې نشته او که له ((ستاسې)) راد انسانان دي ؟ او په اخلاقياتو کې هم داسې ده؛يعنې په عربي کې داسې نه ده، چې نارينه وو او ښځمنو ته عمومي يوه صيغه وضع شوې وي؛ يعنې د سړي لپاره ځانگړې صيغه او ښځمنو ته ځانگړې صيغه؛بلکې هغه صيغه هم که عمومي د سړي لپاره وي؛همدا "مذکره صيغه " ده؛نو که د ((و مسلمة ټکی هم نه وي؛نو څوک نشي ويلای، چې مفهوم عام نه دی او په ځينو روايتونو کې ((ومسلمة)) هم ش ته چې کمزوري روايتونه دي او عموم روايتونه هماغه ((طلب العلم فريضة على کل مسلم)) دي.

او آيا د ((المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده)) [3] په حديث کې ((المسلم)) د سړي لپاره ځانگړی دی که ښځې او سړي دواړه لپاره دی؟ او آيا د حديث مانا داده: مسلمان سړی هغه دی، چې مسلمان سړي يې له ژبې او لاسه خوندي وي او نه يې دي ويلي، چې د مسلمانې ښځې له لاس او ژبې هم مسلمان سړي او ښځې خوندي وي؟!

مشهوره کيسه ده، چې يوې ښځې د پېغمبرۍ دعوا وکړه؛نو هغه يې بندي کړه، چې دا دعوا دې د اسلام له اصولو سره مخالفه ده. و يې ويل: رسول الله وويل: ((لا نبی بعدی)) او نه يې دي ويلي: ((لا نبية بعدی)) او نه يې دي ويلي: ((لا نبی و لا نبية بعدی)) او ((نبی)) مذکر دی او پېغمبر نه دي ويلي، چې ښځمنه پېغمبره به تر ما وروسته نه راځي.

که دا خبره سمه وي، چې مذکرې صيغې نارينه وو ته ځانگړې وي؛نو د ښځې استدلال سم دی او که کومه ښځه د پېغمبرۍ ادعا وکړي؛نو بايد ووايو، چې په اسلام کې ددې دليل د بطلان لپاره دليل او ان کوم آيت نشته او ان آيت شته، چې وايي: ((وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ)) [3] نه دا چې ((خاتم النبيين و النبيات))؛نو د قرآن آيت هم دليل نه دی؛نو بايد ووايو: موږ په اسلام کې هېڅ دليل نه لرو، چې تر حضرت محمد(ص) وروسته به ښځمنه پېغمبره نه راځي او حال داچې اړنگ نش ته چې دلته ښځمنه او نارينه اوڅار نه دي.

په علماوو کې یوه وینه ده، چې هغه کوم علم دی، چې فریضه ده؟ فقهاء وایي: مطلب یې د فقهې علم دی، چې د عمل سریزه ده. د اخلاقو علماء وایي: د اخلاقو علم ترې غوره دی او د تفسیر علماء وایي: د تفسیر او کتاب الله علم تر ټولو غوره دی.

د وینې ځای نه پاتېږي؛ ځکه علم یا پخپله موخه ده او یا د موخې لپاره سریزه ده. چېرې چې پخپله موخه وي فرض دی؛ لکه د دین آرونه او په کوم ځای کې چې پخپله موخه نه وي او کومه اسلامي موخه ورته څنډ وي، د فرضو د سریزو له پلوه فرضېږي. په خپله فقهاوو ویلي، چې د مسایلو زده کړه "سریز واجب " خو "واجب تهیوي" دي او په څرګندنه- اصطلاح "واجب نفسي تهیوي" دي؛ یعنې څه چې پر موږ واجب دي، پرې عمل کول دي. د بېلګې په توګه: موږ باید لمونځ وکړو خو دا که انسان وغواړي، سم لمونځ وکړي؛ نو بې د لمانځه پر مسایلو له پوهېدو ناشونې ده؛ نو ددې لپاره، چې انسان لمونځ کولو ته چمتو شي؛ یعنې سم لمونځ وکړي؛ نو واجب ده، چې ځان د لمانځه پر مسئلو پوه کړي.

دا خبره یوازې په لمانځه او روژې پورې ځانګړې نه ده په اسلامي دندو کې که هره دنده علم ته اړتیا ولري؛ نو د "واجب نفسي تهیوي" په نامه هماغه علم پرې فرضېږي؛ یعنې هغه فرض، چې موږ بل فرض ته چمتو کوي؛ یعنې هغه فرض یو ډول "سریزي فرض" دی.

د اخلاقو علم هم طبعاً "واجب نفسي تهیوي" دی. اسلام له موږ ((یزکیهم)) غواړي د نفس تزکیه غواړي، چې بې له علمه ناشونې ده؛ نو د اروایي او اخلاقي مسئلو پوهه د نفس د تزکیې د سریزې په توګه لازمه ده.

موږ باید له قرآنه یو لړ احکام زده کړو؛ نو څرګنده ده، چې د قرآن او تفسیر زده کړه ورته فرض ده.

پر عیني فرضو سربېره کفایي فرض هم لرو؛ یعنې هغه فرضونه، چې د کار د وېش پر بنسټ وشي؛ لکه د ډاکټر (طبیب) شتون په کار دی؛ نو طبي زده کړې کفایي فرض دي او څوک هم بې علمه ډاکټرېدای نشي؛ نو باید علم یې زده کړي.

اسلام وایي: ډاکټر په کار دی؛ نو څرګنده ده، چې سریزه یې هم باید چمتو شي؛ نو داده، چې طبي زده کړې کفایي فرض دي.

بریدونه یې څه دي؟ ټاکلی برید نه لري. په هر وخت کې، چې څومره شونې وي؛ نو هومره په کار دی. په یو وخت کې خلکو ته په کار وو، چې د "ابو علي سینا بلخي" د "قانون" کتاب ولولي خو نن ترې غوره راغلي، چې باید وویل شي.

بله بېلګه يې سوداګري ده. آيا د اسلام په وتيز غونډال کې د داسې منځکړې ډلې شتون تائيد او تثبيت شوی، چې مواد له توليده تر مصرفه ورسوي؟که تائيد شوې وي؛ نو د سوداګرۍ د علم زده کړه هم فرض ده.

بله بېلګه: قرآن شريف وايي:

((وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ [1]= او څه موچې له وسې پوره وي، د هغوی [=دښمنانو] مقابلې ته يې چمتو کړئ او (همداراز د جګړې ډګر ته) تکړه اسونه (چمتو کړئ)، چې پرې د الله او خپل دښمنان ووېروئ.))

آيا د تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ هومره ځواک چمتو کول فرض دي که نه؟ هو! فرض دي؛ خو دا کار په خپله نه کېږي او په بيلچه خو ځواک نه جوړېږي ځواک جوړول لار لري او لار يې هم پوهه ده. تر کومه بريده؟ هومره، چې په بېلابېلو وختونو کې تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وکړي.

نو د ((طلب العلم فريضة على كل مسلم)) مسئله روښانه ده ځينې پوهې عيني فرض دي، چې پر هر وګړي فرض دي او ځينې پوهې کفايي فرض دي او په دې اعتبار، چې د يو فرض (کفايي) سريزه ده او فرضي سريزه ده؛ نو فرض ده؛ نو اړنګ نشته چې ځينې وايي: يوازې ديني علم فرض دی؛ يعنې هغه علم، چې موضوع يې ديني چارې وي؛ يعنې پخپله د دين زده کړه نه داچې د دين زده کړه يو علم دی او هغه بل علم دی، چې انسان پرې خپله ديني دنده ترسره کوي او په دې پورې ځانګړې نه ده، چې خلک بايد يوازې دين زده کړي او هغه څه زده نه کړي، چې ددين پلې کول ورته څنډ وي او پخپله دين، چې بايد زده کړي يوه برخه يې " خپلواک فرض "او عيني دی (؛لکه معرفة الله) او بله برخه يې "سريزي فرض " ده (؛لکه د لمونځ د احکامو زده کړه.)

چا ويلي، چې دين دې زده کړو؟ اسلام ويلي نه دي، چې دين زده کړئ ويلي يې دي: پر دين عمل وکړئ خو پر دين عمل يې بې زده کولو ناشونې ده؛ نو دين بايد زده کړو، چې عمل پرې وکړو او په هغه نورو چارو کې هم، چې دين مو پر اوږه ايښې [ د ټولنې د اړتيا ډاکټر] نو څرګنده ده، چې څو مو دندې زده کړې نه وي عمل هم پرې نه شو کړای بايد دنده زده کړو، چې عمل پرې وکړو.

---

[1]. (انفال: ٦٠)

پخپله تعليم (ته هم خورا ارزښت ورکړ شوی دی) هم ټاکلي بريدونه نه لري، چې ووايو د کلام علم څنګه؟ د تفسير علم څنګه؟ د اخلاقو علم څنګه؟ رياضيات څنګه؟فزيک څنګه؟ اسلام نه دی راغلی، چې وټاکي کوم علم زده کړئ او کوم علم مه زده کوئ، اسلام يو لړ احکام لري، چې بايد پلي شي، چې پلي کول يې د يو لړ نورو څيزونو زده کولو ته څنډ دي.

۲_ د ژمنو ټينګول

د بشر ټولنيز ژوند د ژمنو او تړونونو د درناوي پر بنسټ دی. د ژمنې او تړون درناوی د بشري تمدن له انساني اړخونو څنې دی. دا ونډه تل دين درلوده او تر اوسه يې هم لري او تر اوسه يې هم ځايناستی پيدا کړی نه دی. سره له دې چې "ويل پېرت" يو دين ضدی عنصر دی؛ خو د "تاريخ د زده کړو" په کتاب (۵۵ مخ) کې منښته کوي، وايي:

((دين د خپلو احکامو په مرسته وکړای شول بشري تړونونه او ژمنې د الله او انسان د نړدېدو لامل وښيي او په دې چار يې ثبات او ټيکاو رامنځ ته کړ.))

په ټوليزه توګه دين د اخلاقي ارزښتونو کوټلې اډانه ده. له اخلاقي ارزښتونو، چې دين لرې کړې نو د هغو بې ملاتړه پيسو مثال به ولري، چې اعتبار نه لري.

۳- له ټولنيزو بندونو ازادي

پېغمبرانو له استبدادونو او ټولنيزو زنديو سره په مبارزه کې بنسټيزه ونډه درلوده. قرآن کريم هم د پېغمبرانو په دې ونډه خورا ټينګار کوي: لومړی داچې عدل راوستل د پېغمبرانو د بعثت او رسالت موخه ښيي دويم داچې پخپلو کيسو کې يې له مستبدانو سره د پېغمبرانو مبارزې راوړې دي او په ډاګوي، چې همدا ډله وه، چې تل به له پېغمبرانو سره په جګړه کې وه.

د "مارکس" او پلويانو يې دا خبره بېځايه او د تاريخي حقايقو پرخلاف ده، چې وايي: دين، دولت او شتمني د بې برخې طبقې پرخلاف د واکمنې طبقې درې څېرې دي.

داکتر "اراني" د "مارکس" څرګندونې ته مخونه ورکوي:

((دين د بېوزلې طبقې د مغلوبولو لپاره د واکمنې طبقې لوبڅې ده تل تسبېح، صليب او سرنېزه په يوه ليکه کې خوځي.))

تاريخ ته د داسې مخونو او د تاريخ د فلسفو د منلو لپاره يوازې يوه لار شته: سترګې له تاريخي واقعيتونو پټول.

حضرت علي (ک) د تورې او تسبېح مېړنی دی هم د تورې سړی دی او هم د تسبېح خو د کومې طبقې د مغلوبولو لپاره؟ د محکومې طبقې یا واکمنې طبقې؟ د حضرت علي (ک) شعار څه و؟ شعار یې دا و: تل د ظالم دښمن او د هغه ملګری وسئ، چې تېرى پرې شوى دى. [1]
حضرت علي (ک) پخپل ټول عمر کې د تسبېح او تورې ملګری و خو د زرو دښمن و. توره یې د زر او زور د څښتنانو پرخلاف کارېده او د "مهزلة العقل البشري" په کتاب کې د "علي الوردي" د وینا له مخې: ((حضرت علي (ک) پخپل شخصیت د مارکس فلسفه له منځه یووړه.))
تردې خبرې د "نیچه" خبره چټې ده-ببخي د مارکس د څرګندونې اپوټه- ((داچې زرور د ټولنې د تکامل او پرمختګ یوازېنۍ طبقه ده او دین د کمزوریو په ملاتړ رامنځ ته شوی نو د پرشاتګ لامل دی.))
ته وا بشري ټولنه هغه مهال د تکامل په بهیر کې په ځغاسته کې ده، چې د ځنګل قانون پرې واکمن وي.
د "مارکس" له نظره بې برخې طبقه د تکامل لامل دي او پېغمبران ددې طبقې پر ضد دي او د "نیچه" له نظره، زرور د تکامل لامل دي او پېغمبران یې پر ضد دي.
"مارکس" وایي: دین زرورو او شتمنو راایستلی او "نیچه" وایي: کمزوریو او بې برخو را ایستلی دی.
د "مارکس" یوه غلطي په دې کې ده، چې تاریخ ته یې یوازې د طبقاتي ګټو د تضاد پر بنسټ مخونه ورکړې او د تاریخ انساني اړخ یې نالیدی ګڼلی دی. [2]
بله غلطي یې په دې کې ده، چې د تکامل لامل یې یوازې او یوازې بې برخې طبقه ګڼلې
دریمه غلطي یې په دې کې ده، چې پېغمبران یې د واکمنې طبقې په ټلواله کې راوړي دي.
د "نیچه" غلطي په دې کې ده، چې د "زور لامل" یې د تاریخ د تکامل لامل ګڼلی په دې مانا، چې "غوره" انسان یې له "زرور" انسان سره یو شان ګڼلی او هغه انسان یې د تاریخ پرمخ وړونکی ګڼلی، چې غښتلی او زرور وي.

---

[1]. وګ: نهج البلاغه/٤٧ لیک.

[2]. [یادونه: په دې مطلب لا پوهېدو ته "د تاریخ د فلسفې له لید لوري د امام مهدي پاڅون" کتاب ته مراجعه وکړئ، چې ډاکټر محمد طارق اقبال په پښتو ژباړلی دی. ]

# د پيغمبری او بعثتونو موخې

د تاريخ په تکامل کې د پيغمبرانو ونډه روښانه شوه. اوس بايد پوه شو، چې د پيغمبرانو او اسماني کتابونو د راتګ آريزه موخه څه ده؟شونې ده، وويل شي: آريزه موخه يې د خلکو لاربنوونه، نېکمرغي، ژغورنه، خير، سمونه او هوساينه ده.
اړنګ نشته چې پيغمبران د خلکو لاربنوونې، نېکمرغی، ژغورنې، خير، سمونې او هوساينې ته راغلي دي.
خبره په دې کې نه ده خبره په دې کې ده، چې په پايله کې به دا نېغه لار چېرې رسي؟ ددې ښوونځي له پلوه د خلکو نېکمرغي په څه کې ده؟ په دې ښوونځي کې خلکو ته کوم ډول اسارتونه تشخيص کړای شوي دي، چې خلک ترې راخلاصلول غواړي؟ دا ښوونځی د خلکو خير، سمونه او روستی هوساينه څه ګڼي ؟
په قرآن کريم کې سره له دې چې دې ټولو ماناوو ته اشاره شوې او په ډاګه کړي يې دي دوه ماناوې او مفهومونه په ځانګړې توګه ښوول شوي، چې د پيغمبرانو آريزې موخې وې؛ يعنې د ټولو پيغمبرانو ټولې ښوونې ددې دوو چارو سريزې دي: د الله پېژندنه او ورته نږدېدل او بل په بشري ټولنه کې د عدل اوقسط راوستل.
((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا. وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِجازهِ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا [1] = پيغمبره! په حقيقت کې موږ ته شاهد او زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی يې او (ته) مو د هغه په حکم د الله لوري ته بلونکی او روښانه ځراغ لېږلی يې.))
په دې آيت کې د ټولو راغليو اړخونو په منځ کې ښکاره ده، چې د الله پر لور بلنه يوازېنی چار دی، چې آريزه موخه شمېرل کېږي.
بلخوا د ټولو پيغمبرانو په هکله وايي:
((لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ [2] = په يقين (موږ) خپل استازي له ځرګندو دلايلو سره ولېږل او ورسره مو (اسماني) کتاب او تله (له باطله د حق پېژندنه او عادلانه قوانين) ولېږل، چې خلك پر انصاف ودرېږي او اوسپنه مو راکوزه

[1]. (احزاب/٤٦_٤٥)
[2] (حديد/٢٥)

کړه، چې په هغې کې ډېر زور او د خلکو لپاره گټې دي، چې الله ته معلومه شي، چې څوك په پټه او له استازیو سره یې مرسته کوي په رښتیا الله غښتلی ناماتی دی.))
دا آیت په ډاگه وایي، چې د پیغمبرانو د راتگ موخه بشري ټولنې ته د عدل او قسط راوستل دي.
الله ته بلنه او پېژندل یې او ورنږدېدل؛ یعنې نظري او "وگړیز عملي توحید" ته رابلنه خو په ټولنه کې د "عدل" او "قسط" راوستل؛ یعنې "ټولنیز عملي توحید" جوړول.
آیا د پیغمبرانو آریزه موخه الله پېژندنه او الله نمانځنه ده او نورې ټولې چارې؛ لکه ټولنیز نیاو یې سریزه ده یا داچې آریزه موخه د عدل او قسط راوستل دي او د الله پېژندل او نمانځل یې سریزه او وزله ده؟ آیا آریزه موخه "وگړیز عملي او نظري توحید" دی که آریزه موخه "ټولنیز عملي توحید" دی؟ دلته څو ډوله څرگندو نه کړای شو:
۱- پیغمبران د موخې له پلوه ثنوي ول؛ یعنې دوه خپلواکې موخې یې درلودې، چې یوه یې په اخروي ژوند او نېکمرغۍ پورې اړوند ده (وگړیز نظري او عملي توحید) او بله یې په دنیوي نېکمرغۍ پورې اړوند ده (ټولنیز توحید).
داچې پیغمبران د بشر د دنیوي نېکمرغۍ په فکر کې ول؛ نو په ټولنیز توحید بوخت شول او داچې د بشر اخروي نېکمرغي خوندي کړي؛ نو په وگړیز نظري او عملي توحید بوخت شول.
۲- اصلي موخه ټولنیز توحید دی او وگړیز نظري او عملي توحید یې سریزه ده. نظري توحید په الله پېژندنې پورې اړوند دی. انسان في حد ذاته هېڅ اړتیا نه لري، چې الله وپېژني او که و یې نه پېژني د اروا د حرکت یوازېنۍ لامل یې الله وي او که زر نور څیزونه-؛ لکه څنگه چې په طریقه اولی الله ته توپیر نه کوي، چې انسان یې وپېژني که و یې نه پېژني، و یې نمانځي که و یې نه نمانځي۔ خو ددې خبرې په پامنیوي، چې کمال په ((موړ)) کېدو او ټولنیز توحید کې دی او دا چار بې له وگړیز نظري او عملي توحیده ناشونی دی؛ نو الله خپل معرفت او عبادت فرض کړی، چې ټولنیز توحید پلی شي.
۳_اصلي موخه د الله پېژندل، ورنږدېدل او وررسېدل دي.
ټولنیز توحید دې عالي موخې ته د وررسېدو سریزه او وزله ده؛ ځکه په "توحیدي نړۍ لید" کې نړۍ له ((هغه)) او ((د هغه پر لور)) منځپانگه لري؛ نو د انسان کمال د هغه پر لور په تگ او ورنږدېدو کې دی.

انسان له يوه ځانگړي امتيازه برخمن دی او هغه داچې ((وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي [1]= او له خپل (ښکلي او ستر) روح نه مې په هغه کې پو کړ)) واقعيت يې خدايي واقعيت دی فطرت يې الله پلټونکی فطرت دی؛ نوځکه نېکمرغي، کمال، ژغورنه، سمونه او هوساېنه يې د الله په پېژندنه، نمانځنه او ورنږدېدنه کې ده؛ خو ددې خبرې په پامنيوي، چې انسان ټولنيز موجود دی او که له ټولنې يې بېل کړو؛ نو نور انسان نه دی او که پر ټولنه "منځلاري ټولنيز نظامونه" واکمن نه وي؛ نو د انسان الله پلټونکی حرکت ناشونی چار دی؛ نو پېغمبران د عدل په راوستو او د ظلمونو او تبعيض پر نفې بوخت شول.

نو ټولنيز ارزښتونه؛ لکه "عدل"، "ازادي"، "مساوات"، "ولسواکي" او همداراز ټولنيز خويونه؛ لکه "جود"، "ښښنه"، "مينه" او "احسان" ذاتي ارزښت نه لري او بشر ته کمال نه گڼل کېږي ټول ارزښت يې سريزي او د وسيلې په توگه دی او که سريزه يې نه وای نو شتون او نشتون يې يو شان دی دا کمال ته د وررسېدو شرايط دي نه پخپله کمال د ژغورنې وسايل دي نه په خپله ژغورنه.

٤- د انسان غايت او د انسان کمال؛ بلکې د هر موجود واقعي کمال د الله پر لور په يون کې رالنډېږي او بس او دا يو نه ښنل کېدونکی شرک دی، چې څوک ادعا وکړي، چې پېغمبرانو ثنوي موخې درلودې؛ لکه که څوک ووايي: د پېغمبرانو روستۍ موخه دنيوي فلاح ده او دنيوي فلاح دې ته وايي، چې د "عدل"، "ازادۍ"، "برابرۍ" او "رورۍ" تر سيوري لاندې له دنيوي نعمتونو برخمن شې نو دا توکيز پالي ده؛ خو د درېيمې څرگندونې پرخلاف، ټولنيز او اخلاقي ارزښتونه سره له دې چې اصيل ارزښت (؛ يعنې الله پېژندنې او الله نمانځنې) ته سريزه ده؛ خو داسې هم نه ده، چې بېخي ارزښت نه لري.

د سريزې او ذی المقدمې اړيکې دوه ډوله دي: په يو ډول کې د سريزې ارزښت يوازې په دې کې دی، چې ذی المقدمې ته مو رسوي او ورته تر رسېدو روسته شتون او نشتون يې يو شان دی. د بېلگې په توگه: انسان غواړي له يوې سترې ويالې ټوپ ووهي او د ويالې په منځ کې له پرتې ډبرې نه ټوپ وهلو ته گټنه کوي؛ نو څرگنده ده، چې تر ټوپ وهلو روسته د ډبرې شتون او نشتون يو شان دی.

بل ډول يې سره له دې چې سريزه ذی المقدمې ته د رسېدو وزله ده او سره له دې چې ذی المقدمه د آريزې او يوازېنې ارزښت خاونده ده؛ خو تر وررسېدو روسته شتون او نشتون يې

[1]. (حجر/٢٩)

يو شان نه دی او ذی المقدمې ته تر رسېدو روسته شتون يې هومره پکار دی؛ لکه تر رسېدو د مخه. د بېلګې په توګه: د لومړي، دويم او درېيم ټولګي معلومات د لوړو ټولګيو معلوماتو لپاره سريزه ده؛ خو داسې نه ده، چې لوړو ټولګيو ته تر رسېدو د مخه نور دې معلوماتو ته اړتيا نه وي او که فرضاً ټول يې هېر شي؛ نو کوم ځای ته يې تاوان نه وررسي او زدکړيال کړای شي لوړو ټولګيو ته دوام ورکړي؛ بلکې د هغو معلوماتو په درلودو او په له لاسه نه ورکولو يې کړای شي لوړو ټولګيو ته دوام ورکړي.
د مطلب راز په دې کې دی، چې کله کله سريزه له ذی المقدمې په ټيټه درجه کې وي او کله نه وي. پوړۍ د بام په مراتبو او درجو کې نه شمېرل کېږي؛ لکه څنګه چې په وياله کې تيره له وياله بهر په درجو کې نه ده؛ خو د لاندې ټولګيو معلومات او د پورتنيو ټولګيو معلومات د يو حقيقت درجې دي.
د حق پېژندنې او نمانځنې ته ټولنيز او اخلاقي ارزښتونه له دويم ډوله دي. داسې نه ده، چې که انسان د حق بشپړې پېژندنې او نمانځنې ته ورسېد؛ نو د "عدل"، "احسان" او "رښتينولۍ" شتون او نشتون ورته يو شان دی؛ ځکه د انسان عالي اخلاق يو ډول الله ډولي دي (تخلقوا باخلاق الله)[1] او په حقيقت کې د الله پېژندنې او الله نمانځنې له درجو يوه درجه ده که څه په ناځانخبرې بڼه وي؛ يعنې دې ارزښتونو ته د لېوالتيا جرړه، خدايي ځانګړنو ته د انسان په فطري لېوالتيا کې ده، که څه انسان يې له فطري جرړې ناخبره وي او احياناًپخپل "ځانخبري شعور" کې ترې منکر وي.
اسلامي ښوونې وايي: که د فاضله خويونو؛ لکه عدالت، احسان او... خاوندان مشرک هم وي؛ نو کړنې يې په هغه نړۍ کې بې اغېزې نه دي. ددې ډول خلکو کفر او شرک که د عناد له مخې نه وي؛ نو په هغه نړۍ کې يې اجر ورکول کېږي په حقيقت کې دا ډول خلک بې له دې چې خبر وي، د الله نمانځنې يوې درجې ته وررسېدلي دي.

### د روزنې تعريف

روزنه: هغه کمال ته د انسان مخ ور اړول دي، چې الله ورته خوښ کړی وي.
په دې تعريف کې لاندې ټکيو ته پام په کار دی:
۱_تر روزنې لاندې يوازې انسان دی، نه ځاروي او نور موجودات.

---

[1]. سيد حيدر آملي؛جامع الاسرار: ۳۶۳ مخ

٢_د روزنې موخه د کمال پر لور حرکت دی، نه د کمال تر لاسه کول؛ ځکه حقيقي کمال يوازې د الله دی او د عصمت مقام هم يوازې په پېغمبرانو او د پېغمبر په اهلبيتو پورې ځانګړی دی، چې الله له هر ډول چټلۍ پاک کړي دي[١].
٣_په روزنه کې بريا، کمال ته له څومره نږدې کېدو څرګندېږي.
٤_له کماله مراد هغه کمال دی، چې د الله خوښ وي او په احکامو او آيتونو کې يې ټاکلی وي، نه هغه کمال، چې د فيلسوفانو خوښ وي.
٥_ د روزنې په تعريف کې مو وويل: ((هغه کمال، چې د الله خوښ وي)) له دې توپير لري، چې ووايو: ((هغه کمال، چې الله يې اراده کړې وي))؛ ځکه که داسې وای نو ټول انسانان به کمال ته رسېدلي وو؛ ځکه هر څه کېږي؛ خو چې الله يې اراده کړې وي؛ خو له هغه سره توپير لري، چې د الله خوښ وي. د ساري په توګه: الله خوښ دی ټول بندګان يې صالح وي؛ خو ټول بندګان يې داسې نه دي.

## ښوونه او روزنه

په ښوونه او روزنه کې يې تر ټولو ډېر د زړه پاکوالي او صفا ته ارزښت ورکاوه او د هغه زړونو ځمکه يې د الهي ښوونو د کښت لپاره چمتو ګڼله، چې پاکي او د نفس تهذيب يې درلود او پردې خبره يې په بېلابېلو ځايونو کې ټينګاره کاوه او ويل يې: ((زما د لارښوونې او روزنې مثال هغه باران ته ورته دی، چې پر بېلابېلو سيمو ورېږي ځينې ځمکې پاکې او چمتو وي، چې اوبه په ځان کې ساتي او ډول ډول کښتونه پکې کېږي؛ خو ځينې ځمکې کلکې وي، چې اوبه نه زغمي؛ بلکې اوبه پرې دپاسه ډنډېږي او خلک له هغو اوبو د خپلو پټو د خړوبولو او يا څښاک لپاره ګټه اخلي خو ځينې ځمکې وچې کلکې او شګلنې دي، چې نه په ځان کې اوبه ساتي او نه د کښت وړ دي، چې دا خبره د هغو په هکله ده، چې زما د لارښوونې تر ورښت لاندې دي، چې په ګټه اخستو کې سره توپير لري. [٢]))
نبوي حديث دی: ((الله د وړ زړه د ليدو لېوال دی[٣]))

---

[١] [خوشحال بابا وايي: سر حلقه د اولياوو هغه شمېره-چې شيطان يې بند کړی په قفس دی]
[٢] (اعلام الورى با علام الهدى٦٦ او ٦٧مخونه)
[٣] (نهج الفصحة؛ ٥٩٦ مخ، ٢٩١٣ ګڼه)

ځکه د قرآني حکم په رڼا کې يې خلکو ته ويل: ((نفسونه مو له ځايي او غيرانساني غوښتنو پاک کړئ)) او له نفس سره جهاد يې تر ټولو ستر جهاد اعلان کړ، د"تبوک" جګړه، چې تر ټولو سخته وه، تر راستنېدو روسته يې وويل: ((بختور دي هغوی چې اصغر جهاد يې وکړ او اوس ورته په کار دي، چې اکبر جهاد وکړي)) وپوښتل شو: اکبر (ستر) جهاد کوم دی ؟
و يې ويل: له نفس سره جهاد.
د الله استازي به په ښوونه او روزنه کې پر ځينو ځيزونو خورا ټينګار کاوه؛ لکه:
۱_اخلاص:
((قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ[1]=(ورته) ووايه: ((زما لمونځ او زما ټول عبادتونه او زما ژوند او مرګ دا ټول د الله لپاره دي، چې نړۍ پال دی.))
يعنې اخلاص يې د دين تر ټولو ستر رکن کړ، ويل يې: ((خلک به د خپلو نيتونو له مخې د قيامت پر ورځ راپاڅي)) او بيا يې وويل: ((که څوک ددې لپاره پوهه کوي، چې له نورو پوهانو سره سيالي وکړي او يا داچې ځان تر نورو غوره وګڼي نو ځای يې په دوزخ کې دی.))
۲_ علم او عمل:
د علم او عمل پر يو ځايوالي يې خورا ټينګار کاوه او ددې دواړو بېلتون يې د فساد لامل ګاڼه.
حضرت علي (ک) د الله د استازي د خولې وينا را اخلي، وايي: عالمان دوه ډلې دي:
((يوه هغه ډله، چې پر خپل علم عمل کوي، چې دا ډول عالمان د قيامت پر ورځ له ناوړه پېښو په امان کې دي. بله ډله هغوی دي، چې پر علم عمل نه کوي، چې دا ډله تباه شوې ډله ده او دوی د قيامت پر ورځ داسې راپاڅي، چې د بدن روست بوی يې دوزخيان هم کړوي.))
د قيامت پر ورځ به هغه تر ټولو پښېمانه او عذاب يې سخت وي، چې خلک دين او الله ته رابلي او دا بلنه يې اغېزمنه هم وي او هغه څوک چې ددې انسان په واسطه ښيون شوی وي، جنت ته ولاړ شي؛ خو پخپله؛ ځکه دوزخ ته ځي، چې پر خپل شته علم، چې نورو ته يې هم ورښوولای، عمل نه وي کړی؛ ځکه له ځاني غوښتنو يې لاروي کړې او اوږدو هيلو يې له آخرت، معنوياتو او حق ته له رسېدو منع کړی دی[2].
۳_ملايمت او نرمي:

---

[1] (انعام/۱٦۲)
[2] (اصول کافي ۱/۵۵)

د الله د استازي وينا ده: ((ښوونکی او روزنکی وسه خو په ښوونه او روزنه کې پر چا سختي مه کوئ او د خلکو زړه له دینه مه توروئ.)) په بل ځای کې وايي: ((پر هغو لورین وسئ، چې يا ترې زده کړه کوئ او يا ورته ښوونه کوئ.))

٤_تواضع:

په دې هکله مو په مخکې مخونو کې خبرې وکړې.

٥_ ښوونه او روزنه په سهار کې پکار ده:

نبوي حديث دی: ((سهار وختي مبارک او برکتي وخت دی.)) په بل ځای کې وايي: ((په سهار کې د پوهې په لټه کې شئ؛ ځکه له پالونکي مې غوښتي، چې امت ته مې په سهار کې برکت واچوې.))

٦_پوښتنه او ځواب:

له قرآن پاک څخه په لاروی د الله استازي په پوښتنه او ځواب ټينگار او سپارښتنه يې کوله او ويل يې: ((علم خزانه ده، چې کونجي يې پوښتنه ده، وپوښتئ، چې الله درباندې ولورېږي، چې الله د علم په چارو کې څلورو کسانو ته ثواب ورکوي: پوښتونکي، ښوونکي، اورېدونکي او هغوی چې له دوی سره مينه کوي.))

نبوي حديثونه دي: ((د ناپوهۍ درمل پوښتنه ده.))

((حسن السئوال نصف العلم.))

٧_ لفظفي شخړه يې نه كوله:

يوه ډله پر يوه ديني مسله يو له بل سره پر لفظي شخړه بوخته وه، چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم رانووت، چې دې کار يې غوسه کړ، ويې وويل: ((تر تاسې مخکې ملتونه د شخړو او دښمنو له لامله تباه شول؛ نو تاسې هم له شخړو لاس واخلئ؛ ځکه د ايمان خاوند له چا سره شخړه نه کوي، شخړه مه کوئ، چې تاوان مو پکې دی، زه د قيامت پر ورځ د شخړه کوونکي شفاعت نه کوم، له خلکو سره لفظي شخړې مه کوئ؛ ځکه الله مې تر بوت نمانځنې روسته له خلکو سره له شخړو ژغورلی يم.))

نبوي حديث دی: درې ډلې دي، چې په کوم ور يې، چې خوښه وي؛ نو الله يې هم پر هماغه جنت ته ورننباسي:

١_ د چاچې اخلاق او کړه وړه نېک وي.

٢ _ هغه چې په پټه او ښکاره له الله وېرېږي.

٣_هغوی چې له شخړو ځان ژغوري که څه پر حقه وي.

## د روزونکي په توګه د رسول الله (ص) ځانګړنې

چاته چې د روزنې چارې ور تر غاړې وي؛ نو باید په غوره ځانګړنو او خویونو سمبال شوی وي، چې وکړای شي پر روزل کېدونکي اغېز پرې باسي او که داسې ځانګړنې ونه لري؛ نو د روزنې پایلې یې له ماتې سره مخ کېږي. دېرې مهمې ځانګړنې یې دادي:

۱ـ لورنه:

روزونکی باید ډېر لوراند وي او سخت زړی د روزنې وړتیا نه لري. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دومره لوراند و، چې د کوشنی د ژړا د غږ له لامله یې لمونځ لنډاوه، چې له خپلې مور سره به د لمانځه په لیکه کې ولاړ و. په دې اړه د پاک نبي خادم حضرت "انس بن مالک" روایت کړی: ((رسول الله (ص) به چې د کوم کوشنی غږ واورېد؛ نو په لمانځه کې یې لنډ سورتونه ویل، چې لمونځ ژر پای ته ورسي. یوه ورځ وپوښتل شو: ولې مو نن لمونځ لنډ کړ؟ رسول الله ځواب ورکړ: د یو کوشنی ژړا مې واورېده او وېرېدم، چې بې سده شي[1]))

د پاک نبي د لورنې بله بېلګه، چې کله د "طایف" خلکو وځوراوه او دومره یې په ډبرو وایشت، چې غاښ یې هم شهید شو؛ نو پرښته راغله او د الله له استازي یې اجازه وغوښته چې د "ثقیف" ټبر هلاک کړي؛ خو رسول الله (ص) پرښتې ته اجازه ور نه کړه او د عذاب پرځای یې ورته د خیر دعا وکړه او یې وویل: ((کېدای شي داسې کهول ترې وزېږېږي، چې الله ولمانځي.))

حضرت "انس بن مالک" وایي: ((داسې څوک مې و نه موند، چې تررسول الله پر خپلې کورنۍ خورا لورین وي[2])))

او بیا وایي: ((که رسول الله (ص) به په دریو ورځو کې خپل کوم ملګری ونه لید نو پوښتنه یې کوله که به وویل شو، چې له مدینې بهر وتلی نو دعا یې ورته کوله او که په مدینه کې به و کتو ته یې ورته او که به رنځور و پوښتنې ته یې ته.[3]))

۲ـ زغم:

---

[1] وګورئ: (الاصفهاني، اخلاق النبي، ۷٤ مخ)

[2] وګورئ: (صحیح مسلم، کتاب الفضایل؛ پرماشومانو د مهربانۍ باب))

[3] وګورئ: بحارالانوار: ۱٦/ ۲۳۳مخ

زغم د هر روزونکي توښه ده او بې زغمه روزونکی هغه مسافر ته ورته دی، چې بې توښې پر سفر ووځي او داسې مسافر به یا هلاک شي او یا به له نیمې لارې راستون شي.
کله زدکړیال د روزونکي پر مراد نه پوهېږي او یا د روزونکي د خبرو له تفسیره بېوس وي یا داچې روزونکی ډېرې هلې ځلې کوي؛ خو مطلوب مراد ته نه رسي نو روزونکی باید په دې شرایطو کې صبر ولري او دې خبرې ته يې پام وي، چې د روزنې طبیعت له ګړندی پایلې سره اړخ نه لګوي.
کله خو داسې هم پېښېږي، چې زدکړیال له خپل روزونکي سره ځانخبری او ناځانخبرې دښمني کوي او یا يې ځوروي؛ نو په دې حال کې هم د روزونکي دنده صبر او زغم دی.
یوه ورځ یو ملګري وپوښت: ((د الله استازیه! ایمان څه دی ؟))
رسول الله: ((ایمان صبر او پراخې سینې ته وایي [1].))
۳_ ځیرکي:
روزونکی باید هوښیار او ځیرک وي او د زدکړیال ټول کړه وړه تر پام لاندې ونیسي او که ښه عمل يې ترې ولید؛ نو لا يې پیاوړی کړي او که ناوړه او کمزوری چار يې ترې ولید؛ نو درملنې ته دې يې داسې ځانګړې لار پیدا کړي، چې له روحیاتو سره يې اړخ لګوي او تر هغو لارو دې ډډه وکړي، چې له روحیاتو سره يې اړخ نه لګوي.
تکړه او هوښیار روزونکی د زدکړیالانو اروایي ناارامی، له څېرو يې پېژني او د انسانانو پر وګړنیو توپیرونو پوهېږي او د توپیرونو تر پېژندو روسته يې، روح ته لار موندلای شي او د هغوی له وجودي شونتیاوو او استعدادونو په ګټنې يې، د کمال لوري ته سیخولای شي.
رسول الله خورا هوښیاراو ځیرک و؛ ځکه الله همدغسې پنځولی و او ټول هغه کسان، چې د رسول الله او د نورو پېغمبرانو ژوند څېړي دې خبرې ته رسي، چې ټول پېغمبران د هوښیارۍ په لوړه کچه کې وو.
٤_ عاجزي:
د وړ روزونکي یوه ځانګړنه داده، چې ځان پر زدکړیال جګ و نه ګڼي؛ ځکه ځان جګ ګڼه يې په منځ کې واټن زیاتوي او دا واټن، چې څومره زیات شو؛ نو هومره به د روزنې اغېز لږ وي. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تر ټولو متواضع و، تردې چې کله به د کوشنیانو له

[1] _(بحارالانوار: ١٦ټوک، ٢٣٣ مخ)

مخې تېرېده سلام یې پرې اچوه او چې کله به چا لاس ورکړ؛ نو له لاس ورکوونکي یې مخکې خپل لاس نه راکښه او تر هغې یې مخ ترې نه اړاوه، چې بل لوري به نه واړولی[1].

۵_پراخه سینه:

روزونکی باید پراخه سینه ولري، چې د زدکړیال تېروتنه یې غوسه نه کړي؛ بلکې ترې تېر شي او د تېروتنې د علت د پیدا کولو په هڅه کې یې شي او درملنې ته یې مناسبې لارې چارې پیدا کړي، چې په دې کې لا څوک رسول الله (ص) ته نه دي رسېدلي. ددې خبرې پخلي ته مو لاندې روایتونه راختسي دي:

حضرت انس بن مالک(رض) وايي: ((له رسول الله سره له یوې لارې تېرېدو، چې رسول الله یماني څادر اغوستی و، څنډې یې ډبلې وې. له څنګه مو یو بېدیانی عرب تېر شو او د رسول الله (ص) څادر یې دومره په زور راکښه، چې ورمېږ یې تغمه شو او پر غوسه او لوړ غږ یې وویل: "محمده! ته خو خپل یا د پلار مال نه راکوې؛ نو حکم وکړه، چې د الله له ماله یو څه راکړي، چې درسره دی. " رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته موسکی شو او حکم یې وکړ: "څه مال ورکړئ"[2]))

٦_ ښنه او تېرېدنه:

ښنه د الله هغه ځانګړنه ده، چې خپل استازي ته یې هم ورکړې، چې څوک ورته نه رسېدل او چې کله به چا د رسول الله سپکاوی وکړ؛ نو په ورین تندي یې ښه او له تېروتنې یې تېرېده. ژوند یې له ښنو ډک دی، چې موږ یې هم د بېلګې لپاره څو پېښو ته اشاره کړې ده:

الف _ د هغه یهودي ښنل، چې پر رسول الله (ص) یې جادو کړی و.

ب_ د هغې ښځې ښنل، چې د پسه په زهرجن ورون یې ورته راوړی و.

ج _ د"غورث" ښنه، چې د پاک نبي د وژنې اراده یې کړې وه.

د_ د هغه بېدیاني عرب ښنل، چې د رسول الله د څادر په راکښلو یې ورمېږ ورتغمه کړی و.

ۀ_ رسول الله (ص) یو سړي ته څه شتمني ورکړه او و یې پوښته چې نېکي مې درسره وکړه؟ سړي په ناشکرۍ وویل: نه دې راسره ښه وکړل او نه احسان، چې دا سړی یې هم وښه.

و_ د مکې کفارو ورسره ډېر بد کړي وو خود مکې تر سوبې روسته یې وښنل.

۷_ د شخصیت پیاوړتیا:

---

[1] (مکارم الاخلاق: ١ مخ) (الرسول الاکرم: ١ ټوک، ٧١ مخ)

[2] (مکارم الاخلاق: ١٧ مخ)

روزونکی باید پیاوړی شخصیت ولري او له هر ډول شک او ارواییي ګډوډۍ لرې وي، چې وکړای شي، پر زدکړیال مثبت اغېز ولري. د روزونکي د شخصیت پیاوړتیا پر زدکړیال اغېز لري او د روزل کېدونکي د ډېرو سرغړونو مخنیوی کوي.

د رسول الله (ص) شخصیت په هماغه ړومبی کتنه کې د زیاترو دښمن پر زړه اغېز اچوه او په زړه کې یې ځای پیداکاوه او خبرو یې اورېدونکیو ته ارامي او ډاډ ورکاوه؛ لکه چې په اړه یې ویل شوي: ((چاچې رسول الله (ص) لیده؛ نو ستر او باعظمته یې لیده او د امت د مدیریت پرمهال او هم په شحصي ژوند کې د حکیم په څېر و.))

۸ـ پر روزنه خوښي:

عالمان وایي: ((روزونکی باید پر خپل کار ایمان ولري)) او ځینې نور وایي: ((روزونکی باید د روزنې له کار سره مینه ولري)).

له پورته دوو تعبیرونو خو هر اړخیزه خبره لا داده، چې: روزونکی باید له خپل کاره خوښ؛ څکه روزنه یو ډول ورکړه او زدکړیال ته د روزنکي ډالۍ ده او که روزونکی له خپل کاره خوښ نه وي؛ نو د ورکړې او ډالۍ وس به و نه لري.

پر خپل رسالت ایمان او پرې خوښېدل، هغه خبرې دي، چې د پاک نبي په اړه ترې څوک منکر نه دي؛ څکه الله ورته دا دوه ځانګړنې ورکړې وې او د رسالت د دندې سرته رسولو ته یې چمتو کړی و.

## د رسول الله له نظره د روزنې بنسټونه

د روزنې د ځینو بنسټونو په باب د رسول الله (ص) "لید" داسې و:
۱_د انسان د روح روزنه:
رسول الله (ص) باور درلود د انسان روزنه باید له روحه پیل شي او د روح د روزنې بنسټ یې پر دريو څیزونو ایښې و:
الف_ د انسان د روحي رنځونو درملنه:
کله د انسان روحي او اروايي رنځ، فکري او عقیدتي وي؛لکه کفر او خرافات پالنه، چې رسول الله (ص) ورسره مبارزه وکړه او په کلکه یې غندل او مسلمانان یې پالیانو او وړاندویونکیو ته له تلو منع کړل ویل یې:
((څوک چې ورته ولاړل او پر خبرو یې باور وکړ؛ نو له هغه څه به بېزاره وي، چې الله خپل استازي ته رالېږلي دي[1].))
او کله دا رنځ د انسان په عاطفي اړخ پوري اړه لري؛ لکه کینه، بدګوماني، تکبر او. . . رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وايي: ((ډار، تمه او کنجوسي له یوې ختې دي او سرچینه یې پر الله بد ګوماني ده. [2]))
الله د لقمان په ژبه چې خپل زوی ته یې نصیحت کاوه وویل:
((وَلاَ تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلاَ تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحاً إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ[3]= (په کبر) له خلکو مخ مه اړوه، پر ځمکه خیالولی مه ځه[ ځکه ]چې الله هېڅ مغرور ویاړن نه خوښوي.))
ب_ د نفس تزکیه:
رسول الله په نفسونو کې د داسې ګروهو او باورونو نیالګي کرل، چې نفس پرې نړه او سپېڅلی کېده او د انسانانو په چلن کې یې اغېزه راوسته؛لکه دا باور، چې د بل پر پت تېری ناوړه چار دی. لاندې روایت ته پام وکړئ:

[1] (وسایل: ۲ټوک، ۳٦باب، ۱۹۵ مخ)
[2] (وګورئ: بحارالانوار: ۳٤۷/۳)
[3] (لقمان/۱۸)

حضرت ابو امامه وايي: ((يوه ورځ يو ځوان، رسول الله (ص) ته راغی و يې ويل: د الله استازيه! د زنا اجازه راکړه. اصحاب راولاړ شول، چې د دې بې ادبۍ مخه يې ونيسي خو رسول الله (ص) وويل: ځوانه! رانږدې شه. ځوان ورنږدې شو. رسول الله (ص) وپوښته: آيا خوښ يې څوک دا کار ستا له مور سره وکړي؟ ځوان ځواب ورکړ: الله مې تر تا ځار کړي: نه! رسول الله (ص) وويل: نور خلک هم ستا په څېر خوښ نه دي څوک يې له مور سره داسې وکړي او بيا يې وپوښتل: ايا څوک خوښ دی له خور يا ترور سره يې زنا وشي؟ ځوان وويل: څوک خوښ نه دی.

حضرت ابوامامه وايي: بيا رسول الله (ص) خپل لاس د ځوان پر اوږه کېښود او ورته يې دعا وکړه: ((خدايه! له ګناه يې تېر شه او زړه يې پاک کړه او عورت يې له ګناه وساته)) او ځوان هم له دې روسته ددې ګناه پر لور ولاړ نه شو[1].))

مسلمان د ربا او غيبت پر ناوړتيا او زيان ايمان لري؛ ځکه قرآن د ربا په اړه ويلي دي:
((الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِن رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ[2]=هغوی چې سود خوري نو په قيامت کې به داسې را پاڅېږي لکه څوک چې له شيطان سره د تماس له وجهې لېونی شوی وي (خپل ځان نشي نيولای، کله لوېږي او کله راولاړېږي) دا ځکه چې وايي: ((راکړه ورکړه هم د سود غوندې ده (او ترمنځ يې څه توپير نشته دی.))) حال دا الله راکړه ورکړه ((بيع)) روا او((ربا)) ناروا کړې ده (ځکه ددې دواړو ترمنځ ډېر توپير دی) نو چاته چې الهي نصحيت ورسېد او له سوده يې لاس واخست؛ نو [د تحريم د حکم تر نازلېدو] د مخه يې چې څه خوړلي، هغه خو يې خوړلي دي، (او دا حکم پر مخکېنيو نه عملي کېږي) او معامله يې له الله سره ده (او تېر به يې الله وبښي) خو څوک چې له دې حکم روسته بيا هم سود خوري نو هغوی دوزخيان دي، چې تل به پکې اوسي.))

او د غيبت په اړه يې ويلي: ((يو مسلمان دې د بل مسلمان غيبت نه کوي، آيا په تاسې کې څوک خوښ دی د خپل مړه رور غوښه وخوري ؛ البته چې پردې کار خوښ نه ياست[3].))

---

[1] (مسند امام احمد حنبل: ۵ټوک، ۲۵٦ مخ)
[2] (بقره/۲۷۵)
[3] (حجرات: ۱۲)

او د همدې باورونو د راټوکېدو لپاره اسلام مور و پلار ته حکم کوي، چې تر اووه کلنۍ روسته، خپل اولاد ته لمونځ ور زده کړئ او په دې اړه درې کاله پرې ټار وکړئ او که تر لس کلنۍ روسته یې لمونځ و نه کړ؛ نو تادیب یې کړئ؛ یعنې و یې ګواښئ [1].

په اسلام، چې د کوشنی په غوږ کې اذان کېږي په حقیقت کې ضمیر کې یې په ناڅانخبري د عزت او کرامت نیالګی کرل کېږي او د ((الله اکبر)) غږ ړومبۍ جمله ده، چې په عقل کې یې اېښوول کېږي.

ج ـ پر روزونکي ډاډ او ورسره مینه:

د روزونکي پر پوهه، حکمت او اخلاص ډاډ او ورسره مینه، د ښوونو اخستل ترې اسانوي؛ نوځکه اسلام پر الله او استازي یې ایمان د مسلمانۍ ړومبی پوړ ګڼي.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وایي: ((د ایمان تر ټولوکلکه کړۍ، د الله په لار کې دوستي او دښمني ده او له دوستانو سره یې دوستي او له د ښمنانو سره یې دښمني ده.))

۲ـصالح عمل:

حکیم الله، ایمان یوازې عمل ته پیدا کړی؛ ځکه ایمان او صالح عمل ددوو نه بېلېدونکیو همزولیو په څېر دي، چې یو د بل ځای نه شي ډکولای؛ نوځکه د قرآن په ۵۵ آیتونو کې ایمان او صالح عمل یو د بل تر څنګ جوخښت راغلي، چې لاندې آیت یې یوه بېلګه ده:

((الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوبىَ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ[2]=هغوی چې ایمان راوړی دی او ښه کارونه یې وکړل، نیکمرغي یې په برخه او ښه ځای ته یې ورتګ دی.))

د پاک نبي بنسټیز روزنیز پروګرام، په صالح عمل د دیني پوهنو او معارفو پیاوړتیا ده؛ ځکه ددې ښوونځي رښتینې ګټې هله ترلاسه کېږي، چې دیني پوهاوی او احکام یې وکارول شي او ددې کار ارزښت دومره دی، چې رسول الله له هغې پوهې الله ته پناه وړي، چې ځان یا نورو ته ګټوره نه وي او دعا کوي:

((خدایه! له هغې پوهې پناه راکړې، چې ګټوره نه وي او له هغه زړه، چې متواضع نه وي او له هغه نفسه، چې موړ نه شي او له هغې دعا، چې و نه منل شي.))

[1] (کنزالعمال: ٤٥٣٣ حدیث)

[2] (رعد /۲۹)

رسول الله حضرت "ابوذر"(رض) ته نصيحت وکړ: ((ابوذره! تقوا جامه کړه، چې له تقوا سره يو عمل هم لږ نه دی [1]))

صالح کړه وړه پر فرايضو او مستحباتو وېشل شوي؛ ځکه که اسلام ټول ښه کارونه فرض کړي وو؛ نو مسلمانان به په تنگسه کې وو او که ټول مستحب وو؛ نو له پامه به غورځېدلي وو؛ نوځکه ډېر مهم کارونه فرض شوي، چې د مسلمانانو ورته ډېر پام وي؛ لکه لمونځ چې روح پاکوونکی او بدي ژغورونکی دی يا زکات، چې د بېوزليو اړتياوې پوره کوي او نور فرض کارونه، چې په فقهي کتابو کې راغلي او هغه چارې، چې لږ ارزښت لري، مستحب ښوول شوي دي؛ لکه په ورين تندي له خلکو سره مخېدل او له لارې د خنډونو لرې کول، چې يو ډول صدقه ده او يا سلام اچول.

۳_هر څوک تر خپلې وسې پر دی:

د اسلام يو اصل دادی: ((هر څوک تر خپلې وسې پر دی))؛ ځکه که هره روزنيزه کړلار، چې په تپلې بڼه وي؛ نو روزونکی د روزل کېدونکي زړه تور کړي، چې روزونکی هم دا چار نه غواړي.

رسول الله وايي: ((له نورو هغه څه وغواړئ، چې په خپله يې هم کړای شئ (؛ ځکه) الله په ثواب ورکولو نه ستړی کيږي؛ خو داچې تاسې ستړي ياست [2]))

٤_ د زدکړيال د پوهې کچې ته پام:

د داسې مطلب بيانول، چې زدکړيال يې پر مانا له پوهېدو بېوسې وي، له دې احتمال سره يو ځای دی، چې يا پرې سم پوه نه شي او نورو ته خپله ناسمه پوهېدنه تبليغ کړي او يا په خپله پرې عمل وکړي؛ نو طبيعي ده، چې په داسې شرايطو کې به سرچپه پايله لاس ته راوړو.

رسول الله وايي: ((موږ پېغمبران دنده لرو له خلکو سره د عقل هومره يې خبرې وکړو. [3]))

۵_ وگړنيو توپيرونو ته پام:

رسول الله (ص) تل وگړني توپيرونو ته پام کاوه او له هر چا سره يې د هغه د روحي وړتيا او استعداد له مخې چلن کاوه د بېلگې په توگه، له لاندې پينځو انساني ډلو سره د آنحضرت پر چلن رڼا اچوو:

---

[1] (بحار الانوار: ۷۷ټوک، ۸٦ مخ)

[2] (کنزالعمال: ۵۳۰۹ حديث)

[3] (کافي: ۱ ټوک، ۱۸ مخ، باب العقل، ۱۲۰ حديث)

الف: کوشنيان:

رسول الله (ص) د کوشنيانو يو لړ هغه چارې ښنلې، چې هماغه يې د غټانو نه ښنلې او د کوشنيانو په اړه وايي: ((اولاد تر اووه کلنۍ سرور (او پاچا) دی او تر اووه کلنۍ روسته مطيع او منونکی دی او تر اووه کلنۍ روسته ملاتړ او سلا کار دی [1]))

ب_ مېرمنې:

له مېرمنو او سړيو سره يې چلن توپير درلود؛ ځکه ښځه لطيف، ريزبين او د ماتې احساس لري او رسول الله (ص) ښځه له ښکلې ژر ماتېدونې شيشې سره ورته او تشبيه کړې، چې د شيشې په څېر ډېر پام ته اړتيا لري او[2] وايي: ((له شيشو سره گوزاره وکړئ)) او همداسې يې ويلې دي:

((جبرائيل راته د ښځو دومره سپارښتنه وکړه، چې گومان مې وکړ طلاقولای يې نه شو خو داچې ښکاره ناوړتيا وکړي. [3]))

ج_ نوي مسلمانان شوي:

د رسول الله چلن له نويو مسلمان شويو سره، هماغسې نه و، چې له پخوانيو سره و؛ بلکې توپير يې درلود. لاندې روايت ته ځيرشئ.

د "نجد" د ټبر يو سړی رسول الله (ص) ته وارخطا راغی غږ يې خپ و او خبره يې سمه نه اورېدل کېده؛ نو چې رسول الله (ص) ته رانږدې شو د اسلام د دين د فرايضو په اړه يې وپوښت. رسول الله (ص) وويل: ((په شواروز کې پينځه وخته لمونځ.)) سړي وويل: ((آيا بې له دې بل لمونځ راباندې فرض دی؟)) رسول الله وويل: ((نه خو مستحبي لمونځونه هم شته.)) بيا رسول الله (ص) روژه ورياده کړه. سړي وويل: ((د رمضان په مياشت کې روژه نيسم اوايا بې له هغې راباندې کومه روژه فرض ده؟)) رسول الله (ص) وويل: ((نه خو مستحبي روژې هم شته.)) بيا رسول الله (ص) د زکات خبره راواچوله. سړي وويل: ((هغه ورکړم او بې له دې بل څه هم بايد ورکړم؟)) رسول الله (ص) وويل: ((نه خو داچې مستحبي نفقه وي.))

---

[1] (وسايل: ۱۵ ټوک، ۱۹۵ مخ)

[2] (صحيح بخاري: کتاب الادب، باب المعاريض)

[3] وگورئ: وسايل : ۷۲۱۷

راوي وايي: سړی ولاړ او په تلو کې يې له ځان سره وويل: ((پر الله قسم، چې تردې ډېر کوم او نه لږ.)) د الله استازي اصحابو ته وويل: ((که رښتيا وايي او همدومره کوي؛ نو بختور دی.[1]))

د_ په کړنو کې پاک نيتي:

له ښو نيتو او بد نيتو سره د رسول اکرم چلن يو شان نه وو؛ نوځکه حضرت "اسامه بن زيد" (رض) ته يې په هغه کار سزا ور نه کړه، چې په نېزه يې يو سړی ولګيد او يې ((لا اله الا الله)) وويله؛ بلکې يوازې هغه ته يې ددې وينا په کولو بسنه وکړه، چې د تېروتنې ستريا ته يې پام وروګرځاوه. رسول الله (ص) "اسامه" وراته و يې ويل: ((آيا تر ((لا اله الا الله)) ويلو روسته دې وواژه؟)) رسول الله (ص) په همدې ټکيو څو ځل وراته، چې "اسامه" د خپلې ګناه له ستروالي يې خبر کړ او پر هغه ورځ "اسامه" هيله وکړه، چې کاشکې، تر ننه نه وای مسلمان شوی، چې مسلمانېدل يې د هغه وژنې کفاره وي (صحيح بخاري، کتاب المغازي)؛ ځکه اسلام له ځانه مخکې د انسان ټول بدکړه ښني.

هه_ مېړني:

د پاک نبي معامله به تر هغو کريمانو او ځوانمردانو سره د جنايتکارانو په پرتله توپير درلود، چې ځينې وخت به تېروتل او شيطان به پرې لاسبر شوی و او په اړه يې ويل: ((د ځوانمردانو له تېروتنو تېر شئ، قسم پر هغه چې ژوند مې يې په لاس کې دی، هغه مهال چې يو له دوی تېروځي؛ نو لاس يې د الله په لاس کې وي.[2]))

٦_ له خلکو سره ګوزاره او له ډېر نصيحته ځان ژغورل:

هغه مهال چې نصيحت ډېر شي؛ نو يوه برخه بله يې هېروي او د زدکړيال زړه وهي. کارپوه روزونکی هغه دی، چې يو نصيحت او لارښوونه وکړي او پر زدکړيال يې پلي کړي او روسته ورته بل نصيحت وکړي داسې نه، چې د زدکړيال په ليدو ورته لارښوونې پيل کړي؛ بلکې زدکړيال ته د فکر کولو وخت هم ورکړ شي.

رسول الله، سپيڅلې کورنۍ يې او ديني مشران هم داسې وو ويل يې: ((غوره عمل هغه دی، چې همېشه ترسره شي [3])) او هغه چار يې نه خوښوله، چې په زور او تپلي ډول به کېده.

٧_ مناسب موقعيت ته کتل:

---

[1] (صحيح مسلم او صحيح بخاري: د الايمان کتاب)

[2] (کنز العمال: ١٢٩٨٤ حديث)

[3] (تنبيه الخواطر: ٥٢ مخ)

که روزونکی خپل کار ته مناسب موقعیت په پام کې ونیسي؛ نو لارښوونې به يې اغېزمنې وي؛ نوځکه حکیم الله د شرایطو په چمتو کېدو سره آیتونه رالېږل او رسول الله (ص) هم هله خپله خبره کوله، چې وخت او ځای به يې و او په همدې اړه اسلامي عالمانو د قرآن د آیتونو د شان نزول په اړه کتابونه لیکلي دي.

لاندې روایت د رسول الله (ص) د موقعیت پېژندنې یو بېلګه ده:

"حکیم بن حزام" له رسول الله مرسته وغوښته. رسول الله (ص) ورته څه ورکړل او بیا يې هم مرسته وغوښته او پاک نبي ورسره مرسته وکړه. د درېیم ځل لپاره يې هم وغوښته او د الله استازي بیا هم ورسره مرسته وکړه. په همدې وخت کې رسول الله (ص) يې د لارښوونې لپاره روحي حالت مناسب وګاڼه و يې ویل:

((مال او شتمني ډېره ښه ده او چاچې مال ګوتو ته راووړ او ځواني يې وکړه؛ نو په مال کې يې برکت وي او لا به نور هم ډېر شي او که چا بخل وکړ؛ نو مال يې برکت نه لري او د هغه چا په څېر به وي، چې تل خوري خو نه مړېږي او پوه شه، چې ورکوونکی لاس تر اخستونکي غوره دی. [1]))

اوس چې د ورکوونکي او اخستونکي لاس خبره را منځ ته شوه؛ نو ښه به وي چې ګران لوستونکي خبر شي، چې رسول الله د ځینو دزړونو لاس ته راوړو((المؤلفة القلو بهم[2])) لپاره د زکات یو ه برخه ورکوله.

۸_کوم کار باید ړومبی وشي ؟:

کېدای شي د ډېرو مهمو چارو رامخکې کول تر هغو، چې ارزښت يې لږ وي، د روزنې یو مهم اصل وي او که د روزونکي دې خبرې ته پام وي؛ نو د فرض کار په شتون کې به هېڅکله زدکړیال مستحب کار ته اړ نه کړي او یا يې وخت پر کم ارزښته کار نه ضایع کوي.

د پاک نبي هم دې خبرې ته پام و. یوه ورځ یو بېدیانی راغی او د قیامت د راتګ د وخت په اړه يې و پوښت. رسول الله خبر و، چې که د قیامت د پېښېدو له مهاله خبرېدل، له چمتووالي او صالحو کړنو سره نه وي ګټه نه لري؛ نوځکه يې د بېدیاني ذهن له دې پوښتنې بل مهم مطلب ته راواړاوه او و يې پوښته: ((قیامت ته دې څه تیاری نیولی دی؟))

بېدیاني: ((نه خو الله او رسول يې راباندې ګران دی.))

---

[1] (صحیح بخاري او صحیح مسلم: کتاب الزکاه)

[2] (وفیات الاعیان: ۱ټوک، ۷۷ مخ _ سیر اعلام النبلا: ۱٤ټوک، ۱۳۲ مخ)

رسول الله (ص) وويل: ((د قيامت پر ورځ به له هغه سره راپاڅېږي، چې ورسره مينه لري.[1]))
۹_نېکيو ته هڅونه:
څومره چې په انسان کې د نېکو چارو انګېزه ډېره وي؛ نو هومره يې کړنې هم ښې وي او بدې انګېزې او کړنې يې هم لږې وي.
قرآن وايي: ((په رښتيا نېک کړه، بد کړه له منځه وړي ((إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ[2]))
او رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم نېکيو ته تر را بللو روسته وايي:
((او درته تر هغه اسان، بېوزليو ته خواړه ورکول، په نرمه ژبه خبره کول، ښه ځواني او ښه خوی دی.[3]))
۱۰_ زدکړيال د تېرو ګناهونو هېرول:
رسول الله (ص) هغه کس غانده، چې د جاهليت د وخت ګناهونه يې را يادول ويل يې:
((په اسلام منلو تېر ګناهونه له منځه ځي)) او و يې ويل: ((هغه ګناهګار، چې د الله رحمت ته هيلمن وي، الله ته تر نهيلي عبادت کوونکي نږدې دی.[4]))
۱۱ _ د الهي ثواب او عذاب يادونه:
کار پوه روزونکی، ددې روزونکې کړلارې د کارولو ترڅنګ بايد ثواب او اجر تر ډار ورکولو ړومبی وبولي؛ ځکه الله د قرآن په يو آيت کې د حضرت زکريا عليه السلام او حضرت اسحق عليه السلام د يوې ځانګړنې په بيانولو وايي: ((هغوی به په نېکو چارو کې يو له بله مخکې کېدل او زه يې په شوق او وېره يادولم.[5]))
ګورئ چې لوراند الله په دې آيت کې د مينې او دوستۍ غږ ته ځواب ورکول، له وېرې سره تر غوښتنې مخکې راوړي؛ ځکه که کار د وېرې پر بنسټ وي؛ نو له انساني کرامت سره سمون نه لري؛ خو د هغه کار خوند او ثواب ډېر وي، چې په مينه وي.
۱۲_ د لوی لاس مخالفتونو ته سزا ټاکل:

---
[1] (صحيح بخاري؛ کتاب الادب او صحيح مسلم؛ کتاب البر)
[2] (هود: ١١٤)
[3] (کنز العمال: ٤٣٦٣٩ حديث)
[4] (کنز العمال: ٥٨٦٩ حديث)
[5] (انبيا: ۹۰ آيت)

روزونکي ته روا نه ده، چې په هر راز شرایطو کې زدکړیال ته سزا ورکړي؛ خو داچې مخالفت یې د پوهې او هوډ له مخې وي.

الله تعالی وایي:

((که په تېر کې مو کوم ناوړه کار وکړ ګناه نه لري؛ خو که له زړه مو وکړ؛ نو به ونیول شئ او الله لوراند او لورین دی[1]))

۱۳_تر توبې روسته سزا ورکول روا نه دي:

د سزا موخه له ګناه ژغورل او د تکرار مخنیوی دی او چې کله په دې موخه توبه وایستل شي؛ نو سزا ته اړتیا نه پاتېږي، چې لاندې روایت زموږ ددې خبرې پخلی کوي:

((یو سړی رسول الله (ص) ته راغی و یې ویل: "د الله استازیه!پر ما یو حد واجب شوی او راغلی یم د الله د کتاب له مخې یې راباندې جاري کړې". رسول الله (ص) وویل: "آیا له موږ سره دې لمونځ کړی؟" ورته یې وویل: "هو!" پېغمبر وویل: "لوراند څښتن دې توبه قبوله کړې ده. "))

او همداسې رسول الله (ص) وویل: ((څوک چې په رښتیا توبه وباسي الله پرې رحمېږي او امر کوي د بدن غړي یې ستر کوونکي او ځمکه دې یې هم پر ګناه پرده واچوي او پرښتې دې یې هم ګناه هېره کړي. [2]))

۱٤_ د نېکانو له ګناه سترګې پټول:

که یو انسان له نورو سره په نېکیو او احسان کې مخکښ وي او د انساني کمزورۍ له لامله تېروځي باید وبښل شي؛ ځکه د قرآن د وینا له مخې، ښه کړه، بد کړه له مینځي او بل داچې بې له پېغمبرانو او امامانو بل هیڅوک معصوم نه دي او دریېم داچې د رسول الله (ص) سیرت هم ددې خبرې پخلی کوي. تاریخ ګواه دی، چې د الله د استازي یار حضرت "عمار بن یاسر"(رض) چې د مشرکانو د سختو کړاوونو له لامله کمزوری شوی و او د زړه پرخلاف یې د اسلام ضد خبره وکړه نه یوازې د پاک نبي له لوري و نه رټل شو؛ بلکې ډاډ او زړې یې ورکړ او قرآن یې په اړه وایي:

[1] (احزاب: ۵)

[2] (کنز العمال: ۱۰۷۹ حدیث)

((مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ وَلَكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْراً فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ[1]=څوك چې تر ايمان راوړو روسته كافر شي (پر هغه د الله غضب وي) خو كه څوك اړ ايستل شوى وي او زړه يې پر ايمان ډاډه وي (نو بيا خو خير دى) خو چاچې (په خوښه خپله) سينه كفر ته پرانسته (نو) پر دوى د الله غضب دى او ستر عذاب ورته سترګې پر لار دى.))

۱۵_ د سپكو دندو ورسپارل:

د روزونكي دنده ده، چې له سپكو او اسانو دندو خپل كار پيل كړي او دې خبرې ته يې پام وي، چې اسلام د اسانۍ دين دى او دا هغه ځانګړنه ده، چې اسلام پرې مشهور دى او رسول الله هم پردې خبره ټينګار كوي: ((نرم اوسئ او سختي مه كوئ او زېرى وركړئ او خلک مه بېزاره كوئ. [2]))

د حضرت "علي"(ک) وينا ده چې:

ځينو مسلمانانو به رسول الله (ص) ته ويل: ((د الله استازيه! اوس خو ډېر شوي يو نو غوره به نه وي، چېک مو چې مخې ته راغى، په زور يې اسلام ته راواړو؟د الله استازي وويل: نه! نه غواړم، په داسې حال كې له الله سره ووينم، چې د داسې بدعت بنسټګر يم چې راته يې امر نه دى كړى. [3]))

۱٦_ ځان جوړونه:

پر هر مسلمان واجب دي د خپل ځان په پاكۍ او سمونه لاس پورې كړي او منځلاري وچليږي او په دې اړه ړومبى مسئوليت يې په خپله غاړه دى.

قرآن كريم وايي:

وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا. فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا. قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا. وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا[4]=پر (انساني) نفس او سموونكي يې قسم نو هغه (نفس) ته يې د هغه بدي او پرهېزګاري الهام كړه (او په زړه كې ور واچوهله)، =چې كه څوك خپل نفس (له ګناه او بدكارۍ) پاك

---

[1] (نحل/١٠٦)

[2] وګورئ: (صحيح بخاري، د العلم كتاب او: صحيح مسلم، د الجهاد كتاب. )

[3] _ (التوحيد: ٣٤٣ مخ)

[4] (شمس/٧-١٠)

وساتي نو په يقين چې بريالی شواو چاچې خپل نفس په گناه ککړکړ نو په يقين چې و يې بايلله!))

د ځان جوړونې ړومبی پړاو محاسبه ده؛ يعني هر انسان دنده لري خپل ورځني کړه وړه وارزوی او د خپلو ښو چارو له لامله د الله مننه وکړي او د گناهونو له لامله ترې ښښنه وغواړي.

د الله استازي به هم تل د خپل نفس پر تزکيه بوخت و او سره له دې چې معصوم و خو بيا يې هم تل له ځښتنه ښښنه غوښته.

هغه د نفس د پاکۍ دوام، د مؤمن د وړتيا نښه گڼله او حضرت "ابوذر" ته يې په خپلو سپارښتنو کې وويل: ((ابوذره! له نفس سره دې محاسبه وکړه، مخکې له دې چې محاسبه وشي، چې دا محاسبه د قيامت د ورځې تر محاسبې اسانه ده او د تول تلې ته يې وړاندې کړه، مخکې له دې چې د تول ځای ته دې راولي.[1]))

د انساني ذات اصلاح ته دويم گام د نفس له نا مشروعو غوښتنو سره مبارزه او له بې لارۍ او کږ لارۍ يې ساتل او د حق لاروۍ ته يې رابلل دي.

رسول الله (ص) وايي: ((تر ټولو غوره مجاهدان هغه دي، چې د الله لپاره له خپل نفس سره جهاد کوي.[2]))

۱۷_ روزنه دې پرلپسې وي:

روزونکی دنده لري، چې زدکړيال پرلپسې وروزي او د ژر پايلې اخستو تمه ونه لري او که موخه يې د انسان د اروا سمونه او تزکيه وي؛ نو پوه دې وي، چې دا کار په يو شواروز کې ترسره کېدونی نه دی.

رسول الله (ص) په مکه کې ۱۳ کاله د انسان په روزنه او سمونه بوخت و او بيا يې په مدينه کې تر مرگه همدې کار ته ملا تړلې وه او روزنيز شعار يې دا آيت و: ((قسم پر عصر_ چې انسان په تاوان کې دی؛ خو بې له هغوی چې ايمان يې راوړی او نېکې چارې يې وکړې او يو بل ته د حق او صبر سپارښتنې کوي.))

۱۸_ د روزونکي پر لارښوونو عمل:

د روزنې په کار کې د برې شرط، د روزونکي د خبرې منل دي او که يو لړ روزنيز حکمونه پلي او ځينې يې پلي نه شي؛ نو د روزنې کار به تر منزله نه رسېدونکی کوږ بار وي.

---

[1] (بحار الانوار: ۷۷ ټوک، ۸۳ مخ)

[2] (مستدرک الوسايل: ۲ټوک، ۲۷۰ مخ)

د انسانيت ستر روزونکي د اسلام پيغمبر، د اسلام د روزنيزو موخو پوره پلي کولو ته حضرت "علي" خپل ځايناستی کړ او د امت مشرۍ ته يې وټاکه او مسلمانانو ته يې سپارښتنه وکړه، چې له اهل بيتو سره يې ښه چلن وکړئ خو په خواشينۍ چې د رسول الله (ص) تر وفات روسته، ځينو له نبوي کورنۍ سره د پاک نبي د وينا پرخلاف چلن وکړ او پرې يې نه ښووه، چې د اسلام ونه پوره مېوې ته ورسي.

## د رسول الله (ص) د روزنې ځينې اوزار

۱_ څارنه او محاسبه:

د روزنې بنسټيزه مسله داده، چې انسان په خپله د خپلو تېروتنو په لټه کې شي او سمې يې کړي. رسول الله (ص) به خلک دې کار ته را هڅول او ورته ويل يې: ((مخکې له دې چې په هغې دنيا کې درسره محاسبه وشي ښه به وي په دې دنيا کې په خپله له ځان سره محاسبه وکړئ، چې ددې دنيا محاسبه، د هغه دنيا تر هغې ډېره اسانه ده او ټينګار يې کاوه، چې ناوړه چارې مو سمې او ښې چارې مو ډېرې کړئ.))

۲_ بدلون راوستل:

مطلب دادی، چې روزنکی په ښه توګه د زده کړي ناوړه خويونه پر ښو واړوي، چې رسول الله همېشه دا دود کاراوه او په دې باب يې مسلمانانو ته هم سپارښتنه کوله. لاندې مثال د بدلون يوه بېلګه ده:

غوسه يو ډول انرژي ده، چې د انسان په بدن کې راټوکېږي او که بنده شي؛ نو روح کړوي، اعصاب کمزوري کوي او د انسان د سمو هڅو مخه نيسي؛ نوځکه بايد تشه شي، چې تشېدل يې کله د خبرو او کله هم د ځېرې د ځينو حرکتونو له لارې وي او پوهېږو، چې د غوسې خبره کنځله وي او د غوسې په حال کې د انسان حرکتونه پر عقل ولاړ نه وي، چې وهل، ډبول او ماتول يې پايله وي، چې دا د مسلمان له شان سره اړخ نه لګوي؛ نوځکه رسول الله (ص) سپارښتنه کوله، چې مسلمان دې بې فکره او بې سنجشه خبره پر ادبي او رغنده خبره واړوي ويل يې: ((که غوسه شوئ؛ نو که ولاړ ياست کېنئ او که بيا مو هم غوسه سړه نه شوه؛ نو سملئ)) او په يوه بل حديث کې ويلي يې: ((که غوسه شوئ؛ نو اودس وکړئ [1]))

---

[1] (وګورئ: الترغيب والترهيب: ۴۵۰/۳)

رسول الله (ص) به ځوانانو ته سپارښتنه کوله: ((که جنسي غريزه درباندې زور شوه او ستاسې فکرونه يې بوختول او د نېستۍ يا نورو لاملونو له لامله مو واده نه کړای شو؛ نو روژه ونيسئ))؛ ځکه خواړه انرژي زيږوي او لږ يا نه خوړل د بنيادم جسمي او حيواني اړخ کمزوروي او شهوت کابو کوي. پردې سربېره، روژه تي د حرامو څيزونو او چارو له نژدېوالي ژغوري او د رسول الله (ص) په وينا: ((په جنسي غريزې پورې د اړوندو گناهونو په باب په بنيادم کې يو ډول بې مينېتوب رامنځ ته کوي.))

۳_تکرار:

تکرار د روزنې مهم اوزار دی؛ ځکه د خبرې يا عمل تکرار، هغه د انسان زړه او مغزو ته ورننباسي او خوی او عادت ترې جوړوي، په تېره د الهي ويناوو يا چلن تکرار، چې د انسان د عظمت لامل گرځي؛ نوځکه پر ځينو ټکيو او کړنو د اسلام ټينگار له همدې امله دی؛ لکه ((الله اکبر)) چې په لمانځه او اذان کې دی. ددې سترې غونډلې تکرار په انسان کې د ځواک او عزت نيالگی کري او عقل يې پياوړی کوي او مانا يې داده، چې نه ښايي، بې له خدايه بل ته غاړه کېښوول شي او هر ظالم او ځانمنی ټيټ او سپک دی، ټول موجودات او ځواکونه د الله په واک کې دي او دغسې باور له عادي انسانه، غښتلی، مؤمن او مجاهد انسان جوړوي.

همدغسې په شواروز کې د پينځه وخت لمانځه تکرار، مؤمنان له ناوړه چارو ژغوري او استغفار هم يو ډول تکرار دی، چې په حقيقت کې له گناه پښېماني کول او ترې ډډه کول دي او رسول الله پر استغفار ټينگار کاوه:

((د چاچې غم او خپگان ډېر وي؛ نو له خدايه دې ښښنه وغواړي. [1]))

او آنحضرت په شواروز کې سل ځل استغفار او ښښنه غوښته. نن هم دولتونو د ځينو اساسي شعارونو تکرار ته مخه کړې، چې مفاهيم يې د خلکو په اذهانو او زړونو کې کېنوي[2].

٤_ ورو غږېدل:

---

[1] (فروغ کافي: ۹۳/۸)

[2] د ارواپوهنې په علم کې انسان ته دوه ډوله حافظې ښوول شوي چې دا دي: Short term & long term memory؛ يعنې لر مهاله او لنډ مهاله حافظې. موږ چې هر ځل څه گورو، کوو، لولو او يا اورو؛ نو د لومړي ځل لپاره زموږ لنډ مهالې حافظې ته ځي او که همدا مطلب، چې په هر بڼه وي او تکرار نشي، د لنډ مهالې حافظی ځانگړنه ده، چې تر لنډې مودې وروسته يې پاکوي او که تکرار مو کړه؛ نو اوږد مهالې حافظې ته لېږدي او دوسيه ورته جوړېږي او ساتل کېږي.))

د روزونکي ژبه باید فصیحه او څرګنده وي او خبرې و نه ژوي، چې اورېدونکی يې پر خبره ښه پوه شي. د فصیحو خبرو، يو بېلګه د مولی "علي" دا خبره ده:

((الله تعالی، حضرت "محمد" پيغمبر وټاکه، حال دا په عربو کې چا کتاب نه و ويلې او د پيغمبرۍ ادعا يې نه وه کړې نو خلک يې ښيون کړل او د وړتيا له مخې يې ورته مقام ورکړ او ټول يې نېکمرغۍ ته ورسول او په چلن کې منځلاري شول او وګړي يې پايښتي شول [1].))

۵_ انځورول:

کله يو روزونکی د زده کړې د پوهولو لپاره شکل کاږي او رسول الله (ص) هم دا کار په ډېرو ځايو کې کاوه.

په صحيح بخاري کې حضرت عبدالله (رض) وايي:

((يوه ورځ رسول الله (ص) يوه نېغه کرښه وايسته او بيا يې په شاو خوا کې ورته يوه مربع وايسته او بيا يې له مربع بهر يوه کرښه او په دننه کې لنډې لنډې کرښې وايستې او موږ ته يې وويل: ((پوهېږئ دا کرښې د څه نښې دي؟))

اصحابو وويل: ((الله او استازی يې ښه پوهېږي.))

رسول الله (ص) وويل: ((دا په منځ کې کرښه انسان دی او دا لنډې کرښې، چې په شاوخوا کې يې دي، د پېښو غشي دي، چې له هر اړخه يې انسان په نښه کړی که پر يو و نه لګي، په بل به ولګي او دا مربع مرګ دی، چې انسان يې رانغاړلی او دا په بهر کې کرښه د انسان اوږدې هيلې دي.))

---

[1] (نهج البلاغه: ۳۳ خطبه)

د لاندې انځور له مخې.




د حضرت ابو سعيد خدري (رض) روايت دی، چې رسول الله (ص) درې ډکي په ټاکليو فاصلو کې، په ځمکه کې ډوب کړل او موږ يې وپوښتلو: ((پوهېږئ دا هر يو د څه نښه ده؟)) اصحابو وويل: ((الله او استازی يې ښه پوهېږي.)) بيا يې وويل: ((دا انسان دی، دويم يې اجل او درېيم يې هيلې دي او انسان مخکې له دې چې هيلو ته يې ورسي، اجل يې ګرېوان ته لاس اچوي.))

لکه لاندې انځور




حضرت ابن مسعود(رض) وايي چې: ((يوه ورځ رسول الله يوه مربع جوړه کړه او په منځ کې يې ورته يوه کرښه وايسته او د مربع پر يو ضلع يې د منځنۍ کرښې پر لور کرښې وکښلې او بيا يې خپلو اصحابو ته وويل: ((دا په منځ کې کرښه انسان دی او هغه مربع مرګ دی، چې انسان يې رانغاړلی او داواړه کرښې د روزګار پېښې دي، چې انسان يې موخه دی که له يوې بچ شو پر بله به واوړي.[1]))

ددې انځور له مخې.

[1] وګورئ: صحيح بخاري، ترمذي، نسائي او ابن ماجه.

# مرګ




## پېښې

حضرت انس بن مالک(رض) روايت کړی، چې د الله استازي لومړی يوه کرښه وايسته او و يې ويل: ((دا انسان دی او ترڅنګ يې بله کرښه وايسته او و يې ويل: دا اجل دی او له لرې يې يوه کرښه و ايسته او و يې ويل: دا د انسان هيلې دي، چې لرې دي؛ خو اجل ورته نږدې دی.[1]))

او د تفسير په کتابو کې راغلي، چې رسول الله خپلو يارانو ته د انعام د سورت **۱۵۳** آيت داسې توضيح کړ:

((لومړی يې په خپلو مبارکو لاسو نېغه کرښه وايسته ويل يې: دا د الله لار ده او بيا يې پرې له کيڼ او ښي اړخه کرښې وکښلې او و يې ويل: انسان ته ددې هرې لارې پر سر يو شيطان په څار کې دی او خلک رابلي او بيا يې آيت ولوست: ((وَأَنَّ هذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيماً فَاتَّبِعُوهُ وَلاَتَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ[2]= او (پوه شئ) همدا زما

---

[1] (صحيح بخاري؛ صحيح نسائي او الترغيب والترهيب: ٤ټوک، ٢٤٤ مخ)
[2] (انعام/١٥٣)

سمه لار ده؛ نو پرې لاړشئ او پرخپرو ورو لارو مه ځئ، چې تاسې له حق لارې لرې کوي، الله تاسې ته ددې څیزونو سپارښتنه کوي، ښايي چې ځان (له بې لارئ) وساتئ.))
لکه د لاندې انځور




٦_ د لاس له حرکته ګټه:
لاس خوځونه خبرې ته ځانګړې مانا ورکوي او پر مخامخ لوري د لا اغېز لامل ګرځي او کله د انسان ذهن ته داسې ماناوې راوړي، چې خوله يې له ويلو بېوسې وي.
په روايت کې راغلي: رسول الله (ص) د شهادت او منځنۍ ګوتې يې يو له بل سره نښلولې وې او ورته په اشاره يې وويل: ((زه او هغه چې يو يتيم پالي، په جنت کې ددې دوو ګوتو په څېر يو.))[1]
او همداسې په روايت کې راغلي: رسول الله (ص) د دوو لاسو ګوتې په يو بل کې سره ورکړې وې او مخاطبانو ته يې ښوولې، و يې ويل: ((مؤمنان يو بل ته ددې لاسو د ګوتو په څېر دي، چې يو بل ټينګوي.[2]))
د لاس له حرکته دګټې بله بېلګه د ((يوم الدار)) پېښه ده، چې رسول الله د "علي"(ک) پر اوږه لاس کېښود او و يې ويل: ((دا زما رور او په تاسې کې زما ځايناستی او خليفه دی خبره يې واورئ او ورپسې ولاړ شئ.[3]))
او د لاس په دې حرکت او څرګنده وينا يې د مشرۍ اهميت او د امت مشر پر ډاګه کړ.
٧_عملي وينا:
له عملي وينا مراد دادی: څه چې روزونکی له زدکړیاله غواړي هماغه دې د زدکړيال په مخ کې ترسره کړي، چې سم پرې پوه شي، چې دا کار رسول الله (ص) په ډېرو ځايو کې کړی. د

[1] (نورا الثقلين: ۵ټوک، ۵۹۷ مخ)
[2] صحيح بخاري؛ کتاب المظالم: باب نظر المظلوم _صحيح مسلم؛ کتاب البر: تراحم المومنين
[3] (تاريخ طبري: ۲ټوک، ۳۱۹ مخ)

ساري په توگه: هغه وخت چې لمونځ يې خلكو ته ښووه نو پر لوړ ځای ودرېد او خلكو ته يې وويل: ((ماته وگورئ، چې څرنگه لمونځ كوم بيا يې تاسې هم داسې وكړئ.[1]))
څومره د خواشينۍ خبره ده، چې د پاک نبي تردې ټولو هلو ځلو، تر وفات روسته يې، په مسلمانانو كې درز پيدا شو، چې ځينو پر ځينو د كفر ټاپې لگوي او كنځلې ورته كوي يا داچې څوک لاس تړلی او څوک لاس خلاصی لمونځ كوي او په لاس تړلو كې يې څوک پر نامه لاس تړي او څوک پر سينه.
موږ مسلمانان كه وغواړو، د دينی چارو پر حقيقت پوه شو؛ نو د الله د نازولي استازي سيرت بايد په دقيقه توگه وڅېړو؛ ځكه د رسول الله ژوند د اسلامي شريعت عملي بيان و او له همدې امله، چې كله يې له ام المؤمنين عايشې بي بي و غوښتل، چې د رسول الله د اخلاقو په اړه څرگندونې وكړي؛ نو څومره ښه ځواب يې وركړ: ((اخلاق يې قرآن و.))
۸_پوښتنه او ځواب:
پر مطلب د رڼا اچونې ښه لار بحث، خبرې اترې، پوښتنه او ځواب دی او پردې سربېره، په پوښتنه، روزونكي ته د زدكړيال ناسم ذهنيات هم ښكاره كېږي او سمونې ته يې گام اوچتوي.
لاندې روايتونه د رسول الله ددې كړنلارې بيانوونكي دي:
يوه ورځ يې خپل ياران وپوښتل: ((خبر ياست مفلس څوک دی؟ملگرو يې ځواب وركړ: زموږ له نظره خو مفلس هغه دی، چې مال او شتمني ونه لري. رسول الله (ص) وويل: مفلس هغه دی، چې د قيامت پر ورځ راشي او كړنليک يې له لمونځونو، روژو او زكاتونو ډک وي؛ خو چاته يې كنځل كړې وي، غيبت يې كړی وي، تور يې لگولی وي او د نورو پر مال يې نس اچولې وي، يا يې څوک وژلی وي او ناچار شي، ددې ټولو كړنو ثواب هغوی ته وروبښي، چې تېری يې پرې كړی او ثوابونه يې خلاص شي؛ خو بيا هم د خلكو حق پرې پاتې وي او د هغوی د گناهونو يوه برخه ور پر اوږه كړي او دوزخ ته يې ور واچوي.[2]))
رسول الله (ص) په دې پوښتنه او ځواب په ديني پوهه كې د هغوی له خطا پرده اوچته كړه او پوه يې كړل، چې دين ته بايد ژوره كتنه وشي او يوازې سرسري كتنه كافي نه ده.
"صحيح بخاري" د حضرت "انس بن مالک"(رض) وينا راخستې چې وايي: ((د پاک نبي زوی ابراهيم مړ شوی و، چې ورغلو او و مو ليدل، چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم

[1] (صحيح بخاري؛ كتاب الجماعه)
[2] (بحارالانوار: ۷۲ټوک، ٦ مخ _كنز العمال: ۱۰۳۳۲۷ حديث)

ژاړي. حضرت "عبد الرحمن بن عوف" وويل: ته هم د زوی پر مړينه ژاړې؟ رسول الله (ص) وويل: ژړا د لورنې او مينې نښه ده؛ خو سره له دې چې زړه مې غمجن دی او سترګې مې ژاړي خو داسې خبره به و نه کړم، چې الله مې خپه شي او بيا يې خپل زوی ته وويل: ابراهيمه! په بېلتون دې خپه يم. [1]))

له دې روايته جوتيږي، چې مړي ته ژړا پروا نه لري.

۹_ د کيسو کول:

د روزنې کار پر ځينو کيسو بشپړولای شو، چې زدکړيال ترې عبرت واخلي او د کيسو اتل ځان ته بېلګه کړي؛ نوځکه بايد د کيسې په ټاکنه کې ځانګړی پام وشي.

رسول الله (ص) به ډېر وخت په کيسو مسلمانانو ته لار ښوده او لاندې کيسې ته ورته حديث يې بېلګه ده: ((د قيامت پر ورځ به حکم راشي، چې بنده مې دوزخ ته يوسئ د دوزخ پر لور به راکښل شي؛ خو يوه ډله مسلمانان، چې په دنيا کې يې پېژانده، الله ته به وايي: خدايه! ده؛ خو موږ په دنيا کې تاته رابللو، دده په اړه زموږ شفاعت ومنه او الله به يې شفاعت ومني او بنده به له عذابه خلاص شي. [2]))

لاندې کيسه مسلمانان له څارويو سره نېکۍ ته رابلي او وايي:

((يو مسافر تندې اخستی و، چې څاه يې ومونده؛ نو ورکوز شو ځان يې په اوبو موړ کړ، تر راختو روسته يې سپی وليد، چې له تندې يې ژبه راوتې او خاوره څټي له ځان سره يې فکر وکړ، چې سپی هم د ده په څېر تږی دی؛ نو بېرته څاه ته ورکوز شو او خپله پڼه يې له اوبو راډکه کړه او په خوله کې يې راونيوه او راوخوت او سپی يې هم په اوبو موړ کړ او الله يې هم ددې نېک جار له لامله، له ګناهونو تېر شو.))

ددې کيسې په اورېدو، چې اصحاب د پاک نبي پر مطلب پوه شوي وو؛ نو د ډاډ لپاره يې وپوښتل: د الله استازيه! ايا له څارويو سره هم مرسته ثواب لري ؟ ورته يې وويل: ((د هر تږي مړول ثواب لري. [3]))

۱۰_بېلګه جوړونه:

[1] (صحيح بخاري: ۱ټوک، ۱٥٤مخ _ ابن سعد؛ طبقات: ۱ټوک، ۱۳۷ مخ)

[2] (روضة الواعظين: ۲ټوک، ۳۲۷ مخ)

[3] (الموطا: ۲ټوک، ۹۲۹ مخ _ سنن ابي داود؛ کتاب الجهاد)

د روزونکي يوه دنده داده، چې زدکړيال ته بېلګه وروښيي، چې وينا او چلن يې خپل کړي او د ژوند بېلګه يې وي. ځيني بېلګې د ژوند په ټولو چارو کې د لاروی وړتيا لري؛ لکه رسول الله (ص)، چې حکيم الله د ژوند ټولو اړخونو ته بېلګه کړی دی او وايي:
((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رسول الله (ص) أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً[1]=په يقين چې د الله د استازي په ژوند کې ستاسې هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله او د اخرت ورځې ته هېله من وي او الله ډېر يادوي.))
او حکيم الله ځيني نور په ټاکلو چارو کې بېلګه کړي؛ لکه حضرت ابراهيم عليه السلام چې له مشرکانو په کرکه او له الله سره په مينه کې بېلګه کړی و او وايي:
((قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَداً حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلاَّ قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ[2]=په يقين، تاسې ته د ابراهيم او د هغه د ملګرو په (لاروی) کې غوره بېلګې شته چې خپل قوم ته يې وويل: ((په واقع کې موږ له تاسې او (هغه) څه چې د الله پرځای لمانځئ، بېزاره يو. ستاسې له (دينه) منکر يو او زموږ او ستاسې ترمنځ تر هغه پورې، چې تاسې پر يوه الله ايمان راوړئ، همېشنی کينه او دښمني اعلان ده؛ خو د ابراهيم هغه خبره (بېله ده) چې خپل پلار [= د مور پلار، تره، پلندر] ته يې وويل: زه به هرومرو تاته بښنه وغواړم، که څه زما په وس کې نه ده، چې له الله نه ستا لپاره څه تر لاسه کړم. پالونکيه! موږ يوازې پر تا توکل کړی او يوازې تاته مو (رجوع او) مخ کړی دی او همدا ستا لوري ته (د ټولو) درستنېدل دي.))
رسول الله (ص) هم په ډېرو ځايو کې حضرت "علي" او خپل اهلبيت مسلمانانو ته بېلګه کړل، چې دا خبره د اهل سنتو او شيعه و د متواترو حديثونو له لارې جوته ده.
۱۱_ناسته پاسته او ملګرتوب:
د ژوند چاپېريال د انسان پر کړو وړو خورا اغېز لري؛ ځکه هر انسان د هغو انسانانو تر اغېز لاندې راځي، چې ورسره ناسته پاسته کوي.[3]

[1] (احزاب/۲۱ آيت)
[2] (ممتحنه/ ٤)
[3] (صحيح بخاري؛ کتاب البيوع _ صحيح مسلم؛ کتاب البر_ کنزالعمال؛ ۲٤٦٧٦ حديث)

کېدای شي د يوه ګناهکار انسان د سمونی ړومبی شرط د فاسد چاپېريال او نااهله ملګرو بدلول يې وي.
رسول الله (ص) په لاندې روايت کې دې حقيقت ته زموږ پام را اړولی:
حضرت ابوسعيد خدري (رض) روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وايي: ((په تېرو امتونو کې يو د نهه نوي کسانو وژونکي ژوند کاوه يوه ورځ يې خلک وپوښتل: ددې سيمې تر ټولو پوه څوک دی، چې د توبې په اړه ورسره مشوره وکړم؟ خلکو ورته يو زاهد ور وښود. ورغی او ورته يې وويل: ما نهه نوي کسان وژلي آيا د توبې لار مې شته؟ زاهد ورته منفي ځواب ورکړ او د زاهد په وژلو يې د مړيو شمېر سلو ته ورساوه. بيا يې د سيمې د پوه پوښتنه وکړه، چې پته يې ورکړ شوه. قاتل ورغی و يې ويل: ما سل کسان وژلي آيا زما د توبې څه لار شته ؟ عالم وويل: ولې! څوک دې د توبې مخه نيوای شي؟ پلانۍ سيمې ته ولاړ شه، هلته څه خلک دي، چې د الله پر عبادت بوخت دي، ته هم ورسره پر عبادت بوخت شه او زما که مني او بيا خپلې سيمې ته راستون نه شې، چې ډېره بده سيمه ده.[1]))
۱۲_ د خلکو تېروتنې سمې کړئ؛ خو نامه يې مه اخلئ:
چې کله يو زدکړيال تېروځي؛ نو تکړه روزونکي ته پکار دي، چې ورته ووايي: کار دې سم نه و او بيا يې و نه کړې. دا کار يوازې څېړنې ته اړتيا لري او د ګناهکار نامه راوړو ته اړتيا نه لري، چې په ډله کې يې نوم اخستل لاندې ناوړه اغېزې لري:
الف_نوم بدي او په زړه کې کينه پيداکېدل.
ب_کېدای شي زدکړيال د خپلې ګناه د ناڅېزه ښوولو او خپل ځان د ګناه له پړې ساتلو لپاره، د نورو نيمګړتياوې هم را برسېره کړي.
ج _ زدکړيال خړ او خجل شي او ژوند پرې تريخ شي.
رسول الله (ص) به د ځينو هغو کړنو په اړه خپلو يارانو ته خبرې کولې، چې اصلاً ګناه به وه خو د ګناهکار نوم يې نه اخسته.
ام المؤمنين عايشه بي بي وايي: ((يوه ورځ رسول الله (ص) يو کار وکړ او اجازه يې ورکړه، چې نور هم دا کار وکړي؛ خو ځينو ددې کار پر نامشروعيت ګروهن وو او و يې نه کړ. چې دا خبره رسول الله ته ورسېده؛ نو مسلمانان يې راټول کړل او د الله تر ستاينې روسته يې وويل:

[1] (صحيح بخاري؛ کتاب الانبيا_ صحيح مسلم؛ کتاب التوبه)

څه شوي، چې ځينو له هغه کړنې ډډه کړې، چې ما په خپله کړې وه؟ پر الله قسم! چې زه تر هغوی پر دين ښه پوهېږم او له الهي عذابه هم ډېر وېرېږم[1]))

او حضرت عبدالله بن مسعود(رض) ته يې وويل: ((د مسعود زويه! تر هغوی مه وسه، چې پر خلکو سختي کوي؛ خو پر ځان يې اسان ګڼي [2]))

او پر هغې ډلې يې نېغ په نېغه نيوکه و نه کړه، چې د جماعت لمونځ يې پرېښی و خو د يوې وينا په ترڅ کې يې خبر کړل: ((منافقانو ته تر ټولو درانه د سهار او ماسخوتن لمونځونه دي او که ددې لمونځونو له فضيلته خبر شي؛ نو که پښې يې هم نه درلودای ځانونه به يې په خاپوړو لمانځه ته رارسول[3]))

۱۳_ د واقعيت له مخې وړانديزونه:

د روزونکي خبره بايد موخيزه، حکيمانه او د سمو تجربو پر بنسټ وي او د پېغمبرانو خبرې هم داسې وې؛ نوځکه يې په زړه کې ځای پيدا کاوه.

له حکمته ډکه خبره لنډه خو پښه وي، چې يادول يې اسان وي. د پاک نبي ټولې خبرې له حکمته ډکې وې؛ لکه: ((مرګ انسان ته کافي نصيحت دی. [4]))

((له دې درې کړنو يو هم انسان ته ګټور نه دی شرک، د مور و پلار سپکاوی او له جهاده تېښته. [5])) ((د علم زکات دادی چې ناپوه ته يې وښيي. [6]))

۱٤_ شخصي لارښوونه:

مطلب دادی، چې روزونکی ځينو زدکړيالانو ته ځانګړې روزنه ورکړي او يو لړ وګړنی لارښوونې ورته وکړي ؛ البته ځينې عالمان د روزنې دې دود غاړه نه ږدي؛ خو حقيقت دادی، چې دا لار د انسان د روزنې مهمه لار ده؛ خو پردې شرط چې روزونکی ترې په مناسبو وختو کې ګټه واخلي او که داسې و نه کړي؛ نو نه يوازې ګټه به ونه لري؛ بلکې تر ګټې به يې تاوان هم ډېر وي.

---

[1] وګورئ: (صحيح بخاري؛ کتاب الادب او هم: صحيح مسلم؛ کتاب الفضايل)
[2] (مستدرک الوسايل: ۲ټوک، ۳٦۳ مخ)
[3] (صحيح بخاري؛ کتاب الصلوة: باب صلوة الجماعة_صحيح مسلم؛ کتاب المساجد_شيخ طوسي؛ تهذيب: ۳ټوک، ۲۵ مخ)
[4] (بحارالانوار: ۷۷ ټوک، ۱۳۷ مخ)
[5] (کنز العمال: ٤۳۸۲٤ حديث)
[6] (بحارالانوار: ۲ټوک، ۲۵ مخ)

د الله استازي هم له خپلو محدودو اصحابو سره له دې دود کار اخسته، چې روحي چمتووالی يې درلود؛ لکه حضرت "عبدالله بن مسعود"(رض) ته يې ځانګړې روزنه ورکړې وه او په يوه سپارښتنه کې يې وويل:

(الف)_ ((د مسعود زويه! کوښښ وکړه، چې ټولې کړنې دې پر پوهه او عقل ولاړې وي او څه په پټو سترګو څه مه کوه))

ب_ او حضرت "ابوذر" (رض) ته يې وويل ((ابوذره! الله، اهل بيت، زما په امت کې "د نوح بېړۍ" او د بني اسرائيلو د ښښنې "وره" ته ورته کړي، که څوک پرې وروختل؛ نو ژغورل شوی به وي وي او که چا ترې مخ واړاوه؛ نو هلاک به وي [1]))

ګرانو لوستونکيو! څه مو چې په دې څېرکي کې ولوستل، د رسول الله (ص) يو لړ طريقې او قاعدې وې، چې خپل ياران يې پرې روزل او د غوره والي مهم دليل يې دادی، چې مؤمن او مخلص مسلمانان يې وروزل.

[1] وګورئ: بحارالانوار: ۷۷/ ۱۱۰ او ۷٤ مخونه

## د اوسني پېر د مسلمانانو لپاره د بعثت دوه مهمې مسالې

د بعثت د مسالې په باب د مسلمانانو لپاره نن دوه مسالې مطرح دي:
لومړی داچې دا بعثت او سرچینه ژوندۍ او راخوټېدونکې ده او د تاریخ په ترځ کې یوه الهي لورنه او برکت دی او لکه څنګه چې خدای تعالی په مکرره توګه په قرآن عظیم الشان کې ژمنه کړې ده، ددې حقیقت راځرګندېدل ددې لپاره دي، چې د بشر پر ژوند لاسبری شي او د بشر ژوند په خپل رنګ کړي. دا حقیقت به پلي شي: لیظهره علی الدین کله.[1]
د بعثت مساله ددې نړۍ یو طبیعي حقیقت او د بشریت لپاره یوه قطعي او حتمي حالت دی. هغه عدل او حق، چې د خاتم الانبیا (صلی الله علیه و آله وسلم) په بعثت په نړۍ کې مطرح شو، ددې لپاره نه و، چې یوه ډله خلک یې په یوه ځانګړې وخت کې ومني او د بشر د تاریخ یوه ستره برخه او انسانان یې و نه مني؛ بلکې مطرح شو، چې نړۍ او انسان د خپل وړاندیز له مخې جوړ کړي او بشر او ټول وجود –بالتبع بشر- له دې لارې کمال ته ورسوي او دا به کېږي؛ که و نه شول؛نو موخه به نیمګړې وي.
البته ددې موخې پر لور حرکت، هغه حرکت دی، چې له خپلو شرایطو، علل او لاملونو سره به مناسب ترسره کېږي او موږ ددې حقیقت پر لور ور روان یو او هر ګام، چې بشر پورته کوي – که په خپله یې وغواړي که و یې نه غواړي، که پوه شي که پوه نشي- د بعثت حقیقت ته ورنږدېږي.
نن په نړۍ کې چې کوم شعارونه مطرح دي، هماغه الهي بعثت دی؛ که څه په شعار عمل نشته؛ لکه د ټولنیز عدالت شعار، آزادګي، آزادي، علم او پوهه، پرمختګ غوښتنه، د ژوند د کچې ښه کول او نور شعارونه، چې دولتونه، ولسونه او د فکر خاوندان او ښوونځي یې ورکوي. په خپله دا شعارونه د بعثتونو او روستي بعثت (خاتم بعثت) له برکته مطرح دي، چې البته په نیمګړي ډول یې له خلکو سره موجود دي او ځینې یې پر لوري وردرومي.
نن موږ او ټول بشریت پر مفاهیمو تدین او ددې بعثت د ارزښتونو پر لور ورځو او موږ په جمهوري اسلامي کې ویاړو، چې له هغو انسانانو او ولسونو څنې یو، چې د دین شعار او په قرآن عظیم الشان عمل مو په خپل ژوند کې پلي کړی دی او د لا ښه پلي کېدو پر لور یې وررروان یو. موږ ویاړو، چې دا حقیقت مو پېژندلی، لیدلی، ورسره مینه کوو، پر لور یې حرکت

[1]. فتح سورت، ۲۸ آیت.

مو پيل کړی دی او ډېره لاړ مو وهلې هم ده. ټوله نړۍ او ټول بشريت بايد همدا لاړ ووهي او و به يې وهي.
دويم مطلب، په خپله د نبي کريم (صلی الله عليه و آله وسلم) په باب دی. د هغه ستر شخصيت نامه، ياد، مينه او درناوی په ټولو اسلامي پېروانو کې د ټولو مسلمانانو د يووالي آريز چورليځ دی. د دين په ټوله ټولگه کې بل يو داسې ټکی هم نشته، چې داسې هر اړخيز –هم له عقلي اړخه، هم له عاطفي اړخه او هم د مانيز او اخلاقي پلوه- د ټولو د منلو او د ټولو اسلامي ډلو او مسلمانانو د هوکړې او منلو وړ وي. دا هغه مرکزي او محوري ټکی دی.
قرآن عظيم الشان او کعبه او فرايض او عقايد گرد سره شريک دي؛ خو هر يو يې د انسان د شخصيت يو اړخ-لکه اعتقاد، مينه، اروايي لېوالتيا، د تقليد او تشبه حالت او عملي تخلق- ځان ته راگرځوي. او هغه مهال د مسلمانانو ترمنځ، ددې ځيزونو ډېری، چې وويل شول، مسلمانان يې په باب بېلابېل تفسيرونه او ليدلوري لري؛ خو هغه څه چې ټول مسلمانان د فکر او گروهې له پلوه- تر احساس او عاطفې مهمتر- پرې يووالی او هوکړه لري، د خاتم پېغمبر او نبي اکرم حضرت محمد بن عبدالله (صلی الله عليه و آله وسلم) سپېڅلی وجود دی. دا ټکی بايد ستر وشمېرل شي. دا مينه بايد ورځ تر بلې ډېره کړو او د آنحضرت (ص) له سپېڅلي وجود سره دا مانيزه او اروايي لېوالتيا بايد د مسلمانانو په زړه او ذهن کې تشديده کړو.
تاسې وينئ، چې پر اسلام په فرهنگي يرغل او دسيسه کې، يوه برخه، چې د دښمن د خبيثو دسيسو پام ورته و، د آنحضرت سپېڅلی وجود دی، چې په شيطاني کتاب پرې يرغل وشو او و يې ښووله، چې د مسلمانانو په عقايدو او عواطفو کې دښمن د دسيسې پام کومو ځايونو ته دی.

### اسلام د بشر د ژوند د ټولو پېروانو لپاره شفابښونکې نسخه ده

د بعثت ستره پېښه، د دومره پېړيو په تېرېدو سره او د نړۍ د انديالان او پوهانو د څرگندونو له مخې، تر اوسه بيا هم له بېلابېلو اړخونو د اندنې او زېرنې وړ مساله ده. د نبي کريم (صلی الله عليه و آله وسلم) بعثت د بشر په تاريخ کې د انسانانو د ژغورنې، د نفسونو، ارواوو او خويونو په لار کې يو ستر حرکت و او له هغو ستونزو سره مقابله وه، چې بشر د تاريخ په هر پېرکې ورسره مخ و او په دې پېر کې هم ورسره مخ دی.

ټول اديان د شر او فساد مخالف دي او د لوړو موخو پر لور نېغه لاره جوړوي؛ خو د اسلام سپېڅلی دين دا ځانګړنه لري، چې يوه همېشنۍ او تلپاتې نسخه ده او دا نسخه د بشر د ژوند د ټولو پېړونو لپاره چار سازه ده.
موږ چې په قرآن کې لولو: ((هو الذی بعث فی الاميين رسولا منهم يتلوا عليهم آياته و يزکيهم و يعلمهم الکتاب والحکمة[1])) دا په دې معنا نه ده، چې د خاتم دين او خاتم استازي په راتګ به د بشر ټول نفسونه تزکيه شي، يا تزکيه شول؛ دا په دې معنا نه ده، چې د قرآن کريم تر راڅرګندېدو روسته به بشر له ظلم، تبعيض او دښمنۍ سره مخ نشي او د خپل تکامل پر لور به له کړلارۍ سره مخ نشي.
که وايو، چې رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) او د اسلام دين د عدل پلي کولو، د کمزوريو ژغورنې او ساه لرونکيو او بې ساه بوتانو ماتولو لپاره راغلی دی؛ خو دا په دې معنا نه ده، چې د اسلام له څلانده لمر تر راختو روسته به پر خلکو ببخي ظلم ونشي؛ کوم طاغوت به و نه لري او د بشر پر ژوندانه به کوم بوت واکمني و نه کړي. واقعيت هم راښيي، چې د اسلام تر راڅرګندېدو روسته، په بېلابېلو وختونو کې، ان په اسلامي چاپېريال کې؛ البته د څو لسيزو په تېرېدو،يو لړ بوتان راپيدا شول، طاغوتان راپيدا شول، پر بشريت ظلمونه وشول او بشر له هماغو ناکاميو سره مخ شول، چې تل بشر ورسره مخ دی.
نو ددې خبرې معنا، چې د بعثت روستۍ موخه د انسان ژغورنه ده، يو بل څيز دی او معنا يې داده، چې هغه څه چې رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) او اسلام خلکو ته ورکړل، د ټولو پېړونو لپاره يو شفا ښښونکې نسخه ده؛ د انسانانو د ناپوهۍ پر وړاندې نسخه ده، د ظلم پر وړاندې نسخه ده، د تبعيض پر وړاندې، د زورمټيو په واسطه د کمزوريو د لتاړلو پر وړاندې نسخه او د هغو ټولو دردونو پر وړاندې رغونکې نسخه ده، چې بشر ورسره د خلقت او پنځون له پيله تر اوسه مخ دی او کړولی يې دی. د نورو ټولو نسخو په څېر، که عمل پرې وشي؛ نو پايله به ولري او که پرېښوول شي يا ناوړه پوهنه ترې وشي يا د پلي کولو لپاره يې په کار مړانه او جرات نه وي؛ نو بيا هم پايله نه ورکوي. خورا تکړه طبيبان که خورا سمه نسخه هم درکړي؛ خو تاسې يې و نشي کړای، چې و يې لولئ يا عمل پرې و نه کړئ او په پايله کې شا ته واچول شي؛ نو د رنځور پر حال به څه اغېز ولري او دلته به د هغه تکړه طبيب څه نيمګړتيا وي؟

[1] جمعه سورت، ۲ آيت.

پېړۍ تېرې شوې، چې مسلمانانو قرآن عظيم الشان هېر کړی دی؛ په ژوندانه کې د قرآن کريم څرګندې ليکې تتې شوې دي يا يې ناوړه پوهنه ترې شوې ده يا په لوی لاس تحريف شوې دي؛ يا پرې سم پوه شوي؛ خو د پلي کولو لپاره يې په کار مړانه نه درلوده يا د پلي کولو لپاره يې ګام هم پورته کړی؛ محصول يې هم درلود؛ خو له هغه محصوله دفاع او ساتنې ته يې سرښندنه و نه کړه. که په صدر اسلام کې هم د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) په خبره پوه نه شول، يا يې مړانه نه درلوده، چې پلي کولو ته يې اقدام وکړي او ډارېدل؛ لکه څنګه چې په قرآن عظيم الشان کې دې ډول وګړيو ته اشاره شوې ده: ((يقولون ان بيوتنا عورة و ما هی بعورة ان يريدون الا فرارا[1])) يا هغه څه چې به لاس ته راتلل، که د هغه لپاره يې سرښندنه نه وای کړای، نه پاتې کېدل.

**د مسلمانانو د دردونو يوازېنۍ درملنه، د بعثت پېغام ته ورستنېدل دي**

ډېری هغه بلاوې، چې د جهالت او عصبيت په پېر کې واکمنې وې؛ نن هم پر اسلامي ولسونو واکمنې دي. بېوزلي، نشتمني، نالوستي، علمي روسته پاتې والی، کورنی استبداد، د ښکېلاکي ځواکونو واکمني او کورني اختلافات اوس هم په اسلامي هېوادونو کې شته دی.
نن تر يوه ميليارده ډېر مسلمانان په نړۍ کې ژوند کوي، چې کولای شي، د نړۍ په پېښو او نړيوالو مسلو کې يو ټاکونکی نظر او خبره ولري؛ خو له دې اختلافونو، له دې کورنيو شخړو، د انسانانو او ولسونو له لومړنيو ستونزو سره لاس و ګرېوان دي او دا ستر جمعيت، چې پکې پوهان، عالمان او ستر شخصيتونه هم لري، په يوه بې خاصيته او بې کاره څيز اوړېدلي دي! ولې ؟ ددې دردونو درملنه څه ده؟ اسلام او د نبي کريم (صلی الله عليه و آله وسلم) بعثت ته ورستنېدل.

**د مسلمانانو وحدت په رامنځ ته کولو کې د اسلامي امت عقلاني دنده**

دا نامه او دا مناسبت په موږ کې د وحدت لپاره يوه کچه شوې ده؛ نو دا اونۍ، چې د ربيع الاول له دولسمه (د يوه روايت له مخې د آنحضرت زوکړه) تر د ربيع الاول تر اوولسمه (د يوه بل روايت له مخې د آنحضرت زوکړه) ده، د وحدت اونۍ نامه مو پرې ايښې ده. لومړی داچې

---

[1]. د احزاب سورت، ۱۳ آيت.

د اسلامي امت وحدت، نن او تل د اسلامي امت يو له مهمو اړتياوو څخه دی؛ دويم داچې د مسلمانانو د وحدت کچه او چورليځ د اسلام مکرم نبي او د آنحضرت نامه ده.
د وحدت ډېرې خبرې مو کړې دي او که پر ځينو هغو چې ويلي مو دي، عمل کړی وای؛ نو نن به د مسلمانانو برخليک تر هغه څه غوره وای، چې دی. په طبيعي توګه ځينې د وحدت ضد لاملونه شته دی- قومي اختلافات، مذهبي اختلافات، ټبريز اختلافات، سياسي اختلافات- چې بايد مقابله ورسره وشي. د رسول الله په سپېڅلي نامې په اډانه او د آنحضرت په ياد- چې د اسلامي امت د يووالي چورليځ دی- بايد پردې اختلافاتو لاسبري شو؛ خو تر دوی لا ستونزمن، د درزونو هغه لاملونه دي، چې په اسلامي امت کې ورپېچکاري کېږي. د همدې قومي، ټبريز او مذهبي اختلافاتو په زمينه کې، د اسلام دښمنان، د خپل همېشني سياست له مخې، د مسلمانانو ترمنځ اختلاف رامنځ ته کوي؛ په دې اختلافاتو کې په څرګنده توګه د دښمن لاس، د دښمن دسيسه او د دښمن تدبير ليدل کېږي. ددې درملنه بايد وشي. د امت عقلاء بايد پرېنږدي، چې په مسلمانانو کې د فتنو څپې – چې د اسلام د دښمنانو په وسيله راپاورل کېږي- ورځ په ورځ زياتې او آرامش، الفت او محبت په خطر کې کړي.
قرآن موږ ته د وحدت سپارښتنه کړې ده. قرآن موږ ګواښلي يو، که خپل يووالی او تړاو له لاسه ورکړئ؛نو آبرو، هويت او ځواک به پوپنا شي. په خواشينۍ، چې نن په اسلامي نړۍ کې دا ناخوالې ليدل کېږي. د اسلامي نړۍ پرخلاف دسيسې خورا درنې دسيسې دي. که نن په دې پېر کې د اسلام پرخلاف سازمان يافته دسيسې په خورا شدت ترسره کېږي، نو د اسلامي امت وينښتيا ده، چې د اسلام دښمنان يې په ډار کړي دي. نړيوال استکبار، اسلامي هېوادنو ته خېټه په اوبو کې ايښوونکي او په اسلامي دولتونو او هېوادنو کې لاسوهونکي، د اسلامي امت له يووالي په ډار کې دي.
د نړۍ نږدې يونيم ميليارد وګړي مسلمانان دي او مېشتځايونه يې د دې ځمکې يو له خورا مهمو او ارزښتمنو ځايونو څخه دي. دا دومره طبيعي زېرمې، دا ستر فرهنګي ميراث، دا دومره کارنده او استعداد لرونکی بشري ځواک، د لويديځ د محصولاتو لپاره دا دومره ستر بازار، دا ارزښتمن ګاز او تېل، چې په دې هېوادونو کې دي، دا د استکباري هېوادونو وسوسه کوونکي دي؛ غواړي پر دوی بشپړه ولکه ولري؛ خو اسلامي وينښتيا يې د لارې خنډ دی. د اسلامي امت وحدت د دې دښمنانو پر وړاندې يو ستر خنډ دی؛ نو د دې خنډ لرې کولو ته خورا هڅې کوي.

د اسلام دښمنان د هغه فکر او اند په فقر کې دي، چې غواړي، اسلامي نړۍ ته يې وروړاندې کړي؛ هغه لوړ ښوونځی او تفکر، چې وکولای شي، د اسلامي مخورو زړونه راجذب کړي. نه يې لري او نه يې شي راوړاندې کولای؛ نو د غافلو زړونو د جذب لپاره يې د بشر د حقوقو او له تروورزم سره د ضديت بېرغ هسک کړی دی؛ حال داچې په خپله امريکا، صهونستان او مستکبران دي، چې د بشر خورا حقوق يې تر پښو لاندې لتاړلي دي او نړۍ يې ټپي کړې ده. نن د اسلامي نړۍ مخور او سياستوال دروند مسووليت پر غاړه لري؛ نړۍ خواره دې په خپلو هېوادونو او تر واک لاندې سيمو کې رسوا کړي؛ په خپله کوټلې اراده دې د اسلام پرخلاف د هغوی خبيث تبليغات خنثی کړي؛ پرېنږدئ، چې له خپلو نقشو پايله واخلي؛ دا مسووليت د هغوی د ټولو پر غاړه دی.

اسلامي امت بالقوه ځواک لري. علماء،روښانفکران، سياستوال، ډلې، د قلم خاوندان، ويناوال يا هر هغه څوک چې په اسلامي هېوادونو کې يې له نړيوالو يا ملي ممبرونو څنې يو ممبر يې په واک کې دی، درون مسووليت ور ترغاړې دی.

مسلمانانو ته ډاډ ورکړئ؛ هغوی په خپل ځواک ډاډمن کړئ؛ هغوی په علم، عقل، تدبير او د خپل دننني ځواک پياوړتيا ته اړ کړئ؛ هغوی د نړيوالو زورواکو پرخلاف راپاڅېدو او درېدو ته وهڅوئ. متعال خدای ژمنه کړې دی: ((من کان الله کان الله له[1]))؛ ((والذين جاهدوا فينا لنديهم سبلنا و ان الله لمع المحسنين[2])) خدای به مرسته وکړي. خدای به لارښوونه وکړي. زموږ ستر امام هم عملا او قولا دا زده کړه زموږ ولس ته ورکړه او زموږ ولس هم يې پايلې د خپلو سترگو مخې ته وليدې او نړۍ هم د دې معنا شاهده وه.

شک نه لرو، چې الهي ژمنې وويل: ((وعد الله الذين آمنو منکم و عملوا الصالحات ليستخلفنهم فی الارض کما استخلف الذين من قبلهم و ليمکنن لهم دينهم الذی ارتضی لهم[3])) عملي ژمنه ده او پلي به شي. شرط يې، راولاړېدل، استقامت، لار نه ورکول، موخه نه ورکول، د يووالي ساتل او پر متعال خدای توکل کول دي.

---

[1]. د اصول کافي شرح، لومړی ټوک، ۶۰۴ مخ.
[2]. د عنکبوت سورت، ۶۹ آيت.
[3]. د نور سورت، ۵۵ آيت.

# د رسول الله معراج

## روايتي ويينه[1]

د معراج پېښه او داچې رسول الله (ص) د معراج پر شپه څه وليدل او واورېدل؛ نو په دې اړه قمي په خپل تفسير کې له خپل پلاره له ابن عمير له هشام بن سالم له امام صادق (ره) نه روايت کړي، چې: حضرت جبراييل، حضرت مکاييل او حضرت اسرافيل د رسول الله (ص) لپاره سپين اس راووړ، يو يې قيضه ونيوه، بل يې رکاب ونيو او کله چې رسول الله (ص) سپرېده؛ نو درېيم يې د رسول الله (ص) جامې ورسمې کړې.دا مهال اس لږه ناارامي وکړه؛ خو جبراييل ورو وواهه، ورته يې وويل: اسه! ارام شه، تردې پېغمبر مخکې بل يو پېغمبر هم درباندې سپور شوی نه دی او تردې روسته به هم د ده شان بل درسپور نشي.

بيا وايي، چې اس تردې روسته آرام شو، لږ يې پورته بوت، حال داچې جبراييل هم ورسره و؛ نو له ځمکې او اسمانه يې د خدای نښې وروښوولې.

رسول الله (ص) وايي: د تلو پر مهال، ناڅاپي له ښي اړخه راباندې غږ شو: محمده! خو ځواب مې ورنکړ او پام مې ورته ونکړ. له کيڼ اړخه بل غږ راباندې وشو: محمده! ځواب مې ورنکړ او پام مې ورته ونکړ، يو ښځه مې هرکلي ته راغله، چې په لوڅو مړوندونو کې يې دنيوي ګاڼې وې، راته يې وويل، راوګوره، چې خبرې درسره وکړم. دې ته مې هم پام ونکړ، مخکې ولاړم، يو غږ مې واورېد، چې په اورېدو يې خپه شوم ،له دې هم تېر شوم، دلته جبراييل له اسه راکوز کړم، راته يې وويل: محمده! نمونځ وکړه! پر لمانځه ودرېدم، بيا يې راته وويل،پوهېږې په کوم ځای کې لمونځ کوې؟ و مې ويل: نه ! راته يې ويل: طور سينا، هماغه ځای چې خدای له موسی (عليه السلام) سره خبرې وکړې؛ ځانګړې خبرې. بيا سپور شوم، خدای زده، چې څومره ولاړو،راته يې وويل: راکوز شه او نمونځ وکړه،بيا يې راته وويل،پوهېږې چېرې دې نمونځ وکړ. و مې ويل، نه! ويې ويل: بيت اللحم او بيت اللحم د بيت المقدس هغه ځمکه ده، چې عيسی بن مريم (عليه السلام) پکې زيږېدلی. بيا سواره شوو او روان شو، چې بيت المقدس ته ورسېدو، بيا يې اس په هماغه ځای کې وتاړه، چې مخکې به نورو انبياوو هم خپل اسونه تړل.

---

[1]. دا ويينه مو له الميزان تفسير د اسرا سورت له تفسيره اخستی دی

ورننووتو،جبراييل راسره و، او حضرت ابراهيم خليل، موسی او عيسی مې په ګڼو نورو انبياوو کې وليدل، چې خدای زده شمېره يې څومره وه، دوی ټول ما ته راټول شوي ول او لمانځه ته چمتو وو او اړنګ مې نه کاوه، چې ډېر ژر به جبراييل مخکې شي او موږ ټول به ورپسې لمونځ کوو، د لمانځه ليکې چې اوډون شوې؛ نو جبراييل له مټه ونيوم ،مخکې يې کړم او د ټولو امامت مې وکړ او البته پېسمني –غرور او ښاځمني –عجب نشته.
بيا يو خادم راغی، چې درې لوښي يې په لاسونو کې نيولي وو، په يوه کې شيدې ، په دويم کې يې اوبه او په دریيم کې شراب وو، وامې وړاندې کړل، چې ويې ويل: که اوبه دې راوخستې؛ نو هم به پخپله او هم به يې امت پوپنا کېږي او که شراب يې راوخستل؛ نو هم خپله او هم يې امت ورک لارېږي او که شېده يې راوخستې؛ نو هم خپله او هم يې امت ښيونېږي.
بيا رسول الله (ص) وويل: شېدې مې راوخستې،و مې څښلې، جبراييل راته وويل: ښيون شوې او امت دې هم ښيون شو، بيا يې راته وويل: پر لار دې څه وليدل؟ له ښي پلوه غږ راباندې وشو. ويې ويل، ايا ځواب دې ورکړ؟ و مې ويل: نه او هيڅ پاملرنه مې هم ورته ونکړه. راته يې وويل: هغه د يهودانو مبلغ و، که ځواب دې ورکړی وای؛ نو امت به دې تر تا روسته يهوديت ته ورمات شوی وای. بيا يې وپوښتلم: نور دې څه وليدل. و مې ويل: له کيڼ پلوه غږ راباندې وشو. ويې پوښتل: ځواب دې ورکړ؟ و مې ويل: نه او پاملرنه مې هم ورته ونکړه. راته يې وويل: هغه د مسيحيت داعي و، که ځواب دې ورکړی وای؛نو امت به دې تر تا روسته مسيحي شوی و. بيا يې وپوښتل: مخې ته دې څوک راښکاره شو؟ و مې ويل: لوڅ مړوندې ښځه، چې دنيوي ګاڼې ورسره وې،راته يې وويل: محمده! راوګوره، چې خبرې درسره وکړم. جبراييل وپوښتل: خبرې دې ورسره وکړې؟ و مې ويل: نه او پاملرنه مې هم ورته ونکړه. ويې ويل، هغه دنيا وه،که ورسره همسکالو –همکلام شوی وې؛ نو امت به دې دنيا تر اخرته غوره ګڼله.
بيا مې بوږنوړی اواز واورېد، چې بوږند يې کړم. جبراييل وويل: محمده! اورې. و مې ويل: هو. دا هغه ډېره وه، چې اويا کاله مخکې مې د دوزخ له خولې پکې وراچولې وه، اوس يې بيخ ته ور و رسېده ، چې دا يې غږ و.
صحابه کرام وايي: نوڅکه تر رسول الله (ص) مرګه و نه خندل.

## له حضرت جبرايیل سره دنيوي اسمان ته د رسول الله ورختل

رسول الله (ص) وويل: جبرايیل پورته ولاړ او زه هم ورسره ولاړم، چې د دنيا اسمان ته ورسېدو، يوه پرښته مې ولېده، چې اسماعيل نومېده او همدا د خطفې څښتنه وه، چې خدای يې په اړه ويلي [إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ[1] خو هغه (شيطان) چې په منډه څه (= پټ رازونه) وتښتوي؛ نو "سوځنده لمبه" ورپسې شي.] اويازره پرښتې يې تر حكم لاندې وې، چې په دې كې د هرې يوې پرښتې تر حكم لاندې اويا زره نورې پرښتې وې. نومورې پرښتې، جبرايیل وپوښت: څوک درسره دی؟ ويې ويل، دا محمد (صلى اللّه عليه و آله و سلم) د خدای استازی دی. ويې پوښتل:مبعوث شوی هم دی؟ ويې ويل: هو! دې پرښتې راته ور پرانست، سلام مې پرې واچاوه او دې پرښتې هم راباندې سلام واچاوه ، ددې پرښتې ته مې استغفار وکړ ، پرښتې هم راته استغفار وکړ او راته يې وويل، مرحبا! نېكه روره او نېک پېغمبره. بيا يوه يوه پرښته مې كتنې ته راتلله، چې دويم آسمان ته ننووتم، دلته مې ټولې پرښتې خندنۍ وليدې، داسې پرښته مې وليده، چې تردې مې بل ستر مخلوق نه و ليدلی، ناشولته، ناكوره – بدرنګه او پرغزې – غضبناک وه، د نورو پرښتو په شان يې راسره چلن وكړ ، كومه دعا چې نورو پرښتو راته كړې وه، دې هم راته وكړه، دې هم هماغه كول، چې نورو پرښتو كول ،خو په خوله يې هېڅ خندا نه وه،جبرايیل مې وپوښت: دا څوک دی، چې دومره يې بورنوړی كړم؟ ويې ويل: د ډار ځای دی، مور پخپله ټول ترې بورنوړي يو،هغه د دوزخ خازن او مالكه ده، لا تر اوسه يې نه دي خندلي، له كومې ورځې، چې خدای ورته د دوزخ چارې ورسپارلي؛ نو تر ننه يې، هره ورځ د خدای د دښمنانو او ګناهګارانو پر وړاندې پرغزي او بلوسه – غضب لاپسې زياتېږي او خدای ددې په لاس له داسې كسانو غچ اخلي او كه داسې وای ، چې تر تا مخكې او روسته چا ته لږه هم موسكۍ شوې وای؛ نو كټ مټ تا ته به هم موسكۍ شوې وای؛ نو ما پرې سلام واچاوه او دې پرښتې هم راباندې سلام واچاوه او د جنت زېرى يې راكړ. بيا مې جبرايیل ته وويل: شونې ده، حكم وركړې، چې د دوزخ اور راوښيي؟ جبرايیل (؛يعنې هغه چې خدای يې په اړه ويلي: مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ) وويل: هو! پرښتې ته يې وويل: مالكه! محمد ته اور وروښيه. ده هم د دوزخ پرده اوچته كړه او يو ور يې پرانست، اسمان ته ترې سونځ او ترهوړې اورلمبه راووته او دومره پورته ولاړه، چې ګومان مې وكړ، ما به هم راونغاړي، جبرايیل

[1] (صافات/۱۰)

ته مې وويل:حکم وکړه، چې پرده بنده کړي، جبراييل هم حکم ورکړ او لومړني حالت ته يې راوړه.

## له حضرت آدم او ملک الموت سره د رسول الله (ص) کتنه او خبرې اترې

بيا مې خپله لار وهله، غنم رنګی او غوښن سړی مې وليد، جبراييل مې وپوښت: دا څوک دی؟ ويې ويل: دا دې پلار آدم دی. بيا يې آدم ته ورپېژندلم،ورته يې وويل: دا ستا له اولادې څنې دی. آدم وويل، (هو!) له پاک سوتره جسمه، ورکمانی،غونېښی- خوږ اروا او خوږ وږمی.

رسول الله(ص) چې دلته راورسېد ؛ نو د مطففين سورت يې له اتلسمه آيته (كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ. كِتَابٌ مَّرْقُومٌ. يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ) تر پايه ولوست،بيا يې وويل: ما مې پر پلار آدم سلام واچاوه، هغه هم سلام راباندې واچاوه، ما ورته استغفار وکړ، هغه هم راته استغفار وکړ،ويې ويل: مرحبا! زما پر نېک زوی، نېک او مبعوث پېغمبر. بيا مې يوه پرښته وليده، چې په ډله کې ناسته وه،داسې يوه پرښته وه، چې ټوله دنيا يې د دواړو زنګونو ترمنځ پرته وه،ومې ليدل، چې له رڼا جوړه شوې، يو لوح يې په لاس کې دی او لولي يې او پکې يې څه کښلي وو او پکې څير و، نه يې کيڼ پلو ته کتل او نه ښي ته او د (خلکو د څېرو په شان) غمجنه څېره يې نيولې وه،ومې پوښتل،جبراييله دا څوک دی؟ ويې ويل: ملک الموت دی، چې تل د ساه ګانو پر اخستنه بوخت وي. ورته مې وويل: نږدې مې وربوځه، چې لږې خبرې ورسره وکړم. چې ورغلم؛ نو سلام پرې واچاوه. جبراييل ورته ويل: دا محمد د رحمت نبي دی، چې خدای خپلو بندګانو ته مبعوث کړی دی. عزراييل مې هرکلی وکړ او د سلام ځواب يې راکړ،ويې ويل: محمده! زېری مې درباندې،وينم، چې ګرسره خيرونه دې په امت کې راټول شوي دي.

و مې ويل،ستاينه د خدای ده، چې پر خپلو بندګانو لورنه کوي، دا مې د څښتن دربښتن – فضل دی. هو! پر ما لوراند دی. جبراييل وويل، چې دا تر ټولو پرښتو سخت چارې ده. ومې پوښتل ، څوک چې تر اوسه مړه شوي او يا تردې روسته مري؛ نو هغه يې ساه اخلي؟ويې ويل: هو! عزراييل مې وپوښت:څوک چې په هر ځای کې مري، ته يې وينې او په هماغه شېبه ورته ولاړ يې؟ ويې ويل، هو!

ملک الموت زياته کړه، په دې ټوله دنيا کې چې خدای راته اېل کړې او واکمني يې پرې راکړې او تر يوې ټکې پيسې ډېره نه پاتېږي، چې د سړي په لاس کې وي او په لاس کې يې

وگرځوي او هيڅ داسې کور نشته، چې د ورځې يې پينځه ځل و نه پلټم او کله چې وينم، خلک خپلو مړو ته ژاړي، ورته وايم، مه ژاړئ، چې بېرته درپسې راځم او دومره ځم راځم، چې په تاسې کې يو هم پرېنږدم.
رسول الله (ص) وويل: جبريله! تر مرگ پورته بله کومه پېښه شته؟ جبراييل وويل: تر مرگ روسته حالت تر مرگه ډېر سخت دی.
رسول الله(ص) وايي: لار مې چې وهله داسې خلکو ته ورسېدم، چې مخې ته يې د پاکو غوښو خواړه او ناپاکو غوښو خواړه ايښي وو.ناپاکه يې خوړل او پاک يې پرېښوول، ومې پوښتل: جبراييله! دا څوک دي؟ ويې ويل: دا دې د امت حرام خواره دي، چې حلال يې شا ته اچولي وو او له حرامو يې گټنه کوله.

## له عجيب الخلقه پرښتې سره ليدل او د معراج پر شپه د کړنو انځورنه

رسول الله (ص) وايي: يوه پرښته مې وليده، چې هېښنده پنځول شوې وه،نيم بدن يې له اوره او نيم يې له يخه جوړ شوی و؛ نه اور، يخ ويلي کاوه او نه هم يخ ،اور مړ کولای شو او په لوړ غږ يې ويل: هغه الله پاک دی، چې ددې اور تودوښه يې اخستې او دې ته يې نه پرېږدي، چې دا يخ اوبه شي او د يخ يخوالی يې اخستی او دې ته يې نه پرېږدي، چې اور مړ شي. ستر ښتنه! چې د اور او اوبو ترمنځ دې جوړجاړی کړی؛ نو د ايمانوالو بندگانو په زړونو کې دې هم مينه پيدا کړه.
ومې پوښتل: جبراييله دا څوک ده؟
ويې ويل: دا هغه پرښته ده، چې خدای د اسمان او ځمکو په شاوخوا کې موکله کړې او د ځمکمېشتو مؤمنو بندگانو پر وړاندې په پرښتو کې تر ټولو ښکومې – خواخوږې ده او له کومې ورځې چې پنځولې شوې؛ نو دوی ټولو ته همدا دعا کوي ، چې وا دې ورېده.
په اسمان کې مې دوه پرښتې وليدې، چې يوې يې ويل: پالونکيه! انفاق کوونکيو ته ځايناستی ورکړه او څوک چې له انفاقه ډډه کوي؛ نو نيمگړتيا و او ورکاوی ورکړه.
بيا خپله لار وهي او له داسې خلکو سره مخېږي، چې د اوښ په څېر شونډې يې درلودلې او خپل اړخونه يې بيتي کول او خپلو خولو ته يې وراچول. جبراييل مې وپوښت دا څوک دي؟
ويې ويل: چوغليگر او پر نورو ملنډې وهونکي.

بيا مې لار وهله او له داسې خلکو سره مخ شوم، چې خپلې ککرۍ يې پر ستر و ډبرو وهلې. ومې پوښتل: دا څوک دي؟
بيا مې لار وهله او له داسې خلکو سره مخ شوم، چې اور به يې چې په خولو کې اچاوه؛ نو لاندې ترې واته، ومې پوښتل: دا څوک دي؟
ويې ويل: دوی هغه کسان دي ، چې په زوره د پلارمړيو مالونه خوري، چې په حقيقت کې اور خوري او ژر به سوځنده دوزخ ته ورسي.
مخکې ولاړم او له داسې قوم سره مخ شوم، چې غټ غټ نسونه يې درلودل او يو يې هم د غټ نس له کبله نشو درېدلای. جبراييل مې وپوښت: دا څوک دي؟
ويې ويل: دا هغه کسان دي، چې ربا خوري، په دوی کې يو هم نشي درېدلای؛ خو داچې شيطان لمس کړي او رانغاړلي وي.
په دې کې د آل فرعون له لارې تېرېدم، چې ګهيځ و ماښام اور ته ورغورځولېدل،ويل يې: خدايه قيامت به دې کله وي.
رسول الله(ص) وايي: له دې ځايه تېر شوم او ځينې داسې ښځې مې وليدې، چې له خپلو سينو راځړل شوې وې. جبراييل مې وپوښت: دا څوک دي؟
و يې ويل: دوی هغه ښځې دي، چې د خپلو مړونو مالونه به يې نورو اولادونو ته په پاټوړی - ميراث ورکول.
رسول الله (ص) وويل: په هغه ښځه د خدای غضب نور هم ډېرېږي، چې يو پردی زوی يې بل کور ته بوتلی وي او ددې کور په مالونو يې مزې چړچې کړې وي.
رسول الله (ص) وايي: (له دې ځايه تېر شوم) له داسې پرښتو سره مخ شوم، چې خدای څرنګه غوښتي؛ نو هماغسې يې پنځولې او چې څرنګه يې خوښه وه؛مخونه يې هم ورته هماغه شان ايښي دي، د بدن ټول غړي يې په ټولو اړخونو کې بېل بېل وو او په بېلابېلو غږونو يې د خدای ستاينه کوله، د خدای له وېرې يې ذکر او ژړا کوله. جبراييل مې وپوښت: دا څوک دي؟
ويې ويل:لکه څرنګه يې چې وينې ، خدای همداسې پنځولي او له کومې ورځې، چې پنځول شوي؛ نو په اړخ کې يې لا تر اوسه خپل ملګري ته نه دي کتلي او ان يوه خبره يې هم ورسره نه ده کړې او د خدای پر وړاندې يې د وېرې او خشوع له کبله پورته خپل سر او لاندې خپلو پښو ته نه دي کتلي. ما پرې سلام واچاوه او دوی بې له دوی، چې راوګوري. په اشاره يې ځواب راکړ: هو ! د خدای پر وړاندې خشوع ورته د داسې پام اړونې اجازه نه ورکوله. جبراييل ورووپېژندم،ويې ويل: دا محمد د رحمت پېغمبر دی، چې خدای خپلو بندګانو ته د نبوت او

رسالت په توگه استولې. هو ! دا خاتم النبيين او سيدالمرسلين دی،ورسره خبرې نه کوئ؟ پرښتو چې دا خبره واورېده، را مخ يې کړ، سلام يې راواچاوه، زما درناوی يې وکړ او ما او امت ته مې يې د خير زېری راکړ.

## دويم او درېيم اسمانونو ته ختون

بيا دويم اسمان ته وختو، هلته ناڅاپي له دوه همجوله –هم شکله سړيو سره مخ شوو. جبراييل مې وپوښت: دا دوه څوک دي؟

جبراييل وويل: دا دوه ستا د ترور زامن يحيی او عيسی بن مريم (عليهماالسلام) دي.

ما ورباندې سلام واچاوه، دوی هم راباندې سلام واچاوه، د مغفرت غوښتنه يې راته وکړه او ما هم ورته د مغفرت غوښتنه وکړه او راته يې وويل: مرحبا! نېکه روره او نېک پېغمبره. په همدې وخت کې مې سترگې پر هغو پرښتو ولگېدې، چې د خشوع په حال کې وې، څرنگه چې خدای غوښتي ول،مخونه يې هماغسې ورجوړ کړي وو او دوی په بېلابېلو غږونو د خدای ستاينه کوله.

بيا درېيم اسمان ته وختو او هلته له داسې سړي سره مخ شوو، چې مخ يې دومره ښکلی و، چې تر بل خلقه ښکلی و؛ لکه څنگه چې د څوارلسمې سپوږمۍ تر ستورو ښکلې وي. جبراييل مې وپوښت، دا څوک دی؟

ويې ويل: دا دې رور يوسف (عليه السلام) دی، ما ورباندې سلام واچاو او ورته مې استغفار وغوښت، هغه هم راباندې سلام واچاوه او راته يې د مغفرت غوښتنه وکړه او راته يې وويل: مرحبا! نېک پېغمبره او نېک روره او په نېک وخت کې مبعوث شويه.

دا مهال مې داسې پرښتې وليدې، چې د خشوع په حال کې وې؛ لکه څنگه مې چې د دويم اسمان د پرښتو په اړه وويل، کومې خبرې، چې جبراييل په دويم اسمان کې زما د پېژندگلوی په باب کړې وې ،دلته يې بياځلې وکړې او دوی هم هماغه شان غبرگون وښود.

## څلورم او پينځم اسمانونو ته ختون

بيا څلورم اسمان ته وختوو، يو سړی مې وليد. جبراييل مې وپوښت: دا څوک دی؟

ويې ويل: دا ادريس (عليه السلام) دی، چې خدای لوړپوړی کړی،ما ورباندې سلام واچاوه او ورته مې د مغفرت غوښتنه وکړه، هغه مې د سلام ځواب راکړ، راته يې د مغفرت غوښتنه وکړه او د مخکينيو اسمانونو په څېر مې دلته هم پرښتې په خشوع کې وکتې،دې ټولو ما او امت ته مې د خير زېری راکړ،بېردې سربېره يوه پرښته مې وليده، چې پر تخت ناسته وه او اويا زره پرښتې يې تر حکم لاندې وې، چې بيا د هرې پرښتې تر حکم لاندې اويا زره نورې پرښتې وې.
دلته د رسول الله(ص) ذهن ته راغلل،هسې نه چې دوی هماغه نه وي ، بيا جبرايل دې پرښتې ته د درېدو حکم وکړ، پرښته يې حکم ومانه او ودرېده او تر قيامته به ولاړه وي.
بيا پينځم اسمان ته وختوو، هلته مو غټې سترگی بوډا وليد، چې په ټول عمر کې مې داسې بوډا و نه ليد، چې د داسې ستريا ښتن وي، ورسره يې ډېری امتيان هم ول ،زما يې دا ډېروالی خوښ شو. جبراييل مې وپوښت: دا څوک دی؟
ويې ويل: دا هغه پيغمبر دی، چې د خپل امت ډېر خوښ و، دا د عمران زوی هارون دی. ما ورباندې سلام واچاوه، د سلام ځواب يې راکړ او ورته مې د مغفرت غوښتنه وکړه او هغه هم راته د مغفرت غوښتنه وکړه او د مخکېنيو اسمانونو په څېر مې دلته هم پرښتې په خشوع کې وکتې.
بيا شپږم اسمان ته وختوو، هلته مې لوړ ونی غنم رنگی سړی وليد،ته وا له شنوه(د عربو مشهور ټبر) ځنې دی، که دوه کميسونه يې هم اغوستي وای؛ نو بيا يې هم د بدن ويښتان بهر راوتل، وامې ورېدل، چې وايي: بني اسراييلو گومان وکړ، چې د پالونکي پر وړاندې زه د آدم په زامنو کې تر ټولو ښاغلی او منلی يم، حال داچې هغه سړی تر ما گران او منلی دی.
جبراييل مې وپوښت: دا څوک دی؟
و يې ويل: دا دې رور موسی بن عمران (عليه السلام) دی. سلام مې ورباندې واچاوه، هغه هم راباندې سلام واچاوه او بيا مو يو بل ته استغفار وکړ او د مخکېنيو اسمانونو په څېر مې دلته هم پرښتې په خشوع کې وکتې.
رسول الله (ص) وايي: بيا اووم اسمان ته وختو، دلته چې له ټولو پرښتو تېرېدو، ټولو راته ويل: محمده! حجامت کوه او امت ته دې ووايه، چې حجامت کوي،يو سړی مې وليد، چې سر او ږيره يې غنم رنگې وه، پر کرسۍ ناست و. جبراييل مې وپوښت: دا څوک دی، چې تر اووم اسمانه راختلی او د بيت المعمور په اړخ کې پالونکي ته څېرمه مقام لري؟

و يې ويل: محمده! دا ستا پلار ابراهيم (عليه السلام) دی، دا ستا ځای او ستا د امت د نمنځچارو – پرهيزګارانو ځای دی. بيا رسول الله (ص) دا آيت ولوست: [إِنَّ أَوْلَىٰ النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ[1]]

روسته مې پرې سلام واچاوه، د سلام تر ځواب روسته يې وويل: مرحبا! پر نېک پېغمبر او نېک اولاد ، چې په نېک وخت کې مبعوث شوی.

او د مخکينيو اسمانونو په څېر مې دلته هم پرښتې په خشوع کې وکتې. دوی هم ما او زما امت ته د خير زيری راکړ.

## اووم اسمان ته ختون او د خدای د مخلوقاتو د نورو عجايبو کتنه

رسول الله (ص) وايي: په اووم اسمان کې مې د نور سيندونه وليدل، دومره ځلانده ول، چې سترګې يې برېښولې، د ظلمت سيندونه او د کړاو سيندونه مې وليدل، چې چغې يې وهلې او تل به بوږنېدم او دا ويروړې منظره چې مې ليده؛ نو جبراييل مې پوښت،راته يې ويل،زړې مې درباندې محمده!، د خدای ددې لورنې پاسلنه – شکر وکړه او داچې خدای درسره داسې چلن وکړه پاسلنه يې وکړه. خدای به مې زړه د جبراييل پردې خبرو ارامَاوه. چې دا شان هېښنې او بوږنونې او پوښتنې به مې ډېرې شوې؛ نو جبراييل راته ويل: محمده! څه چې وينې ستا په اند ستر او هېښنده دي، دا څه چې وينې دا ستا د پالونکي له مخلوقاتو څنې يو مخلوق دی؛ نو فکر وکړه،هغه خالق به څومره ستر وي، چې دا هر څه يې پنځولي،څه چې دې نه ليدلي تر هغه خورا ستر دی ، چې و دې ليدل. هو! د خدای او خلق ترمنځ يې اويا زره حجابونه دي.

زه او اسرافيل خدای ته تر نورو ټولو خلايقو ډېر ورنږدې يو او زموږ او د خدای ترمنځ د څلورو حجابونو واټن دی، چې يو يې د رڼا حجاب دی،بل يې د ظلمت، بل يې د پټ او بل يې د اوبو دی.

رسول الله (ص) وايي: د خدای پردې عجايبو مخلوقاتو سربېره(چې څرنګه خدای غوښتي هماغسې يې اېل کړي) مې يو چرګ وليد، چې دواړه وزرې يې د اومې ځمکې په ګېډو کې او سر يې د پالونکي تر عرشه پورته راغلی و او دا د خدای له پرښتو څنې يوه پرښته ده، چې

[1] (آل عمران/٦٨)

ځنگه خدای غوښتې هماغسې يې پنځولې وه، دوه وزرونه يې د اوومې ځمکې په گېډو کې او سر يې تر اووم اسمانه دومره پورته راغلی و، چې ځنگه د خدای عرش ته رانږدې شوی و. وامې ورېدل ، چې وايي: پالونکی مې پاک دی، چې څومره هم ستر يې ؛ نو پوه به نشې، چې پالونکی دې چېرې دی؛ ځکه برم يې ستر دی. دې چرگ دوه وزرې درلودې، چې کله به يې پرانستې؛ نو له ختيځ او لويديځه به تېرېدې او چې گهيځ به شو؛ نو خپلې وزرې به يې خوځولې او د خدای تسبيح او ستاېنه يې کوله او ويل يې: (پاک دی، ملک قدوس خدای، خدای کبير متعال دی، له حیّ او قيوم خدای پرته بل معبود نشته) چې کله به يې دا غونډلې ويلې؛ نو د ځمکې ټولو چرگانو به تسبيح ويله او خپلې وزرونه به يې خوځول او د خدای ستاېنه يې کوله او چې کله به دا چوپ شو؛ نو ورسره به ټول چوپ شول.دې چرگ کوشنی زرغون رنگه او سپينې بڼکې درلودې، چې سپينوالی يې تر بل هر سپين څيزه ډېر و، چې تردې دمه مې دومره سپينوالی نه وه ليدلی او همداراز تر سپينو بڼکو لاندې يې کوشنی زرغونې بڼکې هم وې، چې دومره زرغون رنگی مې مخکې نه و ليدلی.

رسول الله (ص): له جبراييل سره يوځای روان شو او بيت المعمور ته ورننووتو، دلته مې دوه رکعته لمونځ وکړ او ځينې اصحاب به مې له ځان سره وليدل، چې ځينو پکې نوې جامې او ځينو زړې اغوستې وې، کومو چې نوې جامې اغوستې،راسره د بيت المعمور لوري ته روان شول او هغه نور پاتې شول.

## [د کوثر او رحمت] دوه کاټيالې – حوضونه او [ د طوبی او سدرة المنتهی] دوه ونې

له دې ځايه ووتو او دوه کاټيالې – نهرونه مې وليدل، چې يو يې (کوثر) او بل يې (رحمت) دی، له کوثره مې اوبه وڅښلې او د رحمت په کاټياله کې مې ولمبل، بيا دواړه راته اېل شول ، تردې چې جنت ته ورننووتم، چې ناڅاپي مې په دواړو اړخونو کې خپل او د خپلو اهلبيتو کورونه وليدل،ومې ليدل، چې خاوره يې د مشکو په شان خوشبويه ده، نجلۍ مې وليده، چې د جنت په کاټيالو کې لامبي ،ومې پوښتل: نجلۍ! ته څوک يې؟ زه د زيد بن حارثه (؟) يم. گهيځ مې په زيد دا زېری وکړ. په جنتي مرغانو مې سترگې ولگېدې، چې د بختي(عجمي) اوښانو په شان وو، جنتي انار مې وليدل، چې د غټو سلواغو په شان ول، داسې ستره ونه مې وليده،که يوه مرغۍ يې له تنې گرده چاپېره چورليده؛ نو دې کار ته يې بايد اوه سوه کاله الوتنه

کړې وای، په جنت کې به داسې کور نه و، چې ددې ونې يوه څانگه ورغلې نه وي. جبراييل مې وپوښت: دا ونه د څه ده؟
ويې ويل ، دا د (طوبی) ونه ده، چې خدای يې له خپلو نېکو بندگانو سره ژمنه کړې او ويلي يې دي: [طُوبىَ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ[1] ]
رسول الله (ص) وايي: چې جنت ته ورننوتم؛ نو په سد کې شوم او د هغه بوربنوړو سيندونو او هېښنده عجايبو په اړه مې جبراييل وپوښت. ويې ويل، د هغه د وختونو لارې او حجابونه دي، چې خدای د هغې له لارې ځان په پرده کې اچولی او که دا حجابونه نه وو؛ نو د عرش رڼا به دا هرڅه چې په دې کې دننه وو، څېرې کړي وو او بهر به يې را اچولي وو.
بيا د سدرة المنتهی ونې ته ورسېدم، چې يوې پاڼې يې يو امت پخپل سيوري کې رانغاړلی و او له هغې ونې سره مې واټن دومره و، چې خدای يې په باب ويلي وو: (قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنىَ)
په همدې ځای کې خدای راباندې غږ وکړ او ويې ويل: (آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ) په ځواب کې مې د ځان او امت له خوا وويل: (وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ).
خدای وويل:(لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ)
و مې ويل: (رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا).
خدای وويل: تا نه نيسم. (رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا) خدای وويل: (نه! دا پېټی درباندې نه ږدم)
و مې ويل: (رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ).
خدای وويل: داچې دې وغوښتل؛ نو تا او ستا امت ته مې ورکړل.
امام صادق وايي: (هغه وخت، چې خپل امت ته يې دعاگانې کولې) ؛ نو د خدای په درشل کې تر رسول الله (ص) بل گران او منلی مېلمه نه و.

[1] (رعد/۲۹)

## د معراج پر شپه پیغمبر(ص) ته د خدای ډالۍ

رسول الله (صلی اللّه علیه و آله و سلم) وویل: پالونکیه! تا دې انبیاوو ته فضایل ډالۍ کړي ول، ما ته هم یوه راډالۍ کړه.

ویې ویل: تا ته مې هم په هغه څه کې چې درکړي،دوه کلمې درډالۍ کړې، چې تر عرش لاندې مې کښلي او هغه کلمه: (لا حول و لا قوّة الا باللّه) او بله یې: (لا منجا منك الا الیك) ده.

رسول الله (صلی اللّه علیه و آله و سلم) وویل: دلته ،پرښتو دا ټکي راوښوول، چې هر ګهیځ او ماښام یې ووایم، چې دا دي:

اللّهمّ انّ ظلمی اصبح مستجیرا بعفوك و ذنبی اصبح مستجیرا بمغفرتك و ذلیّ اصبح مستجیرا بعزّتك ، و فقری اصبح مستجیرا بغناك و وجهی الفانی اصبح مستجیرا بوجهك الباقی الّذی لا یفنی

بیا مې د اذان غږ واورېد، و مې لیدل، چې یوه پرښته اذان وایي، داسې پرښته وه، چې تردې شپې مخکې لا چا په اسمان کې نه وه لیدلې، چې دوه ځل یې (الله اکبر) ووایه.

خدای وویل، زما بنده سم وایي، زه تر هر څه ستر یم.

پرښتې وویل: (اشهدان لا اله الا اللّه).

خدای وویل، زما بنده سم وایي،زه الله یم، چې بې له ما بل معبود نشته.

بیا پرښتنې وویل، (اشهد انّ محمدا رسول اللّه اشهد انّ محمدا رسول اللّه).

خدای وویل: زما بنده سم وایي، محمد زما بنده او استازی دی او ما مبعوث کړی.

پرښتې وویل.(حی علی الصّلوة حی علی الصّلوة).

خدای وویل، زما بند سم وایي او زما فرضو ته بلنه کوي ،څوک چې پخپله خوښه او د اجر په هیله زما په فرض پسې ولاړ شي؛ نو همدا ورتګ به یې د تېرو ګناهونو کفاره وي.

پرښتې وویل، (حیّ علی الفلاح حیّ علی الفلاح).

خدای وویل، هو! لمونځ نېکمرغي ده.

بیا مې په همدې اسمان کې مخکې شوم او پرښتو راپسې نمونځ وکړ؛ لکه څنګه مې په بیت المقدس کې د انبیاوو امامت وکړ.

## په ورځ کې له پنځوس وخته نمونځونو څخه پينځه وخته نمونځونو ته د راکمونې کيسه

رسول الله (ص) وايي: تر لمانځه روسته د وريځو په شان ترګمی راونغاړلم او په سجده پرېوتم، پالونکی مې راباندې غږ وکړ: ما تر تا مخکې په ټولو انبياوو پنځوس وخته نمونځ فرض کړی و؛ نو پر تا او ستا امت مې هم فرض کړل، په امت کې دا نمونځونه وکړه.
رسول الله (ص) وايي:راپورته شوم او لاندې راروان شوم، په راتګ کې مې ابراهيم (عليه السلام) وليد،و يې نه پوښتلم، موسی (عليه السلام) مې وليد، ويې پوښتلم، څه دې وکړل؟
و مې ويل: پالونکي مې راته وويل،په هر پېغمبر مې پنځوس نمونځونه فرض کړي او هماغه مې په تا هم فرض کړل،موسی (عليه السلام) وويل، محمده! ستا امت اخرنی امت دی او تر ټولو ناتوانه دی، پالونکي ته دې يوه غوښتنه هم ډېره نه ده،ستا امت د دې دومره نمونځ وس نه لري،ستون شه او غوښتنه وکړه، چې ستا امت ته څه راکمونه وکړي.
زه پالونکي ته ورستون شوم او سدرة المنتهی ته ورسېدم او هلته په سجده شوم، و مې ويل: پنځوس نمونځونه، چې دې په ما او زما په امت فرض کړي، نه يې زه توان لرم او نه مې امت. پالونکيه! لږه څه يې راکم کړه، خدای راته لس نمونځونه راکم کړل. بيا موسی (عليه السلام) ته راستون شوم او قيصه مې ورته وکړه.راته يې وويل: ته او ستا امت بيا هم د دې دومره نمونځونو توان نه لري،پالونکي ته ورستون شه. ورغلم او لس نور نمونځونه يې هم راکم کړل، بيا موسی (عليه السلام) ته راغلم او قيصه مې ورته وکړه، راته يې وويل: بېرته ورشه. هر ځل چې به ورتلم؛ نو خدای به راته کمونه کوله، تردې پنځوس نمونځونه مې لسو ته راکم کړل او موسی (عليه السلام) ته ورستون شوم. راته يې وويل ،ددې وس هم نه لري. بيا د خدای درشل ته ورستون شوم، پينځه نور نمونځونه يې راکم کړل، موسی (عليه السلام) ته ورستون شوم او قيصه مې ورته وکړه، راته يې وويل: دا هم ډېر دي او توان يې نه لری. و مې ويل: زه مې نور له پالونکي شرمېږم او ددې پينځو نمونځونو د کونې زحمت راته تر دهغې کمونې تر غوښتنې اسان دی. دلته يو غږ راغی، اوس چې په پينځو نمونځونو دې صبر وکړ؛ نو د همدې پينځو نمونځونو پر وړاندې د پينځوسوو نمونځونو ثواب لرې، هر يو نمونځ په لسو حساب دی او ستا په امت کې که چا د ثواب په هيله د نېکچارۍ هوډ وکړ، که و يې کړ؛ نو لس ګرايه ثواب ورته کښم (او که له کوم ستناو- خنډ سره مخ شو او ويې نه کړ؛ نو د همدې هوډ له کبله) ورته

يو ثواب کښم. که په امت کې دې چا ناوړنده او ناښه چارې وکړې؛ نو يوازې يوه گناه ورته کښم او که پښېمانه شو او و يې نکړه،؛ نو هېڅ گناه ورته نه کښم.
امام صادق وايي: خدای دې د دې امت له اړخه موسی (عليه السلام) ته خير ورکړي،هغه ددې لامل شو، چې ددې امت تکليف اسان شي او دا ددې آيت تفسير[1] دی:
[سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ]
قريشو د معراج شپه او په دې اړه راغلي څرگند آيتونه او د رسول الله (ص) خبرې نه منلې.
د صدوق په امالي کې له پلاره يې له علي له پلاره يې له ابن عمير له ابان بن عثمان له ابی عبدالله جعفر بن محمد روايت کړي چې: رسول الله (صلی اللّه عليه و آله و سلم) يې معراج او بيت المقدس ته بوت؛ نو جبراييل پر اس يا براق سپور کړ او گرسره بيت المقدس ته راغلل. جبراييل ، د ځښتن استازي ته د انبياوو محرابونه وروښوول او د ځښتن استازي په دې محرابونو کې نمونځ وکړ، له دې ځايه يې تېر کړ او په راستنېدنه کې د قريشو له کاروان سره مخ شول، د ځښتن استازي هغه اوبه وليدې، چې د دوی په لوښي کې پرتې وې او ويې ليدل، چې يو اوښ ترې ورک دی او ورپسې گرځي، د ځښتن استازي له دې اوبو څښې څه وڅښلې او نورې يې پرځمکه تويې کړې، چې له معراجه راستون شو او گهيځ شو؛ نو قريشو ته يې وويل، چې خدای زه بېگا بيت المقدس ته بوتلم او د انبياوو نښې او کورونه يې راوښوول او په راتگ کې مې په پلانکي ځای کې د قريشو هغه کاروان وليد، چې اوښ ترې ورک شوی و او د دوی له اوبو څښې مې وڅښلې او نورې مې پر ځمکه تويې کړې.
ابوجهل وويل: قريشو! اوس يې ښه وخت دی ، و يې پوښتئ، چې اقصی جومات څو ستنې درلودې؟ څو قنديلونه پکې راځوړند وو؟
ويې پوښتل: محمده! په دې ډله کې داسې کسان شته، چې بيت المقدس يې کتلی، اوس بيت المقدس راوپېژنه، چې دروغ وايې که رښتيا. ووايه، چې څو ستنې يې درلودې؟ څو قنديلونه او محرابونه يې وو؟

[1] د الميزان تفسير مفسر؛ مرحوم علامه طباطبايي وايی: همدې روايت ته ورته نور گڼ روايتونه هم اهلسنتو او هم شيعه وو راروايت کړي دي.

حضرت جبراييل سملاسي رانازل شو او د ښتن استازي مخې ته يې بيت المقدس انځور کړ. قريشو، چې به څه پوښتل،د ښتن استازي (ص) ځوابول. د بيت المقدس له جزياتو، چې فارغه شول،قريشو وويل: بايد لږ صبر وکړې، چې کاروان راورسي، کاروانيان به هم ستا د پېښې په اړه وپښتو.

د ښتن استازي (ص) وويل: د وينا رښتينوالی مې دادی، چې د قريشو کاروانيان د لمر څرېکې پر مهال راننوځي او ايره رنګی اوښ يې په سر کې راروان دی.

په سبا يې قريش د کاروان هرکلي ته راغلل او په ناو کې لمر څرېکې ته په تمه وو، په دې کې د لمر څريکه راپيدا شوه او کاروان هم وليدل شو،ايره رنګی اوښ د کاروان په سر کې راروان و او د تېرې شپې پېښه او څه چې د ښتن استازي (ص) ويلي وو؛د ټولو په اړه يې کاروانيان وپوښتل. دوی وويل: هو! کټ مټ همداسې ده،اوښ رانه په پلانکي ځای کې ورک شوی و او موږ خپلې اوبه په يوه لوښي کې اچولې وې ، ګهيځ چې راپورته شو،و مو ليدل، چې اوبه پر ځمکه تويې شوې دي.

ددې ټولو معجزاتو په ليدو سره سره قريشو بيا هم ځېل کاوه.

## د حضرت ابن عباس(رض) په روايت کې د معراج د شپې حکايت

په هماغه کتاب کې يې په خپل سند له حضرت عبدالله بن عباس (رض) روايت کړي: د ښتن استازی (ص)، چې اسمان ته وخوت؛ نو حضرت جبراييل يو کاټيالي ته ورساوه، چې د رڼا کاټياله ورته وايي (وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ) همدې ته اشاره ده. چې دې کوټيالې ته ورسېدل، حضرت جبراييل وويل: محمده! د خدای په برکت تېر شه؛ ځکه خدای دې سترګه رڼا کړې او ستا مخه يې پراخه کړې. هو! دا هغه کټياله ده، چې تر اوسه ترې څوک هم نه دي تېر شوي،که هغه مقربه پرښته وي که مرسل پيغمبر،يوازې زه د ورځې پکې ورغوپه کېږم، چې ترې راووځم او وزرې مې څنډم؛ نو خدای يې د اوبو له هر څاڅکي داسې يوه مقربه پرښته پنځوي، چې شل زره مخونه او څلوېښت زره وزرې لري او په هر ژبه بېلې بېلې داسې خبرې کوي، چې بله ژبه يې پرې نه پوهېږي.

د ښتن استازی (ص) له دې کټيالې تېر او حجابونو ته ورسېد، چې پينځه سوه حجابونه وو. د دوو حجابونو ترمنځ پينځه سوه کاله لار وه. بيا جبراييل وويل: محمده! مخکې ولاړ شه !

د ښتن استازي (ص) وپوښتل: ولې ته نه را ځې؟

ويې ويل: زه له دې ځايه هاخوا پښه نشم ايښوولاى.
د څښتن استازى (ص) دومره مخکې ولاړ، چې څومره خداى غوښتل او بيا يې د خداى وينا واورېده، چې ويې ويل: زه محمود يم او ته محمد يې،ستا نامه مې له خپلې نامې بېله کړه؛ نو څوک چې درسره يوځاى شو؛ نو زه ورسره يوځاى کېږم او څوک چې درنه بېل شو؛ نو زه هم ترې بېلېږم. ځه ! بندګانو ته مې ورشه او کوم کرامت مې چې درسره وکړ، ترې خبر يې کړه. يو پېغمبر مې هم بې وزيره نه دى غوړه کړى،ته مې پېغمبر او علي بن ابيطالب دې وزير دى.
د ابن شهر آشوب په مناقبو کې له حضرت ابن عباس (رض) نه روايت شوي: د څښتن استازي (ص) يو غږ واورېد: (آمنّا بربّ العالمين).
حضرت ابن عباس (رض) زياتوي: (حضرت جبراييل) وويل: دا د فرعون کوډګر دي. همداراز رسول الله (ص) واورېدل، چې يو وياند وايي: (لبّيك اللّهمّ لبّيك).
حضرت جبراييل وويل: دا حاجيان دي. همداراز د يو وياند غږ يې هم واورېد، چې وايي: (الله اکبر).
حضرت جبراييل وويل: دا د خداى د لارې مجاهدين دي. د تسبح غږ يې هم واورېد.
حضرت جبراييل وويل: دوى انبيا عليه السلام دي. چې سدرة المنتهى او له دې ځايه حجابونو ته ورسېدل؛ نو حضرت جبراييل د څښتن استازي (ص) ته وويل: مخکې ولاړ شه، چې زه تردې نور نشم ورنږدې‌دلاى؛ ځکه که د يوې ګوتې واټن هومره هم ورمخکې شم؛ نو لولپه به شم.
په احتجاج کې يې له حضرت ابن عباس (رض) نه روايت کړي: د څښتن استازي (ص) د يهودو په غبرګون کې وويل: د حضرت جبراييل پر وزرو سپور شوم، روان شوم او اووم اسمان ته ورسېدم، له سدرة المنتهى سره جنت المآوى هم دى،له دې هم تېر شوم ، چې عرش ته ورسېدم او له دې ځايه راباندې غږ وشو:" هو! زه يم الله، ايکي يو معبود، بې له ما بل معبود نشته، زه يم (سلام) (مؤمن)) مهيمن) (عزيز) (جبار) (متکبر) (رؤوف) (رحيم)" او ما د سر نه؛ بلکې د زړه په سترګو وليد.

## امام زين العابدين او امام باقر د څښتن د استازي (ص) د معراج په اړه پوښتنې ځوابوي

په کافي کې يې په خپل سند له ابي الربيع روايت کړي، چې له حضرت ابي جعفر سره حج ته ولاړم، چې پر هماغه کال هشام بن عبدالملک هم له نافع سره راغلی و. ابي نافع جعفر ته وکتل، چې په رکن کې و او خلک يې شاوخوا ته راټول شوي ول. نافع، هشام وپوښت: دا څوک دی، چې خلک يې شاوخوا ته راټول دي؟

ده ورته ويل، چې دا د کوفيانو پېغمبر؛محمد بن علي دی.

نافع وويل،لووی- شاهد اوسه، چې ورځم او داسې به يې وپوښتم ، چې په ځواب کې يې پاتې راشي،داسې يې پوښتم، چې بې له پېغمبره يا بې د پېغمبر له وصي او يا هم بې د پېغمبر له اولادې يې بل نشي ځوابولای.

ده وويل: ورشه او داسې يې وپوښته، چې له خيرځتوبه – شرمنده ګی سرټيټی شي.

نافع د خلکو په ورخړ- ګڼه ګوڼه کې ابي جعفر ته ورنږدې شو او ويې ويل: محمد بن علي ! ما تورات، انجيل ، زبور او قرآن ولوست، حلال و حرام مې يې زده کړل،اوس دې پوښتم، چې بې له پېغمبرانو او يا هم بې د پېغمبرانو له اوصياوو يې څوک نشي ځوابولای.

راوي وايي: امام ابي جعفر سر راپورته کړ، ويې ويل: څه چې غواړې، ويې پوښته.

نافع وويل: د عيسی (عليه السلام) او خاتم الانبيا ترمنځ څو کاله واټن و؟

امام ابي جعفر ورته ويل: خپل نظر درته ووايم که ستا رايه؟

ورته يې ويل: دواړه.

امام ابي جعفر: زما د وينا له مخې يې پينځه سوه کاله او ستا د وينا له مخې يې شپږ سوه کاله واټن درلود.

ده وويل: د [وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَا أَجَعَلْنَا مِن دُونِ الرَّحْمَنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ ] آيت مانا څه ده؟ داچې د څښتن د استازي(ص) او تر ده مخکې پېغمبر عيسی (عليه السلام) ترمنځ پينځه سوه کاله واټن دی،دا له کوم پېغمبر وپوښتي؟

ابي جعفر يې په ځواب کې د [سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ] آيت تلاوت کړ او له هغو نښو څخه، چې خدای خپل استازي (ص) ته په بيت المقدس کې ښوولې وې، دا دي، چې خدای لومړني او روستي انبياء او مرسلين رامحشور کړل او حضرت جبراييل ته يې حکم وکړ، چې

اذان او اقامه دواړه ووایي او په اذان کې یې " حيّ على خير العمل" هم ووایه او بیا د څښتن استازی مخکې شو او ټولو وروپسې نمونځ وکړ.
چې نمونځ پای ته ورسید؛ نو د څښتن استازي(ص) ټولو ته مخ کړ، و یې وویل: تاسې پر څه لېینه - شهادت ورکوئ(دیني ګروهې مو څه دي) او د څه لمانځنه کوئ؟
دوی ټولو وویل: موږ لېینه ورکوو، چې بې له خدایه بل معبود نشته،شریک یې نشته او ددې لېینه هم ورکوو، چې ته د خدای استازی یې، په دې مانا یې له موږه ژمنې او تړونونه اخستي دي.
نافع: ابا جعفره! رښتیا دې وویل.
او په علل کې یې په خپل سند له ثابت بن دینار روایت کړي: د عزوجل خدای په اړه مې حضرت زین العابدین علی بن الحسین وپوښت، چې ایا خدای په مکان وصفېږي؟
امام زین العابدین وویل: تعالی اللّٰه عن ذلك - خدای تردې ډېر ستر دی.
و مې ویل: که خدای په مکان نشي وصفېدای؛ نو کله یې چې غوښتل خپل پېغمبر ځان ته رانږدې کړي، هغه یې ولې اسمان ته بوت؛ خو خدای په اسمان کې دی؟
امام وویل: نه! دا کار ددې لپاره و، چې خدای غوښتل ملکوت او د اسمانانو واقعیت (او د صنع عجایب او د خلقت بدایع ، چې پکې ول) وروښیي.
ومې پوښتل: خدای وایي: [فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى ] ؛نو ددې آیت مانا څه ده؟ او د څښتن استازی (ص) چېرې نږدې شو؟ (چې تر دوو لیندیو ډېر یا لږ واټن پاتې نشي؟)
امام وویل: د څښتن استازی د نور حجابونو ته ورنږدې شو او هلته یې د اسمانونو ملکوت وکتل بیا یې تدلی وکړه (نږدې شو) او د ملکوت له لاندې یې ځمکه وکتله، تردې چې ویې انګېرله ، چې د ځمکې نږدې شاوخوا ده او تر دوو لیندیو ډېر یا لږ واټن نه و،[ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى ] د ا ځمکې ته د آنحضرت د واټن ښوونکې ده.
د [ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى ] غونډله له ځمکې سره د آنحضرت د واټن ښکارندوی ده.

د څښتن د استازي د معراج په اړه د امام باقر وینا او د خبرو سپړنه یې
په قمي تفسیر کې یې پخپل سند له اسماعیل جعفي روایت کړي: په مسجدالحرام کې ناست وم او حضرت ابي جعفر هم ګوښې ناست و، اسمان ته یې تر کتو روسته کعبې ته وکتل، ویې ویل: [سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى] دا آیت یې درې ځل ووایه ، بیا یې رامخه کړه او وویل: عراقیان ددې آیت په اړه څه وایي؟

و مې ويل: وايي، خدای خپل استازی له مسجدالحرام څخه بيت المقدس ته بوت.
امام وويل: داسې نه ده، چې دوی يې وايي، خو له دې ځای څخه يې دې ځای ته بوت. په لاس يې اسمان ته اشاره وکړه او ويې ويل: په منځ کې يې دواړه حرمونه دي.
ويې پوښتل: په داسې ځای کې مې ځان ته پرېږدې؟
ورته يې وويل: ته مخکې ولاړ شه، پر خدای قسم،داسې ځای ته رارسېدلی يې، چې څوک هم دلته رارسېدلی نه دی او را و به نه رسي.
دلته و، چې خپل خدای يې وليد او د ده او خدای ترمنځ د سبحه هومره واټن و.
ومې پوښتل: سبحه څه دي؟
امام په مخ ځمکې ته اشاره وکړه او په لاس يې اسمان ته او درې ځل يې وويل(جلال ربیّ جلال ربیّ)، بيا خطاب وشو: محمده! ويې ويل: لبيک يا رب. خطاب وشو: اسمان مېشتي د څه په اړه ناندرۍ کوي. رسول الله وويل: خدايه! پاک يې ، بې له هغې چې تا راښوولې،نوره پوهه نه لرم.
بيا د څښتن استازي وويل: بيا مې خدای پر سينه لاس کېښود او ما يې د ټټر د دوه لويو هډوکيو ترمنځ سړتيا وننګېرله ، بيا يې د تېر او ګاندې – اينده د هر څه په اړه وپوښتلم ، چې ټول مې وځوابول. په پای کې يې وپوښتلم: محمده! اسمان مېشتي د څه په اړه ناندرۍ کوي؟
و مې ويل: د درجاتو، کفاراتو او حسناتو په اړه.
راته يې وويل: محمده! نبوت دې پای ته ورسېد او خوړل دې پای ته ورسېدل، څوک دې ځايناستی ته په پام کې نيولی دی؟
و مې ويل: ټول خلقت مې وازمېيه، د علي په څېر مطيع مې پکې و نه ليد.
ويې ويل: محمده! په مخلوقاتو کې زما د احکامو تر ټولو ډېر مطيع څوک دی.
و مې ويل: پالونکيه! ټول خلقت مې وازمېيه،ځان ته مې تر علي بل څوبمن – علاقمند و نه ليد.
ويې ويل: ما هم ، محمده! زېری ورکړه، چې هغه د ښيون نښه، زما د اولياوو لاربه - لارښووان ، زما فرمان وړيو ته رڼا او کلمه باقيه ده، چې ما يې ډاډمن منلو ته اړ ايستي،چا چې ورسره دوستي وکړه؛ نو ما سره به يې دوستي کړي او چې څوک يې ميرڅن – دښمن وي؛ نو زما به هم ميرڅن وي.پردې سربېره پر ځينو داسې ځانګړنو مې پسوللی، چې بل يو مې هم پرې پسوللی نه دی.
و مې ويل: پالونکيه! هغه مې رور، وزير او پاتوړی- وارث دی.

ويې ويل: دا هغه چار دی، چې قضا يې مقدره شوې ، چې هغه بايد کړاو ووينې او خلک يې هم له لارې وازمېيل شي ،پردې سربېره ما پاتوړي ورکړی، پاتوړي ورکړی،پاتوړي ورکړی، څلور څيزونه دي، چې د ده په لاس کې دي او کله يې هم نه رابرسېروي [۱].

[۱] د الميزان تفسير مفسر؛ علامه طباطبايي وايي: دا چې امام وويل: ((له دې ځايه يې دې ځای ته بوت)) نو مراد يې دا دی،چې انحضرت(ص) يې له کعبې څخه بيت المعور ته بوت (او د کعبې او بيت المعمور ترمنځ حرم دی) مراد يې دا نه دی،چې له کعبې څخه بيت المقدس ته نه دی تللی؛ بلکې مسجد اقصی ته تللی؛ ځکه ډېر روايتونه راغلي، چې د مسجد اقصی مراد هماغه بيت المقدس دی؛نه داچې غوښتلي يې وي، مسجد اقصی په بيت المعمور تفسير کړي؛ بلکې د امام موخه دا ده،چې د معراج پای بيت المقدس نه و؛ بلکې له دې ځايه هم تېر شوی او بيت المعمور ته بوتل شوی، چې په اسمانونو کې دی. دا چې د ښتن استازي وويل: (دلته و،چې پالونکی مې وليد)؛ نو مانا يې د سر په سترګو نه؛بلکې د زړه په سترګو ليدل دي؛لکه څنګه چې آنحضرت(ص) په ځينو مخکينو روايتونو کې هم څرګنده کړې. هغه روايتونه چې د زړه په سترګو يې دا ليدل تفسير کړي، د همدې مانا پخلی کوي. دا چې ويلي دي: (د خدای (ج) او پېغمبر (ص) ترمنځ يوازې د سبحه واټن و) نو مانا يې دا ده،چې خدای ته په ورنږدېوالي کې داسې ځای ته رسېدلی، چې د خدای او پېغمبر ترمنځ د خدای له جلال څخه پرته بل واټن نه و. دا چې و يې ويل: (خدای مې پر سينه لاس کېښود.. .) نو دا د ښتن د رحمت يوه کنايه ده، او مانا يې دا ده،چې د خدای له اړخه مې زړه ته پوهه رانوته او هر ډول اړنګ يې له منځه يووړ.

## د ښنتن د استازي د معراج په اړه د اهلسنتو د رارسېدلو روايتونه څېړنه او کره کتنه

په الدرالمنثور کې ابن ابی شيبه،مسلم او بن مردويه د ثابت له لارې له حضرت انس (رض) نه روايت کړې: د ښبتن استازي وويل: براق يې راووړ،سپين رنگه او اوږد څاروی و، چې تر خره لوی او تر کچرې کوشنی و، هر گام يې د خپل سترگليد په اندازه و، پرې سپور او روان شوم، چې بيت المقدس ته ورسېدم، براق مې په هماغه ځای کې وتاړه، چې نورو انبياوو به هم هلته خپل څاروي تړل، مسجد ته ورننوتم او دوه رکعته لمونځ مې وکړ.بيا بهر راووتم، حضرت جبراييل راته په يوه لوښي کې شراب او په بل کې شېدې راوړې، ما شېدې غوره کړې، حضرت جبراييل راته وويل: فطرت دې غوره کړ. بيا يې د دنيا اسمان ته بوتلم او دلته يې د ورننووتو اجازه وغوښته. وپوښتل شو څوک يې؟ ويې ويل: جبراييل يم. وپوښتل شو: دا څوک درسره دی؟ ويې ويل: محمد(صلی اللّه عليه و آله و سلم) دی. ويې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ويې ويل: هو! دا مهال يې ور پرانست. ناڅاپي مې آدم وليد، مرحبا يې راته وويله او د خير دعا يې راته وکړه. بيا دويم اسمان ته وختو او دلته بيا هم حضرت جبراييل د ننووتو اجازه وغوښته. وپوښتل شو څوک يې؟ ويې ويل: جبراييل يم. وپوښتل شو: دا څوک درسره دی؟ ويې ويل: محمد(صلی اللّه عليه و آله و سلم) دی. ويې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ويې ويل: هو! لار يې راکړه، ناڅاپي مې دوه د ترو زامن عيسی بن مريم او يحيی بن زکريا (عليهم السلام) وليدل،مرحبا يې راته وويله او د خير دعا يې راته وکړه. بيا درېم اسمان ته وختو،دلته بيا جبراييل د ننووتو اجازه وغوښته، وپوښتل شو څوک يې؟ ويې ويل: جبراييل يم. وپوښتل شو: دا څوک درسره دی؟ ويې ويل: محمد(صلی اللّه عليه و آله و سلم) دی. ويې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ويې ويل: هو! لار يې راکړه ، ناڅاپي مې يوسف (عليه السلام) وليد، چې ښکلې څېره يې درلوده، مرحبا يې راته وويله او د خير دعا يې راته وکړه. بيا څلورم اسمان ته وختو ،جبراييل د ننووتو اجازه وغوښته ، وپوښتل شو څوک يې؟ ويې ويل: جبراييل يم. وپوښتل شو: دا څوک درسره دی؟ ويې ويل: محمد(صلی اللّه عليه و آله و سلم) دی. ويې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ويې ويل: هو! بيا يې لار راکړه او ورننووتو. ادريس (عليه السلام) مې وليد، مرحبا يې راته وويله او د خير دعا يې راته وکړه.

بيا پينځم اسمان ته وختوو،جبراييل د ننووتو اجازه وغوښته ، وپوښتل شو: څوک يې؟ ويې ويل: جبراييل يم. وپوښتل شو: دا څوک درسره دی؟ ويې ويل: محمد(صلی اللّه عليه و آله و

سلم) دی. ویې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ویې ویل: هو! بیا یې لار راکړه او ورننووتو، هارون مې ولید، مرحبا یې راته وویله او د خیر دعا یې راته وکړه.
بیا شپږم اسمان اسما ته وختو ،جبراییل د ورننووتو اجازه وغوښته ، وپوښتل شو: څوک یې؟ ویې ویل: جبراییل یم. وپوښتل شو: دا څوک درسره دی؟ ویې ویل: محمد(صلی الله علیه و آله و سلم) دی. ویې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ویې ویل: هو! بیا یې لار راکړه او ورننووتو، موسی (علیه السلام) مې ولید، مرحبا یې راته وویله او د خیر دعا یې راته وکړه.
بیا اووم اسمان اسما ته وختوو ،جبراییل د ننووتو اجازه وغوښته ، وپوښتل شو: څوک یې؟ ویې ویل: جبراییل یم. وپوښتل شو: څوک درسره دی؟ ویې ویل: محمد(صلی الله علیه و آله و سلم) دی. ویې پوښتل: مبعوث شوی دی؟ ویې ویل: هو! بیا یې لار راکړه او ورننووتو،ابراهیم (علیه السلام) مې ولید، چې په بیت المعمور یې ډډه وهلې وه، اویا زره پرښتې یې هره ورځ لیدو ته راتللې،دا پرښتې به هره ورځ، چې راتللې، له پرونیو سره به یې توپیر درلود.
له دې ځایه هم تېر شو او سدرة المنتهی ته ورسېدم، د سدر ونې پاڼه مې ولیده، چې د فیل د غوږ په څېر وه او مېوه یې د سترو کوزو په شان وه او داچې دا ونه الهي چار رانغاړله؛ نو حالت یې واوخوت، په پایله کې د خدای یو مخلوق یې هم ښکلا نشي ستایلای،په دې ځای کې راباندې خدای وحي وکړه او پنځوس لمونځونه یې راباندې فرض کړل، چې په هره شپه او ورځ کې یې وکړم، بیا راکوز شوم او موسی (علیه السلام) ته راورسېدم، ویې پوښتلم: خدای دې په امت څه فرض کړل؟
و مې ویل: پنځوس رکعته نمونځ.
ویې ویل: پالونکي ته دې ورستون شه؛ ځکه ستا امت ددې دومره مقدار ځواک نه لري، هو ! بني اسرایل یې ازمېيلي او دا تجربه مې لاس ته راوړې ده.
د پالونکي درشل ته ورستون شوم، و مې ویل، امت ته مې دا نمونځونه راکم کړه، خدای پينځه نمونځونه کم کړل او موسی (علیه السلام) ته راستون شوم. و مې ویل: پينځه نمونځونه یې راکم کړل.
ویې ویل: امت ددې ځواک هم نه لري. ستون شه او له پالونکي دې وغواړه، چې نور یې هم راکم کړي. آنحضرت(ص) وايي: ورستنېدم به او خدای به راکموال، چې څښتن وویل: محمده! اوس په هره شپه و ورځ کې نمونځونه پينځو ته راورسېدل او هر نمونځ د لسو اجر لري او په پایله کې امت به دې له پينځوسوو نمونځونو برخمنېږي،که څوک د ښېګڼې هوډ وکړي او ویې نه کړای شي؛ نو په اجر کې ورته یوه ښېګڼه کښلېږي او که ویې کړه؛ نو لس

ښېګنې ورته کښلېږي ، بلخوا که چا د ګناه کولو هوډ وکړ او ویې نه کړه؛ نو څه ورپسې نه کښلېږي او که ویې کړه؛ نو یوه ګناه ورپسې کښلېږي. موسی ته ورستون شوم او دا هر څه مې وویل ،بیا یې راته وویل: پالونکي ته دې ورستون شه او بیا ترې د کمونې غوښتنه وکړه، و مې ویل ،نه دومره ورغلم، چې نور شرمېږم، چې ورشم.
د المیزان تفسیر مفسر علامه طباطبایي وایي: دا روایت له حضرت انس (رض) نه په بېلابیلو لارو رانقل شوی، چې له صحیح بخاري،صحیح مسلم، ابن جریر او ابن مردویه له لارې هم رانقل شوی ، چې له شریک بن عبدالله بن ابی نمر له انس (رض) روایت کړی، چې ویې ویل: پر کومه شپه یې، چې د څښتن استازی د کعبې له مسجده معراج ته بوت؛ نو مخکې له دې، چې په آنحضرت (ص) وحې راشي، درې کسان ورغلل او آنحضرت(ص) په مسجدالحرام کې ویده و، درې واړو نور کسان وپوښتل، چې په دې کې کوم یو دی؟ منځنې وویل: تر ټولو ښه هغه دی، بل وویل، تر ټولو ښه پکې راونیسئ. دا پېښه پر هغه شپه ډېره اوږده نشوه او د آنحضرت (ص) له سترګو ورک شول، تردې چې بله شپه بیا راغلل، د آنحضرت(ص) سترګې پټې وې، خو په زړه ویښ و او کتل یې (که څه دا په دې شپې او آنحضرت(ص) پورې ځانګړې نه ده، اصولاً انبیا داسې دي، چې د سر سترګې یې پټې وې، خو زړونه یې ویښ وي او ویني) هیڅ خبره یې ونه کړه، آنحضرت یې راپورته کړ او د زم زم اوبو له څاه سره یې کېښود، په دې کې جبراییل رامخې ته شو او له مرۍ نیولی تر اخره یې د آنحضرت ټټر څیرې کړ او د آنحضرت ټټر او دننۍ برخه یې د زم زم پر اوبو ووینځله، چې په دې توګه دننه یې پاک سوتره شو، بیا یې له ایمان او حکمته ډک د سرو زرو لګن راووړ او د آنحضرت (ص) ټټر او د مرۍ رګونه یې ترې ډک کړل، بیا یې ټټر ور وتاړه او د دنیا اسمان ته یې له ځان سره بوت.(راوي حدیث د مخکیني حدیث په شان روایتوي)
د ټټر څیرې کول،پاک او سوتره کول یې او له ایمان او حکمته ډکول یې د یو مثالي حالت بیان دی، چې آنحضرت(ص) لیدلي،نه داچې په رښتیا به هم د سرو زرو توکیز لګن وي او لکه څنګه چې ځینو انګېرلي، د ایمان او حکمت په نامه له مادي چاره به دا لګن ډک وي؛ بلکې له ایمان او حکمته د آنحضرت(ص) د زړه ډکول خپله یوه قرینه ده، چې لګن هم یو مانیز او مثالي چار و.
د معراج روایتونه له داشان مثالي مشاهداتو او اراوییزو تمثیلونو ډک دي او دا مانا په هغه معراجیه روایتونو کې لیدل کېږي، چې له عامه لارې روایت شوي او څرګنده ده، چې کومه پروا نه لري.

ددې روايت ظاهر دا دی، چې د پېغمبر(ص) معراج تر بعثت مخکې و، چې وحې پرې لا تر اوسه نه وه نازله شوې، بله داچې له دې روايته برېښي، چې دا پېښه په ويښه نه؛ بلکې په خوب کې و. داچې معراج تر بعثت مخکې پېښ شوی؛ نو د معراج په اړه راغلي روايتونه، چې شمېره يې له بريده اوختې، دا خبره ردوي، ددې وييني علماء ټوله يوه خوله دي، چې معراج تر بعثت روسته و.

پردې سربېره،خپله حديث هم له دې احتمال سره اړخ نه لګوي او دفع کوي يې؛ ځکه پکې راغلي، چې په معراج کې پنځوس نمونځونه وو او تر ځو ځل کمونې روسته او د موسی (عليه السلام) په لارښوونه پينځه وخت نمونځ فرض شوی او تر نبوت مخکې د لمانځه فرضېدل څه مانا لري؟ مخکې تردې، چې په آنحضرت(ص) وحط راشي؛ نو پرښتې ورته راغلې او خبرې يې وکړې؛ نو ناچاره يو، چې په دې حديث کې دا راغلې خبره داسې وګڼو، چې د بعثت تر شپې مخکې دا پرښتې راغلې، له ځان سره يې خبرې وکړې، بله شپه ، چې آنحضرت(ص) په نبوت مبعوث شو؛ نو دا پرښتې بيا راغلې او معراج ته يې بوت.

د اماميه وو په روايتونو کې راغلي: کوم کسان، چې د معراج په شپه له آنحضرت(ص) په مسجد کې ويده وو، دا دي: حضرت حمزه بن عبد المطلب او د ابيطالب دوه زامن، حضرت جعفر او حضرت علي.

داچې دا پېښه د معراج پر شپه په خوب کې شوې؛ نو شونې ده. که څه دا لرې – بعيد برېښي، چې ووايو د آنحضرت (ص) د ټېر ځېرې کول او دننه وينځنه يې په خوب کې وو؛ خو بيا يې راوينښ کړی او معراج ته يې بوتلی؛ خو سماو - انصاف دا دی، چې ددې روايت ظهور په دې کې ډېر دی، چې د معراج ټول بهيرونه په خوب کې شوي او ورپسې روايتونه هم پر همدې دلالت کوي.

## د هغو رواياتو ردول، چې وايي معراج جسماني نه و او په عالم رويا کې شوی

په الدرالمنثور کې راغلي، چې ابن اسحاق او ابن جرير له حضرت معاويه روايت کړي، چې حضرت معاويه به هر کله هم د ځښتن د استازي د معراج د پېښې په اړه وپوښتل شو؛ نو ده به ويل: د خدای له اړخه رښتينی خوب و.

ليکوال: [سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ ] ددې آيت ظاهر د حضرت معاويه دا وينا ردوي او همداراز د نجم سورت په پيل کې هم راغلي [مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى. لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى[1]= نظر (يې بلې خوا ته) وا نه ړاوه او و نه ښوييد(څه يې، چې وليدل واقعيت و). په يقين، د خپل پالونکي (ځينې) سترې نښې يې وليدې.] پردې سربېره، چې آيت د منت اينبوونې په مقام کې دی؛ خو په عين حال کې د سبحان خدای ستاينه هم ده ، چې داسې بې مخينه پيښه يې کړې او داسې هېښنده ځواکوالي – قدرت نمايي يې کړې او دا څرگنده ده، چې ځواکوالي له خوب ليدنې سره کله هم اړخ نه لگوي. لنډه داچې د پېغمبر(ص) خوب ليدل، بې مخينه توب او ځواکوالي نه ده؛ ځکه خوبونه هر څوکويني، که نېکچاری وي که بدچاری او ډېر ځله فاسق او فاجر داسې خوبونه ويني، چې د مؤمن تر خوبونو خورا هېښنده وي. د عامو خلکو په اند خوب تر تخيل هاخوا بل څه نه دي، چې دوی يې د ځواک يا سلطنت دليل وگڼي ؛ خو د خوب يوازينی اغېز به دوی ته دا وي، چې دوی به کوم خير ته هيلمن کړي او يا داچې د گاندې ناوړې پيښې وړاندوينه وکړي.

په همدې کتاب کې ابي اسحاق او ابن جرير له حضرت ام المومنين عايشې بي بي روايت کړي، چې ويې ويل: ما مې په بستره کې د پېغمبر (ص) بدن ناسوبه – غايب ونه ليد، پر هغه شپه يې خدای ،اروا معراج ته بوتله.

د الميزان تفسير مفسر علامه طباطبايي: کومه نيوکه، چې پر مخکيني روايت وه، پردې روايت هم ده. پردې سربېره دا حديث د ډاډ له درجې غورځېدلی او دليل ته يې همدا بس دی، چې د حديثو ټول راويان او تاريخ ليکونکي په دې يوه خوله دي، چې معراج مدينې ته تر هجرت مخکې پېښ شوی او له ام المومنين عايشې بي بي سره د پېغمبر(ص) واده مدينې ته تر هجرت روسته شوی او ان دا واده هغه مهال وشو، چې له هجرته څه موده تېره شوې وه. په دې مطلب کې ان دوو راويانو هم مېرغندی – اختلاف سره کړی نه دی. آيت په څرگنده وايي، چې د آنحضرت (ص) معراج له مکې او مسجدالحرامه و.

او په همدې کتاب کې ترمذي (نوموړي دا روايت حسن گڼلی) ، طبراني او ابن مردويه له ابن مسعود(رض) روايت کړي ، چې ويې ويل: د ښتن استازي وويل: ابراهيم (عليه السلام) مې

[1] (نجم/۱۷، ۱۸)

د معراج پر شپه وليد او راته يې وويل: محمده! په امت دې زما سلام کوه او ورته induiواية، چې د جنت ځمکه، پاکه او د کرکېلې ده او اوبه يې رڼې دي، غوړېدلې او هواره بېديا لري.

## د ښتن استازی (ص) له فاطمه الزهرا د جنت بوی بويوي

په همدې کتاب کې يې طبراني له حضرت ام المومنين عايشې بي بي روايت کړي: د ښتن استازي وويل: اسمان ته يې بوتلم، جنت ته ورننووتم، تر يوې ونې لاندې ودرېدم، چې تکې سپينې ښکلې پاڼې او خوندوره مېوه يې درلوده، چې مخکې مې داسې ليدلې نه و ه،ميوه مې راوشلوله ومې خوړه او چې ځمکې ته راکېوتم، له خديجې سره څملاستم او فاطمه يې په ګېډه شوه او اوس چې مې هر وخت د جنت بوی ته زړه وشي؛ نو فاطمه بويوم.
په قمي تفسير کې له پلاره له ابن محبوب له ابن رئاب له ابي عبيده له امام صادق روايت کړي، چې ويې ويل: د ښتن استازي به فاطمه ډېره بويوله، دا چار د عايشې (بي بي) ښه نه ايسېده، د ښتن استازي وويل: عايشې! چې اسمان ته يې بوتلم ،جنت ته ورننوتم او جبراييل طوبی ونې ته بوتلم او د هغې مېوه يې راکړه، و مې خوړه،خدای همدا مېوه زما څاڅکی کړ،ځمکې ته چې راکېوتم ،له خديجې سره څملاستم او په فاطمې دوه ځانې شوه، اوس يې چې هر وخت بويوم د طوبی ونې بوی ترې راځي.
په الدرالمنثور کې طبراني د اوسط په کتاب کې له ابن عمر (رض) روايت کړي، چې د ښتن استازی (ص) يې معراج ته بوت ،خدای ورته وحې وکړه، چې بايد اذان وکړي، چې نازل شو (جبراييل ته ورسېد) ، جبراييل د ښتن استازي ته اذان وروښود.
په همدې کتاب کې راغلي، چې ابن مردويه له حضرت علي (ک) روايت کړي، چې د معراج پر شپه يې د ښتن استازي ته اذان وروښود او تر اذان روسته نمونځ فرض شو.

د امام کاظم له خولې د معراج پر شپه د څښتن د استازي د لومړني نمونځ سپړنه او کېنسته – شرح او تفصيل

د علل په کتاب کې پخپل سند له اسحاق ابن عمار روايت کړي، چې وېې ويل: حضرت ابی الحسن موسی بن جعفر مې وپوښت: د لمانځه په هر رکعت کې يوه رکوع او دوه سجدې څنگه راپيدا شوې؟ داچې سجدې دوه دي؛ نو دوه رکعته ولې نه حسابېږي؟

ويې ويل: ښه ځير شه، چې پوه شې،لومړنی نمونځ چې د څښتن استازي وکړ،هغه نمونځ و، چې پالونکي ته يې د خدای د عرش په مخکې کې وکړ.راسپړنه يې داسې ده، چې د څښتن استازی يې معراج ته بوت او عرش ته ورسېد؛ نو غږ وشو: محمده! صاد چينې ته ورنږدې شه او د سجدې ځايونه ووينځه او پاک سوتره يې کړه پالونکي ته دې نمونځ وکړه. د څښتن استازي هماغه ځای ته ورغی، اودس يې وکړ، بيا پالونکي ته ودرېد، خدای ورته د لمانځه د پيل حکم وکړ.

حکم وشو: محمده! ووايه:" بسم اللّه الرّحمن الرّحيم الحمد للّه ربّ العالمين" د سورت تر پايه، همداسې يې وکړل، حکم وشو، چې په اصطلاح د خدای حسب ونسب ووايي او ووايه: " بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ " دلته خدای ورته د پاتې نور سورت په تلقين کې ځنډ وکړ.

د څښتن استازي وويل: " قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ ".

بيا ورته خدای حکم وکړ، ووايه: " لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ. وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ. "

بيا خدای ورته د پاتې نور سورت په تلقين کې ځنډ وکړ او د څښتن استازي (ص) د سورت په پای کې پخپله وويل: كذلك اللّه ربیّ ، كذلك اللّه ربیّ.

بيا ورته خدای حکم وکړ، پالونکي ته دې رکوع وکړه ! د څښتن استازي رکوع وکړه او ورته حکم وشو، چې په رکوع کې ووايي: (سبحان ربیّ العظيم و بحمده) د څښتن استازي دا ذکر درې ځل ووايه.

حکم وشو: له رکوع دې سر راپورته کړه او خدای ته ودرېږه. بيا حکم وشو: محمده! خدای ته سجده وکړه. د څښتن استازی په سجده شو، حکم وشو: ووايه: (سبحان ربیّ الاعلی و بحمده) دا ذکر يې درې ځل ووايه. حکم وشو، کېنه! د څښتن استازی کېناست.

د څښتن استازي ته د پالونکي جلالت ورياد شو او بې اختياره او بې له دې ، چې حکم ورته شوی وي، بيا په سجده شوه او بيا يې درې ځل هماغه تسبيح وويلې. خدای ورته حکم وکړ، ودرېږه. د څښتن استازی هسکونی ودرېد او په درېدا کې يې د پالونکي هغه جلالت ، چې

باید کتلای یې وای،و نه لید. خدای حکم وکړ: محمده! ووایه، لکه څنگه چې دې په لومړي رکعت کې ویلي وو،آنحضرت هماغسې وویل، تر لومړی سجدې روسته کېناست او بیا ورته د خدای جلال وریاد شو، بې اختیاره او بې له دې، چې حکم ورته شوی وي، بیا په سجده شو، تر تسبیح ویلو روسته ورته حکم وشو، راپورته شه! خدای دې زباتگامی – ثابت قدمه کړه او لېینه ورکړه، چې بې له خدایه بل معبود نشته. داچې محمد یې استازی دی ،قیامت راتلونکی دی او اړنگ پکې نشته او داچې خدای ټول مړه شوي بیا ژوندي کوي او ووایه (اللّهم صلّ علی محمّد و آل محمّد کما صلّیت و بارکت و ترحّمت علی ابراهیم و آل ابراهیم انّك حمید مجید اللّهمّ تقبّل شفاعته فی امّته و ارفع درجته) د څښتن استازي دا هر څه وویل.

خدای وویل: محمده!

د څښتن استازي خدای پلو ته مخ کړ (او له ادبه یې) خپل سر ښکته کړ او ویې ویل: (السلام علیک). خدای یې ځواب ورکړ: (و علیک السلام یا محمد) ، زما په نعمت دې زما د طاعت ځواک وموند او پر عصمت مې چې ته مې خپل پیغمبر او حبیب کړې.

امام ابوالحسن زیاتوي: د کوم لمانځه چې خدای حکم کړی و،دوه رکعته و او دوه سجدې یې درلودې؛ لکه څنگه چې مې درته وویل،آنحضرت (ص) په هر رکعت کې دوه سجدې وکړې او د پالونکي د ستریا په لیدو ، آنحضرت (ص) بېواکه دویمې سجدی ته ولاړ او خدای هم دواړه سجدې فرضې کړې.

ومې پوښتل: درځار شم، هغه صاد څه و، چې د څښتن استازي ته ویل شوی و، چې باید غسل پکې وکړې؟

ویې ویل: یوه چینه ده، چې د عرش له ارکانو څنې راخوټېږي او ورته ژوندوبه – آب حیات وايي او هماغه دي، چې خدای په قرآن کې یادې کړې دي [ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ ] او لنډه داچې حکم دا و، چې په دې چینه کې اودس وکړه ، قرائت وکړي او بیا نمونځ وکړي [1].

هغه روایت، چې وايي معراج دوه ځل شوی، په کافي کې پخپل سند له علي بن حمزه روایت کړي ، چې له امام صادق سره وم، چې ابوبصیر وپوښت: درځار شم، د څښتن استازی یې څو ځل معراج ته بوت؟

[1] د المیزان تفسیر مفسر علامه طباطبايي وايي: په همدې مانا یو بل روایت هم شته

امام صادق وويل: دوه ځل. جبراييل د څښتن استازی داسې ځای ته بوت،ورته يې وويل: دلته اوسه، چې داسې ځای دی، چې تر اوسه ورته نه کومه پرښته راغلې او نه کوم پېغمبر. دلته پالونکی صلات کوي.
ويې پوښتل: څنګه صلات کوي؟
ويې ويل: (سبوح قدوس) زه يم د پرښتو او ارواوو پالونکی، رحمت مې تر غضب مخکې شو.
امام صادق زياتوي: دلته پالونکي ته دومره نږدې و، چې قرآن يې په اړه وايي: (قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنىَ)
ابوبصير وويل: (قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنىَ) ددې مانا څه ده؟
ويې ويل: دې چې (له پېغمبر سره يې) واټن د دوو ليندېو هومره يا لږ و.
امام صادق زياتوي: د هغې دوو ترمنځ د رڼا يو حجاب دی او په آند مې چې له زبرجدو دی.
بيا د څښتن استازي د سترې ستنې له سوري څخه ، چې بې له خدايه ترې بل نه دی خبر، وکتل...
د الميزان تفسير مفسر وايي: د نجم سورت آيتونه ددې روايت پخلی کوي، چې وايي، معراج دوه ځل پېښ شوی: (صلوات) هم چې په دې روايت کې و،په ښکاره بايد سم وي؛ ځکه په لغت کې صلوات ځوبمن – لېوال او نرموالي ته وايي او (لکه څنګه چې وويل شول) (رحمت) د خدای او (دعا) د عبد ځوبمني او نرموالی دی. کومه وينا ، چې جبراييل د صلوات په اړه له خدايه رانقل کړې، چې وايي (رحمت مې تر غضبه مخکې شو) ؛ نو دا خپله د همدې مانا پخلی کوي؛ ځکه جبراييل د څښتن استازی په هغه ځای کې وځنډاوه؛هغه ځای چې خپله جبراييل وويل،يو پېغمبر او پرښته هم دلته راغلې نه ده. ددې ځای د ستاينې غوښتنه داده ، چې نوموړی ځای د مخلوق او خالق ترمنځ واسطه او د کمال هغه روستی بريد و، چې ممکن انسان ور و رسي؛ نو نوموړی بريد هماغه بريد دی، چې الهي لورنه پکې راښکاره شوې او تردې ځايه لاندې او ښکته افاضه کېږي؛ نوځکه د څښتن استازی دلته وځنډول شو، چې (د ځان په اړه او تر ده څخه د لاسلاندو په اړه) د خدای لورنه ووينې.
د معراج په اړه چې د طبرسي په مجمع البيان د راغليو روايتونو غورچاڼ دادی: د څښتن استازي (ص) وويل: زه په مکه کې وم، جبراييل راغی او ويې ويل: محمده! ودرېږه! زه هم ودرېدم او ورسره د وره په پلو روان شوم و مې ليدل، چې ميکايل او اسرافيل هم ورسره راغلي. جبراييل برق راووړ(چې تر خره لوی او تر کچرې کوشنی و ، مخ يې د انسان ، لکی يې د غوا او ورږ

– يال يې د اس د ورېږ او پښې يې د اوښ په څېر وې) په شا يې جنتي دريځه او دواړه وزرې يې له ورونونو راوتلې وې،تر کومه يې چې سترګې کار کاوه؛ نو هماغومره يې ګامونه وو، جبراييل راته وويل: سپور شه ! ورسپور شوم، روان شو، چې بيت المقدس ته ورسېدو.دلته له اسمانه پرښتې راښکته شوې او د څښتن له اړخه يې زېری راکړ ، زما درناوی يې وکړ او هلته مې نمونځ وکړ.
په ځينو روايتونو کې دا باب راغلی: د څښتن استازي (ص) وويل: چې ابراهيم (عليه السلام) هم د انبياوو له ډلې راباندې زېری وکړ.
د موسى او عيسى (عليهم السلام) په اړه د څښتن استازی وايي: بيا مې جبراييل لاس ونيو او پر يوه غټه ډبره يې کېنولم او ناڅاپي مې پوړۍ او معراج وليد، چې تردې مې بل ښکلی ليدلی نه و. بيا پورتني اسمان ته بوتلای شوم او عجايب او ملکوت مې يې وليدل، پرښتو راباندې په دې ځای کې سلام واچاوه، بيا جبراييل دويم اسمان ته بوتلم او هلته مې له حضرت عيسى بن مريم او حضرت يحيى بن زکريا (عليهم السلام) سره وکتل، بيا يې دريم اسمان ته بوتلم او هلته مې له يوسف (عليه السلام) سره وليدل، بيا يې څلورم اسمان ته بوتلم او هلته مې له حضرت ادريس (عليهم السلام) سره وليدل، بيا يې پينځم اسمان ته بوتلم او هلته مې له حضرت هارون (عليهم السلام) سره وليدل، بيا يې شپږم اسمان ته بوتلم ،هلته مې ډېری خلق وليد، چې څپې يې وهلې، بيا يې اووم اسمان ته بوتلم او هلته مې خلق او پرښتې وليدې.
له حضرت ابوهريره (رض) رانقل شوي، چې د څښتن استازي وويل:په شپږم اسمان کې مې حضرت موسى (عليه السلام) او په اووم کې مې حضرت ابراهيم (عليه السلام) وليد.
د څښتن استازی (ص) وايي: له اووم اسمانه هم تېر شوم او اعلي عليين ته ولاړو.
اعلي عليين يې وصف کړ او په پای کې وايي: پالونکي مې راسره خبرې وکړې او ما مې هم له پالونکي سره خبرې وکړې، جنت او دوزخ مې وليدل،عرش، سدرة المنتهى مې وکتل او بيا مکې ته راکوز شوم. ګهيځ مې دا داستان خلکو ته ووايه،ابوجهل او نورو مشرکينو دروغجن وګڼلم، مطعم بن عدي وويل، داسې انګېرې، چې د دوو مياشتو لار دې په يوه شپه کې وهلې ،لېينه ورکوم، چې له درغجنو ځنې يې.
د حديث راويان زياتوي: قريشو وويل: په دې سفر کې دې څه وليدل. د څښتن استازي وويل: د پلاني تېر کاروان مې وليد، چې اوښ ترې ورک شوی و او ورپسې ګرځېدل او د کاروان په ستر لوښي کې اوبه وې، و مې څښلې او د لوښي سر مې پټ کړ.تاسې کاروانيان وپوښتئ، چې اوبه يې په قدح کې وليدې که نه.

قريشو وويل: دا يوه نښه.
د څښتن استازي وويل: د پلانکي ټبر له کاروان سره مخ شوم،و مې ليدل، چې د پلانکي اوښ تښتېدلی او لاس يې مات شوی و او بيا يې وپوښتئ.
قريشو وويل: دا دوه نښې، بيا يې وپوښتل زموږ د کاروان په اړه څه خبر لرې؟
د څښتن استازي وويل: ستاسې کاروان مې په تنعيم کې وليد. د بارونو او د کاروان په اړه يې وويل: د کاروان په سر کې ايرې رنګی اوښ راروان و او له لمرخړيکې سره سم به راښکاره شي.
قريشو وويل: دا هم بله نښه.
په عياشي تفسير کې له هشام بن حکم له امام صادق روايت کړي، چې ويې ويل: پر هغه شپه، چې د څښتن استازی معراج ته ولاړ د ماسوختن او ګهيځ دواړه لمونځونه يې په مکه کې وکړل.
علامه طباطبايي وايي: په ځينو روايتونو کې راغلي، چې آنحضرت (ص) د ماښام لمونځ په مسجدالحرام کې وکړ او تردې روسته يې د معراج لړۍ پيل شوه او ددې دواړو روايتونو ترمنځ کوم ټکر نشته؛ لکه څنګه تر معراج مخکې په لمونځ کولو او د معراج په شپه د لمونځ په فرضېدو کې کوم ټکر نشته؛ ځکه لمونځ تر معراج مخکې فرض شوی ؛ خو داچې څو رکعته وي، دا جزيات يې تردې ورځې ناڅرګند وو.
اوس دا نيوکه پاتېږي، چې په ډېرو روايتو کې راغلي، چې آنحضرت د بعثت له لومړۍ ورځې راهيسې لمونځ کاوه؛ لکه څنګه چې په علق سورت کې راغلي، چې لومړنی سورت دی.
[أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى. عَبْدًا إِذَا صَلَّى[1]=ايا تا هغه ليدلی، چې منع کوي، (زما) يوه بنده، چې کله لمونځ کوي (نوايا د الهي عذاب وړ نهٔ دی)؟!]
داسې روايتونه هم راغلي، چې آنحضرت (ص) د خپلې بلنې تر اعلان مخکې تر څه وخته له حضرت علي او ام المؤمنين خديجې بي بي سره لمونځ کاوه.

## د لمانځه د رکعتونو د ټاکنې د څرنګوالي په اړه دوه روايتونه

په کافي کې يې له عامري له حضرت ابي حعفر نه روايت کړي، چې ويې ويل: روسته تردې چې د څښتن استازی معراج ته ولاړ، په راستنېدو کې يې لس رکعته لمونځ وکړ، چې په هرو

[1] (علق/ ۹، ۱۰)

دوو رکعتونو کې یو سلام و. حسن او حسین چې وزیږېدل ؛ نو د ځښتن استازي له خدایه د پاسلنې – شکر له کبله اووه نور رکعتونه هم ډېر کړل، خدای یې هم دا کړنه ومنله او داچې د ګهیځ په لمانځه کې یې څه ډېر نه کړل ؛ نو دا ځکه چې ګهیځ مهال به د شپې پرښتې بدلېدې او د ورځې پرښتې به راتلې.

داچې خدای حکم ورکړ، چې په مسافرت کې دې نمونځونه نیم کړه؛ نو د ځښتن استازي ټول دوه رکعتي کړل؛ خو له ماښامه یې څه کم نه کړل، چې په پایله کې یې د امت لپاره شپږ رکعته راکم کړل او د سهوې احکام هم یوازې په هغو رکعتونو پورې اړه لري، چې د ځښتن استازي ورزیات کړي او که څوک په اصل فرض؛یعنې په لومړنیو دوو رکعتونو کې اړنګ – شک وکړي؛ نو نمونځ باید له سره کړي.

خدای ښبلي صدوق پخپل کتاب فقیه کې که له سعید بن مسیب نه روایت کړي: ده حضرت علي بن الحسین پوښتلی، هغه نمونځ چې نن فرض دی؛په کوم وخت کې پر مسلمانانو فرض شو؟

ویې ویل: په مدینه کې او د اسلام تر راښکاره کېدو او ځواکمنېدو روسته، هغه مهال چې خدای پر مسلمانانو جهاد فرض کړ؛ نو د ځښتن استازي پر لمانځه اووه رکعتونه نور هم ورزیات کړل، دوه رکعته په ماسپښین کې، دوه رکعته په مازیګر کې، یو رکعت په ماښام کې او دوه رکعته په ماسخوتن کې او د ګهیځ نمونځ یې په هماغه حال پرېښود؛ لکه څنګه چې په مکه کې نازل شوی و.

## د خدای په نزد د فرعون د کورنۍ د سینګارونکي لوړه درجه

په درالدرالمنثور کې راغلي، چې احمد، نسایي، بزار، طبراني، ابن مردویه، بیهقي (د دلایل کتاب) په سم سند له حضرت ابن عباس (رض) نه روایت کړي، چې ویې ویل: د ځښتن استازي وویل: چې معراج ته یې بوتلم؛ نو پاک سوتره بوی مې له مخې تېر شو،جبراییل ته مې ویل، دا ښه بوی له کوم ځایه دی؟ راته یې وویل: دا د فرعون د کورنۍ د سینګارونکي کس مشاطه بوی دی، یوه ورځ یې د فرعون د لور ویښتان ږومنځول، چې ږومنځه ترې ولویده؛ نو ویې ویل: بسم الله. د فرعون لور وویل: مطلب دې زما پلار دی. ده وویل: نه! مطلب مې زما، ستا او ستا د پلار پالونکی دی. ویې پوښتل: ته بې زما له پلاره بل پالونکی هم لرې؟ ویې ویل: هو! ورته یې وویل: پلار ته مې induced وایم، ده وویل: هو!

د فرعون لور ، پلار ته ورغله او تېر شوی حال یې ورته ووایه. فرعون یې لور او سینګارووونکی راوغوښت، ورته یې وویل، بې له ما بل پالونکی لرې؟ ده وویل: هو! زما او ستا پالونکی، چې په اسمانونو کې دی. فرعون حکم وکړ، چې له مسو جوړه شوې د غوا مجسمه دې ښه سمه ویلي کړي او دې دده کوږمه - بال بچ یې پکې وررواچول، همداچې غوښتل مېرمن یې پکې وررواچوي؛ نو ویې ویل: زه درنه یوه غوښتنه لرم؟ ویې پوښتل: د څه پوښتنه؟ ویې ویل: چې زه او زما زامن دې وسوځول؛ نو هډوکي مو راټول کړه او ښخ یې کړه.فرعون ومنله او ورته یې وویل، چې دا کار به وکړم؛ ځکه حق دې راباندې دی. یو یو یې په خوټېدلو مسو کې وراچول،په پای کې یې غوښتل، چې مور روی کوشنی یې هم وسوځوي؛ خو مور یې چغې کړې. کوشنی وویل: مورې رامخکې شه او شا ته مه ځه، چې ته په حقه یې. په پای کې هغه او زامن یې په هغه مسي خوټېدلې مجسمه کې وسوځول.

حضرت ابن عباس (رض) زیاتوي: څلور کسان په کوشنیتوب کې په خبرو راغلي وو: یو همدا کوشنی و، بله هغه کوشنیه وه، چې د یوسف (علیه السلام) په بې ګناهۍ یې لېینه ورکړه، بل د جریح په داستان کې مور روی کوشنی او څلورم یې عیسی (علیه السلام) دی.

علامه طباطبایي: دا روایت په بل ډول له ابن عباس (رض) له ابی بن کعب له رسول الله(ص) روایت شوی دی.

همداراز په الدرالمنثور کې راغلي، چې ابن مردویه له انس(رض) روایت کړي، چې د څښتن استازي (ص) وویل: پر کومه شپه یې چې معراج ته بوتلم، له یوې داسې ډلې تېر شوم، چې خپلې شونډې یې په اورینو بیتیانو غوڅولې او بېرته به یې ځای شینېده،جبراییل مې وپوښت: دا څوک دي؟ دا ستا د امت خطیبان دي، چې خلکو ته هغه څه وایي، چې خپله پرې عمل نه کوي.

علامه طباطبایي وایي: دا شان برزخي تمثیلات په معراجیه روایتونو کې خورا زیات دي، چې هر کس ته د کړنو پایلې او چمتو شوي عذابونه انځوروي ، چې ځینې یې مخکې وویل شول.

## د معراج د وخت او ځای او داچې معراج جسماني و که روحاني، په دې اړه بېلابېل روایتونه

دې ټکي ته دې اشاره وشي، چې د معراج په اړه مو یوازې د روایتونو غورچاڼ راووړ، په دې اړه روایتونه خورا زیات دي، چې د تواتر برید ته رسي او په شیعه راویانو سربېره، چې د اهلبیتو

له امامانو يې رانقل کړي، لاندې صحابه وو او صحابياتو (رضى الله عنهم) هم د څښتن له استازي رانقل کړي:
حضرت مالك، حضرت شداد بن اويس ،حضرت علي بن ابيطالب ،حضرت ابوسعيد خدري، حضرت ابوهريره، حضرت عبد اللّه بن مسعود ، حضرت عمر بن خطاب، حضرت عبد اللّه بن عمر ، حضرت عبد اللّه بن عباس ، حضرت ابي ابن کعب، حضرت سمره بن جندب ، حضرت بريده ، حضرت صهيب بن سنان، حضرت حذيفه بن يمان ، حضرت سهل بن سعد ، حضرت ابوايوب انصاري، حضرت جابر بن عبد اللّه، حضرت ابوالحمراء ، حضرت ابو الدرداء حضرت عروه، حضرت ام هاني، حضرت ام سلمه بي بي، حضرت عايشه بي بي، حضرت اسماء د حضرت ابوبکر لور.
ټول اسلامي پوهان، چې خبرې يې پامور دي،ګرسره يوه خوله دي، چې معراج په مکه کې او مدينې ته تر هجرت مخکې پېښ شوی. [سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ] همداراز دا آيت يې هم څرګندوي او نور ګڼ شمېر روايتونه، چې له قريشو سره د آنحضرت(ص) خبرې اترې يې رانقل کړي،په همدې مانا دلالت کوي؛ څکه له ټولو جوتېږي، چې د څښتن استازي(ص) د خپلې تېرې شپې ټول حال قريشو ته وايي او قريش يې نه مني. د څښتن استازی د نبيې په توګه ورته د مسجد اقصی د ستنو په اړه وايي او په لار کې يې د کاروان ليدل شوي جزيات وايي.
داچې معراج پر کوم کال پېښ شوی؛ نو په دې اړپيچ –اختلاف دی.ځينې وايي د بعثت دويم کال و او دا خبره يې له حضرت ابن عباس (رض) نه را اخستې، ځينې نورو؛ لکه د خرايج خاوند له حضرت علي رانقل کړي: د بعثت پر درېيم کال پېښه شوی،ځينې يې پر پينځم يا شپږم کال ګڼي، ځينې يې تر بعثت لس کاله او درې مياشتې روسته ګڼي، ځينې يې تر بعثت دولس کاله روسته او ځينې يې تر هجرت يو کال او پينځه مياشتې مخکې او ځينې يې تر هجرت يو کال او درې مياشتې مخکې او ځينې يې تر هجرت شپږ مياشتې مخکې ګڼي.
هر څه چې وو په کال،مياشتې او ورځ کې يې وينه دومره اهميت نه لري، پردې سربېره داسې مستند دليل هم نشته، چې پرې ډاډ وشي؛ نوځکه له دې وينې تېرېږو.
څه ته چې بايد اشاره وشي داده، چې د اهلبيتو له امامانو راغلي روايتونه معراج په دوه وارو – نوبت کې ګڼي. د نجم سورت له آيتونو دهمدې مانا ګټنه کېږي.[ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى ] نو له دې مخې د معراج په اړه د راغليو روايتونو جزيات چې يو له بل سره اړخ نه لګوي؛ نو ممکن

يو ډله يې په لومړني معراج پورې او بله يې په دويم معراج پورې اړه ولري او پاتې نور يې ممکن هغه مشاهدات وي، چې د څښتن استازي په دواړو معراجونو کې ليدلي وي.
داچې دا پېښه په کوم ځای کې شوې؛ نو په دې کې هم اړپيچ دی،ځينې وايي چې د څښتن استازی له شعب ابيطالب څخه معراج ته ولاړ، ځينې نور يې د ام هاني کور ښيي، چې ځينې روايتونه هم پرې دلالت کوي. د اسراء سورت لومړنی آيت يې پيل مسجدالحرام ګڼي، چې ځينو داسې تاويل کړی، چې موخه يې ټول حرم دی، چې په مجازي ډول يې مسجدالحرام نومولی دی.
ځينو ويلي، چې له مسجدالحرام څخه و؛ ځکه آيت پرې دلالت کوي او بل داسې دليل نشته، چې آيت تاويل کړي.
هغه نظر، چې وايي معراج ممکن دوه ځل پېښ شوی وي، بايد ووايو، چې: په دې دوو معراجونو کې يو يې له مسجدالحرام او بل يې د ام هاني له کوره دی؛ خو داچې له شعب ابيطالب څخه وي؛ نو په هغو روايتونو کې چې ددې متضمن دی، داسې راغلي، چې ابوطالب ټوله شپه په آنحضرت (ص) پسې وګرځېد او وېې نه موند. په مسجدالحرام کې له بني هاشمو سره يوځای يې تورې راوويستې او قريش يې وګواښل که د څښتن استازی و نه موندل شي؛ نو خير مو نشته. پر همدې مهال د څښتن استازی له اسمانه رانازل او ده ته راغی او خپلې ليدنې يې قريشو ته وويلې. دا څرګنده ده،داسې نه انګېرلېږي، چې دا ټول جزيات او ځانګړنې به په هغو ورځو کې شوې وي، چې ابوطالب په شعب کې محاصره و او له کړاوونو او ستونزو سره لاس وګرېوان و.
د اسراء سورت لومړی آيت بيت المقدس ته معراج زبادوي، چې پيل يې مسجدالحرام و او په دې مانا کې دا آيت بشپړه څرګندېدنه لري او دې ته ځای نه پاتېږي، چې موږ يې تاويل کړو.
ځينو نورو بيا د معراج په څرنګوالي – کيفيت کې اړپيچ کړی او وايي: معراج هم روحاني او هم جسماني. د څښتن استازی پخپل خاورين بدن له مسجدالحرام څخه بيت المقدس ته تللی او له دې ځايه يې هم له خپل بدن او اروا سره اسمان ته ختون – عروج کړی، دا د ډېری مفسرينو خبره ده.
ځينې نور وايي: له اروا او بدن سره تر بيت المقدسه تللی او له هغه ځايه يې سپېڅلې اروا اسمانونو ته ختون کړی، دا د يوې ډلې مفسرينو خبره ده. ځينې وايي: له اروا سره يې و او دا خپله رښتينی خوب دی، چې څښتن خپل استازي ته وښود، دا د کمساري – نادر مفسرينو خبره ده.

په مناقب کې راغلي: خلکو په معراج کې اړپیچ وکړ،خوارجو ترې نټه - انکار وکړه او جهمیه ډلې پرې نیوکه وکړ،سره له دې، چې روحاني او د خوب په بڼه و؛ خو امامیه ،زیدیه او معتزله ډلو ویلي، چې تر بیت المقدسه روحاني او جسماني و؛ ځکه په آیت کې راغلي (تر مسجد اقصی) نورو ویلي: له پیله تر پایه ان اسمانونو ته یې هم پخپل بدن او اروا معراج کړی او دا مانا له حضرت ابن عباس، حضرت ابن مسعود، حضرت جابر، حضرت حذیفه، حضرت انس، ام المومنین عایشې بي بي او حضرت ام هاني (رضی الله عنهم) روایت شوی.که نوموړې ادله، دلالت وکړي؛ نو موږ ترې نټه نه کوو او څرنګه ترې نټه وکړو، چې مخینه یې شته دی او هغه د موسی علیه السلام معراج دی، چې څښتن له بدن او اروا دواړه سره طور سینا ته بوت. په قرآن کې په دې اړه راغلي: (وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ الطُّورِ). همداراز ابراهیم علیه السلام یې هم د دنیا تر اسمانه بوتلی ، قرآن وایي (وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ)، عیسی علیه السلام یې تر څلورم اسمانه بوتلی، قرآن وایي (وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا) د څښتن د استازي (ص) په اړه وایي (فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ) او دا څرګنده ده، چې دا د آنحضرت (ص) د لوړهمتی له کبله وه. (د مناقب د خاوند د خبرو پای)

## د رسول الله (ص) د معراج په اړه د د المیزان تفسیر د مؤلف څرګندونه

څه چې په دې اړه د ویلو وړ دي دا دي، چې د (اسراء) او (معراج) آر له هغو چارو څنې دی، چې په هیڅ ډول ترې نټه نشي کېدای؛ ځکه قرآن په دې اړه په تفصیل هر څه څرګند کړي او په دې اړه د څښتن له استازي او اهلبیتو امامانو له اړخه هم متواتر روایتونه راغلي.

ددې آیت او روایتونو د لاسوندونو په پامنیوي داسې ګڼه کېږي، چې آنحضرت (ص) له اروا او بدن دواړو سره له مسجدالحرامه تر مسجد اقصی تللی؛ خو اسمانونو ته یې ختون، چې د نجم سورت د آیتونو له ظاهره او له ګڼو زغردو روایتونو څرګندېږي،دا ختون پېښ شوی او په هیڅ ډول ترې نټه نشي کېدای،څه چې دي دادی، ممکن ووایم، چې دا ختون یې له خپل سپیڅلې اروا سره و.

خو نه هغه شان، چې د روحاني معراج قایلین پرې ګروهن دي او وایي، چې دا معراج د رښتیني خوب په بڼه و؛ دا ځکه که یوازې خوب و؛ نو قرآني آیتونو به ورته دومره اهمیت نه ورکاوه او په دې اړه به یې خبرې نه کولې، چې د آنحضرت (ص) د کرامت مقام زباد کړي.

بله دا، آنحضرت(ص) چې قريشو ته قيصه وکړه؛ نو اړينه نه وه قريش ترې په کلکه نټه وکړي، بله دا کوم څه ، چې آنحضرت(ص) پر لار ليدلي وو او بيا يې وويل،له دې خبرې سره اړخ نه لگوي، چې معراج د خوب په بڼه ترسره شوی او معقوله مانا ورته نشي انگېرېدلای.
له روحاني توب موخه دا ده، چې د آنحضرت (ص) سپېڅلې اروا د مادي عالم هاخوا ته ختون کړی؛يعنې هغه ځای چې پرښتې پکې دي او د بندگانو کړنې دلته منتهي (پای) او اقدار (برخليکونه) له دې ځايه صادرېږي، د خپل پالونکي سترې نښې يې ليدلې، د اشياوو حقايق او د کړنو پايلې ورته انځور شوي، د سترو انبياوو له اروا سره يې ليدلي او ورسره يې خبرې کړي، پرښتې يې ليدلې، ورسره يې خبرې کړي، الهي نښې يې ليدلې، چې بې د (عرش)،(حجب) او (سرادقات) په عبارتونو يې تعبير ناشونی دی.
دا د روحاني معراج مانا ده، داچې دا ښاغلي د توکيز - مادي وجود پر اصالت-ساهوتوب قايل دي او په عالم کې بې له خدايه پر بل يو مجرد موجود هم قايل نه دي او بلخوا کتاب او سنت د غير محسوسه چارو په ستاينه کې داسې اوصاف راښيي، چې محسوس او توکيز دي؛ لکه د پرښتې،عرش،کرسی،لوح،قلم،حجب او سرادقات؛ نو ناچاره دي، چې دا چارې په هغه ماديه اجسامو حمل کړي، چې آدم ته نه محسوسېږي او د مادې احکام نه لري، همداراز هغه تمثيلات ، چې په روايتونو کې د صالحينو د مقاماتو، د هغوی د قرب معارج او د کړنو د پايلو بواطن دگناهونو انځورنه او داسې نور پر يو ډول تشبيه او استعاره حمل کړي، چې په پايله کې دوی ځان د سفسطې ډنډ ته ورغورځولی،حس يې خطاکار گڼلی او د کړنو او پايلو ترمنځ په نامنظمو اړيکو قايل شوي او پر دا شان نورو محذرونو هم ملتزم شي.
له همدې کبله وو، چې کله يو لړ انسانانو د ځښتن د استازي د جسماني معراج نټه وکړه؛ نو ناچاره شول، چې ووايي د آنحضرت (ص) معراج په خوب کې و. داچې د دوی په اند خوب، توکيزې اروا ته يو توکيزه ځانگړنه ده او بيا ناچاره شوي، هغه آيتونه او روايتونه تاويل کړي، چې له دې وينا سره يې اړخ نه لگوي، ته وا يو آيت او روايت هم د دوی له وينا سره اړخ نه لگوي.

بله وينه

## د مانا او سند له مخې په معراج پورې اړوند د جزياتو څلور ډوله ويش

په مجمع البيان کې راغلي: هغه ځای چې آنحضرت(ص) ورته بوتلای شو؛ نو په دې کې اړپيچ دی، چې چېرې و. زموږ نظر دادی، چې هغه بيت المقدس و؛ ځکه قرآن دا مطلب په زغرده څرگند کړی، چې يو مسلمان هم ترې نټه نشي کولای. داچې ځينو ويلي دا پېښه په خوب کې شوې؛ نو دا ظاهر البطلان خبره ده؛ ځکه که خوب وای؛ نو معجزه او برهان به نه و.
حال دا په روايتونو کې راغلي، چې زموږ پېغمبر آسمان ته وخوت،دا مضمون گڼو صحابه وو او صحابياتو؛ لکه حضرت ابن عباس، حضرت ابن مسعود، حضرت جابر بن عبدالله، حضرت خذيفه، ام المؤمنين عايشې بي بي او حضرت ام هاني (رضی الله عنهم) رانقل کړی؛ د جزياتو په رانقلولو کې ډېروالی کموالی لري.
يا داسې ځانگړنې دي، چې د هغوی متضمن روايتونه متواتر دي او په هيڅ ډول ترې نټه نشي کېدلای او هم داچې زموږ پوهه يې په سموالي حکم کړای شي.
يا داسې جزيات او ځانگړنې دي، چې وربandې د دلالت روايتونه د تواتر تر بريده نه رسي؛ خو داچې ناليږند -غيرې معقول او له آرونو سره مخالفې چارې نه دي او لنډه داچې عقل يې په شونتيا حکم کوي، چې موږ هم ترې نټه نه کوو او سپارښتنه يې کوو او وايو شونې ده ، چې داسې پېښې شوې وي او د تواتر په فرض غوڅ حکم کوو، چې دا ډول چارې په ويښه شوې دي.
يا داسې چارې دي، چې ظاهر يې زموږ له جوتو آرونو سره ناباندي -مخالفت لري؛ خو د هغه روايتونو حالت ، چې پرې دلالت کوي،داسې دی، چې کولای شو،ظاهر يې تاويل کړو او معقول محمل ورته جوړ کړو؛ نو په دې حالت کې به د روايتونو له ظاهره تېر شو او په معقوله مانا به يې حمل کړو، داسې حمل، چې هم له حق سره اړخ ولگوي او هم له دليل او روايت سره.
يا داسې چارې دي، چې نه يې ظاهر معقول او سم دی او پر سم محمل يې حمل هم ناشونی دی او حمل يې په اصطلاح بې له سريه کېدلای نشي. د معراج په اړه دا شان جزيات او ځانگړنې نه منو او ادله يې ردوو.
د معراج په اړه د لومړی ډلې مطالب،د ډاډ وړ دي او اصل معراج دی او داچې اجمالاً آنحضرت (ص) يې معراج ته بوتلی دی.

د معراج په اړه د دویمې ډلې مطالب دادی، چې آنحضرت (ص) په اسمانونو کې ګرځېدلی، انبیاء، عرش، سدرة المنتهی، دوزخ او جنت یې لیدلی دی.
د معراج په اړه د درېمې ډلې مطالب دا دي، چې آنحضرت د جنتیاتو نعمتونه او د دوزخیانو د عذاب کیفیت لیدلی، چې په دې مانا یې حمل کولای شو، چې د څښتن استازي د دوی اسماء او صفات لیدلي او په څرګندنه د دوزخیانو او جنتیانو نوملړ یې ویلی دی.
د معراج په اړه د څلورمې ډلې مطالب دادي، چې دا ډول ټول روایتونه دې رد کړو؛ ځکه ددې روایتونو په ظاهري ادلو کې تشبیه ښکاري؛ لکه له خدای سره ښکاره خبرې کول،له خدای سره لیدل،ورسره یوځای پر تخت کېناستل او داسې نور چې په ظاهره له خلق سره د خدای جسمانیت او شباهت راښیي، چې خدای له دې هر څه پاک دی او د همدې ډلې په روایتونو کې راغلي، چې د څښتن د استازي ټتر څېرې کېږي کېږي او زړه یې وینځل کېږي. داچې د آنحضرت (ص) زړه له هرې بدۍ اونیمګړتیا پاک او سوتره دی او داسې زړه، چې د دې دومره معارفو او عقایدو مرکز دی؛ نو څنګه وینځلو ته اړتیا پیدا کوي.
او ډېر ښه یې ویلي؛ خو ډېرې بېلګې یې چې راوړي،له نیوکو ډکې دي،د ساري په ډول په اسمانونو کې ګرځېدل، د انبیاوو کتنه او داسې نو او همداراز د آنحضرت (ص) د ټټر څېرې کېدل او وینځل یې په څلورمه ډله کې ګڼلي او حال داچې د عقل له اړخه هیڅ کومه پروا نه لري؛ ځکه ویلای شو، چې دا هر څه د برزخي یا روحي تمثیلاتو له بابه دي او معراجي روایات له داسې تمثیلاتو ډک دي. د ساري په ډول: د هغې ښځې په بڼه د دنیا انځورېدل، چې په هر راز دنیوي ګاڼو یې ځان سینګار کړی و او د یهودیت او نصرانیت د دین د بلنې تمثیل او جنتیانو ته د بېلابېلو نعمتونو او دوزخیانو ته بېلابېلو عذابونو لیدل او داسې نور.
هغه مویدات، چې وینا مو تایدوي؛ نو هغه د مطلب په بیان کې ددې روایتونو اړپیچ دی. د ساري په ډول په ځینو کې اسمان ته د څښتن د استازي د ختون په اړه وایي ، چې د براق په مټ شوی، په بل ځای کې د جبراییل وزر راغلی ، په بل کې پوړۍ راغلې، چې یو سر یې د بیت المقدس په یوه غټه تیږه او بل یې اسمانونو ته ختلی دی او د حقیقت په بیان کې دا ډول د مانا کړن- تعبیر اړپیچ ډېر دی، که څوک ځیر شي؛ نو په دې روایتونو کې دا باب ډېر دی؛ نو له همدې ځایه ګومان کړای شو، چې د دا ډول بیاناتو موخه په تمثیل په توکیزه بڼه د ناجسمي او ناتوکیز چار انځورول دي او د کتاب او سنتو په ظواهرو کې د داسې تمثیلاتو پېښېدل یو روښانه چار دی، چې په هیڅ ډول ترې نټه کېدلای نشي.

# رسول الله (ص) او ګڼ ښځې

**د رسول الله د ګڼ ښځې د فلسفې يوه څنډه:** موخه دا وه، چې په دې احکامو د پېغمبر له اوږو يو لړ محدوديتونه او ستونزې لرې شي. دا لطيف تعبير راښيي، له ګڼ شمېر ښځو سره د رسول الله ودونه په ژوند کې يې د يو لړ ټولنيزو او سياسي ستونزو د هواري لپاره ول. پوهېږو، چې کله رسول الله (ص) د اسلام غږ اوچت کړ، يوازې و او تر مودو مودو ډېرو لږو پرې ايمان راووړ. رسول الله (ص) د خپلې زمانې او چاپېريال د خرافي ګروهو پر ضد راپاڅېدلی و او طبيعي ده، چې ټول اقوام او ټبرونه به يې پر ضد يو موټی شي؛ نوځکه انحضرت (ص) بايد د دښمنانو د ناپاك يووالي ماتولو لپاره له ټولو وزلو کار اخستی وای، چې يو يې له ټبرونو سره د واده کولو له لارې د خپلوۍ د اړيکې رادېره کول ول؛ ځکه په جاهلي عربو کې د خپلوۍ اړيکه ټينګه اړيکه ګڼل کېده، د ټبر زوم يې د ځان باله او دفاع يې ترې لازمه ګڼله او يوازې پرېښوول يې ګناه شمېرله. ډېر قراين لرو، چې ښيي د رسول الله (ص) ودونو، په ډېرو ځايونو کې سياسي اړخ درلود؛ ځينې ودونه يې د جاهلي دودونو د ماتولو لپاره، ځينې يې د دښمنانو راکمولو يا له وګړيو او ځېلي اقوامو سره د مينې او دوستۍ زياتوالي لپاره ول. څرګنده ده، چې ځوك په ۲۵ کلنۍ کې، چې د ځوانۍ د جوش وخت دی، له کونډې ښځې (حضرت خديجې) سره واده کوي او تر ۵۳ کلنۍ پر همدې يوې ښځې بسيا کوي او په دې توګه ځواني تېروي او زړښت ته رسي او د ژوند په پاتې لسو کلونو کې په ګڼ شمېر ودونو لاس پورې کوي؛ نو هرومرو چار يې يو دليل او فلسفه لري، چې په هېڅ توګه يې له جنسي انګېزو سره تړلای نشو. پوهېږو، چې د هغه پېر په خلکو کې ګڼ شمېر ودونه ډېر ساده او عادي ول او ان کله لوړۍ مېرمن د دويمې مېرمنې غوښتو او مارکې ته تله او ځوك د بلې ښځې کولو ته پر کوم محدوديت قايل نه و؛ نو په دې حال کې، رسول الله (ص) ته د ځوانۍ پرمهال ګڼ شمېر ودونو، نه ټولنيز او نه وټيز خنډ درلود او نه څه نيمګړتيا ګڼل کېده. په زړه پورې خو داچې په تاريخونو کې راغلي، رسول الله يوازې د عايشې بي بي په نامه له يوې باکرې نجونې سره واده وکړ، چې د واده پرمهال ټيټ عمرې وه. ان په ځينو تواريخو کې لولو، چې پېغمبر له ګڼ شمېر ښځو سره واده وکړ، چې يوازې د نکاح مراسم يې پرځای شول او بيخي يې کوروالی ورسره ونه کړ او ان په ځينو ځايونو کې يې يوازې د ځينو ښځو په غوښتنې او مارکې بسياينه وکړه او ټبرونه پر همدې وياړېدل، چې پېغمبر ترې د يوې ښځې لپاره مارکه کړې او په دې توګه يې له پېغمبر سره ټولنيز تړاو ښه ټينګېده او په دفاع کې يې هوډمنېدل. بلخوا، له ګڼ شمېر ودونو سره سره،

آنحضرت(ص) لږ اولاد درلود. په دې توګه څرګندېږي، چې د رسول الله(ص) ګڼو ودونو له عادي لاملونو اوچت او ور هاخوا انګېزې او نيتونه درلودل.[1]

((تُرْجِي مَن تَشَاء مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَن تَشَاء وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكَ ذَلِكَ أَدْنَى أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلاَ يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ))

**د يوې بلې ستونزې لرې کېدل!:** پوهېږو د ګڼ ښځې په باب د اسلام حکم دادی، چې مېړه دې خپل وختونه په عادلانه توګه د ښځو ترمنځ وويشي، که يوه شپه له يوې سره وي؛ نو بله دې له هغې بلې سره وي. د رسول الله(ص) له ځانګړنو څنې يو دا وه، چې د ځانګړو شرايطو او د ژوند د کړکېچ په پار، په تېره، چې په مدينه کې و او تقريباً په هره مياشت کې يوه جګړه پرې ورتپل کېده او په عين حال کې ګڼ شمېر مېرمنې يې هم درلودې، ددې آيت په حکم، ددې حق رعايتول ترې لرې شو او خپل وختونه يې، چې څنګه شوني ول، ويشلای شو. که څه رسول الله (د تواريخو په څرګندونه) تر شوني بريده مساوات او عدالت ته پاملرنه کوله، ددې آيت نزول، د رسول الله(ص) مېرمنو او د دننني ژوند چاپېريال ته يوه ډاډينه او آرامي وه.

((لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاء مِن بَعْدُ وَلَا أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيبًا ))

**د رسول الله(ص) د واده په باب يو بل حکم:** ۱ـ د تاريخي لاسوندونو له مخې، رسول الله(ص) د وګړيو او ټبرونو تر دباو لاندې و، چې ښځه ترې وکړي او دې ټبرونو ته وياړ و، چې يوه ښځه يې د رسول الله مېرمن شي؛ البته دې ته‌راو تر يوه بريده د رسول الله(ص) د ټولېزو او سياسي موخو پلي کولو ته لار پرانسته؛ خو هر څه چې له بريده واوړي، پخپله ستونزه راولاړوي او داچې ټولو ټبرونو دغسې يو چار ته سترګې نيولې وې، الله تعالی په يو ټينګ قانون ددې چار مخه ونيوه. ښايي په دې منځومال کې ځينو رسول الله(ص) ته وويل، چې ډېرې مېرمنې دې کونډې او زړې دي او درسره ښايي، له ښکلې ښځې سره واده وکړې. قرآن حکيم په تېره پردې ټکي ټينګار کړی، که ان ښکلې ښځې هم وي، د واده حق ورسره نه لري.[2]

۲ـ په ځينو روايتو کې راغلي، چې له آيته مطلب، د انسان له محارمو ښځو سره د واده تحريم

---

[1] (نمونه، ۱۷: ۳۸۶ مخ.)

[2] (نمونه، ۱۷: ۳۹۱ مخ.)

دی، چې د نساء سورت په ۲۳ آیت کې راغلي؛ نو ددې تفسیر له مخې، د آیت مانا داده، چې د نساء سورت د ۲۳ آیت تر نزول روسته له محارمو سره واده حرام او له نورو ښځو سره حلال دی.[۱]

## ولې رسول الله (ص) ډېرې مېرمنې درلودې؟

ځواب: د رسول الله (ص) ودونه د شهواني او جنسي چارو په پار نه وو؛ ځکه لومړی: له ۲۵ کلنۍ تر ۵۳کلنۍ؛ یعنې مړینې ته یې تر لسو کلونو یې یوه مېرمن درلوده؛هغه هم ام المؤمنین خدیجه وه (آنحضرت په ۲۵ کلنۍ کې له څلوېښت کلنې خدیجې رضی الله عنها سره واده وکړ).

دویم: رسول الله (ص) ٦٣ کاله عمر وکړ او د رسول الله (ص) ټول پرله پسې ودونه د ژوند په لسو روستیو کلونو کې وو.

دلته څو پوښتنې دي:

۱ -ایا تر ۵۳ کلنۍ روسته د ژوند په روستیو لسو کلونو کې، د پنځوسو جګړو ترڅنګ ویلای شو، چې دا پرله پسې ودونه د شهوت لپاره وو؟

۲-ایا انسان د ځاني غوښتنو او شهوت لپاره له کونډو، زړو،طلاقو شویو او پرېښوول شویو ښځو سره واده کوي؟

د رسول الله (ص) په مېرمنو کې یوازې یوه پېغله وه او هغه ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها وه او هغه مهال، چې رسول الله (ص) ورسره واده وکړ؛ نو له عمره یې ۵٦ کاله تېر شوي وو.

هو له پرله پسې ودونو یې موخه د ټبرونو راجذبول وو.

۳-ایا د جګړو پر مهال تر ۵۳ کلنۍ روسته له داسې مېرمنو سره د خوند اخستو شننه سمه ده؟ واقعیت خو دادی، چې هغه مهال دود و، چې ټبرونو به له خپلو زومانو او خپلوانو ملاتړ کاوه او رسول الله (ص) هم تشخیص کړ، چې باید له څو ټبرونو سره خپلوي وکړي، چې د خپلو موخو د پلي کولو لپاره یې له ملاتړه برخمن شي او هم داچې ټبرونه یې له بل سره کینه و نه

---

[۱] (اوسنۍ ژباړه د لومړي تفسیر له مخې ده). (اطیب البیان، ۱۰: ۵۲۰ مخ . المیزان، ١٦: ۳۴۲ مخ.)

کړي؛ نو ګران پېغمبر ان خپلې ځينې مېرمنې و نه ليدې. د بېلګې په توګه، ابوسفيان او معاويه، چې لا مسلمانان شوي نه وو؛د معاويه خور يې له مېړه سره مسلمانان شول او حبشې ته يې هجرت وکړ او مېړه يې په حبشه کې مسيحي شو؛ نو دا بېچاره ښځه نه اوس مېړه لري او نه خپل پلرګنۍ ته ورستنېدای شي. آنحضرت پيغام ورواستاوه، چې ته زما مېرمن يې، چې پر روحي او ټولنيزو ټپونو يې ملهم شي.

ځينې ودونه يې د دودونو د ماتولو او نورو ته د لار پرانستو په پار وو.[1]

بل دليل دادی، چې آنحضرت له يوې مېرمنې هم د اولاد څښتن نه شو او د ټولو مهريه به يې يو شان ورکوله (د امام صادق (رح) د وينا له مخې د ټولو مهريه ۵۰۰ درهمه وه).

د ټولو مېرمنو لګښت يو شان و،د سهار تر لمانځه روسته يې ټولو ته سر ورښکاره کاوه،يوې هم ترې طلاق و نه غوښت او شپې يې پر ټولو ايشلې وې.

لنډه داچې د رسول الله (ص) ډېری ښځې کونډې وې او د ځوانۍ او ښکلا پېر يې تېر شوی و او هر يوې يې بيا واده کړی و او پلار مړي ور پر غاړه وو او د رسول الله (ص) واده هم ورسره تر پنځوس کلنۍ روسته و، چې دا مهال پېغمبر خپل نوم او نښان موندلی و او خورا ښکلې پېغلې ورسره واده ته چمتو وې او پخپله دا يو ستر دليل دی، چې د رسول الله (ص) د پرله پسې ودونو موخه يې سپېڅلې موخې او مصالح وو او هېڅکله د ځاني غوښتنو او شهوتپالۍ تور پر رسول الله (ص) لګېدای نشي.

سره له دې، چې رسول الله (ص) خورا مېرمنې درلودې؛ خو بيا يې هم د شپې ډېری برخه له خدای سره په خلوت او راز و نياز کې تېرولې،تردې چې د خدای له لوري ورته حکم راغی، چې لږ ويده کېږه هم[2] او دا موږ يو، چې د يوې مېرمن په درلودو مو هم خدای هېر کړی دی.

د مېرمنو ډېروالی که د ودې،معنويت،جهاد،عبادت او د ټولنې د دردمندانو او بېوزليو د خدمت مخه و نه نيسي او د مېرمنو ترمنځ د بې عدالتۍ لامل نشي؛ بلکې د هغوی د پالندويۍ،عزت او

---

[1]. د زيد په نامه يو سړی د پېغمبر اکرم زوی ويلی (نه واقعي زوی) و. په جاهليت کې ګروهن وو؛ لکه څنګه چې انسان د خپل زوی له مېرمنې سره واده نشي کولای،د خپل زوی ويلي له مېرمنې سره هم واده نشي کولای؛ نو زيد چې خپله ښځه طلاقه کړه؛ نو رسول الله ورسره د خدای په حکم واده وکړ،چې دا جاهلي دود له منځه ولاړ شي.

[2]. مزمل /۲-۳

خلاصون لامل شي؛ نو هېڅ عقلي خنډ يې په لار کې نه ليدل کېږي.که کله د مېرمنو ډېروالی په سترګو بد لګي؛ نو يو له دې لاندې دليلونو له لامله دي:
۱-سړی د مېرمنو حق عادلانه نه ورکوي.
۲-د مېرمنو له ډېروالي د سړي موخه شهوتپالي او ځاني غوښتنې وي؛نه سپېڅلې موخې.
۳- د سړي نور استعدادونه يوازې مېرمنپالي کېږي.
خو که د مېرمنو ډېروالی وي او پورتني خنډونه پر لار نه وي؛ نو پروا نه لري او د تاريخ په ترڅ د بې مړوښو ښځو شمېر د بې ښځو سړيو تر شمېره خورا ډېر دی،لرې به نه ځو او زموږ په همدې خپل هېواد کې چې په ميليونو شهيدان مو ورکړي دي او مېرمنې يې کونډې دي.دا يو خوا،بلخوا پلارمړي او يتيمان پالندويې ته اړمن دي؛ نو پردې بنسټ د مېرمنو د ډېروالي اصل پروا نه لري؛ خو يو لړ عوارض لري، چې هغه عوارض،ځاني غوښتنې،شهوتپالي او بې عدالتي يو خوا او د ځينو مېرمنو بېځايه تمې بلخوا له دې مسلې نه يوه ستره ستونزه جوړه کړې ده.
قرآن کريم د مېرمنوالۍ په اصولو کې رسول الله ته وايي: بايد داسې مېرمنداري او ژوند وکړې، چې خپه نشي، (و لا يحزن). د قرآن د وينا له مخې مېرمنوالي بايد داسې وي، چې د ښځې سترګې له مېړه سره روښانه شي (ادنی ان تقر اعيهن) سړی بايد کوښښ وکړي، د وحې،فطرت او عقل په چوکاټ کې خپله مېرمن راضي کړي (و يرضين) او څوک چې ډېرې مېرمنې لري،بايد ترمنځ يې په عدالت چلن وکړي او که د خپل عدالت په اړه انديښمن وي؛ نو په يوه دې بسيا وکړي (و ان خفتم الا تعدلوا فواحدة) مېرمنوالي بايد د قرآن د آيتونو له مخې طبيعي او د عقل په خوښه وي (و عاشروهن بالمعروف)؛ يعنې هېڅ کړاو دې پکې نه وي؛البته د ښځې يا مېړه نه خپګان او خوښېدل د الهي قانون په چوکاټ کې دي؛او يو ځل چې رسول الله د خپلې مېرمنې د خوښۍ په پار شات و نه خوړل؛ نو خدای وويل، چې ولې دې د مېرمنې د خوښۍ په پار د خدای حلال پر ځان حراموې.(لم تحرم ما احل الله لک تبتغی مرضات ازواجک).
يو ځل د رسول الله (ص) مېرمنو ترې وغوښتل، چې اوس چې په جګړو کې بري مومې او جنګي غنايم دې لاس ته راځي؛ نو موږ ته سره سپين او د ژوند يو لړ د هوساينې وزلې چمتو کړه،آنحضرت وويل: په غنايمو کې د ټولو مسلمانانو برخه ده؛نه زما د مېرمنو او که د دنيا غوښتونکي ياست؛ نو په لورنه به مو مهريه درکړم او خوشې به مو کړم.

پاک خدای وايي: ((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً[1] = پېغمبره! خپلو مېرمنو ته دې ووايه: ((که تاسې د دنيا ژوند او ښکلا يې غواړئ؛ نو راشئ، چې ګټه (=ښه څورې) درکړم او په ښه وضعيت مو خوشې کړم.))

۱-د مشر ژوند بايد ساده وي او مشر بايد د مېرمنو له غوښتنو اغېزمن نشي.

۲-د بيت المال ډېروالی دې د خپلوانو تمې پورته يو نه سي.

۳-الهي مسووليتونه تر کورنيو مسووليتونو او د هغوی د غوښتنو تر پوره کولو پورته دي.

٤-په پرېکندتوب د خپلوانو د تمو مخه ونيسئ؛ ځکه د دنياپالۍ خطر ان د نبوت کورنۍ هم ګواښي.

٥-که څه د زر او زيور ساتل حرام نه دي؛ خو د نبوت د کورنۍ په شان کې نه دي؛ ځکه د خلکو سترګې مشر او کورنۍته يې دي او بايد د مشرۍ د سپېڅلتيا په پار د ژوند له ځينو هوساينو تېر شو.

٦-ښځه ازاده ده، هم کولای شي په ساده ژوند نېکمرغه ووسي او هم کولای شي بله لار وټاکي.

۷-که طلاق ته اړ شوئ؛ نو د بېلتون لار دې هم په عدالت او نېک چلن ووهل شي.

۸-که له چا سره بيت المال راټول شي؛ نو د هغه اوبو په څېر دی، چې د بند تر شا راټولېږي، چې بايد سمه کړلار ورته جوړه شي او بېځايه لګول يې ستره ګناه ده.

۹- بقرې سورت له ۲٤٦ نه تر ۲٥۱ آيتونو يوه مهمه کيسه راوړې ده، چې په تفسير نور[2] کې يې ورته اتيا ټکي ويلي دي، چې يو يې دادی، چې د مؤمنانو مشر جګړې ته د تګ پر مهال خپلو يارانو ته وويل: خدای به د خپلو پټمنو يارانو د پېژندو په پار او داچې له نسپالو هوسا غوښتونکيو يې توپير کړي؛ نو په لار کې به مو د ويالې په اوبو و ازمېيي او چاچې ترې اوبه وڅښلې؛ نو له موږ ځنې به نه وي (من شرب فليس منى) او څوک يې چې و نه څښي؛ نو له موږ ځنې به وي (و من لم يطعمه فانه منى)؛ خو داچې يوه لپه ترې راواخلي او و يې څښي. چې د اړتياوو هومره حساب (يوه لپه اوبه څښل) له بشپړې بريا سره توپير لري.

---

[1] احزاب، ۲۸ آيت

[2]. د نور تفسير ۳۸۹/۱-٤۰۰

ددې په پامنيوي کېدای شي ووېل شي، چې د مسوولينو په سترگو کې بيت المال د ويالې د اوبو مثال لري؛ نو څوک چې پرې خپټه واچوي؛ نو (فليس منى) او که څوک يې د اړتيا هومره ولگوي؛ نو (فانه منى) دی.

خدای د کهف په سورت کې هغه ځوانان ستايلي دي، چې په غار کې ژوند ته يې پر ټول هوسا ژوند لومړيت ورکړ،ترڅ چې پر مزار يې د جومات د جوړولو سپارښتنه کړې ده، چې په تاريخ کې ټولو په تېره هغه حق پلوي لړکي پوه شي، چې بايد په کفري هېوادونو کې د مادي هوسا ژوند په پار له خپلې گروهې او گروهې لاس وا نه اخلي او که نشي کولای، چې خپل دين وساتي او نشي کولای چې د ژوند له څو ورځو هوساينې تېر شي؛ نو خپل دين دې بلې سيمې ته په هجرت وساتي.هو ! د دنيا غواړيو دين پلوريو نومونه له منځه ولاړل؛ خو د مهاجرينو نومونه پاتې شول.

دا ده د (والعاقبة للمتقين) مانا او دا د (والعاقبة لاهل التقوى) مانا.

رسول الله (ص) د قرآن په حکم خپلو مېرمنو ته داسې ځواب ورکړ:

لومړی: د مېرمنو اصلي ځای کور دی (و قرن فى بيوتكن)

دويم:که پکار وه، چې له کوره ووځي؛ نو ناز دې نه کوي. (و لا تبرجن)

درېيم: له خلکو سره د خبرو پر مهال دې په ناز او کرشمو خبرې نه کوي، چې په رنځورو زړونو کې ورته تمه پيدا نشي. (فلا تخضعن بالقول فيطمع الذى فى قلبه مرض)

هو ! د رنځورو زړونو خاوندان او ځانپالي ان د رسول الله (ص) له مېرمنو هم لاس نه اخلي؛ نو پردې بنسټ يوازې د ښځې سموالی بسيا نه دی؛ بلکې بايد په کوڅو او واټونو کې د نورو هوسونه ځان ته رامات نه کړي.په زړه پورې خو داده، چې قرآن وايي:ان که يو رنځور زړی تمه وکړي (خو نور وگړي عفيف وي)؛ نو تاسې د هماغه يوه تن په پار هم په ناز او کرشمو خبرې مه کوئ. (الذى فى قلبه مرض) و يې نه ويل (الذين فى قلوبهم مرض).

څلورم: که څه د احزاب د سورت په ۳۳ آيت کې د رسول الله (ص) مېرمنو ته په کور کې پاتې کېدل اوڅار شوي دي؛ خو په کور کې دا ناسته له پوهې او حکمته د روسته پاتې کېدو په مانا نه دي؛ ځکه په ۳٤ آيت کې وايي: ((او څه چې ستاسې په کورونو کې له الهي آيتونو او حکمت او پوهې (خبرې) لوستل کېږي (؛نو) ياد يې کړئ،په حقيقت کې خدای ځېرن باخبر دی.))؛ يعنې د پوهې، عقل، فهم، درک، ودې او عمل له پلوه د قرآن له رڼا گټنه وکړئ.

نو په دوو پرله پسې آيتونو کې د رسول الله مېرمنو ته درې حکمه راغلي دي ؛لومړی: پاتې کېدل (قرن)،دويم:که له کوره بهر وتو ته اړتيا شوه؛ نو ساده دې راووځي او ځان دې نه ښيي (لا تبرجن) او درېيم: علمي، آنديز او عقلي وده (واذکرن...)

داچې دا موضوع مهمه ده؛ نو دلته مو نوره رڼا هم پرې اچولې ده، چې گران لوستونکي د رسول الله د گڼ ښځۍ پر حکمت پوه شي او سر يې خلاص شي، چې د گڼ ښځۍ لاملونه يې ټولنيز مصلحتونه ول.

د رسول الله (ص) د ګڼ ښځې خواله[1]

# رسول الله (ص) مو ولې ګڼ ښځې و؟

## د ولسونو د دودونو په اړه وينه

د هر ولس دودونه يې د جغرافيايي،وټيز،روزنيز او انديز چاپېريال زوکړه ده، چې د پېړيو په تېرېدو په ولس کې پياوړی او کوټلی شوی؛ نو هر څېړونکي ته د هغه ولس د ددودونو څېړل خورا ستونزمن چار دی، چې د خپل موقعيت له مخې،د تاريخ خاوندان دي،په تېره هغه مهال، چې په ټوليزه يا ځينې اوسني دودونه يې له پخواني دودونو سره په ټکر کې وي؛ ځکه نه شو کولای په هغه ليد او دود د ژوند وټيز او سياسي چاپېريال او اړيکو د بېلابېلو ولسونو روزنې او اختلاط ته وګورو او د هغه وخت د خلکو د آند په باب ورمندون وکړو.

موږ نن په سترو ښارونو کې ژوند کوو،په هوسا کورونه کې اوسېږو او تر شوني بريده له ماډرنو شونيتاوو ګټنه کوو؛ لکه موټرونو،انټرنټ،ټيلفون او... ګټنه کوو.دودونه مو د يوه داسې چاپېريال له مخې دي.

اوس په همدې لنډې سريزې او په همدې ليد او اخستنې، چې له خپلې ټولنې يې لرو څنګه کولای شو د څوارلسو پېړيو مخکې دودونو په اړه ورمندون وکړو او پايله ترې واخلو؟!

د ټبريز او په کلا کې ،تر کېږدۍ لاندې او په بېديا کې د ژوند د دودونو په اړه څه پوهېږو؟که په څه يې پوه شو؛ نو آيا دا پوهه مو دومره ده، چې ځان په هغه ټبر او يا يې د دودونو په چوکاټ کې وننګېرو او حالات د هماغه وخت په ليدلوريو او په پای کې په د هماغو وختونو په روزل شويو خويونو ورمندون وکړو؟

هېڅکله ادعا نه کوو، چې په دې چکر کې به مو په پشپړه مانا لاړښود ووسو او د عربستان د سيمې د ټبرونو ټولنيز دودونه هغه هم څوارلس پېړۍ مخکې به درښکاره کړو، چې تاسې هم ځانونه يو له هغوی ځنې وګڼئ؛ بلکې هڅه کوو، چې تر شوني بريده د هغه چاپېريال حالات درتشريح کړو او د هغه سيمې له تاريخي حقايقو سره مو آشنا کړو.

---

[1]. دا وينه مو د عراقي ستر عالم مرحوم علامه سيد مرتضی عسکري د نقش ا م المومنين عايشه در تاريخ اسلام له کتابه ژباړلی دی.

## د تاريخ ځينې حقيقتونه

ټول تاريخپوهان؛دوست که دښمن يوه خوله دي، چې تر اسلام پېر د مخه د عربستان د سيمې خلک:

د ژوند چاپېريال د ناوړتيا له لامله يې په کېږديو کې ژوند کاوه؛ نو د معيشت د تامين لار يې نه کرهڼه او يا هم شپني نه وه؛ بلکې په لوټ او يو د بل په وژلو يې لاس پورې کاوه، چې په دې توګه يې د يو څو ورځو لپاره خپله سوکړه ځپلې نس د لوږې له لېوانو خوندي ساتله.

بې له يمن او شام نه او يو څو وړو ښارونو ځنې (که ښار وويل شي) چې ستر يې مکه او يثرب و،په دې سوځنده سيمه کې د تمدن او ابادۍ هېڅ نښه نښانه نه ليدل کېده.

شتمني د مکه د بوت لمانځو فيودالانو او د مکې د قريشو د ټبر او د يثرب د يهودانو په لاس کې وه او بې له دې يې نور ټول وګړي بېوزله ول.

ناوړه چاپېريال او کېږدۍ مېشتې يې د ژوند حالات دومره ستونزمن کړي ول، چې د يو تن وژل يې وراسان کړی و او ځينو خو به يې د بېوزلۍ له لامله خپلې ځيګر ټوټې او نوزيږې لوڼې ژوندۍ ښخولې، چې د دسترخوان پر سر يې خوړونکي لږ وي.

[قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلاَدَكُم مِّنْ إمْلاَقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ [1]=(ورته) ووايه: ((راشئ! پالونکي مو، چې پر تاسې څه حرام کړي دي، درته ولولم:" داچې څوك له خدای سره مه شريکوئ او له مورو‌پلارسره نېکي وکړئ او خپل اولاد د تنګسې له (وېرې) مه وژنئ ، موږ تاسې او هغو ته روزي ورکوو او ناوړه چارو ته که ښکاره وي که پټ، مه نژدې کېږئ او هغه نفس (انسان) چې خدای محترم ګڼلی، مه وژنئ؛ خو پر حق (او د استحقاق له مخې). دا (هغه څيز دی، چې خدای) يې درته سپارښتنه کړې ده، ښايي عقل وکاروئ. ]

دوی ځکه وېرېدل، چې:

په جګړو، تېښته،وژنو او لوټنو کې نجونې نه يوازې کمزورې دي؛ بلکې د بېوزلۍ له لامله ډېر ژر فحشا ته لاس اچوي او د کورنۍ پت لتاړي.

---

[1]. انعام ۱۵۱

د جسمي کمزروی له لامله ،په ماتو او شا ته تگونو کې په اسانی د دښمن لاسونو ته ورځي ،بندیانېږي او وینځېږي.
په ټبر او کورنۍ کې د لګښتیانو ونډه لږي او د هغوی د تش دسترخوان پېټی به وي او په ټبر او کورنۍ کې به د کارنده هلکانو ځای ونیسي: [او چې کله د هغوی یو تن ته د لور (د زیږېدو) زېری وشي؛ نو مخ یې (له ډېر خپګانه) تک تور اوړي او (خپلې ښځې ته) له غوسې ډک وي (چې ولې دې لور راوړه!). ددغه بد زېري له لامله، چې پرې شوی،له خپل قوم او ټبره پټ ګرځي (او نه پوهېږي) چې له شرم سره یې وساتي که په خاوروکې یې (ژوندۍ) ښخه کړي؟ پوه شئ، چې انګېرنه او چلن یې ناوړه دی![1] ]
هغه نجونې، چې په دې بڼه به ژوندۍ پاتېدې،د ژوند وضع یې معلومه وه او د هغه ورځ د عربستان د خلکو په ژوند کې ښځمنې هېڅ مقام نه درلود.د هغه وخت د سړیو له لیدلوري،ښځه د سړي د شهوت د اور د مړه کولو یوه وزله وه او کله به د نورو توکیو په څېر په ارث کې هم رسېده او مالکان به یې درلودل او هغه به یې واک درلوده، چې پر هر چا یې وپلوري او یا یې ورووښې او یا یې ورواده کړي ،خپلې وینځې به یې فحشا ته اړ ایستې او ښځه به اړمنه وه، چې له دې لارې لاس ته راغلې پیسې خپل بادار ته ورکړي او یا د خپل بادار په خوښه ځان دده او هغه په لمن کې ورواچوي او له ارث او پاتوړي به بې برخې وې. ښځمنې په ټولنه کې بندیانې،وینځې،شړل شوې، کرکجنې، چټلې، بې ارزښته او ستونز زیږې ګڼل کېدې او د ژوند کولو حق ترې اخستل شوی و.ستر څښتن په قرآن کې وایي:
[او هغوی چې نکاح یې په وس کې نه وي (؛نو) باید پاکلمنې وسي، چې خدای یې له خپل فضله شتمن کړي او ستاسې له مریانو، چې څوك د لیکلې تړون له مخې د ځان ازادي غواړي؛ نو ورسره د ازادېدو تړون ولیکئ،که در معلومه وي، چې په هغو کې خیر (تر ازادېدو روسته د خپلواك ژوند وسه) شته او له خدای درکړې شتمنۍ،هغوی ته څه ورکړئ او خپلې وینځې، چې پخپله پاك لمنې غواړي؛ نو د دنیوي ګټو لپاره یې زنا ته مه اړ باسئ او چې څوك یې (زنا ته) اړ باسي؛ نو تردې اړ ایستنې روسته خدای اړشویو ته ښه ښنونکی (او) مهربان دی.[2]]

---

[1]. نحل ۵۹-۵۸

[2]. نور/۳۳

دا و تر اسلام دمخه له ښځې سره د عرب چلن.داچې وايو د عربو ښځې،ددې امله دي، چې د عربو په سيمه کې په خپلې وينې پسې يو.او هغه مهال په يوه مذهب او قوم کې هم ښځه يو ازاده انسان نه ګڼل کېده.وچ تعصب شا ته واچوئ،تاريخ ولولئ، چې خبره مو درجوته شي، چې دا يوازې اسلام دی، چې د يو ازاد انسان په نامه يې د ښځې حقوق او بريدونه محترم شمېرلي دي.

اوس د هغه وخت د عربو د ناوړه ژوند په پامنيوي او هغه مقام، چې ښځې په هغه ټولنه کې درلود او ستونزې، چې ښځې په ځان پسې خپلې کورنۍ او ټبر ته راوستې،د ښځې په باب د اسلام نظر او د رسول الله (ص) په حکيمانه کړنو کې ګورو.

## له رسول الله سره د قريشو وتېزه جنګ جګړه

رسول الله، چې نوی مبعوث شو؛ نو قريشو ددې نوي دين د خپرواي د مخنيوي په موخه پر لارو چارو لاس پورې کړ او د وخت د غوښتنو له مخې يې د رسول الله پر ګوندهو کولو ته لارې چارې چمتو کړې.داچې آنحضرت په توکيزو چارو او د کورنۍ د معيشت د چارو په پوره کولو بوخت او له نبوت او مانيزو چارو يې مخه واړوي؛ نو د آنحضرت زومانو ته يې وړانديز وکړ، چې د آنحضرت لوڼې طلاقې او د پلار په کور يې کېنوي.

دا داستان د ابن هشام په سيرت کې داسې راغلی دی:

(... قريشو يو بل ته وويل: تاسې محمد د کورني لګښت له پېټي هوسا کړی،لوڼې يې ورستنې کړئ، چې د ژوند لګښت پر پيدا کولو بوخت شي؛ نو خپلې نقشې پلې کولو ته يې د آنحضرت زومانو هر يو؛ابوالعاص د حضرت ام المؤمنين خديجې خورين او عتبه د ابولهب زوی او د آنحضرت د تره زوی ته ورغلل او وړانديز يې ورکړ، چې د رسول الله د لوڼو د طلاقولو پر وړاندې مو چې د قريشو د شتمنو له هرې يوې سره خوښه وي،در واده به يې کړو.داچې ابوالعاص له خپلې مېرمن سره مينه درلوده؛ نو دا وړانديز يې و نه مانه؛ خو عتبه وويل: که د سعيد بن العاص لور يا لمسۍ يا د ابان بن سعيد العاص لور ورواده کړئ؛ نو وړانديز به يې ومني.قريشو يې غوښتنه ومنله او د سعيد بن العاص لور يې ورواده او هغه د رسول الله لور؛ رقيه طلاقه کړه.

ددې تاريخي پېښې په پامنيوي،خورا اسان پوهېدای شو، چې د هغه ورځ د ژوند په چاپېريال کې ښځه څومره پر خپلې کورنۍ پېټی و، چې قريشو له رسول الله سره د مبارزې لپاره له دې چله ګټنه وکړه.

## د رسول الله وتېز ملاتړ او د دښمن جلب

له رسول الله او یارانو سره یې چې د قریشو دښمني ډېره شوه؛ نو د آنحضرت ځینو یارانو د رسول الله په اشاره حبشې او له هغه ځایه یثرب ته مهاجرت وکړ او په دې توګه یې له خپلې شتمنۍ لاسونه واخستل او هغه څه یې چې درلودل،د خدای په لار کې یې ترې سترګې پټې کړې او یوازې ځانونه یې له قریشو روغ رمټ وایستل.په پای کې رسول الله هم ورسره یو ځای شو او یثرب یې د خپلو فعالیتونو مرکز وګرځاوه.

په مهاجرو کې د ځینو بېوزلي دومره وه، چې ان جامې یې هم نه درلودې.رسول الله هم دوی د جومات مخې پر هغه چوتره مېشت کړل، چې څېرګی یې درلود،دوی به شپه او ورځ هلته ول؛ نوځکه په اصحاب صفه مشهور شول.

په دې مهاجرو کې بې سرپرسته نجونې او کونډې ښځې هم وې او اسلامي غیرت یې اجازه نه ورکوله، چې له چوتره مېشتو سره چوتره مېشتې شي او یا هم بې له کومه شرعي او سولیز جوازه د انصارو کورونو ته ولاړې شي.

له جګړې او وینې تویېدنې د مخنیوي په موخه واده کول

له پخوا راهیسې په عربي ټبرونو کې یو لړ دودونه ول، چې اوس هم پکې شته او له هغوی ځنې یو داچې که ترمنځ به یې جګړه کېده او یا به وینه تویې شوه؛ نو له جګړې او لا وینې تویېدنې د مخنیوي غوره لاره چاره دا وه، چې په جګړه کې ښکېل ټبرونه یو له بل سره د واده اړیکې جوړې کړي، چې د خپلوۍ په رامنځ ته کولو یو خوا د دواړو لوریو ترمنځ له جګړې او چور چپاوله مخنیوی وشي او بلخوا د خېښانو او خپلوانو په درلودو یې د دښمن پر وړاندې مټ پیاوړی شي.

اوس له دې لنډې سریزې سره خپلې آریزې ویینې ته ورګرځو او د رسول الله د ګڼ ښځې پر خواله رڼا اچوو:

### ۱) حضرت ام المؤمنین خدیجه د خویلد اسدیه قرشیه لور

حضرت خدیجه د رسول لله لومړۍ مېرمن وه او هم لومړۍ ښځه وه، چې د آنحضرت پر رسالت یې ایمان راووړ.خدیجې بي بي له رسول الله سره تر واده دمخه دوه مړونه کړي وو او له هغوی یې اولادونه هم درلودل او له رسول الله سره یې تر بعثته پینځلس کاله مخکې واده وکړ.دا مهال حضرت خدیجه څلوېښت کلنه او رسول الله پینځه ویشت کلن و.

حضرت خديجه د بعثت پر لسم کال په پينځه شپېته کلنۍ کې وفات شوه.هغه تر پينځه ويشتو کلونو پورې د اسلام يوازېنۍ مېرمن وه او په دې کلونو کې يې پخپله شتمنۍ د خپل مېړه او د هغه د رسالت ملاتړ کاوه.
بې له ابراهيم نه د رسول الله نور ټول اولادونه له حضرت خديجې ځنې ول او تر څو چې خديجه ژوندۍ وه،رسول الله بله ښځه و نه کړه او آنحضرت د خپل عمر تر پايه د اسلام د لومړنۍ مېرمن له ياده غافل نه شو.د صدقو په ورکولو يې د خديجې د سرښندونو او خاطراتو درناوی کاوه.

### ۲) حضرت ام المؤمنين سوده د زمعه لور

سوده په پيل کې له خپل تره زوی سکران سره واده کړی و او له خپل مېړه سره يې د مسلمانانو له دويمې ډلې سره حبشې ته هجرت کړی و.سکران، چې له حبشې مکې ته راستون شو؛ نو ومړ او سوده يې يوازې ناسرپرسته پرېښووله. رسول الله هم تر حضرت خديجې روسته له سوده سره، چې يوه بوډۍ او بې پناه ښځه وه، واده وکړ. سوده د معاويه بن ابي سفيان د خلافت پر مهال تر هجرت ۵۴ کاله روسته ومړه.

### ۳) حضرت ام المؤمنين عايشه د حضرت ابوبکر (رض) لور

رسول الله پر سوده او عايشې بی بي په يو وخت کې مرکه وکړه او بيا يې په مدينه کې د بدر تر جګړې روسته ورسره واده وکړ.

### ۴) حضرت ام المؤمنين حفصه د حضرت عمر (رض) لور

حضرت حفصه د حضرت عمر بن خطاب لور پر پينځم کال د رسول الله تر بعثت مخکې وزيږېده. حضرت حفصې لومړی له خنيس بن حذاقه سره واده وکړ او ورسره يې مدينې ته هجرت وکړ.خنيس د بدر په جګړه کې ټپي او د ورسېدلي ټپ له لامله ومړ او حضرت حفصه کونډه شوه.حضرت عمر (رض) خپلې لور ته د مېړه په لټه کې شو او دې چار ته يې لومړی د رسول الله يارانو ته ورمخه کړه او حضرت عثمان (رض) ته يې چې شتمن سړی و،وړانديز وکړ او سره له دې، چې د عثمان مېرمن رقيه (د رسول الله لور) وفات شوې وه؛ خو حضرت عثمان له حفصې سره د واده کولو وړانديز و نه مانه. حضرت عمر له حضرت ابوبکر نه وغوښتل، چې

له حفصې سره واده وکړي؛ خو حضرت ابوبکر هم و نه منله. حضرت عمر،رسول الله (ص) ته یې د یارانو له منفي ځوابه ګیله وکړه او رسول الله یې له لور سره واده وکړ.
حضرت حفصه د شعبان په میاشت کې تر هجرته پینځه څلوېښته کاله روسته د حضرت معاویه د واکمنی پر مهال وفات شوه او مروان د مدینې والي یې جنازه وکړه او په بقیع مړېستون – هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

**۵: حضرت ام المؤمنین زینب د خزیمه لور**

زینب له رسول الله سره تر واده د مخه دوه ودونه کړي ول او دویم مېړه یې په احد غزا کې شهید شو. آنحضرت پرې مرکه وکړه او هغې واک رسول الله ته ورکړ او آنحضرت ورسره د هجرت پر درېیم کال په رمضان میاشت کې واده وکړ. زینب له رسول الله سره اته میاشتې ژوند وکړ او د څلورم هجري کال د ربیع الاول په میاشت کې وفات شوه.[1]

**٦: حضرت ام المؤمنین ام سلمه د ابوامیه لور**

نامه یې هند د ابوامیه مخزومي لور او مور یې عاتکه د عامر مخزومي لور ده. ام سلمه لومړی د ابوسلمه عبدالله بن عبدالاسد مخزومي مېرمن وه. دې ښځې او مېړه داوړو په مکه کې اسلام ومانه او په مکه کې چې کله پر مسلمانانو د کفارو کړاو ډېر او ژوند یې تریخ شو؛ نو رسول الله ورته حبشې ته د مهاجرت حکم وکړ.ام سلمې په حبشه کې خپل اولاد زیږولی او بیا مکې ته راستنه شوه او داچې رسول الله مدینې ته هجرت کړی و؛ نو ام سلمې بې بې خپل زوی پر اوښ سپور او د اوښ واګې یې په لاس کې ونیوې او د مدینې پر لور روانه شوه.
ام سلمه په خپله دا قیصه داسې کوي: خپلوانو مې چې د تلو په تکل کې ولیدم،رامخکې شول او ابوسلمه ته یې وویل: ته خو په خپله زموږ له منګلو ووتې او مسلمان شوې، پر خدای قسم پرېږ به نه ږدو، چې ام سلمه، چې زموږ له کورنی ځنې ده،ښار په ښار یې له ځان سره وګرځوې او د اوښ واګې یې ترې واخستې.
د ابوسلمه خپلوانو، چې دا چار ولید،غوسه یې نیوکه وکړه و یې ویل:که ام سلمه یې له مېړه ابوسلمه جلا کړئ؛ نو موږ به اجازه در نه کړو، چې زوی یې له ځان سره بوځئ، چې هغه زموږ زوی دی. د زوی یې سلمه هم په دې ربړه کې لاس له ځایه بې ځایه شو او په پای کې د

[1]. الاصابه ۳۰۹/۴

ابوسلمه کورنۍ مې زوی له ځان سره بوت او زما خپلوانو هم زه له ځان سره وساتلم او ابوسلمه هم له دوی جلا او مدينې ته روان شو:

حضرت ام المؤمنين ام سلمه وايي:

زه، زوی او مېړه مې يې سره جلا کړو او زه به هره ورځ د مکې ابطح درې ته تلم او هلته به مې تر اوو ورځو تر ماښامه ژړاگانې کولې،تردې چې يو تربور مې وليدم او خپلوانو ته مې ولاړ ورته يې وويل، چې داسې کوئ او د هغې او زوی او مېړه سره جلا کړې دې؟

دې نيوکه پايله ورکړه،خپلوانو مې راته وويل:که غواړې؛ نو له مېړه سره دې يو ځای شه او د مېړه خپلوانو مې هم چې دا چار وليد؛ نو زوی يې بېرته راکړ،خپل زوی مې په غېږ کې ونيو پر اوښ سپره او د مدينې پر لور روانه شوم.په دې سفر کې مې هېڅوک د سفر ملگری نه و، چې د تنعيم سيمې ته ورسېدم.عثمان د طلحه عبدري قرشي زوی وليدم او راغې يې کړ:د اميه لورې چېرې روانه يې؟ ورته مې وويل:مدينې ته مې مېړه ته ځم.و يې ويل: څوک درسره شته؟ و مې ويل: نه ! پر خدای، چې بې له خدای او له دې زوی مې هېڅوک راسره نشته. و يې ويل: پر خدای قسم ! نشم کولای يوازې دې پرېږدم او بيا يې د اوښ واگې په لاس کې ونيوې او مخکې مخکې روان شو او پر خدای قسم، چې په عربو کې مې په سفر کې تر هغه بل ښه سړی ليدلی نه و.کوم منزل ته به چې ورسېدو،اوښ به يې سملاوه،له ما به لرې کېده او د ونې تر سيوري لاندې به يې دمه کوله او د سپرېدو وخت به چې شو؛ نو پر اوښ به يې کجاوه تړله او بيا به شا ته کېده او راته يې ويل: سپره شه او چې سپره به شوم؛ نو د اوښ واگې به يې په لاس کې ونيوې او تر اوښ مخکې مخکې به روان و او مدينې ته تر رسېدو پورې يې په هر منزل کې دا کړنلار وه. مدينې ته چې ورسېدو؛ نو قبا کلی يې راوښود،و يې ويل:مېړه دې په دې کلي کې دی،رانه جلا شو او زه هم په قبا کې خپل مېړه ته ولاړم.

ام سلمه په دې توگه خپل سفر ته دوام ورکړ، چې مدينې ته ورسېده. وايي چې ام سلمه لومړۍ ښځه ده، چې مدينې ته يې هجرت کړی دی او دا کورنۍ په مدينه کې وه، چې د احد غزا راپېښه شوه.

ابوسلمه له رسول الله سره د احد په جگړه کې گډون وکړ او په دې جگړه کې ټپي شو او د همدې ټپ له لامله په مدينه کې ومړ او ام سلمه ناسرپرسته پاتې شوه.رسول الله د ابوسلمه تر مړينې روسته له ام سلمې سره، چې بوډۍ ښځه مېرمن وه،واده وکړ او په دې واده يې ام سلمه او د هغې زوی، چې پالندوی يې نه درلود،تر خپلې پالندوينې او ملاتړ لاندې راوستل.

ام المؤمنين ام سلمه د يزيد د واکمنۍ پر مهال د امام حسين تر شهادت روسته وفات شوه.[1]

### ۷: حضرت ام المؤمنين جويريه د حارث لور

د حارث له لور جويريه سره د رسول الله د واده کيسه اوږده ده؛ خو لنډه داچې حارث د جويريه پلار د بني المصطلق د ټبر مشر و، چې د مدينې په شاوخوا کې مېشت و. پر پينځم که شپږم هجري کال ول، چې حارث د نورو عرب ټبرونو په مرسته يو لښکر چمتو کړی و او هوډ يې کړی و، چې بې خبره پر مدينه يرغل وکړي او د مسلمانانو جرړه له بېخه راونړوي.
رسول الله چې خبر و؛ نو خپل يو صحابي يې د حارث ټبر ته جاسوسۍ ته واستاوه، چې د دښمن د موقعيت،شمېر او حالاتو په اړه خبر راوړي.د رسول الله جاسوس په بري خپله دنده ترسره کړه او د دښمن د پوځي حالاتو په اړه يې ګټور استخبارات راوړل.
له هغې خوا د حارث له لښکره هم يو جاسوس د مسلمانانو منځ ته رانووتی و، چې استخبارات ګوتو ته راوړي؛ خو ونيول شو. مسلمانانو ورته د اسلام وړانديز وکړ؛ خو عربي اسلام و نه مانه او نوی دين يې و نه مانه؛ نو مسلمانان اړ شول، چې و يې وژني او رسول الله هم ورمخکې شو او پر بني مصطلق يې بريد وکړ.
هغه وګړي، چې له نورو ټبرونو د حارث په لښکر کې وو،داچې ځان يې د ناڅاپي بريد پر وړاندې وليدل؛ نو وتښتېدل او جګړه يوازې د حارث لښکر ته پاتې شوه.د اسلام منادي د حارث لښکر ته د اسلام منلو وړانديز وکړ؛ خو د حارث لښکريانو نه يوازې اسلام و نه مانه؛ بلکې د اسلام منادي يې د غشيو تر بريدلاندې راوست.مسلمانانو، چې دا حالت وليد يرغل يې وکړ او سخته جګړه ونښته او په پای کې د حارث ټبر ماتې وخوړه او تسليم شو.له مسلمانانو يوازې يو تن شهيد او د حارث له ټبره ۱۰ تنه ووژل شول.پر غنيموتونو سربېره ددې جګړې ډېرى بنديان هم ول.د جويريه مېړه، چې په دې جګړه کې وژل شوی و،په خپله هم بندي شوه او په ويش کې د يوه انصاري ورسېده.
مدينې ته چې راغلل؛ نو جويريه رسول الله ته راغله او د خپلې ازدۍ لپاره يې له آنحضرت (ص) نه د مرستې غوښتنه وکړه،رسول الله (ص) هغه له انصاري وپېرله،آزاده يې کړه او بيا يې ورسره واده وکړ او دا خبر، چې نورو اصحابو ته ورسېد؛ نو ددې واده په درناوي يې خپل ټول

---

[1]. د حال شرحه يې په استيعاب،اسدالغابه،اصابه او د ابن سعد طبقات ۸۶-۹۶/۳/۲ کې وګورئ.

بنديان ازاد کړل. دا خبر د جويريه پلار حارث ته ورسېد،مديني ته راغی،اسلام يې ومانه او خپل ټبر ته ورستون شو او د بني مصطلق ټول ټبر مسلمان شو.

## ۸: حضرت ام المؤمنين ام حبيبه د ابوسفيان لور

ام حبيبه د اسلام د پيغمبر د سرسخته دښمن ابوسفيان، چې د اسلام پرخلاف يې ډېری جګړې راهڅولې وې،لور ده. ام حبيبه د خپل پلار پرخلاف اسلام ومانه او له خپل مېړه سره يې حبشې ته هجرت وکړ.مېړه يې په حبشه کې ومړ او ام حبيبه بې پالندويه پاتې شوه.رسول الله، چې له دې خبرې خبر شو؛ نو خپل يو استازی يې حبشې ته ولېږه او پر ام حبيبه يې مرکه وکړه او په پای کې يې پر اووم هجري کال ورسره واده وکړ.

د ام حبيبه د واده خبر ابوسفيان ته راورسېد او د خدای او د رسول الله دا سرسخته دښمن يې سخت رامات کړ او داسې خبره يې له خولې راووته، چې د رسول الله پر وړاندې يې د ماتې ښکارندوی ده.هغه داسې وويل: ددې نر خوله پر سوک نشي وهل کېدای.[1]

له دې واده يو کال تېر شو،پر اتم هجري کال د حديبيې سوله وشوه او قريش له هومره سختچاريو سره د اسلام د ستريا پر وړاندې پر ګونډو شول او په رسميت يې وپېژانده.

نه انګېرئ، چې دې واده به ددې دومره سترې بريا په لاس ته راوړنه کې ونډه نه درلوده؟

## ۹: حضرت ام المؤمنين صفيه د حی لور

صفيه د حی بن اخطب لور د حضرت هارون او موسی عليه السلام له څوځاته ده. مور يې بره د بني قريظه وو د ټبر د سموال لور ده.

صفيه لومړی د مشکم له زوی سلام سره واده وکړ او بيا يې ترې طلاق واخست او د بني نظير د ټبر له يو يهودي کتانه د ربيع له زوی سره يې واده وکړ. ربيع د خيبر په جګړه کې د مسلمانانو په لاس ووژل شو. تر جګړې روسته خيبريان اسيران شو او د خدای استازي، صفيه ځان ته ځانګړې کړه، چې په اسيرانو کې وه او په څېره کې يې چې شين والی وليد شو،رسول الله يې علت وپوښت. صفيه يې په خوب کې داسې کيسه وکړه:

---

[1]. وګورئ: د ابن سعد طبقات ۸۶/۸-۸۰ او همداراز د استيعاب،اسدالغابه او اصابه کتابونه.

يوه شپه مې په خوب کې وليدل، چې له مدينې يو کب راووت او زما په لمن کې شو.سهار وختي مې خپل خوب خپل مېړه ربيع ته ووايه او هغه زما خوب سخت ګڼوډ کړ او راغوسه شو ويې ويل:

هيلمنه يې د هغه پاچا مېرمن شې، چې په مدينه کې راښکاره شوی دی؟!دومره سخته يې په سپېږه پر مخ ووهلم، چې مخ مې شين شو، چې اوس يې هم ځای پاتې دی او دا د وهلو له لامله دی.

رسول الله د صفيه د کيسې تر اورېدو روسته وويل:

که اسلام ومنې؛ نو مېرمن به دې کړم او که پر يهوديت ټينګه ووسې؛ نو ازاده به دې کړم، چې خپل ټبر ته ورستنه شې.

مخکې له دې چې اسلام ته مې راوبلې،ايمان مې راوړی و،بلخوا مورو پلار هم نه لرم او له يهودو سره هم څه کار نه لرم، چې په ايمان او کفر کې دې واک راکړ؛ نو خدای او استازی يې راته خپلو خپلوانو ته تر ستنېدو او ازادۍ خورا ارزښتمن دی.

بيا رسول الله وويل: د وفات عدت وساته او بيا يې نکاح کړه او په مدينه کې يې په عاليه کوڅه کې د بني حارثه وو د ټبر د يو وګړي په کور کې مېشته کړه.

حضرت عايشې په پټه حال دا نقاب يې تړلی و،د صفيه ليدنه وکړه.د خدای استازي وپوښتله: صفيه دې څنګه مېرمن ومونده؟

هغه مې يوه يهودۍ ومونده.

صفيه ته داسې مه وايه، چې اسلام يې منلی او اسلام يې نېک هم دی.

صفيې د زړه له کومې له رسول الله سره مينه درلوده؛ خو د زړګنی مينې له څرګندولو يې ډډه کوله. ددې مينې او دوستی يوه نښه داده، چې کله رسول الله (ص) د رنځ په بستر ه کې پروت و او مېرمنې يې ترې راټولې وې؛ نو صفيه وارخطا رسول الله ته وويل:

پر خدای هيلمنه يم، چې درد او رنځ دې پر ماشي.

د رسول الله (ص) نورو مېرمنو ددې خبرو په اورېدو په سترګو يو بل ته اشارې وکړې او د صفيه خبرې يې ځانښوونه وبلله. د مېرمنو دا بې انصافه حرکت له رسول الله پټ پاتې نه شو،مېرمنو ته يې وويل:ولاړې شئ او خولې په اوبو ووينځئ !

و يې پوښتل: ولې !

صفيه ته مو د اشارې له لامله،قسم پر خدای، چې هغه رښتيا وايي او هر څه يې چې وويل د زړه له کومې يې ول.

صفيه پر دوه پنځوسم کال د معاويه بن ابي سفيان د واکمنۍ پر مهال وفات شوه او په مدينه کې په بقيع مړيستون کې ښخه شوه.[1]

## ۱۰: حضرت ام المؤمنين ميمونه د حارث لور

ميمونه د حارث هلاليه لور لومړی د مسعود ثقفي مېرمن وه او طلاق يې ورکړی و او بيا د ابورهم ابن عبدالعزي مېرمن شوه او د هغه په کور کې وه، چې هغه هم وفات شوه.
پر اووم هجري کال هغه مهال، چې رسول الله په ذيقعده مياشت کې مفرده عمره پر ځای کړه او د خور مېړه يې عباس د رسول الله تره هغه رسول الله ته ورواده کړه او رسول الله له ځان سره مدينې ته بوتله.
ميمونه روستۍ مېرمن وه، چې رسول الله ورسره واده وکړ.
د ميمونې د وفات کال په اړه اړپېچ دی او مشهوره داده، چې د حج له سفره د راستنېدو پر مهال پر ۵۱ هجري کال وفات شوې ده.

## ۱۱: حضرت ام المؤمنين زينب د جحش لور

تر اوسه د رسول الله د واده کيسې غالبا يو بل ته ورته او حکمتونه يې روښانه دي؛ خو له زينب سره يې واده بل حکمت لري، چې بلې سريزې ته اړتيا لري:
تر هغه چې خبر يو،د نړۍ سمونپالان چې کومې نقشې او طرحې خپلو ټولنو ته لري؛ نو په خپله يې په پلي کولو کې مخکښان دي،سمونه يې له ځان او خپلې کورنۍ پيلوله او خپلو سپېڅليو موخو ته په رسېدو کې يې هر ډول سرښندنه کوله او تردې روسته يې خپل خپلوان او په پای کې يې نور وګړي پردې چار عمل کولو ته رابلل.
حضرت محمد(ص) د بشري نړۍ يوازېنی سمونپال هم دې له قانونه مستثنی نه دی. هغه د ټولنې د سمونې لپاره او د جاهليت د ناوړو دودونو د له منځه وړو په موخه،د خدای د حکم له مخې، ړومبی له خپلو خپلوانو پيل وکړ او د همدې آر له مخې يې په حجه الوداع کې وويل:هر سود له منځه تللی دی؛او لومړی سود، چې له منځه يې وړم،د خپل تره عباس[2] سود

---

[1]. د صفيه د حال لنډه شرحه مو د ابن سعد طبقات ۱۲۰/۸ نه راخستې ده.
[2]. حضرت عباس(رض) د پيغمبراکرم تره په جاهليت پير کې په مکه کې مشهور سود خور و.

دی.هغه وینه تویې ولاړه، چې په جاهلیت کې تویې شوې او لومړی وینه، چې تویې یې ګڼم،د عبدالمطلب د لمسي ربیعه[1] وینه ده.

د رسول الله په سیرت کې پردې مطلب خورا تاریخي لووي شته دی. د جحش له لور زینب سره د رسول الله واده هم یو له هغو چارو څنې دی، چې د جاهلیت ناوړه دودونو د له منځه وړو په موخه ترسره شوی دی.له دې واده د رسول الله موخه پر دوو بنسټیزو آرونو ولاړه وه:

د پاټکیز واټن له منځه وړل.

د زوی ویلی د احکامو ماتول[2].

زید بن حارثه د رسول الله زوی ویلی په کوشنیتوب کې لوټمارو عربو وتښتاوه او په مکه کې یې وپلوره.رسول الله د زید پېرولو پر مهال شتون درلود او هغه یې د خپلې مېرمنې خدیجې لپاره وپېره،خدیجې هم زید رسول الله ته ورو بښه.

د زید موروپلار، چې د زوی ورکاوي سخت خپه کړي ول او له برخلیکه یې بې خبره وو؛ نو یوه ورځ د زید د ټبر وګړیو،زید په مکه کې ولید او یو بل یې وپېژندل.زید د هغوی له لارې په شعر ویلو خپل موروپلار ته داسې پیغام واستاوه:زما په اړه اندېښنه مه کوئ،زه د عربو د ټبرونو په خورا غوره ټبر کې ژوند کوم او له هر اړخه هوسا یم.

د زید پلار او تره، چې د زید له ځایه خبر شول؛ نو له پیسو سره مکې ته راغلل، چې زید وپېري.د خدای استازي ته چې راغلل؛ نو د خپل راتګ موخه یې وویله، چې آنحضرت (ص) وویل: د زید خوښه، چې درسره ځي که پاتېږي.زید، چې راغی؛ نو خپل تره او پلار یې وپېژانده او رسول الله وپوښت، چې ځې که پاتې کېږې.

زید وویل:

پر تاسې به هېڅا ته وړتیا ور نه کړم.

د زید پلار وویل: بندګی تر پر ازادۍ وړتیا ورکوې؟

زید وویل: هو له داسې تن سره. او رسول الله ته یې اشاره وکړه.

---

[1]. د عبدالمطلب لمسی،د ربیعه زوی په بني لیث ټبر کې یو موررروی ماشوم و،چې د هذیل د ټبر وګړیو په ټبروتنه کې ووواژه او بني هاشمو د رسول الله (ص) تردې خبرې پورې ددې ماشوم د وینې غوښتنه کوله. د ابن هشام سیرت څلورم ټوک،۳۷۵ مخ.

[2]. په جاهلیت کې دود و،چې که چا به څوک زوی وباله او زوی به راضي شو؛ نو تردې وروسته به یې دا زوی ویلی ددې سړي په نامه یاداوه او د صلبي زوی ټول احکام به دې زوی ویلی ته هم پر ځای وو.

بيا رسول الله زيد له لاسه ونيو او حجر اسماعيل ته يې بوت او په لوړ غږ يې وويل: لووي وس ئ ! زيد مې زوی دی،هغه له ما او زه له هغه پاتوړی وړم.
د زيد پلار او تره، چې دا هر څه وليدل؛ نو خوشحاله ستانه شول او تردې روسته خلکو زيد ته چې د رسول الله ازاد کړی مريی و،زيد بن محمد بن عبدالله وايه.
زينب د جحش لور، چې د رسول الله د ترور (عمه) لور او د آنحضرت تر پالنې لاندې وه او بلخوا ډېرې قريشو پرې مرکې هم کړې وې،آنحضرت پرې زيد ته مرکه وکړه.زينب غوسه شوه،و يې ويل: زه دې ترورځی يم او ته مې خپل ازاد کړي مريي ته وادوې؟!
د زينب خور او ورو هم له دې واده سره د پاټکيز اړپېچ له لامله هوکړه نه درلوده، چې د خدای له لوري حکم راغی:
((وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا [1]= او چې کله خدای او استازی يې د يو کار(د ترسره کولو) پرېکړه وکړي؛ نو هېڅ مؤمن او مؤمنه حق نه لري د خپل هماغه کار په باب (د خدای د حکم پرخلاف) اختيار ولري او څوك چې د خدای او له استازي يې سرغړونه وکړي؛ نو په يقين، چې په څرګنده بې لارې شوی دی.))
دې آيت درې واړو ته د چوپتيا حکم وکړ او زينب له زيد سره واده ته غاړه کېښووله او آنحضرت هم د خپلو لوړ او سپېڅليو موخو د پلی لپاره، چې هماغه د پاټکيز واټن لرې کول،زينب زيد ته ورنکاح کړه.
زينب د زيد کور ته ولاړه او د زيد له بلې مېرمن ام ايمن سره، چې هغه هم آنحضرت آزاده کړې وه او د زيد له زوی اسامه سره په يوه کور کې مېشته شوه.څرګنده ده، چې دا ډول ژوند زينب خپه کړې وه او د خپګان له لامله يې له زيد سره هم چلن ناوړه شو، زيد رسول الله ته شکايت وکړ او له رسول الله يې اجازه وغوښته، چې طلاقه يې کړي؛ خو آنحضرت وويل: ((له خدايه و ډار شه او مېرمن دې له لاسه مه ورکوه.))
زينب پر زيد ژوند تريخ کړی و او رسول الله د زيد د خورا ټينګار له لامله يې له طلاق سره هوکړه وکړه.
د زينب د طلاق عدت، چې بشپړ شو؛ نو خدای خپل استازي ته دنده ورکړه، چې د يو بل جاهلي دود له منځه په موخه له زينب سره واده وکړي، چې خلک عملا ووينې، چې د صلبي

---

[1]. احزاب/٣٦

زوي احکام د زوی ويلي لپاره نه دي او وګړی کولای شي، د خپل زوی له طلاقې کړای شوې سره واده وکړي.
ددې حکم پلي کول رسول الله ته خورا ستونزمن وو او د خلکو له خبرو وېرېده تردې، چې لاندې آيت، چې د رسول الله د روحي تشويش ښکارندوی دی،راغی:
[وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا[1]=او (دريادکړه) چې کله تا هغه چا["زيد" چې پېغمبر ورته خپل زوی وايه] ته چې خدای نعمت ورکړی و او تا(هم) پرې (د ازاد ولو) لورنه کړې وه، وويل:"خپله مېرمن دې درسره وساته (او مه يې پرېږده) او د خدای له (عذابه) ځان وساته!" (او تل دې دا خبره کوله) او (په دې توګه) تا هغه څه پخپل زړه کې پټول، چې خدای يې ښکاره کول غوښتل او له خلکو وېرېدلې،حال دا خدای ډېر وړ دی، چې ترې ووېرېږې؛ نو چې کله (زيد) له هغې (خپله) اړتيا پوره کړه (او ترې بېل شو؛ نو) موږ هغه (طلاقه شوې مېرمن) درنکاح کړه، چې پر مؤمنانو د خپلو زوی بلليو زامنو د مېرمنو په باب کومه ستونزه نه وي، چې خپله اړتيا يې ترې پوره کړې وي (طلاقې شوې وي) او د خدای حکم هرومرو عملي کېدونکی دی (او د دغسې ښځو د حرمت ناسم او غلط دود بايد له منځه ولاړ شي).]
ددې آيت زغردې وينا ،رسو الله د الهي حکم د پلي کولو لپاره له زينب سره واده وکړ، چې موخه يې د جاهليت د کبرلي او رټلي ناسوليز دود له منځه وړل وو.[2]
څه چې وويل شو،ترې څرګندېږي، چې د رسول الله ډېری ودونه د حکمت،سياست،ټولنيزو مصلحتونو او د الهي قوانينو د پلي کولو له مخې او همداراز د جاهليت د کبرلي او رټلي ناسوليز دودونو د له منځه وړ په موخه وو. نه د ځاني غوښتنو او ځارويزو غرايزو د اشباع کولو په موخه.

**هغه مېرمنې، چې ځانونه يې بې مهره رسول الله(ص) ته وربښلې وې**

نورې مېرمنې هم وې، چې ځانونه يې بې مهره رسول الله (ص) ته بښلي وې،له دې بښنې ته مراد، چې په قرآن کريم کې په ((وهبت)) ټکي تعبير شوی،دادی يو لړ مېرمنو له رسول

[1]. احزاب/۳۷
[2] حليه ابونعيم ۳۵/۲ د زينب ژباړه او د آيت تفسير ته د مجمع البيان تفسير ته مراجعه وکړئ

الله(ص) غوښتل، چې په اسانه ورسره بې له مهر ورکولو واده وکړي،په سیرتونو او تاریخونو کې په دې نامه د څو مېرمنو نومونه راغلي دي، چې له هغوی څنې یوه یې ((خوله)) د حکیم لور ده.

**۱۲) خوله د حکیم هلالیه لور:**

خوله له هغو مېرمنو څنې وه، چې ځان یې رسول الله ته وربښلی و،رسول الله(ص) ځواب په څنډه ورکړ او دا د رسول الله(ص) په کور کې خادمه وه، چې رسول الله عثمان بن مظعون (رض) ته ورنکاح کړه او د عثمان تر مړینې یې په کوره کې وه.[۱]

[۱]. د ابن سعد طبقات ۱۵۸/۸.

**۱۳)یوه بله مېرمن**

سهل ساعدي روایتوي:

یوه مېرمن رسول الله ته راغله او ځان یې وروباښه.هلته یو مسلمان،و یې ویل: رسول الله (ص)! که دې مېرمن ته اړتیا نه لرئ؛ نو ما ته یې راواده کړئ. آنحضرت(ص) وویل: څه لرې، چې په مهر کې یې ورکړې؟ و یې ویل: همدا کمیس، چې پر تن مې دی.آنحضرت (ص) وویل:که کمیس دې ورکړ؛ نو په خپله به بربنډ شې،بل څه وموه. و یې ویل: هېڅ نه لرم. آنحضرت (ص): ان د اوسپنې یوه ګوته هم نه لرې؟ و یې ویل: نه یې لرم. آنحضرت (ص): د قرآن له سورتونو دې کوم زده دی؟ و یې ویل: پلانی سورت،پلانی سورت او د قرآن څو سورتونو یې وښوول. آنحضرت (ص):دا مېرمن مې د هغو سورتونو د مهر په بدل کې در واده کړه، چې له قرآنه دې زده دي.

په سیرتونو کې د یو لړ نورو مېرمنو نومونو هم راغلي، چې ځانونه یې رسول الله ته وربښلي وو؛ لکه:

((ام شریک)) او ((ام لیلی))، چې ځینو یې رسول الله ته تر رارسېدو د مخه د اسلام په لار کې خورا سختی ګاللې وې او په دې کتابونو او سیرتونو کې ټینګار شوی، چې رسول الله(ص) یو له دې مېرمنو سره هم واده نه و کړی.

ځانګړی حکم یو ځانګړي وګړي ته

په تېرو مخونو کې په مدینه کې د مؤمنو مېرمنو سختیو او بېچارګیو ته لنډه اشاره وکړه او هم ومو لیدل، چې څنګه د اسلام د لوړو موخو لاس ته راوړو ته د عرب له سرغړاندو ټبرونو له مېرمنو سره د رسول الله واده یوه اړتیا برېښېده.اوس ددې په پامنیوی، چې هر مسلمان وګړی کولای شی، چې له څلورو مېرمنو سره واده وکړي او ګورو، چې رسول الله(ص) له دې حکمه مستثنی کېږي.دا مستثنی په دې آیتونو کې داسې په ډاګه شوې ده:

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ وَكَانَ اللَّهُ غَفُوراً رَّحِيماً.تُرْجِي مَن تَشَاء مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَن تَشَاء وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ذَلِكَ أَدْنَى أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَكَانَ

اللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا .لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاء مِن بَعْدُ وَلَا أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيبًا [1]= پېغمبره! په واقع کې موږ درته ستا هغه مېرمنې حلالې کړې دي، چې تا يې مهر ورکړی دی او همداراز وينځې، چې خدای د غنايمو له لارې درکړې او ته يې واکمن شوی يې او ستا هغه د ترلې او د ترور لوڼې او د ماما لوڼې او د توړې لوڼې، چې درسره يې هجرت کړی دی؛(نو له دوی سره درته نکاح کول حلال دي) او (همداراز) هغه مؤمنه ښځه، چې خپل ځان پېغمبر ته وبښي (او ځان ته مهر و نه غواړي) او پېغمبر هم ورسره د نکاح هيلمن وي؛ خو دا ډول نکاح يوازې تا ته روا ده؛ نه نورو مؤمنانو ته؛په يقين موږ ښه پوهېږو، چې هغوی ته مو د مېرمنو او وينځو په اړه مقررات ټاکلي دي (او مصلحت يې کوم حکم ايجابوي) دا ددې لپاره (چې د رسالت په ترسره کولو کې) درته کومه ستونزه نه وي (او له دې لارې ډېر ملاتړي برابر کړې) او خدای ډېر ښښونکی (او) لورين دی. د هرې يوې مېرمنې(نوبت) دې که غواړې، ځنډولای شې او هره يوه، چې غواړې؛ نو له ځان سره يې ساتلای شې او که له هغوی له هرې يوې، چې تا ځان ګوښه کړی (؛ نو که) بېرته يې راوغواړې؛ نو پر تا څه ګناه نشته (په دې غوراوي او واک کې) ډېر نژدې دی، چې سترګې يې يخې (او خوشحاله) شي او خپه نشي او ستا په ورکړه ټولې خوشحاله شي او څه چې ستاسې په زړونو کې دي،خدای پرې پوهېږي او خدای پوه زغمناك دی.(د خپلو بندګانو له مصلحتونو باخبر دی او په سزا ورکولوکې يې بېړه نه کوي). تردې روسته تا ته نورې ښځې روا نه دي او نشې کړای، چې پر ځای يې نورې ښځې وکړې [=ځينې طلاقې کړې او نورې نکاح کړې] که څه هم ښکلا يې ستا خوښه وي(؛ خو) بې له وينځو او خدای پر هر څيز څارن دی (او په دې حکم مو له تا د عربو د ټبرونو دباو لرې کړ، چې ښځې ترې نکاح کړې).))

په خپله د خدای حکم و، چې په دې آيت کې پرې ټينګار شوی دی او په پايله کې يې رسول الله (ص) ته لار پرانستې، چې څومره په صلاح ويني،اقدام دې وکړی او رسول الله هم د خپل واده په باب هغه کول، چې په صلاح يې وو، چې د عمر تر پايه يې د مېرمنو شمېر نهو تنو ته ورسېد؛البته دا چار نه له هغه پلوه، چې نهه مېرمنې درلودل رسول الله (ص) ته جايزې وې او نورو نارينه وو ته څلور مېرمنې.

په تېرو آيتونو کې د رسول الله د آزادۍ بريدونه يې بې د مېرمنو له ښکلا وټاکل شول، چې بې له مصلحت انديشۍ بل څه کېدای نه شول،شونې ده، د همدې دليل له مخې وي له نورو مېرمنو

---

[1]. احزاب ۵۲-۵۰

سره واده کولو ته د شته مېرمنو د پرېښوولو-چې مسلمان نارينه پر نورو څلورو مېرمنو د بدلولو په موخه نکاح کړيو ښځو ته د طلاق اجازه ولري -اجازه نه ده ورکړې.رسول الله(ص) له خپل دې واکه او همداراز د اسلامي لوړو موخو لاس ته راوړو ته او د مانيزې سياسي مشرۍ او د هغې ورځې د ټولنې د پتمنو مېرمنو انساني اړتياوو پوره کولو ترې ګټنه وکړه.
خو د مکې تر سوبې روسته، چې د مسلمانانو حالات سمبال شول؛ نو تر هغه روسته رسول الله(ص) له يوې مېرمنې سره هم واده و نه کړ؛ ځکه له دې حکمه ګټنې ته اړتيا نه وه پاتې.

## له ښځمنو سره د پيغمبر(ص) کړچار

ځينې وخت پردي يا پردي پال د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم په ځينو کړنو نيوکې کوي او روسته صهيونيستي رسنۍ او په استکبار پورې اړوند ډونډورچيان دې مسالې ته لا پوکی ورکوي. موږ مسلمانان چې په دې پېر کې ژوند کوو، بايد دغسې ټکيو ته مو په ټينګه پام وي د دوی نيوکې او تبليغاتي دود سم وڅېړو او پر وړاندې يې کوټلي انديز ګامونه واخلو، هر ټکي، غونډلې (جملې) او پاراګراف ته يې منطقي ځوابونه ورکړو، په لومړي ګام کې ليک او وينا مو دفاعي ښه ولري او ورپسې يرغليز. دلته چې څه لولئ د دغسې ليکنې پښتو ژباړه ده، چې ځينو پرديو د اسلام د ستر رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم او د بشريت د لارښود پر ((ګڼ ښځی)) نيوکه کړې او يو ديني ټولنپوه انديال ځواب کړې ده. موږ ددې لپاره چې ځوان کهول له خپل دين، پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ، اسماني کتاب او ملي او انساني ارزښتونو دفاع وکړای شي، دا شننه دروړاندې کوو او تمه ده چې درګټوره وي.

## ښځه د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له نظره

((په پېر کې مو د ښځې مساله، د احساس او ټولنې له نظره اوڅار ده او داچې تراوسه ((علم)) دا مساله هواره کړې نه ده؛ نو هرومرو د "ګروهې" او عقيدې په پړاو کې پاتې ده؛ نوځکه دهغو مسايلو په څېر چې علم تراوسه پرېکونی ځواب ورکړی نه دی له ناچارۍ "فلسفه" [اندود او ګروهيز ښوونځی]، "دين"، "سنن"، "پسند" (ذوق، احساس، لېوالتياوې، روحي او ټولنيز حساسيتونه) او (وګړيزې او ټولنېزې) "اړتياوې" يې تفسيروي او مخونه ورکوي. په همدې پار، په هر "ښوونځي" يا "وخت " يا " يوې ټولنې" کې په يو ډول خبرې پرې کېږي او طبيعي ده

کوم ليکوال چې د پيغمبر صلى الله عليه وآله وسلم په ژوند کې دا مساله څېړي په دې نه دی بريالی شوی، چې ځان له مخکېني قضاوتونو [چې د پينځو عواملو؛ فلسفې ، دين، سنن ، پسند او اړتيا زوکړه ده] ازاد کړي. نوځکه د نارينه له نظره، په ټولنه، "ژوند" او "احساس" کې د ښځې انګېرنه ښه ډېره له "زمانې" او "چاپېرياله" رنګېږي او څرګنده ده په دغسې يوې مسالې کې څېړنه چې په هر پېر او ټولنې کې ځانګړې بڼه خپلوي، دومره ستونزمنه ده چې که يو څېړندوی خپل ليد له ګروهو، عقايدو، دودونو او د خپلې زمانې او چاپېريال له پسندونو ونه زېږوي او د "مخکېني قضاوتونو " له آفته بري الذمه نشي ــ او زما د ستراستاد پروفيسور ژاک برک په وينا: " د بل پېر او چاپېريال مساله دهماغې زمانې او چاپېريال په سترګه ووينه او وسنجوه " ــ د واقعيت له ليدو، څنګه چې و ، بېوسېږي او څه چې وايي هسې په هسې دي.

د ښځې مساله چې له بېلابېلو اړخونو څېړلای شو ، دومره د چاپېريال او زمانې ايل او تابع ده ، چې کله يې ډېری انساني ترين آرونه او دودونه په بل چاپېريال او زمانې کې د يو انساني ضد جنايت بڼه خپلوي. ګڼ ښځيتوب همدغسې دی. بېشکه د زمانې وجدان مو د ښځې په هکله له دغسې ناوړه سپکاوي ټکنی کېږي؛ خو په تېرو او په تېره لومړنيو ټولنو کې، دې آر کونډو او پلارمړيو بچيانو ته يې دا شونتيا ورکوله چې خپله راتلونکې (چې فقر، نېستی، اندېښمنی او فساد ګواښله) د يو نارينه په سيوري کې (چې په هماغه وخت کې د ښځې او کوشنيانو يوازېنی پناه ځی و) تضمين کړي او کومې کورنۍ چې په سره مرګ يې ــ چې غالباً په تېرو کې نارينه وژل کېدل ــ خپل پالندوی له لاسه ورکاوه او د منځه تلو په درشل کې وې ، له سره، د نارينه تر پالندوينې لاندې خپل ژوند تنظيم کړي.

څېړونکيو په روستيو کلونو کې په اسلام کې د ښځو حقوق څېړلي، د تاريخ سترو سمونپالو او انديالو غالباً يا ښځه ناليدلې ګڼلې او يا يې ټيټ ورته کتلي؛ خو حضرت محمد (صلى الله عليه واله وسلم) يوازېنی شخصيت دی، چې په ټينګه يې د ښځې برخليک ته ورپام او ددې انساني حيثيت او ټولنيز حقوق يې ورکړي. ښځې ته يې د وګړيز مالکيت حق او اقتصادي خپلواکي ورکړې او په عين حال کې نارينه ژمن دی چې د ښځې ژوند سنبال کړي، داسې چې ان له مېړه خپل کوشنی ته د تي ورکولو اوجوره او حق واخلې او هم ښځې ته مهر ورکړي، چې دا چارې دښځې د شخصيت استازولي کوي او هم د راتلونکيو سپېرو او شومو احتمالاتو پر وړاندې يې اقتصادي ملاتړ دی. دغسې له نارينه وو سره حقوقي او ديني مساوات لري او دا هغه عوامل دي چې ښځه په ټولنه کې خپلواکه او ځواکمنوي، چې نارينه پرې سرزوري او استبدادي برلاسي درلوده. اسلام ، په عين حال کې چې د نارينه او ښځې ترمنځ له شته "

تبعیضاتو" سره سخته مبارزه کړې؛ خو د دواړو ترمنځ له "مساوته" هم پلوي نه کوي او په بله وینا نه د تبعیض پلوی دی او نه پر مساوات گروهن دی؛ بلکې هڅه کوي چې هر یو په ټولنه کې، پر خپل" طبیعي مقام" کېنوي.
تبعیض جنایت بولي او مساوات ناسم گڼي. له تبعیض سره انسانیت مخالف دی او له مساوات سره طبیعت. د ښځې طبیعت، نه تر نارینه ټیټ او پرېوتی بولي او نه یې په څېر. په ژوند او ټولنه کې د دواړو طبیعت د یو بل "مکمل" دی؛ نوځکه اسلام ، د غربي تمدن پر خلاف، دوی ته د "طبیعي حقوقو" د ورکړې پلوی دی، نه د "مساوي او ورته حقوقو".
په عمل کې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم هڅه کوي، کوم حقوق او شخصیت چې اسلام ښځې ته قایل دی، ور یې کړي. له ښځو د نارینه وو په څېر بیعت اخلي (رای ، ژمنه او د خپل گروهیز ښوونځي له مخې ټولنیزه او سیاسي ژمنه) د نارینه وو په څېر یې د خپلو "اصحابو" په لیکه کې ورځایوي. خپله کوشنۍ لور فاطمه، د خلکو په مخ کې په غېږ کې کېنوي او له خلکو سره د خبرو اترو پرمهال یې نازوي او په دې کار ته وا په لویې لاس عربو ته ــ د قرآن په وینا د لور له زوکړې چې به خبر شو له خپگانه به یې مخ تک تور شو او غوسه یې خوړه او کله یې نه زغمله او ژوندی یې ښخوله ــ ورښیي چې لور ننگ نه؛ بلکې د زوی په څېر گران اولاد دی. علي (ک) چې د فاطمې لپاره مارکه پرې وکړه؛ نو پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په څه ادب، ښکلا، لطافت او نزاکت اجازه ترې غواړي ! له شرم او نجابت سره اخېرلې څرگندتیا؛ د فاطمې بي بي د وره شاته درېږی، وایي: ((فاطمې، علي ابن ابی طالب دې نامه اخلي))
پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یې ځواب ته چوپ درېږي. د فاطمې منفي ځواب دا و، چې ور، رو بند کړي (جراحت) او رغنده ځواب دا دی چې څه ونه وایي (شرم).
فاطمه بي بی چې واده شوه، پلار یې هره ورځ ورځي، له وره دباندې درېږي، د ورننوتو اجازه اخلي او په سلام اچولو کې پرې ورمخکې کیږي.
له خپلو مېرمنو سره یې چلن دومره په ادب، نرمۍ او مهربانۍ و ، چې د هغې ورځې په تاوتریخجنې
ټولنې کې هېښنده برېښېده. هغه نارینه چې له کوره دباندې د ځواکمنۍ او عظمت ښکارندوی و؛ خو په کور کې دومره نرم، ساده او مهربان چلېږي، چې مېرمنې یې پرې برنډ سترگې شوې وې، ښکاره یې لانجه ورسره کوله، بې پروا خبرې یې کولې او د ده له ځورونې یې دریغ نه کاوه. یوه ورځ سخت ترې وکړېد ــ د معمولي دود پرخلاف، چې ښځې یې له کوره شړلې،

چې اوس هم ځينې دغسې کوي ـ خپله له کوره ووت او په يوې منا کې چې يوې خوا ته يې غله دانه پرته وه ، هستوګن شو. منا ته به پر يوه ډډ ورخته او داچې څوک يې مزاحم نشي تر ورختو روسته به يې لرې کاوه. يوه مياشت له خپلو مېرمنو سره غوسه و او دومره خپه و، چې ان جومات ته هم نه تله او خلک هم خپه او پرېشانه شوي وو. حضرت عمر (رض) د خلکو په ازستازيتوب ورغی او د خبرو اجازه يې ترې وغوښته، اجازه يې ورنکړه؛ خو حضرت عمر (رض) پيغام ورولېږه که انګېرې چې د خپلې لور په باب به خبرې درسره وکړم خو ترې کرکجن يم او که اجازه يې راکوې ښځ به يې ورپرې کړم. د ننوتو اجازه يې ورکړه. حضرت عمر (رض) وايي: ((چې ورننوتم ، د غلې د ډېري ترڅنګ پر پوزکي پروت دی، چې راپاڅېد پر اړخونو يې د پوزکي چاپې وې، سخت مې وژړل)). رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم چې حضرت عمر (رض) غمجن ويني، له دنيا د کرکجنتوب او د پرهيزګارۍ د خوند خبرې ورسره کوي او حضرت عمر (رض) اراموي.

د ښځو چلن يې د ژوند يو له سترو ستونزو ځنې و او دا طبيعي ده؛ ځکه د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم روح او اندې ډېر واټن ترې درلود او پردې سربېره ، دهغې ورځې ښځې د مينزو به څېر خوارې سپکې ګڼل کېدې، د دغسې آزادۍ او درناوي وړتيا يې، چې يوازې يې د محمد عليه السلام په کور کې احساسوله، نه درلوده او دا يو حقيقت دی چې نن تر ټولو ډېر او تر بل هر وخت ورسره اشنا يو.

پر نا شخصيته د شخصيت ورتپنه، په پيل کې له تشنجاتو، رنځور ډولو او کله خطرناکو غبرګونونو سره مل وي. کومه خبره چې د حضرت عمر (رض) له خولې روايت شوې، په ډاګه راښيي چې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په زمانې کې ژور ادلون بدلون رادبره شوی و. حضرت عمر (رض) وايي: ((پر الله قسم په جاهليت کې مو په يوه کار کې هم ښځې نه شمېرلې، تردې چې الله آيتونه نازل کړل او څه برخه يې ورو‌ټاکله. کله مې چې په يوه کار کې سلامشوره کوله، مېرمنې مې وويل: دغسې او هاغسې وکړه ، و مې ويل: زما په کار کې دې څه کار؟ ويې ويل: هېښتيا ده ، نه غواړې څوک دې په کار کې دخالت وکړي؛ خو لور دې له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره ناندرۍ وهي او کار تردې بريده رسوي، چې کری ورځ غوسه وي. څادر مې راواخست، له کوره راووتم او حفصې کره ورغلم ، و مې ويل: لورې ! له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره ناندرۍ وهې، تردې چې کری ورځ غوسه وي؟ حفصې (بي بي) وويل: هو، ناندرۍ ورسره وهم. و مې ويل: ځان د الله له سزا او د رسول له

غوسې بچ کړه ! لورې، ته دې ښځې [ يعنې عايشې بي بي ] ته مه ګوره (ځان مه ورسره پرتله کوه) چې په خپلې ښکلا او د پېغمبر د مينې له وجهې غره ده...))
يوه ورځ حضرت ابوبکر او حضرت عمر ويني، چې له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم يې مېرمنې راټولې دي او له خپلې تنګسې په تونده او ګستاخۍ شکايت ورته کوي، نفقه ترې غواړي او پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم چوپ او په خپګان يې اوري او پر خوله يې ترخه موسکا ده. سترګې يې پر حضراتو ابوبکر او عمر ولګېدې، ګيله ورته کوي، دوی هغه څه راڅخه غواړي چې يې نه لرم. دواړه پاڅېږي او خپلې لونې وهي او دوی چې له دغسې ژبې سره ډېرې اشنا وې، ارامېږي او ژمنه کوي، څه چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم نه لري تمه به ترې نه کوي. چلن يې پلرونو او هم مسلمانانو ته چې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له ځورونې کړېدل د زغم وړ نه و؛ خو پېغمبر دا هرڅه زغمل، چې د خپلې وحشي او تاوتريخجنې ټولنې نارينه وو ته تازه سبق ورزده کړي او خوارو او بې برخې کړای شويو ښځو ته تازه شخصيت ورډالی کړي.
د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم د مېرمنو د ناخوښۍ يو بل علت دا و چې لږ و ډېر يې اورېدلي و، چې د ايران د خسروانو ، د روم د قيصرانو د يمن، غسان، خيره او مصر د اميرانو او پاچايانو ښځې په دربارونو کې بادبدبه ژوند کوي؛ خو دوی هم د ((عربو د پاچا)) مېرمنې دي او په مياشتو مياشتو يې له چارګې دود نه خېژي. د اوربشو له ناغلبېله اوړو روټۍ پخوي او دا يې تاوده خواړه دي، په دسترخوان يې غالباً اوبه او کجوري دي او بل هېڅ !
د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د مېرمنو ترمنځ لانجه تردې بريده شوه چې وحې راکېوته، وړانديز يې وکړ، هر يوه چې دنيا غواړئ مهر مو پوره واخلئ او د زړه په غوښت ازادانه ژوند خپل کړئ او هر يوه چې الله او آخرت غواړي، ځان دې له محمد صلی الله عليه وآله وسلم ، له تنګسې او فقير کور سره ساز کړي. ښځو، فقر او محمد صلی الله عليه وآله وسلم غوره کړل او يوازې يوې يې دنيا غوره کړه؛ خو دنيا بې وفا يې ورسره وکړه او برخليک يې سپېره و. رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ويل ((له دنيا مو درې څيزونه راته ګران دي: عطر، ښځه او لمونځ مې د سترګو روښنايي ده)).
له خپلو مېرمنو سره په عدالت چلېده او هره شپه له يوې سره و؛ خو عايشه بی بي ورته ډېره ګرانه وه. عايشه بي بي يوازينۍ انجلۍ وه ، چې کور ته يې راغلې ده، نورې ګردې کونډې وې، چې د سياسي يا اخلاقي مصلحت له مخې يې ښځې وې.

عايشه بي بي له ښکلا او ځوانۍ، ځيرکه، هوښياره، پوهه، ښه وياند‌ه او د ښه قدوقامت، ښېې او وضع خاونده وه او پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ورته د زړه له تله ګران و او د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له نورو ښځو او هم له فاطمې بي بي او علي (ک) سره چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته ګران وو، سخته کينه درلوده. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يې په ليدو او خبرو اترو د خپل سياسي ژوند ډېرې سختۍ او ستړياوې تسکېنولې. کله به چې د ډېرو اندېښنو او درنو سوچونو تر دباو لاندې ستړی کېده، عايشه بي بي به يې راغوښته ورته يې ويل: ((کلمين يا حميری: حميرا ، خبرې راسره وکړه)).

مسيحي مبلغانو او هغه ليکوالان چې په لوی لاس او يا د دوی د ديني يا سياسي تبليغاتو تر اغېزې لاندې دي، هڅه يې کړې چې د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم په پياوړې او غښتلې روح کې کمزوری ټکی پيدا کړي او داچې د مسيحيت اخلاقي روزنه د ښځې ښکلا د شيطان غولونه ګڼي او ښځې ته څوبتيا فساد او ځوړتيا بولي، داسې چې واده نه کول د خدای د خوشحالۍ لامل او د ديني تقوا ساتنه شمېري او همداراز د اوسني اورپايانو ګڼ ښځي بده ايسي؛ نوځکه هڅه يې کړې چې له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم څخه يو شرقي ((دئن ژون)) جوړ کړي چې پر ښځو مين دی او د ختيځ د پاچايانو په څېر حرمسرای جوړوي. دوی د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم پر ګڼ ښځي او د زينب بنت جحش پر داستان ډېرې ډنډورې راولاړې کړې دي. ګروهن يم ښځه د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم په ژوند او احساس کې نه يوازې کمزوری ټکی نه دی، بلکې د دې ستر روح يو ځلاند او ښکلی اړخ دی، تردې چې مصري ليکوال ارواښاد عباس محمود عقاد وايي، مسيحي مبلغانو او استعماري ليکوالانو هڅه کړې، چې له دې لارې د اسلام پر مقتل ګوذار وکړي؛ خو سخت تېروتي؛ ځکه دلته يو مسلمان ته چې خپل دين پېژني او د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له سيرته خبر دی تر هر څه د حقيقت تجلا ورته ساده او څرګنده ده او کوم مقتل چې دوی انګېرلی، خپله دمخه دليل نه درلودونکی دی ، چې مسلمان ته کفايت کوي او د خپل پېغمبر درناوي او پر دين يې د لګېدلو تورونو سپيناوي ته بل دليل ته اړمن نه دي ، ځکه يو مسلمان د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم نبوت په رښتيا بولي او له مخې يې له خپلو ښځو سره چلن او ګڼ ښځي سمه ګڼي.

موږ دلته د مسالې د سپيناوي لپاره لومړی د حضرت زينب او ورپسې د نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم نورو مېرمنو حالات تشريح کوو.

## حضرت زينب د جحش لور

زينب بي بي د جحش لور او د عبدالله (رض) خور ده. عبدالله (رض) ستر مهاجر دی چې له وياړه ډک ژوند يې په شهادت پای ته ورسېد. په قريشو کې د جحش کورنۍ پر اصيلتوب مشهوره ده او زينب بي بي د جحش ښکلې لور د عبدالمطلب د لور له اړخ لمسۍ ده، نوځکه د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د ترور (عمه) لور هم ده. زيد بن حارث يو مريی دی چې په شام کې يې نيولی و او برخليک د خديجې بي بي کور ته راوست او نوموړې خپل مېړه، محمد صلی الله عليه وآله وسلم ته ورډالۍ کړ. حارث د شام له اشرافو څنې و، د زوی په لټه کې مکې ته راغی، ويې موند او د ده له مولا يې وغوښتل چې زيد پرې وپلوري او حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم هم ورسره ومنله؛ خو زيد نټه وکړه او مريتوب، مسافري او غربت يې د خديجې بي بي په محمدي کور کې پر آزادۍ، هېواد او د خپل موروپلار په څنګ کې تر اوسېدانې غوره وګاڼه او بېشکه خپل پلار ته يې چې د خپل د اسير زوی موندنې ته يې خورا کړاونه ګاللي و او د ده بوتلو ته بې تابه شوی وويل: ((د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم په څېره کې داسې صفا وينم چې زړه ترې شکولای نشم.)) حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم چې د زيد وفا او وړتيا پېژنده او اوس ځان تر حارث څخه زيد ته ګران ګڼي؛ نو بې درنګه يې ازاد کړ او زوی يې ورتهووايه او له ټولو يې وغوښتل چې تردې روسته، نه زيد بن حارثه د محمد مريی؛ بلکې ((زيد بن محمد بن عبدالله)) يې ونوموي او په دې توګه هم زيد پلار او له لاسه ورکړی هېواد ترلاسه کړ او هم محمد صلی الله عليه وآله وسلم په خپل ماتم ځپلي کور کې د خپلو دوو تازه مړ شويو زامنو قاسم، عبدالله (طيب او طاهر) تش ځای پرې ډک کړ.

د محمد عليه السلام او زيد ترمنځ سخته مينه د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د ژوند يو له ښکليو څرکونو څنې ده. زيد د نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم په کور کې لويېده، پلار يې پېغمبر و، مور يې خديجه بي بي، خور يې حضرت زهرا او رور يې علي (ک) دی ! او دا ځيرک شامي ځوان، چې استعداد او وړتيا يې له متمدنې ټولنې او خپلې برجسته کورنۍ په ميراث وړې، دهغې کورنۍ پنځم غړی شو، چې شپږم يې خدای و او زيد ور پر برخه شوې نېکمرغي وپېژانده، مخه يې ځان ته پرانېسته او ځان ته يې څه هېښنده برخليک وټاکه !

زويولي (تبني) په عربو کې دود و. کوم مريان چې به د خپلو بادارانو خوښ شول، ازادېدل او له مريتوبه زويولی ته ورپورته کېدل؛ خو په عين حال کې په ټولنيز چاپېريال کې يې د ((مولی)) د غلامۍ خاطره لا ژوندۍ وه او د وضع بدلون، که څه يو تازه ((ټولنيز حقوق)) ورته

تامينول؛ خو ((ټولنيز حيثيت)) يې هماغسې ټکنی پاتېده او هډو ازاد کړای شوي انسان ته يې د ((ازاد انسان)) په سترگه نه کتل او ((زويولي)) د ((زوی)) ځای نه نيوه. مولی نه يوازې له روحي او ټولنيز حيثيته تحقيرېده او مانيز او اروايي محروميت يې ننگېره؛ بلکې له ډېری ټولنېزو حقوقو هم بې برخې و او ځو تبعيضاتو له نورو بېلاوه او يو له دوی ځنې له هغې ښځې سره د نارينه د واده شرم او ننگ و، چې مخکې يې د مريي مېرمن وه. رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم هڅه کوله ټول هغه تبعيضونه لغوه کړي، چې ازاد کړای شوی (مولوی) له ازاد (حر) جلا کوي او ترمنځ يې د حقوقو مطلق مساوات تامين کړي. همدغسې غوښتل يې له يادوونو يې د مريتوب خاطره وڅنډي او په ټولنه کې يې چې کوم حقارت او سپکاوی ننگېره، له منځه يوسي او ټولنيز، مانيز او روحي شخصيت او حيثيت ورکړي چې هغه کس چې د خپلو حقوقو ازادي ترلاسه کوي خپل وجدان او هم د ټولنې وجدان يې يو ازاد انسان، نه ازاد کړای شوی وننگېري. په همدې پار رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د سترو او حساسو ماموريتونو په ورسپارلو هڅه کوي، چې زيد د يو مهاجر او ((شريف)) صحابي په څېر معرفي کړي؛ په مدينه کې يې خپل ځايناستی کوي او له روم سره د جگړې د ستر پوځ بولندوی يې گوماري، حال داچې د حضراتو جعفر بن ابيطالب، عبدالله بن رواحه او خالد بن وليد په څېر ستر شخصيتونه پکې ساده پوځيان وه. په حساسترينو مسايلو کې سلامشوره ورسره کوي، پر مهمو سريه و يې پالندوی ټاکې او ان زلمی زوی يې اسامه د ((افک)) [چې يوه کورنۍ مساله وه] په خطرناک کار کې د علي بن ابيطالب (ک) په کتار کې سلامشوره ورسره کوي. رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د ژوند په روستيو ورځو کې اتلس کلن اسامه له روم امپراطورۍ سره د جگړې بولندوی ټاکي او د حضراتو ابوبکر او عمر په څېر شخصيتونه پکې گډون لري. دا گردې هڅې ددې لپاره دي ؛ لکه څنگه چې په اسلامي ټولنه کې ازاد کړای شوي له ازادو سره برابر دي، دغسې د مسلمانانو په احساس کې هم برابر وبرېښي. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم هوډ وکړ چې زيد ته د عربو له اشرافو يوه انجلۍ راواده کړي، چې هم هغه سپکاوی له منځه ولاړشي چې د پرديو په شخصيت او په تېره ازاد کړای شويو بندگانو کې ننگېرېده او هم کورنيز تعصبات ــ چې په تېره په واده کې رابرسېرېږي – هېر شي، په عين حال کې پوهېده چې د هېڅ صيب لور به د دغسې کس مېرمنتوب ته غاړه کېنږدي؛ نو په همدې پار يې هوډ وکړ چې زيد ته له خپلو خپلوانو يوه انجلۍ په نامه کړي او په دې باب پر انجلۍ او خپلوانو يې له خپل نفوذه هم کار واخلي؛ نوځکه زينب، خپله ترورزۍ، غوره کوي؛ خو لکه څنگه چې وړاندوينه کېده، رور يې عبدالله (رض)، سره له دې چې له پاکو او سرښندونکيو مهاجرينو ځنې و، دا يې خپلې

کورنۍ ته ننګ وګڼله او ويې نه منله. رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ټينګار وکړ او ددې ټينګ جاهلي دود ماتولو ته يې سخته هڅه وکړه ، تردې چې د وحې پيغام، عبدالله (رض) او خور يې زينب، ناچار ، تسليم کړل: ((کله چې خدای او استازی يې پر يو چار امر وکړي، هيڅ ايمانوال نارينه او ښځې ته په خپل کار کې څه واک نشته او څوک چې د خدای او د ده له استازي سرغړونه وکړي، په ښکاره بېلارېتوب کې ورلوېدلی دی.)) رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم خپله د زينب مهر ورکړ او هغه واده ترسره شو، چې يو ناوړه دود يې ماتاوه او يو نوی انساني دود (سنت) يې ځايناستی کاوه. خو دا پيوند او کوښېر څومره چې په ټولنه کې سعادت خپروونکې و؛ خو په کور کې بد پای و او زينب هډو خپل کورنيز شرافت او د زيد ټولنيز سپکاوی هېروای نشو او تل يې په دې باب زيد ته پېغور ورکاوه او ځوراوه يې؛ زيد به پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته ددې چلن شکايت کاوه او پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم به زيد زغم ته اړ ايسته او دواړه يې ګوذارې ته وربلل. زينب که څه د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په حکم له زيد سره واده ته غاړه کېښووه؛ خو هډو زړه يې نه و؛ ځکه زړه يو بل اقليم دی چې بې له عشق او مينې هيڅ قدرت واک او حکم پرې چلولای نشي او زنيب همدغسې وه. هغه تړون او پيوند چې پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په ډېر زيار رادبره کړی و، هره ورځ اومړی کېده او زينب هره ورځ له هغه چا سره له اوسېدو بې تابه کېده چې ننګېرله يې يوازې د يو مصلحت په پار پر سينه يې ګټ ورايښوول شوی او د يو مصلحت په پار يې خوله ور ټپه شوې ده او زيد هم مونده چې واده يې له داسې ښځې سره دی چې ځان ترې ډېر لرې او جيګ ګڼي اوويني چې ورځ تر بلې ترې لرې کېږي او پر کړاو يې کړاو لا ورزياتېږي او نازړی واده مېړه او ښځې د ژوند خوند، شېبه په شېبه پيکه کاوه او د چاله وسې هم څه نه کېدل.

بېشکه، د شاندل په وينا ((کوم زړه چې مينه غواړي، صاحبدل په خپل ورکي پسې ورلېږي او تر موندو نه آرامېږي. خدای، ازادي، پوهه، هنر، ښکلا او دوست، د غوښتنې به بېديا کې، پر لار يې ورته سترګې پر لار دی، چې نوموړی به خپله تشه او په دوړو ککړه کوزه له کومې يوې سرچينې ډکه کړي.)) د زينب په اننګو کې يې د دننني اور د لمبو نښې ښکارېدې. انديښنو او ناآراميو يې زړه خورا ورتنګ کړی و، نوځکه د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پر وړاندې چوپتيا ورته ستونزمنه او دردناکه وه. پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ددې حالت پر وړاندې سترګې ټيټې او سر په ګرېوان کې ښکته کړ او په بيړه ستون شو. خو زينب چېرې ولاړه شي؟ د زيد ليده کاته پرې درنېدل، د اسمان هومره دباو پرې و او د ده سا يې نيوه. د هرې څېرې

ليدل او د هرې خبرې اورېدل ورته کړښت و، يو سوړ کور چې دوه پردي پکې ناست دي، تراخه، کرکه او چوپتيا يې خپله کړې ده او د هېڅ په انتظار کې شېبې پرې اوړي، خوشې تګ راتګ او لمر ختل او پرېوتلويني، که ناڅاپه له درېځي يوه لمبه راولوېږي کور اور اخلي ، چې نه زينب او نه زيد د يوې شيبې پاتېدو وس نه لري. زيد، دردمند و له کوره راووت او پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم ته يې پناه وروړه او په ټينګه يې له خپل مهربان پلار ويلي وغوښتل چې دواړه سره جلا کړي، چې نور يو بل زغملای نشو. زيد ته پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم ډېر ګران و او له لورونو يې خورا سرشار و؛ خو پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم ته، دا " يوه پېښه وه " په اړه يې سوچ کاوه او چاره يې ورته لټوله؛ خو نه يې مونده. پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم سخت غمجن او اندېښمن دی، په داسې تنګسه کې راګير دی چې د تېښتې لار ورته نشته. د زينب او زيد د ژوند غځونه محاله ده، ژغورنه يې په بېلتانه کې ده او پردې سربېره د زينب پر وړاندې چې همده پر دغسې يو برخليک اخته کړې او خپله خپلوانه يې د خلکو د مصلحت قرباني کړې، دروند مسووليت احساسوي او له دې سره سره ايا د هغه درد پر وړاندې چې زينت همدا اوس سخته کړوي او خپله پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم يې د کړښت سرچينه ده، "بې توپيره" کېدای شي او په اړه يې هېڅ سوچ ونه کړي؟ او له زيده تر بېلتون روسته، بې هيلې په درد ناک برخليک يې خوشې کړي ؟

دا بشري "واقعيتونه" دي چې پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم ورسره مخ دی او پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم چې د بشر "واقع پالی" اخلاقي او ټولنيز مشر او لارښود دی، هېڅ " واقعيت" ناليدلی نه بولي او نه يوازې چې جګړه ورسره نه کوي؛ بلکې د اسلام او پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم يو له خورا سمو او ځلاندو ځانګړنو پر واقعياتو منښته او اعتراف دی. جګړه ، غوسه ، غچ ، د ژوند خوند، ښکلا، هوس ، شتمني، د تړون ماتول او د بل تړنه او ان د يوې مېرمنې درلودو له چوکاټه وتل داسې واقعيتونه دي، چې وګړی او ټولنه ورسره مخ ده او ډېرو ټولنيزو فلسفو، عرفاني ښوونځيو او مذاهبو هڅه کړې چې دوی ناليدلي وګڼي او يا مبارزه ورسره وکړي ، چې له منځه يې يوسي او وينو چې برياليي شوي نه دي؛ ځکه هر واقعيت چې ناليدلی وبولو ، نو ځان به په ناوړه او خطرناکه بڼه راښکاره کړي او که مخامخ ورسره نشو؛ نو تر شا به ګوذار راکړي، دا يو حقيقت دی چې تاريخ تل په خپل اوږد ژوند کې تجربه کړی دی. اسلام ، تل له واقعيتونو سره مخبېري، منښته او اعتراف پرې کوي او په دې توګه يې ايلوي او پر خپلې لارې يې ځغلوي او د سرغاړی ، خطر او تباهی مخنيوی کوي؛ ځکه د ټولنې خطرناکترين دننني غليمان هغه واقعيتونه دي، چې په رسميت يې نه پېژني او په حياتي حق

ورته نه قايلېږي او اسلام د جهاد، طلاق، ګڼ ښځې، بیاځلي واده، غچ ، مالکیت ، له "ځمکنېزو مایدو" برخمني، شتمني او له توکيز (مادي) ژونده خوند اخستنې له لارې هڅه کړې چې پر واقعیتونو منښته وکړي، ويې زغمي، له سرغاړې يې مخه ونيسي او حل لار يې ورته په نښه کړې ده.

مينه هم دغسې يو واقعيت دی، د کينې، غچ او جګړې په څېر يو واقعيت چې که د (اړول شوي) مسيحيت په څېر يې مخه ډپ شي؛ نو پر ديوال به راوخېژي. د زينب او زيد د زړونو تختې سره نه ورځي؛ نو پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يې څنګه له دې ستونزې خلاص کړي؟ رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له دوو څيزونو ډارېږي. هغه زړه چې هڅو ډار يې نه پېژانده؛ خو اوس سخت په غمونو او انديښنو کې راګېر دی. يو د خلکو له انګېرنې ډارېږي، چې د ده پاک او اوچت "احساس" به د خلکو د ټيټو او چټلو "پوهېدنو" په لومو کې راګېر شي او يو ښکلي روح ته چې له اسمان سره تړاو لري، تر لنډ فکرو او بد پوهېدونو انسانانو بل ناوړه څيز نشته.

بل ډار؛ رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته يو "خنډ" پروت دی. په هره ټولنه کې ځينې خنډونه دي چې د تلو مخه ډپوي او دا زاړه او ټينګ دودونه دي، چې د خلکو د احساس په تل کې جرړه لري او سخت تعصب يې پاسوالي کوي.

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته "زويولي" يو خنډ دی. زويولي د مريتوب او آزادۍ ترمنځ يو پړاو دی؛ زوی کړای شوی يو نيمه آزاد انسان دی. يوه له حقوقي ځانګړتياوو يې، چې تر نورو خلکو يې مشخصوي، دا دی چې پخوانی بادار يې چې اوس يې "پلارويلی" يادېږي ، له هغې ښځې سره واده نشي کړای چې يو وخت يې د زويولي مېرمن وه؛ ځکه عربو دا ستر ننګ باله. ولي يې ننګ باله؟ ولې يوه ښځه، له يو "مولی" سره د مېرمنتوب په جرم، له هغه حقه بې برخې وي چې د ده په څېر ټولې ښځې ترې برخمنې دي؟ ايا "ازاد کړای شوی= مولی" يو انسان نه دی؟ دا يو موهوم او نا انساني "خنډ" او د مريتوب پاتې شونی دی، چې هم ښځې او هم مېړه ته يې او هم هغو خلکو ته چې له دوی سره يې سروکار دی، يوازې د نارينه د مريتوب د زمانې د سپېرې خاطرې يادونه او مېرمنې ته يې ننګ دی. بايد دا خنډ لرې شي او آزاد شوی او د آزاد شوي ښځه له مريتوب سره د تړاو له هر خنډه ازاده شي او هم له هغو خنډونو چې له ازادو خلکو يې جلا کوي. د وحې پرېکوني حکم ــ چې د ټولنې د اړتيا له مخې راکېوته ــ دا ناسم دود مات او د تل لپاره يې له منځه يووړ:

((الله زويويلي مو، ستاسې زامن کړي نه دي، دا ستاسې د خولو خبره ده، حال دا، الله حقيقت وايي او لار درښيي)).
اوس زينب له زيد سره د مصلحتي واده له لومې ازاده شوې او زيد هم له زينب سره د همسرئ له کړاوه ، چې يو نامريي دېوال ترې جلا کاوه؛ خو په دې حال کې، خوشي کېدنې نوموړې د خپل ګران خپلوان په څنګ کې پناه اخستو ته بې تابه کړې وه. خو پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم لا تراوسه ډاربږي او شکمن دی ، خلک به څه وايي؟ څنګه به وپوهول شي ؟ د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د سپېڅې چاود په څېر پاک احساس به دا خلک پخپلو ناولو تعبيرونو لېت پېت نه کړي؟ د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم لمر څرکی ښکلی روح به دا خلک پخپلو تنګو او تيارو پوهېدونو کې را ونه نغاړي ؟ ډار او شکمني پرې ورلاسبرې شوې او سخت يې ربړوي، دغسې د خپګان شپې پرې تېرېږي او پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم خپل راز د خلکو له کبرو سترګو پټوي، له دې درده يې سر پر ګرېوان کړی، چوپ دی، چې ناڅاپه د اسمان دريڅه پرانستل شوه او د وحې توند او ټپسورې غبر پرې راکېوت: ((په خپل زړه کې يې پټوې، څه چې الله به يې ښکاره کړي او له خلکو ډارېږې)) !
پاک الله د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم پټ راز رابرسېر کړ او اوس له خلکو ډار يو موهوم چار دی. د خلکو ذهنيت او پسند؛ هغه خلک چې د زړو، نامعقولو او ناوړو دودونو "کار دستي" ده، "په دې کار کې څه ارزښت لري" ؟ هغه کار چې د دوو نا په څېر انسانانو ازادي پکې ده چې يو د بل په دام کې راګېر، پر يو بل تپل شوي او په "ګډ ژوند" کې بدمرغه، خو په "بېلتون" کې نېکمرغه کېدای شي او هم دهغې ښځې هيله پوره کېدنه ده، چې له داسې نارينه سره واوسي چې ژوند خوند ورکړي او هم دهغه موهوم او ناوړه دود ماتونه ده، چې د نارينه د مريتوب او ننګ يادونه او د ښځې محروميت او سپکاوی دی.
خو بيا هم د زويويلي له پخوانۍ ښځې سره واده ــ چې خلکو د پلارويلي ننګور ګڼله ــ يو ستونزمن چار دی؛ که څه قانون اجازه ورکړې وي؛ خو څوک دی چې په دغسې يوې ټولنې کې پر دغسې يو کار لاس پورې کړي؟ د چا له وسې پوره ده چې لومړی ګام واخلي او دا زوړ دود لتاړ کړي؟ الله پاک د دغسې ستونزمن مسووليت ترسره کولو لپاره خپل پېغمبرغوره کړ:
وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴿احزاب/۳۷﴾ = او (درياد کړه) چې هغه کس ["زيد" پېغمبر زوی ويلی] ته دې وويل، چې

الله هم پېرزوينه پرې کړې وه او تا (هم د ازادولو) لورنه پرې کړې وه: ((مېرمن دې درسره وساته (او مه يې پرېږده) او د الله له (عذابه) ځان وساته!)) (او تل دې دا خبره کوله) او (په دې توگه) تا هغه څه پخپل زړه کې پټول، چې الله يې راڅرگندوونکی و او له خلکو وېرېدې، حال داچې الله ډېر وړ دی، چې ترې وډار شې؛ نو چې (زيد خپله) اړتيا ترې پوره کړه (او ترې بېل شو؛ نو) دا (طلاقه شوې مېرمن) مو درنکاح کړه، چې پر مؤمنانو د خپلو زوی بلليو زامنو د مېرمنو په باب کومه ستونزه نه وي، چې خپله اړتيا يې ترې پوره کړې وي (طلاقې شوې وي) او د الله حکم هرومرو عملي کېدونکی دی (او د دغسې ښځو د حرمت غلط دود بايد له منځه ولاړ شي).

دا د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم او زينب بي بي د واده قصه وه، چې د سيرت، احاديثو او تفسير له کتابونو مې (شريعتي) د څېړنې ټولگه ده.

دلته بيا د انسان تلوسناک حس پوښتي: ايا په رښتيا پېغمبر (العياذ باالله) په مينه کې راگېر شوی و؟ ايا باورولای شو، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پر هغه ورځ چې زينب وليده، سترگې يې پرې خوږې شوې؟ او ويې ويل: ((سبحان مقلب القلوب)) ! ايا رښتيا ده، پر هغه ورځ چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د زيد کور ته ورځي او زينب بې خبره راځي او د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سترگې چې پرې ولگېدې، ښکلا يې ورمات کړ؟ ايا په رښتيا زيد پوه شوی و چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پر زينب زړه بايلودی او له لامله يې د زينب ناسازگاري او بې مينيتوب پلمه کړی، چې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم لپاره يې طلاقه کړي؟ څوک د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ، زينب او زيد له زړونو خبر دی چې دا پوښتنې وځوابوي؟

## له تاريخي څېړنې پوهېدای شو:

تردې داستان روسته (تر خندق غزا روسته، پر پينځم لېږديز کال) د حجاب حکم وضع شو، په دې وخت کې هر نارينه د خپل ښار د ښځو له قد و قامت، سر او زلفو څنې خبر و. زينب د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د ترور لور ده او له کوشنيتوبه يې ورسره ليده کاته. پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم پخپله، زينب زيد ته غوره کړه او زينب د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په ټينگار له زيد سره واده ته غاړه کېښوه او که زينب د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم خوښه وای؛ نو په پېغلتوب کې يې په اسانۍ ځان ته نکاح کولای شوه او دومره شخړه او سردرديو ته څه اړتيا نه وه!

له مېرمنې يې د زيد د بې مينيتوب او ناسازګارۍ ګيله کومه تازه مساله نه وه، چې غيرعادي وانګېرل شي. لکه چې پوهېږو، زينب او کورنۍ يې له پيله مخالف وو او ان زينب د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ټينګار ته هم غاړه کېښېووه او ناچار، پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ناچاره کړه، چې دغسې اجباري او مصلحتي واده ته غاړه کېږدي. زينب تر واده روسته هم تل له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره په اړيکه کې وه؛ ځکه له رسول الله)ص) سره پر خپلوۍ سربېره يې د زويولي مېرمن شوې هم وه او زيد د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د کورنۍ يو آريزغړی دی او په دې وخت کې يې مېرمن د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ننګور انګېرل کېږي. ايا رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم چې د زيد له نظره ،پېغمبر دی او د ده پلار ويلی، او دا واده خپله پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم کړی او زيد خپله مېرمن د پلارويلي ننګور بولي، له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم دغسې چلن د زيد په احساس کې نامطلوب اغېز نه پرېږدي؟ په تېره د زيد د زلمي زوی اسامه له نظره، ډېر نه سپکېږي؛ بېشکه دغسې چلن د دواړو (زيد او اسامه) بد ايسېده. خو د عمر تر پايه له پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم سره د زيد او اسامه مينه، پرې ايمان او درناوی يې د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم د سيرت لوستونکی هک اريانوي. د زينب داستان په داسې وخت کې پېښېږي چې له عايشې بي بي سره د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم مينه د ټولو پر خولو وه. د زينب او زيد د اختلاف، د پېغمبر ډار او غم، د زينب طلاق او له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره يې واده؛ نو ددې ټولو په ترڅ کې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له خپلې "حميرا" سره مينې ته ورشا کړې نه وه او عايشې بي بي هم دا داستان د خپل احساس پر وړاندې کومه پېښه نه ننګېرله. عايشه بي بي خورا هوښياره او حساسه مېرمن وه؛ نو څنګه په پر دی ښځې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د زړه بايلودو پر وړاندې چوپېږي؟ عايشې بي بي خو د رسول الله هغه توجه او پاملرنه هم ونشوه زغملای چې د ابراهيم په پار يې ماريه بي بي ته وراړولې وه (چې په تاريخ کې دا غبرګون اوږد تشريح شوی او دلته تري تېرېږو) نو څنګه ځان پر بلې ښځې او دا هم د زويولي پر مېرمنې له زړه بايلودونې ناګاروي او کوښنی شانته غبرګون نه ښيي؟ خو داچې احتمال ورکړو، چې د دوزي (Dozy)، کونډې (Conde) او براس (Brass) په څېر اروپايي مشتشرقين او مسيحي شيخان له خپلې تروږزۍ سره د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له مينې او زړه بايلودنې خبر دي؛ خو د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يوه مېرمن ان عايشه بي بي هم ناخبره وه!؟ رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په ځوانۍ کې له مينې سره

نابلده و او اوس چې نژدې شپېته کلنېږي، د مستشرقينو د گزارش له مخې پرخپلې تروززی زړه بايلي، چې دا ډېره حېرانوونکې ده!
څه چې ځېرونکی سخت شکمنوي او دا فکر پکې غښتلی کوي، چې د مستشرقينو داستان له بېخه او يو مخې جوړ کړای شوی، ساختگې او دروغ دی او له زينب بي بي سره د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم واده ، د ده د نورو ودونو په څېر ــ او ان تر ټولو ډېر ــ د يو مصلحت او له خپلو گروهو سره يې د مينې په پار و؛ نوځکه زينب بي بي چې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم کور ته راځي، د نورو مېرمنو په ليکه کې کېږي او د عايشې بي بي د ځلا پر وړاندې محوه کېږي او د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په ژوند کې تر زنيب بي بي د حفصې بي بي او ام سلمې بي بي نامې ډېر اخستلېږي او دا راښيي چې تر واده روسته د دواړو ترمنځ د يوې بې رنگې مينې حالت و او کوم تورونه چې د سلام غليمان پر نبي اکرم صلی الله عليه وآله وسلم ورپورې کوي، هڅو له تاريخي لاسوندونو سره اړخ نه لگوي. په پای کې وايم: د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم او زينب بي بي داستان، د رهبري روح څوگ راولاړوونکی څرک دی، چې د حقيقت په پار، ان له خپل حيثيته تېرېږي. ډېری مشران شته چې په خپله خوښه يې د خپلې ټولنې او گروهې په لار کې ځانونه ځار کړي؛ خو په بدل کې يې، نامه او وياړ ترلاسه کړې. د ايمان او خلکو په لار کې له نامې او وياړه تېرېدنه، د اخلاص، ايثار، سرښندنې ، فداکارۍ او سپېڅلتيا معراج او هسکتيا ده، چې هغه انسانان يې ليدای نشي چې د "ځان تېرېدنې" له لنډ او ټيټ بامه ورپورته شوي نه دي.

# گڼ ښځي

تاریخ د ډېری انساني مسایلو مانا اړوي. اخلاقي ټولنیز مسایل کټ مټ د کلماتو په څېر برخلیک لري. د کلماتو روح ، مانا او ان تلفظ او ویل یې د زمانې او چاپېریال تر اغېز لاندې ادلون بدلون مومي. شوخ د بدن د خېرې پر مانا و؛ خو اوس په ډېرو ښو ماناوو کارېږي. برکت هم دغسې دی. د اوښانو به شپېغالي کې یې د اوښانو د پچو، خاورو او ډکو گډولې ته برکت وایه؛ خو اوس پر داسې نوې مانا کارېږي چې ان انساني احساس او عقل یې له پوهېدو بېوسې دی؛ ځکه برکت د الله د لورنې د څرک زوکړه ده او ان خپله الله ته یو ځانگړنه او صفت دی.
کلمات ژوندي موجودات دي؛ زوکړه، مړینه، کوشنیتوب، ځواني، کمال ، زړښت، عزلت، گوټناستي او ورکنومي لري او وینو نیمچه ادیبان چې په ژبه کې دا سترحیاتي آرونه پېژني او له ادلون بدلون او په تېره په روح او مانا کې او هم د کلماتو له لفظي بڼې چغې او کوکارې وهي ، نه پوهېږي چې ژبه د کلماتو ژوندی، خوځنده او اوړېدونکې ټولنه ده او کلمات ناچارولای نشو، چې د بيهقي او فردوسي د روزگار په جامو، چلن و اړیکو ، روح او روحیه کې وساتو.
ډېری انساني او ټولنیزاخلاقي مسایل همدغسې دي. په هر پېر کې ځانگړې مانا، روح، کار او ځانگړنه لري چې په بل وخت او زمینه کې ، اوړي او ان د تناقض او ټکر تر پولې بڼه بدلوي او گڼ ښځي یو له دې مسایلو څنې ده. که گڼ ښځي په "تېرو" او په تېره په یوې "تېرېزې او بدوې ټولنې"یا "پلارواکې" ټولنې کې ــ چې له بورژوازۍ او د ښاریزې ټولنې له پېچلې مدنیت او د یوه مېړه او یوې ښځې له درلو دونکې کورني سره ډېر واټن لري ــ د حال په کتو او په تېره څه چې نن د اروپا په متمدنې ټولنې کې تېرېږي، وڅېړو؛ نو بېشکه د غندنې او ټپسورۍ وړ یې بولو؛ خو دغسې چلند، څومره چې د تبلیغاتو او ډنډورو ته پکارېږي، علم او څېړنې ته زیانمن دی او د څېړونکې سترگې د واقعیت له دقیقو کتو ړندوي.
له آره په تېره کې، نه یوازې "گڼ ښځي"؛ بلکې "واده" هم په نننې مفهوم نه انگېرل کېده او ډېر لږ د مینې یا هوس په سترگو ورته لیدل کېده او ډېر یې د خپلوی، پیوند یا نوې تړون د رامنځ ته کولو لپاره یو ډول "ټولنیز دود" شمېره او سیاسي، ټولنیز، وټیز (اقتصادي) او ان اخلاقي لاملونه پکې د مینې او ان هوس تر لاملونو پیاوړي وو. په لرغوني یونان کې سره له دې چې د مدنیت یو پرمختللې پړاو ته وررسېدلې وو؛ خو په عین حال کې یې واده د بچیو پیداوار ته یوه وزله انگېرله او ښځې ته یې د "بچیو مور" ویله. هوس، تل له کوره بهر پر خپل کار بوخت و.

په دې پېر کې له آره ښځه د تولید وزله بلل کېده ((....ښځه يې د کور مېرمنتوب ته غوښته، نه گټنې اخستو ته))
دا مساله نه یوازې د (لوط) په دیني او یا خپلو ادبي داستانونو کې لولو؛ بلکې د سقراط به ځېر یوې وگړې په شخصي ژوند کې هم وینو چې له الکبیادس سره یې دغسې اړیکه ـــ چې د یونان د سترو پوځي او ملي شخصیتونو او د سقراط له تکړه زدکړیالانو څنې و ـــ په ټولنه کې عادي انگېرل کېده، چې ښکاره یې اعتراف پرې کاوه او ان الکبیادس چې د حکیم سقراط له سړښته گیله کوله؛ سقراط په ډاگه ورته ویل: وخت دې تېر شوی دی.
د شیخ سعدي په کتاب کې د کاشمرجومات داستان بل ثبوت هم دی.
دا بېلگې چې په تاریخ او د گردو ملتونو به ادب کې پرېمانه موندای شو په تېرو وختونو کې یې له واده پوهېدنې راښیي چې هېښنده او نه باورېدوني دي او هم اوسنی ذهن مو په تېرو کې د واده روح او مانا ته ورمتوجه کوي او هم دې ته مو چمتو کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په ژوند کې "گڼ ښځي" یعنې څه.
ایا په رښتیا [العیاذ بالله] رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو ((دون ژُوَن)) و؟ هغه کسان چې هڅه کوي یو نارینه هوسپالی معرفي کړي؛ نو طبیعتاً د ځوانۍ وخت یې راسپړي؛ څکه هوس او شهوت له ځوانۍ سره مل وي؛ خو تاریخ چې ان له خپلو مېرمنو سره یې ټوکې ټکالې رااخلي او د ژوند کوشني جزئیات یې راښیي، د ځوان محمد صلی الله علیه وآله وسلم په ځېره کې ډېره لږه هوسي څپه نه مومي.
محمد صلی الله علیه وآله وسلم تر پینځه ویشت کلنۍ له نیستۍ، بې سرپرستۍ، کړاو او شپونتوب سره سروکار درلود. په خپلې ځوانۍ کې له ځلوېښت یا پینځه ځلویښت کلنې کونډې حضرت خدیجې سره واده کوي، چې د محمد صلی الله علیه وآله وسلم په ځېر ځوان اولادونه یې درلودل. محمد صلی الله علیه وآله وسلم خپله ځواني او کمال ورسره تېروي او له دې سره په اته ویشتو کلونو کې بله ښځه نه کوي. هېر مو نشي محمد صلی الله علیه وآله وسلم دلته د قریشو د نورو ځوانانو په ځېر یو ځوان وه؛ خو هېښنده ده چې د عبدالله ځوان زوی یو عادی او بې مسوولیته نارینه دی چې تر پنځوس کلنۍ له یوې پنځه ځلویښت کلنې ښځې سره، اته ویشت کاله تېروی او په دومره موده کې ان یو ځل هم د بلې ښځې هوس نه کوي. د مسیحي متعصب ترینو مبلغانو له نظره، محمد صلی الله علیه وآله وسلم په مکه کې له دغسې تورونو لرې دی؛ نو څنگه دا سړی چې په دري پنځوس کلنۍ کې مدیني ته ځي، د الهي نبوت مقام خاوند دی او درانه پوځي او سیاسي مسوولیتونه ورترغاړی دي او خلکو ته

خپل فکر، روح، ژوند، سنن او تقوی ورالهاموي؛ نو څنګه يو دم د هوس لمبه پکې راپورته کېږي او شهوتپالی کېږي!

((دون ژُوَن)) هم؛ لکه چې پوهېږو، ځواني يې چې تېره کړه، ښځو ته يې ورشا کړه، متقي او اخلاقي سړی شو؛ نو څنګه يو عربي ځوان چې له پنځه ويشت کلنۍ تر پنځوس کلنی له يوې پنځه څلويښت کلنې کونډې سره تر دري اويا کلنۍ يې ژوند کوي، کله چې بوډا کېږي او د نبوت مقام ته وررسي او سر تر پايه په جګړو او سياست کې ورګډ وي؛ نو ((دون ژُوَن)) کېږي؟!

په مدينه کې د محمد صلی الله عليه وآله وسلم د ژوند ښه ادلون بدلون مومي او ګڼ ښځې خپلوي، چې پر دې چار مسيحي شيخان نيوکه کوي؛ خو په مقابل کی وايو؛ هېر دې نشي د ښځې "ښکلا" ده، چې هوس مړوي نه يې "شمېره". هوسپالی نارينه د عشوه ګرې، ښيوه ګرې، طنازې او هوسناکې پېغلې په لټه کې وي؛ نه په کونډې، له کاره لوېدلې و يا بدرنګې پسې او يا هم که ځواني او رنګ و بوی درلود، د مخکښني مېړه او يا مړونو په کور کې يې درلود او اوس يې له زړښته مخ غونجې کړي. له نېکمرغۍ ، تاريخ د محمد صلی الله عليه وآله وسلم د حرامسرای خاوند دی، چې يوه يوه ښځه يې پېژني او هم پوهېږي چې ولې د محمد صلی الله عليه وآله وسلم کور ته راغلي او څرنګه ژوند کوي، ښکه تاريخ تر اروپايي شيخانو او ختيځ پوهانو د محمد صلی الله عليه وآله وسلم مېرمنې ښه پېژني، چې دادی په لنډو يې درپېژنو:

**ام المؤمنين حضرت عايشه رضی الله عنها:**

حضرت خديجه رض الله عنها په دري اويا کلنۍ کې ومړه او دا مهال د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم عمر له پنځو سو ورتېر و. په مکه کې په سختې پرېشانۍ کې اوسېده، ډېری ياران يې حبشې ته مهاجر شوي وو او له ډېرو لږو يارانو سره د يو دښمن ښار په منګولو کې راګېر و. د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ځواکمن او لورين ملاتړی ابوطالب هم پرهمدې مهال ومړ او يوازې پاتې شو. دباندې کينه وه او کړاو او دننه وړوکې فاطمه او د خپلې مور غمجنه خاطره. زړه سوی پرې وشو او ښځې کولو ته يې اړ کړ؛ خو د خديجې مينې ــ چې د مرګ تر پايه يې هېره نه کړه ــ کړښتي ژوند او له خطره ډک سياسي ژوند يې دومره بوخت کړی و، چې د ښځې کولو فکر ورسره نه و.

عایشه بي بي د حضرت ابوبکر لور؛ یوازېنی لور وه چې په اسلام کې وزیږېده او دې ځانګړنې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپلوان او ځینې یاران په دې سوچ کې کړل، ړومبۍ انجلۍ چې په اسلام کې زیږېدلې او له جاهلیته کومه خاطره نه لري، د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم مېرمن دې شي. یوازې احساس د دغسې یو کار په ښکلا او لطف پوهېږي. په نوي کرل شوي ګلبڼ یا بوستان کې چې ړومبی ګل غوړېږي او یا په باغ کې چې لومړی مېوه پخېږي او بڼوال یادوي او زړه ګواهي ورکوي، چې دا نوی ګل یا پخه مېوه د بڼوال "وړ" ده.
حضرت ابوبکر چې نرم زړی او زړه سواندی دی او پر پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم باندې پر ایمان سربېره د زړه له تله ورته ګران دی؛ نو د عایشې د ورکړې وړاندیز ورته کوي؛ خو عایشه بي بي اوه کلنه انجلۍ ده او محمد صلی الله علیه وآله وسلم له پنځوسو ورهاخوا نارینه دی او په کور کې یې کوشنۍ لور فاطمه ده، چې مور ته اړینه ده او بهر د ابوجهل او ابولهب په څېرغلیمان لري او ژوند یې سراسر تراخه، خطر، کړاو دی او همدردۍ ته اړ دی. ښکاره ده چې د حضرت ابوبکر اوه کلنه لور د محمد صلی الله علیه وآله وسلم د مېرمنتوب لپاره نه په کارېږي. محمد صلی الله علیه وآله وسلم ،عایشه بي بي نوموي چې په اسلام کې ړومبۍ پیدا شوې انجلۍ او د مسلمانانو د نړۍ د لومړي کهول زېږی یې په نامې وي او هم له خپل هم اندي ملګري، حضرت ابوبکر سره خپلوان شي او پر هغه وخت او زمینه کې،خپلوي د دوو انسانانو ترمنځ ټینګ تړاو او اړیکه وه، چې دا د بدوي ټولنپوهنې د منلو وړهم ده. حضرت عایشه بي بي یوازېنۍ انجلۍ ده چې د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم کور ته راغلې او یوازېنۍ ښځه ده چې ښکلا او ځواني یې د محمد صلی الله علیه وآله وسلم خوښه وه؛ خو ښکلا یې له پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره د واده علت نه و؛ ځکه د شپږ اوه کلنۍ انجلۍ ښکلا له پنځوسو ورهاخوا سړي په احساس کې اغېز درلودای نشي. له حضرت عایشې بي بي سره د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم واده ، له عاقلانه مصلحت سره ګډ یو " سمبولیک" واده دی او دلته د عشق او هوس خبره بې ځایه ده. عایشه بي بي په مکه کې کور ته نه راولي او دوه کاله روسته، په مدینه کې واده ورسره کوي او پر ځه چې باید پوه شو دا دي چې د مصري لیکوال محمد حسنین هیکل په وینا ((کومه مینه یې چې له عایشې سره درلوده، تر واده روسته یې ورسره پیدا شوه او د واده پرمهال نه وه او په دې پار ویلای نشو ، چې دا یې خوښه وه او واده یې کړه... او بارولای نشو چې د رسول الله په اوه کلنۍ کې خوښه وه)) نوځکه له یوازې ښکلې پېغلې سره یې واده ، چې مینه یې ورسره کوله ، یو عاشقانه واده نه و.
ام المؤمنین حضرت سوده رضی الله عنها:

حضرت سوده د زمعه لور او د خپل تره زوی سکران بن عمر (رض) مېرمن وه. سکران (رض) له ړومبنیو مسلمانانو څخه و، چې د اسلام په ډېرو سختو ورځو کې یې له خپلې مېرمنې سوده سره پر محمد (صلی الله علیه واله وسلم) ایمان راووړ. د خپلې گروهې په لار کې یې کړاوونه وزغمل او د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په امر یې له خپل مېره سره حبشې ته مهاجرت وکړ. تر راستنېدو روسته ، مېره یې له لاسه ورکړ او بې پناه شوه. تردې روسته له سپېره برخلیک سره مخ شوه؛ ځکه یا باید له ناچارۍ خپلې کورنۍ ته ورستنه شي او نوموړې چې د خپلې کورنۍ پر دیني گروهو پښې اېښې وې او د نوي دین (اسلام) په لار کې یې د خپلې کورنۍ پر خلاف سرښندنې کړي، اوس نو غاړه ورته کېدي او بوتپالنه او ارتجاع له سره ونیسي او یا له یوه داسې نارینه سره واده وکړي چې ددې او وفات شوي مېړه همشان یې نه دی یا له داسې نارینه سره واده وکړي چې ښه یې نه ایسي. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له دې پاکې، مېړنۍ، شرافتمندې او عزتمندې ښځې سره، چې د محمد صلی الله علیه وآله وسلم په لار کې یې ډېر کړاوونه زغملي و، او اوس یې ژوند شیندل شوی، واده کوي او د خدیجې بي بي ځایناستې کوي یې.

**ام المؤمنین هند (ام سلمه) رضی الله عنها:**

هنده بي بي د ابي امیه لور ده، مېړه یې ابوسلمه (عبدالله مخزومي) (رض) یو ستر مجاهد و چې د اُحد په غزا کې ټپي شو او روسته چې له بني اسد سره له جگړې بریالی راستون شو، ټپ یې خوله پراسته او ساه یې ورکړه. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د خپل فداکار یار جنازې ته راغی او دعا یې ورته کړه، په مړینه یې خورا غمجن او ډېر یې وژړل. ام سلمه، کونډه یې بوډۍ وه او له خپل شهید مېړه یې څو کوشني او غټ اولادونه ورته پاتې وو. څلورمیاشتې یې د خپل مېړه ابو سلمه له شهادته تېرې شوې وې او ام سلمې بي بي د خپل گران مېړه او د پلار مړیو او بې پنا اولادونو په غم کې نهیلی او دردناک ژوند تېراوه او مشران مسلمانان یې د خپل شهید رور د کورنۍ د برخیلک پر وړاندې پازوال موندل؛ نوځکه حضرت ابوبکر مارکه پرې وکړه؛ خو ام سلمه عذر وکړ چې دا اولادونه مې ډېر دي او ځواني مې تېره شوې ده. حضرت عمر هم وړاندیز وکړ، ام سلمه ونه مانه او تېر ځواب یې ورکړ. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ورغی ورته یې وویل: ((له خدایه وغواړه چې د دررسېدلي کړاو بدله درکړي او یوغوره درته ځایناستی کړي)). ام سلمه دردناکه وویل: ((تر ابو سلمه څوک راته غوره دی؟)) پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خپله نامه واخېسته؛ خو ویې نه منله او حضراتو ابوبکر او عمر ته یې چې

کوم ځواب ورکړی، بیاځلي کړ؛ خو پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ټینګار وکړ او بیاځلي یې د واده وړاندیز ورته وکړ. په پای کې مشرزوی یې، سلمه، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته ورنکاح کړه. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د خپل شهید یار کونډه او اولادونه په خپلې پناه کې کړل او درانه یې ګڼل. ام سلمه بي بي، تر خدیجې بي بي روسته، یوازینۍ ښځه وه چې د رسول الله په ژوند کې د خدیجې بي بي د مقام یادېدونکې وه؛ ځکه نه یوازې د خدیجې بي بي د اخلاقي وګړې؛ عقلمنۍ او وړتیا خاونده وه؛ بلکې چلن او بدني جوړښت یې هم ډېر ورتوالی ورسره درلود.

**ام المؤمنین رمله (ام حبیبه) رضی الله عنها:**

رمله بي بي د ابوسفیان لور او ستره فداکاري یې کړې ده. په مکه کې چې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او ابوسفیان ترمنځ سخته مبارزه روانه وه، پر پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یې ایمان راووړ او له خپل مېړه، عبیدالله بن حجش اسري سره یې حبشې ته هجرت وکړ. هلته یې مېړه د چاپېریال تر اغېزلاندې مسیحي شو؛ خو رمله بي بي پر خپل دین ټینګه ودرېده او مېړه یې په مسافرۍ کې یوازې پرېښووه. نه بې پناه په حبشه کې پاتېدای شوه او نه مکې ته راتلای شوه؛ ځکه پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم او یاران یې مدینې ته مهاجر شوي وو او که ابوسفیان هم پناه ورکوله، شرط به یې دا و، چې له خپلې ګروهې واوړي؛ خو دې د دغسې ستنېدا ننګ نه زغمه. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ددې فداکارۍ په بدله کې او هم په دې پار چې یوې شرافتمندې ښځې د ده په لار کې بدمرغۍ ګواښله، نېکمرغه کړې او هم ددې لپاره چې د "ابوسفیان" لور، چې له پېغمبر سره یې سخته مبارزه کوله د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مېرمن شي ــ او دا یوه له مانا ډکه پېښه وه ــ مارکه پرې وکړه. ومنل شوه او د حبشې پاچا نجاشي شخصاً د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په استازولۍ نکاح وتړله او مهر یې ورکړ.

**ام المؤمنین جویره رضی الله عنها:**

جویره د بني المصطلق د ټبره مشر حارث لور ده. په غزا کې، د نصیب ثابت بن قیس برخه شوې وه. جویره پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ته راغله، ورته یې وویل، ثابت مې ازادۍ ته ډېرې پیسې غواړي، زه یې نه لرم، په فدیه ورکولو کې مې لاسنیوی وکړه؛ پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم وویل: ((ایا تردې غوره نه غواړې؟)) ویې ویل: ((دا به څه وي؟)) ویې ویل:

((فرض دې ورکړم او واده درسره وکړم)). ويې منله او پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم يې فديه ورکړه، ازاده يې کړه او خپله مېرمن يې کړه. په دې تدبير يې هم د بني مصطلق د ټبر، په ټېره ټبرمشر زړه يې رامات کړ او د کينې او دښمنۍ پرځای يې مينه رادبره کړه او هم يې مسلمانان اړ کړل چې خپل اسيران خوشې کړي؛ ځکه له جويرې بي بي سره د رسول الله تر واده روسته د بني مصطلق بنديان د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپلوان کېدل او نه غليمان او هېڅ مسلمان ته نه ښايې چې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خپلوان اسيران کړي. بنديان آزاد شول او ګردو اسلام ومانه او د بني المصطلق ټبر چې د رسول الله خطرناک دښمن و، ورسره خپل شو. ټبرمشر چې د خپلې لور پوښتنې ګروېګنې ته راغی، مخيره يې کړله چې ورسره ولاړه او يا له پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم سره پاتې شي او دې دويمې ومنل. جويريه تردې وړاندې، د خپل تره زوی عبدالله مېرمن وه.

### ام المؤمنين صفيه رضی الله عنها:

صفيه د بني قريظه د ټبرمشرلور ده چې په جګړه کې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر برخه شوې وه. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ازاده پرېښووه چې يا يې خپلې کورنۍ ته ورستنه کړي او يا يې ازاده او خپله مېرمن کړي او دويمې وړانديز يې ومانه.

### ام المؤمنين حضرت ميمونه رضی الله عنها:

ميمونه د عباس بن عبدالمطلب خينه؛ يعنې د ام فضل خور وه. پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم له حديبيې يو کال روسته، د عمرې په نيت مکې ته ورغی او د تړون له مخې يې له درېيو ډېرو ورځو د مېشتېدو حق نه درلود. په دې درېيو ورځو کې يې هڅه کوله چې د خلکو زړونه رامات کړي او په مهربانۍ، ورکړې، بخشش، نېکۍ ، نرمۍ او دوستانه چلنونو، هغه کينې، تاوتريخوالی او تعصبونه چې د کفر مشرانو د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم پر ضد رادبره کړي وو، راکم يې کړي او پلمه يې لټوله چې د دوی په خوښه د مسلمانانو تمېدنه اوږده کړي او په دې توګه د خلکو د زړونو راماتولو او تحبيب لپاره ډېر فرصت او مجال ولري. په دې وخت کې، عباس لا تر اوسه د مشرکانو په ليکه کې و، ميمونه يې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ته ورمعرفي کړه ، چې په دې ځو ورځو کې د مسلمانانو چلن سخت اغېز پرې کړی او اسلام ته لېواله شوې ده. ميمونه د عباس خينه او د خالد بن وليد توړۍ (خاله) وه، هغه خالد چې د قريشو اتل او د اُحد سوبمن و. پردې سربېره، په دې درېيو ورځو کې د پېغمبر صلی الله

عليه وآله وسلم ليده کاتو، چلن او روحي وګړې پر مېمونې اغېز کړی و ، داسې چې د اورينې مينې لمبې يې اسمان ته ختلې وې او وحې هم ددې پاک احساس وستايه. عباس چې ښځې يې واک ورکړی و، چې خور ته يې مېړه غوره کړي؛ نو پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته يې وړانديز وکړ. اسلام ته د مېمونې ورماتېدنه، له خالد سره يې خپلوي (چې توريې يې د اُحد جګړې برخليک د مسلمانانو به ماتې او د قريشو پر بريا اړولی و) او د قريشو له غټو کورينو سره د مېمونې خپلوي، هغه عوامل وو، چې پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يې اړ کړ چې د عباس وړانديز ومني. په تېره له دې کاره يې غوښتل چې يوه بله تبليغاتي ګټنه هم ترې وکړي او د واده مراسم د تمېدو پر روستۍ ورځ ترسره کړي او قريش ډله ييز راوبلي، خواړه ورکړي او داچې تراوسه د مېمونې اسلام ښکاره شوی نه و او د دوی په ليکه کې شمېرل کېده؛ نو له دې سره د رسول الله واده او په تېره په واده کې د مسلمانانو او مشرکانو ګډون او پر دسترخوان دهغو کسانو کېناستل چې په بدر او احد کې يو له بل سره جنګېدلي وو، دعربانو په احساس کې به اغېز وشيندي او سوړ سياسي تشيال به تود کړي، لرېوالی او پرديتوب به راکم کړي او هم به په ښار کې پاتېدو ته يوه پلمه وي او په دې شونتياوو کې، ښايي بې له تبليغاتي پايلو او روحې زمينه سازۍ، داسې پېښې هم رامخې ته شي يا يې رامخې ته کړای شو، چې د اسلام پر ګټه وي او د حديبيې له تړونه ډېر څه ترلاسه کړو. د قريشو مشران د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم له نخچې خبر وو او په همدې علت يې دده وړانديز غوڅ رد کړ او پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ناچار شو چې د واده مراسم مدينې ته د ستنېدا په لار کې ترسره کړي؛ خو دې واده چې د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د قريشو له ځينو غټو وګړيو سره خپلواناوه ، پر دوی بې اغېزې نه و؛ لکه چې تردې ډېر لږ روسته، خالد بن وليد له عمر وعاص او عثمان بن طلحه سره د مدينې لار ونيوه او اسلام ته يې غاړه کېښووه.

## ام المؤمنين حضرت حفصه رضی الله عنها

حضرت حفصه بي بي د حضرت عمر لور ده. مېړه يې چې ومړ، سره له دې چې د حضرت عمر لور وه ، څوک يې په لټه کې نشو، چې مېرمن يې کړي؛ خو خپله حضرت عمر په هلو ځلو لاس پورې کړ. لومړی يې حضرت ابوبکر ته وړانديز وکړ، په دې هيله چې ښايي دوستي به يې په کارشي؛ خو ابوبکر (رض) چوپ شو. په حضرت عثمان پسې ورغی او د خپلې لور وړانديز يې ورته وکړ او دا هم چوپ شو، حضرت عمر خپه شو او د دوو صميمي يارانو له ځوابه نهيلی شوه او پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم ته يې له دوی څخه ګيله وکړه. پيغمبر

صلی الله علیه وآله وسلم یې د خپگان لرې کولو په باب وویل: ((حفصه هغه ته ورنکاح کړه چې تر ابوبکر او عثمان نه ورته غوره وي)) او په دې توگه پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لکه څنگه چې له حضراتو ابوبکر، عثمان او علي سره خپلوي کړې وه ، له حضرت عمر سره هم وکړه ، هغه عمر چې د اسلام یو له پر نفوذو او اغېزمنو شخصیتونو څخه گڼل کېده. د حضرت عمر له هڅو او هم د حضراتو ابوبکر او عثمان له چوپتیا د حضرت حفصې په ښکلا پوهېدای شو، خو غوره ده چې په دې باب د ناوې د پلار خبرې واورو. هغه پېغمبر چې ـــ د مسیحې مبلغانو په وینا ـ پر ښځو او ښکلاوو یې مین دی او هغه ښځه وپېژنو چې د خپلې واکمنۍ په زور کې یې نکاح کړې ده. حضرت عمر خبرېږي چې حفصه له ځوانې او ښکلې عایشې سره د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په ځورولو کې یولاس شوې او په چلن او ځان جوړونې کې د عایشې تقلید کوي، په غوسه ورته وایي: ((لورکې ! ته دې ښځې (عایشه) ته چې په خپلې ښکلا او پېغمبر ته پر وگرانتوب نازېږي، مه وینه، پرخدای قسم پوهېږم چې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ښه نه ایسې او که یار مې نه وای؛ نو طلاق به یې درکړی وای))!

**ام المؤمنین زینب رضی الله عنها:**

زینب بي بي د حزیمه لور او د عبیده بن حارث (رض) مېرمن وه، چې په بدرغزا کې شهید شو او کونډه یې ډېره بوډۍ وه. رسول الله په داسې وخت کې په مېرمنولی وینوه چې د عمر لمر یې د بام پرڅنډه و او ویې نه غوښتل چې د یو مجاهد شهید کونډه په بوډۍ توب کې بې پناه شي. زینب بې بې دوه کاله ژوندی وه او بې له خدیجې یوازینې ښځه وه ، چې د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په مخ کې ومړه. زینب بي بي، سخته متقي، لورینه او نېکچارې ښځه وه او خپل ژوند یې د پلارمړیو او بېوسیو پالنې ته وقف کړی و؛ نوځکه پر " ام المساکین" یادېده.
دا وې د پغمبراکرم صلی الله علیه وآله وسلم د حرمسرای مېرمنې!
یادونې وړ ده چې د گڼ ښځۍ حکم پر اتم هجرې کال نازل شو او ښکاره ده چې دا یوعقل هم نه مني چې باید رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تردې حکم روسته څلورښځې وساتې او نورې طلاقې کړي.
بل دا، اسلام "گڼ ښځې" وضع کړې نه ده. له اسلام وړاندې په دې باب هېڅ برید او حد شتون نه درلود او څه چې اسلام راوړي د "ښځوو تحدیدول" دي، نه داچې " تر څلورو ښځو وکړئ"؛ بلکې "تر څلورو ښځو ډېرې مه کړئ" او دا دواړه یو نه دي. کوم آیتونه چې د "گڼ ښځی" په

باب خبرې کوي، که په دقيقه وڅېړل شي؛ نو هم يې ددې فلسفه او هم يې شرايط څرګند کړي. قرآن لومړی خلک د ښځو ترمنځ په عدالت کولو ملزموي او بې درنګه منښته کوي ((چې کله هم عدالت نشئ کړای؛ نو پر يوې بسيانه وکړئ)) د قرآن دا هنرمندانه او اريانوونکې څرګندونې، څوک چې خبر پېژاندي، د قرآن له روح سره اشنا او د تفاسېرو په تاوکښونو او د ماناوو پر فنونو خبر وي او هم په زړه کې د "ګڼ ښځی" هوسونه او هيلې نه لري؛ نو به اسانه به نېه وکړي، چې شرايط او د جواز تنګه يې دومره سخته ده، چې يوازې په وګړيزو يا ټولنيزو مواردو کې د روحي يا اخلاقي الزامونو په پار ترې تېرېدای نشو. وګړيز موارد د قرآن له متنه احساسولای شو. دا حکم د هغو آيتونو په ترڅ کې راغلی چې د پلارمړيو د برخليک په اړه خبرې کوي او په ډاګه ده په هغو ټولنو کې چې دولتي او پرمختللي ټولنيز تاسيسات نه وي؛ نو بې سرپرستې ښځې او کوشنيان سپېره برخليک لري؛ خو له نېکمرغه ټولنيز موارد يې نوي نسل په سترګو ليدلي او هغه هم د مدنيت په پېړۍ کې، په پرمخ تللو ټولنو، د حقوقي او اقتصادي خپلواکۍ په پېر او په تېره د ښځې شخصيت موندنه او له نارينه سره يې تساوي.

له دويمې نړيوالې جګړې روسته به اروپا او په تېره آلمان، اتريش او پولنډ کې د ميليونونو نارينه وو د منځه تلو له لامله سخت کړکېچ رادبره شو. د کونډو او پلارمړيو د شتون له لامله په دې ټولنو کې فساد، څوړتيا، انديښمني او اروايي رنځورۍ راولاړې کړې وې چې د اروپايي ټولنو په روح او اخلاقو کې يې ژور اغېز پرېښود. ښځو د کاتوليک مذهب پر ضد لاريوونه وکړل؛ څکه بل واده منع کوي او که څوک يې وکړي؛ نو شهوتپال يې بولي او هم هغه روښانفکران چې ګڼ ښځي مطلقاً انساني ضد ښکارنده بولي، نو دا ګردې چارې چې سره وسنجوو؛ نو ددې حکم مانا او موارد به راوښيي چې څه او چېرې دی؟ پر۱۹۵۸ ز کال د الجزاير ملي آزادي غواړې جبهې خپلو غړيو ته سپارښتنه وکړه، چې د شهيدو مجاهدينو له کونډو سره دې واده وکړي، چې شهادت يې د کوشنيانو او ښځو د پرېشانۍ او خپګان لامل نشي او د "شهيد" کورنۍ د فقر او فساد په لومو کې ونه نښلي. يو ځل بيا وايم، په تېرو وختونو او په تېره لومړنيو ټولنو کې "ګڼ ښځي" نبايد په هغې مانا چې نن يې احساسوو، وننګېرو او په نننۍ وخت يې ووينو.

د رسول الله د خصوصي ژوند په باب بايد پردې ټکي پوه شو ــ او دا يوه روحي او غريزي مساله ده ـــ چې پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم په مدينه کې له يوې مېرمنې هم د اولاد خاوند نه شو، حال داچې دا ښځې بې له حضرت عايشې بي بي ، ټولې کونډې وې او دا د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم د ژوند يو له هېښتياوو څنې ده. د رسول الله په ګڼ ښځی کې

طبعاً ذهن ته يو ټکی راځي چي، بېشکه نوموړی د هر نارينه په څېر، په تېره د عمر په دويمه نيمايي کې د اولاد غوښتونکی و او يوازې د عمر پر روستي کال يې له ماريه بي بي يو زوی درلود چي پاتې نشو، له دې کوشنی سره يې مينه او د ده په مرگ کې يې سخته بې تابي راښيي چې سخت د اولاد درلودو مينوال و؛ خو برخليک هوډ کړی و چې د عربو د ټولنې (هغه ټولنه چې وياړنه او شخصيت يې په اولاد درلودو، په تېره زوی کې گاڼه) له خورا ستر شخصيت يوازې يو اولاد او دا هم لوڼه پاتې شي او څه ښکلی او عقلمن هوډ! که څه پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم يې ډېر وکړاوه.

خو د رسول الله حرمسرای څنگه دی؟ له جومات سره نښتې څو خاورينې کوټې دي، چهت يې د خرما، د ونې په ښاخونو او پاڼو پټ دی. دعايشې بي بي کوټې په نيمايي کې پوټکی او په پاتې کې "ډېره نرمه" شگه هواره وه. د ماڼۍ ډيوه د کجورو د ښاخونو سوځېدل دي! او جارگی او خواړه يې ؟ حضرت ابوهرېره داسې څرگندوي: ((تر مړيني په وربشينه روټۍ موړ نه شو، کله دوه مياشتې تېرېدې؛ خو په کور کې يې اور نه بلېده او په دې وخت کې يې خواړه کجورې او اوبه وې، کله يې له سختې لوږې په گېډې پورې تيږه تړله...))!

کله مې چې د پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم کور او ژوند رايادېږي، چې خپله ځواني او کمال يې له يوې دري اويا کلنې کونډې سره تېر کړ او په بوډاتوب کې له کاره لوېدليو او اولاد والو کونډو لکه ام سلمه، زينب د خزيمه لور (ام المساکين) او په تېره حفصې بي بي سره مخ شو، کور يې هاغه و، خواړه يې دا وو؛ نو ځان له دې افسوسه بچولای نشم چې پېغمبر صلی الله عليه وآله وسلم تر دوی ښکلې ښځې درلودای شوی او تردې غوره ژوند. او هم کله چې د ځينو ليکوالو خبرې او ليکنی لولم، چې د پېغمبر د شهوتپالۍ او حرمسرای په باب گړېږي، له شرمه اندېښمنېدای نشم چې يو انسان، ان ليکوال، تر کومه بريده ننگېنېدای شي او د يو ناوړه او بدرنگ مصلحت په پار د يو ښکلي حقيقت څېره ــ چې د انسان وياړنه او د تاريخ پانگه ده ــ په دغسې چټليو لېت پېت او ککړه کړي !))

دا ليکنه راښيي هره انساني ټولنيزه مساله په کومو زماني او مکاني شرايطو کې چې پېښه شوې، ددې شرايطو په پامنيوي يې وڅېړو، نه د اوسني پېر د شرايطو له مخې؛ نوځکه د رسول الله " گڼ ښځي" هغه انساني ټولنيزه مساله ده، چې د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د پېر د زماني ، مکانې، ټولنپوهنېزو او ارواپوهنېزو شرايطو په پامنيوي راته تفسيرېدای شي. له ځوانانو مو هيله ده چې په برېښناييزو رسنيو کې چې څه د ديني او ملي ارزښتونو پرضد خپرېږي، په استدلالي ډول ځواب ورکړي، چې بيا ليکوال يې په دغسې ناسنجول شوي چار لاس پورې نه

کړي او هم په دويم پړاو کې د پرديو د مفکورو پر وړاندې يرغلزحالت خپل کړي، چې دوی پوه شي اسلام په نوي کهول کې مينوال، اندیالان او منطقي لارويان لري، چې د پرديو د فرهنګي يرغل پر وړاندې حساس دي.

**پايله:**

د رسول الله(ص) د ودونو په اړه راڅرګنده شوه، چې آنحضرت(ص) تر پنځوس کلنۍ، چې د انسان د طبيعي غوښتنو د کمال روستی پړاو دی،له هغې مېرمنې سره، چې پينځلس کاله ترې مشره وه او په پينځه شپېته کلنۍ کې مړه شوې،سره ژوند کاوه او په دې ترڅ کې يې له يوې مېرمنې سره هم واده و نه کړ او ددې مېرمن تر مړينې روسته يې له بلې پوخ منګې مېرمې سره واده کړی او رسول الله له داسې واده ژوند سره په مکه کې و، چې مدينې ته کډوال شو او د هغې ورځې د بېوزله اسلامي ټولنې د سمبالنې درنده دنده يې پر غاړه واخسته.هغه مهال مؤمن نارينه تش لاس له وطنه ورته راتلل،کله يې شمېره اتياوو تنو ته هم رسېده او د رسول الله (ص) په چوتره به مېشتېدل او په دې کې يې ځينو ان عورت پټولو ته هم سم پټوونکی نه درلود؛ نو په داسې پېر کې مسلمانې مېرمنې راپيدا شوې، چې له مشرکينو سره په جګړه يا په بله چاره کې يې خپل پالندويان له لاسه ورکړي وو او خپلې پلرنۍ ته د ستنېدو لار يې هم نه درلوده؛ ځکه خپل خپلوان يې کافر،د رسول الله(ص) دښمنان او چټل ګڼل او دا بهير په هغه ټولنه کې رامنځ ته شوی و، چې له ښځه يې ښځمنې درون پېټی ګاڼه؛ ځکه پلرونو يې ورته د ډوډۍ ورکونې له وېرې او د دوی د درون پېټي له لامله، خپلې لوڼې ژوندۍ خښولې او له رسول الله(ص) سره د جګړې پر مهال يې د رسول الله ماتولو ته يې لوڼو ته د طلاق ورکولو وړانديزونه کول، چې په پای کې په مدينه کې د هغو مؤمنو مېرمنو چار دې ځای ته راورسېد، چې کونډو مېرمنو که پلار هم درلود؛ لکه حضرت حفصه د حضرت عمر (رض)لور،پلار يې له ملګرو په ټينګار غوښتل، چې له لور سره يې واده وکړي.

آيا په دې حالت کې له حضرت حفصې بي بي سره د رسول الله واده د خپلو دوو اصحابو؛حضرت ابوبکر (رض) او حضرت حضرت عثمان(رض) لخوا اروايي ماتې د ورکونې د جبرانولو لپاره يو ستر ګام نه و؟

پر داسې وخت يوه بله مېرمن؛ لکه زړه ګناولاده حضرت ام سلمه (رض)، چې په احد غزا کې يې مېړه له لاسه ورکړی و،په غربت کې يې څه کولای شول؟آيا کولای يې شول، چې مکې

ته خپلې هغې کورنۍ ته ورستنه شي، چې د تاوتريخوالي او ظلمونو له لاسه يې په افريقا کې تر حبشې پورې تښتېدلې وه؟

يا هغه بله مېرمن زينب د خزيمه لور، چې تر رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم مخکې يې دوه مېړونه کړي وو او دويمی يې په احد غزا کې شهيد شوی و،څنګه به يې خپل ژوند ته دوام ورکاوه؟

همداراز د ابوسفيان لور ام حبيبه، چې د خپلې کورنۍ له کړاوه له خپله مېړه سره حبشې ته تښتېدلې او هلته يې خپل مېړه له لاسه ورکړی دی؛ نو د کړاوونو او سختيو درمل يې بې له دې څه کېدای شول، چې د رسول الله تر سيوري لاندې راشي؟

ام حبيبه د هماغه ابوسفيان لور ده، چې اسلام ځارځپلو ته يې هر چار ته لاس اچولی و او د رسول الله پرخلاف به چې کومه سرغړونه او مخالفت کېده؛ نو په سر کې به يې ابوسفيان و،د همدې ابوسفيان آبرو داسې ساتي، چې د ابوسفيان په فکر کې هم نه راتله. هو ! که قريشو د ابوسفيان په مشرۍ هڅې کولې، چې د رسول الله(ص) لونې يې د پلار په کور کېنوي؛ نو همدې پيغمبر د همدې ابوسفيان لور په خورا درناوي له حبشې راوسته او خپله مېرمن يې کړه، په درنښت يې مدينې ته راوسته او د عرب د خورا شريف سړي مېرمن يې کړه،مګر داسې نه وه، چې رسول الله د عبدالمطلب لمسی و؛ نو دلته دې ابوسفيان پر ځان وياړي او له ډېرې هېښنې دا غونډله پر ژبه راوړي، چې تل ته متل شوه:ذلک الفحل لايقدع انفه !

دې درناويو په نورو بني اميه وو کې څه غبرګون درلود،که په دې باب ترې څه رانقل شوي وي؛ نو موږ ورته لاسرسی نه لرو؛ خو د بني المصطلق د ټبر د مخورو له لور جوريه سره يې واده خورا غبرګونونه درلودل، چې موږ ته هم رارسېدلي دي.

بني الصطلق ټبر د خزاعه له ټبرونو څنې و، چې د مدينې په پينځه منزله کې مېشت و. مشر يې حارث له رسول الله سره جګړې ته له عربو يو پياوړی لښکر چمتو کړ، چې رسول الله(ص) ناڅاپه غافلګيره کړل او د عربو هغه ټبرونه وتښتېدل، چې مرستې ته يې راغلي وو.رسول الله (ص) اسلام ورمخکې کړ؛ خو و يې نه مانه.جګړه ونښته او د حارث ټبر مات شو او ټبر ځان تسليم کړ او په تسليم شويو کې د ټبر د مشر حارث لور هم وه.رسول الله (ص) يې له اسيرونکې وپېرله،ازاده يې کړه او بيا يې ورسره واده وکړ او خپله مېرمنه يې کړه،حال دا کولای يې شول، چې د وينځې په نامه ورسره کوروالی وکړي. مسلمانانو هم ددې واده په درناوي ټول نيولي بنديان ازاد کړل.ددې درناوي خبره حارث ته ورسېده،مدينې ته راغی،اسلام يې ومانه او تر هغه روسته يې د ټبر ټول وګړي هم مسلمانان شول.

په حديبيې سوله کې د حارث او خزاعه ټبر د قريشو پر وړاندې له رسول الله (ص) سره همژمني شول.
نو له دې ځايه دي، چې د جګړه څپلیو عرب ټبرونو د چار په حکمت مو سر خلاصيږي. آنحضرت(ص) چې کله غواړي سوله شي؛ نو ظالم ټبر مظلوم ټبر ته نجلۍ ورکوي او ددې دوو ټبرونو ترمنځ په دې واده سياسي تړاو تړي؛ نو څرګنده ده، چې د جګړه څپلیو ټبرونو له مېرمنو سره د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ودونه يې له دې قاعدې وتلی چار نه دی؛ لکه د خيبر د يهودو د مخورو له لور صفيه سره د رسول الله واده،يا له ريحانه سره يې واده، چې د بني نظيرو له ټبره وه او مېړه يې د بني قريظه وو له ټبره و.
له سرغړانده عرب ټبرونو سره د رسول الله د دا ډول ودونو حکمت څرګند دی او ددې خبرې په پامنيوي خو لاڅرګنديږي، چې د رسول الله يو واده هم د خپلو انصارو له ټبرونو سره نه و؛ ځکه انصاري کونډې له خپلو کورنيو سره وې او په ژوند چارو کې يې پالندوی او مرستې ته اړتيا نه درلوده؛ بلکې په خپله انصار ول، چې مدينې ته د مسلمانانو د هجرت په پيل کې يې ورسره په کور کالي او ډوډۍ ورکولو کې مرسته کوله.د رسول الله(ص) د ټولو ودونو د حکمت چار څرګند دی،يوازې دوه ځايونه دي، چې پلټنې ته اړتيا لري:
لومړی يې له حضرت عايشې بي بي سره واده دی،که څه رسول الله(ص) ورسره هغه مهال واده وکړ، چې د عمر نهه کاله يې پوره شوي وو، چې په خپله دا چار زموږ له ښارمېشتي دودونو سره په ټکر کې چار دی.
ددې نيوکې په ځواب کې مو په پيل کې وويل: هغه وخت او ځای له اوسني وخت او ځای سره پرتله کول ناسم چار دی او هم وايو:دا نه يوازې د خدای استازی و، چې په دې عمر کې يې له يوې نجلۍ سره واده کړی دی؛ بلکې خپله ګرانه فاطمه يې هم په همدې عمر کې مېړه ته ورواده کړې وه او دا چار د اسلام د قانون له نظره سم دی او بل داچې په ګرمو سيمو کې انسان ژر د بلوغ پړاو ته رسي او ژر هم ماتيږي او دا چار په نننې هندوستان هېواد کې هم دود دی او ډېری نجونې خو پکې تر نهه کلنۍ دمخه هم بلوغ ته رسي او ژر زړيږي؛ خو په تبت غرونو کې يې چار پرعکس دی او کله ويل کيږي، چې د نارينه وو عمر يې کله دوو سوو کلنو ته هم رسي او سل کلن نارينه يې ځوان سړی دی.
دويم يې د خپل زوی ويلې اسامه له طلاقې شوې مېرمن زينب سره واده دی، چې ددې چار حکمت مو په مخکې مخونو ووايه.

# مدينه العلم د باب العلم له نظره

## رسول الله د حضرت علي كرم الله وجهه په ويناوو کې

مشهور حديث دی، چې رسول الله (ص) ويلي دي: زه د علم ښار او علي يې ور دی او که څوک دې ښار ته راننووتل غواړي؛ نو له وره دې يې راننوځي. بيا د غزل بابا امير حمزه خان شينواري همدا حديث د شعر په بڼه راوړی دی او وايي: ښار يې دی احمد علی دی باب د علم نور محمد دی علي مهتاب د علم –نو د پورته حديث په رڼا او ددې شعر يوه معنا داده، چې د رسول الله (ص) د پېژندو يوه غوره لار د حضرت علي كرم الله وجهه ويناوې دي؛ نوځکه مو بې زياتونې او کمونې د نهج البلاغې[1] د خطبو هغه برخې راخستي دي، چې حضرت علي كرم الله وجهه پکې د رسول الله (ص) پر وګړه رڼا اچولې ده.شونې ده ځينې مطالب يې تکراري وي؛ خو د امانت ساتنې په پار مو ټول هغه څه راخستي، چې په نهج البلاغه کې د حضرت رسو الله په باب وو.

څښتن تعالی، چې ځمکه د انسان ژوند ته چمتو کړه او خپل حکم يې ورکړ (؛ نو) آدم (عليه السلام) يې پر خپلو مخلوقاتو غوره کړ؛ نو هغه يې پر ځمکه لومړنی او غوره مخلوق وګرځاوه،په پيل کې يې آدم عليه السلام په جنت مېشت کړ او خوندور خواړه يې ورپېرزو کړل او له منع شويو يې له مخکې خبر کړی و،که دا چار دې وکړ؛ نو سرغړاندې به وي؛ خو آدم عليه السلام په هغه کار لاس پورې کړ، چې ترې منع شوی و او په اړه يې د خدای علم پلې شو[2]،تردې چې تر توبې روسته يې له جنته ځمکې ته راولېږه، چې په خپل ځوځات ځمکه ښېرازه او اباده کړي او په دې توګه پر بندګانو يې خپله غاړه خلاصه کړه.

او د آدم عليه السلام تر وفات روسته يې ځمکه له حجته تشه پرېنښووله او د ځان او آدم عليه السلام د ځوځات ترمنځ يې د پېژندګلوۍ اړيکه رامنځ ته کړه او پېړۍ په پېړۍ يې د خپلو پېغمبرانو او استازيو په خولو دا حجت وار په وار رالېږه،تردې چې د پېغمبرانو لړۍ د اسلام پر پېغمبر حضرت محمد (ص) پای ته ورسېده او د الهي احکامو ښوونه، باخبري او زېری روستي پړاو ته ورسېد.

---

[1] (د حضرت علي د ليکونو،خطبو او حکمتونو ټولګه ده،چې په پښتو مې هم اړولې)

[2]: آدم (ع) په جنت کې لنډ مهاله ژوند درلود،چې هلته امر او نهې د دنيا په څېر نه دي،چې ګناه وي؛ ځکه پيغمبران له هر ډول ګناه او تېروتنې خوندي دي او سپين لمني - معصوم دي.

رسول الله ته چې د څه امر شوی و، څرګند یې کړ او (خلکو ته یې) د خپل پالونکي پیغامونه ورسول،هغه ټولنیزې سوړې په یووالی ټپې کړې او خواره واره شوي او ځان ځانی اخستي یې راټول کړل،د خپلوانو ترمنځ یې مینه پیدا کړه،حال دا په سینو کې یې د دښمنۍ اور بلېده.

شهادت ورکوم چې څښتن نیاومن دی او له خپلو مخلوقاتو سره په نیاو چلي او داسې پرېکړه کوونکی دی، چې حق و باطل یو له بله بېلوي او ګواهي لي، چې محمد (ص) د خدای بنده او استازی دی او د ټولو بندګانو ښاغلی دی. خدای چې بندګان په دوو ډلو ووېشل؛ نو هغه یې په غوره ډلې کې کړ، په کورنۍ کې یې زناکار او بدچاری نشته.

باخبر! خدای نېکیو ته وړ خلک، حق ته ستنې او اطاعت ته ساتنوال ګومارلي. د اطاعت په لار کې یې چې هر پل اخلئ؛ نو د خدای له لوري درته ملاتړ شته، چې په خوله مو خبرې راوړي؛زړونه مو ډاډمنوي، چې په دې کې بسیا کوونکي ته بسیا او شفا غواړیو ته شفا ده.

څښتن تعالی پیغمبران په خورا ښو امانت ځایونو کې په امانت کېښوول او په ډېرو غورو ځایونو کې یې هستوګن کړل. د پلرونو له عزتمنو ملاګانو یې د میندو سپېڅلیو زیلانځو ته ولېږدول او چې یو به له نړۍ سترګې پټې کړې،بل به د دین د پرمختګ لپاره راپاڅېده.

بیا سبحان خدای په داسې حال کې په حقه خپل استازی راولېږه، چې نړۍ مخ پر ځوړ وه او آخرت مخه کړې وه، غوړېدلې نړۍ مخ پر مړاوېدو وه،نړیوال په ستونزو اخته ول،وخت یې مخ پر زوال او د پوپنا کېدو شرایط یې نژدې شوي ول.

(د رسول الله بعثت) پر داسې مهال و، چې دنیا له خپلو اوسېدونکیو سره د پرېکون په درشل کې وه،د خلکو نښتې کړۍ یو له بله بېلېدې،د بیلېدو لاملونه یې هم ډېر شوي ول،د دنیا د لارښوونې جنډې هم راولوېدلې وې،د ژغورنې اثار نه برېښېدل، ناوړه څیزونه راپیدا شوي ول،عمرونه لنډ شوی ول؛ نو خدای په دغسې پیر کې خپل استازی د رسالت تبلیغ ته راوستاوه، چې د خپل امت د عزت لامل شو،د زمانې اوسېدونکیو ته پسرلی، یارانو ته د سر لوړۍ او ملاتړو ته یې د عزت او شرافت لامل شو.

تردې چې د خدای له لوري د نبوت عزت د محمد (ص) په برخه شو او د هغه وجود یې له سپېڅلي کانه رابیل کړ او د وجود نیالګی یې په خورا ښه ځمکه کې وکاره او خروب کړ او له کومې ونې یې چې نور پیغمبران پیدا کړي ول،دی یې هم پیدا کړ،ځوځات یې خورا ښه ځوځات دی او کورنۍ یې خورا ښه کورنۍ ده او د وجود ونه یې خورا ښه ونه ده؛دا ونه د الهي امن په حرم کې راټوکېده او د عزتمنې کورنۍ په غېږ کې لویه شوه. ښاخونه یې تر اسمانه لوړ شول، چې مېوې ته یې د چا لاس نه رسېده؛ نو رسول الله د پرهېزګارانو مشر،روښانسترګو

ته رڼا، بله ډيوه او ځلاند ستوری دی، چې هر وخت ترې د رڼا شغلې روانې وي. هغه د بکرې ډېره ده، چې له شغلې يې رڼا جوړېږي او خوی يې منځلاري ده.ژوند دود يې سم او پايښتی دی،خبرې يې د حق او باطل بېلوونکې دي. ورمندون او منځګړتوب يې پر نياو دی. خدای هغه مهال پر پېغمبری وټاکه، چې له تېرو پېغمبرانو ډېر زماني واټن تېر شوی و او خلک له ښو کړنو په تېښته کې ول او امتونه په ناپوهی او بې خبری کې راښکيل شوي ول.

خدای د اسلام پېغمبر په داسې وخت کې راولېږه، چې خلک ورکلاري او هړاند و ځلبلاند ول او په فتنو کې ډوب ول،هيلو او هوسونو پرې قبضه کړې وه،د ښاځمنی او ځانمنی له لامله ډېر زيات ښويېدلي ول او د جاهليت ناپوهيو ځارځپلي کړي ول او د ژوند په چارو کې کړند و لالهاند ول او ناپوهی بې سره کړي ول، پېغمبر (ص) يې سمولو ته خورا زيار وايست او سمې لارې ته يې کړل او په حکمت او ښه وينا يې خلک د خدای لارې ته راوبلل.

خدای له پېغمبرانو ژمنه واخسته، چې څه ورته شوې وحې به خلکو ته رسوي او د رسالت په چارو کې به د خدای امانتوال وي. د ناپوهيو په پېر کې چې ډېری خلکو د خدای ژمنه ناليدلې ګڼلې وه او د پالونکي حق يې هېر کړی و او پر ځای يې دروغجنو خدايانو ته مخه کړې وه او شيطان خلک د خدای له پېژندو بېلارې کړي ول او له عبادته يې پاتې کړي ول؛ نو خدای ورته پرله پسې خپل استازي راولېږل، چې بندګانو ته د الست (او د فطرت) د ژمنې[1] پوره کول ورياد کړي او هېر کړي نعمتونه ورياد کړي او د الهي احکامو په تبليغ پرې غاړه خلاصه کړي او د عقلونو پټه کړای شوې وسمنې رابرسېره کړي او د خدای د ځواک نښې وروښيي؛لکه پر انسانانو د اسمان لوړ چهت،تر پښو لاندې يې د ځمکې زانګو، د ژوند لاملونه او وسايل،د مړينې لارې،هغه ستونزې رنځ او غم، چې انسان بوډا کوي او پرله پسې پېښې، چې پر انسان راځي.

خدای کله هم خپل بندګان د پېغمبرانو له رسالته بې برخې کړي نه دي؛ بلکې تل يې ورته اسماني کتاب رالېږلي،غوڅ دليل او سمه سيده لار يې ورښوولې ده،د لارويانو لږوالي او د منکرينو ډېروالي، پېغمبران په خپلو دندو کې ناغېږي نه کړل. ځينو پېغمبرانو د راتلونکي پېغمبرانو د راتلو خبر ورکړی و او چې روسته راغلل،تېر يې وښوول او تصديق يې کړل. په دې توګه پېړی تېرې او زمانې اوړېدې،نيکونه پلرونه راغلل او اولادونه ترې راپاتې شول.

[1] انسان له اروايز او فطري اړخه (الله نمانځی) دی او نن ارواپوهنې هم د انسان ديني اړخ منلی دی،که څه خنډ نه وي؛ نو انسان له ا روايز او فطري پلوه خدای ته څوبمن دی او په هر ځای کې خدای لټوي.

خدای خپل استازي راولېږل او خپله وحې يې پر هغوی پورې ځانګړې کړه او پر خپلو بندګانو يې حجت کړل، چې چاته څه پلمه پاتې نشي؛ نو پېغمبرانو انسانان په ربښتينې ژبې حق ته راوبلل.پوه شئ! خدای په دې دنيا کې (په ازمېښتونو) د خلکو دننه رابرسېروي؛ خو داسې نه چې په پټو خوالو يې نه پوهېږي او په سينو کې يې له پټو ناخبره دی؛ بلکې ددې لپاره دي، چې د ازمېښت په بهير کې يې واچوي؛ نو که څوک ښې چارې کوي.ويې کړي (او څوک چې ناوړه چارې کوي د سزا وړ شي) او په پايله کې ښه بدله د نېکانو سزا شي او ناوړه سزا د بد چارو سزا شي.

ان تردې چې سبحان خدای د خپلې ژمنې د پوره کولو او د نبوت پېر پوره کولو ته محمد رسول الله (صلی الله عليه واله وسلم) راولېږه،هغه څښتن استازی، چې خدای يې له ټولو پېغمبرانو د نبوت منښته اخستې وه. د پېغمبرۍ نښې يې مشهورې وې او زوکړه يې ټولو ته نېکمرغه وه.

په دې وخت کې خلکو بېلابېلې ګروهې درلودې،د هر قوم لار بېله وه. ځينو خدای له مخلوقاتو سره ورته کاوه او د مخلقاتو په څېر يې ګاڼه،ځينو په ناکاره نومونو ياداوه،ځينو ويل: دا هستي بل چا پنځولې ده؛ نو خدای خلک د محمد (ص) په رسالت له بېلارۍ وژغورل او پر سمه يې کړل او له ناپوهۍ يې وژغورل. بيا يې رسول الله(ص) ته خپل ليدل غوره کړل او هغه څه يې ورته خوښ کړل، چې ورسره وو او ددې دنيا له ستوتزو يې خلاص کړ او په عزت يې ترې ساه واخسته او ځان ته راوباله.

رسول الله تاسې ته ځايناستي پرېښوول،لکه څنګه چې تېرو ټولو پېغمبرانو خپلو امتونو پرېښي ول، ځکه تېرو پېغمبرانو خپل امتونه داسې نه ول پرېښې، چې څرګنده لار او څرګندې نښې يې ورته نه وي
ښوولې[1].

د اسلام پېغمبر(ص) د پالونکي د وحې امين،د پېغمبرانو خاتم،د رحمت زېری ګر او د الهي سزا ګواښنګری و.

او شهادت ورکوم، چې محمد (ص) د خدای بنده او استازی دی او خدای له څرګند دين،ټينګو نښو، کښل شوي کتاب، ځلاندې رڼا،بل څراغ او څرګندو احکامو سره راولېږه، چې

---

[1] دلته ديني حکومت Theocracy تيوکراسی ته اشاره ده.

له زړونو شکونه لرې کړي او په کوټلو او څرګندو دلايلو استدلال وکړي[1] او خلک په الهي آيتونو يې پرهيز او له الهي سزا ډار کړي.
لېنه ورکوم، چې محمد (ص) د خدای بنده، غوره استازی او د هغه د خوښې امانتوال دی (صلی الله عليه و آله وسلم) الله؛ هغه عزتمن پېغمبر له الزامونکيو دلايلو،ښکاره بريا او څرګندې لار سره راولېږه؛ نو خپل رسالت يې په ډاګه ترسره کړ او خلک يې سمې لارې ته هڅول او ټولو ته يې وښووله،د لارښوونې نښې يې کېښوولې او د خلکو د لارې پر سر يې ډيوې بلې کړي،د اسلام جرړې يې ټينګې او د ايمان کړی يې ډاډمنې کړې.
پاک خدای، پېغمبر د پېغمبرانو له ونې ، د سترې کورنۍ، د بطحا[2] له ځمکې، په تېوتيارو کې له بلو ډيوو او د حکمت له سرچينو وټاکه.
رسول الله د رنځورانو درملنې ته ګرځنده طبيب دی،خپل درمل او ملهم يې چمتو کړي او د خپلې جراحۍ وزلې يې تاوده کړي، چې د اړتيا پر مهال يې پر ړندو زړونو، کڼو غوږونو او ګونګو ژبو ووهي او له خپلو درملو سره درګرده په هېر کړای شويو او هراندو و لالهاندو رنځورانو پسې ګرځي.
_ د رسول الله زهد:
رسول الله دنيا ټيټه او وړه وګڼله او نورو ته يې هم ناڅيزه وروښوله او پوه شو، چې خدای ترې دنيا لرې کړې؛ ځکه ناڅيزه او وړه ده او نورو ته يې ورکړه. رسول الله د زړه له تله له دنيا مخ واړاوه او له زړه يې ايستې وه، چې ورياده نشي او ښه يې ايسېدل، چې ښايست او سينګار يې له سترګو بچ وي،هسې نه چې وياړنې جامې ترې جوړې کړي او يا پکې د مېشتېدو هيله وکړي.
خلکو ته يې د خپل پالونکي رسالت ورساوه ؛چې تر هغه روسته ورته څه پلمه نه وي او خپل امت ته يې د خدای له عذابه د وېرولو ورم وکړ او په زېرو يې خلک جنت ته راوبلل او د دوزخ له اوره يې وډار کړل.
خدای، پېغمبر(ص) راولېږه، چې حق ته بلونکی او د خلکو پر کړنو ږوی - شاهد وي. پېغمبر د خپل پالونکي د رسالت په سر ته رسولو کې لږه ناغېږي هم و نه کړه او د خدای په لار کې

[1] دلته د دوګماتېزم (بې دليله د يو څيز منل – Dogmatism) اندنه نفې شوې او په ګرده نهج البلاغه کې د حج دليل او برهان څرګندنه دا حقيقت اوڅاروي،چې انسان دې په دليل منښته او نمنښته کوي.
[2] د ابو قيس او احمر د غرونو ترمنځ سيمې ته بطحا وايي،چې قريش پکې اوسېدل.

يې له خپلو دښمنانو سره جهاد وکړه، بې له دې چې څه کمزوري وښيي يا پلمه راوړي. پېغمبر (ص) د نمنځچارو لاربه او د ښيون شويو د سترګو رڼا ده.

خدای، محمد عليه السلام په داسې زمانه کې پر رسالت راولېږه، چې په خلکو کې پېغمبران نه ول او د بېلابېلو اديانو لارويان په خپلو کې په شخړه اخته ول؛ نو هغه يې په نورو پېغمبرانو پسې راولېږه او و حې يې دهغه په نبوت پای ته ورسوله؛بيا پېغمبر له ګردو هغو مخالفينو سره مبارزه وکړه، چې حق ته يې شا کړې وه او ترې کاږه شوي ول.

د رسول الله هستوګنځی غوره هستوګنځی و، پالنځی او کورنۍ يې خورا شريف وه،په عزتمن کان او روغې رمتې زانګو کې يې وده وکړه،د نېکانو زړونه ورمات شول او د نظرونو پام ور واخوت.خدای يې د برکت له لامله کينې مړې او د دښمنۍ اورونه ساړه کړل او د ايماني ورونو ترمنځ يې مينه او دوستي پيدا کړه او خپلوان يې[1] سره لرې کړل،نشتمني او خوار کړای شوي عزتمن شول او خپلسري عزتمن خوار شول، ويناوو يې واقعيتونه څرګندول او چوپتيا يې ژبه وه.

خدای، رسول الله (د اسلام) له رڼا سره راولېږه او په غوره کولو کې يې پر ټولو غوره وګاڼه، د هغه پر بعثت يې سوړې ټپې او ځواکمن واکمن يې وځپل،ستونزې او کنډوکپر يې پرې هوار کړل، تردې چې د ښي او کيڼ لوري بېلارۍ يې لرې کړه.

او ګواهي لي، چې محمد (ص) د هغه بنده او استازی دی او را و يې لېږه، چې د خدای امر راښکاره کړي او خوله دهغه پرياد پرانځي؛ نو په پوره امانت يې خپله دنده وکړه او په سمه پر خپل لار ولاړ او مورږ ته يې د حق بېرغ پرېښود؛ نو څوک چې ترې مخکې شي،له دينه وتلی او څوک چې ترې روسته پاتې شي؛ نو هلاکېږي او چې څوک ورسره وي،ژغورل کېږي. د دې بېرغ لارښود په درنګ او غور خبرې کولې او د چارو د ترسره کولو لپاره يې ځنډ کاوه او چې به راپاڅېد؛ نو په بيړه به لګيا شو؛ نو چې هغه ته مو غاړه ايښې او ستر يې بولئ،مرګ يې راورسېد او خدای درنه بوت،تر هغه روسته به څومره چې د خدای رضا وي،ژوند وکړئ ان چې خدای يو څوک راڅرګند کړي، چې تاسې يو موټی کړي

خلکو! په هغه پورې زړه مه تړئ، چې نه وي راغلی او په هغه پسې نهيلي نشئ، چې تېر،تېر شو، که د تېر شوي يوه پښه ښويه شي او بله يې پر ځای وي،ښايي دواړه پښې خپل ځای ته راشي،سمې شي او پر کار ولوېږي.

---

[1] حمزه بابا: حمزه له ابولهبه بېل شو.

-د رسول الله د بعثت لاس راوړنې:
تر څښتن ستاينې روسته،په رښتينه کې سبحان خدای حضرت محمد (ص) پر داسې مهال مبعوث کړ، چې عربو نه کوم کتاب لوستی و او نه يې د وحې او پيغمبرۍ دعوا درلوده. د اسلام پيغمبر د خپلو يارانو په ملاتړ مخالفين وځپل او د ژغورنې مقام ته يې ورسول او هڅه يې کړه، چې د کفر پر حال ونه مري او هغوی يې له لاسه ونيول، چې د باطلو ګروهو، فساد او ورکلارۍ تر درانه پېټي لاندې ستړي ستومانه شوي ول، چې له خپل ځايه راپورته شي او ځانونه د نېکمرغۍ پړاو ته ورسوي؛ خو بې له هلاکېدونکيو چې بېلاري يې نيولې وه او څه خير پکې نه و. ټولو ته يې د ژغورنې تشکيلات وروښوول او هر يو يې پر خپل ځای کې کېناوه، تردې چې د ژوند ژرنده يې په چورليدو راغله او نېزې يې تېزې شوې.
پر خدای قسم،زه په هغه لښکر پسې وم،ان چې باطلو ماته وخوړه او پر شا شول او ټولو د اسلام مشرۍ ته غاړه کېښووله،په دې لار کې بيخي بېوسې نشوم او و نه ډارېدم او خيانت مې و نه کړ او نه مې په چارو کې کمزوري ښوولې.پر خدای قسم! باطل به تر هغې څيرم راڅيرم، چې له ډډه يې حق رابهر کړم
ان تردې چې پاک خدای، محمد (ص) په رسالت او پيغمبرۍ وګوماره؛ ګواهي ورکوونکی،زېری ګر او ګواښنګری. په وړوکوالي کې يې غوره خوی درلود او په زړښت کې هم د خورا سپېڅلي او ستر خوی خاوند و، خوی يې تر ګردو پاکانو خورا پاک او د سخا او کرم په باران يې هر څوک مړېدل.
خدای د اسلام پيغمبر په داسې وخت کې راولېږه، چې خلک په فتنو اخته ول. د دين تارونه شلېدلي ول او د ايمان او ډاډ ستنې نړېدلې وې.د دين په آرونو کې يې اړپيچ درلود (؛ يعنې هر چا پر هغه څه منګولې ښخې کړې وې، چې پخپله يې آر ګاڼه) او د خلکو چارې شيندلې وې.
د فتنې وتلار خورا تنګه وه،پناه ځای نه و،د ښيون - لارښوونې ډيوه مړه وه او د ټولو زړونه ړانده ول او بدلغامي -بېلارې عامه شوې وه،له لوراند څښتنه سرغړاندي عامه شوې وه او شيطان ملاتړېده،ايمان بې ملاتړه و او ستنې يې غورځول شوې وې،نښې يې اړول شوې،لارې ګودرې يې ويجاړې او هېرې شوې وې. جاهلي خلکو شيطان ته غاړه ايښې وه او پر لارو يې روان ول او د شيطان له اوخورې خړوبېدل.جاهلي خلکو د شيطان نښې څرګندې او د بريا بېرغ يې اوچت کړی و،خلک فتنو دل ول کړي او شيطان په خپلو سپرو خچړې کړل،فتنه په خپلو پنجو ټينګه ودرېده؛ خو خلک هړاند و ځېلاند – حيران ،سرګردان، ناخبره او تېر ايستل شوي، چې

د ډېر غوره کور (کعبې) ترڅنګ له ناوړو ګاونډيانو (بوتپالو) سره اوسېدل. خوب يې بې خوبي او اوښکې يې د سترګو رانجه ول،داسې سيمه وه، چې د پوهانو خوله ټپه او ناپوهان عزتمن ول.

خدای تعالی حضرت محمد (ص) راولېږه، چې نړيوال (له خپل څاڅ و پرغز- قهر او غوسې) وډاروي او د وحې امانتګر يې وي او بعثت يې پرداسې حالاتو کې و، چې تاسې عربو خورا ناوړه دين درلود،په خورا ناوړه کورونو کې وسېدئ،چټلې اوبه مو څښلې،خراب خواړه مو خوړل،په غارونو او تېرو تيرو کې له کڼو زهرجنو مارانو سره وسېدئ،په ناحقه مود يو بل وينې تويولې او له خپلوۍ مو لاس اخستی و، بوتلمانځنه درکې وه او په فساد او ګناهونو کې ډب وئ.

له رسول الله (ص) سره وو، چې (د کفر له لامله) موږ خپل پلرونه، اولاد، وروڼه او ترونه وژل، چې دې مبارزې راکې ايمان ته د تسليم،د حق پر لار د تلو او له دښمنانو سره د جهاد جذبه نوره هم زياتوله او ثابت قدم کولو يې کله مو له دښمن سره يو په يو ډغرې وهلې او هر يو غوښتل مقابل لوری ووژني،کله موږ پر دښمن او کله دښمن رالاسبرېده؛ نو چې خدای مو رښتين توب او اخلاص وليد؛ نو زموږ دښمن يې څارڅپلی او سپک ورک کړ او موږ يې بريالي کړو،تردې چې اسلام ټينګ شو او پراخې سيمې يې تر اغېز لاندې راوستې. پر ځان مې قسم! که موږ په جنګ جګړه کې ستاسې په څېر وو؛ نو دين ته يوه ستنه هم نه اوچتېده او نه د ايمان د ونې څانګه زرغونېده.پر خدای قسم! تاسې همدا وس د اوښ له تيونو وينه روئ، چې په پای کې مو پښېماني پر برخه ده.

خدايه! ای د هرې غوړېدلې غوړوونکيه! او د اسمانو درووونکيه! او د بدمرغه او نېکمرغه زړونو پيدا کوونکيه!سپېڅلي رحمتونه او خورا ډېر برکتونه دې پر خپل بنده او استازي محمد (ص)[1]

---

[1] محمد جواد مغنيه: محمد (ص) د خدای بنده او پيغمبر دی: ((قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ = (فصلت/٦) ووايه: ((زه خو ستاسې په څېر يو بشر يم (خو توپير مې دادی چې) ما ته (زما د پالونکي له لوري) دا حقيقت وحې کېږي،چې ستاسې معبود ايکی يو معبود دی؛ نو خپل ټول پام هغه ته واړوئ او بښنه ترې وغواړئ او پر مشرکانو افسوس!))شک نشته،چې محمد (ص) يو انسان دی؛ خو اسماني معجزه ده او بېلګه کول يې ستر چار دی. محمد (ص) د نشتمنۍ دښمن و او مبارزه يې ورسره کوله او پخپله يې يو يا دوه مياشتې په کور کې اور نه بلاوه او په اوبو او کجورو يې بسنه کوله (کنزالعمال: ٩/ ٢٦٨) او په داسې حال کې وفات شو،چې زغره يې له يو يهودي سره ګروه وه (السنن الکبری: ٦/ ٣٦) او له يو بل يهودي،يې په پور خواړه غوښتل؛ خو هغه په دې پلمه پور ورنه کړ،چې محمد

ولوروه، چې د تېرو پېغمبرانو خاتم،د تږلو وروڼو پرانستونکی دی، چې حق د حق په زور او برهان ښکاره کوي. د باطلو لښکرې يې په مخه کړې او د هغوی شور و زوږ او شوکت يې کېناوه. د رسالت درونډ بار يې پر اوږو کړ او ستا په حکم راپاڅېد او په بيړه يې ستا د خوشحالی په لار کې ګامونه پورته کړل،ان يو ګام هم پر شا نشو او اراده يې سسته نشوه،ستا وحې يې ښه ضبط کړه ،ستا د ژمنې پاسوال و او ستا د احکامو په پلي کولو کې يې هڅه وکړه،ان چې د حق ډيوه يې بله کړه او ناپوهانو ته يې لار رڼا کړه او په فتنو او ګناهونو کې ډوب زړونو سمه لار ومونده.د حق بيرغونه يې هسک کړل او ځرګند احکام يې نافذ کړل؛ نو هغه رښتين پېغمبر و،ستا ډاډمن،ستا د پوهې زېرموال،د قيامت لووی،د حقايقو ويلو ته تا رالېږلی او خلکو ته دې استازی دی.

پالونکيه! د خپلو لورنو په سيوري کې لوړ مقام ورکړه او په خپله پېرزو او کرم يې ثواب ډېر کړه.خدايه! د دين ماڼۍ يې له هرې ماڼۍ اوچته کړه او مقام يې په خپل نزد ډېر د قدر وړ کړه. د دين رڼا يې هر ځای ته خپره کړې او د رسالت په بدله کې يې لېينه،شفاعت او ويناوې ومنه؛ ځکه ويناوې يې سمې سيخې او سوليزې - منطقې وې، داسې چې حق و باطل يې يو له بله بېلول.

خدايه! موږ ورسره په ښه او خوندور ژوند کې يوځای کړه هلته چې ستا د نعمتونو ځای دی او د هر غوښتونکي هيله ده او هر خوند اخستونکی يې غواړي؛ داسې ژوند، چې نعمتونه پکې پراخه، سوکالي او پوره ډاډ پکې دی او ارزښتمنې ډالۍ هم پکې دي[1]!

---

(ص) نه پټی لري او نه رمه؛ نو ځنګه به خپل پور ورکړي (ميزال الاعتدال: ١/ ٢٥٧)محمد کله هم په يوه وخت کې دوه جوړه جامې او دوه جوړه څپلۍ نه درلودې. د شپې به پر پوزکې ويدېده او د پوزکې نښې به پرې ښکارېدې او د ورځې به پر هماغه پوزکي کېناسته (غزالي، احيا علوم الدين: ٢/ ٣٧٦). حال داچې د ګرد جزيرة العرب شتمني ورسره وه. له دې زاهدانه ژونده يې موخه دا وه،چې راوروسته ځوځات وپوهوي،چې واکمن ته نه ښايي په واکمنۍ کې سوکاله ژوند وکړي. " حضرت علي: د نهج البلاغې په ٢٠٧ مه خطبه کې: خدای پر نياومنو امامانو فرض کړې،چې د نشتمنو په څېر ژوند وکړي،چې نشتمن په خپلې نېستۍ خپه نشي. "

[1] يعنې امام دلته دعا کوي،چې خدايه! ما ورسره په خپل جنت کې ملګری کړه؛ هغه جنت، چې هيڅ خپګان پکې نشته او نعمتونه يې زوال نه مومي او چې څه ته مو شوق کېږي، رارسي او د سترګو چې څه خوښېږي،ورته په مخ کې دي؛ حورې،ماڼۍ،تاکونه جامونه، سوکاله ژوند او. . . انسان ته د خدای عزت په جنت کې دی. رسول الله (ص) له دې ټولو برخمن دی او نور نعمتونه،چې نه شمېرل کېږي. امام له خدايه غواړي،چې له

پاک خدای د اسلام پيغمبر په داسې پير کې راولېږه، چې د مخکېنيو پيغمبرانو له راتگه ډېر وخت تېر شوی و او ولسونه په درانه خوب ويده ول، په گرده نړۍ کې فساد او فتنې خپرې وې او ناوړه کړه وړه دود شوي ول. په هر ځای کې د جگړې لمبې ژبغړاندې شوې وې، دنيا بې نوره او له چل ول ډکه شوې وه. د ژوند ونې پاڼې ژېړې شوې وې او د مېوې هيله يې نه وه،اوبه وچې شوې وې او د سمې لارې نښې زړې او ويجاړې شوې وې. د هلاکت او ورکلارۍ جنډې راښکاره شوې او دنيا په بدرنگه څېره خلکو ته کتل او له دنياوالو سره په تريو تندي او غمجنې څېرې مخامخېده. په جاهليت کې د دنيا د ونې مېوه فتنه وه او خواړه يې مردار ول، دننه پکې وېره او ډار و او بهر پرې د ظلم تورې لاسبرې وې.
د خدای بندگانو! پند واخلئ او په جاهليت کې د خپلو پلرونو او وروڼو ژوند راياد کړئ، چې اوس له دې نړۍ تللي او په خپلو کړنو کې نښتي او حساب ورسره کېږي. پر خپل سر مې قسم! ستاسې او د هغوی ترمنځ ژوند او مړينې ته او له الهي سزا د ژغورنې لپاره کوم تړون شوی نه دی او تر اوسه لا ډېر وخت تېر شوی نه دی او له هغه مهال سره هم دومره واټن نه لرئ، چې د خپلو پلرونو په شاگانو کې واست.پر خدای قسم! رسول الله، چې کومې خبرې دراورولې وې،هماغه دراوروم او اورېدنه مو له پرونه څه کمه شوې نه ده او پلرونو او وروڼو ته مو چې پرون کومې سترگې او زړونه ورکړل شوي ول، تاسې ته هم درکړل شوي. پر خدای قسم! تر هغوی روسته داسې څه نه دي درښوول شوي، چې هغوی نه پېژندل او تاسې يو څيز ته ځانگړي شوي نه ياست، چې هغوی ترې بې برخې وي. په رښتيا داسې غوړېکو - پېښو درمخه کړې؛ لکه اوښ، چې کابو کول يې ستونزمن دي او پېړمه يې سسته وي او سپرېدل پرې ستونزمن وي. هسې نه د غولول شويو ژوند مو تېر باسي! دنيا د راخور او لنډ سيوري (په څېر يو دام دی) چې بنيادمان د مړينې تر وخته نه خوشې کوي
تردې چې خدای د رسول الله په لاس شعله بله کړه، چې نور ترې رڼا واخلي او د ښيون ډيوه يې کېښووله، چې ورکلاري پرې لار مومي.
څښتنه! هغه ستا امين او د ډاډ وړ دی،د قيامت پر ورځ دې لوی دی او ستا له لوري مبعوث شوی، چې نړيوالو ته يو نعمت دی او ستا پر حق استازی دی، چې گرد عالم ته رحمت دی.

---

پيغمبر سره گاونډی شي،چې له دې نعمتونو خوند واخلي او دا نعمتونه غوره څيزونه دي،چې خدای يې خپل مطيع بنده ته ورکوي.

ښتنه! د خپل نیاو زیاته برخه دې ورځانګړې کړه او له خپل احسان او کرمه پرېمانه وروبښه،دین یې له پخوانیو ادیانو اوچت کړه. د خپل نعمت پر خوان یې عزتمن کړه او په خپل نزد یې د لوړ مقام خاوند کړه او د خپل نژدېوالي وزله ورولوروه.فضیلت او لوړ مقام یې بې ساری کړه او موږ یې په ډله کې محشور کړه؛ نه د اشوا شویو او لیپخورو - پښېمانو شویو په ډله کې او نه په هغې ډله کې چې له حقه اوښتي وي. یا له ژمنماتې ډلې او نه په ورکلاریو او بېلاریو کوونکېو ډله کې.

خلکو! د رسول الله د بعثت له نعمته او د خدای د لورنې له لامله داسې مقام ته ورسېدئ، چې ان وینځې مو هم قدرمنې شوې او له ګاونډیانو سره مو مینه کوي،هغوی مو درناوی کوي، چې نه پرې غوراوی لرئ او نه کوم حق او هغوی درنه ډارېږي، چې نه مو له واکمنۍ ډارېږي او نه پرې واکمني لرئ.

اوس نو هغو ستر او الهي نعمتونو ته وګورئ، چې د اسلام د پېغمبر (ص) د بعثت پر مهال پرې راکېووتل، چې څرنګه اطاعت هغوی له خپل دین سره وتړل او په بلنه یې یو موټی کړل! څرنګه پرې الهي نعمتونو د خپل عزت وزرونه وروغوړول او د نعمتونو او سوکالۍ ویالې یې وروبهولې! او هغوی د حق دین په ګردو برکتونو کې راونغاړل شول! په نعمتونو کې ډوب شول او په ښه ژوند خوشحاله شول،په اسلامي واکمنۍ کې یې ټولنیزې چارې سمې شوې او د پایښتي عزت په لمن کې هوسا شول او د پایښتي واکمنۍ خاوندان شول؛ نو بیا پر نړۍ واکمن شول او د ځمکې سلاطین شول او پر هغوی مشران شول، چې مخکې واکمن ول او الهي قوانین یې پرې اجرا کول، چې د احکامو مجریان ول او په تېر کې چا دا وس نه درلود، چې زور یې ورمات کړي او چا ورسره د مبارزې خیال نه درلود.

(د حضرت فاطمة الزهرا د ښخولو پر مهال له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره خواله)

ای رسول الله! پر تا دې سلام وي! سلام زما او ستا د لور له لوري، چې همدا اوس دې په ګاونډ کې خاورو ته وسپارل شوه او ډېر ژر درسره یو ځای شوه. ښتن استازیه! ستا د غوره لور په مړینې مې صبر لږ شوی او زغم راته نه دی پاتې؛ خو زغم راته ځکه شونی دی، چې ستا د بېلتون سختي مې لیدلې او ستا د بېلتون دروندکړاو مې ګاللی،دا زه وم، چې په خپلو لاسونو مې لحد ته ښکته کړې او زما د مرۍ او سینې ترمنځ ستا پاک روح له تنې والوت ((نو موږ د خدای یو او پر لور یې ورستنېږو))

نو چې کوم امانت دې راسپارلی و،دروسپارل شو او خپل خاوند ته ورسېد،اوس مې غم د ټول عمر لپاره دی او کرۍ شپه به مې خوب نه وړي.تر هغې ورځې چې خدای راته ستا د ژوند

کور غوره کړي. ډېر ژر به دې خپله لور خبر کړي، چې امت دې په يوه خوله څرنګه پرې ظلم وکړ. فاطمه وپوښته او له حاله يې ځان خبر کړه، چې لا تر اوسه نه ډېر خت تېر شوی او نه دې ياد هير شوی.پر تاسې دواړو دې زما سلامونه وي؛ د پېلنې- خدای پامانۍ سلام، چې د خوښۍ يا سترېيا سلام نه دی؛که درنه ستون شم؛ نو ستنېدنه به مې د سترېيا او زړه تنګۍ له لامله نه وي او که کېږ ته دې کېنم؛ نو ناسته به مې پر هغې ژمنې د بدګومانۍ له لامله نه وي، چې خدای له صابرانو سره کړې ده.

رسول الله (ص) په داسې حال کې ساه ورکړه، چې سر يې ز ما پر سينه و،روح يې زما په لاسونو کې له تنې بېل شو؛ نو (د تبرک لپاره) مې يې لاسونه پر خپل مخ ومږل، رسول الله ته مې غسل ورکړ او پرښتو راسره مرسته کوله. د رسول الله له کور او چاپېرياله ژړا ګانې اوچتې شوې،يو ډله پرښتې راکېووتې او بله به تلې،له غوږونو مې د پرښتو د جنازې د لمانځه انګازه ورکه نشوه،تردې چې په خپله خونه کې مو خاورو ته وسواره. هو! څوک تر ما ورته په ژوند او مرګ کې وړ دی؟

نو خلکو ! د خپلې ليدانې او پوهې له مخې وخوځئ او له دښمنانو سره مو په جهاد کې نيتونه سم کړئ.

پر هغه خدای قسم، چې بل حق معبود ترې نشته! زه پر حق روان يم او دښمنان مې د باطلو پر پاڼ ولاړ دي. چې څه وايم، اورئ يې او له خدايه ځان او تاسې ته ښښنه غواړم.

(رسول الله ته يې د غسل ورکولو پر مهال وويل:)

رسول الله ! پلار و مور مې درځار! په مړينه دې د پېغمبرۍ اواسماني خبرونو لړۍ پرې شوه، چې د نورو (پېغمبرانو) په مړينه غوڅه شوې نه وه. غم دې نور مصيبت ځپلي زغم ته اړ ايستل او ټول يې ستا په مصيبت کې يو ډول ويرجن کړل. که په زغم دې امر کړی نه و او له ژړا او چغو مو منع کړي نه وای؛ نو دومره اوښکې مې تويولې، چې وچې شوې وای او غم به دې پای ته نه رسېده، چې دا ګرد ستا د مصيبت پر وړاندې ناڅيزه دي!؛ خو څه وکړو، چې ژوند بيا راستنولای نشو او د مړينې مانع کېدای نشو. پلارو مور مې درځار! موږ دې پالونکي ته ورياد کړه او هېر مو نه کړې.

د جاهليت څېره

حضرت علي (ک) [1]د جاهليت د وخت په هکله وينا کړې ده ، چې موږ راخستې ده.

---

[1] د نهج البلاغې په ۲، ۱، ۸۹، ۹۵، ۱۹۱، ۱٦٦، ۱۰٤، ۱٤۷، ۱۹٦، ۱٥۱، او۲٦ خطبو کې

خلک ډلې ډلې ول، چې په ډول ډول ځاني غوښتنو پسې تلل،ځينو خدای د خلکو په ځېر ګانه،د ښيون ځراغ مړ و او له رحمان خدايه سرغړونه کېده ،د پوهانوخولې ټپې وې او د ناپوهانو درناوی کېده ،د جګړې د اور لمبې بلې وې، خواړه يې مردار ول، وېره يې شعار و، پوهې پکې ارزښت نه درلود،خلک په ناپوهۍ او کفر کې مړه کېدل ،اوبه يې مردارې وې،وينې يې تويېدې ،کورنۍ شلېدلې وې او بوتان ولاړ وو.

# د تورونو ځوابونه

پخپله ووايئ، هغه پېغمبر، چې خپل دښمن ته د دوومیاشتو پرځای څلور میاشتې مهلت ورکوي او د مکې په سوبه کې د خپل تر ټولو ستر دښمن کور د امن ځای گرځوي،خپل ټول مخالفین بښې، پینځلس کاله ډول ډول زحمتونه گالي، د دښمن د یرغل پر وړاندې له ځانه د د فاع د حکم له کبله، یا د جهاد د ازادي غوښتونکي حکم له کبله دې پرې ډول ډول تورونو وتپل شي، چې له مسلمانانو غواړي، خلک د زور ځواکو له جغه وژغوري او په دې لار کې پراته خنډونه لرې کړي؟!

د اسلام دښمنان وايي: اسلام د تورې پر زور راغلی،حال دا د رسول الله (ص) پر مهال د وژل شویو شمېره دا ده:

۱ـــد بدر په جگړه د وژل شویو شمېر له ۸٤ تنوڅخه تر۸٦ تنوپورې ښوول شوی دی.

۲_احد: ۷۰ – ۱۰۹.

۳_ خندق: ۹ – ۱۱.

٤_ بی قریظه: ۷۰۰ - ۹۰۰.

۵_ بی المصطلق: ۱۰ – ۱۲.

٦_ خیبر- ۳ – ۲۱.

۷_ موته: ۳ – ۲۱.

۸_ دمکې سوبه: ۲۱- ۳۹.

۹_ دحنین اوظایف غزاگانې: ۸۵- ۱۱۲.

۱۰_ د نورو جگړو وژل شوي له ۱۱۹ نه تر ۳۳۳ ښوول شوي دي.

د وژل شویو کسانو شمېر له دې کتابونو اخستل شوی دی: تاریخ طبري ، طبقات یعقوبي ، بحار او د ابن هشام سیرت ، چې ددې ټولو وژل شویو شمېر له ۱۱۰۳څخه تر۱۷۲٤ نه زیات نه دی.

# د رسول الله وېره اواندېښنې

## د آنحضرت (ص) ستره اندېښنه کومه ده؟

رسول الله ويلي:((زه د خپل امت د ځاني غوښتنو له لاروۍ او اوږدو هيلو ته اندېښمن يم.))
په يوبل حديث کې راغلي، چې رسول الله (ص) وويل: ((تر هرڅه زيات زه ستاسې په باب د وړکي شرک په هکله اندېښمن يم.)) وپوښتل شو: رسول الله (ص)ه! وړوکی شرک څه دی؟ ويې ويل: ((ريا او ځانښوونه.))
په يوبل حديث کې راغلي، چې رسول الله (ص)وويل: ((ستاسې په باب له بې لارې مشرانو وېرېږم، چې د بدعت ايښوونکېو رېئسان وي.))
حضرت علي (ک) وايي: د رسول الله سر زما په غېږ کې و، چې ويده شو او موږ يوه ډله وو، رسول الله (ص) په داسې حال کې له خوبه راپاڅېد، چې څېره يې سره اوښتې ده او ويې ويل:((زه بې له دجال هم ستاسې په باب وېرېږم،له بې لارې کوونکيومشرانو او زما د عترت له وينې تويېدو څخه.))
په يو بل حديث کې راغلي، چې رسول الله (ص) د خپل امت د عالمانو د پښې ښويېدنې،د واکمنانو د غوښتنو او له دينه د ناروا تاويلونو په هکله اندېښنه درلوده.
په يو بل حديث کې راغلي دي، چې رسول الله (ص) وويل: ((زه د خپل امت حرامې ګټې ، پټو شهوتونو او ريا په اندېښنه کې کړی يم.))
په يو بل حديث کې راغلي دي ، چې رسول الله (ص) به تل ويل: ((تاسې به هغه وخت څه کوئ، چې فتنې درځنې راتاوې شي، چې کوشنيان به په هماغه فتنوکې وده وکړي ، مشران به پکې زاړه شي اوخلک به ورسره عادت وکړي او هماغه به قانون او دود شي او که دا فتنې بدلون ومومي؛ نو وبه ويل شي ، چې اصلي سنت له منځه ولاړ.))
همداسې آنحضرت (ص) خپلې اندېښنې بيانولې تردې چې ويې وويل: ((ان په دين کې نفقه او پوهېدنه به هم د خدای لپاره نه وي.زده کړې به دعمل لپاره نه وي(داهرڅه به د شهرت،سيالۍ او شتمنۍ د لاس ته راوړو لپاره وي)او د آخرت پر چارو به خلک خپلې دنيوي موخې ترلاسه کوي.))
او روسته رسول الله (ص) د خپل امت لپاره پر خوږ ژبومنافقينو خپله اندېښنه څرګنده کړه.
د رسول الله د زحمتونو او هلوځلو پايله دا شوه، چې شرک يې له منځه يووړ،توحيد يې رامنځ ته کړ،د لور د ژوکړې ننګ يې پرعزت واړو او ښځې ته يې وويل، چې تاسې د مېړه د

ټاکنې،ارث او زده کړې حق لرئ او په حج، د جماعت او جُمعې په لمانځه کې د ګډون حق هم لرئ او ښځمنو ته يې وويل، چې په ټولنه کې علمي، مانيز ،فرهنګي ، هنري، اقتصادي او سياسي کمالاتو ته رسېدای شئ.

قرآن چې د اولوالالباب او هوښيارانو خبره رامنځ ته کوي؛ نو وايي: ((هوښياران د ځمکې او اسمانونو په پيدايښت کې اندنه-تفکر کوي، ايمان راوړي او له خپل خدای سره خبرې او دعا ګانې کوي)) او په پای کې وايي: خدای ددې هوښيارانو دعا قبلوي او وايي، چې زه به ستاسې عملونه ضايع نه کړم که ښځه وي که نارينه ، چې ټول له يو بله دي.

ښځې چې د جاهليت پر مهال هېڅ حق نه درلود؛ نو په قرآن کې له اولوالالباب ځنې شوه او د ټولو حقونو څښتنه شوه.

((إِنَّ فِي خَلْقِ السَّماوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآياتٍ لِّأُوْلِي الأَلْبَابِ[1]= [ په رښتيا چې د اسمانو او ځمکې په پيدايښت او په يو بل پسې د شپې او ورځې په تلو راتلو کې عقلمنو ته (څرګندې) نښې دي.))

((الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّماوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هذَا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ[2]= هغوی چې خدای په ناسته،ولاړه او ملاسته يادوي او د اسمانو او ځمکې په پيدايښت کې فکر کوي (او وايي) پالونکيه ! دا دې عبث او(او بې موخې) نه دي پيدا کړي،ته (له دې) پاك يې (چې عبث کار وکړې)؛ نو موږ د اور له عذابه وساته.))

((رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ[3]= پالونکيه! تا چې څوك (د هغه د کړنو له لامله) په اور کې وغورځاوه؛ نو هغه دې خوار او رسوا کړ او د ظالمانو ته هېڅ مرستندوی نشته.))

((رَّبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِياً يُنَادِي لِلإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الأبْرَارِ[4]= پالونکيه !موږ واورېدل، چې بلونکي (خلك) ايمان ته رابلل، چې: ((پر خپل

[1] (آل عمران/۱۹۰)
[2] (آل عمران/۱۹۱)
[3] (آل عمران/۱۹۲)
[4] (آل عمران/۱۹۳)

پالونکي ايمان راوړئ.)) ؛ نو ايمان مو راوړ، پالونکيه ! زموږ ګناهونه وبښه او بدي رانه لرې کړه او موږ له نېکانو سره (او د هغوی په بهير کې) مړه کړه.))
((رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلَى رُسُلِكَ وَلاَ تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيعَادَ[1]= پالونکيه ! تا چې د خپلو پېغمبرانو له لارې له موږ سره د څه وعدې کړي؛ نو ترسره يې کړه او د قيامت پر ورځ مو مه رسو اکوه (؛ځکه) ته له (خپلې) وعدې نه اوړې.))
((فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لاَ أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّآتِهِمْ وَلأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ ثَوَاباً مِّنْ عِندِ اللّهِ وَاللّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ[2]=نو پالونکي يې غوښتنې ومنلې (اوويې ويل) زه له تاسې د هېچا عمل نه لاهو کوم ، نارينه وي که ښځه، ټول له يوه جنسه ياست، هغوی چې زما په لار کې هجرت کړی او له خپلو کورونو شړل شوي او زما په لار کې ځورول شوي او جګړه يې کړې او وژل شوي دي؛ نو هرومرو يې ګناهونه ښښم او هغو جنتي باغونو ته يې ننباسم، چې تر ونو لاندې يې ويالې بهيږي،دا د خدای له لوري ثواب دی او له خدای سره تردې هم ښه ثوابونه شته.))
که د احزاب د سورت په ۳۳ آيت کې د رسول الله (ص) مېرمنو ته وايي ، چې په خپلوکورونوکې پاتې شئ؛ نومفهوم يې دانه دی، چې په کور کې پاتې کېدل د شاته پاتې کېدو پر مانا دي.
((وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[3] = [ او پخپلو کورونوکې وسئ او د ړومبني جاهلي پېر په څېر خپل ښايست او سينګار مه ښکاره کوئ او لمونځ پرځای کړئ او زکات ورکړئ او د خدای او د هغه د استازي اطاعت وکړئ؛ بېشکه خدای يوازې غواړي له تاسې"اهل البيت =نبوي کورنی" پليتي او ګناه لرې کړي او بشپړ موسپېڅلي کړي.))
خو په ۳۴ م آيت کې وايي:

---

[1] (آل عمران/۱۹۴)

[2] (آل عمران/۱۹۵)

[3] (احزاب/۳۳)

((وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ ايَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفاً خَبِيراً[1]=[ او ستاسې په کورونو کې چې د خدای آیتونه او د حکمت او پوهې (خبرې) لوستل کېږي (؛ نو) یاد یې کړئ ، په حقیقت کې خدای ژورلیدونکی او ښه خبر دی.))
هغه الهي آیتونه او حکمتونه تلاوت کړئ ، چې ستاسې په کور کې نازل شوي دي. په دوو یو په بل پسې آیتونو کې د رسول الله (ص) پر مېرمنو دوه امرونه شوي دي: (قرت،واذکرن)؛ یعنې په کور کې پاتې کېدل ؛ خو پوهانې کېدل ؛چې بیا وایي: له کوره د وتو پرمهال تبرج مه لرئ. تبرج له برج څخه اخستل شوی ، چې لوړو سا ختمانونو ته ویل کېږي او تَبَرُّجَ ؛ یعنې ((ځان ښوول))؛ نواسلام وایي، چې ښځه باید پوهه او حکیمه وي؛ خو ځان ښوونه و نه لري او په ۳۵آیت کې وایي:
((إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً[2]=په حقیقت کې چې خدای مسلمانو نارینه وو او مسلمانو ښځمنو، مؤمنو نارینه وو او مؤمنو ښځمنو د خدای امر منونکیو نارینه وو او د خدای امر منونکیو ښځمنو رښتینو نارینه وو او رښتینو ښځمنو او زغمناکو نارینه وو او زغمناکیو ښځو او عاجزي کوونکیو نارینه وو او عاجزي کوونکیو ښځو او صدقه ورکوونکیو نارینه وو او صدقه ورکوونکیو ښځمنواو روژه تیانو او (ښځمنو) روژه تیانیو، پاکلمنو نارینه وو او پاکلمنو ښځمنو او د خدای ډېر یادوونکیو نارینه وو او ښځمنوته ښښه او لوی اجر چمتو کړی دی.))
ښځې او سړي په لس کمالونو کې اوږه په اوږه کړای شي الهي ښښه تر لاسه کړي.

## د رسول الله ځوځات بیلګه دی

د آنحضرت (ص) ځوځات هم د هغه په څېر بیلګه دی. په څوارلس معصومو کې یوه بیلګه ښځه هم په کار وه (سره له دې، چې حضرت زهرا د خپل پلار پر مهال یې د پلار تابع وه او تر پلار روسته د خپل مېړه تابع وه،کله هم خپلواکه نه وه)؛ ځکه که ټول معصومین سړي ول؛ نو دا دومره سپارښتنې، چې د ښځو لپاره راغلي؛ لکه ګډ ژوند،کورنی ژوند، موروالی،ستر، عفاف،

[1] (احزاب/۳۴)
[2] (احزاب/۳۵)

صبر او سختیو ته سینه پراخول؛ نو دا هر څه به یوازې په ټکیو کې پاتې شوي ول او کېدای شي زموږ ښځوله ځان سره ویلي وای: که په معصومینوکې یوه ښځه وای او له حاله یې خبر وای ؛ نو دا دومره سپارښتې به زموږ لپاره نه وای.

فاطمه بي بي یوه بیلګه وه، چې ښځوته جوت شي ،څه چې اسلام وایي د عمل وړ دي؛نه یوازې فاطمه بي بي؛ بلکې لور یې زینب بي بي هم د تاریخ ښځو ته بیلګه ده. فاطمه بي بي دومره عالمه وه، چې د وینځې (نفسه) لور یې داسې ځای ته ورسوله، چې شل کاله پر قرآن خبرې کوي. فاطمه بي بي یوازې په یو څو مسلو کې بېلګه نه ده؛ بلکې په ټولوچارو کې ښځوته بیلګه ده ، چې موږ یې څو راخستې دي.

که په قرآن کې له والدینو سره د احسان خبره راغلې؛ نو هغې دومره احسان وکړ، چې رسول الله یې په هکله یې وایي: ته دې د خپل پلار، مور یې ؛ یعنې ته تر یوې لوره زیاته له ما سره مینه کوې. (ام ابیها).

که قرآن د ښښې خبره کوي؛ نو فاطمه بي بي د واده پر شپه د خپل ناوېتوب کمیس په ښښه کې نشتمن ته وروباښه.

که قرآن وایي، چې د خیر پکار کې بیړه وکړئ ؛ نو حضرت علي (ک) په رکوع کې خپله ګوتمه نشتمن ته وربښي او فاطمه بي بي د خپل واده کمیس د واده پر شپه فقیر ته ورکوي او امام حسین د عاشورا پر ماسپښین؛نه یوازې خپل فرض لمونځ نه پرېږدي ؛ بلکې مستحبات هم ترسره کوي.

که قرآن وایي: هجرت وکړئ ؛ نو زهرابي بي هجرت وکړ؛ نو دا ټول په زهرابي بي کې وو.

که په قرآن کې د علم او حکمت خبره راغلې؛ نو فاطمه بي بي د مصحف په نامه کتاب لري، چې معصوم امامان د راتلونکي په هکله ورته مراجعه کوي.

که قرآن سپارښتنه کوي، چې کار و کوښښ وکړئ؛ نو په کار د فاطمه بي بي پر لاسونو تڼاکې راوختې، که قرآن پرعدالت ټینګارکوي؛ نو فاطمې بي بي کار پر ځان او وینځې په مساوي توګه اېشلی و.

که په قرآن کې پر آخرت د ایمان او ورسره د مینې خبره شوې ده؛ نوهمداچې فاطمه بي بي له خپل پلاره واورېدل، چې تر هغه روسته به تر ټولو ړومبۍ، ورسره یوځای کېږي؛ نوخوشحاله شوه.

دا ټولې خبرې په ګوته کوي، چې فاطمه بي بي بیلګه وه. په تېر فرهنګ، شعر او ان نننی فرهنګ او متلونوکې د ښځې سپکاوی شوی او کېږي؛ خو قرآن ټولو سړیو او ښځو ته وایي ،

چې د فرعون مېرمن مو خپله بېلګه کړئ.هغه په ماڼۍ کې وه ؛ خو ماڼیو ته خوشحاله نه شوه، د فرعون بدمعاشي يې وليده؛ خو ونه وېرېده،د هوساينې ډول ډول ځيزونه يې ليدل، چې فرعون پرې ځان ته خدای وايه؛هغه به ويل: ايا داټولې ويالې، چې زما تر پښو لاندې جاري دي،د مصرحکومت او واکمني زما لپاره نه ده؟ ښځې به يې ويل: خدايه ! زه له تا سره ځای او مقام غواړم.پالونکيه ! په جنت کې ما ته يو ځای راکړه) په دې آيت کې تر جنت اوجنتې کوره مهم د(عندک) ټکی دی.

هو! ښځه کړای شي له شتو خوندونو سترګې پټې کړي،پرهغه څه زړه وبايلي، چې له خدای سره دي.

## زموږ دنده

### له رسول الله (ص) سره ادب:

د حجرات د سورت په پيل کې راغلي، چې په هېڅ کار کې له خدای او د هغه رسوله مخکې کېدل په کار نه دي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [1]= مؤمنانو! د خدای او د هغه د استازي په مخکې (څه شی) ړومبی مه ګڼئ (او پر هغوی مه ور مخکې کېږئ) او (خپل ځانونه) د خدای له عذابه وساتئ، چې خدای اورېدونکی (او) پوه دی.))

نو خلکو ته په کار نه دي، چې د خپل حدس،ګومان،غوښتنې ،نوون او ازاد خيالۍ په پلمه داسې هوډ ونيسي، چې د خدای او له حکمه يې مخکې شي. د خدای حکم ته شا کول او خپلو دودونو ته غاړه ايښوول له خدای او رسوله يو ډول مخکې کېدل دي.

د حلالو حرامول او د حرامو حلالول د خدای د قانون پر وړاندې بل قانون جوړونه ده،ډېرې سخت دريځۍ يا ناغېړي هم له خدای او رسول يې مخکې کېدل دي.

په صدر اسلام کې له آنحضرت (ص) څخه د مخکې کېدو څو بېلګې دا دي:

۱- په غټ اختر کې ځينو تر رسول الله(ص) مخکې قرباني وکړه، وويل شو: ((لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ))

۲- آنحضرت (ص) تبليغ ته يوه ډله کفارو ته ولېږله، کفارو د آنحضرت استازي ووژل او يوازې درې کسان په تېښته بريالي شول. په راستنېدو کې دې درې کسانود غچ په موخه د بني عامر

[1] (حجرات/۱)

د ټبر دوه كسه ووژل،حال دا دې دوو څه ګناه نه درلوده. ددې خپلسرې كړنې له كبله قرآن دوی ورټل، چې ولې بې د رسول له حكمه مو دا كار وكړ. ((لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ))
٣- د بني تيمم ټبر له آنحضرت(ص) امير او واكمن وغوښت، لومړي او دويم خليفه (رضی الله عنهم) بېل بېل كس رامخې ته كړ او په دې اړه يې يو له بل سره په ناندرۍ شول، چې زما نوماند غوره دی، آيت نازل شو:
((لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ..... لاَ تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ))
٤- معصوم امام چا ته وويل: دا دعا ووايه: ((لا اله الا الله.....)) چې تردې ځايه راورسېد: ((يحيى و يميت)). كس پكې له ځانه غونډله – جمله اضافه كړه او ويې ويل: ((و يميت و يحيى)) امام وويل: ((غونډله دې سمه ده؛ خو څه چې زه وايم،هماغه ووايه.)) بيا يې وويل: ((لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ))
٥- د آنحضرت (ص) ځينو اصحابو كرامو (رضي الله عنهم) خوراک ښباک او له خپلو مېرمنو سره كوروالی پر ځان بند كړ. آنحضرت (ص) خپه شو او خلک يې راټول كړل او ورته يې وويل: ((زه خپله خواړه خورم، ويده كېږم، له مېرمنې سره مې ژوند كوم، دا زما ژونددود او تول او ډول- طريقه دی؛ نو څوک چې ترې پلوي و نه كړي،له ما ځنې نه دی.)) ((فمن رغب عن سنتي فلسی مني))
٦- د هجرت پر اتم كال، چې آنحضرت (ص) د مكې سوبې ته له مدينې راروان شو؛ نو ځينو مسلمانانو په دې سفر كې خپله روژه ماته نه كړه، په دې، چې پوهېدل مسافر روژه نه لري او ليدل يې، چې آنحضرت (ص) روژه ماته كړې؛ خو دوی له آنحضرت (ص) څخه مخكې شول.

## زموږ لاروي

پيغمبراكرم په وحې معصوم دی ((وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ[1]= او په حقيقت كې قرآن درته د حكيم (او) پوه خدای له لوري درښوول كېږي.))اوهم د وحې په ساتنه كې معصوم دی.((سَنُقْرِئُكَ فَلاَ تَنسَى[2]= موږ ژر (قرآن) پر تا لولو؛ نو نه به يې هېروې))

[1] (نمل/٦)
[2] (اعلی /٦)

د وحې په لېږد او ښوونه کې هم معصوم دی. ((وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى[1]=او هغه د ځانې غوښتنو له مخې نه غږيږي)).
نه د رسول الله سترګې تېروځي ((مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى[2]= نظر (يې بلې خوا ته) وا نه ړاوه او و نه ښويېد(څه يې، چې وليدل واقعيت و) ]او نه يې زړه کږيږي ((مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى[3]= څه چې (د پېغمبر پاک) زړه وليدل، ترې منکر نه شو.))
هو! داسې معصوم بايد د ټولوبېلګه شي اوټول خلک ترې لاروي وکړي؛ ځکه له هغه څخه لاروي ،له خدايه لاروي ده.
((مَن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ وَمَن تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً[4]= چا چې د پېغمبر اطاعت وکړ؛ نو د خدای اطاعت يې کړی دی او چا چې ترې مخ واړاوه ؛ نو ته موږ ورته (دهمېشه) ساتونکي (په توګه) نه يې لېږلی (او پر وړاندې يې مسوول نه يې)))
او خدای هم معصوم امامان ځکه راليږلي، چې خلک ترې لاروي وکړي.
((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللّهَ تَوَّاباً رَحِيماً[5]=موږ هېڅ پېغمبر بې له دې بل څه لپاره نه دی لېږلی، چې د خدای په حکم د هغه اطاعت وشي او که دې مخالفينو (داسې کړي وای)، چې تر ګناه (او د الهي قوانينو تر لتاړلو) روسته تا ته راغلي وای او له خدای يې ښښنه غوښتې وای او پېغمبر هم ورته ښښنه غوښتې وای (؛ نو) هرومرو خدای يې توبه قبلوونکی (او) مهربان مونده.))
نوځکه قرآن وايي:
((مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لاَ يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ[6]=څه چې خدای ددغو کليو له اوسېدونکيو خپل استازي ته را

---

[1] (نجم/۴)
[2] (نجم، ۱۷)
[3] (نجم /۱۱)
[4] (نساء /۸۰)
[5] (نساء/٦۴)
[6] (حشر/۷)

اړوي؛ نو هغه د خدای او د(هغه) د استازي او خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او پرديسانو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډايانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې تاسې ته د (خدای) استازي راوړي دي؛ نو هغه واخلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د خدای له (مخالفته) ځان وساتئ؛ خدای سخت عذابی دی.))

((وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً مُّبِيناً[1]= ((او چې کله خدای او د هغه استازی د يو کار(د ترسره کولو) پرېکړه وکړي؛ نو هېڅ مؤمن او مؤمنه حق نه لري د خپل هماغه کار په باب (د خدای د حکم پرخلاف) اختيار ولري او څوك چې د خدای او د هغه له استازي سر وغړوي؛ نو په يقين چې په څرگنده بې لارې شوی دی.))

نن که په چا کې کوم کمال وي؛ نو په هرځای کې په هره تول او ډول - طريقه چې وي ،هغه به خلکو ته ښيي؛ خو د رسول الله (ص)چلن داسې و ، چې هر چېرې به لازم و؛ نوځان يې معرفي کاوه او خپل کمال يې چې وايه ؛ نوله هر يوه سره يې ويل، چې ماته دا کمال د خدای له اړخه راکول شوی دی او زما نه دی.

په يوه حديث کې راغلي، چې رسول الله (ص) وويل: ((زه د آدم د زامنو ښاغلی يم ؛ خو وياړنه نه ده؛ټول انبياءعليه السلام مې تربېرغ لاندې دي؛ خو وياړنه مې نه ده ،زه د شفاعت مقام لرم ؛ خو وياړنه مې نه ده.))

هو! دا د رسول الله (ص) خوی و، چې هرڅه يې د خدای گڼل. حضرت سليمان خپل حکومت او واکمني د خدای گڼله اوويل يې: ((هذَا مِن فَضْلِ رَبِّي[2]))]؛ خو قارون ويل: زما شتمني زما د خپل کوښښ اوتجربې پايله ده.

((قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ عِندِي أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعاً وَلاَ يُسْأَلُ عَن ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ[3]= (قارون) وويل: ((دا(شتمني) ما ته د خپلې پوهې له مخې راکړای شوې ده!)) ايا هغه نه پوهېده، چې بېشکه خدای ترې مخکې داسې خلك هلاك کړي دي، چې تر ده غښتلي او شتمن وو؟ او(چې کله الهي عذاب راورسي؛ نو) له مجرمانو د هغوی د گناهونو پوښتنه نه کيږي.(او سيده دوزخ ته ځي)))

---

[1] (احزاب/ ٣٦)

[2] (نمل/٤٠)

[3] (قصص /٧٨)

**زموږ دنده څه ده؟**

لکه څنگه ، چې هر څه ته د آنحضرت (ص) کتنه کريمانه وه او د هر څه ارزښت ورسره و او د هر څه يې د هغه د شان له مخې درناوی کاوه، چې په همدې کتاب کې د آنحضرت(ص) د خوی اوچلن څو بېلگې راغلي دي.

پرکوشنيانو يې سلام اچاوه،د مشرانو درناوی يې کاوه، د ټبر له مشر نيولې تر عادي انسانه د هر چا درناوی يې کاوه ،د چا په مخ کې يې پښې نه غځولې، د رنځورانو پوښتنه يې کوله،مشوره يې کوله ،د خطر پرمهال نه يوازې خلک يې ځان ته نه پرېښوول،د حضرت علي(ک) د وينا له مخې، آنحضرت(ص) په جگړوکې دښمن ته تر ټولو نږدې و. د هر چا بلنه يې منله او د هېڅ خوړو سپکاوې يې نه کاوه،پر ښځو يې سلام اچاوه او د کتابيانو اواسماني کتابونو درناوی يې کاوه.

موږ هم د رسول الله پر وړاندې يو لړ دندې لرو، چې ورته اشاره کوو.

١ـ پېژندل يې؛پوه شو چې هغه طبيب او کتاب يې زموږ شفا دی، په خپله زموږ لپاره په دنيا کې بېلگه او په آخرت کې مو شفيع دی.

٢ـ تر پېژندنې روسته موږ پرې ايمان راوړ او ورسره ملگري شو او د رسالت بدله يې ورکړو، چې له اهل بيتو سره يې مينه کول دي او په دې هم پوه شو، چې داهل بيتو د مينې او درناوی اجر به بېرته موږ ته راوگرځي.

٣ـ څه يې، چې راوړي،هرومر پرې عمل وکړو(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ) او له څه چې يې منع کړې يو، و يې نه کړو. ((وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا[1])).

٤ـ لاس پر سينه يې احکام پلي کړو او په احکامو کې يې خبرې راونه باسو ،قرآن وايي:
((فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ ان يُحَكِّمُوكَ فِيما شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيماً[2]= [ خو داسې نه ده، پر پالونکي دې قسم، چې هغوی به تر هغه (حقيقي) ايمان را نه وړي، چې د خپلمنځي شخړو پرېکړو ته، تا پريکړه کوونکی نه کړي او بيا دې د پرېکړو پر وړاندې ځانونه تنگ (زړي او خپه ونه مومي) او بيخي ورته غاړه کېږدي.))

[1] (حشر/٧)

[2] (نساء/٦٥)

پته دې پاتې نشي، چې خدای او رسول ته يې تسليمدل ،د عقل د شا ته اچولو پر مانا نه دي؛ ځکه عقل راته وايي ، چې تر بشپړې پېژندنې او معرفت روسته بايد لاروي وکړو. هو! همداچې په عقل مو طبيب وپېژند او نسخه يې بې له کومې خبرې پلي کوو؛ نو ځوک هم نه وايي، چې د طبيب پر نسخه عمل د عقل شاته اچول دي او که رنځوران ووايي،درمل به تر هله و نه خورو، چې پر واقعي رازونو يې پوه نه شو؛ نو دا کار به ددې لامل شي ، چې ډېر رنځوران ومري ؛ ځکه هر رنځور د هر درمل پر رازونو د پوهې وس نه لري.

۵ـ پر رسول الله (ص)او کورنۍ يې درود،زموږ دنده ده او پردې خبره د احزاب دسورت په ۵۶ آيت کې ټينگار شوی دی.

((إِنَّ اللَّهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً[۱]= ((په حقيقت کې خدای او پرښتې يې پر پيغمبر درود وايي (رحمتونه لېږي)، مؤمنانو! تاسې هم پرې درود او سلام ووايئ او (حکم ته يې) پوره تسليم وسئ.))

هو! چې د هستۍ خالق اومعصومې پرښتې په پرله پسې توگه پر رسول الله (ص)درود وايي؛ نو که موږ دا کار و نه کړو؛ نو يو ډول تېری به موکړی وي.

که په هستۍ او تکوين کې درود وي ؛ نو ولې بايد زموږ په کړلار او تشريع کې نه وي.

---

[۱] (احزاب/۵۶)

خوشال بابا وايي:

صـــــــلوات له ما په واړو تحـــــــــيات له ما په واړو
زه دوســــــــتدار دده دآل يم په دوستی کې يې خوشحال يم [1]

## پر محمد(ص) او آل يې د درود فضيلت

١_ په " كنزالعمال" کې له "حسن " (رض) نه د څښتن له استازي (ص) نه روايت دی چې ويلي يې دي: اكثروا الصلاة على فان صلاتكم على مغفرة لذنوبكم.
پر ما ډېر درود وواست ؛ ځکه چې پر ما ستاسې درود د ګناهونو د بخښـل کېدو لامل دی[2].
٢_ "ابودرداء" (رض) د څښتن له استازي رانقل کړي:
من صلى على حين يصبح عشرا و حين يمسى عشرا ادرته شفاعتى.
څوک چې ګهيځ او ماښام لس ځلې پر ما درود ووايي ؛نو په شفاعت کې به وي[3].
٣_له سهل بن سعد (رض) نه روايت دی:
قدم رسول الله فاذا بابى طلحة،فقام اليه فتلقاه فقال: بابى انت او امى يا رسول الله انى لارى السرور فى وجهک ،قال: ((اتانى جبرئيل انفاً فقال: يا مُحمد مَن صَلى عليک مرة كتب الله بها عشر و حسناتٍ او محى عنه عشر سيئات و رفع له بها عشر درجات.))
د څښتن استازی راننووت چې ابوطلحه مخې ته ورغی او د انحضرت هرکلی يې وکړ او ويې ويل: موروپلار مې دې درځار شي د څښتن استازيه! څېره مو خوشحاله وينم. و يې ويل:((لږ مخکې جبرائيل راغی او ماته يې وويل: ای محمده !چا چې يو ځا پر تا درود ووايه ؛نو څښتن به ورته لس حسنه په ثواب کې ورکړي او لس سيئه او بدئ به ترې لرې او لس درجې به يې اوچت کړي.[4]))
دا روايت له ابوطلحه نه له دې زياتوالي سره رانقل شوی دی:
((او پرښته به هغه (درود ويونکي) ته هماغه وايي چې درته يې ويلي.ورته مې وويل: ای جبرائيل! دا پرښته څوک ده؟ ويې ويل: لوی څښتن ستا له زوکړې نه ستا تر استازيتوبه دوه

---

[1]. ارمغان ٨٠٤مخ
[2] وګورئ:كنزالعمال؛ ١ټوک، ٤٣٦ مخ.
[3] (كنزالعمال؛ ٤٣٩/١)
[4] (كنزالعمال، ٤٣٦،٤٤٧/١ مخونه او همداسې ١٧٩/٢).

پرښتې درته گمارلې وې او ستا په امت کې هر څوک، چې پر تا درود وايي ؛ نو داسې کس به پيدا نه شي، چې (دا پرښتې به) ورته ونه وايي: او ته ! څښتن درباندې درود وايي[1])).)
دا روايت له سعيد بن عمر انصاري او ابوبردة بن نياز او انس (رضي الله عنهم) هم روايت شوی دی[2].

٤_ په صحيح مسلم ،سنن ترمذي ،سنن نسايي ،مسند احمد او په نورو کې د ابوهريره (رض) له خولې راغلي، چې د څښتن استازي ووېل: ((من صلى على واحداً صلى الله عليه عشراً - څوک چې يو ځل پر ما درود ووايي څښتن به پرې لس ځلې درود وايي.[3]))

٥_ په کنزالعمال کې له عمار ياسر(رض) د څښتن د رسول (ص) د خولې وينا راغلې، چې ويلي يې دي: ((ان الله اعطى ملكاً من الملائكة اسماع الخلق فهو قايم على قبرى الى يوم القيام لا يصلى على احدا صلاة الا سماه باسمه و اسم ابيه و قال: يا محمد صلى عليک فلان بن فلان. و قد ضمن لي ربي _تبارک و تعالى_ انه اراد عليه بكل صلاة عشراً.
څښتن په پرښـتو کې يوې پرښتې ته د ټولو خلکو هومره د اورېدلو قدرت ورکړی او د قيامت تر ورځې زما پر قبر ولاړه ده او د قيامت تر ورځ چې څوک پر ما درود وايي ؛ نو داسې څوک به نه وي چې دا پرښته پر نامه او د پلار پر نامه ماته رامعرفي نه کړي، چې محمده ! پلاني د پلاني زوی درباندې درود وايي. زما ستر پالونکي څښتن ضمانت کړی، چې د هر چا درود لس چنده ور وگرځوم.[4]))

٦_په سنن ابوداوود ،ترمذي،نسايي ،مسند احمد او مستدرک له فضالة بن عبيد (رض) نه روايت راغلی، چې ويلي يې دي:سمع رسول الله رجلاً يدعوا فى الصلاة و لم يذكر الله عزوجل و لم يصل على النبى فقال رسول الله: ((عجل هذا)) ثم على دعاه و قال له و لغيره: ((اذا صلى احدكم فليبدا بتحميد الله و الثناء عليه ثم ليصل على النبى ثم ليدع بعد ما شاء.))

---

[1] كنزالعمال؛ لومړی ټوک، ٤٤٠او ٤٤٩ مخونه او همداسې:٢ټوک، ١٨١ مخ)
[2] (كنزالعمال، لومړی ټوک،٤٣٨_٤٣٩ او همداسې ٤٤٨_٤٤٩ مخونه. سنن نسايي؛ ٣ټوک، ٥٠ مخ. كتاب الصلاة، پر پيغمبر د درود د فضيلت باب. فرائد السمطين؛ لومړی ټوک،٢٤ مخ. تاريخ بغداد،٨ټوک،٢٨١ مخ.)
[3] (صحيح مسلم، لومړی ټوک،٣٠٦ مخ، كتاب الصلاة،پر پيغمبر د درود باب. سنن ترمذي، ٢ټوک،٢٧٠ مخ. سنن نسايي، ٣ټوک،٥٠ مخ، مسند طيالسي؛ لومړی ټوک، ٢٨٣ مخ، ٢١٢٢ حديث. رياض الصالحين؛ ٣٨١ مخ. اسباب التنزيل واحدي؛ ٢٥٠ مخ. درالمنثور؛ سيوطي،٥ټوک،٢١٨ مخ. تفسير قرطبي؛ ١٤ ټوک،٢٩٤ مخ.)
[4] (كنزالعمال؛ لومړی ټوک،٤٤٨_٤٥٠ مخونه.)

د ځښتن استازي واورېدل، چې يو سړې په لمونځ کې دعا کوي؛ خو نه يې ځښتن پکې ياد کړ او نه يې د ځښتن په استازي پکې درود ووايه.د ځښتن استازي وويل: ((هغه بيړه وکړه)) او بيا يې راوغوښت او نورو ته يې وويل: ((په تاسې کې چې هر چا لمونځ وکړ لومړی دې حمد او ثنا وکړي بيا دې د ځښتن پر استازي درود ووايي ؛ نو تردې روسته يې چې هر څه غوښتل له ځښتنه دې وغواړي.[1]))

په همدې کتاب کې په يو بل روايت کې راغلي: د ځښتن استازي هغه سړي ته چې لمونځ يې کاوه او ځان ته يې دعا کوله؛ خو نه يې د ځښتن شکر ادا کړ او نه يې د ځښتن پر استازي درود ووايه،وويل: ((اې لمونځ کوونکيه! چې دې لمونځ وکړ او کېناستې؛ نو د ځښتن شکر وکړه او پر ما درود ووايه ؛نو هله له ځښتن نه څه چې غواړې و يې غواړه)).

د ځښتن استازي يو بل سړي ته، چې لمونځ يې وکړ،د ځښتن شکر يې ادا کړ او د ځښتن پر استازي يې درود ووايه ،وويل: ((لمونځ کوونکيه ! دعا وکړه چې قبلېږي [2])).

۷_ سعد ساعدي (رض) د ځښتن د استازي د خولې وينا رانقل کړې او ويلي يې دي: ((..... لا صلاة لمن لا يصلی علی النبی- هغه لمونځ نه دی، چې په کې د ځښتن پر استازي درود و نه ويل شي.[3]))

۸_ له جابر(رض) د ځښتن د استازي وينا رانقل شوی، چې ويلي يې دي:((من ذکرت عنده فلم يصل علی فقد شقی؛ يعنې: د چا پر وړاندې، چې مې نامه واخستل شي او پر ما درود و نه وايي ؛نو په يقين، چې ظلم يې کړی دی.))

۹_له امام حسين بن علي نه د ځښتن د استازي وينا رانقل شوی، چې يلي يې دي: ((من ذکرت عنده فخطی الصلاة علی خطی طريق الجنة - د چا پر وړاندې، چې زما نامه واخستل شي او پر ما پر درود سترګې پټې کړي ؛نو د جنت پر لار يې سترګې پټې کړی دي.[4]))

---

[1] (سنن ابوداود؛ ۲ټوک،۷۷ مخ، ۱۴۸۰ حديث. سنن ترمذي؛ د دعا کتاب،۱۳ټوک،۲۱ مخ.)

[2] (مسند احمد؛ ٦ټ،۱۸ مخ. سنن نسايي؛ ۳ټ،٤٤ مخ. مستدرک حاکم؛ لومړی ټوک،۲٦۸ مخ. رياض الصالحين نبوي؛ ۳۸۲ مخ.)

[3] (سنن ابن ماجه؛ لومړی ټوک،۱٤۰ مخ، ٤۰۰ حديث. )

[4] (کنزالعمال؛ لومړی ټوک،٤۳۸ مخ له طبراني.)

۱۰_ د امام احمد حنبل په مسند ،سنن ترمذي او په نورو کې له حسين بن علي نه د څښتن د استازي وينا را نقل شوی ده: ((البخيل من ذکرت عنده فلم يصل علی – هغه بخيل دی، چې په مخ کې يې زما نوم واخستل شي او پر ما درود و نه وايي.[1]))

## پر محمد(ص) او آل يې د درود څرنګوالی

په "کنزالعمال" کې له حضرت علي روايت دی:
((قالوا يا رسول الله ! و کيف نصلی عليک؟ قال: قولوا: اللهم صل علی محمد و آل محمد کما صليت علی ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ابراهيم او علی آل ابراهيم انک حميد مجيد؛ يعنې(اصحابو کرامو) وويل: دڅښتن استازيه ! څنګه پر تا درود ووايو؟ ويې ويل: ووايئ: اللهم صل علی محمد و آل محمد کما صليت علی ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ابراهيم او علی آل ابراهيم انک حميد مجيد.[2]))
په صحيح مسلم،سنن ابو داود،ترمذي،نسايي ،موطا مالک، مسند احمدبن حنبل ،سنن دارمي کې له حضرت "ابو مسعود بن انصاري" روايت دی، چې ويلي يې دي:
((د څښتن استازی راغی او موږ د حضرت "سعد بن عباده" په غونډه کې ناست وو. "بشيربن سعد" ،ابونعمان بن بشير، رسول الله ته وويل: د څښتن استازيه! خدای (ج) حکم راکړی، چې پر تا درود ووايو؛ نو څنګه يې درباندې ووايو ؟راوي وايي: د څښتن استازی چوپ شو او موږ هيله وکړه، چې کاشکې دا پوښتنه مو نه وه کړې. بيا د څښتن استازي وويل: ووايئ:"اللهم صل

[1] (مسند احمد لومړی ټوک؛ ۲۰۱ مخ. سنن ترمذي؛ د دعا کتاب، ۱۳ ټوک، ٦۲ او ٦۳ مخونه.) کنزالعمال؛ لومړی ټوک،٤۳۷ مخ له حسن نه په ظاهره غلط دی؛ ځکه مولف په خپله ويلي دي:دا حديث يې له احمد،ترمذي، نسايي او ابن حبان نه روايت کړی دی. (؛ نو بايد له حسين نه وي)
دې حديث ته ورته نور حديثونه له عوف بن مالک، حسن، جابر،ابوهريره،او قتاده (رضي الله عنهم) نه د کنزالعمال د لومړي ټوک په ٤۳٦_ ٤۳۸او ٤٥۳ کې موندلای شئ او همداسې په درالمنثور تفسير؛ ٥ ټوک،۲۱۸ مخ او رياض الصالحين؛ ۳۸۲ مخ.

[2]. وګورئ:(۱) تفسير در المنثور ٥ټوک، ۲۱۷ مخ. (۲) کنزالعمال ۲ټوک،۱۷٦ مخ. دې حديث ته ورته يو حديث يې له ابن عباس (رض) نه هم د لومړي ټوک په ٤۳۸ مخ کې رانقل کړی دی او همداسې وګورئ: تفسير درالمنثور؛ ٥ټوک، ۲۱۸ مخ او ابن ماجه؛ ۲۹٤ مخ.

على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم او على آل ابراهيم انک حميد مجيد" او سلام هم همداسې دې ؛لکه چې پرې پوه شوئ.[1]))

په صحيح بخاري،سنن نسايي،ابن ماجه ،مسند احمد له ابو سعيد خدري (رض) نه روايت دی چې ويلي يې دي:قلت: يا رسول الله ! هذا السلام عليک قد عرفنا فكيف الصلاة؟ قال: ((قوالوا: اللهم صل على محمد عبدک و رسولک كما صليت على ابراهيم وبارک على محمد و آل محمدكما باركت على ابراهيم.))

و مې ويل د ښتن استازيه ! دا پر تا باندې سلام و،پر پوه شو، (پر تاسې) درود څنگه دی؟ ويې ويل: ووایاست:((اللهم صل على محمد عبدک و رسولک كما صليت على ابراهيم وبارک على محمد و آل محمدكما باركت على ابراهيم.[2]))

په سيوطي تفسير کې له ابن عباس (رض) نه رانقل شوي دي:

......فقلنا او قالوا: يا رسول الله !قد علمنا السلام عليک فكيف الصلاة عليک؟ فقال: ((اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد)).

ورته مو وويل _يا وويل شول_ د ښتن استازيه ! پر تا پر سلام پوه شو،پر تاسې درود څنگه دی؟ و يې ويل: اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد[3])).

---

[1]. وگورئ:(۱)مسلم؛ صحيح:کتاب الصلاة:لومړی ټوک،۳۰۵ مخ، ٦٧ حديث. (۲)دارمي؛ سنن: لومړی ټوک،۳۱۰ مخ. (۳)ابوداود؛ سنن:لومړی ټوک: ۲۵۸ مخ،۹۸۰ حديث. (٤) نسايي؛ سنن:۳ ټوک،٤٥_٤٧ مخونه. (٥)ترمذي؛ سنن: کتاب تفسير، د احزاب د سورت تفسير ۲/ ۹٥. (٦) امام مالک؛ موطاء: ۱/، ١٦٥ _١٦٦. (٧)احمد بن حنبل؛ مسند ٢٧٤/٥ مخ او همداسې ٤ /۱۱۸. (۸)کنزالعمال ۱۸۲/۲. (۹)قرطبي؛ تفسير ۲۳۳/٤. (۱۰)تفسير درالمنثور ۲۱٦/٥ او ۲۱۷. (۱۱)ابن کثير؛ تفسير ۳ /٥۰۸. (۱۲)تفسير خازن ٤٧٧/۳. (۱۳)مستدرک الصحيحين:۲٦۸/۱. (١٤)بيهقي؛ سنن ۳۷۸/۲.

[2] (صحيح بخاري؛ د تفسير کتاب:د احزاب د سورت تفسير،۳ ټوک،۱۱۹ مخ او د دعوات کتاب،٤ټوک،۷۲ مخ. سنن نسايي؛ ۳ټوک،٤٩ مخ. سنن ابن ماجه؛لومړی ټوک،۲۹۲ مخ، ۹۰۲ حديث. مسند احمد؛ ۳ټوک،٤٧ مخ. تفسيردرالمنثور؛ ٥ټوک،۲۱۷ مخ.)

[3] (تفسير طبري؛ د احزاب د سورت تفسير،۲۲ ټوک،۳۱ مخ. تفسير درالمنثور؛ ٥ټوک،۲۱٦ مخ.)

په سنن نسايي کې يې د ښځبتن د استازي وينا د زيد بن خارجه (رض) له خولې نه رانقل کړې ده چې ويلي يې دي:((صلوا على و اجتهدوا فى الدعاء و قولوا: اللهم صل على محمد و آل محمد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد)).

پر ما درود ووايى او په دعا کوښښ وکړئ او ووايى: اللهم صل على محمد و آل محمد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد[1])).

په سنن نسايي او د امام احمد حنبل په مسند کې له ابوطلحه (رض) نه روايت دی، چې ويلي يې دي:

قلنا:يا رسول الله ! كيف الصلاة عليک؟قال: قولوا:(( اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد)).

ورته مو وويل: د ښځبتن استازيه ! پر تاسې درود څنګه دی؟ويې ويل: ((ووایاست: اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد)).

په يو بل روايت کې راغلي دي:

يو سړی د ښځبتن استازي ته راغی او ورته يې وويل: د ښځبتن استازيه ! څنګه پر تا درود ووايو؟ ويې ويل: ووايی: اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد[2])).

په کنزالعمال کې له طلحه(رض) نه روايت دی چې ويلي يې دي:

قلنا:يا رسول الله ! قد علمنا كيف السلام عليک،فكيف الصلاة عليک؟ قال: ((قولوا: اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و بارک على محمد و آل محمد كما باركت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد)).

---

[1] (سنن نسايي؛ کتاب سهو،۳ټوک،٤٩ مخ)

[2] (سنن نسايي؛ کتاب سهو:۳ ټوک،٤٨ مخ. مسند احمد؛ لومړی ټوک، ١٦٢ مخ)

وويل: دځښتن استازيه ! څنګه پر تا درود ووايو؟ و يې ويل: ووایاست: اللهم صل علی محمد و آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید و بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید[1])).

په صحیح بخاري ،مسلم،سنن ابوداود ،دارمي،نسايي،ترمذي،ابن ماجه ،مسند احمد،تفسير طبري او سيوطي کې له ((کعب بن عجزه (رض) نه روايت دی، چې ويلي يې دي:

کنت جالساً عند النبی اذ جاء رجل فقال: قد علمنا کیف نسلم علیک یا رسول الله ،فکیف نصلی علیک؟ قال: ((قولوا: اللهم صل علی محمد و آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید و بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید)).د څښتن له استازي سره ناست وو، چې يو سړی راغی او و يې ويل: د څښتن استازيه ! پر تا سلام کول مو زده کړل ،پر تا څنګه درود ووايو؟ ويې ويل: ((ووایاست: اللهم صل علی محمد و آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید و بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید[2])).

د امام احمد په مسند او د سيوطي په درالمنثور کې د څښتن د استازي وينا د برده خزاعی (رض) له خولې رانقل شوی، چې ويلي يې دي:((قولوا: اللهم اجعل صلواتک او رحمتک او برکاتک علی محمد و علی آل محمد کما جعلت علی ابراهیم انک حمید مجید[3])).

په کنزالعمال کې له محمد بن عبدالله بن زيد (رض) نه روايت دی چې د څښتن استازي وويل: اللهم صل علی محمد و آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و آل ابراهیم انک حمید مجید و بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ابراهیم فی العالمین انک حمید مجید و السلام کما علمتم [4])).

---

[1] (کنز العمال؛ ۲ټوک،۱۷٦ مخ. تفسير درالمنثور؛ ۵ټوک،۲۱٦ مخ)

[2] (صحيح بخاري؛ کتاب بدء الخلق؛ ۲ټوک،۱۵۹ او ۱٦۰ مخونه او د تفسير کتاب:د احزاب سورت تفسير،۳ټوک،۱۱۹ مخ او کتاب الدعوات،٤ټوک،۷۲ مخ. صحيح مسلم،کتاب صلاة:لومړی ټوک،۳۰۵ مخ، ٦٦ حديث. سنن ابوداود،لومړی ټوک،۲۵۷ مخ،۹۷٦ حديث. سنن دارمي؛ لومړی ټوک،۳۰۹مخ. سنن نسايي؛ ۳ټوک،٤۷ او ٤۸ مخونه. سنن ترمذي؛ ۲ټوک،۲٦۸ مخ. سنن ابن ماجه، ۹۰٤ حديث. مسند احمد؛ ٤ټوک،۲٤۱_۲٤٤ مخونه. تفسير قرطبي؛ ۱٤ټوک،۳۳٤ مخ. تفسير درالمنثور؛ ۵ټوک،۲۱۵ او ۲۱٦ مخونه. کنزالعمال؛ ۲ټوک،۱۸۰ مخ. تفسير ابن کثير،۳ټوک،۵۰۷ مخ.)

[3] (مسند احمد؛ ۵ټوک،۳۵۳مخ. تفسير درالمنثور؛ ۵ټوک،٤٤۲ مخ)

[4] (کنزالعمال؛ لومړی ټوک،٤٤۲ مخ)

۱۱_ په طبري او سيوطي تفسير کې له ((ابراهيم)) نه د ((ان الله و ملائکته....)) د ايت تر تفسير لاندې راوړي دي، چې:
قالو يا رسول الله ! هذا السلام قد عرفناه،فکيف الصلاة عليک؟ فقال: ((قولوا: اللهم صل على محمد عبدک و رسولک و اهل بيته کما صليت على ابراهيم انک حميد مجيد)).
وويل شول: ای دڅښتن استازيه ! پردې سلام پوه شو ،پر تا درود څنگه دی؟ و يې ويل: ((ووايی: اللهم صل على محمد عبدک و رسولک و اهل بيته کما صليت على ابراهيم انک حميد مجيد)).
۱۲_ په کنزالعمال کې له ام المومنين عايشې بي بي نه روايت دی، چې ويلي يې دي:
قال اصاب النبی: يا رسول الله امرنا ان نکثر الصلاة عليک فی الليلة الغراء او اليوم الازهر و احب ما صلينا عليک کما تحب،قال: ((قولوا:
اللهم صل على محمد و آل محمد کما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم و ارحم محمد و آل محمدکما رحمت ابراهيم او آل ابراهيم و بارک على محمد و آل محمد کما بارکت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد و اما السلام فقد عرفتم کيف هو)).
د څښتن د استازي يارانو وويل: ای دڅښتن استازيه ! راته امر شوی، چې د شپې په تپه تياره او د ورځې په رڼا کې دربانديې ډېر درود ووايو.
(نو څومره به ښه وي، چې) زموږ درود هغسې وي چې ستاسې پرې خوښه وي. و يې ويل: ((ووايی: اللهم صل على محمد و آل محمد کما صليت على ابراهيم و آل ابراهيم و ارحم محمد و آل محمدکما رحمت ابراهيم او آل ابراهيم و بارک على محمد و آل محمد کما بارکت على ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد. [۱]))

پای

[۱] کنزالعمال؛ ۲ټوک،۱۸۲ مخ او همداسې لومړی ټوک،٤٤۳ مخ.

## سرچيني


۱_آداب تعليم و تعلم،شهيد ثاني
۲_احياء علوم الدين،امام محمد غزالي
۳_ارشاد القلوب،ابو محمد حسن ديلمي
٤_اصول كافي،كليني
۵_اعلام الورى باعلام الهدى،شيخ طبرسي
٦_امالي،شيخ صدوق
۷_امتاع الاسماع،مقريزي
۸_بحارالانوار،محمد باقر مجلسي
۹_پيامبر رحمت،محمد خالد د صدر بلاغي ژباړه
۱۰_پيام و پيامبر،سيد محمد تقي حكيم
۱۱_تاريخ طبري
۱۲_تاريخ يعقوبي
۱۳_تحف العقول
۱٤_الترغيب
۱۵_جامع السادات،مولى مهدي نراقي
۱٦_حيوة الحيوان،دميري
۱۷_حقايق،مولى محسن فيض كاشاني
۱۸_حقوق حيوانات در اسلام،محمد تقي جعفرى
۱۹_خلاصه تعاليم اسلام،علامه طباطبايي
۲۰_داستان راستان،استاد شهيد مطهري
۲۱_دلايل النبوة،ابوبكر احمد بن حسين بيهقي
۲۲_روش دعوت محمد (ص)
۲۳_زندگي فاطمه زهرا ،دكتر شهيدي
۲٤_سنن النبي،علامه طباطبايى
۲۵_سيره ابن هشام
۲٦_ سيره حلبي
۲۷_سنن ابي داوود
۲۸_سيره احمد زيني
۲۹_سفينة البحار،حاج شيخ عباس قمي
۳۰_شرح نهج البلاغه،ابن ابي الحديد
۳۱_شرح المواهب،زرقاني
۳۲_صحيح بخاري
۳۳_صحيح ترمذي
۳٤_صحيح مسلم
۳۵_الطبقات الكبرى

٣٦_طرايف الحكم،مېرزا احمد اشتياني
٣٧_طبقات، ابن سعد
٣٨_عوائد الايام، نراقي
٣٩_علل الشرايع، شيخ صدوق
٤٠_فروغ ابديت، شيخ جعفر سبحاني
٤١_كيماى سعادت، امام محمد غزالي
٤٢_كحل البصر،حاج شيخ عباس قمي
٤٣_كشف الريبه عن احكام الغيبه، شهيد ثاني
٤٤_گناهان كبيره، ايت الله شهيد دستغيب شيرازي
٤٥_مكارم الاخلاق، ابو نصر حسن بن فضل طبرسي
٤٦_المحجه البيضاء فى التهذيب الاحياء، ملا محسن فيض كاشانى
٤٧_مناقب،ابن شهر اشوب
٤٨_محمد (ص )خاتم پيامبران، جمعي از نويستدگان
٤٩_معاني الاخبار، شيخ صدوق
٥٠_ترجمه الميزان في تفسير القرآن، مرحوم علامه طباطبايي
٥١_مستدرک الوسايل، محدث نوري
٥٢_مسئله حجاب، استاد شهيد مطهري
٥٣_معجم البلدان، بلاذري
٥٤_المعجم المفهرس لا لفاظ حديث لنبوي
٥٥_ معراج السعادة، ملا احمد نراقي
٥٦_نهج الفصاحة، سخنان پيامبر اكرم(ص )
٥٧_نهج البلاغه، سخنان امام علي
٥٨_نورالثقلين، ابن جمعه حويزي
٥٩_وسايل، شيخ حر عاملي
٦٠_وحې و نبوت، استاد شهيد مطهرى.
٦١-سيرى در سيره نبوي، انديال شهيد مرتضى مطهرى
٦٢-سيره پيامبر، جمعى از نويسندگان مركز تربيت معلم
٦٣-شش گفتار- انديال شهيد مرتضى مطهرى
٦٤-فرازهايى از تاريخ پيامبر اسلام –آيت الله جعفر سبحانى
٦٥-سيره پيامبر با نگاهى به آيات قرآنى –شيخ محسن قرآيتى
٦٦-محمدي ښوونځى – د اجرالدين اقبال څېړنه
٦٧-پنجاه درس اصول عقايد براى جوانان –استاد ناصر مكارم شيرازى
٦٨- تلخيص اصول عقايد - شيخ محسن قرآيتى
٦٩-سيره پيامبر در رهبرى و انسان سازى –استاد سالم الصفار
٧٠-تفسير نمونه

۷۱-تفسیر نور
۷۱- کابلی تفسیر
۷۲-الرحیق المختوم
۷۳-نهج البلاغه د اجرالدین اقبال پښتو ژباړه.
۷۴- انسان ۲۵۰ ساله- سید علی حسینی خامنه ای
۷۵- پیامبر رحمت- سید علی حسینی خامنه ای
۷۵- درسهایی از پیامبر اعظم – سید علی حسینی خامنه ای
۷۵- نیراعظم- سید علی حسینی خامنه ای
۷۶- ده گفتار- علامه شهید مرتضی مطهری
۷۷- بیست گفتار- علامه شهید مرتضی مطهری
۷۸- معارف الحدیث
۷۹- خلافت او ملوکیت- ابوالاعلی مودودی